د قرآن رنا

د عظيم الشأن قرآن پښتو معنا

اولنډ دعوتي تفسير

د پوهنوال دکتور مولوي/ محمد ظاهر بن اسدالله مکي

په قلم او ژبه

د اسلامي نړۍ رابطې (رابطة العالم الإ سلامي)

د امامانو او دعاتو عالي انسټيوت پخوانۍ استاذ

مكة المكرمة: العز يز يه الجنوبيه

١٤٤٥ ذوالحجة هـ ق الموافق برج ثور ١٤٠٣هـ ش

الموافق مايو٢٠٢٤م

(٣) ټوک

د الأنبياءسورې نه ترفصلت آخره پورې

د قرآن رښا

د عظيم الشأن قرآن پښتو معنا

اولنډ دعوتي تفسير

د پوهنوال دکتور مولوي/ محمدظاهر بن اسدالله مکي

په قلم او ژبه

د اسلامي نړۍ رابطې (رابطة العالم الإ سلامي)

د امامانو او دعاتو عالي انسټيوت پخوانئ استاذ

مكة المكرمة: العز يز يه الجنوبيه

ذوالحجة ١٤٤٥هـ ق الموافق ثور١٤٠٣هـ ش

الموافق مايو٢٠٢٤ هـ. ق

(٣) ټوک

د الأنبياء سورى نه ترفصلت آخره پورې

۞ دریم چاپ - د چاپ حق د مؤلف په اجازه.

د مؤلف سره اړ یکه :

۞ د مولف تلفون او د واتساپ شمیری
(۰۰۹۶۶۵۰۱۳۷۷۹۰۰)-۰۰۹۶۶۵۰۶۵۶۵۴۶۰۰

ایمیل / dr.mzm۵۵@gmail.com

۞ کمبیوتري لیکنه او تنظیم :

مهندس/عبد الرحمن ظاهر (أبو حمزة) او أ/ أم جود جزاهما الله خیرا.

۞ په کمبیوتر او چا پي پاڼو کې مکرره کره کتنه خپله مؤلف(عفی الله تعالی عن زلاته بفضله ورحمته)

او په کره کتنه کې د ګڼ شمیر قدرمنو پوهاندانو او مولو یانو وړاندیزو نه په پام کې نیول سوي دي او د دوی تقریظونه هم په پای کې ثبت سوي دي.

الاية:

قال الله تعالى: ﴿ قَدْ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٌ وَكِتَٰبٌ مُّبِينٌ ﴾[المائدة:١٥]

ای خلکو! یقینا چې تاسې ته د الله لخوا رڼا او روښانه کتاب قرآن راغئ، ترڅو مونږ د قرآن په رڼا کې سمه لار بیامومو او حق ته ورسیږو او د ورکتیا نه خلاص سو.

الحديث:

قال رسول الله ﷺ : «ستكون بعدي فتنٌ، فسأل علي رضي الله عنه: وما المخرج عنها؟ فقال رسول الله ﷺ: كتاب الله...» الحديث، رواه الترمذي.

ژباړه: [هو! د زما نه وروسته به ډیرې فتنې را پیښې سي! نو بیا علی رضي الله عنه و پوښتل: د خلاصون لار څه ده؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله کتاب...الخ] دا حدیث امام ترمذي روایت کړئ دئ.


بسم الله الرحمن الرحيم

فهرست

د الأنبياء سورې پښتو معنا او لنډ تفسير ٢١

{د الأنبياء سورې لنډه پېژندنه او لوی مقصدونه}..... ٢٢

{د قيامت ورځې راتګ را لنډ ډئ خو خلک ورځخه بې پروا دي} ٢٢

{د کتابونو پوهان پوهيږي چې ټول پيغمبران نار ينه ول}..... ٢٥

{سرکښ ولسونه الله هلاك کړل نور خلک يې پر ځای کينول} ٢٦

{ځمکه او اسمانونه او پکې خلک الله بنده ګی ته پيدا کړي دي}..... ٢٨

{د اسمان او ځمکې پيدايښت د الله توحيد ځلانده دليل دئ}..... ٣١

{ټول خلک د مرګ خوند څکي او تل پاتې ژوندي نسته}..... ٣٣

{څوک چې د رسول الله ﷺ سپکا وئ کړي کلکه سزا به ګالي}..... ٣٣

{د کافرانو سپکو خبرو نه پيغمبر ته الله ډاډ ورکړئ دئ} ٣٥

{موسی ته الله فرقآن (تورات) ورکه او محمد ﷺ ته يې قرآن}..... ٣٨

{ابرهيم ته الله هوښياري ورکړې وه نو بتان يې نه خوښيدل} ٣٨

{الله تعالی پر ابراهيم عليه السلام باندې د اور سړې لمبې سړې کړې}..... ٤١

{نوح عليه السلام او کورنۍ يې ډير پخوا الله د کړاوونو نه خلاص کړل}..... ٤٣

{ايوب عليه السلام چې ناروغ ؤ الله روغ که او رحمت يې پرې پيرزو که}..... ٤٥

{اسماعيل ادر يس او ذا الکفل د لوی صبر خاوندان ول}..... ٤٦

{يونس عليه السلام ته الله د سمندر تورو تيارو نه نجات ورکه}..... ٤٦

{د زکر يا دعاء قبوله سوه او الله د نبوت ميراث خور زوی ورکه}..... ٤٧

{ پيغمبران ټول يو امت ول او يوازې د يوه رب عبادت يې کا وه }..... ٤٨

{کافران د مرګ نه وروسته بيرته دنيا ته نه راګرځول کيږي} ٤٩

{مومنان چې الله ورته جنتونه ليکلي دي د دوزخ نه لرې دی} ٥١

{د ځمکې واکمني صالحان په ميراث وړي}..... ٥٢

{د اسلام پيغمبر ﷺ الله ټول عالم ته رحمت را ليږلئ دئ}..... ٥٢

د الحج سورې پښتو معنا او لنډ تفسير ٥٥

{د الحج مبارکې سورې لنډه پېژندنه او لوړ مقصدونه}.....٥٥
{د خلکو لمړئ پیدایښت د قیامت ورځې په بیا ژوند دلیل دئ}.....٥٧
{د الله په خدایي کې مزاجي چلند کلک غندلئ سوئ دئ}.....٥٨
{مومنان الله د قیامت په ورځ جنتونو ته ورننه باسي}.....٦٠
{قرآن په روښانو آیتونو کې الله لارښود پیغام رانازل کړئ دئ}.....٦١
{د الله لارې جګړه کې مومنانو ته جنتونه او کافرانو ته سزا ده}.....٦٣
{کعبه ابراهیم د الله عبادت ته پاکه کړه او د حج اعلان وکه}.....٦٦
{د الله تعالی محرماتو درنښت پر مومنانو باندې فرض دئ}.....٦٧
{د بنده ګی شعائر الله ټاکلي دي ترڅو یې عبادت وسي}.....٦٩
{د اوښانو حلالول په حج کې د الله شعائرو نه دي}.....٧٠
{د کافرانو سره په جګړه کې الله د مومنانو مرستندوی دئ}.....٧١
{د اسلام پیغمبر محمد ﷺ ټولو خلکو ته د الله استازئ دئ}.....٧٧
{کافران تل په قران کې شکمن وي او پکې شبهې راپاروي}.....٧٩
{مهاجر ینو ته الله په جنت کې د لوړ مقام ز یري ورکړي دي}.....٨٠
{د الله تعالی لوی قدرتونه د هغه توحید ځلانده نښې دي}.....٨١
{هر امت ځانګړي شعائر لري او هر څوک خپل شعائر پالي}.....٨٣
{اسلام د ابراهیم دین دئ او مومنان پرې یاد سوي دي}.....٨٦
﴿د المومنون سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾.....٨٩
{د المومنون سورې لنډه معرفي او لوړ مقصدونه}.....٨٩
{الله تعالی مومنان په ډیرو ښکلو صفتونو ستایلي دي}.....٩٠
{د الله قدرتونه په ځمکه او اسمانو کې خلکو ته نعمت دي}.....٩٤
{لمړي پیغمبر نوح عليه السلام خپل قوم یوازې د الله عبادت ته راو باله}.....٩٥
{د نوح نه وروسته نورو خلکو ته هم الله پیغمبران راولیږل}.....٩٧
{فرعون په موسی عليه السلام کبر وکه او هغه یې دروغژن و باله}.....١٠١
{عیسی عليه السلام او مور یې مر یم د الله تعالی لوی قدرت نښې وې}.....١٠١

{د مومنانو ستايل سوي صفتونه او خو يو نه}..... ١٠٤
{الله تعالى هر څوک د خپلې وسعې سره سم په يو کار ګماري}..... ١٠٥
{کافرانو د الله پر لو يه واکمنۍ باندې په کائناتو کې اقرار وکه}..... ١١١
{پيغمبر ته ښايي د ظالمانو شر ځان نه په ښه وجه لرې کړي}..... ١١٣
{د دنيا ژوند لنډ دئ ښايي څوک ور باندې ونه غولېږي}..... ١١٨
د النور سورې پښتو معنا او لنډ تفسير ١٢١
{د النور مبارکې سورې لنډه پېژندنه او لوی مقصدونه}..... ١٢١
{د زنا حد قاطع حکم الله د النور په سوره کې را نازل کړئ دئ}..... ١٢١
{د قذف او زنا تور او د اللعان حکمونو بيان}..... ١٢٣
{د عايشې ام المؤ منين براءت الله پاس د اسمانو نه اعلان که}..... ١٢٦
{الله تعالې هغو کسانو ته کلکه سزا ورکوي چې فحشاء خوروي}..... ١٢٩
{هغه کسان چې پاک لمنې ميرمنې په زنا تورنوي الله سزا ورکوي}..... ١٣١
{پردي کور ته د اجازې نه پرته ورننوتل حرام دي}..... ١٣٣
{مومنانو ته ښايي ودونه وکړي او فقرې الله په غنا بدل کړي}..... ١٣٦
{د الله تعالى نور په ځمکه او اسمانو کې رڼا ده}..... ١٣٩
{د الله ستاينه په ځمکه او اسمانو کې د توحيد دليل دئ}..... ١٤٢
{د منافقانو دومخۍ چلند د الله او پيغمبر سره ايمان نقضوي}..... ١٤٤
{مومنان د الله او پيغمبر ﷺ حکمونو ته تسليم دي}..... ١٤٦
{الله مومنانو سره پر ځمکه د واکمنۍ وعده کړې ده}..... ١٤٨
{الله مومنانو ته کورو ته د ننوتلو شرعي آداب ښودلي دي}..... ١٤٩
{بې وسعې کسان ده د خپلوانو په کورونو کې ډوډۍ وخوري}..... ١٥٠
{د مشرانوځنګ ملګرې ده اجازې نه پرته دندی نه پر يږدي}..... ١٥٢
د الفرقان سورې پښتو معنا او لنډ تفسير ١٥٥
{د الفرقان سورې لنډه پېژندنه او لوی مقصدو نه}..... ١٥٥
{محمد ﷺ الله تعالى ټول بشر يت ته پيغمبر را ليږلئ دئ}..... ١٥٥

{كافرانو د الله نه پرته هغسې خدايان ونيول چې واک نلري} ١٥٦
{الله تعالى كافرانو پر وړاندې رسول الله ﷺ نه دفاع كړه} ١٥٨
{هغه څوک چې د قيامت نه منكر سول سزا به ورکړه سي} ١٦٠
{د مشركانو خدايان د قيامت په ورځ خپل براءت اعلانوي} ١٦١
{ټولو پيغمبرانو خوړل او څكل كړل او بازارو كې كرځيدل} ١٦٢
{د كافرانو اعتراضونه پيغمبر باندې الله ځواب كړې دي} ١٦٣
{مومنان د جنتونو نه خوند اخلي او كافران بد حال لري} ١٦٥
{پيغمبر ﷺ الله ته د خپل امت سركښۍ نه شكايت كړئ دئ} ١٦٦
{موسى عليه السلام ته الله تورات وركه او وروړې هارون وز ير وټاكه} ١٦٨
{رسول الله ﷺ ته الله د كافرانو ظلمونو نه ډاډ وركړئ دئ} ١٧٠
{د الله لو يو قدرتونو نښې د ځواكمنۍ او عبوديت پيغام دئ} ١٧١
{پيغمبر ﷺ د دعوت په مقابل كې خلكو نه مزدوري نه غواړي} ١٧٥
{كافران الله ته د بنده ګۍ او اطاعت سر نه ټيټوي} ١٧٧
{د الله تعالى مخلصو بنده ګانو ځانګړ و صفتونو بيان} ١٧٨
﴿د الشعراء سورې پښتو معنا او لنډ تفسير﴾ ١٨٢
{د الشعراء سورې لنډه پيژندنه او لوى مقصدو نه} ١٨٢
{د پيغمبر ﷺ او د هغه وارثانو رسالت يوازې تبليغ دئ} ١٨٣
{د موسى پيغمبرې فرعون ته د الله قدرتونو ښكارندوى وه} ١٨٥
{فرعون موسى عليه السلام په ليونتوب تورن كه} ١٨٧
{د فرعون كودګرو د موسى او هارون پر رب ايمان راوړ} ١٩٠
{د فرعونيانو واكمنۍ الله تعالى بني اسرائيلو ته ميراث كړه} ١٩١
{ابراهيم عليه السلام د شرك څرليو بتانو ماتونكئ مشر ؤ} ١٩٣
{د مومنانو ځاى په آخرت كې جنت او د كافران ځاى دوزخ دئ} ١٩٦
{نوح اعلان وكه چې زه په دعوت كې د چا نه مزدوري نه غواړم} ١٩٨

{د هود عليه السلام قوم عاد د الله پيغمبران دروغژن و بلل} ٢٠١
{صالح خپل قوم ثمود ته اعلان وکه زه د الله استازئ يم} ٢٠٣
{د لوط عليه السلام قوم پيغمبران دروغژن و بلل او سرکښي يې وکړه} ٢٠٦
{د شعيب عليه السلام قوم خپل پيغمبران دروغژن و بلل} ٢٠٨
{قرآن په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې په عربي ژ به رانازل سوئ دئ} ٢١٠
{قرآن د الله حق کتاب دئ او شيطانانو ندئ را کوز کړئ} ٢١٣
{کافران شاعران باطل خوروي او مومنان خلکوته حق رسوي} ٢١٥
﴿د النمل سورې پښتو معنا او لنډ تفسير﴾ ٢١٨
{د النمل سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدو نه} ٢١٨
{د قرآن آيتونه مومنانو ته لارښود پيغام دئ} ٢١٩
{په موسى عليه السلام باندې د پيغمبرئ غږ د طور پر غونډۍ وسه} ٢٢٠
{داوود او زوی يې سليمان عليهما السلام ته الله پوهه ورکړه} ٢٢٢
{د هدهد قصه پر واکمنانو باندې د لښکر پوښتنې دليل دئ} ٢٢٤
{د سبأ ملکې تخت د سليمان عليه السلام پر وړاندې کيښدل سه} ٢٢٧
{د صالح عليه السلام قوم د خپل پيغمبر پر وړاندې دوه ډلې سول} ٢٣٠
{د لوط عليه السلام قوم د نار ينوو زلمکيانو نه جنسي خوند اخست} ٢٣٣
{د الله پر توحيد دليلونه او د مشرکانو خدايانو بطلان اعلان} ٢٣٤
{کافران د مرګ نه وروسته ژوند په آخرت کې دروغ بولي} ٢٣٦
{قرآن مومنانو ته د الله تعالى رحمت او لارښود پيغام دئ} ٢٣٨
{د قيامت ورځې نښو راتګ کافرانو ته د ګوابنې لوی پيغام دئ} ٢٤٠
{د کعبې معظمې رب الله بنده ګي په ټولو خلکو فرض ده} ٢٤٢
﴿د القصص سورې پښتو معنا او لنډ تفسير﴾ ٢٤٥
{د القصص سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدو نه} ٢٤٥
{د قرآن آيتونه حق دي او فرعون د خدايي دعوا وکړه} ٢٤٥
{موسى عليه السلام ته په ځوانۍ کې الله هوښياري او پوهه ورکړه} ٢٤٩

{موسی عليه السلام د مصر نه مدين په لور تيښتې ته پټ اړ سه} ٢٥١
{د طُور پر غونډۍ موسی عليه السلام باندې د پيغمبرۍ ز يرئ وسه} ٢٥٤
{فرعونيانو موسی عليه السلام په کوډو تورن که د سيالۍ اعلان وکه} ٢٥٦
{تورات موسی عليه السلام ته د پخوانيو امتو نو نه وروسته رحمت ؤ} ٢٥٨
{د مکې کافرانو د الله سره دؤ مخئ در يځ غوره که} ٢٦١
{ هغه اهل کتاب د ستايلو وړ دي چې په قرآن يې ايمان راوړ} ٢٦٢
{د مکې کافرانو په خوسې سره پلمو پر خپل کفر تينګار کا ؤ } ٢٦٤
{د دنيا خوندو نه تلونکي دي او د آخرت نعمتو نه تل پاتې دي} ٢٦٧
{الله تعالی په خپله خدايي کې د شر يك نه پاک او لوړ دئ} ٢٦٩
{ قارون بني اسرائيلو باندې په زور بغاوت او تيرئ وکه } ٢٧١
{ الله په پيغمبر ز يرئ کړئ دئ چې بيرته به مکې ته ستون سي } ٢٧٥
{الله تعالی رسول الله صلى الله عليه وسلم د کافرانو ملا تړ نه منعې کړئ دئ} ٢٧٦
﴿د العنکبوت سورې پښتو معنا او لنډ تفسير﴾ ٢٧٩
{ د العنکبوت سورې لنډه پيژندنه او لوی مقصدونه} ٢٧٩
{ د ايمان خوسې دعوا د الله ازمايښت نه خلاصون ندئ} ٢٧٩
{ الله سره ملاقات حتمي دئ او مومنانو ته د ستړيا ګټه رسيږي} . ٢٨١
{ د مور او پلار سره ښه کړل پر مومنانو باندې فرض دي} ٢٨٢
{ الله د زړونو مالك دئ او مومنان د منافقانو نه بيلوي} ٢٨٣
{ د نوح قوم(٩٥٠)کاله دعوت نه وروسته الله هلاك کړل} ٢٨٤
{ د بتانو غندل او الله تعالی عبادت ته د ابراهيم دعوت} ٢٨٥
{ د رسول الله صلى الله عليه وسلم رسالت خلکو ته د الله پيغام رسول ول} ٢٨٦
{ ابراهيم عليه السلام پروړاندې د هغه قوم وحشتناکه غبرګون} ٢٨٨

{لوط عليه السلام د خپل بچه بازولس کرکجن فعل کلک وغانده} ۲۹۰
{ابراهيم د لوط قوم هلاکت نه په خبريدوسره ځان ډاډه که} .. ۲۹۱
{د لوط سرکښ قوم باندې الله د اسمان نه عذاب راکوزکه} .. ۲۹۲
{شعيب عليه السلام خپل قوم توحيد ته راوباله فساد نه پې وګوابنه} . ۲۹٤
{ عاد اوثمود پيغمبران دروغژن وبلل نوهلاك سول } ۲۹٤
{قارون فرعون او هامان د لوی کبرنه الله هلاك کړل} ۲۹٥
{د بتانوبنده ګان د غَنې ځالې غوندې شړ يدلئ سست کوردئ} . ۲۹٦
{ لمونځ د فحشاء مخه نيسي اوپه خوږه لهجه مرکه ګټه لري } . ۲۹۷
{محمد صلى الله عليه وسلم نالوستی له املـه د لمړ يو کتابو غلا تورنه الله وساته} ۳۰۰
{ د الله کړونکئ عذاب کافرانوته ناڅاپه راځي } ۳۰۲
{څوک چې په خپل کلي کې د الله عبادت کړای نسي هجرت ده وکړي} ۳۰۳
{د مکې کافرانو د الله توحيد باندې په ربوبيت کې باوردرلود} ... ۳۰٥
{کافران د ګواښ په وخت يوازې الله غواړي خوپه خوښی کې پې هير وي} ۳۰۷
{هرڅوک چې د الله په لارکې جهاد کړي سمه لاربه مومي} ۳۰۸
{د الروم مبارکې سورې پيژندنه اولوی مقصدونه} ۳۰۹
{مومنانوته الله تعالی د اهل کتابوبريا زيرئ ورکړئ دئ} ۳۱۰

{د الله لويو قدرتونو نښې په مخلوقاتو کې ستايل سوي ځليږي} ۳۱٤
{د مخلوق شريکول الله سره لکه د مزدور شريکول بادار سره} ۳۱۷
{د الله دين د فطرت غوښتنه ده او خلکې پرې پيدا کړي دي} ۳۱۸
{د الله رحمت خلک خوښوي او مصيبت يې نا هيلې کوي} ۳۱۹
{پيغمبر ته الله حکم کړئ چې د محتاجانو سره مرسته وکړي} ... ۳۲۱
{پيغمبر ﷺ د الله په حکم خلکو پام بد برخليک ته راړولئ دئ} ۳۲٤
{د الله تعالى توحيد نښې په مخلوقاتو کې روښانه ځليږي} ۳۲۵
{د الله قدرتونو نښې د خلکو په ځانو کې ځلانده ښکاري} ۳۲۸
{په قرآن کې هرڅه الله بيان کړي دي خو رښتيل سوي يې نه مني} .. ۳۲۹
{د لقمان سورې پښتو معنا او لنډ تفسير} ۳۳۱
{د لقمان سورې لنډه پيژندنه او لوى مقصدونه} ۳۳۱
{د حکمت نه ډک قرآني آيتونه مومنانو ته لارښود پيغام دئ} ... ۳۳۲
{د الله لارې نه په لهو ولعب ورکتيا سزا سپکونکئ عذاب دئ} .. ۳۳۳
{د الله قدرتونو نښې په ځمکه او اسمانو کې څرګندې ځليږي} ۳۳٤
{لقمان ته الله حکمت او هوښياري ورکړه ترڅو شکرو باسي} ۳۳۵
{الله مونږ ته مور او پلار سره په ښو کړنو سپارښت کړئ دئ} ۳۳٦
{د الله نعمتونو شکرويستل په خلکو فرض دي} ۳۳۹
{د مکې خلکو د الله ربوبيت پر ځمکه او اسمانو کې ومانه} ۳٤۰
{د قيامت په ورځ څوک يو بل ته څه ګټه رسولای نسي} ۳٤۳

{پنځه شیانو پټ علم یوازې الله سره دئ بل څوک نه پوهیږي} ٣٤٤ .
﴿د السجدې سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ٣٤٦
{د السجدې مبارکې سورې لنډه پیژندنه او مقصدونه} ٣٤٦
{قرآن د الله نه په حق سره راغلئ لارښود پیغام دئ} ٣٤٦
{ د کائناتو پیدایښت په شپږو ورځو کې د الله قدرتونو نښه ده } ٣٤٨ .
{ کافران د الله سره ملاقات او د جنت او دوزخ نه منکر دي } ٣٤٩
{مومنانو ته چې کله د الله قدرتونه یاد سي په سجده لویږي} ... ٣٥١
{مومنان جنتیان دي او فاسقان دوزخیان} ٣٥٢
{ محمد ﷺ لکه موسی علیه السلام یقینا پیغمبر دئ } ٣٥٣
﴿د الاحزاب سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ٣٥٩
{د الأحزاب سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغامونه} ٣٥٩
{دښمنانو ته تسلیمیدل پر پیغمبر باندې حرام دي} ٣٦٠
{ پردي زامن خپل زامن نکیږي او نه خپلې میرمنې میندې کیږي } ٣٦١ .
{الله د پیغمبرانو نه تعهد اخستئ دئ چې پیغام یې ورسوي} ٣٦٤
{د احزابو غزا کافرانو نه د محمد ﷺ پر خلاف جګړې واک واخست} ٣٦٥
{د احزابو غزا منافقان ښه غلبیل او سپک کړل} ٣٦٩
{رسول الله ﷺ مومنانوته د نیکمرغۍ ښه بیلګه او لارښود دئ}..... ٣٧١
{د احزابو غزا کې یرغلګر الله د جګړې نه پرته مختورن وشړل} ٣٧٢
{پیغمبر هغو میرمنوته چې د ډیرخرڅ غوښتونکې وې واک ورکه} ٣٧٤

{د الله حکم پر مومنانو فرض دئ او دوی پکې خوښه نلري} ۳۷۸
{رسول الله ﷺ خلکو ته د الله په حکم رښا کونکئ څراغ ؤ} ۳۸۲
{د پیغمبر کورته د اجازې نه پرته ورننوتل روا ندي} ۳۸٦
{مومنو ښځو ته د خپلو انو نه یوازې لاندې کسان محرم دي} ... ۳۸۷
{پر رسول الله ﷺ باندې درود و یل پر مومنانو فرض دئ} ۳۸۸
او په ور پسې مبارك ایت کې مومنان الله تعالی رسول الله ﷺ باندې درود
و یلو ته رابللي دي، او فرمایلي دي: ۳۸۸
{د مومنانو زَورول حرام دي او پردیو سړو یو نه ستر فرض دئ} ... ۳۸۹
{مومنان ده خپل پیغمبر د موسی علیه السلام قوم غوندې نه زوروي} .. ۳۹۲
{انسان هغه لوی امانت چې ځمکه او اسمان ورڅخه عاجز سول پر
غاړه واخست} ۳۹٤
د سبأ سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر ۳۹۵
{د سبأ مبارکې سورې لنډه پیژندنه او لوی اهداف} ۳۹۵
{داوود علیه السلام او زوی سلیمان علیه السلام ته الله لوی نعمتونه ورکړل} ... ۳۹۹
{د سبأ قوم چې الله په لویو نعمتونو نازولي ؤ څوک ول} ٤۰۱
{یوازې الله تعالی د خدایي مستحق لوی ځښتن دئ} ٤۰٤
{محمد ﷺ الله ټولو خلکو ته لارښود استازئ رالیږلئ دئ} ٤۰۷
{د مکي کافر انو نه قرآن ومانه او نه مخکني کتابونه} ٤۰۸
{د زور واکانو تاریخي دښمني پیغمبر انو سره تل پاتې دود دئ} ... ٤۱۰

{قیامت په ورځ بتان د خپلو بندګانو نه براءت اعلانوي} ٤١٢
{د پیغمبر ﷺ نصیحت او ګټور وړاندیځ خپل قوم ته} ٤١٥
د فاطر سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر ٤١٨
{د فاطر مبارکې سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه} ٤١٨
{ځمکه او اسمانو د الله پیدایښت او فرښتې د الله استازي دي} ٤١٩
{یوازې الله د یادونې او د بنده ګي مستحق لوی ځښتن دئ} ٤٢٠
{شیطان د ټولو خلکو دښمن دئ نو دښمنۍ ورسره پکاره} ٤٢١
{د خلکو ژوند پرواونه الله پیدا کړي او په تقدیرکې ثبت دي} ٤٢٣
{ټول خلک الله ته محتاج دي او د کړنو پوښتنه ورځخه کیږي} .. ٤٢٥
{کافران د تورو تیارو او د مړو غوندې دي او مړي څه نه اوري} ... ٤٢٧
{قرآن چې پیغمبر ﷺ ته وحیه ده پخواني کتابونه تصدیقوي} ٤٣١
{کافران په آخرت کې د دوزخ په ژورو کې کلک کړ یږي} ٤٣٢
د یس سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر ٤٣٧
{د یاء سین مبارکې سورې لنډه پیژنده او لوی مقصدونه} ٤٣٧
{د محمد ﷺ قوم قر یشو نیکونو ته پیغمبر نه ؤ راغلئ} ٤٣٩
{د پیغمبر انو رسالت خلکو ته د الله پیغام رسول دي} ٤٤٢
{د پخو انیو امتونو مومن بنده قصه حق ته بلنه ده} ٤٤٤
{د الله لوی قدرتونه په ځمکه او اسمانو کې رانه ځلیږي} ٤٤٧
{د قیامت ورځې انتظار او د کافر انو کړ یدو انځورپه هغه ورځ} . ٤٥٠
{ جنتیانو ته د ښادۍ ز یږئ او دوزخیانو ته د عذاب ګواښ } ٤٥٢

{ کافران د الله تعالی لو یو پیرزو ینو شکر نه باسي } ٤٥٥
{ د قیامت په ورځ خلک الله د لمړي ځل غونډې ته راژوندي کوي } ٤٥٦
د الصافات سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر ٤٥٨
{ د الصافات سورې لنډه پیژندنه او لوي مقصدونه } ٤٥٩
{ الله پرتولو خلکو باندې د بنده ګي یوازنۍ حق لرونکۍ رب دئ } . ٤٥٩
{ د مکې کافر انو د الله لو یو قدرتونو پرو راندې سرکښي وکړه } ... ٤٦٠
{ د قیامت په ورځ د کافر انو ستونزمن حالت ژوندئ تصویر } ٤٦٢
{ د قیامت په ورځ د الله مخلصو بنده ګانو ژوندئ انځور } ٤٦٤
{ د جنتي مومن مرکې انځور د خپل کافر ګاونډي سره } ٤٦٥
{ ابراهیم عليه السلام ته د اورپه لمبو کې الله تعالی نجات ورکه } ٤٧٠
{ موسی عليه السلام او قوم یې د الله په فضل د ظلم نه خلاص سول } .. ٤٧٣
{ د الیاس عليه السلام د پیغمبرۍ لنډه یادونه او ستاینه } ٤٧٥
{ لوط او کورنۍ یې د زړې ښځې نه پرته الله د عذاب نه وساتل } . ٤٧٦
{ الله د مکې خلکو هغه تورغندلۍ چې ملائکې یې د الله لونې بللې } ٤٧٨
{ الله د خپلو استازو سره د مرستې او بریا پریکړه کړې ده } ٤٨١
{ د الله تعالی ستایني او حمد او ثناء اسماني پیغام } ٤٨٢
د ص سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر ٤٨٤

{د ص سورې لنډه پېژندنه او لوی مقصدونه} ٤٨٤
{د مکې کافران الله د خپلې سرکښۍ تور برخلیک نه ګواښلي دي} ٤٨٥
{د مکې کافران الله د پخو انیو امتونو په تور برخلیک وګواښل} . ٤٨٧
{د داوود عليه السلام قصه او رسول الله ﷺ ته په صبر سپارښت} ٤٨٨
{ داوود عليه السلام پر ځمکه د الله تعالی خلیفه ؤ} ٤٩٠
{د داوود عليه السلام د دغې قصې اړوند یو ډیر ضروري وضاحت} ٤٩٢
{قرآن مونږ ته الله د پند اخستلو او فکر کړو لپاره را لیږلئ دئ} .. ٤٩٢
{سلیمان د داوود عليه السلام زوی او د لله عابد بنده ؤ} ٤٩٣
{د ایوب عليه السلام د صبر لنډه قصه او د دعاء قبلیدل} ٤٩٧
{ ابراهیم عليه السلام او زامن یې د الله غوره بنده ګان ول } ٤٩٨
{د کافر انو ځای د دوزخ په اورکې کړ یدل دي} ٥٠٠
{ پیغمبر د الله عذاب نه ګواښونکئ اوقرآن لارښود پیغام دئ } ٥٠٢
{د لعنت سوي شیطان سره د الله اوږدې خبرې او مرکه} ٥٠٣
{رسول الله ﷺ اعلان کړئ دئ چې قرآن خلکوته لارښود دئ} ٥٠٥
﴿د الزُمر سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾ ٥٠٧
{ د الزُمر مبارکې سورې لنډه پېژندنه او لوی مقصدونه } ٥٠٧
{ قرآن د الله نه رانازل سوئ دئ او عبادت د الله حق دئ } ٥٠٨
{د الله توحید نبۍ د اسمانو او ځمکې په پیدایښت کې ځلیږي} . ٥٠٩
{د الله نعمتونو هیروونکي او د کافر انو ملګري دوزخیان دي} ٥١١

{مومنانو ته ارزښتناکه لارښودنې او کافرانو ته ګواښونه} ٥١٢
{د طاغوت بنده ګي نه ځان ساتونکي ریښتیني هوښیاران دي} .. ٥١٥
{ حق او باطل ته د زړه اوښتلو څرنګوالئ لکه د دنیا ژوند دئ } .. ٥١٦
{ قرآن چې په عربي ژبه دئ د شرك او توحید بیلتون بیانوي } ... ٥١٩
{د مکې کافرانو د ربوبیت توحید مانه په الوهیت منکرول} ٥٢٢
{قرآن خلکو ته لارښود دئ او د الله قدرتونه پکې یاد سوي دي} . ٥٢٣
{د الله توحید نه د کافرانو کرکه او پیغمبرته د الله دعاء امر} . ٥٢٦
{د قیامت ورځې عذاب نه د خلاصون نذرانې ارمان ګټه نلري} ... ٥٢٧
{د الله رحمت او بښنې ورونه توبه ویستونکو پرمخ بیرته دي} .. ٥٢٩
{ قیامت په ورځ مومنان په سپینو مخو او کافران په تورو مخو الله ته درول کیږي } ٥٣١
{په آخرت کې مومنانو ته زیري او کافرانو ته ګواښونه} ٥٣٤
د غافر سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر ٥٣٧
{د غافر سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه} ٥٣٧
{د عرش نه راتاوې ملائکې د الله ستاینه کړي او مومنانو ته بښنه غواړي} ٥٤٠
{کافران د قیامت په ورځ په خپلو ګناه ووباندې اعتراف کړي} ... ٥٤٢
{فرعون د یهودو نارینوو ټول وژنه او د ښځو مینځې ګرځول اعلان

کړل} ٥٤٦
{د فرعون قوم مومن سړي د موسی په حمایت سپارښت وکه} . ٥٤٨
{فرعونیانو د یوسف علیه السلام نه وروسته نور پیغمبران نه منل} ٥٥٠
{فرعون د خپلې خدایي مستۍ په سر اخستئ ؤ} ٥٥١
{په دوزخ کې د مزدورانو مناظره خپلو کافرانو واکمنو سره} ٥٥٤
{الله پیغمبرانو او مومنانو ته د نصرت زیرئ ورکړئ دئ} ٥٥٦
{د الله قدرتونو نښانې هرې خوا خورې سوي لیدل کیږي} ٥٥٩
{د الله تعالی نه پرته د بل هیڅ چا بنده کې روا نده} ٥٦٢
{الله پیغمبرته د بریا او د وعدو پوره کولو زیرئ ورکړئ دئ} ٥٦٥
د فصلت سورې پښتو معنی او لنډ تفسیر ٥٦٨
{د فصلت سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه} ٥٦٩
{قریشو د قرآن نه چې په عربي ژبه نازل سوئ دئ مخ وا ړا ؤ} ٥٧٠
{محمد ﷺ چې یؤ انسان ؤ د الله توحید ته یې بلنه ورکوله}..... ٥٧١
{ څوک چې د الله حکم نه مخ اړوي د ګواښ لاندې دئ } ٥٧٣
{ کافر انو ته الله تعالی د کلکو سزاګانو ګواښ کړئ دئ } ٥٧٦
{څوک چې خلک د الله عبادت ته رابولي بل هرچانه غوره دئ} .. ٥٧٨
{د الله تعالی نه پرته چې لوی ذات دئ بل چا ته سجده روا نده} . ٥٨١
{قرآن د الله پیغام دئ او د ملحدینو سپکو طعنو نه پاک دئ} ... ٥٨٢
{په تورات کې یهودو اختلاف وکه خو الله دوی د سزا نه وساتل} ٥٨٤

د الأنبياء سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الأنبياء سورې لنډه پېژندنه او لوی مقصدونه}

درندو دوستانو! د الأنبياء مباركه سوره مكي سوره ده او پکې د الله تعالی توحید او د ایمان او عقیدې لویې مسئلې بیان سوې دي، لکه پر اسماني کتابونو او پر پیغمبرانو ایمان راوړل، او د هغوی قصو بیانول چې یقینا هغه د پیغمبرانو رسالت او تګ لارې یو والئ څرګندوي، نو ځکه دا مبارکه سوره په الأنبياء نومول سوې ده، او پکې د پنځلسو پیغمبرانو هغه قصې خپلو امتونو سره لنډې او اوږدې یادې سوې دي چې پکې هر پیغمبر خپل امت ته د ښو کړنو او د ښو و یناوو عملي قدوه او لارښوده بیلګه او مثال وه، نو ښایي چې دوی ټول مونږ تر قیامت ورځې راتګ پورې ځانو ته د زدکړې او پند اخستلو لارښودان ونیسو، لکه څنګه چې په قصې د قرآن په بیلو بیلو سورو کې په وار وار سره لنډې او یا اوږدې لولو او د دې قصو مراد او مقصد دوی پسې اقتدا ده، لکه څنګه چې الله تعالی ابرهیمعليه السلام پسې د اقتدا کړو په باره کې فرمایلي دي:"قد كانت لكم أسوة حسنة في ابراهيم والذين معه.. الأية الممتحنة(٤)"ای مومنانو! ابراهیم او ورسره مومنان تاسې ته لارښود ول، او همدارنګه د اسلام ستر پیغمبر محمدﷺ الله تعالی مونږ ته د لارښودنې ښه مخکښ بللئ دئ، او فرمایلي دي:" لقد كان لكم في رسول الله أسوة حسنة لمن كان يرجو الله واليوم الأخر وذكر الله كثيرا...الأحزاب الاية ٢١" معنا: ای مومنانو! د الله تعالی پیغمبر محمدﷺ د سنتو او د تګ لارې په لارښودنو کې تاسې ته ښه مخکښ امام وه، ترڅو تاسې ور پسې اقتدا وکړی او ور پسې لاړ سی، یعنی په لارښودنو، کړنو او و یناوو یې عمل وکړی او رسول اللهﷺ خپل مقتدا وګرځوی، او د هغه سنت او سیرت خپلو ځانو ته لارښود خوښ کړی او ور باندې ودر یږی، او د دنیا او آخرت ښادي او نیکمرغي وګټی.

{د قیامت ورځې راتګ را لنډ دئ خو خلک ورڅخه بې پروا دي}

د الانبياء مبارکې سورې په پیل کې خلک الله تعالی د قیامت ورځې ژر راتګ نه او په هغه ورځ د حساب ورکولو نه خبر کړي دي او ورڅخه یې کلک ګوابنلي دي، او فرمایلي دي:

﴿ٱقۡتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمۡ وَهُمۡ فِي غَفۡلَةٖ مُّعۡرِضُونَ ١ مَا يَأۡتِيهِم مِّن ذِكۡرٖ مِّن رَّبِّهِم مُّحۡدَثٍ إِلَّا ٱسۡتَمَعُوهُ وَهُمۡ يَلۡعَبُونَ ٢ لَاهِيَةٗ قُلُوبُهُمۡۗ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّجۡوَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ هَلۡ هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡۖ أَفَتَأۡتُونَ ٱلسِّحۡرَ وَأَنتُمۡ تُبۡصِرُونَ ٣ قَالَ رَبِّي يَعۡلَمُ ٱلۡقَوۡلَ فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٤ بَلۡ قَالُوٓاْ أَضۡغَٰثُ أَحۡلَٰمِۭ بَلِ ٱفۡتَرَىٰهُ بَلۡ هُوَ شَاعِرٞ فَلۡيَأۡتِنَا بِـَٔايَةٖ كَمَآ أُرۡسِلَ ٱلۡأَوَّلُونَ ٥ مَآ ءَامَنَتۡ قَبۡلَهُم مِّن قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَاۖ أَفَهُمۡ يُؤۡمِنُونَ ٦﴾

[١] هو! خلکو ته د دوی سره د حساب کړو [ورځ] را لنډ سوه، خو دوی په غفلت او بې پروايي کې ډوب دي، او د ايمان راوړو نه يې مخونه اړولي دي، يعنی دا چې ښايي خلک د قيامت ورځې ته چې را لنډه ده ځانو نه تيار کړي او ايمان راوړي او ښه وکړي، ځکه په هغه ورځ الله تعالی د هر چا نه د هغه د ښو او بدو کړنو کلک حساب اخلي.

قدرمنو دوستانو! که څه هم د قيامت ورځې راتګ ټاکل سوې نيټه او وخت د الله نه پرته بل هيڅ چا ته معلوم ندئ، خو ښايي چې هر څوک پدې ښه پوه وي او کلک پام وکړي چې د هغه قيامت د ده مړ ينه او مرګ او د دنيا ژوند نه د هغه تګ او کډه کيدل دي، يعنی مونږ ټول د دنيا نه تلونکي يو او بيا د محشر په لو ی ميدان کې حساب را پسې دئ، نو ښايي خپلو ځانو سره د نيک عمل توښه يوسو، ترڅو د الله تعالی پر وړاندې سپين مخي ودر يږو او حساب مو اسانه سي، او د الله تعالی لو يو جنتونو ورونه د زمونږ پر مخ خلاص سي.

[٢] هو! خلکو ته د دوی د رب الله لخوا د قرآن هيڅ نوي آيتونه نه راځي، مګر دا چې دوی هغه په داسې حال کې اوري چې په لو بو کې لګيا دي، يعنی په خوسې بندارونو او د دنيا مال او دولت په راغونډولو کې ښه ستړي دي، او د قرآن سپکاوئ کړي او آيتونو او لاښودنو ته يې ارزښت نه ورکوي...العياذ بالله.

[٣] او د دغو کافرانو زړونه د قرآن اور يدلو نه غافل دي [ځکه دوی په خپلو دنيايي مزو کې مست ښکيل دي] او دغه کسان چې پر خپلو ځانو باندې يې په کفر سره ظلم او تيرئ کړئ دئ؛ دوی د يو بل سره پټ پټ وايي: دا پيغمبر خو د ستاسې غوندې سړئ دئ [يعنی بشر دئ او ورسره کتاب؛ کوډې دي، العياذ بالله] نو آيا تاسې کوډو پسې ځی، حال دا چې هغه و يی؟ يعنی پيغمبر ﷺ پسې مځی او ور باندې ايمان مه راوړی!

[٤] [نو بيا چې کله الله تعالی خپل پيغمبر د کافرانو زړونو نه خبر که رسول الله ﷺ کافرانو ته په ځواب کې] وو يل: هو! د زما رب الله پر هغو خبرو چې په اسمان او ځمکه کې دي پوهيږي، او الله ښه اور يدونکئ او ښه پوه لوی ذات دئ.

[٥] بلکې کافرانو بيا وو يل: هغه څه چې محمد وايي؛ هغه خوسې د دروغو خو بونه دي، بلکې هغه محمد خپله افترا کړې دي [يعنی العياذ بالله قرآن د کافرانو په و ينا الله پسې خوسې تور تپل دي او ر ښتيا ندئ] او ځينو کافرانو بيا وو يل: محمد شاعر دئ [يعنی د قرآن آيتونه هغه د خپل ځان نه جوړ کړي شعرونه دي] نو که داسې نه وي، نو بيا ده دئ مونږ ته پخوانيو پيغمبرانو غوندې يوه معجزه را وړي؟ يعنی مادي او محسوسه په سترګو ليدلې معجزه ده را وړي، ترڅو مونږ ور باندې باور وکړو او بلنه يې ومنو او ور پسې لاړ سو.

[٦] او بيا چې کله د دوی نه مخکې د هر کلي خلکو په تيرو امتونو کې [د خپلو پيغمبرانو مادي يا حسي معجزې ونه منلې] او ايمان يې را نوړ؛ هغوی مونږ هلاک کړل، نو آيا دا د مکې کافران(قريش) به د خپل پيغمبر پر معجزو باندې ايمان راوړي؟ ځواب: نا! يعنی که دوی ته د پخوانيو امتونو غوندې معجزې هم را سی ايمان نه را وړي، نو بيا به الله تعالی د خپلو کوني سنتو او قانون سره سم دوی ته سزا ورکړي او ټول به هلاک کړي، نو ښايي کافران مادي معجزې ونه غواړي او پر قرآن باندې چې تل پاتې معنوي معجزه ده؛ ايمان راوړي او د رسول الله ﷺ پيغمبري ومني!

{د کتابونو پوهان پوهيږي چې ټول پيغمبران نارينه ول}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې د اسلام پيغمبر ﷺ الله تعالى د ټولو پيغمبرانو نار ينه توب نه خبر کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۖ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٧ وَمَا جَعَلۡنَٰهُمۡ جَسَدٗا لَّا يَأۡكُلُونَ ٱلطَّعَامَ وَمَا كَانُواْ خَٰلِدِينَ ٨ ثُمَّ صَدَقۡنَٰهُمُ ٱلۡوَعۡدَ فَأَنجَيۡنَٰهُمۡ وَمَن نَّشَآءُ وَأَهۡلَكۡنَا ٱلۡمُسۡرِفِينَ ٩ لَقَدۡ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ كِتَٰبٗا فِيهِ ذِكۡرُكُمۡۖ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ١٠﴾

[٧] ای پیغمبره! او د ستا نه مخکې او وړاندې تیرسوي پیغمبران ټول مونږ نار ینه را لیږلي ول، او پیغمبرانو ته مونږ وحیه کړو، نو که تاسې پدې نه پوهیږئ [یعنی ورځخه خبر نه یاستئ] نو د اهل ذکر (پوهانو) نه چې ورسره علم دئ و پوښتئ [ځکه هغوی سره د پخوانیو کتابونو علم او پوهه سته او دوی د پخوانیو پیغمبرانو قصو نه خبر دي،لکه د اهل کتابو(یهودو او نصاراوو) پوهان، یعنی دا ځکه چې دوی تورات او انجیل لولي.

درندو عز یزانو! دا مبارك آیت د ټولو هغو ناپوهانو لپاره لارښـــود دئ چې په څه نه پوهیږي او د تار یخ نه خبر ندي، نو ښـایي چې پوهانو او علماوو ته ورســـي او د هغوی نه علم زدکړي؛ نه داچې د خپل ځان نه په دین کې خبرې وکړي او فتوا ورکړي، لکه هغه کم علمه مفتیان او ملایان چې ډیر خلک د دوی نیمګړو فتوا ګانو له امله په اوســني عصــر کې په فتنو او په لو یو ازمایښـتونو کې لو یدلي دي، او اسـلامي ټولنې یې ټوټه کړې دي او د ګواښـونکې کلک بیلتون سـره یې مخامخ کړې دي، نو تخصـص په علم او په هر کسب او کار کې اړ ین او ښکاره ګټور دئ.

او په ور پســـې مبارکو آیتونو کې همداســـې الله تعالى د پیغمبرانو په پیژندنه کې فرمایلي دي:

[٨] او دا مخکې تیر ســوي پیغمبران مونږ یوازې کالبوت (جســد) نوه ګرځولي چې ډوډۍ به نخوري او نه دوی تل پاتې ول، یعنی پیغمبران، لکه نور خلـک ډوډۍ خوري او مړه کیږي، ځکـه هیڅ څوک پـه دنیـا کې تـل

ژوندي نه پاتې کيږي، ټول د خپل اجل په پوره کيدلو سره مري.

[٩] او بيا مونږ د پيغمبرانو سره کړي وعدې ر ښتيا کړې [يعنى پيغمبران بر يالې سول] او هم پيغمبران مونږ د دوى دښمن نه وساتل، او د مومنانو نه چې څوک مونږ وغوښتل دوى ته هم مونږ نجات ورکه او چاچې پر خپلو ځانو باندې په کافر يدو سره تيرئ کړي ؤ؛ دوى مونږ هلاك او تباه کړل.

[١٠] اى خلکو! او يقينا چې تاسي ته مونږ داسې کتاب (قرآن) را نازل کړئ دئ چې په هغه کې د ستاسې يادښت [يعنى عزت دئ او پرې ښه يادېږى] نو ولې تاسې ښه نه پوهيږى؟ يعنى اى خلکو! ښايې تاسې د قرآن په ارزښت ښه پوه سى، ځکه قرآن د الله نه تاسې ته په ر ښتيا سره راغلئ اسماني کتاب دئ، او د رسول الله ﷺ پيغمبرى تصديق لو يه معجزه ده، ځکه هيڅ څوک هغسې کتاب را وړاى نسي، او دا دئ د اوسنى تکنالوژى په پرمختللي عصر کې د قرآن مجيد علمي اعجاز بيلګې ښې ډيرې را پسيره سوې او کشف سوي دي، او د هوښيارانو د ايمان راوړو لوى عامل او سبب ګرځيدلې دي.

ګرانو دوستانو! دا مبارك آيتونه د مکې کافرانو هغو پوښتنو او سوالونو ځواب دئ چې دوى د پيغمبر ﷺ په باره کې کړل او و يل يې: ولې پيغمبر ﷺ نار ينه انسان دئ؟ او يا ولې ملائکه او فرښته ندئ؟ او ولې د زمونږ غوندې خواړه خوري او ځانګړي خواړه ورته نه راځي؟ او ولې هغه مونږ ته د پخوانيو پيغمبرانو غوندې حسي يا مادي معجزې نه را وړي؟ او داسې نورې ډيرې پوښتنې او غوښتنې چې دوى کړي، نو بيا الله تعالى هغه ټولې په وار وار سره، لکه دا مبارك آيتونه؛ ځواب کړې دي او په قرآن کې محفوظې ساتل سوې دي.

{سرکښې ولسونه الله هلاك کړل نورخلک يې پرځاى کينول}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې کافران الله تعالى د پخوانيو سرکښو امتونو تور برخليک نه خبر کړي او کلک يې ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَكَمْ قَصَمْنَا مِن قَرْيَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً وَأَنشَأْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا ءَاخَرِينَ ﴿١١﴾ فَلَمَّآ أَحَسُّواْ بَأْسَنَآ إِذَا هُم مِّنْهَا يَرْكُضُونَ ﴿١٢﴾ لَا تَرْكُضُواْ وَٱرْجِعُوٓاْ إِلَىٰ مَآ أُتْرِفْتُمْ فِيهِ وَمَسَٰكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْـَٔلُونَ ﴿١٣﴾ قَالُواْ يَٰوَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿١٤﴾ فَمَا زَالَت تِّلْكَ دَعْوَىٰهُمْ حَتَّىٰ جَعَلْنَٰهُمْ حَصِيدًا خَٰمِدِينَ ﴿١٥﴾﴾

[١١-١٢] هو! څومره پخواني کلي چې اوسيدونکې يې ظالمان (کافران) ول؛ مونږ هلاک کړل او لمنځه لاړل او د دوی نه وروسته نور کسان مونږ را پيدا کړل [او د هغوی ځای ناسـتي سـول] نو بيا چې کله دغو کافرانو د زمونږ کلکه سـزا وليدله چې دوی پسې راتلونکې ده، نو پدې وخت کې دوی د خپلې مِينې نه په منډه په تيښته سول او مينه يې پر يښوده.

[١٣-١٤] [نو بيا پر دوی باندې غږ وسـه چې] مه تښتئ او بيرته خپلې هغې مينې او کورونو ته را وګرځئ چې پکې ښه خوشاله او سوکالي اوسيدلئ، ځکه کيدای سي چې د ستاسې نه پوښتنه وسي! [نو بيا پدې وخت کې دوی په خپله ګناه اقرار کړي] او وايي: مونږ د تباه او هلاک سـو، ځکه يقينا چې مونږ ظالمان وو، يعنی مونږ پر خپلو ځانو باندې تيرئ کړئ ؤ او ايمان مو نۀ راوړئ او په خپل کفر او شرک کې همداسې ډوب سوي پاتې وو او د حق منلو نه محروم وو.

[١٥] نو بيا کافران همداسـې واو يلا کړي او چيغې وهي، ترڅو دوی مونږ، لکه ر يبل سـوئ کښـت سـترئ سـترئ وګرځوو، يعنی نو هر چا ته ښـايي د دغو پخوا تير سـوو سـرکښـو ولسـونو د هلاکت نه پند او عبرت واخلي، ترڅو د دغسې تور برخليک نه په امن کې سي.

ګرانو دوسـتانو! هغو سـرکښـو ولسـونو ته چې دوی خپل رب سـم نه پيژني او فرمان يې نه مني او پيغمبران او د دوی لارو يان علماء او دعـات دروغژن بولي او خبرې يې نه مني؛ دوی ټولو ته الله تعالی کلکه سزا ورکوي، ځکه دوی الله تعالی بې مقصده او د لو بو لپاره ندي پيدا کړي، بلکې دوی يې خپل عبادت او فرمان وړو ته پيدا کړي دي او دا لوی مقصد الله تعالی په ور پسې مبارکو آيتونو کې ډير روښانه بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

{ځمکه او اسمانونه او پکې خلک الله بنده ګی ته پیدا کړي دي}

هو! الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې د ځمکې او اسمانو خلقت او پیدایښت مقصدونه بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَٰعِبِينَ ﴿١٦﴾ لَوْ أَرَدْنَآ أَن نَّتَّخِذَ لَهْوًا لَّٱتَّخَذْنَٰهُ مِن لَّدُنَّآ إِن كُنَّا فَٰعِلِينَ ﴿١٧﴾ بَلْ نَقْذِفُ بِٱلْحَقِّ عَلَى ٱلْبَٰطِلِ فَيَدْمَغُهُۥ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ ۚ وَلَكُمُ ٱلْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُونَ ﴿١٨﴾ وَلَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَمَنْ عِندَهُۥ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِۦ وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ ﴿١٩﴾ يُسَبِّحُونَ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ ﴿٢٠﴾﴾

[١٦] [هو؛ ای خلکو! پدې پوه سی چې] دا اسمان او ځمکه او د دوی دواړو په منځ کې میشت خلک [یعنی پکې پراته مخلوقات] مونږ بېهوده او بې مقصده ندي پیدا کړي! یعنی هغه ټول مونږ د ستاسې ازمایښت لپاره پیدا کړي دي، ترڅو تاسې ورڅخه عبرت او پند واخلی او څه زده کړی، او خپل رب په ر یښتیا سره و پیژنی او یوازې د هغه عبادت او بنده ګي وکړی!

[١٧] ای خلکو! او که مونږ غوښتي وای چې تاسې هوسونه او لوبې وکړی [یعنی که د زمونږ مقصد یوازې خوړل، څکل او د ښځو سره ملاسته او د بچیانو راوړل او نور دنیایي هوسونه وای] نو بیا به مونږ خپل ځان ته دا کار کړئ ؤ، یعنی دا چې د زمونږ مقصد لوبې کړل او لهو او لعب ندي او مونږ د لو بونه پاک یو، او د زمونږ مقصد د دغسې لو یو لو یو مخلوقاتو پیدایښت نه؛ دا دئ چې تاسې ای خلکو! خپل لوی رب او څښتن ښه و پیژنی او په توحید سره یې عبادت وکړی، او ځمکه د الله تعالی تکو یې او شرعي قانون او نظام سره سمه ودانه کړی او د خپل لوی رب الله سره بل څوک په خدایي کې شر یك او ګډ نکړی.

[١٨] بلکې مونږ حق پر باطل ورولو، نو بیا حق باطل له منځه وړي، نو بیا ګوری چې آیا باطل (کفر) له منځه ځي؟ او تاسې ته ای کافرانو! د

خپلو و يناوو کلکه سزا تياره ده، يعنی دا ځکه چې تاسې (العياذ بالله) په خپلو و يناوو کې وو يل: خدای زوی لري!

[١٩-٢٠] او هر څوک چې په اسمانو او په ځمکه کې دي او يا د الله سره دي [يعنی لکه ملائکې] هغه ټول د الله واک لاندې دي او د الله په بنده ګۍ باندې نه کبر کړي او نه ستومانه کيږي او شپه او ورځ الله په پاکې سره يادوي او په عبادت کې نه ستړي کيږي.

درندو دوستانو! ملائکې چې د الله تعالی خورې ورې لښکرې په اسمانو او په ځمکه کې دي؛ دوی ټول په ډيرې عاجزۍ سره د الله تعالی فرمانو نه چلوي او د الله تعالی په نه ستړې کيدونکې بنده کې لګيا دي، نو يقينا چې دا د الله په عظمت او لو يتيا باندې کلک او روښانه دلالت کړی.

{ په ځمکه او اسمان کې که څو خدايان وای ړنګ سوي به ول }

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی په ځمکه او اسمانو کې د خپل توحيد ثبوت په بيان کې فرمايلي دي:

﴿أَمِ ٱتَّخَذُوٓاْ ءَالِهَةً مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ هُمۡ يُنشِرُونَ ٢١ لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ٢٢ لَا يُسۡـَٔلُ عَمَّا يَفۡعَلُ وَهُمۡ يُسۡـَٔلُونَ ٢٣ أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗۖ قُلۡ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡۖ هَٰذَا ذِكۡرُ مَن مَّعِيَ وَذِكۡرُ مَن قَبۡلِيۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٱلۡحَقَّ فَهُم مُّعۡرِضُونَ ٢٤ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ٢٥ وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَلَدٗاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۚ بَلۡ عِبَادٞ مُّكۡرَمُونَ ٢٦ لَا يَسۡبِقُونَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ وَهُم بِأَمۡرِهِۦ يَعۡمَلُونَ ٢٧ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ وَلَا يَشۡفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرۡتَضَىٰ وَهُم مِّنۡ خَشۡيَتِهِۦ مُشۡفِقُونَ ٢٨ * وَمَن يَقُلۡ مِنۡهُمۡ إِنِّيٓ إِلَٰهٞ مِّن دُونِهِۦ فَذَٰلِكَ نَجۡزِيهِ جَهَنَّمَۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلظَّٰلِمِينَ ٢٩﴾

[٢١] او آيا دغو مشرکانو د ځمکې کانو اوتيږونه جوړ سوي بتان

خپلو ځانو ته خدایان ونیول؟ حال دا چې دا بتان هرې خوا پراته دي، یعنی هیڅ څه شئ پې په واک کې ندي، خوسې بې روحه او بې وسعې کانې او تیږې دي او الله ته خو ښایي چې د هر څه وسعه ولري او مړی را ژوندي کړي او ساه پکې بیرته وچلوي.

[۲۲] هو! که پر ځمکه او اسمان کې د الله نه پرته نور خدایان وای، نو بیا به هغه دواړه [یعنی ځمکه او اسمان] ړنګ سوي ول [یعنی هر خدای به د خپلې خوښې حکم پکې چلا وه، نو تصادم او ټکر پې په منځ کې حتمي وه، او بیا هغه د ځمکې او اسمان د فساد او ړنګیدلو سبب او عامل ګرځیده] او الله چې د عرش لوی څښتن دئ؛ د کافرانو د دروغژنو خبرونه پاک او لوی دئ، یعنی په ټولو کمالي صفتونو ستائل سوئ لوی ذات دئ.

[۲۳] او د الله نه د هغه کړنو پوښتنه نکیږي، خو د کافرانو نه د دوی د ټولو کړنو پوښتنه کیږي، یعنی نو دا حقیقت د الله تعالی د خدایي لو یه نښه او کلک دلیل دئ.

[۲٤] ای پیغمبره! او آیا مشرکانو د الله نه پرته ځانو ته نور خدایان ونیول؟ نو ته دوی ته ووایه: د دغو خدایانو پر ر یښتینوالي باندې خپل دلیل او ثبوت راوړی؟ خو ای کافرانو! پدي قرآن کې چې هغه د زما امت ته ور یادونکي لارښود کتاب دئ؛ د ستاسې پر دغو ناحقه خدایانو باندې څه دلیل نسته، او هم د زما نه مخکې کتابونو کې چې هغه هم خپلو ولسونو ته ور یادونکي لارښود پیغامونه ول؛ د ستاسي پر دغو خدایانو باندې څه دلیل او حجت نسته، نو حقیقت دا دئ چې ډیر کسان د دغو مشرکانو نه حق نه پیژني او پر ناپوهۍ سره دوی د حق نه مخونه اړولي دي، یعنې د الله په توحید باور نلري او هغه نه مني او نه د رسول اللهﷺ پیغمبري مني، نو یقینا چې کافران په کږه لار روان دي.

[۲۵] ای پیغمبره! او د ستا نه مخکې هیڅ کم پیغمبر مونږ ندئ را لږلئ، مګر داچې هغه ته مونږ وحیه کړي ده چې یقینا د زما نه پرته بل په ر یښتیا سره معبود نسته، نو تاسې ای خلکو! یوازې د زما بنده ګې او

عبادت وکړی، یعنی یوازې د خپل لوی خالق او پالونکي څښتن الله فرمان ته غاړه کیږدی او هغه عملي کړی.

[٢٦-٢٧] او دغو مشرکانو وو یل: الرحمن رب ځان ته زوی نیولئ دئ! ـ العیاذ بالله ـ [یعنی دا ځکه چې د مشرکانو په غلطې انګیرنې سره ملائکې د الله لونې دي] حال دا چې الله د دوی د دغسې و ینا او ستاینې نه پاک دئ، او ملائکې د الله عزتمن او درانده بنده ګان دي او د الله فرمان وړو ته تل تیار سئ دي او د الله پر وړاندې هیڅ څه نه وایي او د الله پر حکم کار کړي، یعنی ورته سپارل سوې دندې په مخ وړي او د الله حکم نه هیڅ ډول نافرماني او سر غړونه نکړي.

[٢٨] او الله د ملائکو پر وړاندې او وروسته ټولو کړنو باندې پوهیږي [یعنی هغه یې د څار لاندې دي او ملائکې د هیڅ چا لپاره الله ته سپارښت او شفاعت نکړي، مګر دا چې د دې کس نه الله راضي او خوښ وي، او ملائکې د الله و یرې نه تل په ډار کې وي، نو کلک پام کړي.

[٢٩] [او د ملائکو نه چې هر څوک د خدایي دعوا وکړي] او ووایي چې زه یقینا د الله نه پرته خدای یم، نو بیا هغه ته د دوزخ په اور کې سزا ورکوو او ظالمانو ته[چې دوی خپل خدای نه پیژني] همداسې سزا ورکوو!

قدرمنو دوستانو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونو کې د مشرکانو هغه ناحقه تور رد کړئ دئ چې دوی ملائکې د الله لونې بللې، او بیا الله تعالی ملائکې چې د الله تعالی فرمان وړونکي مخلوقات دي؛ نبې ستایلې دي، او همدارنګه الله تعالی ګوابن کړئ دئ که د ملائکو نه هر څوک د الوهیت دعوا وکړي، نو کلکه سزا به ورکړي او د جهنم په اور کې به یې وسوزوي، او د هغې نه وړاندې الله تعالی په ډیر پر یکنده او قاطع استدلال سره خپل توحید په ر بو بیت کې بیان کړئ دئ.

{د اسمان او ځمکې پیدایښت د الله توحید ځلانده دلیل دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د خپلې خدایي توحید دلیلونه همداسې پرله پسې بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿أَوَلَمۡ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ كَانَتَا رَتۡقٗا فَفَتَقۡنَٰهُمَاۖ وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّۚ أَفَلَا يُؤۡمِنُونَ ٣٠ وَجَعَلۡنَا فِي ٱلۡأَرۡضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِهِمۡ وَجَعَلۡنَا فِيهَا فِجَاجٗا سُبُلٗا لَّعَلَّهُمۡ يَهۡتَدُونَ ٣١ وَجَعَلۡنَا ٱلسَّمَآءَ سَقۡفٗا مَّحۡفُوظٗاۖ وَهُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِهَا مُعۡرِضُونَ ٣٢ وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ ٣٣﴾

[٣٠] او آیا هغه کسان چې کافران سول [یعنی د الله تعالی لو یو قدرتونو نه منکر سول] آیا دوی ونه لیدل او نه پوهیږي چې ځمکه او اسمانو نه سره نښتی ول، نو بیا هغه دواړه مونږ وچول [یعنی یو د بل نه مونږ سره بیل کړل] او هر څه مونږ د او بو نه را ژوندي کړل، نو آیا کافران د دې سره ایمان نه راوړي! یعنی د الله په لو یو قدرتونو باندې باور نکړي او هغه نه مني؟ حال دا چې الله تعالی ځمکه او اسمانو نه سره بیل کړل او د اسمان نه یې او به راوورولې او ځمکه یې ور باندې را شنه کړه او ټول بوټې او حیوانات یې د او بو نه را ژوندي کړل.

[٣١] او غرونه مونږ پر ځمکه میخ کړل، ترڅو ځمکه ور باند کلکه سي، او په ځمکه کې مونږ لارې را وایستلې، ترڅو خلک ور باندې مزلونه وکړي او د خپل مقصد ځای ته سم او اسانه ورسیږي.

[٣٢] او د ځمکې پر سر اسمان مونږ ساتل سوئ پوښ وګرځا وه، خو کافران د دغو لو یو قدرتونو نښو نه مخ اړوي، یعنی د خپل لوی څښتن بنده کې په توحید سره نکړي او بتان ورسره په خدایې کې کډوي!

[٣٣] او الله هغه څوک دئ چې شپه او ورځ، لمر او سپوږمۍ یې پیدا کړل، او هغه ټول په خپل مدار کې لامبو وهي، یعنی ګرځي را ګرځي او د یوې خوا نه بلې خوا ته نه اوړي، او دا لوی لوی مخلوقات ټول د الله تعالی په لو یو قدرتونو او عظمت باندې دلالت کړي، نو ښایي چې کافران پکې ښه ژور فکر وکړي او ایمان راوړي او یوازې د الله بنده ګی او عبادت وکړي او حکمونه یې ومني او عمل پرې وکړي او بل هیڅ څوک د الله سره په خدایي کې ګډ نکړي!

{ټول خلک د مرګ خوند څکي او تل پاتې ژوندي نسته}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د ټولو خلکو حتمي مړ ینه او مرګ اعلان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّن قَبْلِكَ ٱلْخُلْدَ ۖ أَفَإِين مِّتَّ فَهُمُ ٱلْخَٰلِدُونَ ﴿٣٤﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ۗ وَنَبْلُوكُم بِٱلشَّرِّ وَٱلْخَيْرِ فِتْنَةً ۖ وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ﴿٣٥﴾﴾

[٣٤] ای پیغمبره! او د ستا نه مخکې هیڅ انسان مونږ تل پاتې ندئ ګرځولئ، نو آیا کله چې ته مړ سي، نو کافران به ژوندي پاتې سي؟ [ځواب: نا! ځکه هیڅ کله دوی د ستا نه وروسته تل ژوندي نه پاتې کیږي] یعنی ټول ژوندي مخلوقات هرومرو مري او لمنځه ځي.

[٣٥] هو! هر نفس [یعنی هر ژوندئ ساه ښکونکئ مخلوق] مرګ څکي او مري او تاسې ای خلکو! مونږ [د دنیا په ژوند کې] په ښو او بدو او په کفر او ایمان سره ازمایو او بیا تاسې مونږ ته را ګرځول کیږي، یعنی دا چې بیا هر څوک د خپل عمل او خپلو کړنو حساب ورکوي او مومنان به بیا جنت ته ځي او کافران د دوزخ په اور کې کړول کیږي.

قدرمنو دوستانو! د اسلام ﷺ پیغمبر مړ سه، لکه څنګه چې د هغه نه مخکې پیغمبران مړه سول، ځکه هیڅ څوک الله تعالی د تل لپاره ژوندی نه پر یږدي، بلکې ټول ژوندي خلک مرګ څکي.

{څوک چې د رسول الله ﷺ سپکا وئ کړي کلکه سزا به ګالي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د کافرانو ناپوهي او جهالت د رسول الله ﷺ سره په دښمنۍ کې؛ کلک غندلئ دئ، او دوی یې د خپل بد عمل په سزا باندې ګواښلي دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَإِذَا رَءَاكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا ٱلَّذِى يَذْكُرُ ءَالِهَتَكُمْ وَهُم بِذِكْرِ ٱلرَّحْمَٰنِ هُمْ كَٰفِرُونَ ﴿٣٦﴾ خُلِقَ ٱلْإِنسَٰنُ مِنْ عَجَلٍ ۚ سَأُو۟رِيكُمْ ءَايَٰتِى فَلَا تَسْتَعْجِلُونِ ﴿٣٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣٨﴾ لَوْ يَعْلَمُ ٱلَّذِينَ

كَفَرُواْ حِينَ لَا يَكُفُّونَ عَن وُجُوهِهِمُ ٱلنَّارَ وَلَا عَن ظُهُورِهِمۡ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ٣٩ بَلۡ تَأۡتِيهِم بَغۡتَةٗ فَتَبۡهَتُهُمۡ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ رَدَّهَا وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ٤٠ وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُواْ مِنۡهُم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٤١

[٣٦] ای پیغمبره! او کله چې تا کافران وو یې، نو د ستا سپکاوئ کړي، او یو بل ته وایي: آیا همدا هغه څوک دئ چې د ستاسې خدایان (بتان) سپک یادوي؟ او دا کافران د الرحمن رب الله توحید او یو والي نه منکر دي او بتان د الله سره په عبادت کې شر یکوي، یعنی د الله غوندې العیاذ بالله د بتانو عبادت او بنده کې کړي او خپل حاجتونه ورڅخه غواړي.

[٣٧] هو! انسان بیړنئ او تلوار کړونکئ پیدا سوئ دئ، او تاسې ای خلکو! مه ورخطا کیږي او تلوار مکړئ او زه به د خپلو قدرتونو ننې تاسې ته دروښیم!

[٣٨] او کافران وایي: [ای محمده! که ته او د ستا ملګري] د ر ښتیا و یونکي یاستئ؟ نو دا وعدې به کله تر سره کیږي؟ یعنی دا چې کله به د الله عذاب پر کافرانو باندې را کوز یږي؟

ګرانو عز یزانو! د مکې کافران د الله تعالی سزا غوښتونکې سول؟ نو بیا ورسره وعده وسوه چې دا عذاب دوی ته را تلونکئ دئ، خو د انسان مزاج او خوی عجله او تلوار دئ، نو بیا دغو کافرانو وو یل: دا وعده سوئ عذاب ده ژر دوی ته راسي، او دا هغه غوښتنه ده چې د دوی نه پخوا سرکښو ولسونو هم د خپلو پیغمبرانو نه وکړه او بیا هغوی ته عذاب ډیر ژر راغئ او ټول کلک تباه او هلاک سول.

[٣٩] هو! که دا کافران پدې پوه سي چې کله دوی ته عذاب د هرې خوا نه راسي، نو بیا به دوی د جهم اور لمبې د خپلو مخونو نه لرې کولای نسي او نه یې د خپلو شاوونه لرې کولای سې او نه به څوک ورسره مرسته کړي، نو بیا به هیڅکله دوی په خپل کفر باندې ټینګار ونکړي!

[٤٠] بلکې کافرانو ته عذاب ناڅاپه راځي، نو بیا به دوی حیران وي چې

څه وکړي؟ ځکه د مخنيوي وسعه يې نلري او نه دوی نور زنډول کيږي، يعنی د توبې و يستلو وخت نور تير دئ، ځکه هغه يوازې په دنيا کې دئ!

[٤١] ای پيغمبره! [ته مه خفه کيږه،ځکه] د ستا نه مخکې پيغمبرانو سپکاوئ هم وسه [يعنی د هغوی ولسونو د دوی خبرې دروغ وګڼلې او د دوی پيغمبري يې ونه منله] نو بيا پر هغو کسانو باندې چې د پيغمبرانو سپکاوئ يې کړئ وه؛ هغه سزا او عذاب را ګرد سه چې دوی د هغه سپکاوئ کا وه او هغه يې دروغ باله.

عزتمنو دوستانو! دا دئ هغو کافرانو ته د الله تعالی تل پاتې روښانه او پر يکنده ګواښ چې دوی په خپل کفر باندې کلک ولاړ دي، او تو به نه باسي او الله ته نه ورګرځي او رجوع نکړي او ايمان نه راوري او د الله تعالی يقيني کلک عذاب او سزا نه نه و ير يږي!

{د کافرانو سپکو خبرو نه پيغمبر ته الله ډاډ ورکړئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې د اسلام ستر پيغمبرﷺ ته الله تعالی د کافرانو سپکاوي پر وړاندې تسليت او ډاډ ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿قُلۡ مَن يَكۡلَؤُكُم بِٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ مِنَ ٱلرَّحۡمَٰنِۚ بَلۡ هُمۡ عَن ذِكۡرِ رَبِّهِم مُّعۡرِضُونَ ٤٢ أَمۡ لَهُمۡ ءَالِهَةٞ تَمۡنَعُهُم مِّن دُونِنَاۚ لَا يَسۡتَطِيعُونَ نَصۡرَ أَنفُسِهِمۡ وَلَا هُم مِّنَّا يُصۡحَبُونَ ٤٣ بَلۡ مَتَّعۡنَا هَٰٓؤُلَآءِ وَءَابَآءَهُمۡ حَتَّىٰ طَالَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡعُمُرُۗ أَفَلَا يَرَوۡنَ أَنَّا نَأۡتِي ٱلۡأَرۡضَ نَنقُصُهَا مِنۡ أَطۡرَافِهَآۚ أَفَهُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ٤٤ قُلۡ إِنَّمَآ أُنذِرُكُم بِٱلۡوَحۡيِۚ وَلَا يَسۡمَعُ ٱلصُّمُّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا مَا يُنذَرُونَ ٤٥ وَلَئِن مَّسَّتۡهُمۡ نَفۡحَةٞ مِّنۡ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُولُنَّ يَٰوَيۡلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ٤٦ وَنَضَعُ ٱلۡمَوَٰزِينَ ٱلۡقِسۡطَ لِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَلَا تُظۡلَمُ نَفۡسٞ شَيۡـٔٗاۖ وَإِن كَانَ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ مِّنۡ خَرۡدَلٍ أَتَيۡنَا بِهَاۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ ٤٧﴾

[٤٢] ای پيغمبره! [او ته د خپل قوم کافرانو ته] ووايه: څوک به تاسې

شپه او ورځ د الرحمن رب سـزا نه وسـاتي؟ بلکې کافران په حقیقت کې د خپل ر ب یاد نه اوښـتي دي، یعنی الله یې په یاد ندئ او پروایې نکړي او د الله نه ورته راغلئ ور یادونکئ کتاب نه لولي.

[٤٣] او یا دا چې آیا دغه کافران داسـې خدایان لري چې دوی به د زمونږ نه وسـاتي [یعنی د الله سـزا نه بې وژغوري؟ ځواب: نا ! داسـې نده، هیڅ څوک کافران د الله سـزا نه ساتلای نسي] او د کافرانو خدایان چې د خپلو ځانو مرسته کړای نسي، نو څنګه به دوی د الله سزا نه وساتي؟ او نه بل څوک کافران د زمونږ سزا نه ساتلای سي، یعنی دا چې دغو کافرانو ته به لکه د پخوانیو پیغمبرانو امتونه؛ کلکه سـزا ورکړه سـي او دوی به لمنځه لاړ سي او هلاك او تباه به سي!

هو؛ ګرانو دوسـتانو! او بیا همداسـې سـوه او د مکې هغو کافرانو چې ایمان را نوړ؛ ټول هلاك سول او لمنځه لاړل.

[٤٤] بلکې مونږ دغو کافرانو ته او د دوی پلرونو ته د دنیا نعمتونو نه د خوند اخستلو ښه فرصتونه ورکړل او عمرونه یې ډیر اوږده سول [یعنی دوی یې ښـه وغلول] نو آیا دوی نه و یني چې مونږ ځمکه د هري خوا نه را لنډوو؟ [یعنی فتحه او بر یا همداسـې را تلونکې ده] نو آیا د دغو کافرانو زور به په الله باندې ورسیږي او د سزا نه بې خلاص سي؟ ځواب: نا ! یعنی دوی نجات نه مومي او په الله باندې یې زور نه رسیږي!

[٤٥] ای پیغمبره! [کافرانو ته] ووایه: زه پر هغه وحیه چې ما ته راغلي ده؛ تاسـې د الله سـزا نه و یروم [یعنی زه د خپل ځان نه څه نه وایم] خو کاڼه چې کله ګواښـل کیږي [لکه دغه کافران] نو دوی بلنه نه اوري، یعنی ایمان نه راوړي او تو به نه باسي.

[٤٦] او ای پیغمبره! که د سـتا رب الله عذاب تپ په کافرانو باندې ولږ یږي، نو بیا به په کلکه سـره وایي چې مونږ ده هلاك سـو، ځکه یقینا چې مونږ ظالمان وو، یعنی د الله تعالی بنده ګی نه مونږ سـرغړونه کړې وه او حق ته نوو تسلیم سوي!

[٤٧] او د قیامت په ورځ مونږ د عدالت تلې ږدو او پر هیڅ چا باندې

ظلم نکيږي او د يوه بڅرکي يا مثقال په اندازه ښـــه کړل که د چا وي هغه راوړو، او هر چا سره مونږ د حساب کړو لپاره بس يو، يعنی الله تعالی هر چا ته د هغه خپل ثواب او سزا ورکوي.

درندو وروڼو او خو يندو! الله تعالی پدې مبارکو آيتونو کې رسول الله ﷺ ته د تسلی په څنګ کې هغه ته د خپل قوم کافرانو سره د اوږده بحث او د تودو خبرو او مرکو لارښـــودنه هم کړی ده، او همدارنګه الله تعالی خپل لوی قدرتونه کافرانو ته په ســزا ورکولو ســره؛ بيان کړي او ښــودلي دي، نو ښايي چې د الله دين ته هر را بلونکئ مبلغ او واعظ دا د ګواښـونو بيانولو لار چې هغه حق ده؛ خپل شــعار وګرځوي او په هغې ســره خلک الله باندې ايمان راوړو ته او بيا د الله په حکمونو باندې عمل کړو ته کلک را و بولي، ځکه دا تک لاره د حق او باطل په منځ کې د الله نه راغلې تل پاتې پخه تک لاره ده، او د هغې نه پرته نورې ټولې لارې د بشــر مغزونو نه راوتلې ناقصې تک لارې دي او يوه بلې پسې د ناسـوبۍ نه پرته بله پايله نلري، او ژوندئ مثال او بيلګه يې په اوســني عصــر کې هغه خورې ورې جګړې دي چې په اســلامي نړۍ کې د غربي ښــکيلاک پيل نه په اتلســمه ميلادي پيړۍ کې پيل ســوې دي او تر اوســه د دوه و يشــتمې پيړۍ لمړ يو لسيزو پورې همداسې هرې خوا خورې دي، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده نور دا توره شــپه د ډيرو اســلامي هيوادونو د ســر نه په خپل فضــل او رحمت ســره لرې کړي او صــلحه او امنيت ده را ولي، لکه څنګه چې الله تعالی خپله دغســې پيرزو ينه په افغان مجاهد او مظلوم ولس باندې دوه ځله وکړه، لمړئ ځل د ړنګې ســوې شــوروي اتحاد ښــکيلاک نه په ۱۹۸۹کال ازادۍ ســره، او بيا دو يم ځل دا دئ الحمد لله افغانســتان د امر يکا او ناتو ښــکيلاک نه د ۱۴۰۰هـ ش کال وړې يا ســنبلې برج په ۱۵ تار يخ چې د ۲۰۲۱ آګســت ۹ ســره ســمون خوري ازاد ســه، او خپلواک اسلامي حکومت يې د طالبانو اسلامي امارت په مشرۍ په برخه سه، نو الله تعالی ده دغه نوې ازادي همداسې تل پاتې وګرځوي او افغانانو ته ده اللــه تعــالی توفيق ورکړي چې خپــل منځي ورور ولي او وحــدت و پــالي، او پخواني او اوسني مخلص مجاهدين دا ازادي په شکر و يستلو سره د الله

په مرسته وساتي.

{موسی ته الله فرقآن (تورات) ورکه او محمد ﷺ ته يې قرآن}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی همداسې رسول الله ﷺ ته د ډاډ او اطمئنان لپاره د پخوانيو پيغمبرانو قصې لنډې لنډې يادې کړې دي او په پيل کې يې د تورات رانازليدل پر موسی عليه السلام باندې ياد کړي دي چې هغه بني اسرائيلو ته د قرآن غوندې لارښود کتاب ؤ، او په بيان کې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ٱلْفُرْقَانَ وَضِيَآءً وَذِكْرًا لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِٱلْغَيْبِ وَهُم مِّنَ ٱلسَّاعَةِ مُشْفِقُونَ ﴿٤٩﴾ وَهَٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ أَنزَلْنَٰهُ أَفَأَنتُمْ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٥٠﴾﴾

[٤٨-٤٩] او موسی او هارون ته مونږ په يقين سره فرقان (تورات) ورکه [يعنی دا چې هغه حق د باطل نه بيلا ؤ] او متقيانو ته رنا او ښه ور يادونکئ کتاب ؤ، يعنی دوی ته پر سمه لار باندې د تګ لارښود ؤ او د الله سزا نه يې دوی و يرول، او متقيان هغه کسان دي چې په پټه سره د خپل رب الله سزا نه و ير يږي او هم د قيامت ورځې حساب او لوی عذاب نه کلک و ير يدونکي دي.

[٥٠] او ای کافرانو! دا کتاب (قرآن) چې [هغه مونږ پر خپل پيغمبر محمد ﷺ باندې را نازل کړئ دئ] يؤ مبارک کتاب دئ، نو آيا تاسې د هغه نه منکر ياستی؟ يعنی هغه نه منی او ايمان نه راوړي؟ حال دا چې قرآن، لکه تورات د الله نه په حق او ر ښتيا سره راغلئ لارښود مبارک کتاب دئ، نو ښايي چې پر هغه باندې ايمان راوړی او هغه ومنی او په حکمونو يې عمل وکړی او د خپل ژوند ټولې چارې ور باندې سمبال کړی!

{ابرهيم ته الله هوښياري ورکړې وه نو بتان يې نه خوښيدل}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د ابراهيم عليه السلام هوښياري او د هغه کرکه د بتانو عبادت نه په ستاينې سره يادې کړې ده او د ابراهيم

اوږده مرکه يې د خپل پلار(آزر) او د قوم سره چې دوی بتانو ته د بنده کې زاری په عبادت کې کړه؛ بیان کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿*وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَآ إِبۡرَٰهِيمَ رُشۡدَهُۥ مِن قَبۡلُ وَكُنَّا بِهِۦ عَٰلِمِينَ ٥١ إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦ مَا هَٰذِهِ ٱلتَّمَاثِيلُ ٱلَّتِيٓ أَنتُمۡ لَهَا عَٰكِفُونَ ٥٢ قَالُواْ وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا لَهَا عَٰبِدِينَ ٥٣ قَالَ لَقَدۡ كُنتُمۡ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُمۡ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٥٤ قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا بِٱلۡحَقِّ أَمۡ أَنتَ مِنَ ٱللَّٰعِبِينَ ٥٥ قَالَ بَل رَّبُّكُمۡ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلَّذِي فَطَرَهُنَّ وَأَنَا۠ عَلَىٰ ذَٰلِكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ٥٦ وَتَٱللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصۡنَٰمَكُم بَعۡدَ أَن تُوَلُّواْ مُدۡبِرِينَ ٥٧ فَجَعَلَهُمۡ جُذَٰذًا إِلَّا كَبِيرٗا لَّهُمۡ لَعَلَّهُمۡ إِلَيۡهِ يَرۡجِعُونَ ٥٨ قَالُواْ مَن فَعَلَ هَٰذَا بِـَٔالِهَتِنَآ إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٥٩ قَالُواْ سَمِعۡنَا فَتٗى يَذۡكُرُهُمۡ يُقَالُ لَهُۥٓ إِبۡرَٰهِيمُ ٦٠ قَالُواْ فَأۡتُواْ بِهِۦ عَلَىٰٓ أَعۡيُنِ ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡهَدُونَ ٦١ قَالُوٓاْ ءَأَنتَ فَعَلۡتَ هَٰذَا بِـَٔالِهَتِنَا يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ ٦٢ قَالَ بَلۡ فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمۡ هَٰذَا فَسۡـَٔلُوهُمۡ إِن كَانُواْ يَنطِقُونَ ٦٣ فَرَجَعُوٓاْ إِلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ فَقَالُوٓاْ إِنَّكُمۡ أَنتُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٦٤ ثُمَّ نُكِسُواْ عَلَىٰ رُءُوسِهِمۡ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَا هَٰٓؤُلَآءِ يَنطِقُونَ ٦٥ قَالَ أَفَتَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَا يَضُرُّكُمۡ ٦٦ أُفّٖ لَّكُمۡ وَلِمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٦٧﴾

[٥١] او یقینا چې [د موسی نه ورلاندې] ابراهیم ته مونږ د هغه هوښیاري ورکړه او دئ مونږ پیژاند چې د دې پیرزو ینې لائق ؤ، یعنی دا چې کولای سول د الله نه ورته سپارل سوئ پیغام خپل قوم ته ورسوي او د الله تعالی توحیدي عبادت ته خلک راو بولي!

[٥٢] هو! [ای پیغمبره هغه وخت راپه یاد کړه] کله چې ابراهیم خپل پلار او قوم ته وو یل: دا بتان (مجسمې) څه شئ دي چې تاسې يې عبادت ته پراته یاستی او بنده کې يې کړی؟ یعنې د ستاسې دا کار لیونتوب دئ!

[٥٣] د ابراهيم تر برونو په ځواب کې ورته وو يل: مونږ خپل پلرونه دغو بتانو ته په عبادت کړو کې بياموندل، يعنی د بتانو عبادت مونږ ته د پلرونو نه را پاتې ميراث دئ! هو؛ دا بتان چې د ابراهيم عليه السلام قوم يې عبادت کا ؤ؛ هغه د نوح عليه السلام قوم صالحانو ځيرونه جوړ سوي ول او دوی ته په ميراث پاتې ول.

[٥٤] [نو بيا ابراهيم عليه السلام دوی ته] وو يل: يقينا چې تاسې او د ستاسې پلرونه د سمې لارې نه ښکاره ورک سوي ول!

[٥٥] [نو بيايې قوم د ابراهيم نه و پوښتل] او و يو يل: آيا ته ای ابراهيمه! د حق پيغام سره مونږ ته راغلئ يې او که ټوکې کړې؟

[٥٦] ابراهيم [په ځواب کې ورته] وو يل: بلکې د ستاسې رب الله د ځمکې او اسمانونو رب او لوی څښتن دئ، او هغه ټول الله پيدا کړي دي او زه ور باندې تاسې ته د شاهدانو نه يم.

[٥٧] او قسم پر خدای دئ! کله چې تاسې وروسته د بتانو نه بيرته را وګرځيدلی [يعنی کله چې تاسې ورځخه لاړی] نو بيا به زه د ستاسې بتانو چاره وکړم، يعنی دا بتان به مات او ټوټه ټوټه کړم!

[٥٨] نو بيا ابراهيم بتان مات او ټوټه کړل او يوازې غټ بوت يې پر يښود، ځکه کيدای سي چې قوم يې بيرته بتانو ته را وګرځي، يعنی نو بيا به د بتانو بې وسعي او کمزوري ورته ثابته سي.

[٥٩] [نو بيا چې کله د ابراهيم قوم بيرته خپلو بتانو ته را وګرځيدل او بتان يې هرې خوا کواړی کواړې پراته مات سوي وليدل] و يو يل: دا کار د زمونږ خدايانو سره چا کړئ دئ؟ او يقينا هر چا چې دا کار کړئ دئ؛ هغه د تيرئ کونکو ظالمانو نه دئ، يعنی دا ځکه چې د دوی خديان يې سپک کړي مات کړي دي!

[٦٠] [نو بيا هغو کسانو چې د ابراهيم عليه السلام کوانښ اور يدلئ ؤ] وو يل: د يوه زلمکي نه چې ورته ابراهيم وايې مونږ واور يدل چې دئ دغه بتان يادوي! يعنی د ماتولو کوانښونه يې کړل، نو دا به هغه مات کړي وي!

[٦١] [نو بيايې مشرانو وو يل: نو دا کس د خلکو مخې ته راولی، ځکه

کیدای سي چې دوی پر هغه شاهدي ووایي.

[٦٢-٦٣] [نو بیا چې کله ابراهیم عليه السلام دوی راوسـت] و یو یـل: ای ابراهیمه! آیا دا کار زمونږ خدایانو سره تا کړئ دئ؟ ابراهیم په ځواب کې ورته وو یل: بلکې هغه د دوی غټ بوت کړئ دئ! نو که دوی خبرې کړي، نو ورڅخه و پوښتئ چې څه وایي؟

[٦٤-٦٥] [نو بیا چې کله دوی بې ځوابه سـول] خپلو ځانو سـره یې یو بل ته وو یل: یقینا چې تاسې ظالمان یاستئ، او بیایې سرونه زوند سول او ابراهیم ته یې وو یل: ته خو پوهیږې چې دا بتان خبرې نکړي!

[٦٦-٦٧] ابراهیم ورته وو یل: نو آیا تاسـې د الله نه پرته د هغه څه بنده کې کړئ چې تاسې ته هیڅ ګټه او تاوان رسـولای نسي، نو د سـتاسـې پر حال او د سـتاسـې دغو ناحقه خدایانو پر حال ده؛ آه او افسـوس وي چې تاسـې د الله نه پرته د دغسـې بتانو عبادت او بنده کې کړئ، نو آیا تاسـې نه پوهیږئ؟ یعنی دا بتان خوسـې د تیکو او لوټو نه جوړ سـوي کالبتونه دي، نو څنګه تاسـې د بتانو بنده کې کړئ؟ او د الله تعالی بنده کې چې هغه د ستاسې خالق دئ پر یږدئ؟ او یقینا چې دا لو یه ناپوهي ده.

{الله تعالی پر ابراهیم عليه السلام باندې د اورسرې لمبې سړې کړې}

هو! کله چې د ابراهیم عليه السلام قوم بت پرسـت مشـرك مشـران د ابراهیم سـره په مناظره کې مات سـول، نو پر خپلو لنډغرویې غږ وکه چې ابراهیم په اور کې وسـوزئ او د خپلو خدایانو مرسته وکړي، او د دوی دا کبرجن تار یخي در یځ مونږ ته الله پدې لاندې آیتونوکې یاد کړئ، او فرمایلي دي:

﴿قَالُواْ حَرِّقُوهُ وَٱنصُرُوٓاْ ءَالِهَتَكُمۡ إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ ٦٨ قُلۡنَا يَٰنَارُ كُونِي بَرۡدٗا وَسَلَٰمًا عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ ٦٩ وَأَرَادُواْ بِهِۦ كَيۡدٗا فَجَعَلۡنَٰهُمُ ٱلۡأَخۡسَرِينَ ٧٠ وَنَجَّيۡنَٰهُ وَلُوطًا إِلَى ٱلۡأَرۡضِ ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَا لِلۡعَٰلَمِينَ ٧١ وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ نَافِلَةٗۖ وَكُلّٗا جَعَلۡنَا صَٰلِحِينَ ٧٢ وَجَعَلۡنَٰهُمۡ أَئِمَّةٗ يَهۡدُونَ بِأَمۡرِنَا وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡهِمۡ فِعۡلَ ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَإِقَامَ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءَ

ٱلزَّكَوٰةِ ۖ وَكَانُوا۟ لَنَا عَٰبِدِينَ ﴿٧٣﴾ وَلُوطًا ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًا وَنَجَّيْنَٰهُ مِنَ ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِى كَانَت تَّعْمَلُ ٱلْخَبَٰٓئِثَ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمَ سَوْءٍ فَٰسِقِينَ ﴿٧٤﴾ وَأَدْخَلْنَٰهُ فِى رَحْمَتِنَآ ۖ إِنَّهُۥ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٧٥﴾

[٦٨] [هو! د ابراهيم عليه السلام قوم مشرکانو مشرانو استدلال د بتانو په عبادت کې چې کله باطل ثابت سه او حق خلکو ته ښکاره سه، نو بيا دوی زورواکی ته لاس واچا وه او خپلو لنډغرو ته يې] و يو يل: که تاسي د خپلو خدايانو مرستندوی ياستی؟ نو ابراهيم په اور کې وسوزوی او د خپلو خدايانو مرسته وکړی، يعني د ابراهيم عليه السلام قوم کبرجنو مشرکو مشرانو حکم وکه چې د الله تعالی استازئ ابراهيم عليه السلام ده د دوی په نامه خدايانو نه په دفاع کې په اور کې وکړول سي او کلکه سزا ده ورکړه سي.

[٦٩] [او بياچې کله ابراهيم عليه السلام دوی په اور کې واچا وه نو] مونږ اور ته وو يل: ای اوره! پر ابراهيم باندې سوړ سه او د سوز يدلو نه يې سلامت او روغ رمټ وساته!

[٧٠] [هو! د ابراهيم قوم کافرانو] د هغه سوزولو او وژلو توطئيه جوړه کړه، نو بيا دوی مونږ ښه ډير ز يانمن کړل، يعنی مختورن پاتې سول او خپل شوم مقصد ته ونه رسيدل.

[٧١] او ابراهيم او لوط ته مونږ د دوی د قوم نه هغې خاورې ته په را و يستلو سره نجات ورکه چې په هغه خاوره کې مونږ ټولو خلکو ته برکت اچولئ دئ، يعنی ابراهيم او لوط عليهما السلام الله تعالی د عراق نه بيت المقدس ته په فلسطين کې را وايستل.

[٧٢-٧٣] [او لدې پاسه] ابراهيم ته مونږ د هغه زوی اسحاق و بابنه او بيا هغه پسې مونږ يعقوب (د اسحاق زوی) ور ز يات که، او دوی ټول مونږ صالحان (نيکان) وګرځول او خلکو ته دوی مونږ مشران غوره کړل، ترڅو دوی خلک د زمونږ په حکم سمې لارې ته را و بولي، او مونږ دوی ته وحيه وکړه چې ښه وکړی او لمونځ ودروی او زکات ورکړی، او دوی ټول د زمونږ فرمان ورونکي ول، يعنی يوازې د زمونږ بنده ګي يې کړه.

[٧٤-٧٥] او لوط ته مونږ پوهه او علم او د خلکو په منځ کې حکم کړل ورکړل، او دئ مونږ د هغه کليوالو د شر نه را وايست او ورځخه مو وساته، ځکه د هغه کلي اوسيدونکي په چټلو کړنو کې ککړ ول او ډير بد خلک ول او د الله اطاعت نه وتلي فاسقان ول، هو! لوط مونږ د خپل رحمت لاندې راننه و يست، ځکه دئ يقينا د ښو خلکو نه ؤ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالى پدې مبارکو آيتونو کې د إبراهيم عليه السلام د پيغمبري قصه کړي ده چې هغه خپل بت پرست مشرك قوم يوازې د الله بنده کې او عبادت ته را و باله، او کله چې حق بيا ښه ځلانده را ښکاره سه، نو د ابراهيم عليه السلام قوم مشرانو زوروالې ته مخه کړه او د ابراهيم عليه السلام سوزولو ته يې په اور کې ملا وترله، خو بيا الله تعالى اور پر ابراهيم باندې سور که او دئ الله تعالى ورځخه وساته او دښمنان يې مختورن کړل، او بيا الله تعالى د ابراهيم سره لوط عليهما السلام چې د ابراهيم عليه السلام تر بور ؤ؛ د خپل قوم ظلم نه په عراق کې اوسني فلسطين ته په بيت المقدس کې راوايستل او نجات يې ورکه، او بيا الله تعالى ابراهيم او د هغه زامن خلکو ته لارښودان او امامان وګرځول او دوی يې ښو کړنو ته راو بلل، نو يقينا چې دا قصه حق ته رابلونکو دعاتو لپاره ډيره لو يه زده کړه او ښه غټ ځلاند ز يرئ دئ، ځکه الله تعالى تل خپل مومن او صالح بنده ګان بر يا او سرلوړې ته رسوي او عزت او واکمني يې په برخه کوي.

{نوح عليه السلام او کورنۍ يې ډير پخوا الله د کړاوونو نه خلاص کړل}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د نوح عليه السلام او بيا د داوود او سليمان عليهما السلام يادونه کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَنُوحًا إِذْ نَادَىٰ مِن قَبْلُ فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ فَنَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥ مِنَ ٱلْكَرْبِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٧٦﴾ وَنَصَرْنَٰهُ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمَ سَوْءٍ فَأَغْرَقْنَٰهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٧٧﴾ وَدَاوُۥدَ وَسُلَيْمَٰنَ إِذْ يَحْكُمَانِ فِى ٱلْحَرْثِ إِذْ نَفَشَتْ فِيهِ غَنَمُ ٱلْقَوْمِ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شَٰهِدِينَ ﴿٧٨﴾ فَفَهَّمْنَٰهَا سُلَيْمَٰنَ ۚ وَكُلًّا ءَاتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُۥدَ

ٱلْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَٱلطَّيْرَ ۚ وَكُنَّا فَٰعِلِينَ ﴿٧٩﴾ وَعَلَّمْنَٰهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ
لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّنۢ بَأْسِكُمْ ۖ فَهَلْ أَنتُمْ شَٰكِرُونَ ﴿٨٠﴾ وَلِسُلَيْمَٰنَ ٱلرِّيحَ
عَاصِفَةً تَجْرِى بِأَمْرِهِۦٓ إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلَّتِى بَٰرَكْنَا فِيهَا ۚ وَكُنَّا بِكُلِّ شَىْءٍ
عَٰلِمِينَ ﴿٨١﴾ وَمِنَ ٱلشَّيَٰطِينِ مَن يَغُوصُونَ لَهُۥ وَيَعْمَلُونَ عَمَلًا دُونَ
ذَٰلِكَ ۖ وَكُنَّا لَهُمْ حَٰفِظِينَ ﴿٨٢﴾

[٧٦-٧٧] [ای پیغمبره! او نوح چې د ټولو پیغمبرانو نه مخکې تیر سوئ دئ را په یاد کړه] کله چې هغه د الله نه مرسته وغوښتله، نو بیا مونږ د هغه دعاء قبوله کړه او دئ او د هغه کورنۍ مونږ د لوی کړاو او سختۍ نه خلاصه کړل او د هغو خلکو پر وړاندې مونږ د نوح مرسته وکړه چې هغوی د زمونږ قدرتونو نښې دروغ و بلل، او یقینا چې د نوح قوم ډیر بد خلک ول، نو بیا دوی ټول مونږ د او بو په لوی طوفان کې لاهو او ډوب کړل، یعنی ټول هلاك او تباه سول او د لوی طوفان څپانده او بو له منځه یوړل او پکې غرق سول.

[٧٨] [هو؛ ای پیغمبره! او داوود او زوي سلیمان علیهما السلام را په یاد کړه] کله چې دوی د هغه کښت په باره کې [چې د کوچیانو] رمه پکې خوره سوې وه او کښت یې خوړلئ ؤ؛ دوی حکم او پر یکړه وکړه او مونږ د دوی پر پر یکړې شاهدان وو.

[٧٩-٨٠] نو بیا سلیمان مونږ ښه پوه که [یعنی په پوره عدالت سره یې د هغوی پر منځ کې پر یکړه وکړه] او دوی دواړو ته مونږ علم او واکمني ورکړی ؤ، او داوود ته مونږ غرونه تابع کړي ول، او د داوود سره به غرونو یوځای تسبیح و یلې، او مرغان هم مونږ داوود ته تابع کړي ول [یعنی مرغانو به هم تسبیحات و یل] او دا ټول د زمونږ کار ؤ، او داوود ته مونږ د زغرو جامو جوړول ورښودلي ول، ترڅو هغه تاسې ای خلکو! د دښمن تورونو نه وساتي، نو آیا تاسې! د الله د دې لوی نعمت مننه کړې ده؟ یعنی هغه لوی نعمت چې د داوود په لاس د ستاسې په برخه سوئ دئ؛ ښایي تاسې ای خلکو! پرې د الله مننه وکړئ او ایمان راوړئ او شکر و باسئ!

[٨١] او سـليمان ته [چې د داوود زوی ؤ] مونږ الوتونکئ شـمال ایل کړئ او مسـخر کړئ ؤ، او د سـلیمان په امر به دا شـمال یا باد پر هغه خـاوره لګیـده چې پـه هغـه کې مونږ برکـت اچولئ ؤ [یعنی دا بـه پر بیـت المقدس باندې لږ یده او پکې به چلیده] او مونږ په هر څه علم لرو او پرې پوهیږو او ورڅخه خبر یو.

[٨٢] او د شـیطانانو(پیریانو) نه [چې دوی مونږ سـلیمان ته ایل کړي ول او د هغه حکم لاندې مو کړځولي ول] داسـې څوک ؤ چې د سـلیمان هغو حکمونو چلولو لپـاره یې غوټې وهلې چې نور خلـک بـه ورڅخـه بې وسـعې او عاجز ول، او دوی به نور اسـانه کارونه هم کړل او مونږ د دوی سـاتونکي وو، یعنی دوی مونږ څـارل، ترڅو ورانئ ونکړي او د اللـه پر حکمونو تیرئ ونکړي.

{ایوب عليه السلام چې ناروغ ؤ الله روغ که او رحمت یې پرې پیرزو که}

او بیا په ور پسـې مبارکو آیتونوکې اللـه تعـالی د ایوب عليه السلام د نـاروغۍ قصه لنډه یاده کړې ده، او په بیان کې یې فرمایلي دي:

﴿*وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَسَّنِىَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٨٣﴾ فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ فَكَشَفْنَا مَا بِهِۦ مِن ضُرٍّ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ أَهْلَهُۥ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَذِكْرَىٰ لِلْعَٰبِدِينَ ﴿٨٤﴾﴾

[٨٣] [ای پیغمبره!] او ایوب را په یاد کړه، کله چې هغه پر خپل رب الله باندې غږ وکه چې زه کلک ناروغ یم او ته یا الله! د ټولو رحمت کونکو نه ډیر رحمت کونکئ او لوی مهر بان ذات یې!

[٨٤] نو بیا د ایوب دعاء مونږ قبوله کړه او ایوب مونږ د هغې ناروغئ نـه روغ کـه چې ورتـه رسـیدلې وه، او ایوب تـه مونږ د خپلې پیرزو یې او رحمت نه د هغه کورنۍ غړو غوندې چې ورسـره ول؛ نور هم ورکړل، ترڅو د زمونږ دا ورکړه ټولو صبرناکو بنده ګانو ته یادښت او عبرت وګرځي.

قـدرمنو دوسـتانو! اللـه تعـالی لوی مهر بـان ذات دئ هیڅکلـه خپل مخلص او صـادق بنده ګان نه هیروي او رحمت یې پر دوی تل خور وي،

لکه ایوب عليه السلام چې ده کلکې ناروغۍ سره مخامخ سه، او بیا هغه کلک صبر وربانديې وکه، ترڅو چې الله تعالی روغ که او هر څه چې يې د خپل کهول او مال او دولت نه بايللي ول، ټول الله تعالی بيرته ورته ورکړل، نو ښـــايي چې مخلص بنده کان هيڅ کله د الله تعالی رحمت نه ناهيلې نسي.

{اسماعيل ادر يس او ذا الکفل د لوی صبر خاوندان ول}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د اسماعيل، ادر يس او د الياس يا ذا الکفل عليهم السلام يادونه کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِدۡرِيسَ وَذَا ٱلۡكِفۡلِۖ كُلّٞ مِّنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ٨٥ وَأَدۡخَلۡنَٰهُمۡ فِي رَحۡمَتِنَآۖ إِنَّهُم مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ٨٦﴾

[٨٥-٨٦] [ای پيغمبره!] او اســماعيل، ادر يس او ذا الکفل (الياس) راپه ياد کړه، او هغوی ټول د الله ډير صــبرناکه بنده کان ول، او مونږ دوی ټول د خپل رحمت لاندې راننه و يســتل، ځکه دوی په يقين ســره صالحان ول او د الله فرمان وړونکي ول.

{يونس عليه السلام ته الله د سمندر تورو تيارو نه نجات ورکه}

او په ور پســې مبارکو آيتونوکې د يونس عليه السلام لوی ازمايښــت الله تعالی مونږ ته ياد کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَذَا ٱلنُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَٰضِبٗا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقۡدِرَ عَلَيۡهِ فَنَادَىٰ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ أَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٨٧ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ وَنَجَّيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡغَمِّۚ وَكَذَٰلِكَ نُنجِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٨٨﴾

[٨٧] [ای پيغمبره!] او د ذالنون (يونس بن متی عليه السلام) قصــه را په يادە کړه، کله چې دئ [د خپل قوم نه چې د هغه دعوت يې ونه مانه] په ډيره غوصــه لاړه او ګمان يې وکه چې د زمونږ زور پر هغه باندې نه رســيږي [يعنی الله به دئ په بې صبرۍ نه را نيسي، نو بيا دئ الله د کب يا مايي په

خوله کې د غږ پیدو په سزا کلک وازمایه] نو بیا یونس په دغو تورو تیارو کې الله ته ناړې کړې او دعاء او زاري یې وکړه او و یو یل: ای ر به! د ستا نه پرته بل په ر یښتیا او حق سره معبود نسته، او ته ای لو یه ر به! د هر عیب نه پاک یې او زه د ظالمانو نه وم، یعنی د خپل قوم د زورونو او سرغړونو پر وړاندې بې صبر سوم، نو ته ای لو یه څښتنه! پر ما باندې ورحمیږه او د دغې تورې تیارې نه ما را و باسه او نجات را کړه.

[۸۸] نو بیا مونږ د یونس دعاء قبوله کړه او د لوی غم او سختۍ نه دئ مونږ خلاص که، او مومنانو ته مونږ همداسې نجات ورکوو، یعنی د سختیو نه دوی را باسو.

درندو دوستانو! د پخوانیو پیغمبرانو دا قصې ټولې د رسول الله ﷺ امت هغو لارو یانو ته چې د الله تعالی دین خلکو ته رسوي؛ د زدکړې او د تسلیت او ډاډ لوی لوی درسونه، او ښې زدکړې پیغامونه دي.

{د زکر یا دعاء قبوله سوه او الله د نبوت میراث خور زوی ورکه}

او بیا الله خپل لوی رحمت او پیرزو ینه پر زکر یا علیه السلام باندې یاده کړې ده چې دعاء یې قبوله سوه او میراث خور زوی الله ورکه، او فرمایلي دي:

﴿وَزَكَرِيَّآ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥ رَبِّ لَا تَذَرۡنِي فَرۡدٗا وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ٨٩ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ وَوَهَبۡنَا لَهُۥ يَحۡيَىٰ وَأَصۡلَحۡنَا لَهُۥ زَوۡجَهُۥٓۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَيَدۡعُونَنَا رَغَبٗا وَرَهَبٗاۖ وَكَانُواْ لَنَا خَٰشِعِينَ ٩٠﴾

[۸۹] [ای پیغمبره! د زکر یا قصه را په یاد کړه، کله چې هغه پر خپل رب الله باندې غږ وکه] او و یو یل: ای د زما ر به! ما یوازې مه پر یږده [یعنی داچې زوی را کړه، ترڅو د زما ځای ناستۍ میراث خور سي او دین ته خدمت وکړي] او ته ای ر به! د ښو وارثانو نه یې، یعنی نو د زما ځای په وارث باندې ډک کړه.

[٩٠] نو د زکر یا دعاء مونږ قبوله کړه او یحیی مونږ هغه ته و ښښه، او ښځه یې چې شنډه وه؛ هغه مونږ روغه کړه [یعنی شنډتوب یې لرې سه بلار به یا حامله سوه او زوی یې وز یږا وه] او دا مخکې تیر سوي پیغمبران په ښو کړنو کې د یو بل سره کلک په منډه ول او مونږ یې د ثواب په هیله او د سزا و یرې نه غوښتلو او دعاء یې کړه، او د زمونږ حکمونو ته یې په زاری سره غاړه ایښې ؤ.

{مر یم اوزوی یې عیسی علیه السلام مونږ خلکو ته معجزه وګرځول}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د مر یم او د هغې زوی عیسی علیه السلام د پیدایښت لنډه یادونه کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿وَٱلَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا وَجَعَلۡنَٰهَا وَٱبۡنَهَآ ءَايَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ٩١﴾

[٩١] [ای پیغمبره! د مر یم قصه راپه یاد کړه] او مر یم هغه پیغله ؤ چې دې خپل پټ وساته، نو بیا د هغې په نس کې مونږ د خپل روح نه ساه پوکړه [یعنی مر یم علیها السلام الله د خپل روح په پوکولو سره بلار به یا حامله کړه] او مر یم او د هغې زوی عیسی مونږ ټولو خلکو ته د خپلو قدرتونو ښودلو نښه او معجزه ورکړځول، یعنی دا ځکه چې عیسی علیه السلام الله د مر یم نه بې پلاره وز یږا ؤ، لکه څنګه چې آدم علیه السلام الله تعالی بې پلاره او بې مورې پیدا که.

{ پیغمبران ټول یو امت ول او یوازې د یوه رب عبادت یې کا وه }

هو! درندو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آیتونو کې مږنږ ته الله تعالی دا لوی حقیقت یاد کړئ دئ چې پیغمبرانو ټولو؛ یوازې د یوه رب الله عبادت ته خلک رابلل، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَأَنَا۠ رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُونِ ٩٢ وَتَقَطَّعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡۖ كُلٌّ إِلَيۡنَا رَٰجِعُونَ ٩٣ فَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَا كُفۡرَانَ لِسَعۡيِهِۦ وَإِنَّا لَهُۥ كَٰتِبُونَ

﴿٩٤﴾

[٩٢] [هو؛ ای خلکو! دا مخکې یاد ســوي پیغمبران] ټول یوامت ول [یعنی ټول یوه ډله ول او په یوه دین باندې ول او یوازې د الله عبادت او بنده کې ته تسلیم ول] او زه ای خلکو! د ستاسې پالونکئ رب یم، نو یوازې د زما عبادت وکړئ او د زما حکم ومنئ!

[٩٣] [خو د دغو پیغمبرانو امتونو بیا د یو بل نه اړ یکې سره] وشکولې او سره بیل سول [خو بیا دوی ټول بیرته] مونږ ته راګرځیدونکي دي، یعنی هر یو به خپل حساب د قیامت په ورځ ورکړي.

[٩٤] نو څوک چې ښــه وکړي او دئ مومن وي، نو د هغه منډې نه پټیږي او هغه مونږ لیکو، یعنی الله د هیڅ چا ښــه کړل نه هیروي او هر چا ته د هغه ښه عمل ثواب ورکوي.

ګرانو عز یزانو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونوکې ډیر پخواني پیغمبران مونږ ته یاد کړي دي چې دوی ټولو خپل امتونه د الله عبادت ته په توحید او یوالې سره رابللي دي او د شرك نه یې کلک ګواښلي دي، ځکه دوی ټول د الله تعالی اســتازي ول او د یوه دین او یوه ملت پلو یان ول او پیغام یې یؤ وه او د الله دا پیغام یې خپلو ولسونو ته په امانت سره و رسا وه، نو ښایي ټول خلک دا حقیقت ومني او یوازې د الله تعالی بنده کې وکړي او د هغه حکم ته تسلیم سي او د هر ډول شــرك نه ځانو نه په کلکه ســره وســاتي، ترڅو قیامت په ورځ ســپین مخي د الله تعالی په حضــور کې ودر یږي.

{کافران د مرګ نه وروسته بیرته دنیا ته نه راګرځول کیږي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د کافرانو بیرته را ګرځیدل دنیا ته د توبې و یستلو لپاره کلک رد کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَحَرَامٌ عَلَىٰ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا أَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿٩٥﴾ حَتَّىٰ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ ﴿٩٦﴾

وَٱقۡتَرَبَ ٱلۡوَعۡدُ ٱلۡحَقُّ فَإِذَا هِيَ شَٰخِصَةٌ أَبۡصَٰرُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَٰوَيۡلَنَا قَدۡ كُنَّا فِي غَفۡلَةٖ مِّنۡ هَٰذَا بَلۡ كُنَّا ظَٰلِمِينَ ٩٧ إِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنتُمۡ لَهَا وَٰرِدُونَ ٩٨ لَوۡ كَانَ هَٰٓؤُلَآءِ ءَالِهَةٗ مَّا وَرَدُوهَاۖ وَكُلّٞ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٩٩ لَهُمۡ فِيهَا زَفِيرٞ وَهُمۡ فِيهَا لَا يَسۡمَعُونَ ١٠٠

[٩٥] [او د هغو کليو خلک چې کافران ســول] او بيا دوی مونږ هلاک کړل، نو پر دوی باندې بيرته دنيا ته را ګرځيدل بيخي حرام دي، يعنی دوی ته بيا د توبې و يستلو فرصت نسته.

[٩٦-٩٧] ترڅو چې د ياجوج او ماجوج کلا بند ورونه بيرته سي او دوی د هرې لورې نه په منډو ســره را غورځيږي، او د حق وعده چې قيامت دئ را لنډه ســوه، نو بيا د کافرانو ســترګې رډې ختلې وي او چيغې وهي وايي: مونږ هلاک ســوو، مونږ خو د دغې ورځې د راتګ نه غافل او بې پروا وو، بلکې مونږ پر خپلو ځانو باندې ظلم کړئ ؤ، يعنی دا چې مونږ ايمان نه ؤ راوړئ، ترڅو ښاد سوي واى.

[٩٨] [نو بيا الله تعالى پر دغو کافرانو باندې غږ کړي او ورته وايي] هو؛ تاسې اى کافرانو! او ســتاسې د دروغو په نامه خدايان چې د الله نه پرته تاســې د هغوی عبادت کا ؤ؛ اوس تاســې ټول د دوزخ اور د ســوزولو لرګي او دوزخ ته ورتلونکي ياستى!

[٩٩-١٠٠] [اى کافرانو! که چيرې دا ناحقه خدايان] په ر ښتيا ســره خدايان واى، نو د دوزخ اور ته به نه ورننوتل؟ او دوی ټول به د تل لپاره په دوزخ کې کړ يږي او په دوزخ کې به د کلک درد نه زګيروي باســي [خو د يو بل زګيروي د عذاب غږمېار کلک غږه لکبله] نه اوري.

قدرمنو دوســتانو! پدې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د قيامت په ورځ د کافرانو کړ يــدونکي حال انځور مونږ تــه وړانــدې کړئ دئ، ترڅو ژونــدي کافران پکې ښــه ژور فکر وکړي او ايمان راوړي، او مومنان د غفلت خوب نه راو ښې سي او په مخلصا نه عبادت او بنده ګۍ ســره د الله خوښي لاس

ته راوړي او د عذاب نه ځانو نه کلک وساتي.

{مومنان چې الله ورته جنتونه ليکلي دي د دوزخ نه لرې دی}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې مومنانو ته الله تعالى ډاډ ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ سَبَقَتۡ لَهُم مِّنَّا ٱلۡحُسۡنَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ عَنۡهَا مُبۡعَدُونَ ١٠١ لَا يَسۡمَعُونَ حَسِيسَهَاۖ وَهُمۡ فِي مَا ٱشۡتَهَتۡ أَنفُسُهُمۡ خَٰلِدُونَ ١٠٢ لَا يَحۡزُنُهُمُ ٱلۡفَزَعُ ٱلۡأَكۡبَرُ وَتَتَلَقَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُۚ هَٰذَا يَوۡمُكُمُ ٱلَّذِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ١٠٣ يَوۡمَ نَطۡوِي ٱلسَّمَآءَ كَطَيِّ ٱلسِّجِلِّ لِلۡكُتُبِۚ كَمَا بَدَأۡنَآ أَوَّلَ خَلۡقٖ نُّعِيدُهُۥۚ وَعۡدًا عَلَيۡنَآۚ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ ١٠٤﴾

[١٠١-١٠٢] هو! يقينا هغو کسانو ته چې وړاندې نه د زمونږ لخوا نيکمرغي ور په برخه سوه [يعنى دوى په ازل کې جنتيان ليکل سوي ول] نو دوى د دوزخ نه لرې سوي دي او د دوزخ اور لمبو غره هار نه اوري او دوى به د خپلو ځانو خوښ سوو مزو تل پاتي جنت کې وي، يعنى الله تعالى دوى د دوزخ اور عذاب نه په خپلې تقديري پر يکړې سره ساتي.

[١٠٣-١٠٤] او د قيامت ورځې لو يه و يره به دوى نه غمجن کوي او ملائکې به د دوى هرکلئ کړي او ز يري به ورکوي چې دا د ستاسې هغه ورځ ده چې پکې درسره د خوښۍ وعدې سوې وې، او په دغه ورځ نور اسمان مونږ داسې را نغاړو، لکه د کتابونو سجل را نغښتل، او لکه څنګه چې د خلکو پيدايښت مونږ پيل که؛ همداسې دوى بيرته را ګرځوو[يعنى راژوندي کوو] او دا وعده پر مونږ باندې لازمه ده او مونږ يقينا د هغې پلي کونکي يو، يعنى دا چې مونږ وعده کړي ده چې ټول خلک به د قيامت په ورځ بيرته حساب ورکولو ته را ژوندي کوو او بيا به هر څوک خپل حساب ورکوي، او مومنانو ته به بيا ثواب او کافرانو ته به سزا ورکول کيږي.

{د ځمکې واکمني صالحان په میراث وړي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی ښو مومنانو او صالحانو ته ز یرئ ورکړئ دئ چې دوی د ځمکې واکمنۍ میراث وړنکي دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي ٱلزَّبُورِ مِنۢ بَعْدِ ٱلذِّكْرِ أَنَّ ٱلْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ ٱلصَّٰلِحُونَ ﴿١٠٥﴾ إِنَّ فِي هَٰذَا لَبَلَٰغًا لِّقَوْمٍ عَٰبِدِينَ ﴿١٠٦﴾﴾

[١٠٥] [د لوح محفوظ نه] وروسته په ز بور کې [او د اسمان نه په نورو را کوزو سوو کتابونو، لکه: تورات، انجیل او قرآن کې] مونږ په یقین سره ولیکل چې ځمکه به د زما صالح بنده ګان په میراث وړي، یعنی دوی به پکې واکمن کیږي او د خپلو ولسونو چارې به سمبالوي.

[١٠٦] او دا تلاوت سوئ بیان؛ هغو خلکو ته چې د الله عبادت کړي د عبرت اخستلو پیغام او د خوښۍ ز یرئ دئ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د قیامت ورځې انځور مونږ ته وړاندې کړي دئ، نو ښایي چې ورځخه ګټه واخلو او د الله تعالی په بنده ګۍ او اطاعت سره خپل ځانونه د جنتیانو په لیکه او قطار کې ودروو، او د دوزخ اور لمبونه ده الله مونږ په خپل رحمت سره وساتي!

{د اسلام پیغمبر ﷺ الله ټول عالم ته رحمت را لیږلئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالي د رسول الله ﷺ د پیغمبرۍ مقصد ټولې نړۍ ته داسې بیان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٧﴾ قُلْ إِنَّمَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ۖ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٠٨﴾ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقُلْ ءَاذَنتُكُمْ عَلَىٰ سَوَآءٍ ۖ وَإِنْ أَدْرِىٓ أَقَرِيبٌ أَم بَعِيدٌ مَّا تُوعَدُونَ ﴿١٠٩﴾ إِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلْجَهْرَ مِنَ ٱلْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُونَ ﴿١١٠﴾ وَإِنْ أَدْرِى لَعَلَّهُۥ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١١١﴾ قَٰلَ رَبِّ ٱحْكُم بِٱلْحَقِّ ۗ وَرَبُّنَا ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴿١١٢﴾﴾

[١٠٧] ای پیغمبره! او ته مونږ د نړۍ ټولو خلکو ته رحمت را لیږلی یي.

هو! عزتمنو دوستانو! دا مبارك آیت د هغو ډیرو مبارکو آیتونو نه یؤ مبارك آیت دئ چې د رسول الله ﷺ پیغمبري د نړۍ ټولو خلکو ته ثابتوي، ځکه دئ الله تعالی ټولو خلکو ته رحمت را لیږلئ دئ او اسلام ټول عالم ته د الله تعالی رحمت او مهر بانی پیغام دئ، نو د مومنانو پر علماوو او واکمنانو باندې فرض ده چې اسلام د نړۍ ټولو خلکو او ولسونو ته د هغوی په ژ به ورسوي او دوی اسلام ته را و بولي، او یقینا چې دې مقصد ته رسیدل اوس الحمد لله د اجتماعي رسنیو د لارې په نیټ کې او د نورو لارو نه ډیر اسانه سوي دي، او ډیر دعات په نړۍ کې همدا شبکې کاروي او د اسلام ښیکڼې او محاسن خلکو ته رسوي او دوی اسلام ته رابولي.

[١٠٨] نو ته ای پیغمبره! [په خلکو باندې غږ وکړه او ورته] ووایه: هغه پیغام چې ما ته په یقین سره وحیه کیږي؛ هغه دا دئ چې د ستاسې خدای یقینا یؤ خدای دئ [یعنی هیڅ څوک شر یك او مل نلري] نو آیا تاسې دا واحد ولا شریك خدای منۍ او ورته تسلیم یاستئ؟ یعنی دا چې ښایي تاسې ایمان راوړۍ او مسلمانان سئ، او د هغه رب الله خدایي ومنۍ چې هیڅ څوک مل او شر یك نلري او هغه د ټولو مخلوقاتو رب، لوی څښتن او خدای دئ.

[١٠٩] نو که بیا دوی په شا واوښتل [یعنی الله ته تسلیم نسول او ایمان یې رانوړ] نو ته ای پیغمبره! دوی ته ووایه: دا دئ د الله پیغام چې هغه تاسې ته ما برابر ورساه [نو اوس مونږ ټول د دې پیغام په پوهه کې سره بابر سوو] او هغه عذاب چې د راتګ وعده یې ستاسې سره سوې ده او تاسې یې راتلو ته تلوار درلود، نو اوس زه نه پوهیږم چې آیا د هغه راتګ را لنډ دئ او که لرې؟

[١١٠] هو! یقینا چې الله په جګ غږ خبرو او په هغو خبرو چې تاسې یي ای خلکو پټې د یو بل سره کړئ؛ پدې ټولو باندې پوهیږي، یعنی دا چې الله تعالی د خپلو بنده ګانو په پټو او ښکاره ټولو خبرو باندې ښه

پوهيږی، او ورځخه خبر دئ او د الله نه هيڅ څه شئ پټ ندي.

[١١١] او زه نه پوهيږم، نو کيدای سي چې دغه عذاب [چې تاسې ای کافرانو د هغه راتګ ته عجله يا تلوار لری] هغه به تاسې ته ازمايښت وي [يعنی زندېدل يې د دې لپاره وي چې، ترڅو تاسې تر يو وخته پورې] د دنيا نه خوند واخلی، يعنی د ستاسې ګناه ډيره سي او بيا د ستاسې سزا هم غټه او ډيره درنده سي.

[١١٢] [نو بيا رسول اللهﷺ ته الله تعالی د دعاء کړو سپارښت وکه او ورته يې وو يل] اي پيغمبره! ووايه: ای ر به! [د زما او زما د کافر قوم په منځ کې] په حق سره پر يکړه وکړه [يعنی ای کافرانو! پدې پوه سی چې زمونږ مهر بان څښتن] الرحمن رب د ستاسې و يناوو او ګواښونو پر وړاندې د زما مرستندوی دئ.

ګرانو دوستانو! او په دغسې پاخه ډاډ او اطمئنان سره رسول اللهﷺ خپلې خبرې د الله تعالی په لارښودنه د کافرانو سره په ډيره درنده او ښه روښانه مرکه کې د الانبياء په مبارك سوره کې پای ته رسولې دي، او يقينا چې دا پيغام هر دعوت کونکې ته چې د الله دين ته خلک رابولې د الله تعالی کلکې مرستې ز يرئ او ډير غوره لارښود پيغام دئ، نو ښايي چې دا مبارك آيتونه تل ولولو او د دعوت په ډګر کې ورځخه ګټه واخلو.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الحج سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الحج مبارکې سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}

قدرمنو دوستانو! د الحج مبارکه سوره مکي سوره ده، او پکې مدني آیتونه هم ستە، لکه هغه آیتونه چې پکې ابراهیم عليه السلام د الله تعالی په حکم خلک د الله کور بیت الله شریف حج ته او د هغه محرماتو او نورو شعائرو درنښت او تعظیم ته رابللي دي، او دا چې د حج ډیر مناسك مومنانو ته د قیامت ورځ ور په یادوي، نو د دې مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی خلک تقوا ته او د الله تعالی عذاب نه و یرې ته رابللي دي، او د قیامت ورځې کلکې زلزلې او ټکان نه یې و یرولي او ګواښلي دي، او یقینا چې دا د الله تعالی په لو یو قدرتونو دلالت کړي، نو ښایي چې خلک خپل دا لوی رب په ر یښتیا او حق سره و پیژني او ایمان راوړي او د الله تعالی ټول حکمونه ومني او عملي یې کړي، لکه لمونځ، زکات، روزه، حج، جهاد او نور ټول هغه واجبات چې په ټولینیز ژوند کې پر مومنانو باندې فرض دي، نو ښایي چې د هغو په ښه زده کړي کې پوره ز یار و باسي او عمل پرې وکړي، او د دې مبارکې سورې په پیل کې الله خلکو ته په و ینا کې فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡۚ إِنَّ زَلۡزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَيۡءٌ عَظِيمٞ ١ يَوۡمَ تَرَوۡنَهَا تَذۡهَلُ كُلُّ مُرۡضِعَةٍ عَمَّآ أَرۡضَعَتۡ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمۡلٍ حَمۡلَهَا وَتَرَى ٱلنَّاسَ سُكَٰرَىٰ وَمَا هُم بِسُكَٰرَىٰ وَلَٰكِنَّ عَذَابَ ٱللَّهِ شَدِيدٞ ٢ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيۡطَٰنٖ مَّرِيدٖ ٣ كُتِبَ عَلَيۡهِ أَنَّهُۥ مَن تَوَلَّاهُ فَأَنَّهُۥ يُضِلُّهُۥ وَيَهۡدِيهِ إِلَىٰ

عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ﴿٤﴾

[١-٢] ای خلکو! د خپل رب الله سزا نه وو یر یږی [یعنی په ایمان راوړو او ښه عمل سره د الله عذاب نه ځانونه وساتی] ځکه یقینا چې د قیامت ورځې د راتګ زلزله او ټکان [چې ځمکه لړزوي] ډیر لوی ټکان دئ، او کله چې تاسې د قیامت ورځ و یني، نو ګوری چې ټ ورکونکې مور خپل هغه ماشوم هیر کړئ دئ چې ټ ورکوي، او په هغه ورځ ټولې بلاربې(حاملې) د خپل نس پیټئ اچوي او ټول خلک به په بې هوښۍ کې و یني، حال دا چې دوی بې هوښه ندي، خو د ډیرې و یرې او هیبت نه بې هوښه ښکاري، یعنی لکه دا چې دوی شراب څکلو نوي مست کړي وي، خو د الله تعالی د عذاب و یره پدې ورځ ډیره سخته وي، نو هر څوک داسې ښکاري، لکه چې بې هوښه دئ او په هیڅ شي باندې نه پوهیږي!

قدرمنو عز یزانو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونو کې د خپلو لو یو قدرتونو په یادولو سره خلک ایمان راوړو ته رابللي دي، خو د دې سره سره بیا هم ځینې خلک په خپل کفر باندې کلک ولاړ وي، ایمان نه راوړي او د قیامت ورځې عذاب نه غافل وي او هغه نه مني او په کلکه بې پروایۍ او غفلت کې ډوب وي!

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د هغو خلکو کبرجن خوی کلک غندلئ دئ چې دوی سرکښ شیطان پسې ځي او د الله تعالی په لوړ مقام کې په ناپوهۍ سره استدلال او مناقشه کړي، او په بیان کې یې الله تعالی فرمایلي دي:

[٣-٤] هو! ځینې خلک [چې دوی د کافرانو مشران دي د الله تعالی عظمت سره سره] د الله په باره کې [یعنی د هغه لو یو قدرتونو په باره کې] په ناپوهۍ سره جدال کړي [یعنی شنډ بحثونه او مناظرې کړې] ځکه دوی هر سرکښ شیطان پسې ځي [یعنی د الله تعالی قدرتونه د مړو په بیرته راژوندي کولو کې او د قیامت ورځې په یقیني راتګ کې؛ نه مني او ورڅخه کلک منکر دي، بلکې هغه د الله تعالی قدرتونو نه لوړ بولي،

ځکه دوی د الله کړنې پر خپل بشري ضعف باندې قیاسوي] او د شیطان په تقدیر کې لیکل سوې ده چې یقینا هر څوک چې د شیطان ملګرئ سي، نو شیطان هغه هرومرو د حق منلو نه ورکوي او د دوزخ اور لار ورته ورښیي، یعنی په کږه لار یې بیایي چې پایله یې د دوزخ زورو ته ورغورځیدل دي!

{د خلکو لمړئ پیدایښت د قیامت ورځې په بیا ژوند دلیل دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د قیامت ورځې په راتګ کلک ټینګار کړئ دئ، او د دلائلو او نښو په بیان کې فرمایلي دي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّنَ ٱلۡبَعۡثِ فَإِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٖ ثُمَّ مِن مُّضۡغَةٖ مُّخَلَّقَةٖ وَغَيۡرِ مُخَلَّقَةٖ لِّنُبَيِّنَ لَكُمۡۚ وَنُقِرُّ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى ثُمَّ نُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلٗا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمۡۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ مِنۢ بَعۡدِ عِلۡمٖ شَيۡـٔٗاۚ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ هَامِدَةٗ فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا ٱلۡمَآءَ ٱهۡتَزَّتۡ وَرَبَتۡ وَأَنۢبَتَتۡ مِن كُلِّ زَوۡجِۭ بَهِيجٖ ۝٥ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّهُۥ يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَأَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ۝٦ وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٞ لَّا رَيۡبَ فِيهَا وَأَنَّ ٱللَّهَ يَبۡعَثُ مَن فِي ٱلۡقُبُورِ ۝٧ ﴾

[٥] ای خلکو! که تاسې د مړ ینې یا د مرګ نه وروسته د انسان په بیرته را ژوندي کیدو کې شک لرئ؟ [یعنی نو وګورئ چې تاسې مونږ څنګه پیدا کړئ؟ ځواب دا چې] هو! یقینا تاسې مونږ په لمړي ځل کې د خاورې نه پیدا کړئ [او بیا د ستاسې راتلونکو نسلونو پیدایښت] د نطفې نه ؤ

[یعنی د میړه او ښځې ګډو او بو(مني) نه ؤ چې کله هغه د ښځې په رحم کې سره یوځای او ګډ سوې] او بیا هغه ټینګه اینه سوه او دا اینه بیا وړه ټوته جو یل سوې غوښه سوه، او د هغې نه ځینې پیدایښت ته ورسیدله [یعنی ماشوم پیدا سه] او ځینې ونه رسیدله، ترڅو مونږ خپل قدرت تاسې ته وښیو چې د ښځو په نسونو کې چې مونږ څه شئ غواړو؛ هغه د ټاکل سوې نیټې پورې ځای پرځای کوو او بیا هغه د ښځو نسونو نه ماشوم راباسو او ز یږ یږي، او بیا تاسې ای خلکو! د خپلې ځوانۍ قوت ته رسیږئ او بیا څوک مړه کیږي او څوک ښه زاړه عمر ته رسیږي او پوهه پې داسې خراپیږي چې دعلم او پوهې نه وروسته بیا په هیڅ څه نه پوهیږي [یعنی ای بنده! لکه څنګه چې] ته دا ځمکه مړه وچه و ینې، نو کله چې مونږ او به ور باندې راوورو؛ هغه وښور یږي او و پرسیږي او بیا د هر ډول بوټو نه ښایسته بوټي راشنه کړي، یعنی د ځمکې مخ زرغون ښکلئ کړي.

[٦-٧] او دا ځکه چې یقینا الله حق دئ او مړي الله په یقینا سره بیرته را ژوندي کوي او الله په هر څه باندې قادر ذات دئ، یعنی هرڅه پې په واک کې دي، او قیامت یقینا راتلونکئ دئ او هیڅ شک پکې نسته او ټول مړي الله د خپلو ګورونو نه په یقین سره بیرته راجګوي او ژوندي کوي پې!

قدرمنو دوستانو! د دغو مبارکو آیتونو په پیل کې چې دا دوه مثاله او بیلګې یادې سوې دي؛ هغه د الله تعالی د لوی قدرت څرګندوی دي، نو ښایي چې هر هوښیار بنده ور باندې ښه پوه سي او پر خپل رب ایمان راوړی او د الله تعالی ټول قدرتونه، لکه د قیامت په ورځ د ټولو خلکو بیرته راژوندي کیدل او بیا حساب ورکول؛ هغسې ومني، لکه څنګه چې پدې مبارکو آیتونو کې ور باندې ټینګار سوئ دئ او هغه الله تعالی مونږ ته ښه روښانه بیان کړي دي.

{د الله په خدایي کې مزاجي چلند کلک غندلئ سوئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د خلکو هغه بې دلیله او بې منطقه مزاجي بحثونه او ناندرې کلکې غندلي دي چې د الله تعالی په شان

او لوړ مقام کې يې کړې، او فرمايلي دي:

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَلَا هُدٗى وَلَا كِتَٰبٖ مُّنِيرٖ ٨ ثَانِيَ عِطۡفِهِۦ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ لَهُۥ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞۖ وَنُذِيقُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ٩ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ يَدَاكَ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ١٠ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَعۡبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرۡفٖۖ فَإِنۡ أَصَابَهُۥ خَيۡرٌ ٱطۡمَأَنَّ بِهِۦۖ وَإِنۡ أَصَابَتۡهُ فِتۡنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ خَسِرَ ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةَۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡخُسۡرَانُ ٱلۡمُبِينُ ١١ يَدۡعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُۥ وَمَا لَا يَنفَعُهُۥۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلۡبَعِيدُ ١٢ يَدۡعُواْ لَمَن ضَرُّهُۥٓ أَقۡرَبُ مِن نَّفۡعِهِۦۚ لَبِئۡسَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَلَبِئۡسَ ٱلۡعَشِيرُ ١٣﴾

[٨-٩] او د خلکو نه داسې څوک هم ستە چې د الله په توحيد کې د پوهې او علم نه پرته او بې د کم لارښود او رڼا کونکي کتاب نه؛ جدال او بحث کړي او د ډير کبر نه يې غاړه جګه اړولې نيولې وي، ترڅو د الله لارې نه خلک ورک کړي، نو د دغسې خلکو سزا په دنيا کې خواري او رسوا يي ده او د قيامت په ورځ هغه ته مونږ سوزونکئ عذاب ورڅکو.

[١٠] [او د قيامت په ورځ بيا ورته و يل کيږي چې] دا سزا ستا د لاسونو بدو کړنو سزا ده چې هغه يې وړاندې کړې ده، او يقينا چې الله پر خپلو بنده ګانو باندې هيڅکله ظلم کونکئ ندئ، يعنى الله پر بنده تيرئ نکړي او حق يې نه ضائع کوي، ځکه الله پر خپلو بنده ګانو مهر بان ذات دئ.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى هغه څوک غندلي دي چې په هوسايي کې د الله نه خوښ او ډاډ من وي، خو په مصيبت او ستونزه کې د الله تعالى بنده کې نه مخ اړوي، او په بيان کې فرمايلي دي:

[١١-١٢] هو! ځينې خلک د الله عبادت او بنده ګي په څنډه کې کړي [يعنى ايمان يې ضعيفه وي] نو که بيا چيرې خير او ګټه ورته ورسيږي، نو ډاډه او مطمئن سي او که څه ازمايښت او سختى ورته ورسيږي؛ بيرته پر

مخ واړي [يعنی ايمان پر يږدي او مرتد کيږي، العياذ بالله] نو دغو کسانو دنيا او آخرت دواړه بايلل او هغه ښه ښکاره ز يان دئ، ځکه دغه کســان د الله نه پرته هغه څوک غواړي او بنده ګي يې کړي چې نه ورته تاوان رسولای سي او نه ګټه او دوی د سمې لارې نه په لرې ورکتيا کي دي.

[١٣] او دا کسـان هغه څوک غواړي او بنده ګي يې کړي چې ضـرريې د ګټې نه ورته لنډ دئ او هغه ډير بد ملګرئ او د ژوند کړنو بد اندېوال دئ، يعنی دغه بتان چې د مکې مشــرکانويې ملګرتيا کړه، خو بتان د ملګرتيا وړ او لائق نه ول، نو دوی ته يې هيڅ ګټه نه رسيدله.

قدرمنو دوســتانو! الله تعالی پدې مبارکو آيتونو کې کافران او د دوی بې علمه او بې ګټې تګ لاره او کړنې کلکې غندلې دي او دوی يې د خپلو بدو کړنو په سزا ګواښلي دي، نو مونږ مومنانو ته ښايي چې کافرانو پر پله لاړ نسو او په کلک يقين سره پر خپل ايمان باندې ټينګ پاتی سوو.

{مومنان الله د قيامت په ورځ جنتونو ته ورننه باسي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی مومنانو ته د جنتونو ز يری ورکړي دي، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يُرِيدُ ١٤ مَن كَانَ يَظُنُّ أَن لَّن يَنصُرَهُ ٱللَّهُ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ فَلۡيَمۡدُدۡ بِسَبَبٍ إِلَى ٱلسَّمَآءِ ثُمَّ لۡيَقۡطَعۡ فَلۡيَنظُرۡ هَلۡ يُذۡهِبَنَّ كَيۡدُهُۥ مَا يَغِيظُ ١٥﴾

[١٤] هو! يقينا هغو کســانو چې ايمان راوړ او ښــه کارونه يې وکړل؛ الله دوی داســې جنتونو يا بڼونو ته ورننه باســي چې د او بو و يالې پکې بهيږي، او الله چې څه غواړي يقينا هغســې کړي، يعنی هيڅ څوک د الله تعالی کړنو مخه نيولای نســي او الله خپل حکمونه په زور يا په رضــا چلوي، يعنی دا ځکه چې الله تعالی ښه لوی ځواکمن ذات دئ.

او په ور پسې مبارك آيت کې بيا الله تعالى خپل پيغمبر محمد ﷺ ته د بر يا او د حتمي فتحې ز يرئ ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

[١٥] او هغه څوک چې کمان کړي چې الله به هيڅکله په دنيا او په آخرت کې د پيغمبر (محمد ﷺ) مرسته ونکړي [يعنى دئ به بر يا ته ونه رسوي] نو پورته اسمان ته ده يو پرئ اوږد کړي [او ځان ده پکې را زوند کړي] او بيا ده دا پرئ پرې کړي، نو بيا ده وګوري چې آيا د هغه دې چل او تدبير د ده د زړه غوصه لرې کړې ده کنه؟ يعنى د کافرانو هغه و يناوې چې و يل يې: الله د محمد مرسته نکړي او بر يا ته يې نه رسوي؛ خوسې خبرې دي او الله د خپل پيغمبر مرستندوى دئ او خامخا به هغه ته فتح ور په پرخه کړي او بر يالئ پې کړي.

درندو دوستانو! دا مبارك آيت رسول الله ﷺ ته چې الله يې مرستندوى دئ؛ د لوى ډاډ او اطمئنان ز يرئ ؤ او د سختيو او ستونزو په وړاندې ورته پوخ تسليت ؤ، او همدارنګه دا ډاډ اسلام ته رابلونکو ټولو مخلصو دعاتو ته د بر يا ز يرئ دئ، ځکه رسول الله ﷺ دوى ته غوره مخکښ لارښود دئ او هغه د الله تعالى د دين تبليغ په لار کې خومره ډير د خپل کافر قوم په لاس وکړول سه، او دا د الله تعالى سنت او هغه قانون دئ چې تر قيامت ورځې پورې به همداسې چليږي.

{قرآن په روښانو آيتونو کې الله لارښود پيغام را نازل کړئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د قرآن کر يم په ستاينه کې او بيا د قيامت په ورځ د ټولو اديانو پيروانو په منځ کې د بيلتون په باره کې فرمايلي دي:

﴿وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَٰهُ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ وَأَنَّ ٱللَّهَ يَهْدِى مَن يُرِيدُ ﴿١٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَٱلَّذِينَ هَادُوا۟ وَٱلصَّٰبِـُٔونَ وَٱلنَّصَٰرَىٰ وَٱلْمَجُوسَ وَٱلَّذِينَ أَشْرَكُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴿١٧﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسْجُدُ لَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ

وَٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ وَٱلنُّجُومُ وَٱلۡجِبَالُ وَٱلشَّجَرُ وَٱلدَّوَآبُّ وَكَثِيرٞ مِّنَ ٱلنَّاسِۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيۡهِ ٱلۡعَذَابُۗ وَمَن يُهِنِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّكۡرِمٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يَشَآءُ ١٨

[١٦] [هوا! لکه څنګه چې الله تعالی د خپلو قدرتونو نښې او دلائل د قیامت په ورځ د مړو په بیرته راژوندي کول سره کافرانو ته بیان کړي دي، همداسې الله تعالی قرآن رانازل کړئ دئ او فرمایلي دي:] او همدارنګه قرآن مونږ په ښکاره او روښانه دلائلو سره خلکو ته رانازل که، او یقینا څوک چې الله وغواړي سمې لارې ته یې هدایت کوي، یعنی د حق په ژباړه ژباړه کوي او بیا دئ ایمان راوړي، نو د خلکو هدایت او یا د سمې لارې نه د ورکتیا واک الله سره دئ او الله تعالی چې څوک د ایمان لائق وګڼي توفیق ورکوی، ترڅو ایمان راوړي او حق ته تسلیم سي، خو څوک چې د ایمان راوړو لائق نه وي؛ هغه همداسې محروم پاتې کیږي.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی فرمایلي دي چې د قیامت په ورځ د ټولو ادیانو پلو یانو په منځ کې الله د بیلتون پر یکړه کړي:

[١٧] هوا! یقینا هغو کسانوچې ایمان راوړ، او هغه کسان چې یهودان، نصارا او مجوس سول [یعنی د اور عبادت یې وکه] او څوک چې صابیین سول [یعنی همداسې پرته له کم دین منلو نه پاتې سول] او هغه کسان چې مشرکان سول [یعنی بتان یې د الله سره په عبادت کې شر یك کړل] نو یقینا چې الله به د دوی ټولو په منځ کې د قیامت په ورځ پر یکړه وکړي، او یقینا چې الله په هرڅه باندې شاهد دئ، یعنی هر چا ته د هغه د کړنو لائق ثواب او سزا ورکوي.

[١٨] ای پیغمبره! او آیا ته نه و یې [یعنی نه پوهیږې] چې ټول هغه مخلوقات چې په ځمکه او اسمانو کې خواره پراته دي؛ دوی په پوره یقین سره الله ته د درناوي، تعظیم او د تسلیمۍ سجده کړي؟ او لمر، سپوږمۍ، ټول ستوري، غرونه، وني او څاروي الله ته سجده کړي، او د انسانانو نه هم ډیر کسان الله ته سجده کړي [یعنی پر الله تعالی ایمان

او باور لري] او پر نورو ډيرو خلکو باندي عذاب او سزا مقرره سوې ده [ځکه دوی کافران دي او الله ته د تسليمۍ سجده نکړي] او هغه څوک چې الله سپک کړي بل څوک عزت ورکونکئ نلري، او الله چې څه غواړي، نو يقينا هغسې کړي، يعنی دا ځکه چې الله خپلواک،ځواکمن او زورور ذات دئ.

ګرانو دوستانو! استفهام يا پوښتنه پدې مبارك آيت کې تقرير ده، يعنی دا چې ای پيغمبره! پدې پوه سه چې ټول هغه مخلوقات چې پر ځمکه او په اسمان کې خواره دي؛ د الله عظمت ته په خوښه او يا په زور تسليم سوي دي او د الله تعالی لو يتيا او عظمت ته په سلامي کيدلو سره په سجده پراته دي، او د دې مبارك آيت په لوستلو او اور يدلو سره د تلاوت سجده په هر لوستونکي او اور يدونکي باندې واجب ده.

{د الله لارې جګړه کې مومنانو ته جنتونه اوکافرانو ته سزا ده}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د کافرانو او مومنانو په منځ کې د حق او باطل پر سر د اوږدې جګړې بيان د يوې بيلګې په ترڅ کې ياد کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿* هَٰذَانِ خَصۡمَانِ ٱخۡتَصَمُواْ فِي رَبِّهِمۡۖ فَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قُطِّعَتۡ لَهُمۡ ثِيَابٞ مِّن نَّارٖ يُصَبُّ مِن فَوۡقِ رُءُوسِهِمُ ٱلۡحَمِيمُ ١٩ يُصۡهَرُ بِهِۦ مَا فِي بُطُونِهِمۡ وَٱلۡجُلُودُ ٢٠ وَلَهُم مَّقَٰمِعُ مِنۡ حَدِيدٖ ٢١ كُلَّمَآ أَرَادُوٓاْ أَن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا مِنۡ غَمٍّ أُعِيدُواْ فِيهَا وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ٢٢ إِنَّ ٱللَّهَ يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَلُؤۡلُؤٗاۖ وَلِبَاسُهُمۡ فِيهَا حَرِيرٞ ٢٣ وَهُدُوٓاْ إِلَى ٱلطَّيِّبِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ وَهُدُوٓاْ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡحَمِيدِ ٢٤ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ ٱلَّذِي جَعَلۡنَٰهُ لِلنَّاسِ

سَوَآءً ٱلۡعَٰكِفُ فِيهِ وَٱلۡبَادِۚ وَمَن يُرِدۡ فِيهِ بِإِلۡحَادِۭ بِظُلۡمٖ نُّذِقۡهُ مِنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ٢٥

[١٩-٢٢] دا دواړه (کافران او مومنان) د يو بل سره دښمنان دي او د خپل رب الله پر سرېې د يو بل سره جګړه وکړه، نو هغه کسان چې کافران ســول [يعنی د الله تعالی توحيد نه منکر ســول] دوی ته د اور نه راپرې ســوې جامې وراغوســتل کيږي او پاس پر ســرونويې ســرې ســوې او به را اچول کيږي او د دوی پوســتکي او په نســونو کې چې يې څه شئ دي؛ هغه ولې کيږي او په وســپنيزو تبرګيو پر ســرونو وهل کيږي، او کله چې د دوزخ اور نه د ډير غم او ســتونزو له کبله د وتلو هڅه وکړي؛ بيرته ورګرځول کيږي [او ورته په غوصــې ســره و يل کيږي چې] دا ســوزونکئ او کړونکئ عذاب وڅکئ!

دروندو دوســتانو! دا دئ د کافرانو حال او دوی ته د دوزخ په اور کې د سختې سزا ورکولو انځور چې هغه مونږ ته الله تعالی وړاندې کړئ دئ، نو دعاء کړو چې الله ده مونږ په خپل فضل او رحمت سره ورڅخه وساتي.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې مومنانو ته الله تعالی د ورکړل سوو لو يو نعمتونو بيان کړئ دي، او فرمايلی دي:

[٢٣] او يقينا هغو کســانو چې ايمان راوړ او ښــه يې وکړل؛ دوی الله داسې جنتونو او بڼونو ته ورننه باسي چې و يالې پکې بهيږي او د سـرو زرو او د مرغلرو په غاړکيو او اميلونو باندې ښــکلي کيږي او د جنتيانو جامې ور يښم وي، يعنی د ور يښمو غوندې پستې وي.

[٢٤] [او دا ځکه چې مومنان الله په دينا کې] خوږې خبرې تــه [چې هغه د توحيد کلمه ده] ســم کړي ول او دوی يې په ســتايل ســوې لار باندې خوځولې او روان کړي ول، يعنی دا چې ايمان راوړل او په ســــمه لار باندې تګ؛ هغه خدايي توفيق دئ چې الله يې خپلو مخلصو بنده ګانو ته ورکوي.

او بيا الله تعالی په ور پســې مبارك آيت کې کافران چې د بيت الله

شر يف نه يې مومنان منعې کړل؛ په کلکه سزا ګوښولي او فرمايلي دي:

[٢٥] او يقينا هغه کسان چې کافران سول او مومنان د الله لارې او د حرم مسجد نه منعې کوي [يعنى نې پر يږدي چې مسجد الحرام ته د عمرې طواف ته ورننوځي] حال دا چې مسجد الحرام مونږ ټولو خلکو ته برابر ګرځولئ دئ او هرڅوک چې د مکې نه بهر د عبادت لپاره مسجد الحرام ته راځي؛ ټول سره برابر دي، او هرڅوک چې په مسجد الحرام کې د ظلم کړو قصد او اراده وکړي؛ هغه ته مونږ دردونکئ عذاب ورڅکو، يعنى هرڅوک چې د الله په کور کې چې د حرم مسجد دئ؛ د الله توحيد نه د اوښتلو هڅه وکړي الله تعالى کلکه سزا ورکوي.

روايت سوئ دئ چې پدې مبارك آيت کې الله تعالى د مکې مشرکان غندلي دي، ځکه دوى رسول الله ﷺ او ملګري يې صحابه رضوان الله عليهم اجمعين د الحديبې عمرې نه د هجرت په شپږم کال منعې کړل او پرې يې نښودل چې مسجد الحرام ته لاړ سي او عمره وکړي او بيا د اوږدو جرګو او مرکونه وروسته د يوې هوکړې په ترڅ کې پر يکړه وسوه چې مسلمانان به په راتلونکي کال کې عمرې ته راسي.

عزتمنو دوستانو! الله تعالى پدې مبارك آيت کې د مکې مشرکان غندلي دي، ځکه دوى خلک د الله دين نه منعې کول او مومنان يې پرې نښودل چې مسجد الحرام ته لاړ سي او هلته د بيت الله شر يف طواف وکړي، حال دا چې د بيت الله شر يف په ز يارت کې الله تعالى ټول خلک سره برابر ګرځولي دي، نو څوک چې د بهر نه راځي او څوک چې په مکه کې اوسيږي؛ دوى ټول سره برابر دي، ځکه کعبه معظمه د ځمکې پر سر لمړنئ کور دئ چې د الله تعالى توحيد ته لارښود ودان سوئ دئ او الله تعالى فرمايلى دي:"إن أول بيت وضع للناس للذي ببكة مباركا وهدى للعالمين"(آل عمران٩٦) يقينا لمړى کوټه يا کور چې د ځمکې پر سر خلکو ته ودان سوئ دئ؛ هغه په مکه کې ده او هغه مبارکه او خلکو ته لارښوده کوټه ده، او دوى ته د الله عبادت په توحيد او يووالي سره ورښيي، ترڅو د شرك نه وساتل سي، نو کعبه معظمه د الله تعالى توحيد نښه ده.

{کعبه ابراهیم د الله عبادت ته پاکه کړه او د حج اعلان وکه}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د ابراهیم علیه السلام په لاس د بیت الله شـر یف بیا ودانۍ ته په اشـارې سـره د هغې پاکولو بیان کړئ دئ، ترڅو خلک د کعبې مبارکې نه په طواف کړو سره د الله عبادت وکړي او د بیت الله شر یف حج ته راسي، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَٰهِيمَ مَكَانَ ٱلْبَيْتِ أَن لَّا تُشْرِكْ بِى شَيْـًٔا وَطَهِّرْ بَيْتِىَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلْقَآئِمِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ﴿٢٦﴾ وَأَذِّن فِى ٱلنَّاسِ بِٱلْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ﴿٢٧﴾ لِّيَشْهَدُوا۟ مَنَٰفِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا۟ ٱسْمَ ٱللَّهِ فِىٓ أَيَّامٍ مَّعْلُومَٰتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلْأَنْعَٰمِ ۖ فَكُلُوا۟ مِنْهَا وَأَطْعِمُوا۟ ٱلْبَآئِسَ ٱلْفَقِيرَ ﴿٢٨﴾ ثُمَّ لْيَقْضُوا۟ تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا۟ نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا۟ بِٱلْبَيْتِ ٱلْعَتِيقِ ﴿٢٩﴾﴾

[٢٦] [ای پیغمبره!] او هغه وخت راپه یاد کړه، کله چې مونږ د کعبې ځای ابراهیم ته وښـــود [یعنی ابراهیم علیه السلام الله تعالی د کعبې په به بیا ودانۍ باندې مامور که او ورته یې وو یل: ای ابراهیمه!] زما سره په عبادت کې هیڅ څوک شـــر یک نکړي او د زما کور طواف کونکو ته او هغه چا ته چې پکې په ولاړه، په رکوع او په سجدې سره لمونځ کړي؛ پاک کړه.

[٢٧-٢٨] ای ابراهیمه! او د بیت الله حج خلکو ته اعلان کړه، او دوی به ســپاره او پیاده د ځمکې هر کونډ نه بیت الله حج ته راســي، ترڅو دوی خپلې ګټې وو ینې [یعنی خپلې ګټې او ثوابونه لاس ته راوړي] او د حج په معلومو (پیژندل ســوو) ورځو کې به [چې هغه د حج مناســکو پرځای کولو ورځې دي] د الله نوم یاد کړي [یعنی د حج تلبیه به ووایي او بیا به د اختر او تشـــر یق په ورځو کې تکبیرونه ووایي] او د الله هغې روزی شــکر به و بــاســي چې د حج قر بــانیو څــارو یو غوښــې یې دوی تــه ورکړي، نو ای

حاجيانو! تاسې د حج قر باني څارو يو غوښې خپله وخورئ او بې وزرو او محتاجو کسانو ته هغه خيرات ورکړئ.

[۲۹] او بيا ده حاجيان خپل ځانونه پاک کړي او پاکې جامې ده واغوندي او خپلې نذرانې ده پرځای کړي او د الله کور طواف ده وکړي.

ګرانو عزيزانو! دلته د يادونې وړ بولم چې مبارکه کعبه او د الله تعالى کور بيت الله شـــر يف په ډيرو نومونو نومول ســـوئ دئ او يو نوم يې (البيت العتيق) دئ، يعنى ډير زوړ پخوانئ کور، ځکه دا کور لمړنئ کور دئ چې د الله عبادت لپاره د ځمکې پر ســـر ودان ســـوئ دئ، او تار يخ پوهان وايي چې هغه په لمړي ځل کې ملائکو ودان که.

هو! درندو مومنانو وروڼو او خو يندو! الله تعالى پدې مبارکو آيتونو کې مومنانو ته د حج ځينې مناسك (شعائر) لکه د لوبې جمرې و يشتل، د حج قر باني او بيا د ســر ايښـتانو لنډول يا خر يل او د بيت الله شــر يف طواف چې هغه په حج کې رکن او فرض دئ؛ بيان کړي دي.

{د الله تعالى محرماتو درنښت پر مومنانو باندې فرض دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مونږ ته د خپلو محرماتو او د ټولو شعائر درنښت او تعظيم بيان کړئ دئ او مونږې کلک ورته هڅولي او تشو يق کړي يو، او فرمايلي دي:

﴿ذَٰلِكَ ۖ وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمَٰتِ ٱللَّهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُۥ عِندَ رَبِّهِۦ ۗ وَأُحِلَّتْ لَكُمُ ٱلْأَنْعَٰمُ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ۖ فَٱجْتَنِبُوا۟ ٱلرِّجْسَ مِنَ ٱلْأَوْثَٰنِ وَٱجْتَنِبُوا۟ قَوْلَ ٱلزُّورِ ﴿٣٠﴾ حُنَفَآءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِۦ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ ٱلطَّيْرُ أَوْ تَهْوِى بِهِ ٱلرِّيحُ فِى مَكَانٍ سَحِيقٍ ﴿٣١﴾ ذَٰلِكَ ۖ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى ٱلْقُلُوبِ ﴿٣٢﴾ لَكُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ مَحِلُّهَآ إِلَى ٱلْبَيْتِ ٱلْعَتِيقِ ﴿٣٣﴾﴾

[۳۰-۳۱] [ای مومنانو!] دا هغه حکمونه دي [چې تاسې الله ور باندې

مامور کړي ياستی] او څوک چې د الله محرماتو درنښت وکړي [يعنی ځان د حرامو نه وساتي] نو دا ورته د هغه رب پر وړاندې ډير ښه او غوره دي، او ای مومنانو! تاسې ته د څارو يو غوښې حلالې دي، خو د هغو څارو يو غوښو خوړل در باندې حرام دي چې په نورو آيتونو کې درته تلاوت سوي دي [لکه په خپل سر مړه سوي څاروي غوښه او نورې د هغو څارو يو غوښې چې د المائدې سورې په در يم آيت کې يادې سوې دي] او ای مومنانو! د بتانو چټلی نه او د دروغو و يلو نه ځانو نه وساتی او د الله بنده ګی ته په اخلاص سره سم سی او هيڅ څوک د الله سره [په عبادت کې] مه شر يکوي، او هغه څوک چې د الله سره کم شئ شر يك کړي، لکه دا چې دئ د اسمان نه را ولو يده او مرغان ور باندې را ټول سول او ټوټه سوې غوښې پې هرې خوا وتښتولې، او يا لکه دا چې طوفاني باد بړ بښکيو په ژوره تاله کې وغورځا وه! يعنی شرك چې لو يه ګناه ده سزايې همدغسې سخته او درنده ده، نو دعا کړو چې الله تعالی ده په خپل رحمت سره مونږ د هرډول شرك نه وساتي.

[٣٢] او هغه [د الله تعالی د توحيد هغه حکمونه ول چې تاسې ته ای خلکو! بيان سول] او څوک چې د الله شعائرو تعظيم او درنښت وکړي او هغه پرځای کړي، نو دا کړنې د زړونو د تقوا نه دي، يعنی نو دا مومن بنده د الله نه کلک و ير يږي او د سزا نه پې خپل ځان په اطاعت سره ساتي، ترڅو د قيامت په ورځ د الله په حضور کې سپين مخئ ودر يږي.

[٣٣] ای حاجيانو! او تاسې د حج قر بانيو څارو يو نه د ټاکل سوې نيټې پورې ګټه اخلی، يعنی شودي پې څکی او په مزله کې ور باندې سپريږی، او بيا د هغوی د حلالولو يا ذبحې ځای مکه ده چې پکې د الله عتيق کور دئ، يعنی چير ته چې کعبه معظمه د الله پخوانئ زوړ کور دئ، ځکه کعبه معظمه لمړنئ کور دئ چې د الله تعالی عبادت لپاره د ځمکې پر سر په مکه کې ملائکو د الله په حکم ودان کړئ دئ، او ځينو مفسر ينو بيا عتيق په معنا د فاعل تفسير کړې ده، نو د بيت عتيق نه مقصد د حاجيانو ازادي د دوزخ اور نه ده، ځکه حا جي الله تعالی د ګناه نه هغسې

پاکوي، لکه چې د مور نه نوئ ز يږدلئ وي، نو که حاجي همداسې مړ سي نو بيا تلبيه و يونکئ له ګوره راولاړ يږي او د قيامت په ورځ راژوندئ کيږي.

ګرانو عزيزانو! الله تعالى پدې مبارکو آيتونو کې مونږ ته د کعبې معظمې يا بيت الله شر يف د حج ځينې هغه مسئلې او حکمونه بيان کړې دي چې هغه د الله تعالى د دين نښې او شعائر دي او تعظيم او درناوئ يې پر مونږ فرض دئ، نو ښايي چې د بيت الله شر يف تعظيم او درناوئ د زړه له کومې په پوره اخلاص سره وکړو.

{د بنده ګی شعائر الله ټاکلي دي ترڅو يې عبادت وسي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مونږ ته الله تعالى دا لوی حقيقت بيان کړئ او په نښه کړئ دئ چې د بنده ګی شعائر خلکو ته الله تعالى ټاکلي دي، نو ښايي چې ټول خلک يوازې د الله تعالى د ټاکل سوو شعائرو تعظيم او درناوئ وکړي او بل هيڅ څوک د الله سره په خدايي کې ګډ نکړي، ترڅو د دوی عبادت يوازې د الله تعالى لپاره وشميرل سي، او فرمايلي دي:

﴿وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِّيَذْكُرُوا۟ ٱسْمَ ٱللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلْأَنْعَٰمِ ۗ فَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ فَلَهُۥٓ أَسْلِمُوا۟ ۗ وَبَشِّرِ ٱلْمُخْبِتِينَ ﴿٣٤﴾ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَٱلصَّٰبِرِينَ عَلَىٰ مَآ أَصَابَهُمْ وَٱلْمُقِيمِى ٱلصَّلَوٰةِ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴿٣٥﴾﴾

[٣٤-٣٥] [هوا! په تيرو مومنو ولسونو کې] هر امت ته مونږ قر باني او د و ينو تو يول؛ مذهب ګرځولئ دئ، ترڅو دوی د الله نوم د هغو څار يو پر ذبح کولو باندې واخلي؛ چې هغه دوی ته روزي ورکړل سوې ده [يعنى د قر باني څارو يو حلالولو يا ذبحې په وخت کې د الله نوم واخلي او هغه ور باندې ياد کړي او بسم الله ووايي] نو ای مومنانو! د ستاسې ټولو معبود الله يو لوی ذات دئ، نو هغه ته تسليم سى او حکومو نه يې ومنى، او ته ای پيغمبره! هغو بنده ګانو ته [د نيکمرغى او په دنيا او آخرت

کې د خوښۍ] ز یرئ ورکړه چې دوی د تواضع او زارۍ غاړې خپل رب الله ته ټیټې کړې دي، ځکه دوی هغه کسان دي چې کله د الله نوم یاد سي، نو د دوی زړونه د الله و یرې نه ټکان وخوري او ولړز یږي، او هر مصیبت چې دوی ته رسیږي؛ دوی ور باندې صبر کړي او هغه زغمي او پر لمانځه باندې کلک ولاړ دي، او د هغه مال او دولت نه چې دوی ته مونږ روزي کړئ دئ؛ خیرات ورکوي، یعنی بې وزرو مسکینانو سره مرسته کړي.

قدرمنو دوستانو! دا دي د الله تعالی مومنو متواضعو بنده ګانو ښه او غوره خو یونه چې دوی خپل رب الله په دنیا او آخرت کې د نیکمرغۍ او ښادۍ ز یرو په ورکول سره نازولي او ډاډمن کړي دي، نو ښایي چې هر مومن بنده د هغوی پر پله لاړ سي او ځان الله ته متواضع او فرمان وړونکئ بنده وګرځوي، ترڅو په دنیا او آخرت کې د سعادت او نیکمرغۍ ز یرو نه برخمن سي، او همدارنګه په دنیا او آخرت کې د ښاد ژوند څښتن او خاوند سي او نیکمرغي یې په برخه سي.

{د اوښانو حلالول په حج کې د الله شعائرو نه دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنانو ته د حج قر بانیو یا هدیاوو لو یو څار یو، لکه د اوښانو حلالولو یا نحر اړوند حکمو نه او آداب ښه روښانه بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَٱلۡبُدۡنَ جَعَلۡنَٰهَا لَكُم مِّن شَعَآئِرِ ٱللَّهِ لَكُمۡ فِيهَا خَيۡرٞۖ فَٱذۡكُرُواْ ٱسۡمَ ٱللَّهِ عَلَيۡهَا صَوَآفَّۖ فَإِذَا وَجَبَتۡ جُنُوبُهَا فَكُلُواْ مِنۡهَا وَأَطۡعِمُواْ ٱلۡقَانِعَ وَٱلۡمُعۡتَرَّۚ كَذَٰلِكَ سَخَّرۡنَٰهَا لَكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٣٦ لَن يَنَالَ ٱللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلَٰكِن يَنَالُهُ ٱلتَّقۡوَىٰ مِنكُمۡۚ كَذَٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمۡ لِتُكَبِّرُواْ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمۡۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٣٧﴾

[۳٦] [ای مومنانو! او د اوښانو حلالول او غاړې یې په چرو سوري کول] تاسي ته مونږ د الله د دین شعائر او نښې ګرځولي دي او پکې تاسي

ته خير او ګټه ده، نو اوښ په درې پښــو ولاړ نحر کړئ او د الله نوم ور باندې واخلئ او پرې يادې کړئ [يعنى ســتونئ يې په نښــتر يا په چاړه سـورئ کړئ او بسـم الله ور باندې ووايې] نو بيا چې کله اوښ يا اوښـه پر ځمکه ولو يدله او سـاه يې وختله او د شـارګو و ينه يې تويې سـوه، نو بيا يې د غوښې نه تاسې خپله وخورئ او بې وزرو مسکينانو او سوالګرو ته د هغې نه خيرات ورکړئ، او ای مومنانو! د همدې مقصد لپاره اوښان تاسې ته مونږ تابع ګرځولي او تسـخير کړي دي، ترڅو تاسـې د الله نعمتونو او پيرزو ينو شکر و باسئ او منه يې وکړئ.

[۳۷] او ای مومنانو! [پدې ښـه پوه سئ] چې د دغسـې قر باني سـوو څارو يو غوښـې او و ينې الله ته نه رسـيږي، بلکې الله ته د سـتاسـې تقوا رسيږي [يعنى دا چې ښايي تاسې د الله تعالى رضا او د خوښئ لپاره قر باني وکړئ، او پدې کار ســره خپل ځانونه د الله عذاب نه وســاتئ] او ای مومنانو! نو د همدې مقصد لپاره دا څاروي تاسې ته الله تسخير کړي دي [يعنى هغه يې د ســتاســې لاس لاندې کړځولي دي] ترڅو تاســې الله په عظمت او لو يتيا ســره ياد کړئ، ځکه تاســې الله حق لاړې ته ســم کړئ [نو د الله حکمونو جاري کولو ته غاړه کيږدئ] او ای پيغمبره! د ښـو کړنو خاوندانو ته د نيکمرغۍ او د بر يا ز يرئ ورکړه، يعنى الله تعالى د ښـو کړنو خاوندان په دنيا او په آخرت کې ښــادوي، ځکه دوی د الله حکمونو ته تيار ســئ ولاړ دي او هغه عملي کوي، ترڅو د الله پر وړاندې لوړ مقام وګټي.

{د کافرانو ســره په جګړه کې الله د مومنانو مرســتندوی دئ}

او په ور پسـې مبارکو آيتونوکې الله تعالى مومنانو ته ز يرئ ورکړئ دئ چې د دوی مدافع او ســاتونکئ الله دئ، او مظلومانو ته روا ده چې تيرئ کونکو کافران سـره جګړه وکړي، ځکه د دوی مرسـتندوی الله دئ او دوی ته بر يا او سر لوړي ور ښـې، او فرمايلي دي:

﴿* إِنَّ ٱللَّهَ يُدَٰفِعُ عَنِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٖ كَفُورٍ ۝٣٨ أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ بِأَنَّهُمۡ ظُلِمُواْۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصۡرِهِمۡ لَقَدِيرٌ ۝٣٩ ٱلَّذِينَ أُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بِغَيۡرِ حَقٍّ إِلَّآ أَن يَقُولُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُۗ وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لَّهُدِّمَتۡ صَوَٰمِعُ وَبِيَعٞ وَصَلَوَٰتٞ وَمَسَٰجِدُ يُذۡكَرُ فِيهَا ٱسۡمُ ٱللَّهِ كَثِيرٗاۗ وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ۝٤٠ ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُواْ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَنَهَوۡاْ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ۝٤١﴾

[۳۸] [هو؛ ای مومنانو! تاسې ته ده ز یرئ وي] چې یقینا الله د هغو کسانو نه دفاع کړي چې دوی ایمان راوړ [یعنی الله تعالی دوی د کافرانو شر نه ساتي او دفاع ورڅخه کړي] او یقینا چې الله هیڅ خائن او د الله نعمتونو نه منکر کس نه خوښوي، یعنی خائنان او د الله ورکړو نه منکر کسان پر الله ګران ندي!

قدرمنو دوستانو! دا ز یرئ ټولو هغو مومنانو ته دئ چې دوی په پوره اخلاص سره د الله تعالی حکمونو ته غاړه ایښې ده او هغه مني او عمل پرې کړي، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ ټول د دوی په لیکه او قطار کې ودروي او په دین باندي ده؛ د اخلاص نه ډک عمل توفیق را کړي.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې بیا الله تعالی مومنانو ته اجازه ورکړې ده، ترڅو دوی د ظلم پر وړاندې ودر یږي او د ظالمانو سره جهاد او جګړه وکړي، ځکه مومنانو ته په مکه کې چې د اسلام پیل کلونه ول؛ د جهاد او د دفاع اجازه نه ؤ، بلکې دوی تل صبر او زغم ته هڅول کیدل، خو کله چې رسول الله ﷺ او ملګرو یې مدینې منورې ته هجرت وکه او خپله لمړنۍ خپلواکه ټولنه یې جوړه کړه، نو بیا الله تعالی دوی ته د ظالم او تیري کونکي دښمن پر وړاندې د جهاد او د مسلح مقاومت اجازه ورکړه، او په بیان کې یې الله تعالی فرمایلي دي:

[٣٩] هو! هغو کسانو ته چې دښمن يې د دوی سره جګړه کړي؛ اجازه وسوه چې دوی هم د خپل دښمن سره جګړه او جهاد وکړي، ځکه يقينا چې پر دوی باندې تيرئ سوئ دئ، او الله په يقين سره د دوی په مرسته قادر لوی ذات دئ، يعنی مرسته يې کړي او فتحه او بر يا ور په برخه کوي او دښمن يې خوار سوئ ماتوي.

[٤٠] او دا مظلوم مومنان هغه کسان دي چې د خپلو کليو او مينو نه ناحقه را وايستل سول، ځکه دوی وو يل: چې د زمونږ رب او څښتن الله دئ [يعنی د بتانو عبادت نه يې خپل براءت اعلان که او يوازي د الله تعالی بنده ګان سول] هو! که الله د ځينې خلکو مخه په ځينې نورو باندې نه وای نيولې [نو د يهودو او نصارو د عبادت کورونه (صومعې، کليساوې، او د مسلمانانو د لمانځه کړو مسجدونه) چې پکې د الله نوم ډير يادېږي؛ ړنګ سوی به ول، او هر هغه څوک چې د الله د دين نصرت او مرسته کړي؛ الله به د هغه مرسته وکړي او يقينا چې الله ښه ځواکمن لوی ذات دئ.

[٤١] [او د الله د دين نصرت کونکي مومنان] هغه کسان دي چې کله دوی مونږ په ځمکه کې واکمنان کړو، نو دوی لمنځونه دروي، زکات ورکوی، په ښو کړنو باندي امر کړي او د بدو کړنو نه خلک منع کوي، او د ټولو چارو پايله او راتلونکې د الله په واک کې ده، يعنی الله متقيانو ته فتحه او بر يا ورکوي او په تيري کونکي دښمن باندې يې برلاسي کوي.

ګرانو دوستانو! دا دئ مومنانو ته د الله تعالی لخوا؛ د تمکين، بر يا او واکمنۍ ز يرئ چې دوی ته يې ورکړئ دئ، او د مومنانو رسالت او کړن لار يې ورته په ګوته کړې ده، او هغه دا چې د الله تعالی حکمونه به د لمانځه په درولو سره، او د زکات په ورکولو او په امر بالمعروف او نهي عن المنکر سره عملي کوي، يعنی د هر ډول شر او فساد سره به کلکه مبارزه کړي او ټولنه به د مفسدينو نه پاکوي او ځای بې په اصلاح، عدالت او خلکو ته د هوسا ژوند په خدمتونو باندې ډکوي.

هو؛ درنـدو عز بزانو! د مظلوم سـره د الله تعالى د مرسـتې ژونـدي مثالونه او بيلګې په اوسـني عصـر کې د افغانسـتان مومن او مظلوم ولس سـره هغه لويې مرسـتې دي چې دا مجاهد ولس الله تعالى ور باندې ونازا وه، لمړۍ د شـلمې ميلادي پيړۍ په وروسـتيو لسـيزو کې او بيا د يو يشـتمې ميلادي پيړۍ په لمړيو لسـيزو کې چې هغه دواړه د هجري قمري تار يخ د پنځلسمې پيړۍ لمړي نيمايي سره سمون خوري او د هجري شمسي تار يخ د څوار لسـمې پيړۍ پای سـره برابر دي؛ هو! الله تعالى د افغان مظلوم او مجاهـد ولس د دوه لو يو ښـکيلاک کړو امپراتور يو پر وړانـدې بر يا تـه ورسـا وه، او لويې فتحې يې د روسـې شـوروي اتحاد ټرون سـينتو او بيا د متحـده ولايـاتو امريکا ټرون نيتو لـو يو لښـکرو فوزي يرغـل پر وړانـدې فتحه او لو يه بر يا ور په برخه کړې، او دا دئ اوس الحمد لله افغانانو د خپل هيواد آزادي او اسـتقلال بيرتـه لاس تـه راوړې دئ، نو دعـا کړو چې الله تعالى ده دا ازادي او خپلواکي د افغانستان مسلمان او متحد ولس ته د اتحاد، وروری، عدالت، برابری او د ترقی سره يوځای تل پاتې وګرځوي، او الله تعالى ده دا مظلوم ولس نور د هر ډول فتنو نه په خپل فضـل او رحمت سـره خوندي او سـرلوړی او ښـاد سـوی وسـاتي.آمين يا رب العالمين.

{الله د هغو پيغمبرانو مرسـته وکړه چې امتونويې دروغژن و بلل}

او په ور پسـې مبارکو آيتونو کې رسـول الله ﷺ ته الله تعالى چې کله دئ د خپل قوم قر يشـو کافرانو کلک وزورا وه؛ د اطمئينـان اوډاډ په مقصد د پخوانيو پيغمبرانو قصې کړې دي، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَثَمُودُ ﴿٤٢﴾ وَقَوْمُ إِبْرَٰهِيمَ وَقَوْمُ لُوطٍ ﴿٤٣﴾ وَأَصْحَٰبُ مَدْيَنَ ۖ وَكُذِّبَ مُوسَىٰ ۖ فَأَمْلَيْتُ لِلْكَٰفِرِينَ ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٤﴾ فَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ

أَهۡلَكۡنَٰهَا وَهِيَ ظَالِمَةٞ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَبِئۡرٖ مُّعَطَّلَةٖ وَقَصۡرٖ مَّشِيدٍ ٤٥ أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَتَكُونَ لَهُمۡ قُلُوبٞ يَعۡقِلُونَ بِهَآ أَوۡ ءَاذَانٞ يَسۡمَعُونَ بِهَاۖ فَإِنَّهَا لَا تَعۡمَى ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَلَٰكِن تَعۡمَى ٱلۡقُلُوبُ ٱلَّتِي فِي ٱلصُّدُورِ ٤٦ وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلۡعَذَابِ وَلَن يُخۡلِفَ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥۚ وَإِنَّ يَوۡمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلۡفِ سَنَةٖ مِّمَّا تَعُدُّونَ ٤٧ وَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ أَمۡلَيۡتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٞ ثُمَّ أَخَذۡتُهَا وَإِلَيَّ ٱلۡمَصِيرُ ٤٨

[٤٢-٤٤] هو؛ ای پیغمبره! که چیري ته ده خپل قوم قر یشو دروغژن و بللې، نو د پخوانیو پیغمبرانو ولسونو، لکه د نوح، عاد، ثمود قامونو او د ابراهیم او لوط قامونو؛ دوی ټول دروغژن وګڼل او د دوی پیغمبري یې ونه منله، او د مدین خلکو [خپل پیغمبر شعیب علیه السلام تکذیب که او هغه یې دروغژن وګانه] او موسی یې هم دروغژن وګانه [یعنی موسی علیه السلام فرعون او د هغه قوم تکذیب که] نو بیا کافرانو ته ما وخت ورکه [یعنی سزا ورکول دوی ته وزنډول سول، نو بیا چې کله د زنډ نیټه پوره سوه، نو بیا دوی ما کلک راونیول] او سزا مو ورکړه، نو وګورئ چې د دوی د کفر رټل او د زما سزا ورکول څنګه ول؟ یعنی دا چې دغه سزا ورکول کافرانو ته ډیره سخته سزا وه، ځکه د دغو کافرانو ر ینبې نورې الله تعالی بیخي وایستلې.

[٤٥] او نور ډیر داسې کلي سته چې اوسیدونکي یې مونږ هلاک کړل، ځکه دوی کافران ول او پیغمبران یې ونه منل، او دا دئ اوس د هغوی کلي او برجونه او لوي لوی څرلي کنډواله سوی دي او د ابو کو یان یا څاه وې یې وچې سوې دي.

[٤٦] [نو آیا دا د مکې کافران چې خپل پیغمبر نه مني او هغه دروغژن بولي] په ځمکه کې نه ګرځي، ترڅو د تیرو هلاک سوو ولسونو د حال نه خبر سي؟ نو که دوی زړونه لري سه ژور فکر ده وکړي [ترڅویې زړونه را ویښ سي او عقلونه یې سرته راسي؟] او که غوږونه لري [نو په خپلو غوږو ده د تیرو ولسونو قصې واوري] نو یقینا چې د دوی سترګې ړندې

ندي، خو د دوی هغه زړونه چې په سینو کې دي؛ هغه ړانده دي او حق لیدلای نسي.

[٤٧] او ای پیغمبره! د مکې کافران د ډیرې ناپوهۍ نه تلوار لري چې دوی ته ده هغه عذاب ژر راسي چې ور باندې کواښل کیږي! هو! الله هیڅ کله وعده خلافي نکړی [یعنی دا عذاب دوی ته هرومرو راتلونکئ دئ] او د الله عذاب یوه ورځ په آخرت کې ستاسې د دنیا ورځو په حساب، لکه یو زر کاله ده، یعنی د الله عذاب په آخرت کې د ژوند عذاب نه ډیر دروند او سخت کړونکئ دئ.

قدرمنو دوستانو! دا چې یوه ورځ د الله تعالی په شمیر یا حساب کې د بنده ګانو شمیر په پرتله د یو زر کلونو سره برابره ده؛ معنایې داده چې د دنیا او د آخرت ورځې سره برابرې ندي، ځکه په دنیا کې شپه او ورځ د ځمکې او اسمان څرخیدلو کښت باندې شمیرل کیږي او دا کښت په شپه او ورځ کې څلور و یشت (٢٤) ساعته دئ، او د آخرت شپه او ورځ هغسې نده او هر څه هلته بدل دي، نو د الله تعالی د دې بیان نه مقصد دا دئ چې د الله عذاب خاماخا را تلونکئ دئ، نو تلوار پکې پکار ندئ او په زندیدو کې یې د کافرانو ګته ده، ترڅو دوی ژور فکر وکړي او ایمان راوړي او خپل ځانو نه د الله سخت عذاب نه وساتي، نو ځکه الله تعالی په ور پسې مبارك آیت کې کافرانو ته د عذاب په راتګ باندې، لکه پخوانیو سرکښو امتونو ته چې د څه زنډ نه وروسته راغئ؛ ټینګار کړئ دئ، او په بیان کې یې فرمایلي دي:

[٤٨] او د پخوانیو کلیو څومره ډیرو خلکو ته چې کافران ول؛ مونږ مهلت ورکه [یعنی د عذاب راتګ پر دوی باندې مونږ وزنډا وه] خو بیا وروسته دوی مونږ را ونیول، او د دوی ټولو بیرته راتګ مونږ ته دئ، یعنی بیا به الله تعالی هر چا ته د هغه د کفر او د بدو کړنو سزا ورکړي.

قدرمنو عزیزانو! کافران او سرکښه ګناه ګاران باید هیڅ کله داسې فکر ونکړي چې دوی به د الله عذاب نه خلاص سي؛ بلکې دوی ټول الله

تعالى هرومرو رانيسي او كلكه سزا وركوي.

{د اسلام پيغمبر محمد ﷺ تولو خلكو ته د الله استازئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى رسول الله ﷺ ته لارښودنه او حكم كړئ دئ چې خلكو ته اعلان وكړي او ورته ووايي چې دئ دوى ته ښه څرګند او ښكاره ګواښونكئ پيغمبر را ليږل سوئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَآ أَنَا۠ لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٤٩﴾ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿٥٠﴾ وَٱلَّذِينَ سَعَوْ فِىٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴿٥١﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ وَلَا نَبِىٍّ إِلَّآ إِذَا تَمَنَّىٰٓ أَلْقَى ٱلشَّيْطَٰنُ فِىٓ أُمْنِيَّتِهِۦ فَيَنسَخُ ٱللَّهُ مَا يُلْقِى ٱلشَّيْطَٰنُ ثُمَّ يُحْكِمُ ٱللَّهُ ءَايَٰتِهِۦ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٢﴾ لِّيَجْعَلَ مَا يُلْقِى ٱلشَّيْطَٰنُ فِتْنَةً لِّلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَفِى شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٣﴾ وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُواْ بِهِۦ فَتُخْبِتَ لَهُۥ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٤﴾﴾

[٤٩-٥١] اى پيغمبره! [ته خلكو ته اعلان وكړه او ورته] ووايه: اى خلكو! يقيناچې زه تاسې ته ښكاره ګواښونكئ يم [يعنى زه الله تعالى تاسې ته استازئ را ليږلئ يم، ترڅو تاسې ايمان راوړو ته راو بولم او تاسې د الله هغې ورځې سزا او عذاب نه وو يروم؛ چې هغه يې كافرانو ته برابر كړئ دئ] نو هغو كسانو چې ايمان راوړ او ښه كارو نه يې وكړل [يعنى د الله تعالى حكمونه يې پرځاى كړل] د دوى ثواب د ګناهونو بښنه او په جنت كې عزتمن ژوند دئ، او هغو كسانو چې منډې وهلې او هلې ځلې يې كړې، ترڅو دوى د زما كتاب په آيتونو باندې زورور سي [يعنى په تكذيب او دروغ بللو باندې يې؛ هغه بې اعتباره كړي] او دوى دوزخيان دي.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى فرمايلي دي چې شيطان د پيغمبرانو په خبرو کې وسوسې اچوي، خو الله تعالى هغه شندوي او خپل حکمونه کلکوي، او فرمايلي دي:

[٥٢] ای پیغمبره! او د ستا نه پخوا مونږ هیڅ پیغمبر ندئ را لیږلئ او نه هیڅ چا ته مونږ د نبوت الهام کړئ دئ؛ مګر داچې کله هغه د الله نه ورته وحیه سوې خبرې لوستې دي؛ شیطان ورته په مغزو کې وسوسه اچولې ده او دئ يې شکمن کړئ دئ، نو بیا د شیطان را اچول سوې وسوسې؛ الله لرې کړې دي او خپل هغه آیتونه يې چې پیغمبرانو ته وحیه کړي دي؛ هغه يې کلک کړي دي، او الله ښه پوه او لوی حکیم پالونکئ ذات دئ، یعنی د الله تعالى ټولې کړنې او و يناوې په پوره پوهه او په غوره تدبیر او پاخه حکمت سره ترسره کیږي.

[٥٣] [او د شیطان دغسې وسوسې او سودا اچول د پیغمبرانو په زړونو کې د دې لپاره وي] ترڅو ور باندې الله هغه کسان وازمايي چې په زړونو کې يې د شك او نفاق ناروغي ده، او هم په دغو وسوسو سره کافران وازمايي، ځکه د هغوی زړونه کلک دي او حق نه ورننوځي، او یقینا چې ظالمانو [پر حق باندې تیرئ کړئ دئ او هغه نه منی ځکه] دوی د حق سره په اوږده دښمنۍ کې ښکیل دي، یعنی د حق او باطل اوږده دښمني تل پاتې ده او همداسې به تر قیامته ادامه مومي.

[٥٤] [او د شیطان د دغسې وسوسو او شکونو چې هغه يې د پیغمبرانو په زړونو کې اچول؛ بل مقصد دا ؤ چې] ترڅو هغه کسان چې علم او پوهه ورکړل سوې ده پدې پوه سي چې د ستا رب نه ای پیغمبره! را نازل سوئ کتاب (قرآن) حق دئ [یعنی د شیطان وسوسې په هغه کې ځای نلري] نو بیا ښایي چې کافران ور باندې ایمان راوړي او زړونه يې ورته په تواضع سره تسلیم سي، او یقینا هغو کسانو چې ایمان راوړ؛ دوی الله سمې لارې ته هدایت کوي او په هغه باندې يې بیاي.

ګرانو دوستانو! د دغو مبارکو آیتونو په اړوند چې پیل يې (٥٢) آیت

دئ؛ د غرانيقو په نامه مشهوره قصه روايت سوې ده او پکې د مشرکانو غټ غټ بتان: (لات، منات او عزا) ستايل سوي دي او دا روايت د النجم سورې (١٩-٢٠) آيتونو په تفسير کې ياد سوئ دئ، خو د تفسير معتبرو علماوو، لکه شيخ محمد بن جرير طبري، اسماعيل بن کثير او نورو معتبرو او منل سوو مفسرينو دغې روايتونه ندي منلي او هغه يې موضوعي او بې اعتباره روايات بللي دي، ځکه رسول الله ﷺ معصوم ؤ او تل د الله تعالى پام لاندې ؤ، او شيطان هيڅ کله د رسول الله ﷺ زړه ته د ورننوتلو لار موندلای نسوه.

{کافران تل په قران کې شکمن وي او پکې شبهې راپاروي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د قرآن پر وړاندې د کافرانو در يځ په اړه رسول الله ﷺ ته ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فِى مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغْتَةً أَوْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ ﴿٥٥﴾ ٱلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فِى جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٥٦﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا فَأُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿٥٧﴾﴾

[٥٥] [هو! ای پيغمبره!] او هغه کسان چې کافران سول [يعني د ستا پيغمبري يې ونه منله] دوی تل په قرآن کې شک کړي او هغه نه مني، ترڅو ناڅاپه پر دوی باندې قيامت راسي [يعنى داچې ترڅو بيا همداسې کافران مړه سي] او يا دوی ته د شنډې ورځې عذاب راسي، يعنى لکه د بدر ورځ او بيا په دنيا کې هلاک سي.

هو! عزتمنو دوستانو! الله تعالى پدې مبارک آيت کې د قيامت ورځ شنډه ورځ بللې ده، ځکه د هغې نه وروسته بله هغسې ورځ نسته او نه بيا بل قيامت راځي.

[٥٦] او د قيامت ورځې پاچايي يوازې د الله په واک کې وي، او په هغه ورځ الله د خلکو په منځ کې پر يکړې کړي [يعنى خپل حکمونه پرې چلوي]

نو هغو کسانو چې ایمان راوړئ وه او ښه یې کړي ول؛ دوی ته به په جنتونو کې تل پاتې نعتمونه وي.

[٥٧] او هغه کسان چې کافران سول او د زمونږ کتاب آیتونه یې دروغ و بلل؛ هغوی ته به سپکونکئ عذاب وي، یعنی کافرانو ته الله تعالی په دوزخ کې د دوی لائق کلکه سزا ورکوي.

{مهاجر ینو ته الله په جنت کې د لوړ مقام ز یري ورکړي دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې مهاجر ینو ته چې د کافرانو ظلمونو نه مهاجر سول او د خپلو کورونو او کلیو پر یښودلو ته مجبور سول؛ الله تعالی د جنت ز یرئ ورکړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ قُتِلُوٓاْ أَوۡ مَاتُواْ لَيَرۡزُقَنَّهُمُ ٱللَّهُ رِزۡقًا حَسَنٗاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ٥٨ لَيُدۡخِلَنَّهُم مُّدۡخَلٗا يَرۡضَوۡنَهُۥۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَعَلِيمٌ حَلِيمٞ ٥٩ ۞ذَٰلِكَۖ وَمَنۡ عَاقَبَ بِمِثۡلِ مَا عُوقِبَ بِهِۦ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيۡهِ لَيَنصُرَنَّهُ ٱللَّهُۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٞ ٦٠﴾

[٥٨-٥٩] او هغو کسانو [چې د کافرانو زورواکۍ او ظلم نه] د الله په لار کې هجرت وکه او د خپلو کورونو نه تیښتې ته اړ سول او بیا د دښمن سره په جګړه کې ووژل سول او یا په خپل اجل مړه سول؛ دوی ته به الله ښه روزي ورکړي، او یقینا چې الله ښه روزي ورکونکئ لوی ذات دئ، او دغه د الله لارې مهاجر ین به الله داسې ځای ته [یعنی جنت] ته ورننه باسي چې پکې خوښ وي، او یقینا چې الله ښه پوه او ښه حلیم زغمونکئ ذات دئ، یعنی د الله لارې مهاجر ین ښه پیژني او هر چا چې ګناه کړې وي؛ هغه ته ژر سزا نه ورکوي، بلکې د توبې و یستلو فرصت ورکوي.

[٦٠] [هو! هغه د الله تعالی عادل حکم دئ چې کافرانو ته سزا او مومنانو ته ثواب ورکوي، نو که بیا] د دغو مهاجر ینو نه څوک هغه کافر ته چې دئ یې زورولئ ؤ؛ هغسې سزا ورکړي چې ده ته یې ورکړې وه، خو د دې ظالم لخوا بیا پر مهاجر باندې تیرئ وسي، نو الله خامخا د مظلوم

مرسته کړي او الله ښه عفوه کونکئ او تيريدونکئ، او ښه ښونکئ ذات دئ، يعنی د خپلو بنده ګانو ګناه نه تيريږي او دوی ښي، نو ښايي مونږ مومنان همداسې خوی ولرو او د انتقام اخستلو پرځای دښمن و ښو او ورځخه تير سو او عفوه ورته وکړو، ځکه تکراري انتقام اخستل ډيرې بدې پايلې لري، لکه څنګه چې پدې مبارك آيت کې الله ګوابښ کړئ دئ.

{د الله تعالی لوی قدرتونه د هغه توحيد ځلانده ښيي دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې مونږ ته الله تعالی د خپلو لو يو قدرتونو ښې يادې کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٞ ٦١ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلۡبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ ٦٢ أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَتُصۡبِحُ ٱلۡأَرۡضُ مُخۡضَرَّةًۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٞ ٦٣ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ٦٤ أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱلۡفُلۡكَ تَجۡرِي فِي ٱلۡبَحۡرِ بِأَمۡرِهِۦ وَيُمۡسِكُ ٱلسَّمَآءَ أَن تَقَعَ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ ٦٥ وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَحۡيَاكُمۡ ثُمَّ يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيكُمۡۗ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَكَفُورٞ ٦٦﴾

[٦١] او دا ځکه [چې همدې لوی رب الله تاسې ته خپل دغسې عادل حکمونه وښودل او هغه يې تاسې ته قانون وګرځا وه، نو همدا لوی رب په حق سره معبود دئ، ځکه] يقينا چې الله شپه په ورځ کې ورننه باسي او ورځ په شپه کې [يعنی د شپې او ورځې تګ راتګ د الله په واک کې دئ] او يقينا چې الله ښه اور يدونکئ او ښه ليدونکئ ذات دئ، يعنی هيڅ شئ د الله نه پټ ندي او الله په هر څه پوه دئ.

[٦٢] او دا ځکه چې الله په حق سره معبود دئ او هغه بتان چې مشرکان يې د الله نه پرته عبادت کړي او خپل حاجتونه ورڅخه غواړي هغه ټول باطل دي، او يقينا چې الله لوړ او لوی پالونکئ څښتن دئ، يعنی نو ښايي مونږ خپل رب الله هغسې و پيژنو چې د هغه لوړ مقام سره لائق وي او بيايې په توحيد سره عبادت او بنده کې وکړو.

[٦٣] ای پيغمبره! آيا ته نه و يې چې الله د اسمان نه او به راوورولې، نو بيا ځمکه په دې او بو باندې شنه سوه، او يقينا چې الله ښه لطف کونکئ مهر بان لوی ذات دئ او د هر څه نه ښه خبر دئ، يعنی الله پر خپلو بنده ګانو ښه مهر بان دئ او د دوی د حاجتونو او اړتياوو نه خبر دئ، نو خپلې پيرزو يې پر دوی لوروي او اړتياوې يې پوره کوي.

[٦٤] او هر هغه څه چې په ځمکه او په اسمانو کې دي؛ هغه ټول د الله ملك او د واک لاندې دي، او يقينا چې الله ستايل سوئ او غني ذات دئ، يعنی الله بل چا ته محتاج او اړ ندئ.

[٦٥] ای پيغمبره! او آيا ته نه و يې؟ هر هغه څه چې په ځمکه کې دي هغه ټول يقينا تاسې ته الله تسخير کړي دي [يعنی د ستاسې لاس لاندې يې ګرځولي دي، ترڅو ورڅخه ګټه واخلی] او په سمندر کې بيړی د الله په حکم سره ګرځي او اسمان الله کلک نيولئ دئ، ترڅو پر ځمکه باندې را ونلو يړي، مګر داچې کله الله حکم او اجازه وکړي، او يقينا چې الله پرخلکو ښه مهر بان لوی ذات دئ.

[٦٦] ای خلکو! او الله هغه ذات دئ چې تاسې يې را ژوندي او پيدا کړی او بيا تاسې وفاتوي او مړه کيږی، او بيا تاسې بيرته را ژوندي کوي، خو يقينا چې انسان د الله [د دی ټولو قدرتونو او پر انسان باندې د الله تعالی پيرزو ينو نه] کلک منکر دئ، يعنی هغه نه مني او ايمان نه راوړي!

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې خپله لو يتيا او پاچايي مونږ ته ياده کړې ده، ترڅو يوازې د الله تعالی عبادت او بنده کې وکړو او د هر ډول شرك نه خپل ځانو نه کلک وساتو او د الله تعالی د

دين او شر يعت حكمونو ته غاړه كيږدو، او د مكې كافرانو غوندې نسو، لكه څنګه چې دوى د بتانو عبادت او بنده ګي وكړه او هغه يې د الله سره په خدايي كې شر يك كړل، او نه لكه د اوسني عصر بت پرستان سو چې خپل ر ينښتينئ خداى په حق سره نه پيژني او ډيريې د خپل عقل او عملي يا تجر بوي علم بنده ګي كړي، لكه نني سكولاران، حال دا چې مونږ الله تعالى يوازې خپلې بنده ګي لپاره پيدا كړي يو.

{هر امت ځانګړي شعائرلري او هرڅوک خپل شعائر پالي}

او په ور پسې مباركو آيتونوكې پيغمبرﷺ الله تعالى د هر امت ځانګړو شعائرو نه خبر كړئ دئ او په ټينګار سره يې رسول اللهﷺ ته سپارښت كړئ دئ چې ته د خپل رب توحيد ته خلك راو بوله او هيڅ څوک د اسلام شعائرو پر وړاندې چې هغه د الله تعالى حق دين سمه لار ده؛ د دعوا او سيالۍ او د هغې د مخنيوي حق نلري، او فرمايلي دي:

﴿لِّكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا هُمْ نَاسِكُوهُ ۖ فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي الْأَمْرِ ۚ وَادْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدًى مُّسْتَقِيمٍ ﴿٦٧﴾ وَإِن جَادَلُوكَ فَقُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٦٨﴾ اللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٦٩﴾ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۗ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَابٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَمَا لَيْسَ لَهُم بِهِ عِلْمٌ ۗ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴿٧١﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِ الَّذِينَ كَفَرُوا الْمُنكَرَ ۖ يَكَادُونَ يَسْطُونَ بِالَّذِينَ يَتْلُونَ عَلَيْهِمْ آيَاتِنَا ۗ قُلْ أَفَأُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكُمُ ۚ النَّارُ وَعَدَهَا اللَّهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿٧٢﴾﴾

[٦٧-٦٩] هو! ای پیغمبره! هر امت یا ولس ته مونږ د عبادت او بنده کې خپله تګ لاره ښودلې ده، نو هر څوک پر خپله لار ځي او هغه پالي، نو ای پیغمبره! کافران د ستا دین او عبادت شعائرو په څرنګوالي کې د دعوا او سیالۍ حق نلري [یعنی دا څکه چې د هر چا خپله کړن لار ده] او ته ای پیغمبره! د خپل رب الله توحید ته خلک راو بوله، څکه ته یقینا په سمه لار راوان یې، او که کافرانو د ستا سره جدال او دعوا وکړه، نو ورته ووایه: الله د ستاسې په کړنو ښه پوهیږي او د قیامت په ورځ د ستاسې په منځ کې د دین پر سر اختلاف کې پر یکړه کړي، یعنې الله د خپل حق دین پلو یانو ته ثواب او د باطل دین پلو یانو ته کلکه سزا ورکوي.

[٧٠] ای پیغمبره! او آیا ته نه پوهیږې چې الله په هر هغه څه باندې چې په ځمکه او اسمان کې دي؛ پوهیږي او هغه ټول په لوح محفوظ کې ثبت او لیکل سوي دي، او دا کار یقینا الله ته اسانه دئ.

[٧١] هو! کافران د الله نه پرته د هغو بتانو عبادت کړي چې الله هیڅ کم دلیل ور باندې ندئ رانازل کړئ او دوی هم ور باندې نه پوهیږي، او ظالمان [یعنی کافران چې پر خپلو ځانو باندې یې په کفر سره ظلم کړئ دئ] هیڅ څوک مرستندوی نلري، یعنی د کافرانو ټولې کړنې او و یناوې پرکینو او ضد باندې ولاړې دي او بل هیڅ کم دلیل او حجت نلري.

[٧٢] او هر کله چې پر کافرانو د زمونږ کتاب روښانه آیتونه ولوستل سي، نو بیا د هغو کسانو په ځیرو کې چې دوی کافران سول د کرکې او منکرتیا نښې پیژندل کیږي او لنډه وي چې پر هغو کسانو باندې چې د زمونږ آیتونه پر دوی لولي ورځیځ کړي [یعنی بر یـد پرې وکړي] نو ته ای پیغمبره! دغو کافرانو ته ووایه: آیا تاسې [د قرآن آیتونو تلاوت نه چې تاسي ورسره کرکه لري] د بل بد څه نه خبر کړم؟ هو! هغه د دوزخ اور دئ چې د کافرانو سره الله د هغه وعده کړې ده او هغه یې دوی ته تیار کړئ دئ، او هغه دوی ته ډیره بده راتلونکی ده، یعنی که کافران ایمان را نوړي او همداسې کافران مړه سي، نو د دوی ځای دوزخ دئ، او یقینا چې هغه ډیر بد ځای او غمجنه را تلونکې ده.

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې رسول الله ﷺ ته د مشرکانو سره د دعوت په باره کې ډيري ضروري لارښودنې کړې دي او ورته يې ډاډ ورکړئ دئ چې ته د کافرانو خبرو پروا مکړه، ځکه الله تعالى د قيامت په ورځ د دوی په منځ کې پر يکړه کړي، او ته ای پيغمبره! خپل دعوت د الله توحيد ته په يقين سره پر مخ يو سه.

هو! يقينا چې دغه دعوتي تګ لاره د پيغمبر ﷺ د دعوت ټولو وارثانوته په هر ځای کې؛ ډيره ارزښتناکه؛ تګ لاره ده او ښايي چې اسلام ته رابلونکي علماء او دعات ځانو نه ور باندې ښــه پوه کړي او بيا عمل پرې وکړي او خپل وخت هيڅ کله د اسلام دښمنه ډلو او هغې کسانو سره په شنډو مناقشــو، مناظرو او بحثونو کې ضــائع نکړي چې دوی د حق ســره کينه لري، بلکې خپل دعوت ده په پوره اطمئنان سره پر مخ يوسي.

{هغه بتان چې مشرکان يې خدايان بولي يو مچ پيدا کولای نسي}

او په ورپسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د مشرکانو ناحقه خدايانو په بې وسعۍ باندې ټينګار کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَٱسْتَمِعُواْ لَهُۥٓ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخْلُقُواْ ذُبَابًا وَلَوِ ٱجْتَمَعُواْ لَهُۥ ۖ وَإِن يَسْلُبْهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ۚ ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ وَٱلْمَطْلُوبُ ﴿٧٣﴾ مَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِۦٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِىٌّ عَزِيزٌ ﴿٧٤﴾ ٱللَّهُ يَصْطَفِى مِنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا وَمِنَ ٱلنَّاسِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ ﴿٧٥﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴿٧٦﴾﴾

[۷۳-۷٤] ای خلکو! دا يوه بيلکه او مثال دئ چې تاسې ته بيان سوئ دئ، نو ورته ښــه غوږ و باسی! او يقينا هغه کســان چې [د ښــو خلکو په ځيرو کې جوړ ســوي بتان دي] او تاســې دوی د الله نه پرته غواړی او عبادت يې کړی؛ هغوی که ټول ســره يوځای ســي؛ يو مچ هم پيدا کولای نســي، او کــه دا مچ د دوی نــه څــه شــئ وتښــتوي؛ بيــا هغــه ورڅخــه

راخلاصولای نسي، نو عابد او معبود دواړه بې وسې او ضعیفه دي، یعنی مشرکان او د دوی ناحقه خدایان ټول ډیر ضعیفه دي او د هیڅ کار کړو وسعه نلري، نو د خدایي لائق ندي! او دغو کافرانو په ر یښتیا او حق سره د الله قدر ونکه او د الله لوی قدرتونه پې ونه پیژندل، او یقینا چې الله لوی ځواکمن او عزتمن څښتن دئ، نو ښایي چې قدرپې وسي او په لویي سره و پیژتدل سي.

[٧٥-٧٦] هو! الله د ملائکو او د انسانانو نه استازي غوره کوي، ترڅو دوی د الله پیغام خلکو ته ورسوی، او الله ښه اور یدونکئ او ښه لیدونکئ لوی ذات دئ، او د خپلو استازو پر وړاندي او وروسته ټول حال باندي پوهیږي او ټول کارونه او کړنې بیرته الله ته ورګرځول کیږي.

ګرانو عز یزانو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونوکې مونږ ته د عقیدې اساسي مسئلې لکه: توحید، نبوت او د قیامت په ورځ بیرته ژوند ډیر قاطع او روښانه بیان کړې دي، نو ښایي ځانونه پرې ښه پوه کړو او په کلکه عقیده او ایمان ور باندې عمل وکړو.

{اسلام د ابراهیم دین دئ او مومنان پرې یاد سوي دي}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې چې د الحج مبارکې سورې وروستي آیتونه دي؛ الله تعالی مومنان خپل عبادت او بنده ګی ته او د الله په لار کې جهاد ته رابللي دي او ز یرئ پې ورکړئ دئ چې تاسې د اسلام دین ته الله غوره کړي یاستی او اسلام د ابراهیم عليه السلام ملت او دین دئ او تاسې ابراهیم په مسلمانانو نومولي یاستی، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱرۡكَعُواْ وَٱسۡجُدُواْ وَٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمۡ وَٱفۡعَلُواْ ٱلۡخَيۡرَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٧٧ وَجَٰهِدُواْ فِي ٱللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِۦۚ هُوَ ٱجۡتَبَىٰكُمۡ وَمَا جَعَلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلدِّينِ مِنۡ حَرَجٖۚ مِّلَّةَ أَبِيكُمۡ إِبۡرَٰهِيمَۚ هُوَ سَمَّىٰكُمُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ مِن قَبۡلُ وَفِي هَٰذَا لِيَكُونَ ٱلرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيۡكُمۡ وَتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِۚ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱعۡتَصِمُواْ بِٱللَّهِ هُوَ مَوۡلَىٰكُمۡۖ فَنِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ٧٨﴾

[۷۷] ای مومنانو! رکوع او سجده وکړئ [یعنی لمنځونه وکړئ] او نېه وکړئ، ترڅو تاسې سر لوړي او بر یالي سئ.

ګرانو دوستانو! دلته دا مسئله د یادونې وړ ده چې ځینې فقهاء، لکه شافعیان اوحنبلیان د دې آیت په تلاوت سره د تلاوت سجده واجب بولي، خو په حنفي او مالکي مذهب کې بیا دلته د تلاوت سجده واجب نده او دوی وایي چې د الحج په سوره کې د تلاوت یوازې یوه سجده واجب ده چې بیان یې مخکې په(۱۸) آیت کې تیر سه.

[۷۸] ای مومنانو! او د الله په لار کې په حق سره جهاد وکړئ او د الله ټول حکمونه پرځای کړئ، ځکه الله تاسې د خپل دین او خپلې بنده ګئ لپاره غوره کړي یاستئ او الله پر تاسې باندې په دین کې درونډ پیټئ ندئ اچولي [یعنی د اسلام دین په حکمونو کې اسانتیا ده او سختي پکې نسته] او دا دین ستاسې د پلار ابراهیم دین دئ [یعنی هغه په توحید سره د الله پیژندلو او عبادت لار ده] او ابراهیم تاسې د پخوا نه په اسماني کتابونو کې مسلمانان نومولي یاستئ او پدې کتاب قرآن کې هم تاسې ته مسلمانان و یل سوي دي، ترڅو پیغمبر در باندې شاهد وي چې د الله دین یې تاسې ته رسولئ دئ، او تاسې به ای مومنانو! پر نورو ولسونو باندې شاهدان وئ چې د دوی پیغمبرانو د الله دین ورته رسولئ دئ! نو ای مسلمانانو! لمونځ ودروئ او زکات ورکړئ او د الله په دین باندې خپلې منکلې کلکې کړئ، ځکه الله د ستاسې پالونکئ او مرستندوي لوی ځښتن دئ.

قدرمنو وروڼو، او خو یندو! الله تعالی د الحج سورې په وروستیو مبارکو آیتونو کې مومنانو ته سپارښت کړئ دئ چې د خپل رب الله عبادت او بنده ګي وکړي او د الله رضا او خوښوئ لپاره جهاد وکړي او خپل ځانونه په حق سره د الله حکمونو ته تسلیم کړي، او پدې پوه سي چې په دین کې ستونزې نسته او د اسلام ټول حکمونه اسانه دي، او دا دین د ابراهیمعليه السلام دین دئ چې خپل بت پرست قوم یې؛ یوازې د الله بنده ګئ او توحیدي عبادت ته را و باله، نو تاسې ای مسلمانانو! د خپل پلار ابراهیم عليه السلامپه ملت او دین باندې چې تاسې یې مسلمانان نومولي یاستئ لار سئ،

ترڅو د قيامت په ورځ لوی افتخار او و يارِ د ستاسې په برخه سي او تاسې پر نورو امتونو شاهدان وی، او خاتم النبين والمرسلين محمد ﷺ به پر تاسې باندې شاهد وي، ځکه چې هغه د الله دين تاسې ته رسولۍ دئ، نو ای مومنانو د خپل رب په دين باندي کلک سی، ترڅو د الله ملتيا او مرسته د ستاسې په برخه سي او په دنيا او آخرت کې سر لوړي او ښاد سی او د الله تعالی لوی ثوابونه چې جنتونه دي وګټی.

ګرانو عز يزانو! يقينا چې دا سپارښتنې ډيرې ارزښتناکه سپارښتنې او لوی پيغام دئ چې مونږ مسلمانانو الله تعالی ور باندې نازولی يو، نو ښايي چې هر مومن بنده خپل ځان دغسې لوړ مقام ته ورسوي، ترڅو د قيامت په ورځ د الله تعالی په حضور کې سر لوړئ او سپين مخ ودر يږي!

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

❁❁❁

﴿د المومنون سورې پښتو معنا اولنډ تفسير﴾

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

الحمد لله الذي أفلح المؤمنين الذين هم في صلاتهم خاشعون والذين هم عن اللغو معرضون، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين المبعوث رحمة للعالمين وعلى آله وأصحابه وعلى من دعا بدعوته إلى يوم الدين، اللهم احشرنا معهم بواسع رحمتك يا أرحم الراحمين. آمين يارب العالمين!

{د المومنون سورې لنډه معرفي اولوړ مقصدونه}

قدرمنو دوستانو! د المومنون مبارکه سوره مکي سوره ده، او په پيل کې مومنان الله تعالى ستايلي دي او د دوى د ستاينې غوره صفتونه، ځانګړتياوې او خو يونه يې ياد کړي او بيان کړي دي، او يقينا چې دا ستاينه مومنانو ته د ثوابونو ز يرئ دئ او نورو ټولو مسلمانانو ته لوى تشو يق او د الله په حکمونو باندې عمل کړو او ټينګښت ته هڅول دي،

او بيا الله تعالى د لمړي انسان آدم عليه السلام او د هغه کهول پيدايښت څرنګوالئ چې هغه د الله تعالى لوى قدرت ځلانده نښه ده؛ ياد کړئ دئ، او بيايې د ټولو خلکو وفات او مړ ينه، او وروسته يې بيا د قيامت په ورځ د مړو بيرته راژوندي کيدل مونږ ته ياد کړي او بيان کړي دي، او بيا الله تعالى پدې مبارکه سوره کې همداسې خپل نور لوى قدرتونه په ځمکه او اسمانو کې ياد کړې دي، ترڅو ټول خلک خپل رب ښه و پيژني او د شرک او کفر نه لاس واخلي او د هغو مومنانو په ليکه يا قطار کې ودر يږي چې صفتونه يې د دې مبارکې سورې په پيل کې بيان سوي دي، او د قيامت په ورځ د فردوس جنت وارثان سي، او بيا د ځينو پخوانيو پيغمبرانو قصې خپلو سرکښو ولسونو سره د عبرت اخستلو په مقصد الله تعالى مونږ ته يادې کړې دي، او په پيل کې يې فرمايلي دي:

{الله تعالى مومنان په ډيرو ښکلو صفتونو ستايلي دي}

﴿قَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ١ ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي صَلَاتِهِمۡ خَٰشِعُونَ ٢ وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَنِ ٱللَّغۡوِ مُعۡرِضُونَ ٣ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِلزَّكَوٰةِ فَٰعِلُونَ ٤ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِفُرُوجِهِمۡ حَٰفِظُونَ ٥ إِلَّا عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَإِنَّهُمۡ غَيۡرُ مَلُومِينَ ٦ فَمَنِ ٱبۡتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡعَادُونَ ٧ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِأَمَٰنَٰتِهِمۡ وَعَهۡدِهِمۡ رَٰعُونَ ٨ وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَوَٰتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ٩ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡوَٰرِثُونَ ١٠ ٱلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلۡفِرۡدَوۡسَ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ١١﴾

[۱] هو! يقينا چې مومنان بر يالي سول، يعنى د خپل رب الله پر ورلاندې لوړ مقام ته ورسيدل او سرلوړي سول.

[۲] [ځکه] مومنان هغه کسان دي چې په خپلو لمنځونو کې په خشوع او زارۍ کې دي، يعنى زړونه او د بدن ټول غړي يې په لمانځه کې د الله و يرې نه ارام دي، يعنى هيڅ نه ښور يږي او بلې خوا ته يې پام نه اوړي.

[٣-٤] او مومنان هغه کسان دي چې د بې ګټې کړنو او و ینا و نه خپل مخونه اړوي، او خپل ځانونه او مالونه د زکات په ورکولو سره پاکوي.

[٥-٧] او مومنان هغه کســان دي چې خپل ځانونه د ناروا او حرامو جنسي اړ یکونه ساتي، او هغه نار ینه یوازې د خپلې میرمنې سره او ښځه د خپل میړه سره ترسره کوي، او یا نار ینه خپله جنسي غر یزه او شهوت د خپلې مینځې ســره تر ســره کوي، او په دغــې جنســي اړ یکو دوی نه ملامتیږي [یعنی دا چې هغه ورته روا دي] خو څوک چې د روا لارې نه پرته د بلې لارې نـه دا کار وغواړي، نو بیـا هغوی تیرئ کونکي دي، یعنی د اللـه حلالو او حرامو پر پولو باندې یې تیرئ کړئ دئ.

[٨] هو! او مومنان هغه کســان دي چې خپل امانتونه او ټرونونه په پام کې نیسي او پکې خیانت نکړي.

[٩] او هم مومنـان د خپلو لمنځونو ســاتونکي دي، او لمنځونـه پـه خپلو وختونو کې کړي، یعنی د لمانځه په کړو کې بې پروایي او تنبلي نکړي.

[١٠-١١] نو ځکـه دغـه مومنـان د جنتونو وارثـان او وړونکي دي، او مومنان هغه کسـان دي چې د فردوس جنت په میراث وړي او هلته به پکې تل اوسیږي، یعنی دا چې الله تعالی مومنانو ته په آخرت کې دغه لوی انعام ور په برخه کوي او دوی پکې په اوسیدلو سره خوښوي.

درندو دوسـتانو! دا دي د مومنانو غوره صـفتونه او خو یونه چې الله تعالی ور باندې په دغـې اوږد بیان سـره کلک سـپارښـت کړئ دئ، نو هر مومن بنده ته چې په دنیا او آخرت کې د بر یا او نیکمرغۍ هیله لري؛ ښایې چې په دغـې قرآني سپارښت باندې تینګ سي او فلاح او بر یا خپله کړي.

او دا یادونه دلته اړ ینه بولم چې د مینځو سـره د کورداری یادونه چې د دې مبارکو آیتونو په ترڅ کې ســوې ده؛ ســبب او عـامل یې دا ؤ چې دا نظام د محمد ﷺ د پیغمبرۍ په وخت کې په ټوله نړۍ کې دودیز خور ؤ او هغه یو منل سوئ نظام ګرځیدلئ ؤ، نو ځکه یې ځانګړي حکمونه مونږ ته الله تعالې بیان کړي دي، خو په څنګ کې یې الله تعالی د مر یانو او

مینځو پر ازادۍ د ډیرو لارونه هم کلک سپارښت کړئ دئ، او دا نړۍ وال دود سلهاوو کاله نور هم همداسې پاتې ؤ، ترڅو چې الحمد لله د شلمې پیړۍ په نیمایي کې د غلامۍ یا مر یتوب نظام نور په نړۍ والې کچه لغوه اعلان سه او بشر یت نور د دغسې خواړۍ نه خلاص سه، خو د بده مرغه ورسره یوځای سوسیالستۍ او د ازاد بازار پانګه وال صنعتي اقتصادي نظامونو نړۍ په خپل منځ کې سره تقسیم او وو یشله، نو د غلامۍ او مر یتوب نوئ نظام د ازادۍ په بنه کې حاکم سه او هغې پسې وروسته بیا په ډیرو اسلامي هیوادونو کې ولسي نهضتونه د اسلامي اقتصاد او د ټول بشر یت حقیقي او ر یښتیني ازادۍ او عدالت غوښتنکي سول، خو تر اوسه دغسې هڅې د بهرنیو او کورنیو توطئیو او جګړو اور په بلولو سره په ځینو اسلامي هیوادونو کې؛ بشر یت همداسې په محرومیت کې شپې او ورځې شمیري او خپل مقصد ته چې هغه حقیقي ازادي ده لا ندئ رسیدلئ او ټول مدني حقوق یې د پښو لاندې دي!

{د آدم علیه السلام پیدایښت څرنګوالئ دالله قدرتونو معجزه ده}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی چې د زمونږ خالق او پالونکئ ځښتن دئ؛ د آدم علیه السلام او د هغه کهول پیدایښت پیل لوی حقیقت یې را ته په مخ کې ایښئ دئ، او بیایې د زمونږ راتلونکې را ته بیان کړې ده، ترڅو خپل ځان هیر نکړو او د خپل لوی رب الله نه غافل نسو، او فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن طِينٖ ١٢ ثُمَّ جَعَلۡنَٰهُ نُطۡفَةٗ فِي قَرَارٖ مَّكِينٖ ١٣ ثُمَّ خَلَقۡنَا ٱلنُّطۡفَةَ عَلَقَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡعَلَقَةَ مُضۡغَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡمُضۡغَةَ عِظَٰمٗا فَكَسَوۡنَا ٱلۡعِظَٰمَ لَحۡمٗا ثُمَّ أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا ءَاخَرَۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ ١٤ ثُمَّ إِنَّكُم بَعۡدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ ١٥ ثُمَّ إِنَّكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ تُبۡعَثُونَ ١٦﴾

[۱۲] او یقینا چې لمړئ انسان (آدم علیه السلام) مونږ د چې سوې خټې نه پیدا که، یعنی آدم علیه السلام الله تعالی د خټې نه جوړ که او بیایې ساه پکې پوه کړه او

پکې وی چلوله، او بیاېې د آدام پوښتې نه د هغه ملګرې (حوا) پیدا کړه او بیا دوی دواړه سره میړه او میرمن سول، او بیا د دوی د ګډو او بو (مني) نه چې سره غوټه سوې ښویې او به دي د دوی کهول پیدا سه.

[۱۳-۱٤] او بیا دا ګډې او به مونږ د ښځې په رحم کې سره ګډه نطفه وګرځوله او کلکه یکې ځای په ځای ســوه، یعنی دا ګډه نطفه په ډاډمن ځای کې چې د ښــځې رحم او د جنین کځوړه ده؛ ځای پرځای ســوه، نو د انسان کهول پیدایښت اصلي ماده همدغه ګډه نطفه ده چې د نار ینه او ښځې ګډې مني نه جوړه سوې ده او ماشوم ورځخه پیدا کیږي، او بیا دا نطفه مونږ ټینګه اینه کړه، نو بیا د هغې نه مونږ جو یل ســوې غوښــه جوړه کړه، او دا جو یل سوې غوښه مونږ اډوکۍ کړه، نو بیا اډوکۍ مونږ په غوښــه پټ که، او بیا د هغه نه مونږ بل جوړ سوئ کالبوت تیارکه [نو بیا ساه پکې وچلیدله] او د هغه نه مونږ بل مخلوق پیدا که، نو یقینا چې الله ډیر غوره پیدا کونکۍ لوی ذات دئ، یعنی داسې ښکلئ او ښایسته انسان یې پیدا کړئ دئ چې بل هیڅ مخلوق ورته نه رسیږي، ځکه انسان الله پر ټولو مخلوقاتو باندې لوړ کړئ دئ او لوی عزت یې ورکړئ دئ.

قدرمنو دوســتانو! د رســول الله ﷺ نه په صــحي حدیث کې روایت سوئ دئ چې د انسان پیدایښت د نار ینه او ښځې ګډې نطفې (مني) نه په در یووو پړاوونو باندې تیریږي او هر پړاویې څلو یښت ورځې وي، ترڅو چې د پوره انسان جوړې سوې څیرې ته ورسیږي، او بیا یکې الله تعالی روح یا ساه چلوي او هغه یکې پوکوي او د انســان لمړنئ جوړ ســوئ کالبوت په خوزښت راځي او د خپلې مور اینې نه د خپلې برخې خوړو باندې را لو یږي او وده کړي، او بیا نه میاشتې وروسته ز یږ یږي او د دنیا ژوند ته راوځي.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د دنیا ژوند نه د انسان تک او مړ ینه، او بیا د قیامت په ورځ بیرته راژوندي کیدو بیان کې فرمایلي دي:

[۱۵-۱٦] او بیا تاسې ای خلکو! د دنیا ژوند نه وروسته مړه کیږئ او د مړ ینې نه وروســته بیا د قیامت په ورځ بیرته حســاب ورکولو او د ثواب او ســزا لپاره د ګوورونو نه را جګول کیږئ، یعنی بیرته را ژوندي کیږئ او د حشر لوی ډګر یا میدان ته راغونډیږئ.

{د الله قدرتونه په ځمکه او اسمانو کې خلکو ته نعمت دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی خپل خواره واره نعمتونه په ځمکه او اسمانو کې مونږ ته یاد کړي دي، ترڅویې شکر و باسو او مننه یې وکړو، او فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَآئِقَ وَمَا كُنَّا عَنِ ٱلْخَلْقِ غَٰفِلِينَ ﴿١٧﴾ وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَأَسْكَنَّٰهُ فِى ٱلْأَرْضِ ۖ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍۭ بِهِۦ لَقَٰدِرُونَ ﴿١٨﴾ فَأَنشَأْنَا لَكُم بِهِۦ جَنَّٰتٍ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَٰبٍ لَّكُمْ فِيهَا فَوَٰكِهُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿١٩﴾ وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِن طُورِ سَيْنَآءَ تَنۢبُتُ بِٱلدُّهْنِ وَصِبْغٍ ﴿٢٠﴾ وَإِنَّ لَكُمْ فِى ٱلْأَنْعَٰمِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِى بُطُونِهَا وَلَكُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٢١﴾ وَعَلَيْهَا وَعَلَى ٱلْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴿٢٢﴾﴾

[١٧] ای خلکو! او د ستاسې په سر باندې اوؤ اسمانونه د یو بل پر سر مونږ پیدا کړي دي او د زمونږ پام د دوی نه هیڅ کله بل پلو ته نه اوړي، یعنی دوی مونږ نه هیروو، نو ښایي هیڅ څوک د الله څار نه غافل او بې پروا نسي، او ښایي باور ولري چې دئ تل د الله تعالی څار لاندې دئ، او د هغه ټولې کړنې او و یناوې د الله سره ساتل کیږي او بیا د ښو کړنو ثواب او د بدو کړنو سزا ورکوي.

[١٨] او او به مونږ د اسمان نه په اندازه راوورولې دي او هغه په ځمکه کې مونږ ډنډ کړي دي، او مونږ کولای سو چې دا د ځمکې په زړه کې دمه سوې او به له منځه یو سو، یعنی دا چې الله تعالی لوی قادر ذات دئ او څنګه چې وغواړي هغسې کړلای سي.

[١٩] او بیا تاسې ته ای خلکو! مونږ په او بو باندې د کجورو یا خرماوو او د انګورو باغونه راشنه کړل چې پکې ډیرې میوې دي او د دغو باغونو میوې تاسې خوری.

[٢٠] [او په او بو باندې مونږ د ز یتون ونه راشنه کړه] چې هغه د

سینا ډاک د طور پر غونډکیو یا غرونو کې راشنه کیږي او هغه خوړونکو ته په غوړ یو رنګ سوي خواړه دي.

[۲۱] او ای خلکو! تاسي ته په څارو یو کې د زدکړي او د پند اخستلو ډیرې ګټې دي، او د څارو یو نس شودې تاسې ته مونږ درڅکو او غوښې پې تاسی خوری او نورې ډیرې ګټې هم تاسې ته په څارو یو کې سته.

[۲۲] او ای خلکو! تاسې پر څارو یو باندي او په بیړیو کې سپریږی، یعنی هغه تاسې ته ای خلکو په مزلونو کې د سپرلی او د کډو وړلو ډیر ښه [نقلیه] وسائل دي.

ګرانو دوستانو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونو کې مونږ ته خپلې هغه ورکړې او پیرزو یې را یادې کړي دي چې د زمونږ ژوند په دنیا کې ور باندې رغیدلئ دئ، نو ښایي چې خپل رب ښه و پیژنو او د هغه د لو یو نعمتونو شکر و باسو او یوازې د الله تعالی بنده کې او عبادت وکړو او د هر ډول شرك نه ډ ډه وکړو او خپل ځانو نه ورڅخه کلک وساتو.

{لمړي پیغمبر نوح علیه السلام خپل قوم یوازې د الله عبادت ته راو باله}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د نوح علیه السلام قصه چې لمړئ پیغمبر ؤ؛ یاده کړي ده، ترڅو هغه محمد ﷺ د اسلام پیغمبر ته او د هغه دین وارثانو دعاتو ته د صبر او زغم لارښود وي، او فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ٢٣ فَقَالَ ٱلۡمَلَؤُاْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُرِيدُ أَن يَتَفَضَّلَ عَلَيۡكُمۡۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةٗ مَّا سَمِعۡنَا بِهَٰذَا فِيٓ ءَابَآئِنَا ٱلۡأَوَّلِينَ ٢٤ إِنۡ هُوَ إِلَّا رَجُلُۢ بِهِۦ جِنَّةٞ فَتَرَبَّصُواْ بِهِۦ حَتَّىٰ حِينٖ ٢٥ قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي بِمَا كَذَّبُونِ ٢٦ فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡهِ أَنِ ٱصۡنَعِ ٱلۡفُلۡكَ بِأَعۡيُنِنَا وَوَحۡيِنَا فَإِذَا جَآءَ أَمۡرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ فَٱسۡلُكۡ فِيهَا مِن كُلّٖ

زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ ٱلْقَوْلُ مِنْهُمْ ۖ وَلَا تُخَٰطِبْنِى فِى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ ۖ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴿٣٧﴾ فَإِذَا ٱسْتَوَيْتَ أَنتَ وَمَن مَّعَكَ عَلَى ٱلْفُلْكِ فَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى نَجَّىٰنَا مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣٨﴾ وَقُل رَّبِّ أَنزِلْنِى مُنزَلًا مُّبَارَكًا وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْمُنزِلِينَ ﴿٣٩﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ وَإِن كُنَّا لَمُبْتَلِينَ ﴿٣٠﴾

[٢٣] [ای پیغمبره! د ستا او نورو ډیرو پیغمبرانو نه وړاندې] مونږ نوح د هغه قوم ته په یقین سره استازئ را ولیږه، نو بیا نوح خپل قوم ته په خبرو کې وو یل: ای د زما عز یزانو! یوازې د الله عبادت وکړئ [یعنی الله ته د بنده ګی سرونه ټیټ کړئ] ځکه تاسې د الله نه پرته بل په حق سره معبود نلرئ، نو آیا تاسې د الله سزا نه خپل ځانونه په اطاعت سره نه ساتئ؟ یعنی د الله عذاب نه وو یر یږئ او خپل ځانونه ورځخه وساتئ!

[٢٤-٢٥] نو بیا د نوح قوم مشرانو نه هغو کسانو چې کافران سول وو یل: دا نوح خو د ستاسې غوندې یو سړئ دئ او غواړي چې پر تاسې باندې ځان لوړ کړي [یعنی ځان در باندې مشر کړي] او که الله غوښتي وای [چې پیغمبر را ولیږي] نو ملائکې بې را کوزې کړې وې، او مونږ په خپلو پخوانیو نیکونو کې د دغسې پیغمبر را لیږل ندي اور یدلي، او نوح یو سړئ دئ چې پیریانو نیولئ دئ، نو انتظار و باسئ! او تر یوه وخته پورې ورته تم سئ، یعنی ترڅو هغه روغ سي او پیریان یې خوسئ کړي!

هو؛ درندو دوستانو! د نوح عليه السلام قوم د هغه پیغمبري ونه منله او ورځخه کلک منکر سول، نو بیا نوح عليه السلام د الله تعالی نه مرسته وغوښتله او دغه لاندې دعاءیې وکړه:

[٢٦] نوح وو یل: ای لو یه ر به! د کافرانو د دغو دروغو په وړاندې [چې د زما پیغمبري یې دروغ و بلله] د زما مرسته وکړه او بر یا را کړه!

[٢٧] نو بیا نوح ته مونږ وحیه وکړه [یعنی مونږ نوح ته پټ وو یل چې ته ای نوحه!] د زمونږ سترګو او لارښودنې لاندې بیړئ جوړه کړه، نو بیا چې کله د ستا قوم هلاکت باندې د زمونږ حکم راغئ او او به د تنارہ نه په

ډير قوت ســره را وخوټيدلي، نو بيا د هر څاروي نه يو نر او يوه ښځه جوړه را واخله او په بيړۍ کې يې درسره سپاره که او خپله کورنۍ ده پرته د هغه چا نه چې د دوی د هلاکت فرمان صادر سوئ دئ [لکه د ستا میرمن او زوی] درسره سپاره که، او د هغو کسانو نجات په باره کې چې ظلم يې وکه او کافران ســول؛ د زما ســره خبرې ونکړې، ځکه هغوی خاماخا په طوفان کې ډوب بيړي، يعنی د کافرانو ډوب بيدل او هلاکت د نوح عليه السلام طوفان په او بوکې حتمي دي او دوی خاماخا په طوفان کې له منځه ځي.

[۲۸] نو بيا چې کله ته ای نوحه! او درسره سپاره کسان په بيړۍ کې ځای پر ځای سول [نو د الله نه مننه وکړه] او ووايه: الحمد لله چې مونږ ته يې د ظالم او کافر قوم نه نجات راکه.

[۲۹] [او بيا ای نوحه دعاء وکړه] او ووايه: ای د زما لو يه ر به! ته چې ډير ښه کوزونکئ يې ما په يو مبارك ځای کې کوز کړه! يعنی ای ر به! مونږ د بيړۍ نه په ډاډمن ځای کې کوز کړه.

[۳۰] هو! يقينا چې د نوح او ورســره مومنانو نجات او د کافرانو هلاکت او [د او بو طوفان کې د ډوب بيدلو] په قصــه کې د نوح او ټولو پيغمبرانو د ر ښتنوالي او صداقت لويې نښې دي، که څه هم د پيغمبرانو په را لېږلو سره خلک مونږ د سزا ورکولو نه مخکې ازمايو.

درنــدو عز يزانو! دا مبــارك آيتونــه چې پکې د نوح عليه السلام د پيغمبرۍ تصديق سوئ دئ؛ همدارنګه پکې مونږ ته لارښودنه سوې ده چې نه ښايي مومن بنــده هيڅ کلــه د اللــه تعــالی نعمتونو او لو يو پيرزوينو منې او د شکر و يستلو نه غافل او بې پروا سي، او کله چې مومن بنده په يوه نوې مينه کې ميشــت ســه، نو نوح عليه السلام ته ښــودل ســوې دغه دعاء ده وکړي او وده وايي: (رب أنزلني منزلا مباركا وأنت خير المنزلين)

{د نوح نه وروسته نورو خلکو ته هم الله پيغمبران راولېږل}

او په ور پســې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د نوح عليه السلام قوم هلاکت نه وروسته د نورو امتونو او ولسونو، لکه د هود عليه السلام قوم د پيدايښت لنډه

یادونه کړې ده چې هغوی هم بغاوت وکه، او د الله تعالی توحیدي بنده کی نه سرکښ سول او بیا دوی هم الله هلاك او تباه کړل، او فرمایلي دي:

﴿ثُمَّ أَنشَأْنَا مِنۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا ءَاخَرِينَ ﴿٣١﴾ فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ ۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣٢﴾ وَقَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِلِقَآءِ ٱلْءَاخِرَةِ وَأَتْرَفْنَٰهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يَأْكُلُ مِمَّا تَأْكُلُونَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُونَ ﴿٣٣﴾ وَلَئِنْ أَطَعْتُم بَشَرًا مِّثْلَكُمْ إِنَّكُمْ إِذًا لَّخَٰسِرُونَ ﴿٣٤﴾ أَيَعِدُكُمْ أَنَّكُمْ إِذَا مِتُّمْ وَكُنتُمْ تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَنَّكُم مُّخْرَجُونَ ﴿٣٥﴾ * هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ ﴿٣٦﴾ إِنْ هِىَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ﴿٣٧﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا وَمَا نَحْنُ لَهُۥ بِمُؤْمِنِينَ ﴿٣٨﴾ قَالَ رَبِّ ٱنصُرْنِى بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٣٩﴾ قَالَ عَمَّا قَلِيلٍ لَّيُصْبِحُنَّ نَٰدِمِينَ ﴿٤٠﴾ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّيْحَةُ بِٱلْحَقِّ فَجَعَلْنَٰهُمْ غُثَآءً ۚ فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤١﴾ ثُمَّ أَنشَأْنَا مِنۢ بَعْدِهِمْ قُرُونًا ءَاخَرِينَ ﴿٤٢﴾ مَا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَـْٔخِرُونَ ﴿٤٣﴾ ثُمَّ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا ۖ كُلَّ مَا جَآءَ أُمَّةً رَّسُولُهَا كَذَّبُوهُ ۖ فَأَتْبَعْنَا بَعْضَهُم بَعْضًا وَجَعَلْنَٰهُمْ أَحَادِيثَ ۚ فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٤٤﴾﴾

[۳۱-۳۲] او بیا د نوح قوم [هلاکت او په طوفان کې د دې بیدو نه وروسته] نور نسلونه مونږ راپیدا کړل، نو بیا دوی ته مونږ د دوی د منځ نه پیغمبر راولیږه [او بیایې پیغمبر خپل قوم ته وو یل:] د الله عبادت او بنده کې وکړی، ځکه تاسې د الله نه پرته بل په ر یښتیا سره معبود نلری، نو آیا تاسې ای خلکو! د الله سزا او عذاب نه ځانو نه نه ساتی؟ ځواب دا چې: ښایي تاسې د الله بنده کې وکړی او حکمونو ته یې غاړه کیږدی، ترڅو الله تاسې د خپلې سزا نه وساتي.

[۳۳] خو د دې پیغمبر قوم هغو مشــرانو چې کافران ســول [یعنی د

الله او پیغمبر نه منکر ســول] او د آخرت ورځې ملاقات او د الله ســره یوځای کیدل یې دروغ و بلل، او دوی هغو ډیرو نعمتونو وغلول چې هغه دوی ته د دنیا په ژوند کې مونږ ورکړي ول، نو بیا دوی وو یل: ای خلکو! دا سړئ [چې ځان ته پیغمبر وایي] د ستاسې غوندې انسان دئ او هغه څه چې تاسې خوری؛ دئ هم هغه خوري، او هغه او به چې تاسې څکی دئ هم همغه او به څکي!

[٣٤] نو که تاسې ای خلکو! چیرې د خپلو ځانو غوندې د یوه سړي اطاعت وکړی او خبره یې ومنی، نو یقینا چې تاسې ز یانمن یاستی، یعنی تاوان مو کړئ دئ.

[٣٥] او آیا دا سړی یقینا تاسې ته داسې وعده درکوی چې کله تاسې خاورې سی او اډوکي مو پاتې سي، نو بیا تاسې خامخا بیرته راو یستل کیږي او را ژوندي کیږی؟

[٣٦] هو! تاسې ته دغسې وعدې درکول خوب او خیال دئ، یعنی هیڅ کله هم هغه نه ترسره کیږي او تاسې بیرته نه راژوندي کیږی.

[٣٧] او د زمونږ ژوند؛ یوازې د دنیا ژوند دئ او پکې را پیدا کیږو او بیا مرو او بیرته نه راژوندي کیږو، یعنی د خپلو ګورونو نه بیرته نه راځکیږو! [العیاذ بالله]

[٣٨] او دا سړئ چې د پیغمبری دعوا کړي؛ هغه الله پسې دروغ وایي او مونږ په هغه باندې باور نکړو او د هغه پیغمبري نه منو!

[٣٩] [نو بیا همدې پیغمبر الله ته دعاء وکړه او و یو یل:] ای د زما لو یه څښتنه! دا چې دوی زه دروغژن و بللم، نو ته د زما مرسته وکړه او پر دوی باندې ما ته بر یا را کړه.

[٤٠] [نو بیا الله تعالی په ځواب کې خپل پیغمبر ته ډاډ ورکه] او و یو یل: ډیر ژر به دوی صباح ته پښیمانه سي!

[٤١] نو بیا ډیر ژر یوې کړندی بړ بښکی ګړزهار دوی په ر یښتیا سره راونیول، نو بیا د طوفان لاندی دوی مونږ بوس بوس کړل، او دا ظالم

(کافر) قوم د الله رحمت نه رټل سوئ هلاك او تباه سول.

ګرانو دوستانو! ډیرو مفسرینو لیکلي دي چې دغه ظالم قوم چې خپل پیغمبرې تکذیب که د هود عليه السلام قوم (عاد) ؤ، ځکه د عاد قصه په نورو سورو کې د نوح عليه السلام قصې پسې وروسته راغلې او یاده سوې ده، او د دې قصې دغه لنډیز دلته همدا تفسیر تایید وي.

او په ور پسې مبارك آیت کې همداسې الله تعالی د ځینې نورو قومونو او ولسونو قصې د خپلو پیغمبرانو سره لنډې لنډې یادې کړې دي، او فرمایلي دي:

[٤٢] او بیا د دغو هلاك سوو خلکو نه وروسته مونږ نور نسلونه راپیدا کړل، یعنی لکه د صالح، ابراهیم، لوط او د شعیب علیهم السلام قومونه چې بیان یې په نورو سورو کې راغلئ دئ.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتو کې الله تعالی د هر امت برخلیک ټاکنه په خپل ازلي علم کې یاده کړې او بیان کړې ده، او فرمایلي دئ:

[٤٣] هو! د هیڅ امت یا قوم ټاکل سوئ اجل (ټاکل سوې نیټه) ورلاندې او وروسته نکیږي، یعنی الله تعالی د خپلې ټاکل سوې پر یکړې سره سم هر هغه امت چې د الله حکمونو نه یې بغاوت کړئ دئ؛ هلاك کړئ دئ، او دا د الله تعالی تل پاتې سنت او نظام دئ چې دا دنیا ور باندې چلوي او تار یخ یې ژوند شاهد دئ، او که څوک غواړي چې د هغه واکمني اوږده سي، نو د الله تعالی قانون سره سم ده وچلیږي او د مخالفت نه دې؛ کلکه ډ ډه وکړي او خپل ځان ده د الله تعالی دښمنۍ نه وساتي.

[٤٤] او بیا پرله پسې پیغمبران مونږ را ولیږل او هر امت ته [یعنی هر ولس او قوم ته چې یې] خپل پیغمبر راغئ؛ هغه دوی دروغژن وګانه، نو بیا مونږ دوی یو بل پسې هلاك کړل او د تار یخ خبرو(قصو) برخه مو وګرځول، او هغه قوم او امت ده لرې او تباه سي چې ایمان نه راوړي او خپل رب نه پیژني، یعنی د الله تعالی اطاعت او بنده ګۍ ته نه تسلیمیږي!

{فرعون په موسی عليه السلام کبر وکه او هغه يې دروغژن و باله}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د موسی عليه السلام قصه د فرعون سره ؛ لنډه يادہ کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿ثُمَّ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ وَأَخَاهُ هَٰرُونَ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ ٤٥ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ وَكَانُواْ قَوۡمًا عَالِينَ ٤٦ فَقَالُوٓاْ أَنُؤۡمِنُ لِبَشَرَيۡنِ مِثۡلِنَا وَقَوۡمُهُمَا لَنَا عَٰبِدُونَ ٤٧ فَكَذَّبُوهُمَا فَكَانُواْ مِنَ ٱلۡمُهۡلَكِينَ ٤٨ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ لَعَلَّهُمۡ يَهۡتَدُونَ ٤٩﴾

[٤٥-٤٦] او بيا مونږ موسی او وروريې هارون د زمونږ قدرت نښو [يعنی د معجزو] او ښکاره دليلونو سره فرعون ته او ورسره مشرانو ته [پيغمبران] راولېږل، نو دوی چې زوروا کي ول او ځانو نه يې لوړ بلل؛ کبريي وکه، يعنی د موسی او هارون پيغمبرۍ نه کلک منکر سول.

[٤٧] نو بيايې وو يل: آيا مونږ په داسې دوه کسانو باندې باور وکړو او ور باندې ايمان راوړو چې دوی د زمونږ غوندي سړي دي او د دوی قوم (بني اسرائيل) د زمونږ مر يان دي؟ يعنی فرعونيانو له يوې خوا کبر پسې واخستل او له بلې خوايي ګمان کا وه چې پيغمبر ښايي د اسمان نه راکوز سوئ ملائکه وي، نه لکه موسی او هارون عليهما السلام چې سړي ول.

[٤٨] او دوی دواړه يې دروغژن و بلل، نو بيا دوی د هلاك سوو نه ول، يعنی بيا الله تعالی فرعون او د هغه لښکر په سمندر کې ډوب او هلاك کړل او ټول لمنځه لاړل.

[٤٩] او يقينا چې موسی ته مونږ خپل کتاب (تورات) ورکه، ترڅو د هغه قوم ور باندې سمې لارې ته هدايت سي، يعنی تورات د موسی قوم ته لارښود پيغام ؤ.

{عيسی عليه السلام او موريې مر يم د الله تعالی لوی قدرت نښې وې}

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالی د عيسی عليه السلام او موريې مر يم

علیها السلام د ځانګړتیا لنډ یادونه کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿وَجَعَلْنَا ٱبْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُۥٓ ءَايَةً وَءَاوَيْنَٰهُمَآ إِلَىٰ رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ ۝٥٠﴾

[۵۰] او د مر یم زوی (عیسی علیه السلام) او موریې (مر یم علیها السلام) مونږ د خپل قدرت نښه وګرځول، او دا د یوې لوړې غونډۍ په څیرمه چې هغه د اوسیدلو وړ وه او په څنګ کې د او بو چینه وه؛ مونږ میشت کړل، یعنی هغه ځای دوی ته مونږ مینه وګرځوله.

هو! درنـدو دوســتـانو! یقینـا چې مر یم علیهـا الســلام او زوی یې عیسی علیه السلام د الله تعالی د قدرتونو لوېې نښې وې، ځکه عیسی د خپلې مور مر یم نه بې پلاره پیدا سه او د هغه پیدایښت د آدم پیدایښت ته ورته ؤ، ځکه آدم علیه السلام الله تعالی بې پلاره او بې مورہ د خټې نه پیدا که.

{پیغمبر انو ته الله سپارښت کړئ دئ چې پاک خواړه وخوری}

او په ور پســې مبارکو آیتونوکې الله تعالی خپلو ټولو پیغمبرانو ته چې دوی د الله پیغام خپلو ولســونو ته ورســا وه او د خپل رب الله عبادت ته یې راو بلل؛ په پاکو خورو او په ښــو کړنو سپارښت کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُوا۟ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعْمَلُوا۟ صَٰلِحًا ۖ إِنِّى بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ۝٥١ وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَأَنَا۠ رَبُّكُمْ فَٱتَّقُونِ ۝٥٢ فَتَقَطَّعُوٓا۟ أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ زُبُرًا ۖ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ۝٥٣ فَذَرْهُمْ فِى غَمْرَتِهِمْ حَتَّىٰ حِينٍ ۝٥٤ أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُم بِهِۦ مِن مَّالٍ وَبَنِينَ ۝٥٥ نُسَارِعُ لَهُمْ فِى ٱلْخَيْرَٰتِ ۚ بَل لَّا يَشْعُرُونَ ۝٥٦﴾

[۵۱] ای پیغمبرانو! د پاکو خورو نه؛ خواړه وخوری او ښــه وکړی، او زه یقینا د ســتاســې په کړنو ښــه پوهیږم، یعنی دا چې پیغمبران، لکه نور خلک خورو ته اړ ول، ځکه دوی لکه نور خلک انسانان ول او خپلو ځانو غوندې خلکو ته را لیږل سوي ول او بشري اړتیا وې یې درلودلې، نو د دوی

انسانتوب او بشر يت د نبوت سره هيڅكله په ټكر كې نوه.

[٥٢] ای پيغمبرانو! او يقينا چې دغه د ستاسې امت او دين ټول يو امت او يو دين دئ [يعنی ټولو خلكو ته يو پيغام لري او هغه يوازې د يوه رب الله عبادت ته بلنه ده] او زه د ستاسي رب او خدای يم، نو تقوا وكړئ او د زما په اطاعت او بنده ګی سره ځانونه د الله عذاب نه كلك وساتی.

قدرمنو دوستانو! دا مبارك آيتونه د هغه لوی حقيقت څرګندوی دي چې پكې الله تعالی خپل ټول پيغمبران د يوه لوی مقصد لپاره را ليږلي دي، او هغه يوازې د الله تعالی بنده ګي او عبادت او د طاغوت بنده ګی نه ډ ډه كړل او ځان ساتنه ده، نو د ټولو پيغمبرانو دين يو دين دئ.

[٥٣] نو بيا دغو يو موټئ امتونو خپل يو والئ ټوټه ټوټه كه او ډله ډله سول او هره ډله او هر حزب په خپله هغه تګ لاره باندې چې ورسره وه خوښ او راضي وه.

او په ور پسې مبارکو آيتوتوكې الله تعالی خلك د خپل دين بنسټونو وحدت سره سره د امتونو او ولسونو ټوټه كيدو نه خبر كړي دي، او په بيان كې فرمايلي دي:

[٥٤] نو ته ای پيغمبره! دوی د ټاكل سوي وخت او اجل پورې همداسې په خپله ناپوهی كې پر يږده، يعنی پرو او غم يې مكړه، ترڅو په ټاكل سوې نيټه د الله تعالی فيصله پر دوی باندې وچليږي او د الله نه ورته راغلي اسمانی دين كې د خپل سرو ډلو جوړولو كلكه سزا وركړه سي.

قدرمنو عز يزانو! دا مبارك آيت د اوسني عصر په نامه اسلامي ډلو ته چې امت ته يې لوی درد سر جوړ كړئ دئ؛ كلك ګواښ دئ!

[٥٥-٥٦] او آيا دغه خلك داسې ګمان كړي چې هغه مال او كهول چې دوی ته مونږ ورکوو آيا په ورکړه كې مونږ بيړني او په تلوارکې يو؟ [ځواب داچې نا! خبره داسی نده، لكه تاسې چې ګمان وكه، او د زمونږ مقصد د دی ورکړو نه ازمايښت دئ] خو دوی نه پوهيږي!

ګرانو دوستانو! دغسې خلک د خپل رب نه ډير غافل ول او د الله تعالى ورکړې يې ځانو ته غنيمت و بللي، خو دوی خبر نه ول چې الله دوی په دغو نعمتونو او ورکړو سره ازمايي، ترڅو روښانه سي چې آيا شکر باسي؟ او يا د نعمتونو کفران کړي او ورڅخه منکر يږي؟ يعنی د دې ټولو ورکړو نه د الله تعالى هدف او مقصد همدا آزمو ينه او امتحان دئ، خو سرکښ ولسونه پرې پوه نسول او سره بيل بيل او ډلې ډلې سول، او د الله تعالى نه ورته راغلي حکمونه يې د پښو لاندې کړل، او بيا وروسته دوی پسې مسلمانان هم د بده مرغه سره تقسيم سول او په ډيرو ډلو سره تقسيم او وو يشل سول او د الله تعالى نه ورته راغلي دين کې يې اختلاف وکه، نو درندو دوستانو! او د دغسې بيلتون نه چې هغه کلک غندل سوئ دئ؛ مقصد فکري او عقيدتي بيلتون دئ نه د دين په فروعو کې بيلتون او اختلاف، ځکه چې د دين اصول د عقيدې سره کلک ترلې دي، نه د فرعي اختلافاتو سره او په فروعوکې اختلاف، لکه فقهي اختلاف اجتهادي مسائل دي او هغه د علماوو په منځ کې د ذهني او فکري تو پيرونو سره ترلئ دئ، نو اختلاف پکې روا دئ او امت نه سره بيلوي.

ګرانو عز يزانو! نو دا مبارك آيتونه چې د مومنانو په منځ کې د بيلتون او اختلاف کلک غندونکي دي؛ ښايي په ښه ژور فکر سره ولوستل سي او په معنا او مقصديې اسلام ته رابلونکي دعات ځانو نه ښه پوه کړي، ترڅو دوی په دغسې اختلاف کې ونه لو يږي، او امت ټوټه نکړي، لکه څنګه چې د بده مرغه امت اوس په ډلو و يشلئ سوئ او ټوټه سوئ دئ.

{د مومنانو ستايل سوي صفتونه او خو يو نه}

عزتمنو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آيتونوکې د مومنانو ښه درانده خو يونه او صفتونه مونږ ته الله تعالى ياد کړي دي، ترڅو اقتدا ور پسې وکړو او خپل ځانونه پرې سنګار کړو، او په تفصيلي بيان کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ هُم مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِم مُّشْفِقُونَ ۝٥٧ وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَـٰتِ رَبِّهِمْ

يُؤْمِنُونَ ﴿٥٨﴾ وَٱلَّذِينَ هُم بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُونَ ﴿٥٩﴾ وَٱلَّذِينَ يُؤْتُونَ مَآ ءَاتَوا۟ وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَٰجِعُونَ ﴿٦٠﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْخَيْرَٰتِ وَهُمْ لَهَا سَٰبِقُونَ ﴿٦١﴾

[٥٩-٦١] هو! يقينا هغه کسان چې د خپل رب الله د عذاب و يرې نه په لړزه کې دي او د هغه نه کلک و ير يږي، او هم هغه کسان چې په قرآن کې د خپل رب آيتونو باندې مومنان دي او هغه مني، او هم هغه کسان چې د خپل رب الله سره بل څوک په خدايي کې نه شر يکوي، او هغه کسان چې دوی ته ورکړل سوو نعمتونو نه خيراتونه ورکوي او د دوی زړونه د الله سزا و يرې نه په لړزه کې دي او کلک باور او يقين لري چې دوی خپل رب الله ته خاماخا بيرته ورګرځيدونکي دي؛ نو همدا کسان دي چې دوی ټول ښه صفتونه او خو يونه لري او په ښو کړنو او خيرات ورکولو کې د يو بل سره په منډو کې سيالي کړي!

ګرانو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې خپل متقيان بنده ګان ستايلي دي او د دوی ښه خو يونه او صفتونه يې مونږ ته ډير روښانه بيان کړي دي، او هغه داسې چې د خپل رب الله عذاب د و يرې نه کلک په لړزه او و يره کې دي، او د الله تعالى کتاب په آيتونو باندې پوخ باور لري او عمل پرې کړي او د کفر او شرک نه ځانو نه ساتي او د الله تعالى رضا او خوښي لاس ته راوړو لپاره خيراتونه کړي او د آخرت ورځې په حساب ورکولو باندې يقين لري، نو ښايي چې ټول مومنان د هغوی غوندې تقوا ولري او د الله تعالى کتاب په لاښودنو باندې عمل وکړي، ترڅو د قيامت په ورځ د الله تعالى په حضورکې په جګه غاړه او په سپينو مخونو ودر يږي او د هر ډول سر کوزۍ او مختورنې نه په ډاډ او امن کې سي.

{الله تعالى هر څوک د خپلې وسې سره سم په يو کار ګماري}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى لمړۍ د خپل دين د حکمونو په اسانتيا باندې ټينګار کړئ دئ او بيايې د مکې کافرانو بد چلند

د رسـول اللهﷺ او د هغه يارانو سـره ياد کړئ او کلک يې غندلئ دئ، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۖ وَلَدَيْنَا كِتَابٌ يَنطِقُ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٦٢﴾ بَلْ قُلُوبُهُمْ فِي غَمْرَةٍ مِّنْ هَٰذَا وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ هُمْ لَهَا عَامِلُونَ ﴿٦٣﴾ حَتَّىٰ إِذَا أَخَذْنَا مُتْرَفِيهِم بِالْعَذَابِ إِذَا هُمْ يَجْأَرُونَ ﴿٦٤﴾ لَا تَجْأَرُوا الْيَوْمَ ۖ إِنَّكُم مِّنَّا لَا تُنصَرُونَ ﴿٦٥﴾ قَدْ كَانَتْ آيَاتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَكُنتُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ تَنكِصُونَ ﴿٦٦﴾ مُسْتَكْبِرِينَ بِهِ سَامِرًا تَهْجُرُونَ ﴿٦٧﴾ أَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ أَمْ جَاءَهُم مَّا لَمْ يَأْتِ آبَاءَهُمُ الْأَوَّلِينَ ﴿٦٨﴾ أَمْ لَمْ يَعْرِفُوا رَسُولَهُمْ فَهُمْ لَهُ مُنكِرُونَ ﴿٦٩﴾ أَمْ يَقُولُونَ بِهِ جِنَّةٌ ۚ بَلْ جَاءَهُم بِالْحَقِّ وَأَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ كَارِهُونَ ﴿٧٠﴾﴾

[٦٢] هو! مونږ هيڅ څوک د هغه وسـعې نه ز يات [په ډير او درانده کار باندې] نه ګمارو او زمونږ سره [د خلکو ټولو کړنو او و يناوو د ثبت او سـوانحو ليکلو] داسـې کتاب سـته چې هغه ر ښـتيا او حق بيانوي او پر دوی بانـدې ظلم او تيرئ نکيږي، يعنی دا ځکـه چې د هر چا کړنې د الله سره ليکل سوې دي، نو هر چا ته الله د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

[٦٣-٦٤] خو د کافرانو زړونه [د سـوانحو ليکلو کتاب نه چې په هغه کې د دوی ټولې کړنې او و يناوې ثبت دي] په غفلت او ناپوهۍ کې دي، او کافران لدې نه پرته نورې بدې کړنې هم لري چې دوی پکې لګيا دي، ترڅو چې بيا د دوی کبرجن مشـران را ونيسـو او سـزا ورکړو، خو بيا دوی چيغې او بغارې وهي، زړلا او انګلا کړي او مرسته غواړي!

[٦٥-٦٧] [نو بيا دغو کافرانو تـه و يل کيږي چې اوس نو] پدې ورځ جيغې مه وهئ او يقين وکړئ چې د زمونږ لخوا ستاسی سره مرسته نکيږي، او يقينا چې د زمونږ کتاب آيتونه پر تاسې باندې لوستل کيدل [يعنی تاسې پې ايمان ته رابللی، خو تاسې ورڅخه بيرته پښـا تللی او پر هغو باندې کبر

کونکي وی، او تاسې د یو بل سره د قرآن آیتونو پسې په پټه بدې خبرې کړې او ورځخه په تیښته وی!

[۹۸-٦۹] او آیا دغو کافرانو په قرآن کې ژور فکر ونکه؟ [ترڅو ښه پرې پوه سي او هغه ومني] او یا دا چې دوی ته داسې کتاب راغلئ چې هغه د دوی نیکونو ته نوه راغلئ؟ [یعنی نو ځکه ورځخه منکر سول؟] او یا دا چې دوی خپل پیغمبر ونه پیژانده، نو بیا ځکه ورځخه منکر سول؟

[۷۰] او یا داچې کافران وایې محمد پیریانو نیولئ دئ؟ حال دا چې دا خبره دروغ ده، بلکې دوی ته د حق بیانونکي کتاب قرآن سره پیغمبر راغلئ دئ، خو د کافرانو نه ډیر کسان د حق نه کرکه لري، یعنی هغه نه مني او په دغسې خوسې او بې بنسټه تورونو قرآن سره دښمني کړي او د حق و ینا او پیغام نه چې هغه د الله تعالی نه دوی ته لارښود راغلئ دئ؛ خپل ځانو نه محروموي!

{حقپالان که باطل پرستانو پسې لاړ سي نو نړۍ ړنګیږي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی حقپالان د باطل پلو یانو پسې د تک نه کلک کوابلي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَلَوِ ٱتَّبَعَ ٱلۡحَقُّ أَهۡوَآءَهُمۡ لَفَسَدَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ بَلۡ أَتَيۡنَٰهُم بِذِكۡرِهِمۡ فَهُمۡ عَن ذِكۡرِهِم مُّعۡرِضُونَ ٧١ أَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ خَرۡجٗا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيۡرٞۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ٧٢ وَإِنَّكَ لَتَدۡعُوهُمۡ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٧٣ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ عَنِ ٱلصِّرَٰطِ لَنَٰكِبُونَ ٧٤ * وَلَوۡ رَحِمۡنَٰهُمۡ وَكَشَفۡنَا مَا بِهِم مِّن ضُرّٖ لَّلَجُّواْ فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ٧٥ وَلَقَدۡ أَخَذۡنَٰهُم بِٱلۡعَذَابِ فَمَا ٱسۡتَكَانُواْ لِرَبِّهِمۡ وَمَا يَتَضَرَّعُونَ ٧٦ حَتَّىٰٓ إِذَا فَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَابٗا ذَا عَذَابٖ شَدِيدٍ إِذَا هُمۡ فِيهِ مُبۡلِسُونَ ٧٧﴾

[۷۱] هو! که حقپالان د کافرانو خوښو پسې لاړ سي [یعنی مومنان د کافرانو غوښتنې ومني] نو ځمکه او اسمانونه او پکې پرا ته ټول مخلوقات

به ږنګ او وران سي، خو مونږ دوی ته د هغه کتاب او هغه دین سره راغلو چې په هغه کې د دوی عزت او سر لوړي ده، نو د مکې کافرانو د خپل عزت او ښادۍ پیغام نه مخونه واړول او ایمان را نوړ!

[٧٢] او آیا ته ای پیغمبره! د خپل قوم نه د دعوت په مقابل یا عوض کې خرڅ غواړي؟ نا! ته د دوی نه هیڅ څه شئ نه غواړي، او تا ته د ستا رب الله لخوا ثواب درکول ډیر ښه او غوره دي، او الله ښه روزي ورکونکې لوی څښتن دئ، یعنی د الله دین او توحیدي عبادت ته رابلونکو دعاتو او مصلحانو ته ښایي چې هیڅ کله د الله نه پرته په بل چا پر وسعه، باور او اعتماد ونکړي او نه د خلکونه څه شئ وغواړي.

[٧٣] ای پیغمبره! او یقینا چې ته خپل امت سمې لارې ته راغواړي، یعنی داځکه چې هغه د اسلام لار ده،االله خپلو بنده ګانو ته غوره کړي ده.

[٧٤] او هغه کسان چې په آخرت باندي ایمان نه راوړی [یعنی هغه نه مني او ور باندې باور نکړي] دوی یقینا د سمې لارې نه بلې خوا ته اوښتي دي، یعنی په کږه لار روان سوي او خوځیدلي دي.

[٧٥] او که چیرې مونږ پر دغو کافرانو باندې ورحمیږو [یعنی دوی د ولږې او د قحطی سختي نه چې پر دوی راغلې ده خلاص کړو] او هغه د دوی نه لرې کړو، نو بیابه هم دوی په خپله سر زوری او په کفرکې همداسې پاتې وي او هرې خوا ته به زورونه وهي!

[٧٦-٧٧] او یقینا چې کافران مونږ په کلک عذاب باندې راونیول [یعنی ډول ډول سزاګانې دوی ته مونږ ورکړي] خو بیا هم دوی خپل رب ته غاړه کینښودله او زاري نکړي [یعنی همداسې په خپل بغاوت او سرکښی کې پاتې سول] ترڅو چې کله دوی ته مونږ د سخت عذاب ورکولو ځای (دوزخ) بیرته که، نو بیا دوی پکې پټ سول، یعنی داسې پکې ډوب سول چې د خلاصون لارې ورڅخه نه موندله او کلک ناهیلې سول.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتوکې او د هغو نه مخکې

آیتونوکې مونږ ته د کافرانو بدو خو یونو، کفر او د الله او پیغمبر حکمونو نه د سرکښۍ انځور؛ ډیر روښانه وړاندې کړئ او بیان کړئ دئ، او هغه د دوی د کفر سبب او لوی عامل ؤ، ځکه دوی په قرآن کې شبه ژور فکر ونکه او ځانونه یې پوه نکړل، نو ځکه ورځخه ورک سول او د خپلو نیکونو کفري تګ لار باندې روان سول، او رسول الله ﷺ پسې یې سپکې سپورې و یلې، حال دا چې رسول الله علیه السلام دوی په ډیر صداقت سره ایمان راوړو ته راو بلل او د الله تعالی پیغام او لارښودنې یې دوی ته ور یا او خوسې پرته د کمې مزدورۍ او اجرت اخستلو نه ورسولې، یعنی د دغو کافرانو نه یې هیڅ څه مزدوري او د کم مقام غوښتنه نه درلوده، خو د کافرانو زړونه چې کفر تور کړي ول؛ همداسې په کړه لار روان ول او د حق نه بې لارې سوي ورک ول.

هو؛ عزتمنو دوستانو! او دغه بد خو یونه د ټولو هغو کسانو کډ خو یونه دي چې د حق نه اوښتي دي او د شیطان ملتیایې کړي ده، لکه څنګه چې الله تعالی رسول الله ﷺ ته په خطاب کې فرمایلي دي:

﴿فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكَ فَاعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَاءَهُمْ ۚ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوَاهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿٥٠﴾﴾

القصص٥٠" هو! ای پیغمبره! نو که چیرې کافرانو د ستا بلنه ونه منله [یعنی ایمان یې رانوړو او شبه عمل کړو ته تیار نسول] نو پدې پوه سه چې دوی خپلو خوښو پسې ځي، نو څوک د سمې لارې نه د هغه چا نه ډیر ورک دئ چې دئ د الله لارښودنې نه پرته؛ خپل نفس پسې لاړه او د شیطان پلوئ سه؟ ځواب دا چې: هیڅ څوک د هغه نه ډیر د حق لارې نه ورک سوئ ندئ! یعنی هر څوک چې د خپل نفس او هوا حکم مني هغه سمه لار ورکه کړې ده او په کړه لار خوځیدلئ دئ.

{د مخلوقاتو پیدایښت د الله توحید باندې ځلانده نښه ده}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې کافران د خپل عظمت او لو يتيا قدرتونو په بيانولو سره هوښياري ته او د الله په لو يو قدرتونو کې ژور فکر کړو ته رابللي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ۚ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٧٨﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى ذَرَأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٧٩﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى يُحْىِۦ وَيُمِيتُ وَلَهُ ٱخْتِلَٰفُ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٨٠﴾ بَلْ قَالُوا۟ مِثْلَ مَا قَالَ ٱلْأَوَّلُونَ ﴿٨١﴾ قَالُوٓا۟ أَءِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿٨٢﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ وَءَابَآؤُنَا هَٰذَا مِن قَبْلُ إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٨٣﴾﴾

[٧٨] هو! ای خلکو! اله هغه څوک دئ چې تاسې ته يې غوږونه، سترګې او زړونه پيدا او درکړل، خو تاسې ډير لږ شکر باسئ، يعنی د الله لو يو نعمتونو قدر نکړئ او ايمان نه راوړئ، چې په دنيا او آخرت کې ښاد سئ.

[٧٩] او ای خلکو! تاسې الله پر ځمکه کې تيت کړئ او پکې و يشندلئ، او بيا تاسې الله ته بيرته ورغونديږئ، يعنی د ځمکې پر سر ټول خلک الله تعالى پيدا کړي دي او بيا به دوی ټول د قيامت په ورځ بيرته الله ته ورځی او حساب به ورکوي.

[٨٠] او الله هغه څوک دئ [چې ټول ژوندي مخلوقات د عدم نه چې هيڅ نه ول] را ژوندي کوي او بيايې وفاتوي او مړه کيږي، او د شپې او ورځې بدلون د الله په واک کې دئ، نو آيا تاسې ای خلکو! نه پوهيږئ، يعنی خپل عقل په کار نه اچوئ؟ حال دا چې ښايي ښه فکر وکړئ او الله تعالى په توحيد سره و پيژنئ او ايمان راوړئ او د شرك او کفر نه لاس واخلئ!

[٨١-٨٣] [نو بيا دغو کافرانو حق ته غاړه کينښوده او د پخواينو کافرانو خبري يې وکړې او د هغوی غوندې يې] وو يل: آيا کله چې مونږ مړه سو او خاورې او اډوکي سو، نو آيا بيا بيرته راجکول کيږو او راژوندي

کيږو؟ هو! يقينا چې دغسې وعدې د زمونږ سره او د زمونږ پخوانيو نيکونو سره وسوې، خو دا ټولې د پخوانيو خلکو ليکنې دي، يعنى هغه حق او ر ښتيا ندي، بلکې خوسې زړې قصې او داستانو نه دي!

{کافرانو د الله پرلو يه واکمنۍ باندي په کائناتو کې اقرار وکه}

نو بيا رسول الله ﷺ ته الله تعالى حکم وکه چې د دغو کافرانو نه دا لاندې پوښتنې وکړه، ترڅو دوى په خپله ژ به د الله په ر بو بيت باندې اعتراف وکړي، او داسې يې ورته وفرمايل:

﴿قُل لِّمَنِ ٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٨٤ سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ٨٥ قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبۡعِ وَرَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ ٨٦ سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ ٨٧ قُلۡ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيۡهِ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٨٨ سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ فَأَنَّىٰ تُسۡحَرُونَ ٨٩ بَلۡ أَتَيۡنَٰهُم بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ٩٠ مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٖ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنۡ إِلَٰهٍۚ إِذٗا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهِۭ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ٩١ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٩٢﴾

[٨٤] اى پيغمبره! [کافرانو ته] ووايه: که چيرې تاسې په څه پوهيږئ، نو دا ځمکه او څوک چې پکې اوسيږي د چا ملکيت دئ؟ يعنى څښتن يې څوک دئ؟

[٨٥] نو دوى به ووايي: د الله ملکيت دئ [يعنى الله پيدا کړي دي، نو بيا ته اى پيغمبره! دوى ته ووايه:] نو تاسې ولې ورڅخه څه شئ نه زده کوئ؟ يعنى ولې ايمان نه راوړئ؟

[٨٦] اى پيغمبره! [همدارنګه کافرانو ته] ووايه: د او وو اسمانونو او

د لوی عرش څښتن څوک دئ؟

[۸۷] نو دوی به درته ووایې: دا ټول د الله ملکیت دئ [یعنی الله یې څښتن دئ، نو بیا ته ای پیغمبره! ورته] ووایه: نو بیا د الله نه تاسې ولې الله نه و یر یږئ؟ یعنی دا چې ښایي د الله عذاب نه په اطاعت سره ځانونه کلک وساتئ؟ ای خلکو! کله چې تاسې د الله تعالی ر بو بیت په توحید سره پیژنئ، نو په الوهیت کې هم د الله حکمونه ومنئ او عمل پرې وکړئ او یوازې د الله بنده ګان سئ او بتان د الله سره په خدایي کې مه ګډوئ او مشرکان مکیږئ.

[۸۸] ای پیغمبره! [او همدارنګه د کافرانو نه و پوښته] که چیرې تاسي په څه پوهیږي؟ نو ووایي چې د دې ټولو مخلوقاتو واکمني د چا په لاس کې ده؟ او الله خپلو بنده ګانو ته پناه ورکوي [یعنی دوی د دښمن نه ساتي] او پر الله باندې د هیڅ چا زور نه رسیږي، یعنی د الله تعالی نیولو نه مجرم او کافر؛ هیڅ څوک خلاصولای نسي او نه ورڅخه نجات مومي.

[۸۹] ای پیغمبره! [او کافران به په ځواب کې درته] ووایې: د ټولو مخلوقاتو پاچایي د الله په واک کې ده، نو بیا ته دوی ته ووایه: نو پر تاسې څنګه کوډې سوې دي؟ یعنی دا چې غولیږئ او د الله بنده ګئ او فرمان وړو نه سرغړونه کړئ؟

[۹۰] [خو خبره هغسې نده، لکه څنګه چې کافران وایي] بلکې حق دوی ته مونږ راوړ [خو کافرانو حق ونه مانه] او یقینا چې کافران په خپلو غوښتنو کې دروغژن دي.

[۹۱] هو! الله هیڅ څوک ځان ته زوی ندئ نیولئ او نه بل څوک د الله سره خدای سته، او که د الله سره بل خدای وای، نو بیا به هر خدای خپلو بنده ګانو سره ځان ته تللئ ؤ، او ځینو خدایانو به پر ځینو نورو باندي ځان پورته او لوړ باله [یعنی نو بیا به د ټولې نړۍ نظام د ګوابښ سره مخامخ ؤ] او الله د کافرانو دغسې و یناوو نه چې وایي: الله زوی او شر یك لري پاک دئ، یعنی د زوی درلودل یا څوک په زو یتوب سره نیول؛

د بی وسعی او د عجز نښه ده او الله تعالی مستغني ذات دئ، چا ته محتاج او اړ ندئ.

[۹۲] او الله په پټ او ښکاره هر څه باندې پوه دئ، نو د مشرکانو هغو خدایانو نه چې د الله سره یې شر یکوي؛ لوړ دئ.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغسې قوي استدلال سره؛ ټول کافران چوپ او بې ځوابه کړل او دوی په خپله خوله د الله په توحید باندې په ر بو بیت کې اقرار وکه او یقینا چې د ر بو بیت توحید د عبودیت توحید مستلزم دئ، ځکه خدای هغه ذات دئ چې هر څه یې پیدا کړي دي او د ټول عالم واکمن رب او لوی څښتن دئ، نو ښایي ټول خلک یوازې د دې لوی ذات عبادت او بنده ګي وکړي او حکم یې ومني، خو ده بده مرغه کافرانو ایمان رانوړ، نو بیا همداسې په خپل کفر او شرک کې پاتې سول او د الله تعالی توحید او یو والئ یې په الوهیت کې ونه مانه او ورځخه محروم سول.

{پیغمبر ته ښایي د ظالمانو شرځان نه په ښه وجه لرې کړي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته ډاډ ورکړئ دئ او لارښودنه یې ورته کړې ده چې دعاء وکړي، ترڅو په ظالمانو کې ونه شمیرل سي، او فرمایلي دي:

﴿قُل رَّبِّ إِمَّا تُرِيَنِّي مَا يُوعَدُونَ ﴿٩٣﴾ رَبِّ فَلَا تَجۡعَلۡنِي فِي ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٩٤﴾ وَإِنَّا عَلَىٰٓ أَن نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمۡ لَقَٰدِرُونَ ﴿٩٥﴾ ٱدۡفَعۡ بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ ٱلسَّيِّئَةَۚ نَحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَا يَصِفُونَ ﴿٩٦﴾ وَقُل رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنۡ هَمَزَٰتِ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴿٩٧﴾ وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحۡضُرُونِ ﴿٩٨﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَهُمُ ٱلۡمَوۡتُ قَالَ رَبِّ ٱرۡجِعُونِ ﴿٩٩﴾ لَعَلِّيٓ أَعۡمَلُ صَٰلِحٗا فِيمَا تَرَكۡتُۚ كَلَّآۚ إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَاۖ وَمِن وَرَآئِهِم بَرۡزَخٌ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴿١٠٠﴾﴾

[۹۳-۹٤] ای پیغمبره! [دعاء وکړه او] ووایه: ای د زما لو یه ر به! کله

چې ته پر ما باندې هغه عذاب و يې چې د مشرکانو سره ده د هغه وعده کړې ده [يعنی کافران ور باندې ګواښې] نو ته ای د زما لو يه څښتنه! ما د دغسې ظالم قوم سره يوځای نکړې، يعنی ما د دوی په سزا هلاك نکړې، او ما ای ر به! د کافرانو سزا نه وساته او پر ما باندې مه په غوصه کيږه.

[٩٥] [هو! ای پيغمبره! يقينا چې مونږ کولای سو هغه سزا چې کافرانو سره يې وعده کړو [يعنی دوی ور باندې ګواښوو؛ هغه تا ته دروښيو، خو ته مه ورخطا کيږه، او کافرانو ته د سزا ورکولو نه ډاډه او مطمئن اوسه.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې رسول الله ﷺ ته الله تعالی د مشرکانو سره د ښه چلند لارښودنه کړې ده او کافرانو سره يې د بالمثل چلند نه منع کړئ دئ او سپارښت يې ورته کړئ دئ چې د شيطان وسوسو نه الله ته پناه يوسه او ځان پر الله وسپاره، او فرمايلي دي:

[٩٦] [نو ای پيغمبره! ستا سره د مشرکانو] بد کړل په ډيره ښه طر يقه [يعنی په ښه چلند سره] د خپل ځان نه لرې کړه [يعنی د کافرانو بد په ښو ځواب کړه] او مونږ د دوی په دروغژنو خبرو ښه پوهيږو [لکه هغه خبرې چې کافرانو به و يل: الله ځان ته زوی نيولئ دئ او محمد ﷺ پيغمبر ندئ او په هغه کوډې سوې دي، او دغسې نور دروغژن تورونه] نو کافرانو ته به مونږ سزا ورکړو!

هو؛ درندو دوستانو! الله تعالی لوی ځواکمن او عادل خدای دئ او هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي، نو هيڅ بنده ده د الله تعالی لوی عدالت نه ناهيلې کيږي نه، او د خپل لوی څښتن په زور او ځواک باندې ده کلک باور ولري.

[٩٧-٩٨] او ای پيغمبره! [دعاء وکړه او] ووايه: ای لو يه خدايه! د شيطانانو لمسونو نه ځان پر تا باندې سپارم او ته [ای لو يه څښتنه!] ما د دوی د هغو وسوسو او چلونو نه وساته چې کله دوی ما ته راسي او بيا ما د حق لارې نه واړوي.

عزتمنو دوستانو! د الله تعالی دغه سپارښتنې او لارښودنې رسول الله

ﷺ ته د کافرانو بدو کړنو پر وړلاندې؛ هغه ارزښت ناکه لارښودنې دي چې ښايي د پيغمبرﷺ وارثان او دين ته رابلونکي دعات او مصلحين په هر وخت او په هر ځای کې ورځخه ګټه وا خلي، او هغه د دوی په ذهن کې تل حاضرې لارښودنې او سپارښتنې وي، ترڅو د الله په مرسته دوی خپل هدف ته چې د الله تعالی د دين تبليغ او د ټولنې اصلاح ده ورسيږي، او خپل رسالت او لوی مسئوليت بر يا ته سلامت ورسوي او د الله تعالی دين حاکم کړي او مومنان ښاد کړي.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د هغو کافرانو پښيمانۍ نه مونږ خبر کړي يو چې هغه نوره ورته ګټه نلري، او په بيان کې فرمايلي دي:

[۹۹-۱۰۰] هو! ترڅو چې بيا د کافرانو نه کم يوه ته اجل راسي [يعنی دځ نور د مړ ينې او مرګ په پوله ولاړ وي او د ساه ختلو او ځان کندن په حال کې وي، نو دعاء کړي] وايي: ای لو يه ر به! ما بيرته د دنيا ژوند ته وروګرځوه، ځکه کيدای سي هغه څه چې ما پر يښودل؛ اوس زه پر هغو کې ښې کړنې ترسره کړم [يعنی خپلې تيرې تيروتنې جبران کړم او ښه وکړم، ايمان راوړم او د ستا ښه عبادت وکړم، نو ځواب دا چې:] نا! هيڅ کله د دنيا ژوند ته بيرته ورګرځول نسته، او دا خبره چې هغه وکړه او و يو يل: ای لو يه خدايه! ما بيرته دنيا ته وګرځوه؛ دا خوسې د هغه خولې خبر ده او دغسې خبرې نوره ګټه نلري، ځکه د دوی شا ته اوس برزخ دځ [يعنی کلک ديوال دځ] او د قيامت ورځې راجګيدلو پورې به کافران هلته پاتې وي!

ګرانو دوستانو! دغه د برزخ مرحله هغسې يوه دوره يا مرحله ده چې يوازې الله تعالی پرې پوهيږي او د نيټې او کلونو علم يې؛ يوازې د الله تعالی سره دځ، ځکه يوازې الله خبر دځ چې د قيامت ورځ کله راځي، خو بيا هم مومنان الله تعالی د رسول الله ﷺ په خوله د برزخ حالت نه خبر کړي دي او ز يرځ يې وکړځ دځ چې مومن بنده په ګورکې د نکير او منکر په نامه د نا اشنا ملائکو پوښتنو سره مخامخ کيږي او د هغوی پوښتنو ته سم ځواب وايي او بيا مومن بنده ته د هغه ځای په جنت کې ورښودل کيږي او ورته و يل کيږي: اوس نو په خواږه خوب و يده سه، نو قدرمنو وروڼو

دعاء کړو چې مونږ ته ده الله تعالى په ايمان او ښــه عمل ســره د دنيا نه تګ را په برخه کړي، اود قبر عذاب نه ده الله مونږ په خپل رحمت ســره وساتي.

{ قيامت په ورځ خپلوي نسته هرڅوک خپل ځان په غم کې وي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د قيامت ورځې انځور مونږ ته وړاندې کړئ دئ او هغه داســې چې د آخرت په ورځ خپلوان يو بل ته هيڅ ګټه رســولای نســي، ځکه په هغه ورځ هر څوک يوازې د خپل ځان په غم کې وي، او په بيان کې يې الله تعالى فرمايلي دی:

﴿فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَلَآ أَنسَابَ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ وَلَا يَتَسَآءَلُونَ ١٠١ فَمَن ثَقُلَتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ١٠٢ وَمَنۡ خَفَّتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فِي جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ١٠٣ تَلۡفَحُ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ وَهُمۡ فِيهَا كَٰلِحُونَ ١٠٤ أَلَمۡ تَكُنۡ ءَايَٰتِي تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَكُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ١٠٥ قَالُواْ رَبَّنَا غَلَبَتۡ عَلَيۡنَا شِقۡوَتُنَا وَكُنَّا قَوۡمٗا ضَآلِّينَ ١٠٦ رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا مِنۡهَا فَإِنۡ عُدۡنَا فَإِنَّا ظَٰلِمُونَ ١٠٧ قَالَ ٱخۡسَـُٔواْ فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ١٠٨ إِنَّهُۥ كَانَ فَرِيقٞ مِّنۡ عِبَادِي يَقُولُونَ رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَا وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ١٠٩ فَٱتَّخَذۡتُمُوهُمۡ سِخۡرِيًّا حَتَّىٰٓ أَنسَوۡكُمۡ ذِكۡرِي وَكُنتُم مِّنۡهُمۡ تَضۡحَكُونَ ١١٠ إِنِّي جَزَيۡتُهُمُ ٱلۡيَوۡمَ بِمَا صَبَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ١١١﴾

[١٠١] نو د قيامت په ورځ چې کله [د قيامت در يدلو] سورنئ پوه سي، نو په هغه ورځ نور د خلکو په منځ کې خپلوي نســته او يو د بل پوښــتنه نکړي، يعنى هر څوک به په خپل غم کې وي، ځکه هغه ورځ ډيره درنده او د لوی و ير ستونزمنه ورځ ده!

[١٠٢-١٠٤] نو د هر چا ښــو کړنو تله چې درنده ســوه، نو هغوی بر يالیان دي [يعنى ســر لوړي به جنت ته ننوځی] او د چا تله چې ســپکه سـوه، نو دوی هغه کسـان دي چې خپل ځانو نه يې بايلودل او کلک تاوان

يې وکه او د دوزخ په اور کې به تل پاتې وي او مخونه يې د دوزخ اور سوزي او خولې يې وازې ختلې وي او شوندې يې کته او پورته ورګونجې سوې وي، يعنی په ډير سخت حالت کې به وي.

نو ګرانو دوستانو! الله ده مونږ د دغسې بدې را تلونکې نه په خپل لوی فضل او رحمت سره وساتي او په ايمان او ښه عمل سره ده الله تعالی مونږ ته ثبات او ټينګښت راپه برخه کړي.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی کافران ملامت کړي دي، او پر دوي يې غږ کړئ دئ او فرمايلي دي:

[۱۰۵] ای کافرانو! آيا د زما کتاب (قرآن) آيتونه پر تاسې باندې نه لوستل کيدل؟ نو بيا تاسې هغه دروغ بلل؟ يعنی دا چې هو! د قرآن آيتونه پر کافرانو باندې لوستل کيدل، خو دوی هغه دروغ بلل او نې منل، نو بيا ځکه کافران خپله ملامتي مني، او د دوې اعتراف بيان کې الله فرمايلي دي:

[۱۰٦] او کافرانو وو يل: ای د زمونږ لو يه خدايه! پر مونږ باندې د زمونز بد مرغي او شقاوت زورور سه او مونږ د سمې لارې نه يو ورک سوئ قوم وو، يعنی نو کافران په هغه ورځ په خپلو ګناهوو اقرار کړي، او بيا دعا کړي او وايي:

[۱۰۷] نو ای د زمونږ لو يه خدايه! ته مونږ د دې اور نه و باسه [يعنی مونږ بيرته د ازمايښت ډکر ته په دنيا کې وروګرځوه] نو که بيا مونږ بيرته د سمې لارې نه ورکتيا ته ور ورګرځيدو، نو يقينا چې مونږ به ظالمان يو او پر خپلو ځانو باندې به مونږ کلک تيرئ کړئ وي!

[۱۰۸] نو بيا کافرانو ته الله په ځواب کې وايي: تاسې همداسې د دوزخ په اور کې پاتې ورک سی او خبري مکړي، يعنی د دوزخ عذاب نه خلاصيدل او وتل مه غواړی.

درندو دوستانو! دا د دوزخيانو د بد حالت هغه لنډ تصوير او ښکاره انځور دئ چې هغه الله تعالی د زمونږ مخې ته ايښئ دئ، ترڅويې په ذهن کې تصور کړو او په اور يدلو او لوستلو سره يې ټول خلک پند وا خلي او

ايمان راوړي، ترڅو د كافرانو دغسې مختورنې ورځې سره مخامخ نسي.

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى مونږ د هغو مومنانو حال نه خبر کړي يو چې دوى په خپل ايمان خوښ ول، خو كافرانو د دوى سپكاوئ كا وه او ور پورې خندل يې، او فرمايلي دي:

[١٠٩] [اى خلكو!] او يقينا چې د زما بنده ګانو نه يوه بله ډله دعاء كړي وايي: اى د زمونږ لو يه ر به! مونږ ايمان راوړ، نو مونږ و ښـــه او را باندې ورحميږه، ځكه ته د ډيرو ښـــو رحم كونكو نه يې! يعنى الله تعالى پر خپلو بنده ګانو باندې ډير مهر بان لوى ذات دئ.

[١١٠-١١١] نو بيا تاسې اى كافرانو! د دغسې خلكو سپكاوئ وكه، او دغو بدو كړنو زه د ستاسې نه هير كړم، او تاسې مومنانو پسې خندل او دا دئ نن ورځ ما يقينا دوى ته د دوى د صبر او زغم ثواب وركه، ځكه دوى د ستاسې كلكې زوروني وګاللې او پر وړلاندې يې صبر وكه او يقينا چې دغه مومنان وړونكي او بر يالیان دي، يعنى دا ځكه چې د الله نعمتونه يې لاسه ته راوړي دي او پرې ښاد سوي دي.

قدرمنو دوستانو! د كافرانو دغسې بد او ناوړه چلند د مومنانو سره؛ هغه كركجن تصو ير دئ چې په تار يخ كې پرله پسې تكرار يږي او كافران تل د مومنانو سپكاوئ كړي، نو دعا كړو چې الله تعالى ده مونږ د دغسې بد حالت نه په خپل فضل او رحمت سره وساتي.

{د دنيا ژوند لنډ دئ ښايي څوک ورباندې ونه غولیږي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې د كافرانو نه الله تعالى د پيغمبرﷺ په خوله د دنيا ژوند د كلونو پوښتنه كړي ده، او فرمايلي يې دي:

﴿قَٰلَ كَمۡ لَبِثۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ عَدَدَ سِنِينَ ١١٢ قَالُواْ لَبِثۡنَا يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٖ فَسۡـَٔلِ ٱلۡعَآدِّينَ ١١٣ قَٰلَ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗاۖ لَّوۡ أَنَّكُمۡ كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ١١٤ أَفَحَسِبۡتُمۡ أَنَّمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ عَبَثٗا وَأَنَّكُمۡ إِلَيۡنَا لَا تُرۡجَعُونَ ١١٥ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ

ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْكَرِيمِ ﴿١١٦﴾ وَمَن يَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرْهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿١١٧﴾ وَقُل رَّبِّ ٱغْفِرْ وَٱرْحَمْ وَأَنتَ خَيْرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١١٨﴾

[۱۱۲-۱۱۳] ای پیغمبره! کافرانو ته ووایه: تاسې څومره کلونه په ځمکه کې واوسیدلئ؟ [یعنی د ځمکې پر سر تاسې څو کاله عمر تیرکه؟ هو! تاسې خپل دا عمر په کفرکې ضائع که، نو بیا کافران په ځواب کې وایي] یوه ورځ او یا د یوې ورځې نیمه ورځ مونږ په دنیا کې تیره کړه، نو د هغو شمارل کونکو نه و پوښته چې د خلکو عملونه شمیري؟

[۱۱٤] نو بیایې ورته وو یل: تاسې ډیر لږ وخت هلته تیرکه، او که تاسي یقینا پوهیدلای، نو ایمان به مو راوړئ ؤ، یعنی نو بیا به پدې لږ وخت کې تاسې لو یه لاس ته راوړنه درلوده!

[۱۱٥] نو ای خلکو! آیا تاسې ګمان وکه چې تاسي مونږ خوسې او بې مقصده پیدا کړي یاستی؟ او بیا تاسې بیرته مونږ ته نه راګرځول کیږي؟

[۱۱٦] نو الله چې په حق سره واکمن ذات دئ د خوسې [یعنی د بې ګټو] کړنو نه لوړ دئ، او د الله نه پرته بل هیڅ څوک په ر ښتیا سره معبود نسته او الله د عزتمن عرش (څوکۍ) رب او لوی څښتن دئ.

[۱۱۷] او هر څوک چې د الله سره بل څوک په خدایي کې شر یکوي؛ هیڅ دلیل او حجت نلري، نو د هغه سره د الله پر وړاندې خاماخا حساب کیږي، او یقینا چې کافران بر یا ته نه رسیږي، یعنی مشرکان د الله تعالی سزا نه خلاصون نلري او نجات نه مومي.

او بیا الله تعالی د المومنون مبارکې سورې په پای کې رسول الله ﷺ ته د ښې او رحمت غوښتنې سپارښت کړئ دئ، او فرمایلي دي:

[۱۱۸] ای پیغمبره! [دعاء وکړه] او ووایه: ای د زما لو یه ر به [یعنی ای لو یه څښتنه!] ما و ښه او رحم راباندې وکړه، ځکه ته د رحم کونکو نه ډیر لوی رحم کونکې او مهر بان خدای یې!

عزتمنو دوســتانو! الله تعالى خپل پيغام كافرانو ته د قيامت ورځې د انځور په باره كې په دغسې ډير روښانه بيان سره پاى ته رسولئ دئ، او بيا يې خپل پيغمبر محمد ﷺ ته سپارښت كړئ دئ چې ګناه ګارو بنده ګانوته د الله نه بښــنه او رحمت وغواړي، ځكه الله تعالى ډير مهر بان رب او د لوى رحمت څښــتن دئ، نو يقينا چې دا ســپارښــت رســول الله ﷺ ته او همداســې د هغه امت ټولو پوهانو او دعاتو ته ډير اړ ين او ارزښــتناكه سپارښت دئ، نو د رسول الله ﷺ امت علماوو ته ښايي چې په خپل قوم تل زړه سواندئ ولري او دوى ته د الله تعالى نه بښنه او د الله لوى رحمت وغواړي، او هيڅ كله د دوى د هلاكت او تباهۍ غوښتونكي نسي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصــحابه أجمعين، ســبحانك اللهم و بحمدك أشــهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د النور سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د النور مبارکې سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه}

درندو دوستانو! د النور مبارکه سوره مدني سوره ده، او پکې الله تعالی زمونږ د ژوندانه چارو ښه تنظیم او سمبال لپاره؛ ښې ډیرې لارښودنې او سپارښتنې را ته ښودلې او بیان کړې دي، او یقینا چې پوهیدل او عملي کول یې پر مونږ فرض دي، ځکه هغه په دنیا او آخرت کې زمونږ د سعادت او نیکمرغۍ سبب او عامل ګرځي، او په دغو تر بیتي لارښودنو کې ډیر ټینګار پر اخلاقي روزنې باندې سوئ دئ، ترڅو ټولنه د پر یوتو اخلاقو نه وساتل سي او لوړ انساني اخلاق پکې دود وګرځي او پکې نافذ سي، او د هر چا دین، عزت، ناموس او سر او مال پکې محفوظ وي، او په پیل کې الله تعالی فرمایلي دي:

{د زنا حد قاطع حکم الله د النور په سوره کې را نازل کړئ دئ}

قدرمنو دوستانو! د النور مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی د زنا کلکه سزا او شرعي حد مومنانو ته بیان کړئ دئ، او د جاري کولو حکم یې د هر ډول زړه سواندي نه پرته په قاطع ډول کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿سُورَةٌ أَنزَلۡنَٰهَا وَفَرَضۡنَٰهَا وَأَنزَلۡنَا فِيهَآ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖ لَّعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ١ ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِي فَٱجۡلِدُواْ كُلَّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا مِاْئَةَ جَلۡدَةٖۖ وَلَا تَأۡخُذۡكُم بِهِمَا رَأۡفَةٞ فِي دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۖ وَلۡيَشۡهَدۡ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٞ مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٢ ٱلزَّانِي لَا يَنكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوۡ مُشۡرِكَةٗ وَٱلزَّانِيَةُ لَا يَنكِحُهَآ إِلَّا زَانٍ أَوۡ مُشۡرِكٞۚ وَحُرِّمَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٣﴾

[۱] [هو! دا د قرآن لو يه او ارزښتناكه] سوره مونږ را نازله كړه او پر پر يكړو او حكمونو باندې پې عمل كړل؛ مونږ فرض كړل او پكې مونږ ښه روښانه كونكي آيتونه را نازل كړل، ترڅو تاسې اى مومنانو! هغه ولولئ او گټه ورڅخه واخلئ او عمل ور باندې وكړئ.

[۲] زنا كونكي ښځه او زنا كونكئ نار ينه هر يو سل سل درې ووهئ، او اى مومنانو! كه تاسې پر الله او د آخرت پر ورځ ايمان لرئ [يعنى د آخرت ورځې په ثواب او عذاب باندې باور لرئ او هغه منئ] نو ښايي چې پر دواړو زنا كونكو باندې ستاسې زړونه د الله دين حكم په جاري كولو او نافذولو كې؛ ونه سوز يږي، او دوى دواړو ته ده سزا وركول د مومنانو نه يوه ډله خلك وو يني! يعنى دا چې ترڅو دا سزا ټولو خلكو ته د پند اخستلو زدكړه وگرځي، خو د شرعي حد دا سزا ښايي په داسې عام محضركې نه وي چې كافران پې هم نندارە وكړي او بيا اوسنيو تصو يري رسنيو ته د اسلام خلاف تبليغاتو لپاره بهانه په لاس ورگړي، او په نړۍ كې د اسلامي دعوت په لار كې خنډ سي، او د اسلام دښمنان پې د اسلام او مسلمانانو پر ضد حر به وگرځوي او بيا د شرعي حدودو په خلاف كلك تبليغات وكړي.

[۳] هو! زنا كونكئ نا ر ينه د زنا كارې او مشركې ښځې نه پرته د بل چا سره وا ده كړاى نسي او نه زنا كاره (بد نامه) ښځه د زنا كار او مشرك سړي نه پرته بل څوك وا ده كولاى سي [يعنى زنا كونكي يوازې د يو بل سره وا ده كړاى سي او د پاكو كسانو سره وا ده كړل ورته روا ندي] او پر مومنانو باندې د زنا كونكو او مشركانو سره وا ده كړل حرام دي.

درندو دوستانو! الله تعالى پدې مباركو آيتونو كې لمړئ د زنا كونكو سزا چې سل درې وهل دي؛ مونږ ته بيان كړې ده او بيايې د زنا كارانو سره واده كړل پر مومنانو چې دوى د زنا نه كركه لري او ورڅخه پاك دي؛ حرام كړي دي، او دا حكمونه په نورو آيتونوكې او د رسول الله ﷺ په احاديثوكې په ډير تفصيل سره بيان سوي دي، او بيا فقهاوو هغه ښه روښانه د فقه په كتابونوكې چې مومنانو ته د قانون حيثيت لري؛ بيان كړي دي، او دلته پې لنډ بيان دا دئ چې دغه سل درې وهل د هغو زنا كونكو سزا ده چې دوى مخكې د بل چا سره ودونه نوي كړې، يعنى دا چې كه يوه پيغله د يوه زلمي سره زنا وكړي، نو د زنا كونكې ښځې سره د هغه

مومن ســړي واده کړل مخکې د توبې و يســتلو نه حرام دي، او د توبې و يســتلو نه وروســته بيا فقهاوو پکې اختلاف کړئ دئ، ځينو روا او ځينو نورو بيا هغه ناروا بللئ دئ، او د اختلاف سبب يې د دوی اختلاف د قذف په باره کې د راتلونکي مبارك آيت په تفسير کې اختلاف دئ، او ښايي چې دا حکمونه ټول د واکمن قاضي په حکم جاري سي، يعنی د حدودو شــرعي حکم قاضــي کړي او تطبيق يې د حکومت کار دئ، او بل هيڅ څوک په خپل ســر شــرعي حدود جاري کولای نســي، ځکه چې دا کار په ټولنه کې ګډوډي او خپل منځي اختلافات او دښمني ز يږوي.

{د قذف او زنا تور او د اللعان حکمونو بيان}

او په ور پســې مبارکو آيتونو کې الله تعالی په پوره روښتيا او تفصــيل سـره په پاک لمنو ميرمنو باندې د زنا تور لګولو حکمونه بيان کړې دي او دا مســئله د فقه په کتابونوکې د قذف او د اللعان په بابونوکې په ډير تفصـيل او روښتيا سـره ياده سـوې او بيان سـوي ده، او دلته پدې مبارکو آيتونوکې الله تعالی فرمايلې دي:

﴿وَٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَأۡتُواْ بِأَرۡبَعَةِ شُهَدَآءَ فَٱجۡلِدُوهُمۡ ثَمَٰنِينَ جَلۡدَةٗ وَلَا تَقۡبَلُواْ لَهُمۡ شَهَٰدَةً أَبَدٗاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٤ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ وَأَصۡلَحُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٥﴾

[٤-٥] او هغه کسـان چې پاک لمنې (ميړونښې) ميرمنې پر زنا تورنوي او بيا څلور کسـه شـاهدان نه راولي، نو [تاسـې ای واکمنانو! د عادل قاضـي په حکم] دغـه تور تپونکي(فاســقان) هر يو اتيا دورې ووهئ او د دوی شـاهدي نوره د تل لپاره مه منئ، ځکه چې همدا دوی فاسـقان دي، يعنی د الله تعـالی اطاعـت او فرمـان وړونـه وتلي دي، نو ځکـه د دغو کســانو شــاهدي اعتبار نلري او نه منل کيږي، خو هغه څوک چې د دغو کســانو نه [د خپل دغسې دروغژن تور نه] وروسـته تو به و باسي او اصلاح سي، نو يقينا چې الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ، يعنی دغه دروغژن

تور لګونکي کســان بښــي او تو به يې قبلوي، نو بيا د دوی شــاهدي هم قبليږي، او حيثيت او اعتبارېې په ټولنه کې بيرته اعاده کيږي.

ګرانو عز يزانو! پدې مبارکو آيتونوکې د قذف يا په زنا باندې د پاک لمنو ميړوښــو ميرمنو او يا ميړو پورې د دروغژنو تورنو لګولو شــرعي حد او ســزا مونږ ته الله تعالي بيان کړې ده او بيايې دغــې فاســقان توبې و يستلو ته په اخلاص سره رابللي دي، ترڅو دوی د پښيمانۍ نه وروسته و بښي، ځکه الله تعالی لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ او خپل ګناه ګار بنده ګان چې په اخلاص سره تو به و باسي بښي او د خپل رحمت نه يې همداســې رټل ســوي په ټولنې کې نه پر يږدي، يعنی د دوی د انســاني کرامت کلکه ساتنه کيږي، او د يادونې وړ ده چې د قذف حکمونه د زمونږ فقهاوو په پوره تفصــيل ســره د فقه په کتابونو کې د ليکل ســوې مدون نظام او دستور غوندې بيان کړي دي.

{اللعان ميړه او ميرمن د شرعي حد نفاذ نه خلاصوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د اللعان حکمونه چې هغه د ميړه او ارتيني د بيلتون سبب ګرځي؛ بيان کړي دي، او تور لګونکئ ميړه چې خپله ميرمن يې په زنا تورنه کړې ده؛ په اللعان سره د قذف سزا نه چې اتيا دورې وهل دي؛ خلاصــيږي، او همداســې تورنه ســوې ميرمن يې په اللعان ســره چې دوی دواړه د انکار لوړې کړي او په يو بل لعنت وايي؛ د زنا حد د ســزا نه چې ميړوښــې ته رجم (ســنګســار) دئ؛ خلاصــيږي او بيا دوی دواړه ميړه او ارتينه د يو بل نه بيليږي، او په بيان کې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ أَزۡوَٰجَهُمۡ وَلَمۡ يَكُن لَّهُمۡ شُهَدَآءُ إِلَّآ أَنفُسُهُمۡ فَشَهَٰدَةُ أَحَدِهِمۡ أَرۡبَعُ شَهَٰدَٰتِۭ بِٱللَّهِ إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٦ وَٱلۡخَٰمِسَةُ أَنَّ لَعۡنَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ إِن كَانَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٧ وَيَدۡرَؤُاْ عَنۡهَا ٱلۡعَذَابَ أَن تَشۡهَدَ أَرۡبَعَ شَهَٰدَٰتِۭ بِٱللَّهِ إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٨ وَٱلۡخَٰمِسَةَ أَنَّ غَضَبَ ٱللَّهِ عَلَيۡهَآ إِن كَانَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٩ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ وَأَنَّ ٱللَّهَ تَوَّابٌ حَكِيمٞ ١٠﴾

[٦-٧] او هغه کسان چې خپلې میرمنې په زنا تورنوي او د خپلو ځانونو نه پرته بل څوک شاهدان نلري، نو بیا د دوی شاهدي څلور ځله په الله باندې لوړه کړل دي [یعنی دا چې په خپله شاهدئ کې ووایي:] یقینا دئ د صادقانو او ر ښتا و یونکو نه دئ [یعنی دروغ نه وایي] او بیا ده په پنځم ځل کې ووایي: پر ده باندې ده په کلکه سره د الله لعنت او د رحمت نه رټل وي که دئ د دروغژنو نه وي!

[٨-٩] او دا لوړې او اللعان د دغې میړونبې میرمنې نه [چې هغه خپل میړه په زنا تورنه کړې ده] د زنا حد سزا [چې هغه ترمرګه په تیږو و یشتل او سنګسار دئ] لرې کوي، او بیا ده دغه تورنه میرمن څلور ځله پر الله لوړه وکړې او شاهدي ده ووایي: زه یقین لرم چې د زما میړه دروغژن دئ، او په پنځم ځل کې ده لوړه وکړي او وده وایي: په دغې تورنې ښځې باندې ده د الله غضب او غوصه رانازله سي که د هغې میړه د صادقانو او د ر ښتیا و یونکو نه وي! یعنې میړه یې دروغژن دئ او دا زنا کونکې نده.

[١٠] او ای خلکو! که پر تاسې باندې د الله پیرزو ینه او مهر باني نه وای [نو د الله عذاب به در باندې ژر راغلئ ؤ، او کلکه سزا به یې درکړې وه او رسوا کړې یې وی] خو یقینا چې الله لوی تو به قبلونکئ او ښه حکیم رب دئ، یعنی الله تعالی د پاخه حکمت څښتن او ښه مهر بان ذات دئ، نو ځکه یې تاسې ای خلکو! د بیړني او زر راتلونکي عذاب نه وساتلی او دا د اللعان لار او حکم یې تاسې ته د خلاصون لپاره روا کړه.

ګرانو دوستانو! یقینا چې د اللعان مسئله چې پکې میړه او میرمن د یو بل نه، لکه طلاق بیلیږي؛ د الله تعالی د مهر بانۍ لو یه پیرزو ینه ده او پکې میړه د قذف حد سزا نه سپمول کیږي، او میرمن یې د زنا حد سزا نه چې هغه سنګ سارول او تر مرګه په کانړو یا تیګو و یشتل دي؛ خلاصیږي، نو یقینا چې دا حکم د الله تعالی مهر بانۍ، رحمت او د لوی حکمت او پاخه تدبیر ښکارندوی دئ، ځکه کورنۍ او اسلامي ټولنې د بد نامي نه نجات مومي او عزت او پت یې ساتل کیږي.

{د عايشې ام المؤمنين براءت الله پاس د اسمانو نه اعلان که}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د ام المومنين عايشې رضي الله عنها براءت او پاکۍ اعلان کړې ده، او ام المومنين ته الله د منافقانو مشر عبد الله بن اُبئ ابن سلول د ناروا دروغژن تورنه کلک براءت ورکړئ دئ، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ جَآءُو بِٱلْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ ۚ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم ۖ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ لِكُلِّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُم مَّا ٱكْتَسَبَ مِنَ ٱلْإِثْمِ ۚ وَٱلَّذِى تَوَلَّىٰ كِبْرَهُۥ مِنْهُمْ لَهُۥ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١﴾ لَّوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا۟ هَٰذَآ إِفْكٌ مُّبِينٌ ﴿١٢﴾ لَّوْلَا جَآءُو عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ ۚ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا۟ بِٱلشُّهَدَآءِ فَأُو۟لَٰٓئِكَ عِندَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْكَٰذِبُونَ ﴿١٣﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِى مَآ أَفَضْتُمْ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٤﴾ إِذْ تَلَقَّوْنَهُۥ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَٰهِكُم مَّا لَيْسَ لَكُم بِهِۦ عِلْمٌ وَتَحْسَبُونَهُۥ هَيِّنًا وَهُوَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمٌ ﴿١٥﴾ وَلَوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُم مَّا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا سُبْحَٰنَكَ هَٰذَا بُهْتَٰنٌ عَظِيمٌ ﴿١٦﴾ يَعِظُكُمُ ٱللَّهُ أَن تَعُودُوا۟ لِمِثْلِهِۦٓ أَبَدًا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧﴾ وَيُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ ۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٨﴾﴾

[١١] اى مومنانو! يقينا هغو کسانو چې بهتان وکه [يعنى ام المومنين عايشه رضي الله عنهايې په خپلو دروغژنو و يانوو سره تورنه کړه] دوى د ستاسې منځ نه يوه وړه ډلکى ده، نو د دوى [دا سپک تور] تاسې ته بد مه کنئ، بلکې هغه د ستاسې په خير دئ او هر يو د دوى به د خپلې کړنې ګناه سزا ګالي، او هغه چا چې د دغو تور لګونکو نه د دې دروغژن تور لوى پيټئ پر غاړه واخست [يعنى د دې تور پيلونکئ او مشر ؤ] هغه ته لوى عذاب او کلکه سزا ده، يعنى د دې دروغژن تور مشر نه مقصد همدا عبدالله

بن ابئ بن سلول د منافقانو مشر ؤ چې دا ناحقه تورپې د رسول الله ﷺ یارانو په منځ کې خورکه.

عزتمنو دوستانو! پدې مبارك آیت کې مومنانو ته الله تعالی په نصیحت او سپارښتنه کې فرمایلي دي چې دا سپک تور چې د منافقانو مشر ابئ ابن سلول لعنت الله علیه؛ ام المومنین عایشې رضی الله عنها پسې په دروغو پرته د هیڅ کم شاهد او دلیل نه وتاپه او هغه یې تورنه کړه؛ تاسې اي مومنانو! هغه خپلو ځانو ته بد مګئ او مه پرې خفه کیږئ، ځکه پدې ناحقه او درغژن تورکې تاسې ته خیر او ګټه ده! معنا دا چې لمړئ دا کاذب تور د ام المومنین مقام د الله تعالی پر وړاندې نور هم لوړ که او الله د هغې په پاکئ او براءت کې د دغسې درغژن تور نه او د هغه په غندلوکې د قرآن دغه مبارك آیتونه را نازل کړل چې هغه تر قیامت ورځې پورې لوستل کیږي، نو منافق د مومن نه ور باندې ښه روښانه بلیږي، او ژوندئ بیلګله یې په ټول تار یخ کې د هغو منافقانو رسوا کول دي چې ام المومنین رضی الله عنها په دغسې تور باندې تورنه کوي، لکه د رافضوو غالیان، دو یم خیریت یا ګټه یې پدې کې ده چې مومنانو ته ښایي هیڅ کله یو خبر د تحقیق او د هغه سپیناوي نه پرته ونه مني او ور باندې باور ونکړي، ترڅوپې ر یښتیا او دروغ ښه یقیني معلوم سي، ځکه مومنانو ته نه ښایي د خوسې دروغژنو تبلیغاتو ښکار سي؛ مخصوصا هغه دنډورې او پرو پاګندې چې د اسلام دښمنان یې خوروي، او په ځانګړې ډول په اوسنیو برقي رسنیوکې چې د دغسې خبرونو خورولو عاجله وسیله ګرځیدلې دي، او هر څوک د دې لارې نه نو یو خبرونو ته لاس رسئ لري!

[۱۲-۱۳] هو! کله چې مومنانو دا دروغژن تور واور یده [نو دوی ته ښاییدل چې چوب نه وای پاتې سوي او دا درغژن تورپې کلک رد کړئ او غندلئ وای!] هو! ښځو او نار ینه مومنانو پر خپلو ځانو ښه ګمان وکه او و یو یل چې دا ښکاره دروغ دي او تور لګونکو ولې څلور شاهدان ور باندې را نه وستل؟ نو کله، چې دوی شاهدان را نه وستل، دوی د الله پر وړلاندې دروغژن دي، یعنی الله تعالی به دوی ته کلکه سزا ورکړي.

[١٤] ای مومنانو! او که د الله فضل او رحمت په دنیا او آخرت کې پر تاسې باندې نه وای، نو د افك په تورکې به تاسې ته چې پکې پر یوتلی؛ ډیر عذاب رسیدلی ؤ، یعنی ای مومنانو! تاسې الله تعالی د لویې سزا نه وساتلی، او پدې خبره د هغو کسانو ملامتول دي چې دوی د افك په کاذب تورکې چوپ پاتې سول او یا پکې ورګډ سول، او همدارنګه دا مبارك آیت مونږ ته دا بلنه را کوي چې ښایي پر یو بل باندې ښه ګمان وکړو او د دښمن د دروغژنو تورونو او تبلیغاتو ښکار نسو، او هم ښایي مومنان تل د یو بل نه دفاع وکړي او پر خپلو مومنو وروڼو ښه ګمان ولري او هیڅ کله د دښمنانو او د رقیبانو دروغژنو پرو پاګندو تاثیر لاندې رانسي.

[١٥] او ای مومنانو! ډیر کله تاسې یو خبر په خپلو ژ بو د یو بل نه اخلی او بیا په خپلو خولو هغه څه خوروی چې ور باندې یقیني علم نلری او هغه اسانه بولی، حال دا چې هغه د الله پر وړاندې لو یه ګناه ده، یعنی مومنانو ته روا نده هره خبره چې یې واور یدلې؛ هغه ومني او باور پرې وکړي، او بیا هغه د خلکو په منځ کې خوره او نشرکړي او په ځانګړي ډول هغه کاذب تورونه چې په اوسني عصرکې د انترنیټي شبکو او ټولنیزه رسنیو لخوا د خلکو په منځ کی ژر خور یږي او د ځینو ښو خلکو او اصلاح غوښتونکو پر خلاف زهرجن تبلیغات کیږي.

[١٦] او ای مومنانو! کله چې تاسې دغه دروغژن تور واور یده، نو بیا ولې تاسې ونه و یل چې مونږ ته نه ښایي چې دا سپکه خبره وکړو، او ای د زمونږ لو یه خدایه! ته چې د هر عیب نه پاک یې؛ داخبره لوی بهتان دئ، یعنی هیڅ حقیقت نلري او هغه خوسې دروغژن تور دئ!

[١٧-١٨] او ای مومنانو! الله تاسې ته وعظ او نصیحت کړي چې که تاسی په ر ښتیا سره مومنان یاستی، نو بیا هیڅ کله بیرته دغسې سپکو خبرو ته وروانوړی [یعنی هیڅ چا پسې ناحقه تورونه ونه تړی] او تاسې ته الله د خپل کتاب آیتونه [چې پکې لارښودنې او نصیحتونه دي په پوره روڼتیا سره بیانوي] او الله ښه پوه او لوی حکیم ذات دئ، یعنی د الله تعالی حکمونه ټول په لوی علم او پاخه حکمت تاسې ته بیان سوي دي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونوکې د هغو مومنانو نه کلکه ګيله کړې ده چې دوی د منافقانو سره همغږي سول او د افك کاذب تورورونه يې ام المؤمنين رضي الله عنها پسې ومنل او باور پرې وکه، حال داچې دوی ته ښايیدل هغه کلک رد کړي، ځکه هغه د پيغمبر ﷺ کورنۍ د يوې درندې عالمې ام المومنين لور مقام نه ډير لرې ول.

{الله تعالي هغو کسانو ته کلکه سزا ورکوي چې فحشاء خوروي}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى هغه کسان کلک غندلې دي چې دوی کرکجن اعمال، لکه د زنا فحشاء خورل په ټولنه کې خوښوي او د ډول ډول لارو نه د فحشاء خورولو لپاره کار اخلي، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ ٱلۡفَٰحِشَةُ فِي ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ١٩ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ وَأَنَّ ٱللَّهَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ٢٠ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ وَمَن يَتَّبِعۡ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِ فَإِنَّهُۥ يَأۡمُرُ بِٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِۚ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ مَا زَكَىٰ مِنكُم مِّنۡ أَحَدٍ أَبَدٗا وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُزَكِّي مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ٢١ وَلَا يَأۡتَلِ أُوْلُواْ ٱلۡفَضۡلِ مِنكُمۡ وَٱلسَّعَةِ أَن يُؤۡتُوٓاْ أُوْلِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينَ وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ وَلۡيَعۡفُواْ وَلۡيَصۡفَحُوٓاْۗ أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٢٢﴾

[۱۹] هو! يقينا هغه کسان چې د مومنانو په منځ کې فحشاء (د بدو او سپکو کړنو) خور يدل خوښوي؛ دوی ته په دنيا او آخرت کې دردونکئ عذاب دئ، او الله د دوی په بدو نيتونو باندې پوهيږي، خو تاسې ای خلکو! ور باندې نه پوهيږئ، يعنی نو ځکه الله تعالى په دنيا کې په دغو کسانو باندې د قذ ف حد جاري کوي، او که تو به ونه باسي، نو بيا په آخرت کې د دوزخ په اورکې کړول کيږي، ترڅو ټولنه د دغسې خلکو د شر

نه چې فحشاء خوروي په امن کې سي، او په اوسني عصرکې د دغسې ګواښ لاندې ټول هغه کسان راځي چې دوی د رسنیو لارې نه ځوانان فحشاء ته هڅوي او د ښځو او نار ینوو د ګډا ګډ کانسرتونه جوړوي او بیایې فلمونه او و یډ یوګانې په اجتماعي رسنیوکې خوروي، ترڅو په ټولنه کې میړانه او غیرت له منځه یوسي او دووسي پکې خور سوئ دود وګرځوي.

[۲۰] [او ای د افك په ناحقه تورکې پر یوتو مومنانو!] که د الله فضل او رحمت پر تاسې باندې نه وای، چې یقینا الله ښه مهر بان ذات دئ، یعنی نو بیا به تاسې ته عاجله سزا درکړل سوې ؤ، او الله د توبې و یستونکو کسانو تو به قبوله کړه او د قذ ف سزا نه یې معاف کړل.

[۲۱] ای مومنانو! او د شیطان په پله مځئ، او هر څوک چې شیطان پسې ځي، نو شیطان هغه ته په فحشاء او بدو کړنو امر کړي، او ای مومنانو! که د الله ورکړې، پیرزو ینې او رحمت پر تاسې باندې نه وای، نو د ستاسې نه به هیڅ څوک الله د ګناه نه پاک کړئ نه ؤ، او څوک چې الله وغواړي پاکوي یې، او الله ښه اور یدونکئ او لوی پوه ذات دئ، یعنی د خپلو بنده ګانو و یناوې اوري او د زړو نه یې خبر دئ او ور باندې ښه پوهیږي او د هر چا سره الله د هغه نیت سره سم چلند کړي، نو ښایي مومنان خپل نیتونه سم کړي او په اخلاص سره د الله حکمونه ومني او عمل پرې وکړي.

ګرانو وروڼو او خو یندو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې لمړئ د ام المؤمنین عائشې رضي الله تعالی عنها براءت اعلان کړئ دئ او بیایې د هغو مومنانو نه کلکه ګیله کړې ده چې دوی د شیطان وسوسو پسې لاړل او د منافقانو سپکو تبلیغاتو ښکار سول او د هغوی خبرې یې بدرکه کړې، حال دا چې ښاییدل دوی د رسول اللهﷺ او د هغه کورنۍ لوړ مقام ته په کتو سره د منافقانو تورونه رد کړي او غندلي وای، خو بیا هم الله تعالی چې د لوی فضل او رحمت څښتن دئ؛ دوی یې و بښل او تو به یې قبوله کړه، نو ښایي چې مومنان هیڅ کله شیطان پسې لاړ نسي او دغسې ښکاره ونه غولیږي او د خپل مقتدا کلکه ننګه وکړي او د هغه د عزت او

ناموس ساتونکي وي، او هیڅ کله یې د دښمنانو تاثیر لاندې رانسي او په خپلو هوډونو باندې ښه ټینګ ولاړ پاتې سي.

او بیا په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د خپل لوی رحمت په سورې کې مومنان د خپلو خپلوانو او بې وزره کسانو سره مرستې ته هڅولي دي چې دوی د ډیرې ساده ګۍ نه د افك په پیښه کې د منافقانو تبلیغاتو ښکار سول او کلك تیروتل، او همدارنګه یې دوی عفوې او بښنې ته رابللي دي، او فرمایلي دي:

[۲۲] ای مومنانو! د ستاسې نه ده د ښو کړنو او د مال او دولت خاوندان؛ داسې لوړه نکړې چې دوی به نور خپلو خپلونو ته او بې وزره مسکینانو ته او د الله په لارکې مهاجر ینو ته څه شئ نه ورکوي او مرسته به ور سره نکړي، بلکې دوي ده دغو کسانو ته بښنه وکړی او د هغوی بدو کړنو نه ده ورتیر سي، او ای مومنانو! آیا د ستاسې نه خوښیږي چې تاسې الله و بښي؟ او الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ.

درندو عز یزانو! روایت سوئ دئ چې د افك په ناحقه او دروغژن تور کې چې کله مسیطح بن اثاثه د ابو بکرصدیقﷺ خپلوان ژ به هم ناولې سوه او دئ ډیر غر یب او مسکین ؤ او ټول خرڅ یې ورته ابو بکر صدیق ورکا وه، نو بیا ابو بکر صدیقﷺ د ډیرې غوصې نه؛ لوړه وکړه چې نور به مسطح نه پالي، نو ځکه الله تعالی دا مبارك آیت را نازل که او ابو بکر صدیق یې د مسطح نه تیریدلو او بښنې ته وهڅا ؤ، ځکه الله تعالی لوی بښونکې او ښه مهر بان ذات دئ، نو بیا ابو بکرصدیقﷺ خپل دغه تروړئ و باښه او مالي مرسته یې ورسره پخوا غوندې جاري وساتله.

{هغه کسان چې پاک لمنې میرمنې په زنا تورنوي الله سزا ورکوي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی په پاک لمنو مومنو میرمنو پسې د زنا تورونه کلك غندلي دي او تور لګونکي یې په کلکو سزاګانو باندې په دنیا او آخرت کې ګواښلي دي، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ٱلۡغَٰفِلَٰتِ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ لُعِنُواْ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ٢٣ يَوۡمَ تَشۡهَدُ عَلَيۡهِمۡ أَلۡسِنَتُهُمۡ وَأَيۡدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٢٤ يَوۡمَئِذٖ يُوَفِّيهِمُ ٱللَّهُ دِينَهُمُ ٱلۡحَقَّ وَيَعۡلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ ٱلۡمُبِينُ ٢٥ ٱلۡخَبِيثَٰتُ لِلۡخَبِيثِينَ وَٱلۡخَبِيثُونَ لِلۡخَبِيثَٰتِۖ وَٱلطَّيِّبَٰتُ لِلطَّيِّبِينَ وَٱلطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَٰتِۚ أُوْلَٰٓئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَۖ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ٢٦﴾

[٢٣] هو! يقينا هغه کسان چې پاک لمنې مومنې میرمنې په زنا تورنوي دوی په دنیا او په آخرت کې د الله رحمت نه رټل سوي او شړل سوي دي، او دوی ته د جهنم په اورکې غټ عذاب او لو یه سزا ورکول کیږي، یعنی په زنا باندې د پاکو لمنو مومنو میرمنو تورنول لو یه ګناه ده او سزایې د الله تعالی رحمت نه شړل او د دوزخ په اور کې کړ یدل دي.

[٢٤] [او دغه د دوزخ اور عذاب دې کسانو ته په] هغه ورځ ورکول کیږي چې د دوی ژبې، لاسونه او پښې د دوی په بدو کړنو شاهدي وایي!

[٢٥] او په هغه ورځ دوی ته الله په حق سره سزا ورکوي، او بیا دوی د ثواب او سزا ورکولو په دغه لو یه ورځ ښه پوهیږي چې الله ښکاره حق دئ، یعنی دا چې الله تعالی په حق سره لوی واکمن ذات دئ، او د الله ټولې وعدې ر یښتیا دي او هر ګناه ګار ته الله په پوره عدالت سره د هغه لائق سزا ورکوي او په هیڅ چا باندې الله تعالي ظلم نکړي!

[٢٦] هو! خبیثې او چټلې ښځې د چټلو او خبیثو نار ینو لپاره دي، او خبیث نار ینه د خبیثو ښځو لپاره دي [یعنی هر هغه څوک چې په زنا او فحشاء کې ملوث او ککړ وي، که هغه نر وي او که ښځه؛ دوی ټول یوازې یو بل ته ښایي او پاکو خلکو ته لائق ندې، ځکه پاکې ښځې د پاکو نار ینو لائق دي او پاک نار ینه د پاکو ښځو لائق دي، نو ښایي چې د یو بل سره ودونه وکړي] او هغه کسان چې د خبیثو او بدو دروغژنو تورونو نه پاک دي؛ دوی ته د الله لخوا بښنه او ښه روزي ورکول کیږي.

درندو ورونو او خو يندو! الله تعالى پدې مبارکو آيتونوکې مومنان پاکو ميرمنو پسې د زنا ناحقه تورونو نه په کلکه سره ګواښلي دي، او د خپل رحمت نه د شړلو سزا په ځنګ کې يې؛ په ټولنه کې د پاکو خلکو سره د خپلوۍ او د وا ده نه کلک منعې کړې دي، او هغو مومنانو ته چې ناحقه تورن سوي دي؛ د ثوابونو ز يري په آخرت کې ورکړي دي.

{پردي کور ته د اجازې نه پرته ورننوتل حرام دي}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې مومنانو ته د اجتماعي اړ يکو په باره کې ډيرې ارښتناکه سپارښتنې کړې دي، او فرمايلې دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ بُيُوتِكُمۡ حَتَّىٰ تَسۡتَأۡنِسُواْ وَتُسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَهۡلِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ٢٧ فَإِن لَّمۡ تَجِدُواْ فِيهَآ أَحَدٗا فَلَا تَدۡخُلُوهَا حَتَّىٰ يُؤۡذَنَ لَكُمۡۖ وَإِن قِيلَ لَكُمُ ٱرۡجِعُواْ فَٱرۡجِعُواْۖ هُوَ أَزۡكَىٰ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٞ ٢٨ لَّيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ مَسۡكُونَةٖ فِيهَا مَتَٰعٞ لَّكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تُبۡدُونَ وَمَا تَكۡتُمُونَ ٢٩﴾

[۲۷] ای مومنانو! د خپلو کورونو نه پرته بل چا کور ته مه ورننوځئ، مګر داچې د کور څښتن نه اجازه وغواړئ او پر دوی باندې سلام واچوئ او پدې کې تاسې ته خير دئ، او کيدای سي چې پدې کار سره تاسې ته د الله حکمونه او د يو بل سره د اړ يکو آداب در پياد سي، يعنی نو تاسې دا لارښودنه د يو بل سره په اړ يکوکې عملي کړئ.

[۲۸] نو که بيا تاسې په دغو کورونوکې څوک بيانموندل، نو مه ورننوځئ، ترڅو درته اجازه وسي، او که درته وو يل سول چې بيرته وګرځئ، نو بيا بيرته وګرځئ [يعنی په ورننوتلو ټينګار مکړئ] او بيرته ګرځيدل درته ښه دي او تاسې ته پکې پاکي ده، او د ستاسې په کړنو الله ښه پوه دئ، يعنی دا چې که تاسې ای مومنانو! په اخلاص سره د خپلوانو او دوستانو

کورونو ته ورغلې او دوی تاسي کلک و پالل، نو الله به تاسي ته د خپل اخلاص او د ښو کړنو ثواب درکړي.

[٢٩] ای مومنانو! او پر تاسي باندې څه ګناه نسته چې هغو کورونو ته ورننوځئ چې خوک پکې نه اوسيږي او د ستاسي سامان پکې پروت وي [یعنی غواړئ چې خپل سامان را واخلئ] او ای مومنانو! الله د ستاسي په ښکاره او پټ حال باندې پوهيږي، یعنی ښایي هر مومن بنده الله تعالی تل پر خپل ځان باندې حاضر وو يې او هيڅکله د بدو کړنو قصد ونکړي.

{په ښځو او نارینوو فرض ده چې نامحرمو کسانو ته ونه ګوري}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مومنان الله تعالی د نامحرمو او پردیو ښځو او نار ینو ته د کتلو نه منع کړي دي، او پدې باره کې يې ورته نورې ډيرې ګټورې لارښودنې او سپارښتنې هم کړې دي؛ او فرمايلي دي:

﴿قُل لِّلۡمُؤۡمِنِينَ يَغُضُّواْ مِنۡ أَبۡصَٰرِهِمۡ وَيَحۡفَظُواْ فُرُوجَهُمۡۚ ذَٰلِكَ أَزۡكَىٰ لَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا يَصۡنَعُونَ ٣٠ وَقُل لِّلۡمُؤۡمِنَٰتِ يَغۡضُضۡنَ مِنۡ أَبۡصَٰرِهِنَّ وَيَحۡفَظۡنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبۡدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنۡهَاۖ وَلۡيَضۡرِبۡنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّۖ وَلَا يُبۡدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوۡ ءَابَآئِهِنَّ أَوۡ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوۡ أَبۡنَآئِهِنَّ أَوۡ أَبۡنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوۡ إِخۡوَٰنِهِنَّ أَوۡ بَنِيٓ إِخۡوَٰنِهِنَّ أَوۡ بَنِيٓ أَخَوَٰتِهِنَّ أَوۡ نِسَآئِهِنَّ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُنَّ أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيۡرِ أُوْلِي ٱلۡإِرۡبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ أَوِ ٱلطِّفۡلِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يَظۡهَرُواْ عَلَىٰ عَوۡرَٰتِ ٱلنِّسَآءِۖ وَلَا يَضۡرِبۡنَ بِأَرۡجُلِهِنَّ لِيُعۡلَمَ مَا يُخۡفِينَ مِن زِينَتِهِنَّۚ وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٣١﴾

[٣٠] ای پیغمبره! نار ینه مومنانو ته ووایه [یعنی ورته حکم وکړه] چې خپلې سترګې د پردیو نامحرمو ښځو ته د کتلونه ښکته یا ټیټې کړي او خپلې شرم ګاه وې ده د زنا نه وساتي، ځکه دغ کار دوی ښه پاک ساتي،

او یقینا چې الله د مومنانو کړنو نه ښه خبر دئ، یعنی الله د خپلو بنده ګانو پر ټولو کړنو پوه دئ او هر چا ته د هغه ښه عمل ثواب او د بد عمل سزا ورکوي.

[۳۱] ای پیغمبره! او مومنو میرمنو ته ووایه [یعنی حکم ورته وکړه] چې خپلې سترګې ده د پردیو نامحرمو نار ینوو ته د کتلو نه ښکته یا ټیټې کړي او خپل فرجونه ده د زنا نه وساتي او د خپل ښایست ګانی ده چا ته نه ښکاره کوي، مګر داچې د دوی د ښایست کم څه شئ ناڅاپه خپله او بې اختیاره ښکاره سي، او خپل پلوونه ده په خپلو ګر یونو او سینو باندې کلک را واچوي [ترڅوپې ګر یون او سینه ښکاره نسي] او خپل ښایست ده پرته د خپلو میړو او د میړو پلرونو(خسر)نه او د خپلو زامنو، بنزیانو، خپلو وروڼو، ور یرونو، خور یونو، او د دوی غوندې نورو ښځو نه، او د خپلو مینځو نه او ورسره هغو نار ینو نه چې شهوت نلري [لکه ایزک خدمتکاران] او د نابالغه هغو ماشومانو نه چې تر اوسه د ښځو عورت باندې نه پوهیږي او شهوت نلري؛ بل هیڅ چا ته ده [خپل ښایست نه ښکاره کوي!] او په تګ کې ده خپلې پښې او ګامونه په ځمکه کلک کلک نږدي، ترڅو د دوی هغه پټې ګانې چې شړنګهار کړي ښکاره نسي [یعنی غږ یې څوک وانوري] او ای مومنانو! تاسې ټول خپل رب الله ته ور وګرځئ، نو د خپلو تیرو ګناهو نه تو به و باسئ، ترڅو د دنیا او آخرت ګټو وړونکي سئ او بر یا او نیکمرغي مو په برخه سي.

عزتمنو دوستانو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونو کې ټولو مومنانو ته لارښودنه کړي ده چې د اسلام نه مخکی د جاهلیت او ناپوهۍ ورځو ټول خو یونه او دودونه ده پر یږدي، او ورڅخه ده کلک لاس واخلي، او الله تعالی ده په زاړه سره یاد کړي او د خپلو پخوانو ټولو بدو کړنو او دودونو نه ده کلکه تو به و باسي، ترڅو په دنیا او آخرت کې نیکمرغه او سر لوړي سي او بر یا او ښادي یې په برخه سي.

هو! قدرمنو دوستانو! د اسلام نه پخوا د عر بانو ښځې او نار ینه ټول د یو بل سره کډوډ (برګ برګ) کته او پورته کیدل او ستر یا حجاب یې په

منځ کې نه ؤ او خپل او پردئ يې نه سره بيليدل، نو ځکه زنا او فحشاء په هغه ټولنه کې دود ګرځيدلې وه، خو بياځې کله اسلام راغئ د جاهليت او د کفر زمانې ټول ناروا دودنه يې منعې کړل، ترڅو د ناوړه اخلاقو او بدو کړنو مخنيوئ وسي، او ټولنه د فحشاء نه چې د بشري نسل پای ته رسيدلو لوی عامل دئ خوندي سي، او د بشري ټولنو نسلونو وده به همداسې يوازې د روا لارو نه تر قيامت ورځې پورې د الله تعالى سنتو او کوني او شرعي قوانينو سره سمه اوږده سي.

{مومنانو ته ښايي ودونه وکړي او فقرې الله په غنا بدل کړي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مومنان واده کړو ته هڅولي دي، او پدې باره کې يې ورته ښې ډيرې ګټورې لارښودنې او سپارښتنې کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿وَأَنكِحُوا۟ ٱلْأَيَـٰمَىٰ مِنكُمْ وَٱلصَّـٰلِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَآئِكُمْ ۚ إِن يَكُونُوا۟ فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٢﴾ وَلْيَسْتَعْفِفِ ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ۗ وَٱلَّذِينَ يَبْتَغُونَ ٱلْكِتَـٰبَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا ۖ وَءَاتُوهُم مِّن مَّالِ ٱللَّهِ ٱلَّذِىٓ ءَاتَىٰكُمْ ۚ وَلَا تُكْرِهُوا۟ فَتَيَـٰتِكُمْ عَلَى ٱلْبِغَآءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِّتَبْتَغُوا۟ عَرَضَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۚ وَمَن يُكْرِههُّنَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ مِنۢ بَعْدِ إِكْرَٰهِهِنَّ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ أَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ ءَايَـٰتٍ مُّبَيِّنَـٰتٍ وَمَثَلًا مِّنَ ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلِكُمْ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٣٤﴾﴾

[٣٢] ای مومنانو! [او د ستاسې هغو نار ينو او ښځو خپلوانو ته چې واده نلري] ودونه وکړې، او هم خپل صالحان مر يان او مينځې په واده کړې، او که چيرې دوی بې وزره وي څه شئ نلري، نو الله به دوی په خپل فضل او پيرزو يې سره غنيان کړي [يعنى مال او دولت به ورکړي] ځکه د الله سره هرڅه ډير دي او الله په خپلو بنده ګانو باندې ښه پوه دئ، يعنى که څوک په ښه نيت او د الله تعالى نه په اطاعت او خپل ځان د

ګناه نه ساتني په مقصد؛ واده وکړي، نو الله ورسره مرسته کړي او فقر او ناداري يې په غنا او مړښت بدلوي، يعنی ټولې اقتصادي اړتياوې الله تعالی په خپل فضل او رحمت سره پوره کوي.

[۳۳] او هغه کسان چې د وا ده کړو وسعه نلري [يعنی دوی ته د وا ده په لار کې مالي ستونزې او خنډونه وي] دوی ده خيل عفت وساتي، ترڅو چې الله د خپل فضل او کرم نه دوی غنيان کړي [يعنی د وا ده کړو وسعه ورکړي، او ای مومنانو!] د ستاسې لاس لاندې هغه مر يان چې غواړي خپل ځانونه ستاسې سره د تړون په ليکلو سره ازاد کړي، نو که په دوی کې خير و يی [يعنی په دوی کې د خپلې ازادۍ پور يا قرض ورکړې وړتيا وي] نو د دوی د ازادۍ پر يکړه ليک ورسره وليکی، او د الله هغه مال او دولت نه چې تاسې ته يې درکړئ دئ؛ دوی ته څه شئ ورکړی [يعنی زکات ورکړی، ترڅو دوی د خپلې ازادۍ پور پر يکړي] او ای مومنانو! خپلې پيغلې مينځې چې دوی د خپلو ځانو پاکې غواړي؛ د دنيا ګټو لپاره په زنا کړو باندې په زور مجبورې نکړی، او هغه څوک چې خپلې مينځې په زور زنا ته اړ باسي [يعنی پر دوی باندې په زور د زنا تجارت کړي] نو الله دوی ته بښونکئ او ور باندې بښه مهر بان ذات دئ، يعنی د زنا کړو ګناه يې د بادارانو په غاړه اچوي چې دوی يې په زور زنا ته اړ و يستلې وې، خو دغسې د عزت پلورلو دود د جاهليت نه را پاتې ناروا دود ؤ، نو بيا د زنا تحر يم حکم را نازليدو نه وروسته؛ د زنا فاحشې ټول جاهلي ډول ډول دودونه ټول حرام اعلان سول او د مينځو عزت لکه د ازادو ميرمنو عزت خوندي سه، او يوازې د شرعي نکاح او يا د خپل بادار سره ورته جنسي رابطه يا اړ يکې روا پاتې سوې.

قدرمنو دوستانو! د يادونې وړ ده چې اوس الحمد لله د مر ييتوب او د مينځو نيولو نظام په نړۍ کې نسته او ټول خلک د دغسې بښکاره غلامۍ نه ازاد سوي دي، خو البته اسلام د پيل نه په خپل نظام کې د مر يانو ازادۍ لپاره ډيرې لارې په نښه کړې دي، ترڅو مر يان په بيعې سره د خپلو ځانونو اخستلو د لارې نه؛ ځانو نه ازاد کړي، او دغسې مريانو ته

فقهاوو د [المكاتبون] نوم وکړئ دئ، او قرآن ورته د [وفی الرقاب] بند لاندې زکات روا کړئ دئ؛ نو یقینا چې د دغسې ترون مشروعیت په اسلام کې د غلامانو ازادۍ لپاره یوه بیلګه ده، یعنی الله تعالی مومنانو ته کلک سپارښت کړئ دئ چې د مر یانو د مکاتبۍ پور پر یکولو لپاره ده زکات او نوره بسپنه ورکړي، ځکه د مر یانو ازادول د زکات مستحقینو د اتو ډلو نه یوه ډله ده، او همدارنګه پدې مبارك آیت کې هغه کسان چې ځانونه یې مومنان بلل، خو خپلې مومنې مینځې یې د جاهلیت دوران غوندې زنا ته په عزت خرڅولو مجبورولې؛ الله تعالی په کلکه سره د دې کرکجن عمل نه منعې کړي دي، نو یقینا چې دا سپارښتنې د بشري حقوقو ساتلو په باره کې ډیر ارزښت ناکه قانون بلل کیږي، خو اوسني نړۍ وال بشري قانون څوارلس پیړۍ وروسته ورته پام سه، او اوس اوس یې په تیره شلمه میلادي پیړۍ کې دا قانون په نړ یوالـه کچه تصو یب او اعلان که او د جاهلیت دورې نه را پاتې غلامۍ ته یې د پای ټکئ کیښود.

[٣٤] ای مومنانو! او یقینا چې د قرآن آیتونه مونږ تاسې ته بیانونکي رانازل کړل [یعنی ترڅو تاسې حق او باطل سره بیل کړۍ او په سمه لار تګ تاسې ته وښیي] او ای مومنانو! همدارنګه تاسې ته مونږ د قرآن په آیتونوکې د ستاسې نه مخکې تیر سوو ولسونو بیلګې را په یادې کړې، ترڅو هغه متقیانو ته د عبرت او د پند اخستلو ښې زده کړې وکړئ.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په خپل اسماني کتاب قرآن کې چې هغه یې پر خپل وروستي پیغمبر محمد ﷺ باندې را نازل کړئ دئ؛ په هغه کې یې مونږ ته ډیرې ګټورې لارښودنې کړې دي، لکه دغه د واده مسئلې او په ټولنه کې د زنا او فحشاء مخنیوئ، او همداسې نورې ډیرې ارزښتناکه لارښودنې او سپارښتنې چې عملي کول یې مونږ ته په دنیا او په آخرت کې د نیکمرغۍ لوی پیغام دئ، خو د بده مرغه په اوسنیو فاسدو غربي او شرقي کفري ټولنوکې چې د دیني لارښودنو نه محرومې دي؛ مشرانویې د خپلو ګټو لپاره په دغسې ټولنوکې د فساد او فحشاء ټول وسائل داسې برابر کړي دي چې پکې هیڅ څوک د واده فکر ونکړي، ځکه د دوی د جنسي

غر يزو اشباع لپاره يې ټولې ناروا لارې پرانستې دي، لکه څنګه چې د اسلام نه پخوا کافران په اخلاقي فساد کې پر يوتي او ښکيل ول.

{د الله تعالى نور په څمکه او اسمانو کې رڼا ده}

او په ور پســې مبارکو آيتونو کې الله تعالى مونږ ته لمړۍ خپل نور او خوروره رڼا پر څمکه او اسمانوکې يادە کړې او بيان کړې ده، او مقصد او مرادې د دې رڼا نــه د الله تعالى اســماني کتابونو را نازلېدل پر خپلو پيغمبرانو باندې دي، څکه ايمان راوړل پر دوی باندې خلکو ته په ســمه لار تک رڼا کوي او ورکتيا نــه يې خلاصــوي، او د کفر تورو تيارو نــه يې ساتي، او بيا الله تعالى د کافرانو کړنې په سمندرونوکې تورو تيارو ته ورته بللې دي چې د کافرانو هلاکت عامل او سبب ګرځي، او فرمايلي دي:

﴿۞ٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ مَثَلُ نُورِهِۦ كَمِشۡكَوٰةٖ فِيهَا مِصۡبَاحٌۖ ٱلۡمِصۡبَاحُ فِي زُجَاجَةٍۖ ٱلزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوۡكَبٞ دُرِّيّٞ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٖ مُّبَٰرَكَةٖ زَيۡتُونَةٖ لَّا شَرۡقِيَّةٖ وَلَا غَرۡبِيَّةٖ يَكَادُ زَيۡتُهَا يُضِيٓءُ وَلَوۡ لَمۡ تَمۡسَسۡهُ نَارٞۚ نُّورٌ عَلَىٰ نُورٖۚ يَهۡدِي ٱللَّهُ لِنُورِهِۦ مَن يَشَآءُۚ وَيَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَٰلَ لِلنَّاسِۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٣٥ فِي بُيُوتٍ أَذِنَ ٱللَّهُ أَن تُرۡفَعَ وَيُذۡكَرَ فِيهَا ٱسۡمُهُۥ يُسَبِّحُ لَهُۥ فِيهَا بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ ٣٦ رِجَالٞ لَّا تُلۡهِيهِمۡ تِجَٰرَةٞ وَلَا بَيۡعٌ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ يَخَافُونَ يَوۡمٗا تَتَقَلَّبُ فِيهِ ٱلۡقُلُوبُ وَٱلۡأَبۡصَٰرُ ٣٧ لِيَجۡزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحۡسَنَ مَا عَمِلُواْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضۡلِهِۦۗ وَٱللَّهُ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٣٨ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَعۡمَٰلُهُمۡ كَسَرَابِۭ بِقِيعَةٖ يَحۡسَبُهُ ٱلظَّمۡـَٔانُ مَآءً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَهُۥ لَمۡ يَجِدۡهُ شَيۡـٔٗا وَوَجَدَ ٱللَّهَ عِندَهُۥ فَوَفَّىٰهُ حِسَابَهُۥۗ وَٱللَّهُ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ٣٩ أَوۡ كَظُلُمَٰتٖ فِي بَحۡرٖ لُّجِّيّٖ يَغۡشَىٰهُ مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ سَحَابٞۚ ظُلُمَٰتُۢ بَعۡضُهَا فَوۡقَ بَعۡضٍ إِذَآ أَخۡرَجَ يَدَهُۥ لَمۡ يَكَدۡ يَرَىٰهَاۗ

﴿وَمَن لَّمْ يَجْعَلِ ٱللَّهُ لَهُۥ نُورًا فَمَا لَهُۥ مِن نُّورٍ ۝٤٠﴾

[٣٥] الله د ځمکې او اسمانو نور او ژباړه دئ [یعنی ټولې چارې چلوي او په خپل نوریې ژباړه کوي] او د الله نور بیلګه [د دنیا په ژباړه کولوکې] هغه چراغ ته ورته ده چې د ښیښې نه جوړ سوي پوښ کې د دیوال په الماری کې ایښودل سوئ وي، او لکه رون ستورئ ژباړې هرې خوا ته ځلیږي، او لکه د زیتون مبارکې وني په تیلو چې بلیږي، او ژباړې یوازې ختیځ او لوېدیځ خوا ته نه وي، او لنډه وي چې تیل یې پرته لدې چې اور ور باندې لږ یدلئ وي؛ هره خوا ژباړه کړي، هو! دا نور او ژباړه یوه پر بله باندې ده [یعنی ډیره خوره وره ده] او الله چې هر څوک وغواړي خپلې دغې ژباړه ته یې ورسموي [ترڅو د ژباړه نه کټه وا خلي او سمه لار بیاموميې] او الله خلکو ته دغسې مثالونه بیانوي [یعني ترڅو پکې ښه ژور فکر وکړي او په سمه لار چې په توحید سره د الله پیژندنې لار ده؛ وخوځیږي او پرې لاړ سي] او الله په هرڅه باندې ښه پوه؛ لوی ذات دئ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په خپل نور سره چې دئ یې خالق دئ؛ ځمکه او اسمانو نه ژباړه کړي دي او دا ژباړې د لمر او سپوږمۍ په کښت سره چې ورځ او شپه ورڅخه ز یږ یږي پر ځمکه او اسمان کې خوره کړې ده، او بیاې هغه دواړه مونږ ته چې پکې اوسیږو په خپلو لاښودنو سره په اسماني کتابونو کې ژباړه کړې ده، نو هوښیارن د الله تعالی ژباړه نه پوره کټه اخلي او د خپل ژوند مادي او معنوي اړخونه ور باندې ښادوي او پکې د ډاډمن ژوند نه خوند اخلي.

[٣٦-٣٧] او د الله دا نور او ژباړه پر هغو کورونو کې ځلیږي چې الله پکې د خپل نامه د لوړلو او یادولو حکم کړئ دئ، او سحر او بیګاه په دغو کورونوکې [یعنی په مسجدونوکې] الله په پاکۍ سره یادیږي او پکې داسې کسان په عبادت لګیا دي چې سوداګري یا خرڅول او اخستل (پلورل او راپر یول) د دوی پام د الله ذکر او د لمانځه کړو او زکات ورکولو نه بلې خوا ته نه اړوي، او دوی د قیامت ورځې عذاب نه و یر یږي، ځکه په هغه

ورځ د ټولو خلکو زړونه او سترګې ناقراره وي او د ډیرې اندیښنې نه هرې خوا اوړي را اوړي، یعنی یقینا چې دغو کسانو په کلک اخلاص سره ایمان رواړئ دئ او د الله تعالی پر حکمونو عمل کړي، او د قیامت ورځې ستونزو و یره ور باندې خوره ده او لوی هول یې دوی لاندې کړي وي.

[٣٨] ترڅو دغو مومنانو ته الله د دوی ښو کړنو نه لا ډیر ثواب ورکړي او د خپل فضل او رحمت نه پر دوی باندې ډیرې پیرزو یې ولوروي، او چا ته چې د الله خوښه وي، نو بیا د حساب نه وتلې روزي ورکوي، یعنی په خپلو خورو ورو نعمتونو یې نازوي.

[٣٩] او هغه کسان چې کافران سول [یعنی د خپل رب نه منکر سول او حق یې پټ که] د دوی کړنې د قیامت پر ورځ، لکه سراب وي [یعنی لکه په ډاګ کې ډنډ سوې او به وي] او تږئ چې کله هغه د لرې و یې د او بو ګمان ور باندې کړي، خو چې کله ورته راسي هیڅ څه شئ هلته نه مومي او او به نه وي [یعنی دا چې کافران ګمان کړي چې د دوی ښې کړنې ورته په آخرت کې ګټه رسوي، خو په حقیقت کې هغه دوی ته د قیامت په ورځ هیڅ ګټه نه رسوي او هغه ټول ضائع دي او هیڅ اعتبار نلري] او بیا دغه کافر الله په خپل مخکې مومي، نو بیا الله ورته د هغه عمل سزا پوره ورکوي او الله ژر حساب اخستونکی لوی ذات دئ.

[٤٠] او یا دا چې د کافرانو عملونه، لکه هغو تیارو ته ورته دي چې هغه په ژوَر سمندرکې وي او د او بو څپې یې یوه پر بلې د پاسه لاندې کوي او پټوي یې او د پاسه ور باندې ووره وي او د یوې او بلې پر سر داسې تیارې وي چې که څوک خپل لاس را و باسي هغه د ډیرې تیارې نه نسي لیدلای، نو چا ته چې الله خپل نور او رڼا ورنکړي [یعنی د ایمان رڼا نه یې محروم کړي] نو دئ بله رڼا نلري، یعنی د الله تعالې د دین رڼا نه پرته بله رڼا نسته، نو یوازې مومنان د الله تعالې دغې رڼا نه ګټه ا خلي.

درندو وروڼو خویندو! نو ښایي چې مونږ مومنان په الله تعالی باندې د ایمان راوړو سره؛ د دې لوی نعمت په ارزښت ښه پوه سو او د خپل دین

د لارښودنو نه ښه ګټه واخلو، ترڅو د دغسې تورو تیارو نه د آخرت په ورځ ډاډمن سو او ورڅخه نجات بیاومومو.

{د الله ستاینه په ځمکه او اسمانو کې د توحید دلیل دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د خپلې لوی تیا او ستاینې لوړ مقام پر ځمکه او په اسمان کې یاد کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱلطَّيْرُ صَٰٓفَّٰتٍ ۖ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُۥ وَتَسْبِيحَهُۥ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴿٤١﴾ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿٤٢﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُزْجِى سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُۥ ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ رُكَامًا فَتَرَى ٱلْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَٰلِهِۦ وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن جِبَالٍ فِيهَا مِنۢ بَرَدٍ فَيُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ وَيَصْرِفُهُۥ عَن مَّن يَشَآءُ ۖ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهِۦ يَذْهَبُ بِٱلْأَبْصَٰرِ ﴿٤٣﴾ يُقَلِّبُ ٱللَّهُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّأُو۟لِى ٱلْأَبْصَٰرِ ﴿٤٤﴾ وَٱللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّن مَّآءٍ ۖ فَمِنْهُم مَّن يَمْشِى عَلَىٰ بَطْنِهِۦ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِى عَلَىٰ رِجْلَيْنِ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِى عَلَىٰٓ أَرْبَعٍ ۚ يَخْلُقُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤٥﴾ لَّقَدْ أَنزَلْنَآ ءَايَٰتٍ مُّبَيِّنَٰتٍ ۚ وَٱللَّهُ يَهْدِى مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٤٦﴾﴾

[٤١] ای پیغمبره! آیا ته نه و یې [یعنی آیا ته نه پوهیږې] چې ټول هغه څوک چې په اسمانو او په ځمکه کې دي؛ د الله تسبیح وایې او الله په پاکې سره یادوي، او هغه مرغان چې خپل وزرونه پې په اسمان کې خواره کړې دي؛ د الله تسبیح وایي، او ټولو مخلوقاتو خپل لمونځ کړل او تسبیحات ښه زده کړل او ښه پرې پوهیږی او الله هم د دوی په کړنو باندې چې څه کړې ښه پوه دئ، نو ثواب پې ورکوي.

هو! عزتمنو دوستانو! الله تعالی په خپلو لو یو قدرتونو سره دغه ټول کائنات په ځمکه او اسمان کې پیدا کړي دي او ټول الله ته تابع دي

او د الله په حکم چلیږي او خپل رسالت او دنده تر سره کوي، نو ښایي چې مونږ مومنان د بل هر مخلوق نه ډیر د خپل رب الله عبادت وکړو او فرمان ته یې غاړه کیږدو، ځکه مونږ الله تعالی د خپل خلافت لپاره په ځمکه کې پیدا کړي یو او د لوی عزت او قدر خاوندان یې ګرځولي یو.

[٤٢] او د ځمکی او اسمانو واکمني یوازې د الله ده [یعنی د الله تعالی حکم پکې چلیږي] او د قیامت په ورځ د ټولو خلکو ورګرځیدل الله ته دي، یعنی نو بیا به الله د دوی نه حساب اخلي او هر چا ته به د هغه ښه عمل ثواب او د بد عمل سزا ورکوي، او مومنان به جنتونو ته ورګرځي او کافران به په دوزخ کې اچول کیږي.

[٤٣] ای پیغمبره! آیا ته نه و یې چې ووره الله یقینا په اسمان کې ورو ورو خوځوي او بیایې د یو بل سره نښلوي او بیایې په یو بل باندې پسیره را اچوي، نو بیا ته ای پیغمبره! و یې چې د وورو نه باران را وور یږي، او همدارنګه الله د اسمان نه چې د وورو غرونه پکې جوړ سوي دي؛ ګلی راووروي، نو بیایې چې پر چا باندې خوښه وي؛ لګوي او پر چا چې یې خوښه نوي؛ د هغه نه یې لرې کوي، او د وورو بر یښنا رڼا دومره ځلانده وي چې لنډه وي د لیدونکو د سترګو رڼا یوسي، یعنی د تورې تیارې سره یې مخامخ کړي چې بیا سمه لار نه مومي!

[٤٤] هو! یوازې الله دئ چې شپه او ورځ اړوي را اړوي [یعنی یوه بلې پسې ځي راځي] نو یقینا چې پدې بدلون کې هوښیارانو ته د الله لو یو قدرتونو نه پند اخستل او لو یه زدکړه ده.

[٤٥] او ټول ګرځندوی ژوندي په ځمکه کې الله د او بو نه پیدا کړي دي [یعنی د دوی د پیدایښت لمړی ماده او به دي، لکه منې او نورې او به چې ټول ژوندي مخلوقات ور باندې ژوندي دي] نو بیا د دغو ژوندیو مخلوقاتو نه ځینې په سینه باندې ځي [لکه ماران او هغو ته ورته حشرات] او ځینې نور په دوه ښو ځي [لکه انسان او مرغه] او ځینې یې په څلورو پښو ځي [لکه څاروي او نور ډیر حیوانات] او الله چې څه

غواړي هغه پيدا کوي، او يقينا چې الله په هرڅه باندې قادر دئ، يعنی هرڅه کړلای سي او د هيڅ ډول کړنو نه الله بې وسعې او عاجز ندئ.

[٤٦] [او په قرآن کې] داسې آيتونه مونږ رانازل کړل چې هغه په يقين سره د حق لار ښيي او ورته لارښود دي، او الله چې څوک وغواړي هغه په سمه لار باندې خوځوي، يعنی په سمه لار د تګ توفيق ورکوي.

ګرانو دوستانو! دا دي د الله تعالی د لو يو قدرتونو نښې او د هغه لويې پيرزو يې پر خپلو بنده ګانو باندې، خو بيا هم ډير کسان هغه نه مني او ورڅخه منکر دي او ايمان نه راوړي، لکه څنګه چې په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی فرمايلي دي:

{د منافقانو دومخې چلند د الله او پيغمبر سره ايمان نقضوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مونږ الله تعالی د منافقانو او مومنانو در يځونو نه د الله تعالی او پيغمبرﷺ پر وړاندې خبر کړي يو فرمايلي دي:

﴿وَيَقُولُونَ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلرَّسُولِ وَأَطَعۡنَا ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٞ مِّنۡهُم مِّنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَۚ وَمَآ أُوْلَٰٓئِكَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٤٧ وَإِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُم مُّعۡرِضُونَ ٤٨ وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلۡحَقُّ يَأۡتُوٓاْ إِلَيۡهِ مُذۡعِنِينَ ٤٩ أَفِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَمِ ٱرۡتَابُوٓاْ أَمۡ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَرَسُولُهُۥۚ بَلۡ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٥٠﴾

[٤٧] او منافقان وايي چې مونږ په الله او د هغه په پيغمبر باندې ايمان راوړ او فرمان يې ور، خو بيا يوه ډله د دوی د ايمان راوړو د دعوا نه وروسته بيرته په شا وګرځيدل، نو هغوی مومنان ندي، يعنی د رسول الله ﷺحکمونه يې ندې منلې، لکه منافقان چې په خوله د ايمان دعوا کړې، خو په زړوکې کافران دي، او دغه ډله خلک د رسول الله ﷺ زمانې نه نيولې تر ننه پورې په اسلامي ټولونوکې ښه ډير دي او په ځانګړي ډول په

اوسنيو اسلامي ټولونوکې، ځکه دوی د پردیو یرغلګرو ځواکونو لخوا په اسلامي هیودونوکې واک ته رسیدلي دي، نو د خپلې واکمنۍ او د کفري طاقتونو د لو یو ګټو په مقصد د ایمان دعوا کړي، ترڅو عام خلک په دوی باندې وغولیږي، خو په حقیقت کې دوی مومنان ندي، نو په علماوو او حقپالانو دعاتو باندې فرض ده چې دغسې منافقې ځیرې خپلو مومنو ولسونو ته ور و پیژني او ښه یې رسوا کړی ، ترڅو مومنان د دوی د کرغیړنو اهدافو او شومو مقصدونو د شر نه وژغورل سي، او اسلامي قانون د خلکو ژوند په ټولو برخوکې تطبیق سي او د هر ډول ظلم او فساد سره مبارزه وسي او ترقي او عدالت تامین سي.

[٤٨] او کله چې دغه منافقان د الله او پیغمبر حکمونو او پر یکړو ته راو بلل سي، ترڅو الله او پیغمبر د دوی په منځ کې قضاوت او حکم وکړي، نو بیا یوه ډله د دوی مخ اړوي، یعنی د الله او پیغمبر حکم او پر یکړه نه منې، که څه هم هغه حق ده او پکی هیڅ شك او شبهه نسته.

[٤٩] خو کله چې حق د دوی په پلو وي، نو بیا دوی د رسول الله حکم ته تسلیم سوي راځي، یعنی دا ځکه چې دوی پوهیږي رسول الله ﷺ د حق په پلوتیا پر یکړه کړې ده.

[٥٠] نو آیا د دغو کسانو د مخ اړونې سبب او عامل دا دئ چې د دوی په زړونو کې د نفاق ناروغي ده، او یا دا چې د رسول الله په پیغمبرکې شکمن دي او یا و یر یږي چې الله او پیغمبر به د دوی حق د پښو لاندې کړي؟ [ځواب] نا! داسې نده، بلکې هغه کسان خپله ظالمان دي، یعنی حق نه منې او ورڅخه تل سرغړونه کړي!

درندو دوستانو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونوکې مونږ د کافرانو او منافقانو د در یځ او دوه مخه چلند نه د الله تعالی او د پیغمبرﷺ د حکمونو او پر یکړو پر وړلاندې خبر کړي یو، او یقینا چې هغه د دوی مخ اړونه او منکر یدل د الله حکمونو نه دي، ځکه منافقان تل هڅه کړي چې د الله حکم نه وتښتي او وړې ورڅخه سپکې کړي!

{مومنان د الله او پيغمبرﷺ حکمونو ته تسليم دي}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې د مومنانو در يځ د الله تعالى او د هغه پيغمبرﷺ پر وړاندې مونږ ته بيان کړې دئ او هغه د الله او د پيغمبر حکمونو منل دي، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٥١﴾ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَخْشَ ٱللَّهَ وَيَتَّقْهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ﴿٥٢﴾ * وَأَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ لَئِنْ أَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّۖ قُل لَّا تُقْسِمُواْۖ طَاعَةٌ مَّعْرُوفَةٌۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٥٣﴾ قُلْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَۖ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُم مَّا حُمِّلْتُمْۖ وَإِن تُطِيعُوهُ تَهْتَدُواْۚ وَمَا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴿٥٤﴾﴾

[٥١-٥٢] هو! کله چې په مومنانو باندې غږ وسه چې الله ته او د هغه پيغمبر ته راسي [ترڅو د دوی په منځ کې الله او پيغمبر پر يکړې وکړي او دعواوې يې فيصله کړي] نو بيا يقينا چې د مومنانو خبره دا وه چې ووايي: مونږ د ستاسې پيغام واور يده او هغه مونږ ومانه، نو همدا مومنان بر يالي او سرلوړي دي، ځکه څوک چې د الله او د هغه پيغمبر حکم ومني، او د الله نه وو يرې او د عذاب نه ځان وساتي، نو هغوی وړونکي دي، يعنى د جنتونو جائزې ګټونکي دي.

[٥٣] ای پيغمبره! او منافقانو پر الله باندې کلکې لوړې وکړې چې کله ته دوی ته په جهاد امر وکړې، نو دوی به خامخا راوځي [يعنى د ستا سره به جهاد ته ځي] نو ته ای پيغمبره! دوی ته ووايه: قسمونه مخورئ د ستاسې فرمان وړنه پيژندل سوې ده، او يقينا چې الله د ستاسې کړنو نه ښه خبر دئ، يعنى نو بيا به تاسې ته د ستاسې لائق سزا درکړي!

ګرانو دوستانو! د دې مبارکو آيتونو مصداق ټول هغه کسان دي چې ايمان يې ضعيف دئ او لکه منافقان په خوله يوه خبره کړې او په زړو کې

يې بله خبره وي، نو دعاء کړو چې مونږ ده الله تعالى د نفاق شـــر نه په خپل فضـــل او رحمت ســـره وســـاتي، او په حق باندې ده ټينګښـــت او استقامت راپه برخه کړي، ترڅو د الله تعالى په حضورکې د محشر په ورځ په ســپينو مخونو ودر يږو او د ايمان لوى انعام نه برخمن ســو او تل پاتې سعادت ته د الله تعالى په لو يو جنتونوکې ورسيږو.

او په ور پســې مبارك آيت کې خلک الله تعالى په کلکه ســـره خپل اطاعت ته او د پيغمبرﷺ فرمان وړوته رابللي دي، او رسـول اللهﷺ ته يې په خطاب کې فرمايلي دي:

[٥٤] ای پيغمبره! او ته خلکو ته ووايه چې د الله او پيغمبر حکم ومنئ او اطاعت يې وکړئ، نو که بيايې مخ واړا ؤ [يعنى ايمان يې رانوړ او په شـا ووښـتل] نو دوى ده پدې پوه سـي چې پر پيغمبر باندې د هغه مسـئوليت چې ورته سـپارل سـوئ دئ؛ سـرته رسـولئ دئ [يعنى يوازې د دين تبليغ او خلکو ته د هغه رسـول د پيغمبر کار دئ، ځکه همدا رسـالت ورته سـپارل سـوئ دئ] او پر تاسـې باندې اى خلکو! د هغه دعوت منل او فرمان وړل لازم دي، ځکه د پيغمبر فرمان وړلو کار تاسـې ته سـپارل سـوئ دئ [نو که تاسـې ايمان راوړ، نو سـمې لارې ته] هدايت کيږي، او پر پيغمبر باندې د روښـــانه تبليغ نه پرته بل څه مســـؤليت نســـته، يعنى دا چې د پيغمبرانو رسالت يوازې تبليغ او د الله تعالى پيغام رسول خپلو امتونو ته دي.

درندو دعوت کونکو عز يزانو! الله تعالى مونږ ته پدې مبارك آيت کې د زمونږ دنده او رسالت اسلام ته د رابلنې په باره کې ډير روښانه بيان کړئ دئ، او هغه دا چې ښـــايي هر دعوت کونکئ د پيغمبرﷺ نه په متابعت سره د الله دين خلکو ته ورسوي او هغه ورزده کړي او نور ده خلک خپلې خوښـې ته پر يږدي، ځکه که څوک غواړي چې په دنيا او آخرت کې خوښ او نيک مرغه سي، نو ايمان ده راوړي او ښـه عمل ده وکړي، او اسـلام ته رابلونکي دعات حق نلري چې په زور خلکو باندې اسلام ومني.

{الله مومنانو سره پر ځمکه د واکمنۍ وعده کړي ده}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مومنانو ته د بر یا او په ځمکه کې د خلافت او واکمنۍ ز یرئ ورکړئ دئ او د واکمنۍ شرطونه یې ورته په نښه کړي او بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٥٥ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ٥٦ لَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَمَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ وَلَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ٥٧﴾

[٥٥-٥٦] ای خلکو! الله د ستاسې منځ نه هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړ او ښه یې وکړل؛ وعده کړې ده چې دوی به خاماخا په ځمکه کې واکمنان کړي، لکه څنګه چې یې د دوی نه مخکې کسان واکمنان کړل، او د دوی هغه دین به چې هغه الله ورته خوښ کړې دئ [یعنی د اسلام دین] هغه به په ځمکه کې حاکم کړي او د دوی و یره او ډار به په ډاډ او امنیت باندې بدل کړي، او دوی به یوازی د زما عبادت او بنده کې کړي او بل هیڅ څوک به زما سره په خدایي کې نه شر یکوي، او که بیا د دې نه وروسته څوک کافران سول، نو دوی فاسقان دي او د اسلام نه وتلې دي[یعنی او دا ټول پدې شرط چې دا مومنان یوازې د الله بنده کې وکړي] او ای مومنانو! لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ او د پیغمبر فرمان یوسئ [یعنی خبره یې ومنئ] ترڅو پر تاسې باندې د الله رحمت وور یږي، یعنی ښاد او نیکمرغه سئ!

[٥٧] ای پیغمبره! او داسې ګمان ونکړې:. هغه کسان چې کافران سول؛ دوی به په ځمکه کې پر الله زورور سي! [یعنی د الله تعالی سزا نه به خلاص سي] او د دوی ځای په آخرت کې د دوزخ اور دئ او هغه بد برخلیک او بده راتلونکې ده. [العیاذ بالله منه]

عزتمنو دوستانو! پدې مبارکو آیتونوکې الله تعالی لمړۍ د مومنانو سره د واکمنۍ وعده کړې ده او ز یرئ ورکړئ دئ، او بیاې د دغو واکمنو مومنانو رسالت او دنده په واکمنۍ کې په نښه کړې ده، او کله چې د اسلام سیاسي تار یخ پاڼې را اړوو؛ نبي ډیرې بیلګې یې د دغسې الهي نظام څرګندوی دي، او بیا الله تعالی رسول الله ﷺ ته او د هغه تګ لارې حق پالانو دعاتو ته ډاډ ورکړئ دئ چې کافران هیڅ کله د الله کلکو نیولو او سزا ورکولو نه خلاصیدای نسي.

{الله مومنانو ته کورو ته د ننوتلو شرعي آداب ښودلي دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی مومنانو ته په کورونوکې دننه د یو بل خوب کوتې ته د ننوتلو شرعي آداب بیان کړي فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِيَسۡتَـٔۡذِنكُمُ ٱلَّذِينَ مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡ وَٱلَّذِينَ لَمۡ يَبۡلُغُواْ ٱلۡحُلُمَ مِنكُمۡ ثَلَٰثَ مَرَّٰتٖۚ مِّن قَبۡلِ صَلَوٰةِ ٱلۡفَجۡرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُم مِّنَ ٱلظَّهِيرَةِ وَمِنۢ بَعۡدِ صَلَوٰةِ ٱلۡعِشَآءِۚ ثَلَٰثُ عَوۡرَٰتٖ لَّكُمۡۚ لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ وَلَا عَلَيۡهِمۡ جُنَاحُۢ بَعۡدَهُنَّۚ طَوَّٰفُونَ عَلَيۡكُم بَعۡضُكُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٥٨ وَإِذَا بَلَغَ ٱلۡأَطۡفَٰلُ مِنكُمُ ٱلۡحُلُمَ فَلۡيَسۡتَـٔۡذِنُواْ كَمَا ٱسۡتَـٔۡذَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٥٩ وَٱلۡقَوَٰعِدُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِي لَا يَرۡجُونَ نِكَاحٗا فَلَيۡسَ عَلَيۡهِنَّ جُنَاحٌ أَن يَضَعۡنَ ثِيَابَهُنَّ غَيۡرَ مُتَبَرِّجَٰتِۭ بِزِينَةٖۖ وَأَن يَسۡتَعۡفِفۡنَ خَيۡرٞ لَّهُنَّۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ٦٠﴾

[٥٨] ای مومنانو! د ستاسې خوب کوتې ده د درننوتلو لپاره د ستاسې خدمت کونکي زلمکي مر یان او هغه نابالغه ماشومان چې ځوانۍ ته لا ندي رسیدلي په دري وختونوکې اجازه وغواړي، او د اجازې اخستلو نه پرته ده د ستاسې خوب کوتې ته نه درننوځي، او دا دري وختونه دا دي: لمړۍ د سحر لمانځه نه مخکې، دویم: کله چې تاسې په غرمه کې خپلې

جامې د دمې کړو لپاره باسی، در یم: د ماخستن لمانځه نه وروسته، او دغه درې وخته تاسې ته ای مومنانو! د ستر کړو وختونه دي [یعنی په دغو درې وختونو کې هیڅ څوک حق نلري چې د ستاسې خوب کوټې ته د اجازې نه پرته درننوځي] او د دغو درې وختونو نه وروسته بیا د دوی په درننلوتلو کې د اجازې نه پرته نه پر تاسې او نه پر دوی باندې ګناه سته، ځکه تاسې په یو بل باندې تیریږی تیریږی را تیریږی [یعنی ای مومنانو! لکه څنګه چې الله تعالی تاسې ته دغه د یو بل خوب کوټی ته د درننوتلو آداب در وښودل] همداسې الله تاسې ته د خپلو حکمونو [او سپارښتنو] آیتونه بیانوي، او الله ښه پوه او لوی حکیم ذات دئ، یعنی الله تعالی خپلو بنده ګانو ته په کلکه پوهه او په پاخه حکمت سره لارښودنه کړې او دوی ته د ژوند ټول غټ او واړه حکمونه او آداب ورښیي او بیانوي.

[۵۹] ای مومنانو! او کله چې د ستاسې ماشومان د هوښیارۍ کلونو عمر ته ورسیدل [یعنی زلمیان سول] نو بیا ده د دوی نه مخکې مشرانو غوندې د ستاسې خوب کوټو ته د درننوتلو په وخت کې اجازه واغواړي، او الله تاسې ته همداسې د خپلو لارښودنو آیتونه بیانوي او الله ښه پوه او لوی حکیم ذات دئ، یعنی د الله دا لارښودنې په علم او حکمت ولاړې دي او تاسې ته ای مومنانو پکې ګټه ده.

[٦٠] او پر هغو زړو میرمنو باندې چې د میړو سره د ملاستې شوق نور نلري؛ څه ګناه نسته چې خپلې پسیرې جامې و باسي، خو د خپل ښایست ځایونه ده نه لوڅوي [یعنی خپل عورت ده پټ کړي] او که خپل عفت وساتي [یعنی ستر وکړي] نو سَتر دوی ته ښه دئ او الله ښه کلک اور یدونکئ او پوه ذات دئ، یعنی الله د بنده حال نه خبر دئ او هغه و یې او پرې پوهیږي، نو هر چا ته د ښه عمل ثواب او د بد عمل سزا ورکوي.

{بې وسې کسان ده د خپلو انو په کورونو کې ډوډۍ وخوري}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی ناروغه او بې وسې مومنان، او نور ټول مومنان د خپلو لنډو خپلوانو په کورونوکې ډوډۍ خوړلو ته هڅه ولي دي، او فرمایلي دي:

﴿لَّيْسَ عَلَى ٱلْأَعْمَىٰ حَرَجٌ وَلَا عَلَى ٱلْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى ٱلْمَرِيضِ حَرَجٌ وَلَا عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَن تَأْكُلُوا۟ مِنۢ بُيُوتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ ءَابَآئِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أُمَّهَٰتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ إِخْوَٰنِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخَوَٰتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَعْمَٰمِكُمْ أَوْ بُيُوتِ عَمَّٰتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخْوَٰلِكُمْ أَوْ بُيُوتِ خَٰلَٰتِكُمْ أَوْ مَا مَلَكْتُم مَّفَاتِحَهُۥٓ أَوْ صَدِيقِكُمْ ۚ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَأْكُلُوا۟ جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا ۚ فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُبَٰرَكَةً طَيِّبَةً ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٦١﴾﴾

[٦١] ای مومنانو! په خپله تاسې باندې [او درسره بې وزره د ځانګړو اړتیاوو خاوندانو باندې، لکه] ړانده، ګوډان، او پر ناروغانو باندې څه ګناه نسته چې د خپلو کورونو ډوډۍ وخوړئ او د خپلو پلرونو، میندو، ورونو،خو یندو، ترونو، تورګانو، ماماګانو او د تورۍ ګانو (خاله ګانو) په کورونوکې ډوډۍ وخوړي، او هم پروا نکړي چې پر هغو کورونوکې ډوډۍ وخوړئ چې د دغو کورنو کیلۍ یا چاپې ستاسې سره وي [یعنی تاسې یې وکیلان وئ] او یا د خپل ملګري په کورکې ډوډۍ په ګډه او یوځای سره وخوړئ، او یا هرڅوک بیل بیل کیني او خپله ډوډۍ وخوړئ، او کله چې کورونو ته ورننوتلئ، نو په خپلو ځانو باندې سلام واچوئ، او سلام اچول د الله لخوا تاسې ته د هرکلي او ښه راغلاست برکت ز یرئ دئ، او همداسې تاسې ته الله خپل آیتونه چې پکې د الله حکمونه او لارښودنې دي بیانوي، ترڅو تاسې ای مومنانو! ښه پرې پوسئ او بیا عمل پرې وکړئ، یعنی هغه په ژوند کې ځانو ته لارښود وګرځوئ.

ګرانو دوستانو! دا هغه غوره اسماني آداب او لارښودنې دي چې هغه الله تعالی خپلو مومنو بنده ګانو ته یادې کړې دي او د ژوند ټول آداب او حکمونه یې ورته ښه روښانه بیان کړي او ښودلي دي، او یقینا چې دغسې لارښودنو ته مومنانو د قرآن را نازلیدو په وخت کې؛ کلکه اړتیا درلوده، ځکه ډیر خلک به په هغه وخت کې د الله تعالی په لارکې جهاد ته وتل او

څوک چې به د کورونو ساتنې لپاره پاتې کیدل او یا یې عذرونه درلودل، لکه ړانده، کوډان او ناروغان، نو هغوی به خوږو ته اړ ول، نو الله تعالی دوی ته پدې مبارک آیت کې اجازه ورکړې ده چې دوی ده د خپلوانو په کورونوکې پرته د هغوی دعوت نه خواړه وخوري، او پدې کارکې پر دوی باندې هیڅ ګناه نسته، ځکه دغسې لور ینې په ټولنه کې دود دئ او هر څوک کولای سي چې پورته یاد سوو خپلونو کورونو ته د سَت یا بلنې نه پرته لاړ سي او د هغوی په کورونو کې ډوډۍ وخوري، او دغسې دودونه تل د مسلمانانو په منځ کې سته، او ښایي چې دوی د یو بل کور ته لاړ سي او پکې ډوډۍ وخوري، ترڅو د دوی خپلوي او وروري همداسي ټینګه وي او یو د بل خدمت کړو ته تل تیار او چمتو وي.

{د مشر انوځنګ ملګرې ده اجازې نه پرته دندی نه پر یږدي}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی هغو مومنانو ته چې د رسول الله ﷺ سره به په جهاد کې ول؛ حکم کړئ دئ چې د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کې ده د هغه اجازې نه پرته چیرې نه ځي، او فرمایلې دي:

﴿إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَإِذَا كَانُوا۟ مَعَهُۥ عَلَىٰٓ أَمْرٍ جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُوا۟ حَتَّىٰ يَسْتَـْٔذِنُوهُ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسْتَـْٔذِنُونَكَ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ۚ فَإِذَا ٱسْتَـْٔذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ فَأْذَن لِّمَن شِئْتَ مِنْهُمْ وَٱسْتَغْفِرْ لَهُمُ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٢﴾ لَّا تَجْعَلُوا۟ دُعَآءَ ٱلرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ بَعْضِكُم بَعْضًا ۚ قَدْ يَعْلَمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنكُمْ لِوَاذًا ۚ فَلْيَحْذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾ أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ قَدْ يَعْلَمُ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ ۖ وَيَوْمَ يُرْجَعُونَ إِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌۢ ﴿٦٤﴾﴾

[٦٢] هو! یقینا چې مومنان هغه کسان دي چې په الله او د هغه په

پیغمبر باندې یې ایمان راوړئ دئ، او کله چې دوی رسول الله سره د مومنانو کم راټولونکي مقصد لپاره راغونډ سوي ول [لکه د یرغلګر دښمن پر وړاندې د جهاد او مقاومت په مقصد چې بیلګې یې د مکې کافرانو یرغلونو نه ول، او کافرانو پر رسول الله او مومنانو باندې په مدینه منوره کې د احد، خندق او په نورو غزاګانو کې بر یدونه وکړل] نو مومنان ده د رسول الله څنګ نه د اجازې اخستلو نه پرته چیرې نه ځی، او ای پیغمبره! هغه کسان چې د ستا نه اجازه غواړي دوی هغه کسان دي چې پر الله او د هغه پر پیغمبر یې ایمان راوړئ دئ [یعنی دوی ر یښتیني او صادق مومنان دي] نو بیا که دوی د خپلو ځینې چارو ترسره کولو لپاره اجازه وغوښتله، نو ای پیغمبره! د ستا چې هر چا ته خوښه وه؛ اجازه ورکړه او د الله نه ورته بښنه وغواړه، او یقینا چې الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان لوی ذات دئ!

[٦٣] ای مومنانو! پر رسول الله باندې غږ کړل؛ هغسې ونه بولی، لکه څنګه چې تاسې په خپل منځ کې پر یو بل باندې غږ کړی! [یعنی داچې ښایي د رسول الله ﷺ سره په ډیر ادب وغږ یږی او خپلې اړتیاوې ورڅخه وغواړی] او یقینا چې الله ستاسې د منځ نه هغه کسان ښه پیژني چې دوی د رسول الله اجازي نه پرته پټ د یو بل په مرسته تښتي او د لښکر نه وځي، نو هغه کسان چې د رسول الله حکومونو نه مخالفت کړي؛ دوی ته ښایي لدې نه وو یر یږي چې دوی به په لوی ازمایښت کې ولو یږي او دردونکي عذاب به ور باندې را نازل سي او سزا به ورکړه سي.

[٦٤] [ای خلکو! او لدې نه خبر سی] چې په ځمکه او اسمانو کې ټول مخلوقات د الله په ملك کې او د واک لاندې یې دي، او الله د ستاسې په حال باندې ښه پوه دئ، او د قیامت په ورځ ټول خلک الله ته ورکرځول کیږي، نو بیا الله دوی د خپلو کړنو نه خبروي، ځکه الله په هر څه باندې ښه پوه ذات دئ، یعنی بیا الله تعالی هر چا ته د هغه خپل عمل ثواب او سزا ورکوي او په هیڅ چا باندې ظلم نکیږي.

قدرمنو دوستانو! پدې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د رسول الله ﷺ

نه په اطاعت او فرمان وړو باندې کلک سپارښت کړئ دئ، او هغه کسان الله تعالى په کلکه سزا ګوابنلي دي چې دوی د رسول الله ﷺ څنګ نه د دښمن سره د جنګ او جهاد په وخت کې تښتي، او یقینا چې دا لارښودنې مومنانو ته د خپل مشر او امیر سره د اطاعت او فرمان وړو په اړه ډیرې ازرښتناکه او تل پاتې لارښودنې دي، نو ځکه و ینو چې د نړۍ اوسني ځواکمن هیوادونه؛ هغه په کلکه سره په خپل امنیتي او لښکري نظام کې عملي کوي او هغه سر تیري ته چې د خپل مشر حکم او فرمان نه سرکښي وکړي؛ کلکه سزا ورکول کیږي.

والحمد لله رب العالمين، وصل الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الفرقان سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الفرقان سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه}

قدرمنو دوستانو! د الفرقان مبارکه سوره مکي سوره ده، او پکې الله تعالی د خپل توحید او بیا د پیغمبرﷺ د نبوت او پیغمبرۍ حقانیت او ر ښتینوالئ، او بیاپې د آخرت په ورځ د کافرانو بده راتلونکې بیان کړې ده، او دوی یې کلک کواښلي دي، او د دوی ټولې هغه شبهې او اعتراضونه چې یې د رسول اللهﷺ پیغمبرۍ په باره کې درلودل؛ په ښو قاطع او پر یکنده دلیلونو سره رد کړي او ځواب کړي دي، نو د دې مبارکې سورې اصلي لوی مقصدونه او اهداف د عقیدې او د ایمان مسئلو بیانول دي، ځکه الفرقان مکي سوره ده، نو همداې لوی مقصد دئ، او همدارنګه الله تعالی پدې مبارکه سوره کې د مخلصو بنده ګانو غوره صفتونه او ځانګړي خو یونه یاد کړي او بیان کړي دي او دوی یې په عباد الرحمن نومولي دي، ترڅو ټول مومنان دوی پسې اقتدا وکړي او پر پلویې قدم کیږدي، او همدارنګه پدې مبارکه سوره کې الله تعالی خپل کتاب قرآن ته د فرقان نوم ورکړئ دئ، او د فرقان نه مقصد حق او باطل د یو بل نه بیلول دي، نو ځکه دا سوره په الفرقان نومول سوې ده، او په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

{محمد ﷺ الله تعالی ټول بشریت ته پیغمبر را لیږلئ دئ}

درندو عز یزانو! د الفرقان مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی د اسلام پیغمبرﷺ رسالت او پیغمبري ټول بشر یت ته اعلان کړې او فرمایلي دي:

﴿تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡفُرۡقَانَ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦ لِيَكُونَ لِلۡعَٰلَمِينَ نَذِيرًا ۝١ ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدٗا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَخَلَقَ

كُلَّ شَيۡءٖ فَقَدَّرَهُۥ تَقۡدِيرٗا ٢

[١] [هو!] هغه څوک لوی او د برکت نه ډک ذات دئ چې د حق او باطل په منځ کې يې بيلونکئ کتاب (قرآن) پر خپل بنده (محمدﷺ) باندې نازل او را کوز کړه، ترڅو دئ ټولو خلکو ته په نړۍ کې و يرونکئ او ګواښونکئ استازئ وي، يعنی ټول خلک د الله توحيد ته راو بولي او د آخرت ورځې کلکې سزا نه يې وګواښي او په دنيا او آخرت کې د نيک مرغۍ او سعادت ز يري ورکړي، ترڅو ښاد او سپين مخي سي، او د محشر په ورځ خپل برئ ليک په ښي لاس وا خلي او جنت ته لاړ سي.

[٢] هو! الله هغه څوک دئ چې د ځمکې او اسمانو پاچايي او ټولواکي هغه لره ده، او الله هيڅ څوک ځان ته زوی ندئ نيولئ او نه څوک ورسره په واکمنۍ کې شر يك او ګډ دي، او هر څه الله پيدا کړل، نو بيايې هر څه په خپله اندازه سره برابر کړل، يعنی هر مخلوق ته الله د هغه لائق برخه ورکړه، او خپل غوره بنده محمدﷺ يې ټولو خلکو ته استازئ را ليږلئ دئ.

عزتمنو دوستانو! دا مبارك آيتونه سره ده نورو ډيرو آيتونو د الله تعالى په عظيم کتاب قرآن کې د رسول الله ﷺ استاز يتوب او د پيغمبرۍ ښکاره او قاطع دليل ټول جهان ته دي، ځکه دئ الله تعالى ټولې نړۍ ته خاتم النبيين والمرسلين را ليږلئ دئ، نو رسول اللهﷺ ټول بشر يت ته رحمت دئ او د الله تعالى توحيد ته ده رابلنې او دعوت پيغام رسوي، ترڅو دوی په دنيا او آخرت کې ښاد او سرلوړي سي.

{کافر انو د الله نه پرته هغسې خدايان ونيول چې واک نلري}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د مشرکانو ناحقه خدايانو بې واکي او د کافرانو انکار د رسول اللهﷺ پيغمبرۍ نه اعلان کړئ دئ، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗ لَّا يَخۡلُقُونَ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ وَلَا

يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا وَلَا يَمْلِكُونَ مَوْتًا وَلَا حَيَوٰةً وَلَا نُشُورًا ﴿٣﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ إِفْكٌ ٱفْتَرَىٰهُ وَأَعَانَهُۥ عَلَيْهِ قَوْمٌ ءَاخَرُونَ ۖ فَقَدْ جَآءُو ظُلْمًا وَزُورًا ﴿٤﴾ وَقَالُوٓاْ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ٱكْتَتَبَهَا فَهِىَ تُمْلَىٰ عَلَيْهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٥﴾ قُلْ أَنزَلَهُ ٱلَّذِى يَعْلَمُ ٱلسِّرَّ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٦﴾

[٣] او کافرانو خپلو ځانو ته د الله نه پرته هغه څه خدایان ونیول چې هیڅ شئ نه پیدا کوي، بلکې دوی خپله پیدا سوي مخلوقات دي، او خپلو ځانو ته نه ګټه او نه ز یان رسولای سي، او نه د مرګ څښتن دي او نه د ژوند، او نه مړي بیرته را ژوندي کولای سي، یعنی د مکې مشرکان په دغسې لوی جهالت او ناپوهی کې پراته ول او د بې وسعو بتانو کالبوتونو(مجسمو) عبادت او بنده کې یې کړه، او دا حالت تر اوسه په ډیره نړۍ کی همداسي پاتي دئ او بُت پرستان د بې واکو بتانو بنده کې کړي او هغه [العیاذ بالله] د خیر او شر واکمنان ګڼي.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د کافرانو دروغژن تورونه رسول اللهﷺ پسې غندلي او رد کړي دي او کافران یې ظالمان او دروغژن اعلان کړي دي، او فرمایلي دي:

[٤] او هغه کسان چې کافران سول [یعنی د الله تعالی او د هغه کتاب (قران) او د هغه پیغمبر نه منکر سول] دوی وو یل: دا قرآن دروغ او بهتان دئ او هغه محمد [العیاذ بالله] د ځان نه جوړ کړئ دئ او نورو خلکو ورسره مرسته کړې ده، نو یقینا چې کافرانو په دغسې خبرو سره پر خپلو ځانو باندې ظلم او تیرئ وکه او ډیر غټ دروغ یې وو یل!

[٥] هو! کافرانو وو یل: قرآن د پخوانیو امتونو لیکنې دي او محمد دا لیکنې وغوښتلې، نو بیا دوی هغه ورته ولیکلې او بیا دا لیکنې صبا او بیګاه پر محمد باندې لوستل کیږي، یعنی د یهودو او نصاراوو پوهان [العیاذ بالله] د خپلو کتابونو نه دغه لیکنې محمد ته لولي.

ګرانو دوستانو! د یادونې وړ ده چې دا مبارك آیت د کافرانو خبرلوڅ یا و یاند (نضر بن الحارث) د دروغژنو قصو په غندلوکې را نازل سوئ دئ، ځکه هغه به د یهودو پوهانو نه د اهل کتاب قصې اور یدلې او بیا به هغه دا دروغژنې قصې خپل قوم ته کړې، او رسول الله ﷺ یې په دروغو تورنا ؤ او و یل یې چې قرآن د پخوانیو لیکنې دي! نو ځکه الله تعالی د دوی په ځواب کې په ور پسې مبارك ایت کې فرمایلي دي:

[٦] نو ته ای پیغمبره! [دغو کافرانو ته] ووایه: دا کتاب (قرآن) هغه چا را نازل کړئ دئ چې د ځمکې او اسمانو په اسرارو پوهیږي [یعنی په پټ حال یې علم لري] او یقینا چې الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ.

{الله تعالی کافرانو پرورا ندې رسول الله ﷺ نه دفاع کړه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی لمړئ د مشرکانو اعتراضونه یاد کړي دي او بیایې د خپل استازې محمدﷺ نه کلکه دفاع کړې ده، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَقَالُوا۟ مَالِ هَٰذَا ٱلرَّسُولِ يَأْكُلُ ٱلطَّعَامَ وَيَمْشِى فِى ٱلْأَسْوَاقِ لَوْلَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُونَ مَعَهُۥ نَذِيرًا ﴿٧﴾ أَوْ يُلْقَىٰٓ إِلَيْهِ كَنزٌ أَوْ تَكُونُ لَهُۥ جَنَّةٌ يَأْكُلُ مِنْهَا ۚ وَقَالَ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ﴿٨﴾ ٱنظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا۟ لَكَ ٱلْأَمْثَالَ فَضَلُّوا۟ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا ﴿٩﴾ تَبَارَكَ ٱلَّذِىٓ إِن شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّن ذَٰلِكَ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ وَيَجْعَل لَّكَ قُصُورًا ﴿١٠﴾﴾

[٧] او کافرانو وو یل: ولې دا استازئ (پیغمبرﷺ) خواړه خوري او په بازارونوکې ګرځي؟ او ولې د هغه سره فرښته(ملائکه) د اسمان نه نده راکوزه سوې؟ نو بیا به ورسره یوځای ګواښونکئ ؤ، یعنی د کافرانو په خیال او ګمان ښاییدل چې د پیغمبر سره د اسمان نه ملائکې د هغه تصدیق لپاره راکوزې سوې وای! یعنی د مشرکانو په ګمان بشر د پیغمبرۍ

ورتيا نلري، العياذ بالله.

[۸] [او همدارنګه کافرانو وو يل:] او يا دا چې هغه ته د اسمان نه ډير مال او دولت راغورځول سوئ واى؟ او يا دئ د باغو څښتن واى او ميوې يې خوړلاى؟ [يعنى دغو کافرانو همداسې مومنانو ته وو يل:] تاسې داسې يؤ چا پسې ځې چې کوډې ور باندې سوې دي! العياذ بالله.

قدرمنو دوستانو! هو؛ د مکې کافرانو د غسې دروغژن تورونه رسول الله ﷺ پسې وتپل او د هغه په پيغمبرۍ کې او په قرآن کې يې دروغژنې شبهې را ولاړې کړې او سپکې سپورې خبرې يې رسول الله پسې وو يلې، نو بيا الله تعالى خپل پيغمبر محمد ﷺ ته اطمئنان ورکه، او په ور پسې مبارکو آيتونو کې يې ډاډمن که، او ورته يې وفرمايل:

[۹] اى پيغمبره! وګوره چې کافرانو ته څنګه په بيلګو سره ياد کړې [يعنى تا پسې کافرانو دغسې دروغژنې سپکې سپورې خبرې وکړې او تورونه يې در پسې ولږول او بيلګې يې يادې کړې، لکه قرآن چې د پخوانيو ليکنو نه رسول الله ﷺ ته لوستل کيږي، ترڅو دوى دئ دروغژن و بولي] نو بيا کافرانو سمه لار ورکه کړه [يعنى د حق نه بې لارې سول] نو کافران سمه لار موندلاى نسي!

[۱۰] [او اى پيغمبره!] الله هغه لوى ذات او د خيرونو څښتن دئ چې که وغواړي، نو تا ته به د کافرانو وړانديزونو نه ښه او غوره نعمتونه درکړي او دا نعمتونه هغه جنتونه يا بڼونه دي چې و يالې پکې بهيږي، اوتا ته به پکې لوړې مانۍ او قصرونه ودان کړي.

ګرانو دوستانو! هو! الله تعالى پدې مبارکو آيتونوکې لمړئ د مکې کافرانو سپکې غوښتنې د پيغمبر ﷺ د نبوت ثبوت لپاره سره د کوډو تور پر رسول الله باندې کلک رد کړې دي او دوى يې د سمې لارې نه ورک سوي بللي دي، او بيايې پيغمبر ﷺ ته ډاډ او ز يرئ ورکړئ دئ چې په آخرت کې به هغه ته داسې لوى لوى جنتونه او لوړ برجونه ورکړي چې د دنيا نعمتونو په پرتله به ډير غوره او ښکلي وي، او يقينا چې دغسې ثوابونه به الله

تعالى د رسـول الله ﷺ د دين او دعوت ټولو لار يونکو دعاتو او حقاني صادقو علماوو ته ور په برخه کړي.

{هغه څوک چې د قيامت نه منکر سول سزا به ورکړه سي}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونوکې د قيامت ورځې راتګ نه منکر کافران کلک ګواښلي دي، او فرمايلي دي:

﴿بَلْ كَذَّبُوا۟ بِٱلسَّاعَةِ ۖ وَأَعْتَدْنَا لِمَن كَذَّبَ بِٱلسَّاعَةِ سَعِيرًا ﴿١١﴾ إِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ سَمِعُوا۟ لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا ﴿١٢﴾ وَإِذَآ أُلْقُوا۟ مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِينَ دَعَوْا۟ هُنَالِكَ ثُبُورًا ﴿١٣﴾ لَّا تَدْعُوا۟ ٱلْيَوْمَ ثُبُورًا وَٰحِدًا وَٱدْعُوا۟ ثُبُورًا كَثِيرًا ﴿١٤﴾ قُلْ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ أَمْ جَنَّةُ ٱلْخُلْدِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ ۚ كَانَتْ لَهُمْ جَزَآءً وَمَصِيرًا ﴿١٥﴾ لَّهُمْ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ خَٰلِدِينَ ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ وَعْدًا مَّسْـُٔولًا ﴿١٦﴾﴾

[١١-١٤] [اى پيغمبره! کافرانو يوازې ته دروغژن ونه بللې] بلکې دوی د قيامت ورځې راتګ هم دروغ و باله [يعنى ورځخه منکر سول] او هر څوک چې د قيامت نه منکر سي او هغه دروغ و بولي؛ هغه ته مونږ د دوزخ سوزونکئ او کړونکئ اور تيار کړئ دئ، او هر کله چې کافران دغه د دوزخ اور د قيامت په ورځ د لرى نه وو يني، نو د هغه د غوصې غږ غړمبهار اوري، او بيا چې کله کافران د دوزخ يوې زورې ډډې ته ټرل سوي وروغورځول سي، نو هلته خپل ځانونه هلاک سوي بولي او چيغې وهي او وا و يلا کړي! او په هغه ورځ بيا پر کافرانو باندې غږ کيږي چې نن د يوځل لپاره هلاکت مه غواړى او د ډير هلاکت دعاء وکړى او هغه وغواړى، يعنى نور د نجات او خلاصون لار نلرى، ځکه تاسې د تل لپاره هلاك سوي ياستى او د جهنم په اور کې به سوز يدلي کړ يږى!

[١٥-١٦] اى پيغمبره! [او د کافرانو نه و پوښته او ورته]ووايه: آيا هغه د دوزخ اور ښه دئ او که تل پاتې جنتونه، چې د متقيانو سره يې وعده

سوې ده؟ او متقیانو ته، چې دوی د الله سزا کړونکي عذاب نه ښه کلک و یر یږي] ثوابونه او ښه راتلونکې ده، او متقیان چې هر څه په جنت کې غواړي؛ هغه سته او دوی به پکې تل اوسیږی، او د دغسې نعمتونو ورکړه متقیانو ته د ستا رب الله باندې ای پیغمبره! د الله هغه وعده ده چې دوی غوښتله، یعنی الله تعالی خپله وعده خاماخا مومنانو سره پوره کوي او دوی دغو لو یو جنتو ته ورننه باسي، او د کافرانو نه د پوښتنې ځواب دا دئ: چې یقینا د الله لویې ورکړې او بې ساري نعمتونه په آخرت کې ډیر ښه دي، یعنی نو ښایي چې کافران ژور فکر وکړي او ایمان راوړي، ترڅو دغسې لوی نعمتونه ورکړل سي او د مومنانو غوندې ښاد سي.

{د مشرکانو خدایان د قیامت په ورځ خپل براءت اعلانوي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی مشرکان د خپلو ناحقه او په نامه خدایانو هغې بیزاری نه خبر کړي دي چې د خپلو معبودانو نه یې اعلانوي، او فرمایلي دي:

﴿وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَقُولُ ءَأَنتُمْ أَضْلَلْتُمْ عِبَادِى هَٰٓؤُلَآءِ أَمْ هُمْ ضَلُّوا۟ ٱلسَّبِيلَ ﴿١٧﴾ قَالُوا۟ سُبْحَٰنَكَ مَا كَانَ يَنۢبَغِى لَنَآ أَن نَّتَّخِذَ مِن دُونِكَ مِنْ أَوْلِيَآءَ وَلَٰكِن مَّتَّعْتَهُمْ وَءَابَآءَهُمْ حَتَّىٰ نَسُوا۟ ٱلذِّكْرَ وَكَانُوا۟ قَوْمًۢا بُورًا ﴿١٨﴾ فَقَدْ كَذَّبُوكُم بِمَا تَقُولُونَ فَمَا تَسْتَطِيعُونَ صَرْفًا وَلَا نَصْرًا ۚ وَمَن يَظْلِم مِّنكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا كَبِيرًا ﴿١٩﴾﴾

[١٧] او د قیامت په هغه ورځ چې کله کافران الله د خپلو [کاذبو] خدایانو سره چې د الله نه پرته یې د دوي بنده کي کړه؛ یوځای حشر کړي، نو بیا الله د دوی خدایانو نه پوښتي او ورته وایي: آیا تاسې! د زما دغه بنده ګان د سمې لارې نه ورک کړل؟ او یا دا چې دوی په خپله د حق لارې نه ورک سول؟ یعنی د خپل رب الله پرځای یې د بتانو عبادت وکه!

[١٨] [نو بیا د کافرانو دا د دروغو خدایان] وایي: ای الله! ته د هر

عيب او نقصـان نه پاک يي او مونږ ته نه ښـاييدل چې د سـتا نه پرته بل څوک ځان ته ملګري ونيسو، خو تا ای ر به! دغو کافرانو او د دوی پلرونو ته په دنيا کې نعمتونه ورکړل [يعنی ترڅو دوی ورڅخه خوند وا خلي] خو بيا ته د دوی نه هير سوي [يعنی ستا سره يې ای لو يه خدايه! ناحقه او د دروغو خدايان شر يك کړل] او دوی هلاك سوئ او خوار سوئ قوم ؤ.

[١٩] [نو بيا مشرکانو ته و يل کيږي] دا دئ اوس يقينا چې تاسې خپلو خدايانو دروغژن و بللی او د سـتاسې و يناوې يې تکذيب کړې، نور نو نه تاسې د خپل ځان نه عذاب لرې کولای نسی او نه بل څوک مرسـتندوی لري، او هر چا چې د سـتاسې نه ای کافرانو ظلم کړئ دئ او کافر سـوئ دئ، نو هغه ته مونږ ډير لوی عذاب ورڅکو!

درندو دوستانو! الله تعالی پدې مبارکو آيتونو کې لمړئ د خپلې لو يتيا برکتونه او عظمت مونږ ته ياد کړئ او بيان کړئ دئ او بيايې د کافرانو ناپوهي او جهالت چې بې وسـعې خدايان يې د الله تعالی سـره په عبادت کې شـر يك کړل؛ بيان کړئ دئ، او بيا الله تعالی د کافرانو دروغژن تورونه رسـول الله ﷺ پسې رسـوا کړي دي او د کافرانو شـبهې يې پيغمبرﷺ او قرآن پسـې ردې کړې او غندلې دي او کافران يې کلک ملامت کړي دي، او بيا الله تعالی کافرانو ته د قيامت په ورځ د سختې سـزا ورکولو ګواښ کړئ دئ چې دوی به بيا په هغه ورځ هيڅ وسعه نلري او د دروغو خدايان بې هم ورڅخه خپله بې زاري اعلانوي او کافران همداسـې په لوی هلاکت کې پيريږدي او د جنهم په اور کې به تل کړ يږي، نو ګرانو دوسـتانو! مونږ په خپل ايمان شـکر باسـو او دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ مومنان د قيامت په ورځ د دغسې خواری نه په خپل فضل او رحمت سره وساتي.

{ټولو پيغمبر انو خوړل او څکل کړل او بازارو کې ګرځيدل}

او بيا الله تعالی په ور پسـې مبارك آيت کې د کافرانو دا خبره رده کړې ده چې دوی و يل: ولې رسـول الله ﷺ خواړه خوري او په بازارو کې ګرځي؟ او فرمايلې دي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ إِلَّآ إِنَّهُمۡ لَيَأۡكُلُونَ ٱلطَّعَامَ وَيَمۡشُونَ فِي ٱلۡأَسۡوَاقِۗ وَجَعَلۡنَا بَعۡضَكُمۡ لِبَعۡضٖ فِتۡنَةً أَتَصۡبِرُونَۗ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرٗا ٢٠﴾

[٢٠] ای پیغمبره! او د ستا نه پخوا مونږ هیڅ څوک پیغمبران ندي را لیږلي، مګر داچې دوی به خواړه خوړل او په بازارونوکې به ګرځیدل [یعنی خوراک، څښاک او بازارونو ته تلل او پکې ګرځیدل د ټولو انسانانو د ژوند اړتیاوې دي] او ای خلکو! تاسې ټول مونږ یو بل ته ازمایښت ګرځولی یاستی، نو آیا تاسې صبر کړی او کنه؟ او ای پیغمبره! د ستا رب الله ښه لیدونکئ لوی څښتن دئ، یعنی الله تعالی ټول خلک ښه پیژني، نو بیا هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

ګرانو دوستانو! الله تعالی ټول پیغمبران انسانان را لیږلي دي، او هر قوم خپل پیغمبر ښه پیژاند، ځکه د دوی سره یې ګډ ژوند کړئ ؤ او د دوی غوندې خواړه یې خوړل او ورسره یې په بازارونو کې را کړه ورکړه درلوده، نو ځکه د دوی پیغمبري خپلو ولسونو ته لوی ازمایښت ؤ، ترڅو معلومه سي چې څوک ایمان راوړي او حق پسې ځی او څوک په ضد کړو او عناد سره همداسې په خپل کفرکې پاتې کیږي؟ او یقینا چې الله ښه لیدونکي لوی ذات دئ او خپل بنده ګان پیژني چې څوک ښایي پیغمبر سي او بیا څوک ور باندې ایمان راوړي او په سمه لار او حق پسې ځي؟ او څوک ورسره ضد کړي او په کبر ، عناد او سر زوری سره همداسې په خپل کفر کې پاتې کیږي؟ نو یقینا چې دا کار لوی ازمایښت دئ، نو صبر او زغم ته اړتیا لري، او په ځانګړي ډول د پیغمبرانو او ورسره مومنانو او اسلام پالو دعاتو صبر او زغم ته، ځکه دوی مخامخ خلک د الله تعالی دین ته را بولي او د ډول ډول خلکو سره یې کار وي او هغوی هر یو بیل بیل خو یونه لري.

{د کافر انو اعتراضونه پیغمبر باندې الله ځواب کړې دي}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې د کافرانو اعتراضونه یاد کړی دي چې و یل به یې: ولې مونږ ته ملائکې پیغمبران نه راځي؟ او یا ولې مونږ خپل خدای په سترګو ښکاره نه و ینو؟ او بیا دا پوښتنې او نیوکې

االله تعالى کلکې غندلې او ځواب کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿۞وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ نَرَىٰ رَبَّنَاۗ لَقَدِ ٱسۡتَكۡبَرُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ وَعَتَوۡ عُتُوّٗا كَبِيرٗا ٢١ يَوۡمَ يَرَوۡنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ لَا بُشۡرَىٰ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُجۡرِمِينَ وَيَقُولُونَ حِجۡرٗا مَّحۡجُورٗا ٢٢ وَقَدِمۡنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُواْ مِنۡ عَمَلٖ فَجَعَلۡنَٰهُ هَبَآءٗ مَّنثُورًا ٢٣﴾

[٢١] او هغو کسانو چې دوی زمونږ سره د ملاقات هيله نلري وو يل: ولې پر مونږ باندې ملائکې ندي را کوزې سوې؟ او يا ښايي مونږ خپل رب په سترګو وو ينو؟ [يعنی دا چې بيا به مونږ ايمان راوړ او په الله او د هغه په پيغمبر باندې به د زمونږ باور راسي] هو! يقينا چې دغو کافرانو خپل ځانو نه غټ وګڼل او کبريې وکه او ښه لو يه سرکښي يې وکړه، يعنی حق ته يې غاړه کې نښودله او خپل رب الله يې په توحيد سره ونه پيژانده او نه يې د الله پيغمبر محمد ﷺ ومانه!

[٢٢] او په هغه ورځ [يعنی د قيامت په ورځ] چې کله کافران ملائکې و يني، نو پدې وخت کې ملائکې کافرانو ته وايي: نور هيڅ ز يرې نسته او جنت ته ورننوتل دي [يعنی د الله نعمتونو نه برخمن کيدل] پر تاسې حرام دي، يعنی دا ځکه چې تاسې د محرومانو نه وی !

[٢٣] او د کافرانو هغه کړنې چې دوی په دنيا کې کړې وې؛ هغه مونږ کرد کرد کرځوو، يعنی هرې خوايې شيندو او له منځه يې وړو.

قدرمنو دوستانو! الله تعالى پدې مبارکو آيتونوکې د کافرانو ټولې هغه غوښتنې او اعتراضونه رد کړي دي چې د پيغمبر ﷺ په باره کې يې کړل، او د هغو ملائکو په خوله يې کافرانو ته د الله جنتونو نه محروميت اعلان کړئ دئ چې کله دا ملائکې کافرانو ته د ساه اخستلو يا ځانکندن په وخت کې راځي او بيا په ګور کې ورځخه پوښتنې کړي، او بيا وروسته د قيامت په ورځ دوی و يني، او همدارنګه الله تعالى د کافران ټول هغه کارونه چې په دنيا کې يې کړي ول؛ هغه د قيامت په ورځ په هوا کې داسې شيندي چې کرد

کړد کړئي او کافرانو ته هيڅ کټه نه رسوي، ځکه هغه ټول د الله حکم نه پرته تر سره سوي ول، او د الله تعالى لارښودنو لاندې نه ول، نو د کافرانو ټولې کړنې بې اعتباره کيږي او له منځه ځي او دوی ته هيڅ کټه نه رسوي، چې ترڅو دوی ور باندې ښاد سي!

{مومنان د جنتونو نه خوند اخلي او کافران بد حال لري}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى مونږ په جنت کې د مومنانو خوښې او نيکمرغۍ نه خبر کړی يو او د قيامت ورځې ژوندۍ انځورې را ته په مخکې ايښئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ يَوۡمَئِذٍ خَيۡرٞ مُّسۡتَقَرّٗا وَأَحۡسَنُ مَقِيلٗا ٢٤ وَيَوۡمَ تَشَقَّقُ ٱلسَّمَآءُ بِٱلۡغَمَٰمِ وَنُزِّلَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ تَنزِيلٗا ٢٥ ٱلۡمُلۡكُ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡحَقُّ لِلرَّحۡمَٰنِۚ وَكَانَ يَوۡمًا عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ عَسِيرٗا ٢٦ وَيَوۡمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيۡهِ يَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي ٱتَّخَذۡتُ مَعَ ٱلرَّسُولِ سَبِيلٗا ٢٧ يَٰوَيۡلَتَىٰ لَيۡتَنِي لَمۡ أَتَّخِذۡ فُلَانًا خَلِيلٗا ٢٨ لَّقَدۡ أَضَلَّنِي عَنِ ٱلذِّكۡرِ بَعۡدَ إِذۡ جَآءَنِيۗ وَكَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لِلۡإِنسَٰنِ خَذُولٗا ٢٩﴾

[٢٤] هو! جنتيان د قيامت په ورځ په ډير ښه استوګنځي کې اوسيږي او پکې ځای پرځای سوي وي، يعنى الله تعالى دوی په لوی عزت او په ښادۍ سره نازوي.

[٢٥] او په هغه ورځ اسمان چوي او ووره ورځخه راوځي، او ملائکې په دغه ورځ د اسمانونو نه په ډير ځوک سره را کوزول کيږي، يعنى الله تعالى د محشر په ورځ ملائکې د اسمان نه را کوزوي، ترڅو ټول خلک په ليکو کې قطار قطار د الله تعالى په مخکې حساب ورکولو ته ودروي.

[٢٦] هو! د قيامت په ورځ ټوله واکمني (پاچايي) د الرحمن رب الله وي [يعنى يوازې الله تعالى د قيامت په ورځ حکم کړي او فرمان چلوي] او پر کافرانو باندې د قيامت ورځ ډيره درنده او ستونزمنه وي.

[٢٧-٢٩] او د قیامت په ورځ هر ظالم (کافر) پر خپلو لاسو باندې د ډیرې پښېمانۍ نه خوله لړوي او وایي: ای کاشکې د پیغمبر سره مه لار نیولې وای، یعنی هغه پسې تللئ وای او ایمان مه راوړئ وای! او آه او افسوس کړي او وایي: کاشکې ما فلانئ خپل ملګرئ نه وای نیولئ؟ ځکه هغه خو زه په یقین سره د الله کتاب نه چې کله را ته راغئ ورک کړم، او یقیناچې شیطان تل انسان همداسې یوازې خوسې کوي او ملاتړې نکړي!

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د کافرانو د ډیر بد حال انځور زمونږ مخې ته ایښئ دئ او د زمونږ زدکړې او پند اخستلو لپاره پکې ډیر ښه پیغام پروت دئ، نو ښایي چې د بدو خلکو ملګرتیا نه تل ډډه وکړو او هیڅ کله په باطل کې ورسره ملګري نسو او د شیطان وسوسو په لوموکې ونښلو، ځکه شیطان بیا تل غولول سوي خلک همداسې یوازې بې مرستې پر یږدي او ملاتړ یې نکړي، او شیطان خپله هم په لوی عذاب کې لو یږي.

{پیغمبرﷺ الله ته د خپل امت سرکښۍ نه شکایت کړئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د رسول اللهﷺ شکایت او ګیله د خپل قوم او امت نه یاده کړې ده او هم الله تعالی د قرآن تدر یجي نزول حکمت او مقصد پیغمبرﷺ ته یاد کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَقَالَ ٱلرَّسُولُ يَٰرَبِّ إِنَّ قَوْمِى ٱتَّخَذُوا۟ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ مَهْجُورًا ﴿٣٠﴾ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِىٍّ عَدُوًّا مِّنَ ٱلْمُجْرِمِينَ ۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيًا وَنَصِيرًا ﴿٣١﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ ٱلْقُرْءَانُ جُمْلَةً وَٰحِدَةً ۚ كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِۦ فُؤَادَكَ ۖ وَرَتَّلْنَٰهُ تَرْتِيلًا ﴿٣٢﴾ وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا ﴿٣٣﴾ ٱلَّذِينَ يُحْشَرُونَ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ أُو۟لَٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٣٤﴾﴾

[٣٠] او پیغمبر[خپل رب ته مخ واړاوه او دعاءې وکړه] و یو یل: ای

لو يه خدايه! د زما قوم خو دا قرآن پر ښـود، يعنى سـركښـي يې وكړه او قرآن يې ونه مانه او عمل يې ور باندې ونكه!

ګرانو عز يزانو! نو دا مبارك آيت مونږ ټولو مسلمانانو ته لوى ګواښ دئ، او مومنانو ته ښـــايي چې هيڅ كله د قرآن نه هجرت ونكړي او هغه پر يږدي او تل يې تلاوت كړي او په معنايې ځان ښـــه پوه كړى او په حكمونو او ســپارښــتنويې عمل وكړي او په خپل ژوند كې قرآن لارښــود وګرځوي، ترڅو نيكمرغه او ښاد سي.

[٣١] اى پيغمبره! او همدارنګه هر نبي ته [چې هغه مونږ د ســتا نه مخكې پيغمبر كړځولئ دئ] د هغه قوم مجرمان او ظالمان مونږ ورته دښمنان ګرځولي دي، او د ستا رب اى پيغمبره! تا ته بس دئ، يعنى د ستا مرســته خپله د ســتا رب الله كړي او قوم ده ســمې لارې ته چې حق ده هدايت كوي او پرې سموي يې.

هو! قدرمنو دوســتانو! د الله تعالى په تقديري حكم ســره د ټولو ولسونو كبرجنو او مجرمانو مشرانو د خپلو پيغمبرانو سره دښمنى كړي ده، نو د ابو جهل او ابو لهب او دوى ته ورته د نورو كبرجنو او كينه كښو مشـركانو دښـمنى د اسـلام پيغمبر سـره؛ د پخوانيو پيغمبرانو دښـمنانو غوندې دښمني وه، خو بيا الله تعالى رسول الله ﷺ ته ډاډ وركړئ دئ چې الله هغه ته بس او كافي دئ، ځكه الله د خپل پيغمبر مرستندوى دئ.

او په ور پسـې مباركو آيتونوكې الله تعالى د كافرانو يو بل اعتراض ياد كړئ دئ او بيايې هغه ځواب كړئ دئ، او فرمايلي دي:

[٣٢] او هغه كسـان چې كافران سـول [يعنى د رسـول اللهﷺپيغمبري يې ونه منله] و يو يل: ولې په هغه باندې قرآن يوځاى را نازل نســه؟ [نو الله تعالى دوى ته په ځواب كې وو يل: هو!] همداســې مونږ قرآن بيل بيل را نازل كه، ترڅو هغه د ستا په زړه كې اى پيغمبره! كلك كړو او هغه مونږ پر تا باندې ورو ورو ولوست او ښه مو تلاوت كه.

[٣٣] او اى پيغمبره! كافران هيڅ اعتراض او شــبهه د مثال او بيلګې

غوندې تا ته نه راوړي، مګر دا چې مونږ په حق سره د هغې ځواب وايو او ښه وضاحت او تفسيرې کړو، يعنې هغه ښه روښانه بيانوو.

[٣٤] او هغه کسان چې د قيامت په ورځ پرمخې دوزخ ته ورغونديږي او پکې اچول کيږي؛ هغوی په ډير بد ځای کې ځای پرځای سوي دي او د حق نه ډير لرې ورک سوي دي.

ګرانو دوستانو! الله تعالى پدې مبارکو آيتونوکې د مشرکانو نيوکې او اعتراضونه د قرآن په بيل بيل او تدر يجي نزول باندې رد کړي دي او کافران يې په سختو سزا ګانو ګواښلي دي، ترڅو دوی که هوښياران وي او عقل ولري؛ ښه ژور فکر وکړي او هوښ يې سرو ته راسي او د رسول الله ﷺ سره د دښمنۍ نه لاس واخلي او ايمان راوړي، او يقينا چې دا ګواښونه ټولو کافرانو ته د تل لپاره ډير ښه فرصت دئ، ترڅو دوی ايمان راوړي، نو ښايې چې اسلام ته رابلونکي دعات دا مبارك آيتونه کافرانو ته او غوليدلو مسلمانو ته ولولي او په معنايې ښه پوه کړي، ترڅو دوی ښه هوښيار سي او ايمان راوړي او په قرآن باندې عمل وکړي او په اسلام کې کلک او ټينګ سي.

{موسى عليه السلام ته الله تورات ورکه او وروريې هارون وزير وټاکه}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د موسى عليه السلام پيغمبرۍ قصه فرعون ته ډيره لنډه ياده کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَجَعَلۡنَا مَعَهُۥٓ أَخَاهُ هَٰرُونَ وَزِيرٗا ٣٥ فَقُلۡنَا ٱذۡهَبَآ إِلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَدَمَّرۡنَٰهُمۡ تَدۡمِيرٗا ٣٦﴾

[٣٥] او يقيناچې کتاب (تورات) مونږ موسى ته ورکه او د هغه ورور هارون مونږ ورسره وز ير(مرستيال) وګرځا ؤ.

[٣٦] نو بيا دوی ته مونږ وو يل: تاسې دواړه د هغه قوم خلکو ته ورسې چې دوی زمونږ د قدرتونو نښې او د کتاب آيتونه دروغ و بلل، نو بيا دا خلک مونږ هلاك او درې وړې کړل او تباه سول، يعنې موسى او وروريې

هارون علیهما السلام الله تعالی فرعون او د هغه قوم ته ورولیږل او هغوی یې د الله تعالی توحید ته راو بلل، خو فرعون او قوم یې د الله کتاب آیتونه دروغ و بلل او ایمان یې را نه وړ، نو بیا دوی الله تعالی په سمندرکې په ډوب او هلاك کړل او واکمني او پاچایې یې لمنځه لاړه.

{د نوح عاد او ثمود قومونوچې پیغمبران دروغژن و ګڼل الله هلاك کړل}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د نوح عليه السلام او د عاد او ثمود قومونو د هلاکت په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَقَوْمَ نُوحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا۟ ٱلرُّسُلَ أَغْرَقْنَٰهُمْ وَجَعَلْنَٰهُمْ لِلنَّاسِ ءَايَةً ۖ وَأَعْتَدْنَا لِلظَّٰلِمِينَ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٣٧﴾ وَعَادًا وَثَمُودَا۟ وَأَصْحَٰبَ ٱلرَّسِّ وَقُرُونًۢا بَيْنَ ذَٰلِكَ كَثِيرًا ﴿٣٨﴾ وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ ٱلْأَمْثَالَ ۖ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيرًا ﴿٣٩﴾ وَلَقَدْ أَتَوْا۟ عَلَى ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِىٓ أُمْطِرَتْ مَطَرَ ٱلسَّوْءِ ۚ أَفَلَمْ يَكُونُوا۟ يَرَوْنَهَا ۚ بَلْ كَانُوا۟ لَا يَرْجُونَ نُشُورًا ﴿٤٠﴾﴾

[٣٧] او کله چې د نوح قوم خپل پیغمبر درغژن وګانه؛ دوی مونږ د او بو په طوفان کې ډوب کړل، او نورو خلکو ته دوی مونږ [د عبرت او پند اخستلو] نښه وګرځول، او ظالمانو ته مونږ د قیامت په ورځ سوزوونکئ عذاب تیار کړئ دئ، یعنی دوی به هلته پکې تل لپاره کړ یږي.

[٣٨] [او همدارنګه] د عاد او ثمود قامونه او د وچې سوې څاه کلي خلک او د دوی په منځ کې د ډیرو پیړو نه مخکې تیر سوي ولسونه چې خپل پیغمبران یې دروغژن وګڼل؛ دوی ټول مونږ هلاك کړل، یعنی تباه سول او کلي یې کنډ واله سول.

[٣٩] او دغو ټولو ولسونو ته مونږ د دوی نه پخوا هلاك سوو قومونو بیلګې او مثالونه یادې کړې دي او دوی ټول مونږ هلاك کړل او ر یښي یې مونږ وایستلې، یعنی ټول د تار یخ برخه سول.

[٤٠] [او د مکې کاروانیان په خپلو سوداګر یزو جو پوکې شام ته] په هغه کلي را تیر سول چې ډیر بد باران ور باندې وور یده [یعنی د لوط عليه السلام قوم باندې را تیر سول چې د اسمان نه پر دوی باندې تیږې راوور یدلې او ټول یې هلاك او تباه کړل] نو آیا [د قر یشو کاروانیانو] دا کلي ونه لیدل؟ [او ورڅخه یې پند او عبرت وانخست؟ ځواب: نا!] بلکې دوی د قیامت په ورځ بیرته را ژوندي کیدلو ته هیلمن نه ول، یعنی دوی د قیامت پر ورځ باور نه درلود او ثواب ته یې هیلمن نه ول، نو پندیې ورڅخه وانخست!

عزتمنو دوستانو! د تیرو ولسونو یادونه او د هغوی کفر او د الله تعالی اطاعت نه د وتلو او د سرکښۍ قصې او بیایې هلاکت؛ له یوې خوا د پند اخستلو لپاره ډیر غوره مثالونه او بیلګې دي، او له بلې خوا پدې قصوکې د اسلام پیغمبر محمد ﷺ ته او د هغه دین رابلونکو دعاتو ته د ډاډ، تسلیت او د صبر او زغم پیغامونه نغښتي دي.

{رسول الله ﷺ ته الله د کافر انو ظلمونو نه ډاډ ورکړئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی خپل استازئ رسول الله ﷺ د خپل قوم سپکو خبرو او بدو کړنو نه ډاډمن کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذَا رَأَوْكَ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا ٱلَّذِى بَعَثَ ٱللَّهُ رَسُولًا ﴿٤١﴾ إِن كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنْ ءَالِهَتِنَا لَوْلَآ أَن صَبَرْنَا عَلَيْهَا ۚ وَسَوْفَ يَعْلَمُونَ حِينَ يَرَوْنَ ٱلْعَذَابَ مَنْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٢﴾ أَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا ﴿٤٣﴾ أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَٱلْأَنْعَٰمِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٤﴾﴾

[٤١] ای پیغمبره! او کله چې دغه کافران تا وو یني، نو د ستا سپکاوئ کړي او په خپلو منځو کې سره وایي: آیا دا هغه سړئ دئ چې وایي: دئ الله پیغمبر او استازئ را لیږلئ دئ؟ یعنی کافرانو په خپلو دغسې سپکو خبرو رسول الله ﷺ پسې خندل او سپکا وئ یې که.

[٤٢] [او بيا همدغه كافران په خپل منځ كې ســره وايي] كه مونږ پر خپلو خدايانو باندي صبر نه واى كړئ او ور باندې كلك نه واى در يدلې، نو لنډه وه چې مونږپې د خپلو خدايانو نه ورک كړي واى؟ [نو بيا د هغوى په ځواب كې الله تعالى فرمايلي دي:] هو! كله چې د الله عذاب كافران خپله وو يني، نو بيا به پوه ســي چې څوک د ســې لارې نه ډير ورک ول؟ يعنى آيا دوى د حق لارې نه ورک ول او كه محمدﷺ العياذ بالله؟ ځواب دا چې يقينا دوى وركه ول نه رسول اللهﷺ !

[٤٣] اى پيغمبره! او آيا تا هغه څوک وليده چې خپله هوا او هوس پې ځان ته خداى ونيوه؟ [يعنى د خپلې خوښې عبادت او بنده كې كړه] او ته پې اى پيغمبره! حيران كړې او په تعجب كې پې واچولې؟ نو آيا ته پر دوى باندې څارونكئ او وكيل پې؟ يعنى د هغوى ضــامن پې چې دوى به خاماخا ايمان را واړوي؟ ځواب: نا داســې نده! يعنى اســتفهام دلته انكاري دئ او رســول الله ﷺ د دغو كافرانو ايمان راوړو ضــامن ندئ چې دوى ده خاماخا ايمان راوړي، نو اســلام ته رابلونكى دعات او علماء ده د كينه كښــو كافرانو ســره ځان نه برابروي او د هغوى پر كفر ده د ډير خفتيان نه ځانونه نه زوروي، يعنى كافران ده د الله تعالى تقديري پر يكړې ته وسپاري، او هر څوک به د خپل ليكل سوې برخليک سره مخامخ كيږي .

[٤٤] او اى پيغمبره! آيا ته ګمان كړي چې يقينا ډير كســان به د دغو كافرانو نه حق اوري او يا به په هغه باندې پوهيږي [يعنى مغزونه پې ور باندې خلاصــيږي؟ نا! داســې نده] دغه كافران د څارو يو غوندې دي، بلكې د څارو يو نه هم لا ډير د ســې لارې نه ورک دي، يعنى نه حق اوري او نه پې په ازښــت پوهيږي، ترڅو ايمان راوړي او حق ومني، نو ښــايي چې اسلام ته را بلونكي دعات د دوى په كفر ځانو نه ونځوروي.

{د الله لويو قدرتونو نښې د ځواكمنى او عبوديت پيغام دئ}

او بيا الله تعالى په ور پســې مباركو آيتونو كې د خپلو لو يو قدرتونو نښــې يادې كړې او بيان كړې دي او رســول اللهﷺ ته پې بيا ډيرې اړ يني

سپارښتنې کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ ٱلظِّلَّ وَلَوْ شَآءَ لَجَعَلَهُۥ سَاكِنًا ثُمَّ جَعَلْنَا ٱلشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيلًا ﴿٤٥﴾ ثُمَّ قَبَضْنَٰهُ إِلَيْنَا قَبْضًا يَسِيرًا ﴿٤٦﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ لِبَاسًا وَٱلنَّوْمَ سُبَاتًا وَجَعَلَ ٱلنَّهَارَ نُشُورًا ﴿٤٧﴾ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ ٱلرِّيَٰحَ بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَىْ رَحْمَتِهِۦ ۚ وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً طَهُورًا ﴿٤٨﴾ لِّنُحْـِۧيَ بِهِۦ بَلْدَةً مَّيْتًا وَنُسْقِيَهُۥ مِمَّا خَلَقْنَآ أَنْعَٰمًا وَأَنَاسِىَّ كَثِيرًا ﴿٤٩﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَٰهُ بَيْنَهُمْ لِيَذَّكَّرُوا۟ فَأَبَىٰٓ أَكْثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورًا ﴿٥٠﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِى كُلِّ قَرْيَةٍ نَّذِيرًا ﴿٥١﴾ فَلَا تُطِعِ ٱلْكَٰفِرِينَ وَجَٰهِدْهُم بِهِۦ جِهَادًا كَبِيرًا ﴿٥٢﴾ *وَهُوَ ٱلَّذِى مَرَجَ ٱلْبَحْرَيْنِ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَّحْجُورًا ﴿٥٣﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ مِنَ ٱلْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُۥ نَسَبًا وَصِهْرًا ۗ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا ﴿٥٤﴾ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ ۗ وَكَانَ ٱلْكَافِرُ عَلَىٰ رَبِّهِۦ ظَهِيرًا ﴿٥٥﴾﴾

[٤٥-٤٦] ای پیغمبره! آیا ته د خپل رب قدرتونو ته نه ګورې؟ چې څنګه الله سورئ پر ځمکه کې اوږد خور که؟ [یعنی دغه سورئ چې خلک د لمر وړلانکو نه ساتي او ټوله وړځ ور باندې خور وي په سحرکې د لمر راختلو سره سم لو یدیځ خوا ته وي او بیا دا سورئ د لمر سترکې زوال سره سم د غرمې نه وروسته ختیځ خوا ته اوړي] او ای پیغمبره! که د ستا رب غوښتي وای، نو سورئ به یې ځای پرځای درولئ ؤ [یعنی د لمر سترکې ګښت به یې د یوې خوا نه بلې خوا ته نه اړا وه؟] او بیا د لمر سترکې ګښت مونږ په سوري باندې نښه او دلیل وګرځا ؤ او بیا سورئ لږ لږ مونږ را لنډ کړه، یعنی دغه د افلاکو حرکت او بدلون د الله تعالی په قدرتونو باندې لو یه نښه ده، نو ښایي چې یوازې د الله بنده ګي وسي او د هر ډول شرک نه خلک ځانونه کلک وساتي او ټول انساني علوم د الله د لو یو قدرتونو پیژندنې وسیله وګرځول سي!

[٤٧] ای خلکو! او الله هغه څوک دئ چې شـپه يې تاسـې ته جامه ګرځولې ده [يعنی تاسـې يې پر هغه باندې پټ کړي ياسـتی] او خوب يې تاسې ته دمه کړل ګرځولئ دئ [يعنی پکې دمه کړی او ستړيا مو لرې کيږي] او ورځ يې درته د خوب نه د راجګيدو [يعنی په ځمکه کې د ژوند چارو لپاره د خور يدو وخت] ګرځولې دئ، يعنی داچې تاسـې ای خلکو! ورځې د خو ب نه راو ښـيږی او د خپل ژوند چارو او اړتياوو سـمبال پسـې د کورونو نه وځی او خپل کارونه کړی او خپلې ورځنۍ اړتياوې پوره کوی.

[٤٨-٤٩] او الله هغه څوک دئ چې شـمال يا بادیې د خپل رحمت باران اور يدو نه وړاندې ز يرئ ورکونکئ را وليږه او بيا د باران او به چې پاکونکې دي؛ مونږ پر تاسې باندې ای خلکو! را وووړولې، ترڅو ور باندې د کليو او باندو مړې ځمکې را ژوندئ کړو او د زمونږ مخلوقاتو نه څارويې په هغو باندې او به کړو او هغه ډيرو خلکو ته وروڅکو.

[٥٠] او يقينا چې او به مونږ د خلکو په منځ کې [هرې خوا ته او په هر ځای کې راووړولې او د خلکو په منځ کې هغه مونږ وشـيندلې] ترڅو الله خلکو ته ور په ياد سي [يعنی د الله تعالی د دې لوی نعمت نه ګټه وا خلي] خو ډيرو خلکو سرکښي وکړه او د الله نعمتونو نه منکر سول.

قـدرمنو دوسـتانو! الله تعالی پـدې مبـارکو آيتونوکې مونږ د خلکو سرکښۍ نه د الله خورو ورو قدرتونو او نعمتونو پر وړاندې خبر کړي يو، او دغسـې سـرکښـي هغه بد خو يونه دي چې خلک ور باندې تل د حق نه محروم سـوي او رټل سـوي دي، او ډيرو خلکو خپل تار يخ په دغسـې سـرکښۍ سـره خراپ کړئ دئ او په خپل ژوند کې تل په غفلت او ګناه کې پرا ته دي او په آخرت کې د الله سخت عذاب ورته تيار سوئ دئ.

او بيا الله تعالی پر رسـول اللهﷺ باندې د ټولو کافرانو سـره جهاد فرض کړئ دې، او فرمايلي دي:

[٥١-٥٢] ای پيغمبره! او که مونږ غوښـتي وای، نو هر کلی ته به مونږ يؤ پيغمبر را ليږلئ ؤ [يعنی ترڅوپې خپل کليوال د الله سزا نه و يرولي وای،

خو ته ای پیغمبره! مونږ ټولو خلکو ته پیغمبر وګرځولې، ترڅو د الله کتاب (قرآن) دوی ټولو ته ورسوي] نو ته ای پیغمبره! د کافرانو اطاعت مکړه [یعنی خبرې یې مه منه، بلکې] د کافرانو سره لوی جهاد او مبارزه وکړه، یعنی په سړه سینه او په زغم سره د کافرانو پر وړاندې کلک مقاومت وکړه او ودر یږه، او د الله تعالي دین دوی ته ورسوه او قرآن ورزده کړه او د هغوی غوښتنو ته مه تسلیږه او دوی په دنیا کې ښادی ته او په آخرت کی جنت ته راو بوله.

درندو دوستانو! الله تعالی پدي مبارکو آیتونوکې لمړئ د اسلام پیغمبرﷺ استازئ توب په نړۍ والتوب یا جهانیت باندې ټینګار کړئ دئ، ځکه الله تعالی یوازې محمد ﷺ ټولو خلکو ته خپل وروستئ پیغمبر او استازئ را لیږلئ دئ، او بیا الله تعالی رسول اللهﷺ د کافرانو سره کلکې مبارزې او جهاد ته را بللئ دئ، یعنی دا چې که څوک غواړي د رسول اللهﷺ دین خلکو ته ورسوي، نو ښایي خپل ځان دغسې کلکې مبارزې ته تیار کړي او هیڅ کله د کافرانو د خوښې غوښتنو ته تسلیم نسي، بلکې دوی ته په دنیا او آخرت کی د ښادی ز یرئ ورکړی او د عذاب نه یې کلک وګواښي، ترڅو په اوښ راسي او ایمان راوړي او نیکمرغه سي.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی همداسې خپل لوی قدرتونه د سمندرونو او بو په ځانګړتیا کې یاد کړي او بیان کړي دي اوفرمایلي دي:

[٥٣] [هو! ای خلکو!] او االله هغه څوک دئ چې دوه سمندرې سره کړ او یوځای کړل او د یوه او به خوږې او خوندوري دي او د بل سمندر او به تروې مالږ یې دي، او د دې دواړه سمندرنو په منځ کې الله د بیلتون داسې کړښه ګرځولئ دئ چې یو د یو بل سره د ګډیدو مخه نیسي.

ګرانو دوستانو! د بحرونو یا سمندر یزو علومو اوسني علماء وایي چې دا مبارك آیت او هغه ته ورته نور آیتونه پدې مسئله کې د قرآن کریم علمي اعجاز ثابتوي، ځکه اوس ثابته سوې ده چې د مدیترانې بحر او د شمالي اتلانتیک لوی سمندر په منځ کې؛ داسې د بیلتون یوه لیکه د خوږو

او ترو او بو په منځ کې غز يدلې ده چې نه پر يږدي د دغو سمندرونو خواص سره کډ سي، او دا حقيقت چې اوسنيو بحري څېړنو کې ثابت سوئ دئ؛ د قرآن کر يم لو يه علمي معجزه ده، ځکه دا حقيقت په قرآن کريم کې؛ هغه وخت ياد سوئ دئ چې په هغه وخت د دغسې اوسنيو بحري علومو څېړنيز وسائل موجود نه ول، نو يقينا چې قرآن د الله نه په حق سره را نازل سوئ اسماني پيغام او لوی کتاب دئ.

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونوکې خپل قدرت د انسان په پيدايښت کې بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

[٥٤-٥٥] او الله هغه څوک دئ چې بشر يا انسان يې د ابو نه پيدا که او بيايې د هغه کهول د يو بل سره نسبونه وګرځول او د يو بل سره خپلوان سول، او د ستا رب ای پيغمبره! په هر څه باندې قادر دئ [خو د الله تعالى لو يو قدرتونو د دې ټولو نښو او دليلونو سره سره بيا هم] کافران د الله نه پرته د هغو بتانو(مجسمو) عبادت کړي چې دوی ته نه ګټه رسوي او نه تاوان [يعنى دغه بتان خوسې کاڼي دي، خو کافران د شيطان ملګرتيا کړي] او د الله نه په سرکښى کې د يو بل مرسته کړي.

قدرمنو دوستانو! نو ښايي چې ټول خلک خپل لوی پالونکئ رب ښه کلک و پيژني او د هغه په توحيد او يوالي باندي په ر بوبيت او عبادت کې اقرار وکړي او يوازې د خپل دغسې ځواکمن څښتن بنده ګي وکړي او حکمونه يې ومني او د کفر او شرك نه په کلکه سره ځانو نه وساتى، ترڅو د دنيا او آخرت نيکمرغي وګټي او د قيامت په ورځ د الله تعالى پر وړاندې سپين مخي او سر لوړي ودر يږي.

{پيغمبرﷺ د دعوت په مقابل کې خلکو نه مزدوري نه غواړي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د رسول اللهﷺ رسالت او د دندې څرنګوالئ بيان کړې دئ او ورته يې سپارښت کړئ دئ چې خلکو ته ووايي: زه د ستاسې نه د خپل دعوت په عوض کې څه اجرت يا مزدوري نه غواړم، او فرمايلي دي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ٥٦ قُلۡ مَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍ إِلَّا مَن شَآءَ أَن يَتَّخِذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلٗا ٥٧ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱلۡحَيِّ ٱلَّذِي لَا يَمُوتُ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِهِۦۚ وَكَفَىٰ بِهِۦ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًا ٥٨ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ ٱلرَّحۡمَٰنُ فَسۡـَٔلۡ بِهِۦ خَبِيرٗا ٥٩﴾

[٥٦] ای پیغمبره! او ته مونږ خلکو ته د نیکمرغۍ او جنتونو ته ز یرئ ورکونکئ او د دوزخ اور نه و یرونکئ را لیږلئ یي، معنا داچې د رسـول الله ﷺ پیغام خلکو ته د الله تعالی توحید ته رابلنه او جنتونو ته ز یري ورکول او د کفر او دوزخ نه و یرول ول.

[٥٧] او ته ای پیغمبره! خلکو ته ووایه چې زه ستاسې نه د خپل دعوت مزدوري نه غواړم، مګر داچې څوک وغواړي خپل رب ته د تقرب او ورلنډیدو لار ونیسي، یعنی د الله تعالی خوښۍ او رضا لپاره خیرات ورکړي، نو دغسې خیرات ورکول د هغه خپله ګټه ده، خو پیغمبر د خلکو نه ځان ته څه اجرت او معاش نه غواړي، ځکه دئ الله تعالی خلکو ته د خپل دین رسولو لپاره را لیږلئ دئ، نو همدا د پیغمبرﷺ وارثانو دنده او رسالت دئ او ښایي چې هغه پرته د کمې ځاني ګټې لاس ته راوړو په مقصد خلکو ته ورسـوي، او خلک ده د الله تعالی حکمونو ته چې هغه په قرآن کې او د رسـول الله په سـنتوکې بیان سـوي دي راو بولي او ښـه دې ورزده کړي او دوی ده ور باندې ښه وروزي، ترڅو نیکمرغه اسلامي ټولنه جوړه سي.

[٥٨] او ای پیغمبره! ته په هغه ژوندي لوی رب توکل وکړه [یعنی ځان ور باندې وسـپاره] چې هغه تل ژوندئ دئ او نه مري، او الله د هر ډول کمښـت نه په پاکۍ سـره وسـتایه او الله د خپلو بنده ګانو ګناهوو نه ښې خبرتیا ته بس او کافي دئ، یعنی الله تعالی د خلکو ګناهوو نه ښـه خبر دئ او د هر چا سـره حسـاب کړي او د هغه لائق ثواب او سـزا ورکوي، نو پیغمبرﷺ او د هغـه دین تـه رابلونکي دعـات ده خلکو پسـې چراغ نـه

ګرځوي چې څوک څه کړي؟ ځکه هر څوک د خپلو کړنو مسئول دئ او پايلې ګالي، او الله تعالى مومنانو او صالحانو ته ثواب ورکوي او کافرانو او فاسقانو ته کلکه سزا!

[٥٩] او الله هغه څوک دئ چې اسمانونه، ځمکه او د دوی په منځ کې ټول مخلوقات يې په شپږو ورځوکې پيدا کړل، نو بيا دغه الرحمن رب الله پر عرش (څوکۍ) باندې هغسې مستوي سه [لکه څنګه چې د هغه لوړ مقام سره لائق وه، ځکه الله مخلوقاتو ته ورته ندئ] نو ته ای پيغمبره! د خپل خبير رب الله نه [چې د هر څه نه خبر دئ او په هر څه پوهيږي] سوال وکه، يعنى خپلې ارتياوي ورڅخه وغواړه، ځکه الله ښه غني او لوی پالونکئ ذات دئ او د خپلو ټولو بنده ګانو چارې پالي او غوښتنې او حاجتونه او ارتيا وې پوره کوي .

{کافران الله ته د بنده ګۍ او اطاعت سر نه ټيټوي}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونوکې د کافرانو سرکښي د الله اطاعت او فرمان وړو نه ياده کړې ده او د الله تعالى لو يوقدرتونو په بيان کې يې فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱسۡجُدُواْ لِلرَّحۡمَٰنِ قَالُواْ وَمَا ٱلرَّحۡمَٰنُ أَنَسۡجُدُ لِمَا تَأۡمُرُنَا وَزَادَهُمۡ نُفُورَۢا ٦٠ تَبَارَكَ ٱلَّذِي جَعَلَ فِي ٱلسَّمَآءِ بُرُوجٗا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَٰجٗا وَقَمَرٗا مُّنِيرٗا ٦١ وَهُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ خِلۡفَةٗ لِّمَنۡ أَرَادَ أَن يَذَّكَّرَ أَوۡ أَرَادَ شُكُورٗا ٦٢﴾

[٦٠] او هر کله چې کافرانو ته وو يل سي چې الرحمن رب ته سجده وکړی، نو دوی وايي: الرحمن څوک دئ چې هغه ته مونږ سجده وکړو؟ [يعنى آيا مونږ ای محمده!ﷺ] هغه چا ته سجده وکړو چې ته مونږ ته حکم کړې؟ او دغې غوښتنې د کافرانو تر ييدل او کرکه د الله نه ښه ډيره کړه، يعني د رسول اللهﷺ دغسې غوښتنې پر وړاندې کافران شيطان غولولو په سر واخستل او کلک وتر ييدل!

[٦١-٦٢] هوا! ټول عظمت او د برکت لو يتيا هغه ذات لره ده چې په اسمان کې يې برجونه او لوی ستوري پيدا کړل او لمريې پکې چراغ وګرځا ؤ او سپوږمۍ يې پکې رڼا کونکې وګرځوله، او شپه او ورځ الله يوه بلې پسې راولي [نو د الله تعالى قدرتونو په دغو لو يو نښانوکې هغه چا ته چې شکر باسي او منه کړي؛ نښې زدکړي او پند اخستل دي، يعنى هر څوک چې د عبرت او پند اخستلو وړتيا لري، نو هغه ته د الله تعالى د لو يو قدرتونو دغه نښې او دليلونه بس دي، ترڅو دئ ايمان راوړي او د کفر نه خپل رب الله ته تو به و باسي او د الله رحمت نه برخمن سي.

{د الله تعالى مخلصو بنده ګانو ځانګړې وصفتونو بيان}

او په ور پسې مبارکو آيتوکې الله تعالي مونږ ته د خپلو مومنو بنده ګانو لوړ خو يونه ياد کړي او ستايلي دي، ترڅو مونږ د دوی په پله لاړ سو، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَعِبَادُ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلَّذِينَ يَمۡشُونَ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ هَوۡنٗا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ ٱلۡجَٰهِلُونَ قَالُواْ سَلَٰمٗا ٦٣ وَٱلَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمۡ سُجَّدٗا وَقِيَٰمٗا ٦٤ وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱصۡرِفۡ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَۖ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ٦٥ إِنَّهَا سَآءَتۡ مُسۡتَقَرّٗا وَمُقَامٗا ٦٦ وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُواْ لَمۡ يُسۡرِفُواْ وَلَمۡ يَقۡتُرُواْ وَكَانَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ قَوَامٗا ٦٧ وَٱلَّذِينَ لَا يَدۡعُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ وَلَا يَقۡتُلُونَ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَلَا يَزۡنُونَۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ يَلۡقَ أَثَامٗا ٦٨ يُضَٰعَفۡ لَهُ ٱلۡعَذَابُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَيَخۡلُدۡ فِيهِۦ مُهَانًا ٦٩ إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلٗا صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمۡ حَسَنَٰتٖۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٧٠ وَمَن تَابَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَإِنَّهُۥ يَتُوبُ إِلَى ٱللَّهِ مَتَابٗا ٧١ وَٱلَّذِينَ لَا يَشۡهَدُونَ ٱلزُّورَ وَإِذَا مَرُّواْ بِٱللَّغۡوِ مَرُّواْ كِرَامٗا ٧٢ وَٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ لَمۡ يَخِرُّواْ

عَلَيۡهَا صُمّٗا وَعُمۡيَانٗا ٧٣ وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبۡ لَنَا مِنۡ أَزۡوَٰجِنَا وَذُرِّيَّٰتِنَا قُرَّةَ أَعۡيُنٖ وَٱجۡعَلۡنَا لِلۡمُتَّقِينَ إِمَامًا ٧٤ أُوْلَٰٓئِكَ يُجۡزَوۡنَ ٱلۡغُرۡفَةَ بِمَا صَبَرُواْ وَيُلَقَّوۡنَ فِيهَا تَحِيَّةٗ وَسَلَٰمًا ٧٥ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ حَسُنَتۡ مُسۡتَقَرّٗا وَمُقَامٗا ٧٦ قُلۡ مَا يَعۡبَؤُاْ بِكُمۡ رَبِّي لَوۡلَا دُعَآؤُكُمۡۖ فَقَدۡ كَذَّبۡتُمۡ فَسَوۡفَ يَكُونُ لِزَامٗا ٧٧

[٦٣] او د الرحمن [رب الله ښه نيک او صالح] بنده ګان؛ هغه کسان دي چې پر ځمکه باندې ورو او درانده [او په ډيره کمينۍ سره ګامونه کډي او تک کړي] او کله چې ناپوهان دوی ته څه ووايي، نو په ځواب کې ور باندې سلام اچوي، يعنی د جاهلانو سپکې او سپورې خبرې په سلام اچولو سره ځوابوي او هيڅ پروايي نکړي.

[٦٤-٦٦] [او د الله تعالی دغه صالحان بنده ګان] هغه کسان دي چې شپه خپل رب ته په سجده او قيام سره په لمانځه کې ولاړه تيروي، او دوی هغه کسان دي [چې دعاء کړي] او وايي: ای د زمونږ لو يه ر به! د جهنم يا د دوزخ عذاب زمونږ نه لرې کړه، ځکه د دوزخ عذاب يقينا چې دوزخي پورې نښتی عذاب دئ [يعنی هغه ورځنه نشکيږي او کلک ور پورې ترلئ وي] او دوزخ د استوګنې ډير بد او ستونزمن ځای دئ.

نو ګرانو دوستانو! دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ په خپل فضل او رحمت سره د دوزخ اور نه وساتي!

[٦٧] [او د الله تعالی دغه صالح او ښه بنده ګان] هغه کسان دي چې هيڅ کله د خپل مال او دولت په لږولو او مصرفولوکې اسراف نکړي او نه پکې بخيلي کړي، او د ډير لګښت (اسراف) او بخيلۍ په منځ کې سمه لار [چې منځنۍ لار ده] غوره کوي، يعنی دوی د خپل مال په لګښت کې منځ لاري دي، نه اسراف کړي او نه بخيلي او کنجوسي.

[٦٨-٧٠] او دوی هغه کسان دي چې د الله سره بل خدای نه غواړي [يعنی بل څوک د الله تعالی سره په عبادت کې نه شر يکوي] او دغه کسان

هغه څوک چې د هغه و يې تو يول الله حرام کړي دي؛ هغه نه تو يوي او نې وژني، مګر په حق سره، او نه دوی زنا کړی او که هر څوک دا بد وکړي، نو سزا يې ګالي [يعنی چې هغه قصاص او شرعي حدود دي] او د ګناهګار عذاب د قيامت په ورځ دوه برابره کيږي او په دوزخ کې به د تل لپاره خوار او سپک پروت وي، مګر داچې څوک تو به و باسي او ايمان راوړي او ښه عمل وکړي، نو بيا الله د دغو کسانو بد کړل او ګناه په حسناتو او په ښيګڼو باندې بدلوي، ځکه الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ.

[٧١] او هر چا چې تو به وايستله او ښه يې وکړل، نو يقينا چې الله ته په ښه پټه غاړه ورګرځيدلئ دئ.

[٧٢] [او دغه د الله صالح بنده ګان او د ښو کړنو خاوندان] هغه کسان دي چې د دروغو شاهدي نه وايي او کله چې د بدو کړنو ترڅنګ تيريږي، نو درانده ورځخه تيريږي، يعنی په بدو ټولنو کې برخه نه اخلي.

[٧٣] [او همدارنګه د الله تعالی دغه صالحان بنده ګان] هغه کسان دي چې کله دوی ته د دوی د رب الله آيتونه ولوستل سي [يعنی وعظ ورته وسي] ړلانده او ګانډه ورځخه نه تيريږي، يعني هغه ښه يې اوري او ورځخه ګټه اخلي او عمل په کړي.

[٧٤] [او دا نيکان او صالحان] هغه کسان دي [چې دعاء کړي] او وايي: ای لو يه ر به! د زمونږ کورنۍ او کهول نه يوه داسي کورنۍ را کړه چې د زمونږ سترګې ور باندې يخې سي، او ای لو يه څښتنه! مونږ ښو خلکو او متقيانو ته مخکښ امامان وګرځوه!

[٧٥-٧٦] نو هغوی ته [چې دوي دغسې ښه صفتونه او ښه خو يونه لري] په جنت کې ښه کورونه ورکول کيږي او د هر کلي سلامونه ور باندې اچول کيږي [يعنی فرښتې ورته ښه ژوند غواړي، او دا ځکه چې] دوی د الله نه په اطاعت او فرمان وړوکې صبر وکه [او ښه ډير کړاوونه يې وګالل] او په جنتونوکې به تل پاتې وي او هغه ډير ښه استوګنځئ دئ.

ګرانو دوستانو! او د مومنانو ښو صفتونو اوږده بيان نه وروسته بيا

الله تعالى د الفرقان سورې په پاى کې د مکې مشرکانو او کافرانو ته کلک ګواښ کړئ دئ، او فرمايلي دي:

[٧٧] اى پيغمبره! د مکې خلکو ته ووايه: که د ستاسې دعاګانې په ستونزوکې نه واي، نو د زما رب الله د ستاسې پروا نکړه [يعنى الله تعالى تاسې ته محتاج او اړ ندئ، او که تاسې اى خلکو! په اخلاص سره د الله عبادت وکه، نو بيا به تاسې ته الله لوړ مقام او لوى ثواب درکوي، خو که منکر سوى او د الله حکم نه تاسې سرکښي وکړه، نو بيا کلکه سزا درکوي، او اى پيغمبره! همدارنګه دغو کافرانو ته چې د الله پيغمبر او د هغه کتاب قرآن نه منکر سول ووايه: اى کافرانو! او داچې تاسې دا ټول د زما پيغمبرې او قرآن] په کلکه سره دروغ و بلل، نو دا ګناه به همداسې در پورې نښتې وي، يعنې د هغې سزا به ګالى او په سوزونکي عذاب کې به يې کړى!

ګرانو دوستانو! الله تعالى په پورتنيو ټولو مبارکو آيتونوکې لمړئ د خپلو مخلصو بنده ګانو د ښو اخلاقو او غوره خو يونو په بيان سره مومنان دغسې ښو ډيرو ښو خو يونو او ستايل سوو اخلاقو ته رابللي دي، او بيايې د دغو لوړ صفتونو جائزه او انعام دوى ته خپل لوى جنتونه په آخرت کې اعلان کړي دي، او پر هغوکې يې دوى ته د ښه هوسا ژوند يقيني ز يرې ورکړي دي، او بيا الله تعالى په وروستي مبارك آيت کې کافران چې د پيغمبرﷺ خبرې يې ونه منلې او دئ يې دروغژن و باله په سخته او درنده سزا باندې کلک ګواښلي دي، نو ښايي چې د الله تعالى دا ز يرې مومنانو ته د خوښۍ او ښادۍ ز يرې وي او دوى ايمان او توحيدي عبادت ته شه دير وهڅوي او د هرې ګناه نه دوى وګواښي، او همدارنګه ښايي دا کافرانو ته ګواښ؛ دوى ايمان راوړ ته وهڅوي، ترڅو د الله تعالى سخت عذاب نه خپل ځانونه وساتي، او د الله تعالى رحمت او ښنې ورټيا وګټي او د جنتيانو د ډلې برخه وګرځي او د هغوى نه وشميرل سي.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك... ❁❁❁

﴿د الشعراء سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې دلوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الشعراء سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه}

قدرمنو دوستانو! د الشعراء مبارکه سوره مکي سوره ده، او پیل یې د هجاء په تورو باندې سوئ دئ او هغه د قرآن کر یم په ادبي اعجاز باندې دلالت کړي، یعنی قرآن مجید چې په ر یښتیا سره د الله تعالی لخوا رانازل سوئ ښه روښانه حق کتاب دئ؛ د همدې هجاء تورو نه جوړ سوئ دئ او که څوک پکې شك لري، نو د هغه سورو غوندې سوره ده راوړي، خو یقینا چې د عر بانو ټول ادیبان، لیکوالان او شاعران د قرآن سورو غوندې د یوې سورې راوړونه هم بې وسعې او عاجز سول او پدې سره د قرآن کر یم حقانیت او ر یښتینوالئ ثابت او یقیني سه، ځکه هغه د الله تعالی نه راغلی حق کتاب دئ او هیڅ شك او شبه پکې نسته، او بیا الله تعالی پدې مبارکه سوره کې رسول الله ﷺ ته ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ چې ته ای پیغمبره! د کافرانو سر زوری، ضد کړو او کینه کښې دښمنۍ نه چې د ستا سره یې کړي او حق نه مني؛ مه خفه کیږه،ځکه که مونږ وغواړو په زور به د دوی غاړې حق منلو ته راماتې کړو، خو دا کار مونږ نه غواړو، بلکې مونږ پر یږدو چې هر څوک په خپله خوښه حق منلو ته غاړه کیږدي او هغه ومني، او بیا ټول خلک په خپله پوهه او په قناعت سره ایمان راوړي او مسلمانان سي، او یقینا چې په دعوتي رسنیز ډګرکې دا ډیره غوره او پرمختللې تک لاره ده، او همداسې الله تعالی پدې مبارکه سوره کې رسول الله ﷺ ته د لا ډیر ډاډ او اطمئنان او د تسلیت لپاره د پخوانیو پیغمبرانو، لکه د موسی علیه السلام قصې د دوی ولسونو سره کړې دي، او پدې قصوکې جرګو او ازادو بحثونو ته کلکه پاملرنه سوې ده، یعنی دا چې ټولو

پیغمبرانو همداسې د معقولو بحثونو او مناظرو او د منل سوي استدلال تګ لاره غوره کړې ده، او همداسې د الشعراء په مبارکه سوره کې د کافرانو کینه کښه در یځ انځور هم مونږ ته الله تعالی وړاندې کړئ دئ، او دا هغه لوی تر یخ حقیقت دئ چې ټول بشر یت په خپل اوږده تار یخ کې تل ورسره په جګړه او لاس په ګر یوان دئ، او اسماني قانون ته رابلونکو دعاتو پدې لار کې ښې ډیرې قر بانۍ ورکړې دي، ځکه دا سیالي د حق او باطل په منځ کې اوږده سیالي ده، په یو پلوکې د الله تعالی دین ته رابلونکې دعات دي او په بل پلوکې د هوا او هوس غوښتنو ته رابلونکې ولاړ کسان یا د انسي او جني شیطانانو لښکرې دي، یعنی دا د حق او باطل په منځ کې دغسې توده سیالي به همداسې تر قیامت ورځې پورې روانه وي، ترڅو قیامت ودر یږي او بیا حقپالان او مصلحان جنتونو ته ننوځي او د باطل لښکر د دوزخ تورو تیارو ژورو ته وروغورځول سي!

قدرمنو دوستانو! د یادونې وړده چې دا مبارکه سوره، ځکه په الشعراء نومول سوې ده چې په پای کې یې د شعراوو یا شاعرانو یادونه سوې ده او الله تعالی حق ته رابلونکې شاعران ستایلي دي او هوا او هوس پسې ورک شاعران یې کلک غندلي دي، او دا مبارکه سوره چې د هجاء په پر یکړ سوو تورو باندې پیل سوي ده؛ په پیل کې یې الله تعالی فرمایلي دي:

{د پیغمبر ﷺ او د هغه وارثانو رسالت یوازې تبلیغ دئ}

﴿طسٓمٓ ۝١ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ۝٢ لَعَلَّكَ بَٰخِعٞ نَّفۡسَكَ أَلَّا يَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ ۝٣ إِن نَّشَأۡ نُنَزِّلۡ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ءَايَةٗ فَظَلَّتۡ أَعۡنَٰقُهُمۡ لَهَا خَٰضِعِينَ ۝٤ وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن ذِكۡرٖ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ مُحۡدَثٍ إِلَّا كَانُواْ عَنۡهُ مُعۡرِضِينَ ۝٥ فَقَدۡ كَذَّبُواْ فَسَيَأۡتِيهِمۡ أَنۢبَٰٓؤُاْ مَا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ۝٦ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ كَمۡ أَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوۡجٖ كَرِيمٍ ۝٧ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ۝٨ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ۝٩﴾

[۱] [طاء، سین، میم] د عربي ژبې هجاء توري دي او معنا او مقصد

يې، لکه څنګه چې مخکې په دغسې هجايي تورو باندې پيل سوو سوروکې څرګند سه؛ د قرآن کر يم ادبي اعجاز ته اشاره ده، خو ځينې مفسر ينو بيا د دې تورو په تفسير کې ليکلي دي چې الله په خپل مراد او مقصد ښه پوهيږي، والله اعلم.

[٢] [هو! د طا، سين، ميم نه جور سوى آيتونه] د بيانونکې روښانه کتاب (قرآن) آيتونه او دليلونه دي، يعنې هيڅ شك او شبهه پکې نسته او پر رسول الله ﷺ باندې په حق سره را نازل سوي دي.

[٣] ای پيغمبره! او کيدای سي چې ته د ډير خفتيان نه چې ولې کافران مومنان ندي؛ ځان مړ کړې! يعنی دا چې ته ای پيغمبره! خپل ځان مه زورؤ او د کافرانو په کفر مه خفه کيږه، ځکه د کافرانو سميدل حق لارې ته او ورکيدل يې د سمې لارې نه؛ د الله تعالی کار دئ او تا خپل رسالت سر ته ورسا ؤ او خلک ده د الله دين ته را و بلل، نو اوس د دوی خوښه چې ايمان راوړي او کنه؟ او د ستا نه پوښتنه نکيږي چې ولې دوی کافرن سول، يعنی پيغمبر ﷺ او بيايې وروسته د دين وارثان د خلکو د هدايت يا ده نه هدايت مسئول ندي، ځکه د دعاتو رسالت او دنده خلکو ته؛ يوازې د دين رسول يا تبليغ، بيان، تعليم او ښه عملي روزنه ده.

[٤] هو! که مونږ وغواړو، نو اسمان نه به د خپلو قدرتونو داسې زوروره نښه راکوزه کړو چې بيا به کافران په مړو غاړو ورته تسليم سي، يعنی ايمان به راوړي، خو مونږ دا کار نکړو، ترڅو هر څوک په خپله خوښه ايمان راوړي، ځکه په دين کې زور نسته.

[٥] هو! دغو کافرانو ته د الرحمن رب (الله) لخوا د هيڅ نوې يادښت آيتونه نه راځي، مګر دا چې دوی ورڅخه مخ اړونکي وي، يعنی د حق پيژندنې او ور باندې باور کړو ته تيار ندي او هغه نه مني.

[٦] نو يقينا چې کافرانو پيغمبر او قرآن دروغ و بلل او سپکا وئ يې وکه، نو ډير ژر به دوی ته د خپل سپکاوي خبرونه راسي، يعنی د خپل کفر سزا به وو يني او هغه به وګالي!

[۷-۹] او آیا دغه کافران ځمکې ته نه ګوري چې پکې مونږ د هر ډول بوټو نه ډیر ښه بوټي راشنه کړي دي، یعنی دا کار د الله نه پرته بل هیڅ څوک کړای نسي، نو پدې کې د الله تعالی د لو یو قدرتونو نښې او دلیلونه نغښتي دي، خو بیا هم ډیر کسان د کافرانو نه مومنان ندي [یعنی د الله تعالی په قدرتونو باور نکړي] او د ستا رب ای پیغمبره! لوی ځواکمن او ښه مهر بان ذات دئ.

عزتمنوی دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې لمړئ رسول الله ﷺ ته تسلیت ورکړئ دئ چې د کافرانو په ناغیړی او په سرکښی ده نه خفه کیږي، او بیاې کافران په کلکه سزا ورکولو باندې ګواښلي دي، او همدارنګه روښانه ده چې دغه تسلیت او ډاډ رسول الله ﷺ ته او د هغه وارثانو او دین ته رابلونکو دعاتو ته تر قیامت ورځې پورې د اطمئنان او ډاډ لوی پیغام دئ، نو دوی ده په پوره اخلاص سره خپل رسالت په مخ یوسي او د الله تعالی دین ده خلکو ته تبلیغ کړي او هیڅ کله ده دوی د کافرانو په سرکښی د حق نه نه خفه کیږي، ځکه الله تعالی پر هغوی باندې ښه پوهیږي او ډیر ژر به دوی ته دردونکې سزا ورکړي.

{د موسی پیغمبري فرعون ته د الله قدرتونو ښکارندوی وه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د موسی علیه السلام قصه فرعون سره په ډیر تفصیل یاده کړې او بیان کړي ده، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ نَادَىٰ رَبُّكَ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱئْتِ ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠﴾ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ۚ أَلَا يَتَّقُونَ ﴿١١﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴿١٢﴾ وَيَضِيقُ صَدْرِي وَلَا يَنطَلِقُ لِسَانِي فَأَرْسِلْ إِلَىٰ هَٰرُونَ ﴿١٣﴾ وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنۢبٌ فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ ﴿١٤﴾ قَالَ كَلَّا ۖ فَٱذْهَبَا بِـَٔايَٰتِنَآ ۖ إِنَّا مَعَكُم مُّسْتَمِعُونَ ﴿١٥﴾ فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾ أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٧﴾ قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ ﴿١٨﴾ وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ ٱلَّتِي فَعَلْتَ وَأَنتَ مِنَ

ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٩ قَالَ فَعَلۡتُهَآ إِذٗا وَأَنَا۠ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ٢٠ فَفَرَرۡتُ مِنكُمۡ لَمَّا خِفۡتُكُمۡ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكۡمٗا وَجَعَلَنِي مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٢١ وَتِلۡكَ نِعۡمَةٞ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنۡ عَبَّدتَّ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٢٢ قَالَ فِرۡعَوۡنُ وَمَا رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٣ قَالَ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَآۖ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ٢٤ قَالَ لِمَنۡ حَوۡلَهُۥٓ أَلَا تَسۡتَمِعُونَ ٢٥ قَالَ رَبُّكُمۡ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٢٦

[١٠-١١] ای پیغمبره! او هغه وخت راپه یاد کړه کله چې د ستا رب الله په موسی باندې غږ وکه چې د ظالمانو ډلې او قوم ته او د فرعون قوم ته ورسه! او آیا دوی د الله عذاب نه ځانونه نه ساتي؟ یعنی دا چې فرعونیانو ته ووایه: آیا تاسې د الله عذاب نه نه و یر یږی؟ او د کفر نه لاس نه اخلی؟ هو! تاسې ته ښایي چې د الله نه وو یر یږی، کنه نو الله به سزا درکړي!

[١٢-١٤] [نو بیا موسی علیه السلام الله تعالی ته په ځواب کې] وو یل: ای د زما لو یه ر به! یقینا زه و یر یږم چې ما به دوی دروغژن و بولي، او د زما زړه په تنګ دئ او ژ به مه نه چلیږي [نو خپل استازئ جبرئیل او د زما ورور] هارون ورولیږه، او زه د فرعون قوم پور وړئ یم، نو و یر یږم چې ما به مړ کړي، یعنی دا چې موسی علیه السلام مخکې له نبوت نه چې کله په مصرکې ؤ؛ د یو کس قبطي وژلو ګناه په سر وړه او هغه یې په تیروتنې سره وژلئ وه، او د هغه قتل یې د مصر نه د تیښتې سبب او عامل وه، او د موسی علیه السلام دا قصه په نورو سورو کې په پوره تفصیل سره یاده سوې ده.

[١٥-١٧] [او بیا الله تعالی موسی ته په ځواب کې] وو یل: نا! تاسې وژلای نسي، نو تاسې دواړه زما د قدرتونو نښو او معجزو سره ورسی، او مونږ یقینا چې د ستاسې سره اور یدونکي یو، نو تاسې دواړه فرعون ته ورسی او ورته ووایي چې مونږ یقینا تا ته د رب العالمین الله له پلوه استازي یو، نو بني اسرائیل زمونږ سره ولیږه!

[١٨-١٩] [نو بیا چې کله فرعون ته موسی او ورورپې هارون ورغلل، نو

فرعون په ځواب کې ورته] وو يل: ای موسـی! آيا ته مونږ په خپل کورکې ماشـوم را لوی نکړې؟ او تا د خپل ژوند ډير کلونه زمونږ سره تير کړل، او بيا تا هغه څه وکړل چې وده کړل [يعنی د زمونږ قوم نه ده يو سړئ مړ که] نو ته ای موسـی! د زمونږ پيرزو ينو نه منکريي، يعنی د زمونږ نعمتونو او ښيګنو کفران ده کړئ دئ!

[۲۰-۲۲] [موسی فرعون ته په ځواب کې] وو يل: هو! ما هغه کار وکه [يعنی يو قبطي راڅخه په تيروتنه کې ووژل سـه] او زه په هغه وخت کې د سمې لارې نه د ورک سوو کسانو نه وم [يعنی پيغمبر نه وم] نو بيا ځکه د ستاسې و يرې نه وتښتيدلم، نو بيا د زما رب الله را ته فرمان راکه او زه يې د پيغمبرانو نه وګرځولم او هغه يوه پيرزو ينه ده چې پر ما باندې الله وکړه، او تا ای فرعونه! بني اسـرائيل خپل مر يان يا غلامان ګرځولي دي، يعنی نو ښايي چې زه خپل قوم بني اسرائيل د ستا ولکې نه خلاص کړم.

[۲۳-۲٤] [نو بيا فرعون د موسی نه و پوښتل] او و يو يل: د دې ټولې نړۍ خلکو څښـتن او رب څوک دئ؟ [موسـی په ځواب کې فرعون ته په کلک ډاډ سـره] وو يل: نو که تاسې ور باندې باور او يقين لری څښـتن يې رب العالمين دئ، او هغه د اسـمانونو او د ځمکې او د هغو دواړو په منځ کې پرتو ټولو مخلوقاتو رب او لوی څښتن دئ، يعنی که تاسې ای فرعونه! هغه منی او باور پرې لری، نو په رب العالمين ايمان راوړی او خدايي ومنی.

[۲۵] او فرعون خپل شاوو خوا ناستو مشرانو ته وو يل: آيا تاسې نه اوری چې موسی څه وايي؟ يعنی موسی د زما نه پرته بل چا ته خدای وايي!

[۲٦] [نو بيا موسی] وو يل: هو! الله د ستاسې او ستاسې د پخوانيو نيکونو ټولو څښتن او واکمن خدای دئ!

{فرعون موسی عليه السلام په ليونتوب تورن که}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی مونږ د فرعون هغو دروغژنو تورونو نه خبر کړي يو چې موسـی عليه السلام يې په ليونتوب تورن که او وو يل:

هغه ليونئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ ٱلَّذِيٓ أُرۡسِلَ إِلَيۡكُمۡ لَمَجۡنُونٞ ٢٧ قَالَ رَبُّ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَمَا بَيۡنَهُمَآۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡقِلُونَ ٢٨ قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذۡتَ إِلَٰهًا غَيۡرِي لَأَجۡعَلَنَّكَ مِنَ ٱلۡمَسۡجُونِينَ ٢٩ قَالَ أَوَلَوۡ جِئۡتُكَ بِشَيۡءٖ مُّبِينٖ ٣٠ قَالَ فَأۡتِ بِهِۦٓ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٣١ فَأَلۡقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعۡبَانٞ مُّبِينٞ ٣٢ وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا هِيَ بَيۡضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ٣٣ قَالَ لِلۡمَلَإِ حَوۡلَهُۥٓ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٞ ٣٤ يُرِيدُ أَن يُخۡرِجَكُم مِّنۡ أَرۡضِكُم بِسِحۡرِهِۦ فَمَاذَا تَأۡمُرُونَ ٣٥ قَالُوٓاْ أَرۡجِهۡ وَأَخَاهُ وَٱبۡعَثۡ فِي ٱلۡمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ٣٦ يَأۡتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٖ ٣٧ فَجُمِعَ ٱلسَّحَرَةُ لِمِيقَٰتِ يَوۡمٖ مَّعۡلُومٖ ٣٨ وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلۡ أَنتُم مُّجۡتَمِعُونَ ٣٩ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ ٱلسَّحَرَةَ إِن كَانُواْ هُمُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ٤٠ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالُواْ لِفِرۡعَوۡنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجۡرًا إِن كُنَّا نَحۡنُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ٤١ قَالَ نَعَمۡ وَإِنَّكُمۡ إِذٗا لَّمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ٤٢ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلۡقُواْ مَآ أَنتُم مُّلۡقُونَ ٤٣ فَأَلۡقَوۡاْ حِبَالَهُمۡ وَعِصِيَّهُمۡ وَقَالُواْ بِعِزَّةِ فِرۡعَوۡنَ إِنَّا لَنَحۡنُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ٤٤ فَأَلۡقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ تَلۡقَفُ مَا يَأۡفِكُونَ ٤٥﴾

[٢٧-٢٨] [نو بيا فرعون خپل قوم مشرانو ته] وو يل: د ستاسې دا پيغمبر چې درته را لېږل سوي دئ، دا خو پوخ ليونئ دئ! [نو بيا موسى ورغبرګه کړه] او و يو يل: نو که تاسې عقل لرئ پدې پوه سئ چې د زما رب د شرق او غرب (ختيځ او لو يديځ) او د هغو دواړو په منځ کې پرتو ټولو مخلوقات ځښتن او خداى دئ!

[٢٩] [نو بيا فرعون موسىعليه السلام ته په ځواب کې] وو يل: که تا اى موسى! د زما نه پرته بل څوک ځان ته خداى ونيوه، نو بيا به خامخا زه تا په جيل کې پرتو بنديانو نه وګرځوم،يعني بندي به سې! نو بيا موسىعليه السلام فرعون ته د معجزو راوړو وړاندیځ وکه چې پکې الله فرمايلي

دي:

[۳۰] موسی فرعون ته وو یل: او که چېرې ما تا ته کم ښکاره دلیل راوړ! یعنی که بیا ته د زما پیغمبرۍ تصدیق ونکړي، نو بیا به څه کړې؟

[۳۱] فرعون ورته وو یل: که ته د ر یښتیا ویونکو نه یې، نو کم شئ چې در سره دي هغه راوړه، یعنی معجزې ده را و باسه!

[۳۲-۳۳] نو بیا موسی خپله لکړه په ځمکه وغورځوله، نو هغه ناڅاپه ښکاره ښامار وګرځیده، او بیا موسی خپل لاس د ګر یوان نه راوایست، نو لیدونکي ناڅاپه ګوري چې هغه تک سپین دئ.

[۳٤-۳۵] نو بیا فرعون خپل څنګ مشرانو ته وو یل: باور وکړئ چې دا خو ډیر پوه کوډګر دئ او غواړي چې تاسې د ستاسې خاورې نه [یعنی د مصر نه] په خپلو کوډو سره و باسي، نو تاسې څه وایي؟ یعنی څه پر یکړه کړئ؟ او مونږ ته څه کړل پکار دي؟

[۳٦-۳۷] د فرعون مشاور ینو هغه ته وو یل: موسی او ورور ته یې وخت ورکړه او دوی وزنډوه او ټولو ښارونو ته خپل استازي ولیږه، ترڅو چې ټول خلک را ټول کړي او هر پوه کوډګر تا ته راولي.

[۳۸-٤۰] نو بیا کوډګر په ټاکل سوې ښکاره ورځ سره راغونډ سول [یعنی په هغه ورځ چې هغه د دوی د بازار ورځ وه] او خلکو ته وو یل سول چې آیا تاسې ټول را غونډ سوي یاستئ؟ [یعنی نو بیا فرعون لدې پاره چې د خپلو کوډګرو تله درنده کړي وو یل:] نو هیلمن یو چې مونږ خپلو کوډګرو پسې لاړ سو که دوی زورور سوي ول، یعنی که د موسی کوډې یې مات او لاندې کړل.

[٤۱-٤۲] نوبیا چې کله کوډګر راغلل فرعون ته یې وو یل: که مونږ زورور سوو، نو آیا انعام او جایزه به را کړه سي؟ فرعون ورته وو یل: هو! تاسې به بیا ما ته د لنډو کسانو نه وئ.

[٤۳] نو موسی د فرعون کوډګرو ته وو یل: تاسې چې څه شئ غواړي هغه خلکو مخې ته را واچوئ.

[٤٤] نو بيا د فرعون کوډګرو خپل پرې او لکړې ډګر ته را وچول او و يو يل: مونږ د فرعون په ځواک لوړه ده چې يقينا مونږ زورور او وړونکي يو، يعنې خپل زورې د وړاندې نه اعلان که!

[٤٥] نو بيا ور پسې موسى خپله لکړه را وغورځوله، نو ګوري چې د موسى لکړه، لکه ښامار د کوډګرو د دروغو ماران يو بل پسې خولې ته را اچوي او د ستوني نه يې تيروي!

{د فرعون کوډګرو د موسى او هارون پرړب ايمان راوړ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د فرعون کوډګرو د ايمان راوړلو انځور د موسى او هارون عليهما السلام پر رب الله تعالى باندې مونږ ته وړاندې کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿فَأُلْقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴿٤٦﴾ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿٤٨﴾ قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِى عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحْرَ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ۚ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَٰفٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٩﴾ قَالُواْ لَا ضَيْرَ ۖ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿٥٠﴾ إِنَّا نَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطَٰيَٰنَآ أَن كُنَّآ أَوَّلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٥١﴾ * وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِىٓ إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٥٢﴾ فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ﴿٥٤﴾ وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُونَ ﴿٥٥﴾ وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَٰذِرُونَ ﴿٥٦﴾﴾

[٤٦-٤٨] نو بيا د فرعون کودګر پرمخې په سجده ولو يدل او و يويل: مونږ د ټولې نړۍ پر رب ايمان راوړ او هغه د موسى او هارون رب دئ.

[٤٩] [نو بيا فرعون پر دوى باندې په غوصې سره غږ وکه] او وو يل: آيا تاسې مخکې لدې چې زه درته اجازه وکړم؛ پر موسى باور وکه او هغه ته تسليم سوى، نو يقينا چې موسى د ستاسې مشر دئ او تاسې ته يې کوډې درزده کړې دي، نو ډير ژر به تاسې پوه سى چې د ستاسې سزا څه شئ ده؟

او زه به د ستاسې پښې او لاسونه د ښي او کين خوا نه [يعنى د يو بل نه بدل] سره پر يکړم او تاسى ټول به پر دار رازوند کړم!

[۵۰-۵۱] [کوډګرو په ځواب کې فرعون ته] وو يل: پروا نکړي [يعنى مونږ ته پکې څه زَور او ستونزه نسته] ځکه يقينا چې مونږ خپل رب ته ورګرځيدونکي يو او هيله لرو چې د زمونږ رب الله زمونږ تيروتنې او ګناهونې را ته و بښي، ځکه مونږ لمړني مومنان وو.

[۵۲] او بيا موسى ته مونږ وحيه وکړه چې د زما بنده ګان په شپه کې و باسه، ځکه يقينا چې د فرعون لښکرې تاسې پسې دي [نو مخکې له هغې چې دوى تاسې را ونيسي ورځخه وتښتئ] يعنى کله چې د حق او باطل دښمني پيل سوه، نو ښايي حقپالان ژر تر ژره د ځان ساتنى تلوار وکړي، ترڅو د دښمن په منګلوکې ونه لو يږي او برمته نسي.

[۵۳] [نو بيا چې کله فرعون د موسى پټې تيښتې تياري نه خبر سه] خپل استازي يې ښارونو ته وليږل، ترڅو لښکرې راغونډې کړي، يعنى د موسى او د هغه ملګرو را نيولو هڅه وکړي.

[۵۴-۵۶] [او بيا فرعون خپلو لښکرو ته اعلان وکه] او و يو يل: يقينا چې هغوى [يعنى د موسى سره تښتيدلي کسان] يوه وړه ډله ول او د دوى زړونه مونږ ته په يقين سره د غوصې نه ډک دي، خو مونږ چې لو يه ډله يو د دوى نه انديښمن يو، يعنى نو مونږ د دوى مخنيوي ته تيار يو، ترڅو يې د ګوابښ او خطر نه ځانونه خوندي کړو.

{د فرعونيانو واکمنى الله تعالى بني اسرائيلو ته ميراث کړه}

او په ور پسى مبارکو آيتو کې الله تعالى د فرعون واکنى په ميراثولو کې بني اسراييلو ته فرمايلي دي:

﴿فَأَخۡرَجۡنَٰهُم مِّن جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ ۝٥٧ وَكُنُوزٖ وَمَقَامٖ كَرِيمٖ ۝٥٨ كَذَٰلِكَۖ وَأَوۡرَثۡنَٰهَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ۝٥٩ فَأَتۡبَعُوهُم مُّشۡرِقِينَ ۝٦٠ فَلَمَّا تَرَٰٓءَا ٱلۡجَمۡعَانِ قَالَ أَصۡحَٰبُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدۡرَكُونَ ۝٦١ قَالَ كَلَّآۖ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهۡدِينِ ۝٦٢ فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ

مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡبَحۡرَۖ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرۡقٖ كَٱلطَّوۡدِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٦٣﴾ وَأَزۡلَفۡنَا ثَمَّ ٱلۡأٓخَرِينَ ﴿٦٤﴾ وَأَنجَيۡنَا مُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ أَجۡمَعِينَ ﴿٦٥﴾ ثُمَّ أَغۡرَقۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ﴿٦٦﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٦٧﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٦٨﴾

[٥٧-٥٩] نو بيا فرعون او د هغه لښکرې مونږ د مصر باغونو او د چينو خوږو او بو نه را وايستل، او د مال او دولت ګنجونو او د هوسا استوګنې نه دوی مونږ لرې او محروم کړل، او همداسې د فرعونيانو مال، دولت او کورو نه بني اسرائيلو ته مونږ په ميراث پر ينښودل، يعنی موسیعليه السلام او قوم يې بني اسرائيل د فرعونيانو ځای ناستي سول.

[٦٠-٦٢] نو بيا فرعونيان د سحر لمر را ختو سره سم موسی او د هغه قوم پسې ورووتل، نو بيا چې کله دواړو ډلو يو بل وليدل؛ د موسی ملګرو وو يل: باور وکړئ چې مونږ نيول کيږو، نو موسی دوی ته په ډاډ ورکولو سره وو يل: نا! د فرعون لښکر هيڅ کله مونږ نيولای نسي، ځکه يقينا چې زما سره د زما لوی رب الله مل دئ او د خلاصون او نجات لار به راوښيي، يعنی الله تعالی مونږ ته خاماخا نجات راکوي!

[٦٣] نو بيا موسی ته مونږ وحيه وکړه چې په لکړه ده دا سمندر ووهه [نو بياچې کله موسی سمندر په خپله لکړه وواهه] هغه دوه پلي سه او هر پله يې، لکه يو لوی غر ؤ، يعنی نو بيا دوی ته الله تعالی د دواړو غرو په منځ کې؛ وچه لار پرانستله او موسی او ورسره بني اسرائيل ور باندې تير سول او د سينا ډاګ خوا ته يې د دښمن نه نجات بياموند.

[٦٤-٦٦] او ور پسې دا نور کسان [فرعون او لښکريې] مونږ موسی او د هغه قوم پسې ورلنډ کړل [يعنی د سمندر غاړې ته ور ورسيدل] نو بيا موسی او ورسره ټولو ملګرو ته يې مونږ نجات ورکه، او ور پسې نور کسان [يعنی فرعون او لښکريې په سمندر کې] مونږ غرق او ډوب کړل.

[٦٧-٦٨] او يقينا چې پدې کې د الله د قدرتونو يوه لو يه نښه او

معجزه وه، خو ډير خلک مومنان نه ول، او يقينا چې د ستا رب ای پيغمبره! لوی ځواکمن او ښه مهر بان ستر ذات دئ.

درندو دوستانو! د موسی عليه السلام دا او ورده قصه د فرعون سره زمونږ لپاره اسلام ته چې د الله تعالی حق دين دئ؛ د دعوت په لار کې ښه روښانه لارښود پيغام دئ، ځکه پدې قصه کې الله تعالی د خپلو قدرتونو لويې نښې يادې کړې دي، او همدارنګه پدې قصه کې د مرکې او استدلال لار غوره کول د حق پالانو او د فرعون غوندې طاغوتانو پر وړاندې ؛ يوه منل سوې تګ لار ده، نو ښايي چې هوښياران د هغې نه ګټه واخلي او ښايي حق په مرکه کې په ځرګندو او ښو روښانو دليلونو سره بيان سي، ترڅو حق او باطل ښه سره بيل سي، او بيا د الله تعالی حکمونو نه سرکښ کسان؛ رسوا سوي مختورن هلاك سي، او يقينا چې دا تګ لاره د ټولو پيغمبرانو لار وه، او هغه يې د الله تعالی په لارښودنه کافرانو سره غوره کړي وه، او د دې تګ لارې ختم د اسلام پر پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم باندی ؤ، او هغه په ډير کلک استدلال سره خپل دعوت خلکو ته ورسا وه او د مکې کافران يې ايمان راوړو ته وهڅول او ورته يې را و بلل، خو دوی لکه فرعون سر زوری وکړه او لو يو کينو په سر واخستل، ترڅو د هغه وخت ټول سرکښان، لکه ابوجهل هلاك سول، او پيغمبر صلی الله عليه وسلم د الله تعالی دين اسلام په پوره بر يا سره خلکو ته ورسا وه او د عر بستان لويې جز يرې ټولو ولسونو ايمان راوړ او مسلمانان سول، نو اسلام ته رابلونکي دعات ده په هر عصر او په هر ځای کې د همدې روښانه قرآني لارښودنو په رڼا کې خپل دعوت پر مخ يوسي، ترڅو حق بر يا ته ورسيږي او باطل له منځه لاړ سي او په ځمکه کې يوازې د الله تعالی عبادت وسي او حکمونه يې پکې وچليږي او نافذ سي.

{ابراهيم عليه السلام د شرك څرليو بتانو ماتونکئ مشر ؤ }

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د ابراهيم عليه السلام قصه د خپل قوم بتانو ماتولو په باره کې مومنانو ته ياده کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ إِبۡرَٰهِيمَ ٦٩ إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦ مَا تَعۡبُدُونَ ٧٠ قَالُواْ نَعۡبُدُ أَصۡنَامٗا فَنَظَلُّ لَهَا عَٰكِفِينَ ٧١ قَالَ هَلۡ يَسۡمَعُونَكُمۡ إِذۡ تَدۡعُونَ ٧٢ أَوۡ يَنفَعُونَكُمۡ أَوۡ يَضُرُّونَ ٧٣ قَالُواْ بَلۡ وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا كَذَٰلِكَ يَفۡعَلُونَ ٧٤ قَالَ أَفَرَءَيۡتُم مَّا كُنتُمۡ تَعۡبُدُونَ ٧٥ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُمُ ٱلۡأَقۡدَمُونَ ٧٦ فَإِنَّهُمۡ عَدُوّٞ لِّيٓ إِلَّا رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٧٧ ٱلَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهۡدِينِ ٧٨ وَٱلَّذِي هُوَ يُطۡعِمُنِي وَيَسۡقِينِ ٧٩ وَإِذَا مَرِضۡتُ فَهُوَ يَشۡفِينِ ٨٠ وَٱلَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحۡيِينِ ٨١ وَٱلَّذِيٓ أَطۡمَعُ أَن يَغۡفِرَ لِي خَطِيٓـَٔتِي يَوۡمَ ٱلدِّينِ ٨٢ رَبِّ هَبۡ لِي حُكۡمٗا وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ ٨٣ وَٱجۡعَل لِّي لِسَانَ صِدۡقٖ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ٨٤ وَٱجۡعَلۡنِي مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ ٱلنَّعِيمِ ٨٥ وَٱغۡفِرۡ لِأَبِيٓ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ٨٦ وَلَا تُخۡزِنِي يَوۡمَ يُبۡعَثُونَ ٨٧ يَوۡمَ لَا يَنفَعُ مَالٞ وَلَا بَنُونَ ٨٨ إِلَّا مَنۡ أَتَى ٱللَّهَ بِقَلۡبٖ سَلِيمٖ ٨٩﴾

[٦٩-٧١] ای پیغمبره! او ته ده خپل قوم ته د ابراهیم قصــه ولوله، هو! کله چې ابراهیم د خپل پلار(آزر) او خپل قوم نه و پوښــتل او ورته یې وو یل: تاسې د څه شي عبادت او بنده کې کړی؟ [دوی په ځواب کې ورته] وو یل: مونږ د بتانو عبادت کړو، او د هغوی عبادت ته همداسې پراته یو!

[٧٢-٧٣] [نو بیا ابراهیم ورته] وو یل: آیا دا بتان چې کله تاسې د دوی نه څه شئ غواړی د ستاسې خبرې اوري؟ او آیا تاسې ته څه ګټه او تاوان رسولای سي؟

[٧٤] نو بیایې قوم ابراهیم ته په ځواب کې وو یل: [نا! بتان هیڅ څه کړلای نسي] بلکې مونږ خپل پلرونه همداسې بیاموندل چې د بتانو عبادت یې کا وه، یعنی د بتانو عبادت مونږ ته د پلرونو نه را پاتې میراث دئ، نو مونږ د هغوی په پله روان یو.

[٧٥-٨٢] [نو بیا دوی ته ابراهیم په ځواب کې] وو یل: نو آیا تاســې ولیدل او پوهیږی چې دغه بتان چې تاسې او د ستاسې پخوانیو پلرونو او

نیکونو د هغوی عبادت او بنده ګي کړه، آیا دوی د زما دښمنان دي؟ [یعنی آیا تاسې د دغو بتانو په باره کې څه ژور فکر کړئ دئ؟ او آیا دا بتان د عبادت کړو وړتیا او لیاقت لري؟ نو ځواب دا چې: نا! بتان د بنده ګی وړتیا نلري، نو زه یې عبادت نکړم] او زه یوازې د هغه رب الله عبادت او بنده ګي کړم چې هغه د ټولې نړۍ رب او لوی څښتن دئ او زه یې پیدا کړئ یم، او بیا یې سمې لارې ته لارښودنه را ته کړي ده، او الله هغه ذات دئ چې ما ته روزې راکوي، او کله چې ناروغ سم شفاء راکوي، او ما الله مړ کوي او بیا ما بیرته را ژوندئ کوي، او زه هیلمن یم چې الله د زما تیروتنې او ګناه د قیامت په ورځ چې د حساب ورکولو ورځ ده؛ را ته و بښي.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې مونږ ته الله تعالی د ابراهیم علیه السلام دعاء خپل رب الله سره په مناجات کې را یاده کړې ده، او فرمایلي دي:

[۸۳-۸۹] ای د زما لو یه ر به! ما ته بښه پوهه او هوښیاري را و بښه او د بښو خلکو او صالحانو سره ما په جنتونو کې یوځای کړه، او د نورو راتلونکو خلکو په ژ بو ما بښه یاد کړه، او ما د نعمتونو نه ډک جنت د وارثانو نه وګرځوه، او د زما ابا چې یقینا د سمې لارې نه ورک سوو کسانو نه ؤ [یعنی مشرك ؤ] و بښه، او د قیامت په ورځ چې خلک پکې د ګورونو نه راجګیږي؛ ما مه خواروه [یعنی ما مه سپکوه] او په هغه ورځ مال، دولت او زامن چا ته څه ګټه نه رسوي، مګر داچې څوک په هغه ورځ د کفر او نفاق نه په پاک زړه سره راغئ، یعنی د قیامت په ورځ یوازې ایمان او بښه عمل بنده ته ګټه رسوي!

قدرمنو دوستانو! د یادونې وړده چې ابراهیم علیه السلام پدې مناجات کې خپل پلار آزر ته څکه بښه غوښتی ده چې هغه سره یې مخکې وعده کړې وه، خو بیا چې کله ابراهیم علیه السلام پوه سه چې دئ الله د دعاء کړو نه منعې که، نو بیایې نور ورته دعاء ونکړه.

او همداسې په دغو مبارکو آیتونو کی الله تعالی د ابراهیم علیه السلام پیغمبري او د دعوت قصه د خپل پلار او قوم سره چی دوی

مشـرکان ول او د بتانو عبادت يې کا وه؛ په لنډو الفاظو کې مونږ ته يادوي ده، او يقينا چې هغه ټول زمونږ لپاره د زدکړې ښې لارښودنې دي، نو ښـايي مونږ مومنـان او پـه ځـانګړې ډول اسـلام تـه را بلونکي دعـات ابراهيم عليه السلام ځانو ته لارښـود وګرځوي، ځکه د هغه په پله تک ته الله تعالى مونږ په وار وار سـره رابللي يو او ابراهيم عليه السلام يې مونږ ته لارښـود امام ګرځولئ او خوښ کړئ دئ، او د اسلام پيغمبر صلى الله عليه وسلم بعثت نه مقصد؛ ابراهيمي توحيد را ژوندي کول ول.

{د مومنانو ځای په آخرت کې جنت او د کافران ځای دوزخ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى مومنانو ته د جنت ز يرئ او کافرانو ته د دوزخ عذاب ګوابښ کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَأُزْلِفَتِ ٱلْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٩٠﴾ وَبُرِّزَتِ ٱلْجَحِيمُ لِلْغَاوِينَ ﴿٩١﴾ وَقِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ ﴿٩٢﴾ مِن دُونِ ٱللَّهِ هَلْ يَنصُرُونَكُمْ أَوْ يَنتَصِرُونَ ﴿٩٣﴾ فَكُبْكِبُوا۟ فِيهَا هُمْ وَٱلْغَاوُۥنَ ﴿٩٤﴾ وَجُنُودُ إِبْلِيسَ أَجْمَعُونَ ﴿٩٥﴾ قَالُوا۟ وَهُمْ فِيهَا يَخْتَصِمُونَ ﴿٩٦﴾ تَٱللَّهِ إِن كُنَّا لَفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٩٧﴾ إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٨﴾ وَمَآ أَضَلَّنَآ إِلَّا ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٩٩﴾ فَمَا لَنَا مِن شَٰفِعِينَ ﴿١٠٠﴾ وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ ﴿١٠١﴾ فَلَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٢﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾﴾

[٩٠] متقيانو ته [د قيامت په ورځ] جنت را لنډيږي، يعنى دا ځکه چې دوى ايمان راوړئ ؤ او د الله تعالي حکمونه يې منلي ول، او د الله سـزا نه يې خپل ځانونه په اطاعت او مخلصانه بنده ګۍ سره کلک ساتلي ول.

[٩١] او د دوزخ اور هغو کسانو ته ښـودل کيږي چې دوى د سـې لارې نه اوښتي ول، يعنى ايمان يې رانوړ او کافران پاتې سول.

[٩٢-٩٣] [او بيا پر دغو کافرانو باندې چې د حق لارې نه ورک سـوي ول غږ کيږي او ورته] و يل کيږي هغه خدايان چې تاسـې به په هرځاى کې

وې د هغو عبادت او بنده ګي مو کړه؛ اوس چيرته دي؟ او آيا هغوی د ستاسې مرسته کړي؟ او يا دوی د خپلو ځانو نه دفاع کړای سي؟ [ځواب دا چې: نا! يعنی دا د دروغو خدايان چې کافرانوې عبادت کا ؤ؛ د قيامت په ورځ هيڅ څه شئ کړلای نسي!

[۹۴-۹۵] نو بيا دغه د دروغو معبودان سره د دوی عبادت کونکو بنده ګانو چې د حق نه اوښتي ول؛ د دوخ اور ته ورغورځول کيږي او ورسره د رټل سوي شيطان ټول لښکر د دوزخ په اورکې کړول کيږي.

[۹۶-۹۸] [او بيا دغو کافرانو چې په دوزخ کې پرا ته دي؛ د خپلو ناحقه معبودانو سره په جنجال او دعوا کې] وو يل: قسم پر خدای دئ، کله چې تاسې مونږ د ټول عالم رب سره برابر کړی [يعنی مونږ د ستاسې بنده ګي وکړه] نو مونږ په ښکاره ورکتيا او بې لار يتوب کې وو، يعنی سمه لار د زمونږ نه ورک وه او حق او باطل مونږ سره بيلولای نسول!

[۹۹-۱۰۲] او مجرمانو مونږ د حق لارې نه ورک کړي وو [يعنی د بتانو عبادت ته يې رابللي وو] نو دا دئ اوس مونږ هيڅ څوک سپارښتونکي نلرو، ترڅو مونږ د عذاب نه خلاص کړي، او نه مونږ ګران ملګري لرو چې د زمونږ مرسته وکړي، نو که مونږ بيا بيرته د دنيا ژوند ته وروګرځيدلو، نو بيا به مونږ د مومنانو نه وو!

[۱۰۳-۱۰۴] او ای خلکو! يقيناچې د دوزخ په اورکې د کافرانو د دغسې بد حال په يادولوکې د زدکړې او پند اخستلو لويې نښې او دليلونه نغښتې دي، خو د دې سره سره ډير کسان مومنان ندي او ايمان يې ندئ راوړئ، او ای پيغمبره! يقينا چې د ستا رب الله لوی ځواکمن او ښه ډير مهر بان ذات دئ، خو خپلو دښمنانو ته سزا ورکوي او هر څوک چې تو به و ياسي او ايمان راوړي هغه بښي.

ګرانو عز يزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې مونږ د کافرانو بد حال نه د قيامت په ورځ خبر کړي يو او د دوی ناحقه خدايانو بې وسې او عاجزي يې را ته په هغه ورځ ياده کړې ده، او فرمايلي دي چې کافران د

خپلو معبودانو سره یوځای د دوزخ سره اور لمبو ته ورغورځول کیږي او بیا د تل لپاره پکې کړ یږي، او یقینا چې دا بیان ټولو کافرانو او د حق لارې نه اوښتو او ورک سوو کسانو ته په دنیا کې د عبرت اخستلو؛ لوی درس او زدکړه ده، نو که څوک هوښیار وي ښایي چې د الله تعالی د دې لوی ګواښ په اور یدلو او لوستلو سره د غفلت خوب نه راو یښ سي او ایمان راوړي او ښه عمل وکړی، ترڅو د دغسې تورې راتلونکې سره مخامخ نسي.

{نوح اعلان وکه چې زه په دعوت کې د چا نه مزدوري نه غواړم}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی مونږ ته د نوح عليه السلام قصه د خپل سرکښ قوم سره کړې ده، او په هغه کې ټولو هغو ولسونو ته چې د الله او پیغمبر لارښودنو نه مخ اړوي او د سمې لارې نه ورک دي؛ د عبرت اخستلو پاخه پندونه او زد کړې دي، او فرمایلي دي:

﴿كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٠٥﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٠٦﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٠٧﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٠٨﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٩﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١١٠﴾ *قَالُوٓا۟ أَنُؤْمِنُ لَكَ وَٱتَّبَعَكَ ٱلْأَرْذَلُونَ ﴿١١١﴾ قَالَ وَمَا عِلْمِى بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١١٢﴾ إِنْ حِسَابُهُمْ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّى ۖ لَوْ تَشْعُرُونَ ﴿١١٣﴾ وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٤﴾ إِنْ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿١١٥﴾ قَالُوا۟ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَٰنُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمَرْجُومِينَ ﴿١١٦﴾ قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوْمِى كَذَّبُونِ ﴿١١٧﴾ فَٱفْتَحْ بَيْنِى وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا وَنَجِّنِى وَمَن مَّعِىَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾ فَأَنجَيْنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ فِى ٱلْفُلْكِ ٱلْمَشْحُونِ ﴿١١٩﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا بَعْدُ ٱلْبَاقِينَ ﴿١٢٠﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٢١﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٢٢﴾﴾

[١٠٥-١١٠] هو! د نوح قوم خپل پیغمبران دروغژن و بلل او کله چې دوی ته د دوی ورور نوح وو یل: آیا تاسې ای خلکو! د الله نه نه و یر یږی

او د هغه سزا نه خپل ځانو نه په ایمان راوړو سره نه ساتی؟ [یعنی دا چې ښایي ایمان راوړی او د زما پیغمبري ومنی] ځکه زه په یقین سره تاسې ته د الله نه را لیږل سوئ امین او اعتمادي استازئ او پیغمبر یم، نو د الله نه وو یر یږی [یعنی د هغه حکم او فرمان ومنی او اطاعت یې وکړی، او زه د الله پیغام په رسولوکې ستاسې نه مزدوري نه غواړم، د زما اجرت یا مزدوري پر الله باندې ده چې هغه رب العالمین لوی ذات دئ، نو تاسې ای خلکو! د الله سزا نه خپل ځانونه وساتی او د الله عذاب نه وو یر یږی او د الله حکم او پیغام ومنی او فرمان یې یوسی او اطاعت یې وکړی!

درندو دوستانو! خو د نوح عليه السلام قوم مشرانو چې کبر او ځان غوښتنې په سر اخستي ول؛ د نوح عليه السلام سره یې بحث او استدلال پیل که، او په نوح عليه السلام باندې یې نیوکې وکړې، او بیایې هغه ته داسې و یو یل:

[۱۱۱] ای نوحه! نو آیا څنګه مونږ پر تا باندې ایمان راوړو [یعنی د ستا پیغمبري ومنو حال دا چې] تا پسې خوار او غر یب خلک [چې دوی د زمونږ مزدوران ول] تللی دي، یعنی مشران د ستا سره نسته او پر تا یې ایمان ندئ راوړئ او د ستا پیغمبري نه مني!

[۱۱۲-۱۱۵] [نو بیا نوح دوی ته په ځواب کې] وو یل: زه د هغوی د کړنو نه خبر نیم [یعنی دا چې زه پدې مکلف نه یم چې پوه سم هغوی څه کړل، ځکه په ایمان راوړو کې نسب، منصب او د چا کسب او کار اعتبار نلري] او هغوی سره حساب کړل؛ د زما رب الله کار دئ [یعنی الله په هر څه ښه پوهیږي او د هر چا پټو کړنو نه خبر دئ] نو که تاسې ای خلکو! هوښیاران وای دا خبره مو نکړه، او مومنان زه د خپل ځنګ نه د ستاسې په غوښتنه نه شرم، زه دوی د الله عذاب نه و یروم، یعنی د زما دنده او رسالت یوازې د خلکو را بلنه ایمان راوړو ته پر الله باندې ده.

ګرانو دوستانو! ټول پیغمبران د نوح عليه السلام نه نیولې تر خاتم النبین والمرسلین محمد صلى الله عليه وسلم پورې د الله تعالی دین په تبلیغ باندې مکلف ول، نو د خلکو نسب او منصب پوښتنه یې نکړه، او دا د الله تعالی نظام دئ

چې د حق پیغام ته په ټولنه کې ځوانان او غر یبان د مشـــرانو نه مخکې وردانګي او هغه مني، نو حق ته دعوت کونکو ته ښـایي دغو خوارو او غر یبو خلکو ته هرکلئ او ښـه راغلاسـت ووایي او دوی په غیږکې ونیسـي او د خپل قوم مشـــرانو په غوښـــتنه یې هیڅ کله د خپل ځنګه نه ونه شـــړي، ځکه دوی د حق لارې ر یښتینئ لښکر دئ!

نو بیا د نوح کبرجن قوم خپل پیغمبر نوح ته په ګواښ سره وو یل:

[۱۱٦] [هو! نوح ته د هغه قوم مشـــرانو] وو یل: ای نوحه! که ته د خپل دعوت نه لاس وانخلې، نو بیا به ته خاماخا په تیږو وو یشـــتل ســې، یعنی مونږ به تا ای نوحه! د تیږو په و یشتلو سره مړ کړو!

نو بیا نوح علیه السلام د خپل قوم ګواښـونو نه د خلاصـون لپاره؛ خپل رب ته دعاء وکړه او د الله سره یې په مناجات کې وو یل:

[۱۱۷-۱۱۸] او نوح وو یـل: ای د زمـا لو یـه ر بـه! زه خپـل قوم یقینـا تکذیب کړم او دروغژن یې وګڼلم [او زه یې په ټینګارسره په وژلو وګواښلم] نو ته ای لو یه ر به! زما او د دوی په منځ کې پر یکړه وکړه او ما ته او د زما ســـره مومنانو ملګرو ته مه د دوی د شـــر نه نجات را کړه، یعنی د زما سرکښ قوم هلاك کړه او د دوی د ګواښـونو نه مونږ خلاص کړه!

نو بیا الله تعالی د نوح علیه السلام دعاء قبوله کړه او هغه ته یې نجات ورکه او د نوح علیه السلام کافر قوم یې هلاك که، او په بیان کې یې فرمایلي دي:

[۱۱۹-۱۲۰] نو بیا نوح ته او هغه څوک چې د نوح ســـره ول؛ مونږ په ډول ډول ســـپرلیو باندې ډکه بیړۍ کې دوی ته نجات ورکه، او د نوح قوم پاتې کسان [چې ایمان یې را نه وړ] د او بو په طوفان کې مونږ لاهو او ډوب کړل، او ټول پکې غرق سوي هلاك سول.

[۱۲۱-۱۲۲] او ای پیغمبره! یقینا چې [دا د نوح نجات او د هغه قوم په ډوبیدو او هلاکت کې؛ د الله تعالی د قدرتونو لو یو نښـــانو نه د عبرت اخستلو] یوه لو یه نښه وه، خو بیا هم ډیر خلک ایمان نه راوړي او یقینا چې د ستا رب ای پیغمبره! لوی ځواکمن او ښه مهر بان ذات دئ، یعنی نو

کافرانو او زور واکانو ته کلکه سزا ورکوي او له منځه يې وړي، او مومنان د دوی د شر نه ساتي او نجات ورکوي.

قدرمنو لوستونکو! د نوح عليه السلام قصه او د هغې نه مخکې د موسی عليه السلام او د ابراهيم عليه السلام قصې د دوی د سرکښو او کافرانو ولسونو سره د اسلام پیغمبر محمد صلی الله عليه وسلم ته او د هغه دین ټولو دعاتو او اسلام ته رابلونکو ته؛ د تسلیت او ډاډ لوی پیغام دئ، خو پدې شرط چې اسلام ته رابلونکي دعات د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه په پیروی سره د هغه په تګ لاره او سنتو باندې ځانونه ښه پوه کړي او بیا ور باندې کلک ودر یږي.

{د هود عليه السلام قوم عاد د الله پیغمبران دروغژن و بلل}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی مونږ ته د هود عليه السلام قصه د هغه قوم عاد سره یاده کړې ده، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿كَذَّبَتْ عَادٌ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٢٥﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٢٦﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٢٧﴾ أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ ءَايَةً تَعْبَثُونَ ﴿١٢٨﴾ وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ ﴿١٢٩﴾ وَإِذَا بَطَشْتُم بَطَشْتُمْ جَبَّارِينَ ﴿١٣٠﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٣١﴾ وَٱتَّقُوا۟ ٱلَّذِىٓ أَمَدَّكُم بِمَا تَعْلَمُونَ ﴿١٣٢﴾ أَمَدَّكُم بِأَنْعَٰمٍ وَبَنِينَ ﴿١٣٣﴾ وَجَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٣٤﴾ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٣٥﴾ قَالُوا۟ سَوَآءٌ عَلَيْنَآ أَوَعَظْتَ أَمْ لَمْ تَكُن مِّنَ ٱلْوَٰعِظِينَ ﴿١٣٦﴾ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا خُلُقُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٣٧﴾ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿١٣٨﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَهْلَكْنَٰهُمْ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣٩﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٤٠﴾﴾

[۱۲۳] عادیانو ټول پیغمبران تکذیب کړل، یعنی د هغوی خپل پیغمبر هود عليه السلام تکذیب؛ د ټولو پیغمبرانو تکذیب په معنا ؤ، ځکه د ټولو پیغمبرانو دعوت یو دئ.

[۱۲۴-۱۲۷] هو! کله چې عادیانو ته د دوی ورور هود وو یل: ای قومه! آیا تاسې د الله نه نه و یر یږی؟ [یعنی د الله نه په فرمان وړو سره خپل ځانونه د دوزخ اور نه نه ساتی؟ هو! تاسې ته ښایي د الله عذاب نه خپل ځانونه په اطاعت او فرمان وړو سره وساتی] او یقینا چې زه تاسې ته د الله لخوا ښه امین استازئ یم، نو د الله عذاب نه وو یر یږی او ځانونه ورڅخه وساتی، او د ستاسې نه زه د الله پیغام په رسولوکې هیڅ څه اجرت او مزدوري نه غواړم، د زما اجرت په رب العالمین ذات باندې دئ، یعنی الله تعالی ما ته اجر او ثواب را کوي.

[۱۲۸-۱۳۰] ای خلکو! او آیا تاسې د هر تنګي یا د هرې درې غونډیو په سر بنګلې جوړوی او بیا په دغو لوړو او په نښه سوو برجونوکې ناست یاستی او په لاندې لاروکې تلونکو لارو یانو پسې سپکې سپورې خبرې کړی او ملنډې ور باندې وهی، او تاسې هلته کلک کلک برجونه جوړ کړي دي، ترڅو پکې د تل لپاره واوسیږی، او کله چې تاسې څوک راونیسی، نو په وهلو او وژلوکې تیرئ کړی او خپله زوروا کي چلوی!

[۱۳۱-۱۳۴] نو ای خلکو! د الله نه وو یر یږی او د عذاب نه یې خپل ځانو نه وساتی او فرمان یې یوسی [یعنی اطاعت یې وکړی] او د هغه رب الله نه وو یر یږی چې هغه تاسې ته هغسې ډیر نعمتونه درکړي دي چې تاسې خپله ور باندې ښه پوهیږی! او الله تاسې ته څاروي [او ښان، غوایي او د میږو رمې] درکړی دي او ډیر کهول او زامن یې درکړي دي او د میوو ډیر داسې باغونه یې درکړي دي چې د او بو چینې پکې بهیږي.

[۱۳۵] او یقینا چې زه پر تاسې باندې ای خلکو! د لویې ورځې [یعنی د قیامت ورځې] سزا او عذاب نه بیم لرم او و یر یږم! یعنی نو بیا د هود علیه السلام قوم عاد؛ د هغه دا ټولې بلنې ردې کړې، او په بیان کې الله فرمایلي دي:

[۱۳۶-۱۳۸] عادیانو هود ته وو یل: که ته مونږ ته وعظ وکړې او که وې نکړې، او یا ته د وعظ کونکو نه نوې [یعنی که ته ای هوده! مونږ د الله سزا نه وو یروې او که مونږ ونه و یروې] دا ټول مونږ ته یو شئ او

سره برابر دي [يعنى مونږ پر تا باندې ايمان نه راوړو او د ستا پيغمبري نه منو] او دا مونږ ته د پخوانيو نيكونو نه را پاتې خوى او دود دئ، او مونږ ته سزا نه را كول كيږي، يعنى عاديان د آخرت ورځې حساب نه كلك منكر ول.

[١٣٩-١٤٠] نو عاديانو هود تكذيب كه، نو بيا دوى مونږ هلاك كړل [يعنى له منځه مو يوړل او ټول تباه سول] او يقينا چې د هغوى په هلاكت كى نورو خلكو ته پند اخستل ول، او ډير كسان د هغوى نه مومنان نه ول [يعنى پيغمبران يې نۀ منلي] او د ستا رب اى پيغمبره! په پوره يقين سره لوى ځواكمن او ښه مهر بان ذات دئ، يعنى هغه زور واكان چې د پيغمبرانو خبره نه منى؛ الله تعالى هغوي هلاكوي او كلكه سزا وركوي، او پر مومنانو باندې الله ښه مهر بان او ښه ښونكئ خداى دئ.

عزتمنو دوستانو! دغه د عاديانو قصه چې دوى د هود عليه السلام قوم ۀ، لكه د نورو سركښو قومونو قصو غوندې د اسلام پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه لارې ټولو را بلونكو دعاتو ته د تسليت او د ډاډ كيرنې ډير لوى پيغام او ښه ز يرئ دئ، نو ښايي چې اسلام ته رابلونكي دعات او واعظان په كلك توكل سره خپل دعوت وكړي او ولسونه د الله بنده كى ته په توحيد سره راو بولي او ټولنې ښادې كړي.

{صالح خپل قوم ثمود ته اعلان وكه زه د الله استازئ يم}

او بيا الله تعالى په ور پسې مباركو آيتونوكې د ثموديانو قصه خپل پيغمبر صالح عليه السلام سره ياده كړې ده، او هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د ډاډ بل پيغام دئ، او پكې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿كَذَّبَتْ ثَمُودُ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٤١﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ صَٰلِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٤٢﴾ إِنِّى لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٤٣﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٤٤﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٤٥﴾ أَتُتْرَكُونَ فِى مَا هَٰهُنَآ ءَامِنِينَ ﴿١٤٦﴾ فِى جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٤٧﴾ وَزُرُوعٍ وَنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيمٌ ﴿١٤٨﴾ وَتَنْحِتُونَ مِنَ

ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا فَٰرِهِينَ ﴿١٤٩﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٥٠﴾ وَلَا تُطِيعُوٓا۟ أَمْرَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿١٥١﴾ ٱلَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿١٥٢﴾ قَالُوٓا۟ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلْمُسَحَّرِينَ ﴿١٥٣﴾ مَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا فَأْتِ بِـَٔايَةٍ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٥٤﴾ قَالَ هَٰذِهِۦ نَاقَةٌ لَّهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿١٥٥﴾ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥٦﴾ فَعَقَرُوهَا فَأَصْبَحُوا۟ نَٰدِمِينَ ﴿١٥٧﴾ فَأَخَذَهُمُ ٱلْعَذَابُ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٥٨﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٥٩﴾

[١٤١-١٤٥] ثمودیانو پیغمبران تکذیب کړل، هو! کله چې ثمودیانو ته د دوی ورور صالح وو یل: ای خلکو! آیا تاسې تقوا نلرئ او د الله عذاب نه نه و یږ یږئ؟ [یعنی ښایي د سزا نه یې خپل ځانونه په اطاعت او فرمان وړو سره نه ساتئ؟] او زه تاسې ته په یقین سره د الله پیغام رسولو [ښه ساتونکئ] او یؤ کلک امین استازئ یم، نو د الله سزا نه وو یر یږئ او اطاعت یې وکړئ [یعنی د الله عذاب نه ځانو نه په اطاعت سره وساتئ] او د الله پیغام په رسولوکې زه د ستاسې نه څه اجرت او مزدوري نه غواړم، د زما مزدورئ اجر او ثواب په رب العالمین الله باندې دئ، یعنی الله تعالی ما ته ثواب را کوي، خو د صالح قوم ثمود دئ تکذیب که او دروغژن یې و باله، او یقیناچې د صالح علیه السلام تکذیب د ټولو پیغمبرانو تکذیب ؤ.

او صالح علیه السلام خپل ولس ثمودیانو ته بیا په ګوابښ سره همداسې وو یل:

[١٤٦- ١٤٩] ای د زما عز یزانو! آیا تاسې به دلته په دنیا کې همداسې تل پر یښودل سئ؟ چې ترڅو په باغونو او د چینو په او بوکې ژوند وکړئ او د کښتونو او د کجورو پخو میو نه خوند واخلئ، او په غرونو کې به د سمڅو کورونه جوړوئ او اسوده او هوسا ژوند به پکې کړئ؟

عزتمنو دوستانو! دغسې استفهام ته د عربې ژبې پوهان انکاري

استفهام وايي او معنا او مقصدیې دا دئ چې ای خلکو! تاسې هیڅ کله د دنیا په نعمتونو کې تل نه پر یښـــودل کیږي او خامخا ورځخه تلونکي یاستی! لکه ژوندی بیلګې چې اوس پدې وروستیو سلو کلونو کې مونږ په نړۍ کې په ســترګو و ینو چې د نړۍ درې لویې امپراتوریې: انګلســتان، شــوروي اتحاد او متحده ولایات او په ټوله کې غرب یا د ناتو ټرون؛ په افغانســتان کې د ســقوط ســره مخامخ ســولې، او بالآخره انګلیس او روس دړې وړې سول او د واک لاندې هیوادونویې ټول ازاد او خپل واک سول.

او بیا صــالح عليه السلام خپل قوم ثمودیانو ته په ور پســې مبارکو آیتونوکې همداسې وو یل:

[١٥٠- ١٥٢] نو ای خلکو! د الله نه وو یر یږۍ او اطاعت یې وکړۍ [یعنی په فرمان وړلو سره یې د عذاب نه ځانو نه وساتی] او د هغو کسانو خبره مه منۍ چې دوی پر خپلو ځانو باندې ز یاتئ کړئ دئ، او دوی هغه کسان دي چې په ځمکه کې ورانئ او فساد کړي او اصلاح او وداني نکړي.

نو بیا ثمودیانو خپل پیغمبر صــالح عليه السلام تورن که چې پر تا باندې کوډې سوې دي، او په بیان کې الله تعالی فرمایلي:

[١٥٣-١٥٤] او بیا ثمودیانو خپل پیغمبر(صالح عليه السلام) ته وو یل: یقینا چې پر تا کوډې سوې دي او ته د زمونږ غوندې انسان یې، نو که ته صادق یې او د ر یښــتیا و یونکو نه یې مونږ ته معجزه راوړه، یعنی ترڅو هغه د ستا پیغمبرۍ تصدیق کړي!

نو بیا صــالح عليه السلام خپل قوم ته معجزه راوړه او دا معجزه هغه غټه اوښــه وه چې الله تعالی د ثمودیانو غوښــتنې ســره ســم د یوه غټ ګټ نه راوایستله، نو بیا ثمودیانو ته صالح عليه السلام وو یل:

[١٥٥-١٥٦] هو! دغه اوښــه د الله اوښــه ده او د هغې او د ســتاسې او بو څکلو ورځې معلومې ورځې دي [یعنی د هر چا خپله ورځ ده او یو به د بل نو بت په ورځ او به نه څکی] نو تاسې ای خلکو! دغې اوښې ته څه تاوان او ز یان ونه رسوی [یعنی که دغې اوښې ته تاسې څه ز یان ورسا وه] نو بیا

تاسې د لوېې ورځې کلکه سزا رانیسي، یعنی سخت عذاب درکول کیږي! خو ثمودیانو بیا د الله تعالی حکم پښــولاندې که او اوښــه یې مړه کړه، او په بیان کې یې الله تعالی فرمایلي دي:

[۱۵۷- ۱۵۹] او بیا ثمودیانو اوښه [په نیښتر وهلو سره] مړه کړ، نو بیا دوی د الله عذاب او کلکې ســزا را ونیول، او یقینا چې پدې کې د الله قدرتونو لو یه نښــه او معجزه وه، خو ډیر ثمودیان مومنان نول [یعنی د الله تعالی د قدرتونو لو یو نښــانو نه یې پند وانخســت] او ای پیغمبره! یقینا چې د ستا رب الله لوی ځواکمن او ښه مهر بان ذات دئ.

ګرانو دوستانو! روایت سوئ دئ چې کله ثمودیان پوه سول چې عذاب ورتــه راتلونکئ دئ، نو پــه خپلو دغو بدو کړنو پښــیمانــه ســول، خو پښیمانۍ نوره دوی ته ګټه نه درلوده، ځکه دوی د الله حکم نوه منلئ، نو بیا ثمودیان د الله تعالی عذاب کلک راونیول او هلاك او تباه یې کړل، او د دوی په هلاکت سره د الله تعالی لو یو قدرتونو نښې او معجزې راښکاره ســوې، خو ډیر خلک د معجزو نه پند نه اخلي او ایمان نه راوړي، او همداسې په کفر کې ډوب سوي پاتي دي!

{د لوط عليه السلام قوم پیغمبران دروغژن و بلل او سرکښي یې وکړه}

او په ور پســې مبارکو آیتونوکې الله تعالی همداســې د لوط عليه السلام قوم سرکښي او بیایې د هلاکت قصه مونږ ته کړې ده، ترڅو د محمد صلی الله علیه وسلم امت ورڅخه پند او عبرت واخلي، او فرمایلي دي:

﴿كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٦٠﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٦١﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٦٢﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٦٣﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦٤﴾ أَتَأْتُونَ ٱلذُّكْرَانَ مِنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦٥﴾ وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُم مِّنْ أَزْوَٰجِكُم ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ ﴿١٦٦﴾ قَالُوا۟ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَٰلُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُخْرَجِينَ ﴿١٦٧﴾ قَالَ إِنِّي لِعَمَلِكُم مِّنَ ٱلْقَالِينَ ﴿١٦٨﴾ رَبِّ نَجِّنِي

وَأَهۡلِي مِمَّا يَعۡمَلُونَ ١٦٩ فَنَجَّيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥٓ أَجۡمَعِينَ ١٧٠ إِلَّا عَجُوزٗا فِي ٱلۡغَٰبِرِينَ ١٧١ ثُمَّ دَمَّرۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ١٧٢ وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِم مَّطَرٗاۖ فَسَآءَ مَطَرُ ٱلۡمُنذَرِينَ ١٧٣ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ١٧٤ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ١٧٥

[١٦٠-١٦٤] د لوط قوم پيغمبران تكذيب كړل [معنا داچې د هغوى پيغمبري پې ونه منله او دوى پې دروغژن و بلل] او دا هغه وخت ؤ چې دوى ته د دوى ورور لوط وو يل: د الله نه كلك وو يرېږ [يعنى د سزا نه پې خپل ځانو نه په اطاعت سره وساتئ او تقوا وكړئ] او يقينا چې زه تاسې ته اى خلكو! اعتمادي پيغمبر را ليږل سوئ يم، نو د الله نه وو يرېږ او حكمونه پې ومنئ او اطاعت پې وكړئ او زه د ستاسې نه د خپل تبليغ په عوض او بدل كې اجرت او مزدوري نه غواړم، د زما اجر او ثواب پر الله باندې دئ او الله رب العالمين دئ، يعنى د ټولو خلكو اړتيا وې پوره كوي.

[١٦٥- ١٦٦] او اى د لوط قومه! آيا تاسې د نړئ نار ينوو سره واده كړئ؟ او د ستاسې جوړې شځې چې الله تاسې ته پيدا كړې دي؛ پر يږدئ [يعنى ورسره واده نكړئ]، نو تاسې يو تيرئ كونكئ قوم ياستئ، يعنى تاسې ظالمان ياستئ او د الله تعال پر هغه فطرت باندې چې انسان پې ور باندې پيدا كړئ دئ؛ تاسې كلك تيرئ كړئ دئ!

[١٦٧] [نو بيا د لوط عليه السلام قوم دئ وګواښه او ورته پې] وو يل: اى لوطه! كه ته د خپلو دغو خبرو نه لاس وانخلئ، نو بيا به يقينا چې د كلي نه شړل سوو او و يستل سوو نه وي، يعنى تا به اى لوطه! مونږ د خپل كلي نه وشړو او كډه كيدو ته به تا اړ باسو!

[١٦٨] [نو بيا لوط عليه السلام دوى ته په ځواب كې] وو يل: زه د ستاسې دغو بدو كړنو نه كركه لرم، يعنى زه هغه په كلكه سره غندم او خپل براءت ورڅخه اعلانوم!

نو بيا لوط عليه السلام د الله سره په مناجات كې دعاء وكړه او د خپل قوم بدو كړنو نه پې خلاصون وغوښت، او په بيان كې الله تعالى فرمايلي دي:

[١٦٩] ای لو یه ر به! ما او د زما کورنۍ د دغو خلکو د بدو کړنو نه خلاص کړه، یعنی مونږ ته د دوی ی شرا رت نه نجات را کړه!

[١٧٠- ١٧٥] نو بیا لوط ته او د هغه ټولې کورنۍ ته پرته د لوط زړې میرمني نه چې هغه په هلاك ســوو کې وه؛ نورو ټولو ته مونږ نجات ورکه، او د لوط قوم بیا مونږ له منځه ایووړ او هلاك ســول او پر دوی باندې د اســمان نه مونږ د تیږو یا کانو باران را ووورا ؤ، نو دا ســزا دوی ته [چې مخکې ور باندې ګواښــل ســوی ول] ډیره بده ســزا وه، او د لوط قوم ته دغسې سزا ورکول د پند اخستلو یوه نښه وه، خو بیا هم د دوی نه ډیر خلک مومنان نســول او پندیې وانخســت، او ای پیغمبره! د ســتا رب الله لوی ځواکمن او نښــه مهر بان ذات دئ، یعنی دا چې لوی کبرجن او د الله حکم نه سر غړونکي کسان هلاکوي او مومنانو ته ثواب ورکوي!

{د شعیب علیه السلام قوم خپل پیغمبران دروغژن و بلل}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې د شعیب علیه السلام قصه د خپل قوم سره مونږ ته الله تعالی کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿كَذَّبَ أَصْحَٰبُ لْـَٔيْكَةِ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٧٦﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾ إِنِّى لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٧٨﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٧٩﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٨٠﴾ * أَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُخْسِرِينَ ﴿١٨١﴾ وَزِنُوا۟ بِٱلْقِسْطَاسِ ٱلْمُسْتَقِيمِ ﴿١٨٢﴾ وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿١٨٣﴾ وَٱتَّقُوا۟ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ وَٱلْجِبِلَّةَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٨٤﴾ قَالُوٓا۟ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلْمُسَحَّرِينَ ﴿١٨٥﴾ وَمَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَإِن نَّظُنُّكَ لَمِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿١٨٦﴾ فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٨٧﴾ قَالَ رَبِّىٓ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨٨﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ ٱلظُّلَّةِ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٨٩﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٩٠﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ

لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٩١﴾

[١٧٦-١٨٠] او د ګنو ونو سيمې کليوالو د الله استازي تکذيب کړل او دروغژن يې و بلل [يعنى دوى خپل پيغمبر شعيب عليه السلام دروغژن و باله، نو د هغه تکذيب د ټولو پيغمبرانو تکذيب معنا لري] هو! کله چې شعيب دوى ته وو يل: آيا د الله نه تقوا نکړئ؟ [يعنى د الله تعالى سزاء نه ځانو نه په اطاعت سره نه ساتئ؟] او زه تاسې ته يقينا امانت را وړونکئ استازئ يم، نو د الله نه وو يرئ او اطاعت يې وکړئ [يعنى حکمونه يې ومنئ، او اى خلکو!] زه د خپل وعظ او نصحيت بيعه او مزدوري د ستاسې نه غواړم، د زما اجر او ثواب په رب العالمين الله باندې دئ، يعنى ماته الله تعالى د خپل دعوت او تبليغ په بدل کې مزدوري، اجر او ثواب را کوي او هغه د آخرت ورځې جنتونه دي.

درندو دوستانو! د شعيب عليه السلام قوم د ډيرو باغونو ميوو خاوندان ول، نو د خپلو ميوو تله او پيمانه يې نه پوره کوله، نو بيا شعيب عليه السلام ورته نصيحت وکه او و يو يل:

[١٨١- ١٨٤] اى د شعيب قومه! پيمانه پوره کړئ او د لږونکو نه يې مکيږئ، يعنى د خلکو حق په تله او پيمانه کې مه کموئ او په برابره تله باندې تلل وکړئ او د خلکو په حقونوکې کمئ مکړئ او په ځمکه کې فساد او ورانئ مکړئ، او د هغه لوى رب الله عذاب نه وو يرئ چې تاسې او د ستاسې لمړني نسلو نه يې پيدا کړل! خو د شعيب عليه السلام قوم د خپل پيغمبر نصحيتونه ونه منل او کبر او کينو په سر واخستل، نو د شعيب عليه السلام په ځواب کې يې وو يل:

[١٨٥- ١٨٧] اى شعيبه! يقينا چې پر تا باندې کوډې سوې دي او ته د زمونږ غوندې يو سړئ يې او تا مونږ د دروغژنو نه ګڼو، نو که ته د ر ښتيا و يونکو نه وي، نو پر مونږ باندې د اسمان نه يوه ټوټه عذاب او سزا را وغورځوه؟

هو! د شعيب عليه السلام قوم دا خبره هغه ته يوه نه کيدونکې ننګونه وه، نو

بيا شعيب عليه السلام دوی ته وو يل:

[١٨٨-١٨٩] ای د زما قومه او عز يزانو! د زما رب د ستاسې پر کړنو باندې ښه پوه دئ [يعنی نو د ستاسې لائق سزا به درکړي] نو بيا هم دوی شعيب تکذيب که او دروغژن يې و باله، نو بيا دوی د سُوري ورځې عذاب چې هلته د لمر سوزونکو وړلانګو تيښتې نه را غونډ سوي ول؛ را ونيول، يعنی هلاك يې کړل، او يقينا چې دا سزا د يوې لويې ورځې سزا وه!

[١٩٠] او يقينا چې په دغسې سزا ورکولوکې د الله د قدرتونو لو يه نښه وه [يعنی د شعيب عليه السلام پر پيغمبري باندې د باور لو يه معجزه او دليل ؤ] خو بيا هم د دوی نه ډيرو کسانو ور باندې باور ونکه او ايمان را نوړ!

[١٩١] ای پيغمبره! او د ستا رب په ر يښتيا سره لوی ځواکمن او ښه مهربان ذات دئ، يعنی کبرجنو کافرانو ته الله کلکه سزا ورکوي، او پر مومنانو مهربان دئ، او ثوابونه چې په آخرت کې لوی جنتونه دي ورکوي.

قدرمنو دوستانو! د شعيب عليه السلام قوم د سرکښي بيان د الله تعالی حکومونو نه او د خپل پيغمبر نه، لکه د دوی نه مخکې کافرانو غوندی د اسلام پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم ته او د هغه دين وارثانو دعاتو ته د الله تعالی لخوا د تسليت او د ډاډ ګيرنې لوی پيغام دئ، نو ښايي چې دعات ورځخه ګټه وا خلي او خپل دعوت په صبر او زغم سره په مخ يوسي.

عزتمنو دوستانو! شعيب عليه السلام خپل قوم د الله اطاعت ته د رابلنې په ترڅ کې د بې عدالتۍ نه په تله او پيمانه کې منعې کړئ دئ او د دوی دا کار يې په ځمکه کې فساد او ورانئ شميرلئ دئ، نو دا بيان په بشري ټولنو کې؛ ټولو اصلاح غوښتونکو دعاتو ته د لارښودنې ډير ارزښتناکه پيغام دئ، او هغه دا چې د هرې ټولنې مصلحين او دعات بايد په خپله ټولنه کې د فساد او بې عدالتۍ سره؛ کلکه مبارزه وکړي او خپل ولس ورځخه وژغوري او د عدالت ز يرئ ورکړئ.

{قرآن په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې په عربي ژبه را نازل سوئ دئ}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د اسلام پيغمبر محمد

ﷺ ته د قرآن ر یښتینوالي او حقانیت ډاډ ورکړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٩٢﴾ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلْأَمِينُ ﴿١٩٣﴾ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ ٱلْمُنذِرِينَ ﴿١٩٤﴾ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ﴿١٩٥﴾ وَإِنَّهُۥ لَفِى زُبُرِ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٩٦﴾ أَوَلَمْ يَكُن لَّهُمْ ءَايَةً أَن يَعْلَمَهُۥ عُلَمَٰٓؤُا۟ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٩٧﴾ وَلَوْ نَزَّلْنَٰهُ عَلَىٰ بَعْضِ ٱلْأَعْجَمِينَ ﴿١٩٨﴾ فَقَرَأَهُۥ عَلَيْهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ مُؤْمِنِينَ ﴿١٩٩﴾ كَذَٰلِكَ سَلَكْنَٰهُ فِى قُلُوبِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٢٠٠﴾ لَا يُؤْمِنُونَ بِهِۦ حَتَّىٰ يَرَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ ﴿٢٠١﴾ فَيَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٠٢﴾ فَيَقُولُوا۟ هَلْ نَحْنُ مُنظَرُونَ ﴿٢٠٣﴾ أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿٢٠٤﴾ أَفَرَءَيْتَ إِن مَّتَّعْنَٰهُمْ سِنِينَ ﴿٢٠٥﴾ ثُمَّ جَآءَهُم مَّا كَانُوا۟ يُوعَدُونَ ﴿٢٠٦﴾ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يُمَتَّعُونَ ﴿٢٠٧﴾ وَمَآ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ ﴿٢٠٨﴾ ذِكْرَىٰ وَمَا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٢٠٩﴾﴾

[١٩٢- ١٩٦] [ای پیغمبره! او قرآن چې د پخوانیو پیغمبرانو قصې خپلو کینه کښو او کبرجنو ولسونو سره په ر یښتیا پکې بیان سوې دي] هغه یقینا د رب العالمین له لوري را نازل سوئ کتاب دئ [یعنی هغه روح الامین جبرئیل عليه السلام د لوح محفوظ نه ځمکې ته] د ستا پر زړه باندې په ډیره روښانه ژرګندونکې عربي ژ به را کوز کړئ دئ، ترڅو ته ای پیغمبره! خلکو ته ګواښونکئ وي [یعنی د قرآن په و یناوو خپل امت د الله سزا نه وګواښې] او یقینا چې د دې کتاب (قرآن) یادښت د پخوانیو امتونو په کتابونوکې راغلئ دئ، یعنی د قرآن را نازلیدلو نه پخواني ولسونه په خپلو اسمانی کتابونوکې خبر سوي دي او راتلونکي کهول ته یې د قرآن حقانیت او د ر یښتینوالي ز یرئ ورکړل سوئ دئ.

او بیا د قرآن د حقانیت او ر یښتینوالي تصدیق د لا ډیر باوري کیدو په مقصد الله تعالی فرمایلي دي:

[١٩٧] او آیا د مکې کافرانو ته د بني اسرائیلو پوهانو علم په قرآن باندې یوه نښه او دلیل ندئ؟ ځواب دا چې: هو! هغه دوی ته دلیل دئ،

نو شاييدل چې دوی ور باندې باور کړي وای، ځکه د بني اسرائيلو علماء د قرآن را نازليدو ز يرئ د اسلام پر پيغمبر محمد ﷺ باندې په خپلو اسماني کتابونوکې لولي!

[۱۹۸-۲۰۱] او که دا قرآن مونږ پر ځينو عجمو باندې [چې په عربي ژ به نه پوهيږي] را نازل کړئ وای او بيا دوی په عربي د مکې پر قريشو باندې لوستئ وای، نو بيا به هم دوی ور باندې باور نه ؤ کړئ او هغه بې نه ؤ منلئ [يعنی پلمې بې کړې] نو همداسې د قرآن نه انکار مونږ مجرمانو (کافرانو) په زړونو کې ورننه ايست، خو دوی ور باندې ايمان نه راوړي او نه ور باندې باور کړي، ترڅو بيا دوی ته کړوونکئ عذاب ورولیدل سي، يعنی شه کلکه سزا ورکړه سي، او په جهنم کې وکړول سي!

[۲۰۲- ۲۰۳] او بيا دا سزا او عذاب کافرانو ته ناڅاپه راځی او دوی هيڅ ور باندې نه پوهيږي [يعنی د عذاب راتګ نه احساسوي، خو کله چې عذاب ورته راسي] نو بيا وايي: آيا زمونږ نه دا عذاب نه زنډول کيږي او مونږ ته مهلت نه را کول کيږي، ترڅو تو به و باسو؟

نو بيا الله تعالی د کافرانو د دغسې هيلو په ځواب کې فرمايلي دي:

[۲۰٤] او آيا همدا کافران نه ول چې د زمونږ عذاب را تلو ته يې تلوار درلود؟ يعنی بيا خو کافران د عذاب په زنډيدلو وغوليدل او غافل او بې پروا سول، ځکه پر عذاب يې باور نه درلود او هغه يې نه مانه.

[۲۰۵- ۲۰۷] ای پيغمبره! نو آيا ته څه و يې؟ يا ته څه وايې؟ که چيرې مونږ کافرانو ته کلونه کلونه وخت ورکړو [يعنی وی زنډوو، ترڅو دوی د دنيا نعمتونو نه خوند واخلي] او بيا به هغه عذاب چې د دوی سره د هغه وعده سوې وه راسي [نو بيا دغه د نعمتونو نه د خوند اخستلو مهلت چې دوی ته ورکړل سوي ؤ] دوی ته هيڅ ګټه نکړي، يعنی دا ځکه چې دغو کافرانو تو به ونه و يستله او د دغو لو يو نعمتونو نه يې چې الله تعالی پر دوی باندې پيرزو کړل؛ هيڅ مننه ونکړه او ايمان رانوړ.

[۲۰۸-۲۰۹] او هيڅ کلئ مونږ ندئ ړنګ کړئ [يعنی اوسيدونکي يې

مونږ ندي هلاك كړي] مګر دا چې په هغه كلى كې ګواښونكې ول، ترڅو دوى ته ور يادونكي واعظان وي [يعنى د خلاصون او د نجات لارې وروښي] او مونږ هيڅ كله ظالمان او تيرئ كونكي نوو، يعنى الله تعالى هر قوم او ولس ته خپل استازي او پيغمبران را ليږلي دي، ترڅو خپل قوم پر الله تعالى باندې ايمان راوړو ته را و بولي، او د الله سزا نه دوى كلك وو يروي، او كله چې په رسول الله ﷺ باندې نور نبوت او پيغمبري پاى ته ورسيدله، نو الله تعالى د اسلام علماء او ملايان د پيغمبر ﷺ وارثان وګرځول، او د دين لوى لوى باورې منابع يې چې هغه د الله تعالى كتاب قرآن او د پيغمبر سنت او احاديث دي؛ كلك وساتل، ترڅو علماء هغه خلكو ته ورسوي.

{قرآن د الله حق كتاب دئ او شيطانانو ندئ را كوزكړئ}

ګرانو عز يزانو! او په ور پسې مباركو آيتونوكې الله تعالى د كافرانو كاذب تورونه د قرآن مجيد د رانازليدلو په باره كې كلك رد كړي دي، او په بيان كې فرمايلي دي:

﴿وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴿٢١٠﴾ وَمَا يَنۢبَغِي لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٢١١﴾ إِنَّهُمْ عَنِ ٱلسَّمْعِ لَمَعْزُولُونَ ﴿٢١٢﴾ فَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَكُونَ مِنَ ٱلْمُعَذَّبِينَ ﴿٢١٣﴾ وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ ٱلْأَقْرَبِينَ ﴿٢١٤﴾ وَٱخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢١٥﴾ فَإِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ إِنِّي بَرِيٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢١٦﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱلْعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٢١٧﴾ ٱلَّذِي يَرَىٰكَ حِينَ تَقُومُ ﴿٢١٨﴾ وَتَقَلُّبَكَ فِي ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٢١٩﴾ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٢٢٠﴾ هَلْ أُنَبِّئُكُمْ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴿٢٢١﴾ تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴿٢٢٢﴾ يُلْقُونَ ٱلسَّمْعَ وَأَكْثَرُهُمْ كَٰذِبُونَ ﴿٢٢٣﴾﴾

[٢١٠- ٢١٢] هو! قرآن شيطانانو ندئ را كوز كړئ، او نه دوى ته دا ښايي او نه دغسې كار كړلاى سي، ځكه شيطانان په يقين سره د قرآن اور يدلو نه په اسمان كې بيل دي، يعنى شيطانان قرآن كريم اور يدلاى نسى، او هر كله چې شيطانان هغې خوا ته د ورلنډيدو هڅه وكړي، نو د

اور لمبو په سـوزونکو غچو و يشـتل کيږي، يعنی الله تعالی د دوی د اور يدلو مخه نيسـي او نې پر يږدي چې د الله خبرې پاس په اسـمان کې واوري.

[٢١٣-٢١٥] نو ته ای پيغمبره! د الله سـره بل خدای مه غواړه [يعنی هغه د الله تعالی سره په عبادت کې مه کډوه، ځکه چې] بيا به نو ته د سزا ورکول سـوو کسـانو نه وې [يعنی ای پيغمبره! د سـتا قوم ته ښـايي خپل ځانونه د شـرك نه کلک وسـاتي او بتان د الله سـره په خدايي کې شـر يك نکړي] او ای پيغمبره! او تا ته ده ښـه لنډ خپلوان؛ د الله سـزا نه وو يرؤ [يعنی د بتانو عبادت نه يې کلک وګواښـه، او بيا چې هر چا د سـتا بلنه ومنله او ايمان يې راوړو] نو بيا تـه ای پيغمبره! مومنـانو تـه خپل وزرونـه راټيټ کړه او غيږ ده ورته خلاصـه کړه، يعنی په ډيره تواضـع او مهر بانۍ ورسره وچلېږه، او سخت دريځۍ نه کلکه ډ ډه وکړه!

قـدرمنو دوسـتـانو! نو د زمونږ ټولو علماوو او اسـلام پالو دعوت کونکو مشـرانو ته ښـايي چې د رسـول الله ﷺ په پله ګام کيږدي او خپلو مومنو وروڼو سـره ده په ډيره تواضـع او کمينۍ سـره وچلېږي او د کبرجن چلنـد نـه ده پـه کلکـه سـره ډ ډه وکړي او ځـان ده ورځخـه وسـاتي، او همداسـې ده خپل خپلوان د نورو خلکو نه مخکې حق ته او د الله توحيد او ښـه عمل ته کلک راو بولي.

[٢١٦- ٢٢٠] نوکـه بيـا د سـتـا خپلوانو [ای پيغمبره!] د سـتـا نـه سـرغړونه وکړه، نو بيا ته دوی ته ووايه: زه د ستاسـې د بدو کړنو نه خپل براءت په يقين سـره اعلانوم او د سـتاسـې نه بې زار يم، او ته ای پيغمبره! پر الله باندې چې لوی ځواکمن او ښـه مهر بان ذات دئ؛ توکل وکړه [يعنی په خپل رب باندې کلک ډا ډه سـه] ځکه الله هغه څوک دئ چې تا ای پيغمبره! د شـپې لمانځه په راجګيدلوکې و يې او هم د سـتا اوښـتل را اوښـتل او جګيدل او ټټيدل د سجده کونکو سـره و يې، او يقينا چې الله ښـه کلک اور يدونکئ او ښـه پوه لوی ذات دئ.

ګرانو دوستانو! او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونوکې پر کافرانو غږ کړئ دئ او د دوی سپکې خبرې او ناحقه تورونه يې د شيطانانو راکوزيدلو په باره کې رسول الله ﷺ پسې کلک غندلي او رد کړي دي او په بيان کې يې فرمايلي دي:

[٢٢١-٢٢٣] ای خلکو! او آيا تاسې زه په کلکه سره خبر کړم چې دغسې شيطانان پر چا باندې راکوز يږي؟ [يعنی خپلې وسوسې د دوی په زړونو کې اچوی؟] هو! شيطانان پر هر دروغژن ګناه کونکي باندې را کوزيږي او بيا چې دوی څه شئ په غوږو واوري [هغه خپلو ملګرو ته راچوي] او ډير شيطانان دروغژن دي، يعنی شيطانان هيڅ کله پر صادقانو باندې، لکه پر رسول الله ﷺ باندې را کوز يدای نسي، ځکه شيطانان يوازې دروغژن خبرونه هرې خوا خوروي او تبليغات کړي!

هو؛ قدرمنو دوستانو! د شيطان ملګري چې کله څه پټې خبرې د خپلو مشرانو نه اوري؛ هغه خپلو پلو يانو ته په ځمکه کې وسوسه کوي او پټې ور رسوي، خو شيطانان هيڅ کله د الله وحيه سوې خبرې د لوح محفوظ نه چې هغه د الله په کلکه ساتنه کې دي اور يدلای نسي، نو ځکه الله تعالى پدې مبارکو آيتونوکې د کافرانو هغه بې بنسټه سپکې اوازې ردې کړې دي چې دوی و يل رسول الله ﷺ [نعوذ بالله] د کاهنانو غوندې د شيطانانو نه دا خبرې اوري!

{کافران شاعران باطل خوروي او مومنان خلکوته حق رسوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د ځينې کافرانو يو بل تور چې و يل يې محمد شاعر دئ؛ کلک رد کړئ دئ او د حق لارې نه کاږه سوي شاعران يې هم غندلي دي، او بيا الله تعالى د هغو مومنو شاعرانو ستاينه کړې ده چې دوی حق ته بلنه ورکوي، ځکه د شاعرانو شعر او د ادبياتو تاثير په ټولنه کې ډير رغنده دئ، نو ځکه دا مبارکه سوره په الشعراء نومول سوې ده او د خپل سرو شاعرانو په معرفي کې الله فرمايلي دي:

﴿وَٱلشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ ٱلْغَاوُۥنَ ﴿٢٢٤﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِى كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ ﴿٢٢٥﴾

وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ ﴿٢٢٦﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَذَكَرُوا۟ ٱللَّهَ كَثِيرًا وَٱنتَصَرُوا۟ مِنۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا۟ ۗ وَسَيَعْلَمُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَىَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ ﴿٢٢٧﴾

[٢٢٤ - ٢٢٦] او شاعرانو پسې هغه کسان ځي چې د حق نه اوښتي دي [یعنی د سمې لارې نه ورک سوي دي، او ای پیغمبره!] آیا ته نه و یې چې یقینا شاعران په هره لوړه او ژوره دښته او ډاګ کې ورک دي [یعنی هرې خوا ته حیران ګرځي را ګرځي] او یقیناچې دوی هغه څه وایي چې بیا هغسې نکړي! یعنی د شاعرانو خولو او د لاسونو لار یوه نده او دوی په خپلو شعرونو کې ډیري سپکې سپورې وایي او رسول الله ﷺ هیڅ کله هم د دوی غوندې سپکې خبرې نکړي.

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارک آیت کې چې د الشعراء سورې وروستۍ آیت دئ د کافرانو شاعرانو نه؛ هغه مومن شاعران بیل کړي او ستایلي دي چې دوی د الله تعالی عظمت او ذکر په بیان کې لګیا دي او شعرونه وایي، او فرمایلي دي:

[٢٢٧] او د هغو شاعرانو نه پرته چې دوی ایمان راوړ او ښه یې وکړل او الله یې ډیر یاد که او ښه یې وستایه او په خپلو اشعارو سره یې د هغه چا نه دفاع وکړه چې پر دوی باندې تیرئ او ظلم سوئ ؤ[یعنی دغه مومن شاعران؛ د کافرانو شاعرانو غوندې ندي، بلکې دوی د هغوی بدو کړنو نه پاک دي] او هغو کسانو چې ظلم او تیرئ وکه [یعنی ګناه یې وکړه او کافران سول] نو هغوی به بیا پوه سي چې کمې ژورې ته ورغورځول کیږي!

هو؛ قدرمو عز یزانو! دا ګواښ کافرانو ته او د دوی هغو ملګرو او پلو یانو ته دئ چې دوی خپل لوی خالق او رب په حق سره ونه پیژاند او د الله تعالی حکمونو نه یې کلکه سرغړونه وکړه او په ځمکه کې یې فساد خور که، نو ښایي چې هر هوښیار بنده ورڅخه پند وا خلي او خپل ځان د تورې راتلونکې نه چې هغه د دوزخ اور په ژوروکې کړ یدل دي؛ کلک وساتي.

والحمدلله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د النمل سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د النمل سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}

قدرمنو دوستانو! د النمل مبارکه سوره مکي سوره ده، او په پیل کې یې الله تعالی د قرآن په عظمت باندې ټینګار کړئ دئ، ځکه قرآن د الله نه رانازل سوی ر ښتینئ حق کتاب دئ، او بیا الله تعالی پدې مبارك کتاب کې د الشعراء او د نورو مکي سورو غوندې د پیغمبرانو اوږدې قصې یادې کړې دي چې خبریدل ورڅخه د وحي یې نه پرته ممکن نؤ، نو دا قصې د قرآن کر یم د تصدیق لوی دلیل دئ، او د سلیمان بن داود علیهما السلام قصه یي چې په هغه کې د الله تعالی لوی قدرتونه نغښتي دي؛ په ډیر تفصیل سره دلته یاده کړې ده، ځکه سلیمان عليه السلام ته الله تعالی د مرغانو ژ به ورزده کړي وه او د پیریانو او مرغانو لښکرې یې ورته تابع کړي وې، او همداسي هغه ته الله تعالی د میږیانو ژ به ورښودلې وه، نو ځکه دا سوره د النمل (میږي) په نوم نومول سوې ده، او یقینا چې د میږیانو مشر د ځان ساتنې کوانښونه د سلیمان عليه السلام لښکرو نه د الله تعالی د قدرتونو لو یه نښه ده، نو د النمل سورې ډیر لوی مقصد همدا د الله تعالی د لو یو قدرتونو څرګندول دي، ترڅو په مادي ځواکمنۍ او په غولونکي تمدن باندې چې یوازې په خپلو مادي اسبابو او وسائلو ولاړ تمدن دئ؛ ځوک ونغولیږي او معنوي ارزښتونه شا ته ونه غورځوي، او دې ته یې پام وي چې دا لو یه نړۍ او پکې میشت کائنات ټول خپل ځواکمن څښتن لري چې هغه چلوي او پالي، او یقینا چې مادي اسبابو او وسائلو ته پاملرنه پدې مبارکه سوره کې خپل ځانګړئ ځای لري، ځکه د اسلامي تمدن په تیر اوږده تار یخ کې د مادي اسبابو نه ګټه اخستل د

تمدن جوړولو لوی عامل ؤ، او ښــه رغنده اغیزې پکې درلود، نو ځکه د صلیبي جګړو لوېې ماتې نه وروسته؛ نور صلیبیان د مادي اسبابو لاس ته راوړو په لټه کې ســول او د ســاینســي علومو دا اوږد مزل یې په ســلهاوو کلونوکې وواهه، ترڅو چې یې نني پرمخ تللې تکنالوژي خپله کړه، نو اوس چې هرڅه غواړې هغسې کړي، او څوک یې مخې ته در یدلای نسي!

درندو عز یزانو! د النمل مبارکې ســورې پیل په مقطعاتو تورو باندې سوئ دئ او مقصدیې، لکه هغې ته ورته نورو سورو غوندې چې په مخکې تیر ســوو ســوروکې یې په وار وار ســره یادونه وســوه؛ د قرآن کر یم بیاني اعجاز ته اشــاره ده، ځکه قرآن کر یم د رســول الله ﷺ پیغمبرۍ تصــدیق ښه لو یه معجزه ده، او د النمل سورې په پیل کې الله تعالی فرمایلی دي:

{د قرآن آیتونه مومنانو ته لارښود پیغام دئ}

﴿طسٓ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡقُرۡءَانِ وَكِتَابٖ مُّبِينٖ ١ هُدٗى وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ٢ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ ٣ إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَهُمۡ يَعۡمَهُونَ ٤ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَهُمۡ سُوٓءُ ٱلۡعَذَابِ وَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ هُمُ ٱلۡأَخۡسَرُونَ ٥ وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى ٱلۡقُرۡءَانَ مِن لَّدُنۡ حَكِيمٍ عَلِيمٍ ٦﴾

[١-٣] (طاء، ســین) هو! هغه خبرې چې د (طس) غوندې هجائي تورو یا حرفونو نه جوړې ســوې دي؛ هغه د قرآن چې لوســتل ســوئ او لیکل ســوئ کتاب دئ؛ ښــه روښــانه آیتونه او دلیلونه دي، او هغه مومنانو ته لارښــود او ز یرئ دئ، ځکه مومنان هغه کســان دي چې فرضــي لمونځ په خپل وخت کې دروي او د خپل مال او دولت زکات ورکوي او د آخرت ورځې په راتګ باندې یقیني او کلک باور لري.

[٤-٥] او هغه کســان چې د آخرت پر ورځ باور نلري؛ دوی ته مونږ په پوره یقین ســره د دوی بد کړل (ګناهونې) ښــایســته کړل، نو بیا دوی همداســې په خپلو بدو کړنوکې ســترې او لال هانده اوړي را اوړي، او دغو

کسانو ته به په دنیا کې بد عذاب او کلکه سزا ورکړه سي، او بیا به په آخرت کې دغه کافران د ډیرو ز یانمنو او بایلونکو نه وي، یعنی ډیر تاون بې کړئ وي، ځکه دوی خپل رب الله سم ونه پیژاند، نو بیا الله تعالی دوی د دغسې ترخه برخلیک سره مخامخ کړل.

[٦] او یقینا چې ته ای پیغمبره! دا قرآن د یوه لوی حکیم او ښه پوه رب الله له لورې ترلاسه کوي، یعنی قرآن د الله تعالی کلام او خبرې دي، او هغه الله تعالی د جبرئیل امین په خوله تاته ای پیغمبره! وحیه کوي، نو د قرآن رانازلیدل د الله لخوا پر رسول الله ﷺ باندې یقیني دي او پکې هیڅ شك او شبه نسته، او ډیر لوی او ښکاره دلیل یې د پخوانیو پیغمبرانو قصې د خپلو سرکښو ولسونو سره دي چې هغه الله تعالی په وار وار سره رسول الله ﷺ ته وحیه کړې دي، او غرض یا مقصدیې د قرآن ر ښتینولي تصدیق دئ، او هغه رسول الله ﷺ ته وحیه سوئ کتاب دئ، خو کافران ورڅخه منکر ول، نو قرآن یې ونه مانه او ایمان یې رانور.

{په موسی علیه السلام باندې د پیغمبرۍ غږ د طور پر غونډۍ وسه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د موسی علیه السلام پیغمبرۍ قصه رسول الله ﷺ ته وحیه کړې ده او د هغې ټول بیان یې پکې کړئ دئ، او یقینا چې هیڅ ممکنه نوه د اسلام ستر پیغمبر ﷺ د دغسې قصې نه پرته له وحی یې نه خبر سي، او په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِأَهْلِهِۦٓ إِنِّىٓ ءَانَسْتُ نَارًا سَـَٔاتِيكُم مِّنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ ءَاتِيكُم بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَّعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ۝٧ فَلَمَّا جَآءَهَا نُودِىَ أَنۢ بُورِكَ مَن فِى ٱلنَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا وَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝٨ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّهُۥٓ أَنَا ٱللَّهُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ۝٩ وَأَلْقِ عَصَاكَ ۚ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَآنٌّ وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ ۚ يَٰمُوسَىٰ لَا تَخَفْ إِنِّى لَا يَخَافُ لَدَىَّ ٱلْمُرْسَلُونَ ۝١٠ إِلَّا مَن ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًۢا بَعْدَ سُوٓءٍ فَإِنِّى غَفُورٌ

رَّحِيمٌ ﴿١١﴾ وَأَدۡخِلۡ يَدَكَ فِي جَيۡبِكَ تَخۡرُجۡ بَيۡضَآءَ مِنۡ غَيۡرِ سُوٓءٍۖ فِي تِسۡعِ ءَايَٰتٍ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَقَوۡمِهِۦٓۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ﴿١٢﴾ فَلَمَّا جَآءَتۡهُمۡ ءَايَٰتُنَا مُبۡصِرَةٗ قَالُواْ هَٰذَا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ﴿١٣﴾ وَجَحَدُواْ بِهَا وَٱسۡتَيۡقَنَتۡهَآ أَنفُسُهُمۡ ظُلۡمٗا وَعُلُوّٗاۚ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿١٤﴾

[۷] ای پیغمبره! او د موسی هغه قصه راپه یاد کړه[کله چې موسی علیه السلام د مدین نه بیرته مصر ته د راستنیدو لار ورکه کړه] نو بیایې خپل کهول ته وو یل: یقینا چې د زما پام یوه اور ته وسه [نو تاسې دلته کینئ] او زه به د اور خاوند نه د لارې پیدا کولو خبر راوړم او یا به تاسې ته د سکروټو انګار راوړم، ترڅو خپل ځانونه د یخنۍ نه ور باندې تاوده کړئ.

[۸] نو بیا چې کله موسی د اور ځای ته ورغئ ور باندې غږ وسه [یعنی ورته وو یل سول] څوک چې په اور کې او د هغه شاوخوا دي ټولو ته ده مبارک وي، او پاکي او سپیڅلتیا الله لره ده او دئ د نړۍ ټولو مخلوقاتو څښتن دئ، یعنی الله تعالی چې د ټولې نړۍ واکمن خدای دئ؛ د هر کمښت او عیب نه پاک لوی ذات دئ.

[۹- ۱۱] او ای موسی! یقنیا چا چې پر تا باندې غږ وکه هغه زه الله یم [یعنی د ستا څښتن یم] او د لوی ځواک او کلک حکمت خاوند یم، یعنی هر څه په لوی تدبیر او په پوره ځواکمنۍ ترسره کوم، نو ته ای موسی! خپله لکړه په ځمکه وغورځوه[او کله چې موسی علیه السلام خپله لکړه راوغورځوله] نو بیا موسی ګورې چې لکړه یې، لکه ښامار ښور یږي، نو موسی بیرته په شا وګرځیده او لکړه یې پر یښودله او ور پسې ونګرځیده [نو بیا الله تعالی موسی علیه السلام ته ډاډ ورکه او ورته یې وو یل:] ای موسی! ته مه و یر یږه، ځکه یقنا چې پیغمبران ما خپل استازي را لیږلي دي، او دوی نه و یر یږي، مګر دا چې څوک تیرئ وکړي [یعنی د زما حکم نه سرغړونه وکړي، نو بیا هغه د سزا نه کلک و یر یږي] خو که بیا هغه خپل بد کړل په ښو کړنو بدل کړل [یعنی الله ته ور وګرځیده او تو به یې وایستله] نو

یقینا چې زه لوی ښـونکئ او ښـه مهر بان خدای یم، یعنی هیڅ څوک ده د خپل رب الله تعالی لوی رحمت او ښنې نه نه ناهیلې کیږي، ځکه الله لوی ښـونکئ ذات دئ.

[۱۲] او ای موسـی! لاس ده په ګر یوان کې ننه باسـه [یعنی بیا به وګورې چې] هغه پرته د هیڅ کم عیب او کږښـت نه بیرته سـپین راوځی، او موسی مونږ فرعون او د هغه قوم ته د نهو معجزو سره را ولیږه، خو یقینا چې فرعون او قوم یې د الله اطاعت او بنده ګې نه یوه وتلې ډله کافران ول، یعنی نو ځکه یې د موسی علیه السلام پیغمبري سره د دغسې ډیرو معجزو ونه منله او ورڅخه یې سرکښي وکړه.

[۱۳- ۱٤] نو بیا چې کله فرعونیانو ته د زما معجزې او د قدرتونو لوپې نښـې ډیرې ځلانده په سـترګو لیدلې راغلې [یعنی نو بیا دوی په ځواب کې] وو یل: دا خو ښکاره کوډې دي او ورڅخه منکر سول، خو په زړونو کې یې ور باندې باور وکه او په ر یښـتینوالي یې یقین راغئ، او د دوی دا در یځ په حق باندې د تیري څرګندوی ؤ، نو ته وګوره ای پیغمبره! چې د زور واکانو او کبرجنو فاسـقانو برخلیک او راتلونکې څنګه سـوه؟ یعني فرعون او لښکریې ټول هلاك سول او دوی ټول الله په سمندر کې غرق او ډوب کړل او له مینځه یې ایوړل او د تار یخ برخه وګرځیدل .

{داوود او زوی یې سلیمان علیهما السلام ته الله پوهه ورکړه}

او بیا په ور پسـې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د داوود او د زوی یې سلیمان علیهما السلام د پیغمبرۍ او دوی ته د لو یو معجزو ورکړو قصه کړي ده، او په بیان کې فرمایلی دي:

﴿وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ وَسُلَيۡمَٰنَ عِلۡمٗاۖ وَقَالَا ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي فَضَّلَنَا عَلَىٰ كَثِيرٖ مِّنۡ عِبَادِهِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٥ وَوَرِثَ سُلَيۡمَٰنُ دَاوُۥدَۖ وَقَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ عُلِّمۡنَا مَنطِقَ ٱلطَّيۡرِ وَأُوتِينَا مِن كُلِّ شَيۡءٍۖ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡمُبِينُ ١٦ وَحُشِرَ لِسُلَيۡمَٰنَ جُنُودُهُۥ مِنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ وَٱلطَّيۡرِ فَهُمۡ يُوزَعُونَ ١٧ حَتَّىٰٓ إِذَآ

أَتَوْا۟ عَلَىٰ وَادِ ٱلنَّمْلِ قَالَتْ نَمْلَةٌ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمْلُ ٱدْخُلُوا۟ مَسَٰكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿١٨﴾ فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّن قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِىٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَىَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَٰلِحًا تَرْضَىٰهُ وَأَدْخِلْنِى بِرَحْمَتِكَ فِى عِبَادِكَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٩﴾

[١٥] او یقیناچې داوود او سلیمان ته مونږ علم او پوهه ورکړه او دوی دواړویې په مننه کې وو یل: الحمد لله مونږ الله پر خپلو نورو ډیرو مومنو بنده ګانو باندې غوره کړو او عزت او سر لوړي یې را کړه!

[١٦] او بیا سلیمان د داوود نه [پیغمبري او پاچایي] په میراث یوړه، او خلکو ته یې وو یل: ای خلکو! مونږ ته د مرغانو خبرې را ښودل سوې دي او د هرڅه نه مونږ ته برخه را کړل سوې ده، او یقینا چې دا پر مونږ باندې د الله ښکاره پیرزو ینه ده، یعنی الله تعالی مونږ پر نورو خلکو باندې او چت کړي او غوره کړي یو.

[١٧-١٩] او د سلیمان په حضورکې د هغه لښکرې د پیریانو، انسانانو، او مرغانو نه ډله ډله راغونډې سوې او مزل یې پیل که، ترڅو چې د دوی کاروان میږیانو پر مینه په را تیریدوکې سه، نو بیا د میږیانو مشر میږي پر میږیانو غږ وکه او ورته وو یل: ای میږیانو! تاسې خپلو مینو ته په سورو کې ورننوځئ، ترڅو سلیمان او د هغه لښکر په بې پامۍ کې تاسې د پښولاندې ټوټه ټوټه نکړي، نو د میږي په دغه و ینا سلیمان د تبسم خندا وکړه او خپل رب الله ته یې دعاء وکړه او و یو یل: ای لو یه ر به! ماته د ستا د دې لوی نعمت او پیرزو ینې چې هغه ده ماته او د زما پلار دوود ته را کړې ده؛ د شکر و یستلو توفیق را کړه، ترڅو د ستا نعمتونو شکر و باسم او هغسې ښه وکړم چې ته ای لو یه ځښتنه! د زما نه خوښ او راضي سي او ما په خپل رحمت او لور ینو سره د خپلو صالحو بنده ګانو منځ ته ورننه باسي.

هو؛ درندو دوستانو! سلیمان عليه السلام د خپل رب لو یو پیرزو ینو شکر

وايست او دعائې وکړه چې الله تعالى دئ په خپل رحمت سره د الله ښو او صالحو بنده ګانو په ليکه او قطارکې ودروي، نو يقيناچې د سليمان عليه السلام دا مننه او دعاء مونږ ته د زدکړ پ لوی درس دئ او ښايي چې د الله لو يو پيرز ينو شکر تل و باسو او د الله ذکر نه هيڅ کله غافل او بې پروا نسو، بلکې ښايي د زمونږ ژبې تل د الله تعالى په ذکر لنديې وي.

{د هدهد قصه پر واکمنانو باندې د لښکرپوښتنې دليل دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د هدهد قصه د سليمان عليه السلام سره مونږ ته يادە کړې او بيان کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَتَفَقَّدَ ٱلطَّيۡرَ فَقَالَ مَالِيَ لَآ أَرَى ٱلۡهُدۡهُدَ أَمۡ كَانَ مِنَ ٱلۡغَآئِبِينَ ٢٠ لَأُعَذِّبَنَّهُۥ عَذَابًا شَدِيدًا أَوۡ لَأَاْذۡبَحَنَّهُۥٓ أَوۡ لَيَأۡتِيَنِّي بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ٢١ فَمَكَثَ غَيۡرَ بَعِيدٖ فَقَالَ أَحَطتُ بِمَا لَمۡ تُحِطۡ بِهِۦ وَجِئۡتُكَ مِن سَبَإِۭ بِنَبَإٖ يَقِينٍ ٢٢ إِنِّي وَجَدتُّ ٱمۡرَأَةٗ تَمۡلِكُهُمۡ وَأُوتِيَتۡ مِن كُلِّ شَيۡءٖ وَلَهَا عَرۡشٌ عَظِيمٞ ٢٣ وَجَدتُّهَا وَقَوۡمَهَا يَسۡجُدُونَ لِلشَّمۡسِ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَصَدَّهُمۡ عَنِ ٱلسَّبِيلِ فَهُمۡ لَا يَهۡتَدُونَ ٢٤ أَلَّا يَسۡجُدُواْ لِلَّهِ ٱلَّذِي يُخۡرِجُ ٱلۡخَبۡءَ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَيَعۡلَمُ مَا تُخۡفُونَ وَمَا تُعۡلِنُونَ ٢٥ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ ٢٦ *قَالَ سَنَنظُرُ أَصَدَقۡتَ أَمۡ كُنتَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٢٧ ٱذۡهَب بِّكِتَٰبِي هَٰذَا فَأَلۡقِهۡ إِلَيۡهِمۡ ثُمَّ تَوَلَّ عَنۡهُمۡ فَٱنظُرۡ مَاذَا يَرۡجِعُونَ ٢٨﴾

[٢٠-٢١] او بيا سليمان پر مرغانو را تير سه او د هغوی پوښتنه يې وکړه، نو وو يل: هدهد نه و ينم، هغه چيرته دئ؟ او يا دا چې هغه د غائبانو نه ؤ او دلته نسته؟ [يعني کله چې سليمان عليه السلام هدهد هلته ونه ليده] نو بيا سليمان وو يل: هغه ته به کلکه سزا ورکړم او يا بې ذبح او حلال کړم، او يا ده هدهد د خپلې ورکتيا او نستوالي ښه روښانه دليل

راوړي! يعنى دا چې چيرې او ده څه لپاره تللئ ؤ؟

[٢٢-٢٦] نو بيا د لږ زنډ نه وروســته هدهد راغئ او ســليمان ته يې وو يل: زه د داســې څه نه خبر ســوم چې ته ورڅخه خبر نوې او تاته ما د يمن ســبــأ خلکو نــه يقيني خبر راوړئ دئ! مــا هلتــه يوه داســې ميرمن بيــامونـدلــه چې د دوى ټولواکــه وه [يعنى ملکــه وه] او د دنيــا ژونـد هرڅــه ورکړل ســوى ول، او هغې يو لوى غټ تخت درلود، او دا ميرمن او د هغې ولس ما په داسې حال کې بياموندل چې د الله نه پرته لمرته يې سجده کړه او دوى ته شــيطان د دوى دغه بده شــرکې کړنه ښــايســته کړې وه او دوى يې د سمې لارې نه [چې د الله بنده کې او اطاعت په توحيد سره دئ] منعې کړي ول، او دوى ســمې لارې ته نه ســميږي، ترڅو هغه رب الله ته سجده ونکړي چې هغــه د ځمکې او اســمــانو څښــتن دئ او پټ شــيــان ورڅخــه راباسي او د ستاسې په پټو او ښکاره کړنو باندې پوهيږي او د الله نه پرته بل په حق سره معبود نسته او الله د لوى عرش خاوند دئ.

ګرانو دوســتــانو! د دغو مبــارکو آيتونو تلاوت پــه وخــت کې د تلاوت ســجده په پام کې ولرى، ځکه هغه په تلاوت کونکي او اور يدونکي دواړو باندې واجب ده.

[٢٧-٢٨] [نو بيا ســليمان عليه السلام هدهد ته په ځواب کې] وو يل: نو و به ګورو چې تا ر ښــتيا وو يل او که ته د دروغژنو نه وې؟ او دا دئ د زما دا ليکلئ پيغام د ســبــأ خلکو ته ور وړه او دوى ته يې وروغورځوه او بيا بيرته راوګرځه او غوږ و باســه او وګوره چې دوى يو بل ته څه وايي؟

{د سبأ ملکې د ولس مشر انو سره مشوره وکړه}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د سبأ ملکې مشوره د خپل در بار مشرانو سره مونږ ته يادە کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿قَالَتْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ إِنِّىٓ أُلْقِىَ إِلَىَّ كِتَٰبٌ كَرِيمٌ ﴿٢٩﴾ إِنَّهُۥ مِن سُلَيْمَٰنَ وَإِنَّهُۥ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٣٠﴾ أَلَّا تَعْلُوا۟ عَلَىَّ وَأْتُونِى مُسْلِمِينَ ﴿٣١﴾ قَالَتْ يَٰٓأَيُّهَا

ٱلْمَلَؤُا۟ أَفْتُونِى فِىٓ أَمْرِى مَا كُنتُ قَاطِعَةً أَمْرًا حَتَّىٰ تَشْهَدُونِ ﴿٣٢﴾ قَالُوا۟ نَحْنُ أُو۟لُوا۟ قُوَّةٍ وَأُو۟لُوا۟ بَأْسٍ شَدِيدٍ وَٱلْأَمْرُ إِلَيْكِ فَٱنظُرِى مَاذَا تَأْمُرِينَ ﴿٣٣﴾ قَالَتْ إِنَّ ٱلْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا۟ قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوٓا۟ أَعِزَّةَ أَهْلِهَآ أَذِلَّةً ۖ وَكَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٣٤﴾ وَإِنِّى مُرْسِلَةٌ إِلَيْهِم بِهَدِيَّةٍ فَنَاظِرَةٌۢ بِمَ يَرْجِعُ ٱلْمُرْسَلُونَ ﴿٣٥﴾ فَلَمَّا جَآءَ سُلَيْمَٰنَ قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٍ فَمَآ ءَاتَىٰنِۦَ ٱللَّهُ خَيْرٌ مِّمَّآ ءَاتَىٰكُم ۖ بَلْ أَنتُم بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُونَ ﴿٣٦﴾ ٱرْجِعْ إِلَيْهِمْ فَلَنَأْتِيَنَّهُم بِجُنُودٍ لَّا قِبَلَ لَهُم بِهَا وَلَنُخْرِجَنَّهُم مِّنْهَآ أَذِلَّةً وَهُمْ صَٰغِرُونَ ﴿٣٧﴾

[٢٩-٣٠] [او بيا چې کله د سبأ ملکې د سليمان پيغام ولوست خپل قوم مشران يې راټول کړل] او ورته يې وو يل: ماته يو ډير درونـد ليک (پيغام) را اچول سوئ دئ، او يقينا چې هغه د سليمان له خوا دئ او په بسم الله الرحمن الرحيم باندې پيل سوئ دئ [او مونږ ته يې پکې ليکلي دي] د زما نه ځانو نه غټ ونه بولئ [يعنی د زما حکم نه سرغړونه ونکړئ] او تسليم سوي ما ته راسئ!

[٣٢] [او بيا د سبأ ملکې د خپل ملك مشرانو ته] وو يل: زه د ستاسې مشورې نه پرته پر يکړه نکړم، نو تاسې ای مشرانو! ماته مشوره راکړئ چې زه څه وکړم؟

[٣٣] [نو بيا د پاچايي در بار مشرانو هغې ته په ځواب کې] وو يل: مونږ ځواکمن يو او د ښه کلک و يړ اچونکي يو، نور نو واکمن ته يې، نو وګوره چې د ستا خوښه څه ده؟ يعنی ته چې څنګه مونږ ته حکم کړې مونږ ورته تيار سئ يو!

[٣٤- ٣٥] [او بيا ملکې د خپلو لښکرو مشران د سليمان دښمنئ نه وګواښل] او و يو يل: باور وکړئ پاچايان چې کله [د خپلو لښکرو سره] يوه کلي ته په زور ورننوځي، نو هغه کلئ ورانوي او عزتمن مشران يې سپکوي او دوی همداسې کړي! [يعنی د هيڅ ډول وژلو، تړلو او ورانولو

پروا نکړي، او دا د هغوی خوی او دود دئ] نو زه دوی ته څه ډالۍ ورلیږم او بیا د خپلو اســتازو لاس راوړنو ته تم کیږم او انتظار باســم چې دوی د څرنګه ځواب سره بیرته راستنیږي؟

[٣٦] نو بیا چې کله د سبأ ملکې اســتازئ سلیمان ته د هغې ډالۍ سره راغئ، نو سلیمان ورته وو یل: تاسې ما ته مال او دولت راکوي [یعنی ترڅو ما ور باندې راضــي او خوښ کړي] خو هغه څه چې ما ته الله راکړي دي [لکه ښه ډیر مال او دولت او د پیریانو او انسانانو او مرغانو لوی لښکر] دا ټول د هغه څه نه چې تاســې ته یې درکړي دي؛ ډیر ښــه دي، نو هغه تاسې یاستئ چې په خپلو ډالیو خوښیږئ او ور باندې و یاړئ!

[٣٧] [او بیا ســلیمان عليه السلام د ملکې اســتازی ته وو یل:] ته بیرته خپلو مشرانو ته ورستون سه، نو یقینا چې مونږ به د داسې لښکرو سره درسو چې د ستا مشران یې مخې ته در یدلای نسي او هغوی به خوار او سپک د خپل کلي نه و باسو!

{ د سبأ ملکې تخت د سلیمان عليه السلام پر وړاندې کیښدل سه }

هو! بیا د سبأ ملکې تخت د سترګو په رپ سره د سلیمان عليه السلام لښکرو د هغه مخې ته کیښود چې په بیان کې یې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿قَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ أَيُّكُمْ يَأْتِينِى بِعَرْشِهَا قَبْلَ أَن يَأْتُونِى مُسْلِمِينَ ﴿٣٨﴾ قَالَ عِفْرِيتٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبْلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَ ۖ وَإِنِّى عَلَيْهِ لَقَوِىٌّ أَمِينٌ ﴿٣٩﴾ قَالَ ٱلَّذِى عِندَهُۥ عِلْمٌ مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبْلَ أَن يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ ۚ فَلَمَّا رَءَاهُ مُسْتَقِرًّا عِندَهُۥ قَالَ هَٰذَا مِن فَضْلِ رَبِّى لِيَبْلُوَنِىٓ ءَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ ۖ وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّى غَنِىٌّ كَرِيمٌ ﴿٤٠﴾ قَالَ نَكِّرُوا۟ لَهَا عَرْشَهَا نَنظُرْ أَتَهْتَدِىٓ أَمْ تَكُونُ مِنَ ٱلَّذِينَ لَا يَهْتَدُونَ ﴿٤١﴾ فَلَمَّا جَآءَتْ قِيلَ أَهَٰكَذَا عَرْشُكِ ۖ قَالَتْ كَأَنَّهُۥ هُوَ ۚ وَأُوتِينَا ٱلْعِلْمَ مِن قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِينَ ﴿٤٢﴾ وَصَدَّهَا مَا

كَانَت تَّعۡبُدُ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ إِنَّهَا كَانَتۡ مِن قَوۡمٖ كَٰفِرِينَ ٤٣ قِيلَ لَهَا ٱدۡخُلِي ٱلصَّرۡحَۖ فَلَمَّا رَأَتۡهُ حَسِبَتۡهُ لُجَّةٗ وَكَشَفَتۡ عَن سَاقَيۡهَاۚ قَالَ إِنَّهُۥ صَرۡحٞ مُّمَرَّدٞ مِّن قَوَارِيرَۗ قَالَتۡ رَبِّ إِنِّي ظَلَمۡتُ نَفۡسِي وَأَسۡلَمۡتُ مَعَ سُلَيۡمَٰنَ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٤٤

[٣٨] [نو بيا سليمان خپلو لښکرو پر مشرانو باندې غږ وکه] وو يل: اى مشرانو! کم يؤ د ستاسې نه د سبأ ملکې تخت ما ته مخکې لدې چې دوى ما ته تسليم سوي راسي راوړلاى سي؟

[٣٩] د پيريانو عفر يت [چې ډير کړندئ او زړور ؤ] وو يل: زه هغه تا ته مخکې لدې چې ته د خپل ځاى نه جګ سې راوړم او زه په پوره يقين او امانت سره د ملکې تخت راوړو زور لرم.

[٤٠] او د هغه چا سره چې د کتاب علم ؤ؛ هغه بيا [سليمان عليه السلام ته] وو يل: زه يې مخکې لدې چې د ستا باڼه بيرته راواوړي درته راوړم! نو بيا چې کله سليمان د ملکې تخت خپل مخکې پروت وليده وو يل: دا پر ما باندې د زما لوى رب الله پيرزو ينه ده، ترڅو ما وازمايي چې آيا زه شکر باسم او که د الله پيرزو ينو نه انکار کړم؟ او هر چاچې د الله نعمتونو شکر وايست، نو د خپل ځان شکريې و يستلئ دئ [يعنى ګټه يې ځان ته رسيږي] او څوک چې کفران وکړي [يعنى د الله تعالى پيرزوينو نه منکر سي] نو يقينا چې د زما رب غني او بنه سخي ذات دئ، يعنى د هيڅ چا شکر و يستلو ته محتاج ندئ [يعنى څه اړتيا ورته نلري] ځکه الله بنه غنى او سخي ذات دئ او خپل نعمتونه په هر چا باندې پيرزو کوي.

[٤١] [نو بيا سليمان عليه السلام د خپلو لښکرو مشرانو ته] وو يل: د سبأ ملکې ته د هغې تخت څيره واړه وى، ترڅو وګورو چې آيا هغه خپل تخت پيژني او که دا د هغو کسانو نه ده چې څه شئ نه پيژني؟ يعنى سليمان عليه السلام وغوښتل چې ملکه وازمايي او د هغې ذهني زکاوت معلوم کړي.

[٤٢- ٤٣] نو بيا چې د سبأ ملکه راغله ورته وو يل سول: آيا د ستا تخت داسې ؤ؟ ملکې وو يل: هوا! لکه چې همغه دئ [يعنى دا چې ملکه

بلقیس د الله په لو یو قدرتونو پوه سوه او ورته تسلیم سوه، نو بیا سلیمان عليه السلام وو یل:] هو! مونږ ته الله پر خپلو قدرتونو باندې علم او پوهه د ملکې نه مخکې راکړي وه، نو مونږ مسلمانان وو[یعنی الله ته تسلیم سوی وو او د هغه حکمونه مونږ منلي ول] او د سبأ ملکه هغو ناحقه معبودانو د الله بنده کې نه منعې کړې وه چې ملکې د الله نه پرته د هغوی فرمان ووړ او بنده کې یې کړه، او یقینا چې د سبأ ملکه د کافرانو نه وه، یعنی خپل رب الله یې په حق او ر ښتیا سره نه پیژاند، نو ځکه یې د بتانو عبادت کا ؤ!

[٤٤] نو بیا ملکې ته وو یل سول: د سلیمان مانۍ تالار ته ورننوځه، نو ملکې چې کله هغه تالار ولیده؛ د ډنډ سوو او بو خیال یې ور باندې وکه [او خپلې پای څې یې راجګې کړې] او پوندې یې لوڅې سوې، نو سلیمان ورته وو یل: دا ښوئ انګړ دئ او د ښیښې نه جوړ سوئ دئ، نو بیا د سبأ ملکې دعاء وکړه او و یو یل: ای د زما لو یه څښتنه! یقینا چې ما پر خپل ځان باندې ظلم او تیرئ کړئ ؤ، خو دا دئ اوس د سلیمان سره الله ته چې د ټولې نړۍ خدای او لوی څښتن دئ تسلیم سوم.

درندو دوستانو! د سبأ ملکې دا قصه د هغې لوی او پاخه عقل څرګندو یه ده، ځکه کله چې هغې د سلیمان عليه السلام پیغام تر لاسه که؛ پوه سوه چې سلیمان عليه السلام هغه تسلیمدو ته رابولي، نو لمړئ یې د خپلو لښکرو مشرانو سره مشوره وکړه او بیاچې کله دوی خپلې ځواکمنۍ نه د ډاډ ورکول سره سره واک ملکې ته ورکه، نو ملکې بلقیس د سلیمان عليه السلام سره د اړ یکو جوړولو لار غوره کړه، ترڅو د هغه په تصمیم باندې ځان ښه پوه کړي، ځکه ملکه پدې ښه پوه وه چې د سلیمان غوندې ځواکمنو پاچایانو پر وړاندې در یدل او ورسره دښمني کړل؛ څه اسانه کار ندئ! نو یقینا چې دا قصه له یوې خوا د الله تعالی د هغو لو یو قدرتونو ښکارندوی ده چې خپل بنده سلیمان عليه السلام ته یې څومره لوی ځواک او زور ورکړئ ؤ او خپل ټول لښکر او مرغان یې هغه ته تابع کړی ول، او د بلې خوا دا قصه زمونږ لپاره د عبرت اخستلو او د هوښارۍ پې سارې زده کړه

ده چې ښايي ټول مومنان مخصوصا د حق او عدالت غوښتونکې ډلې او ځيرې هيڅ کله هم په خپل لږ زور او ځواک باندې د دښمن زور په پرتله مغرور نسي او ور باندې ونه غولیږي، او ښايي د خپل پت او عزت ساتلو لپاره تل د دښمن زور او ځواک د پام نه ونه غورځوي او د معقولو لارو نه کار واخلي، او د هر ډول بېړني او عاجل تصميم نه چې ښه ژوره ځيرنه پکې نه وی سوي؛ په کلکه سره ډ ډه وکړي او د ګواښونو نه يې ځان وساتي او هغسې ونکړي، لکه څنګه چې د۲۱ م پېړۍ په لمړ يو لسيزو کې د اسلامي هيوادونو حال ته ګورو؟ ځکه دوی د خپلو ناعاقبت انديشه، ناپوهو او په جز باتوکې مستو مشرانو د لاسه د اور په لمبوکې کلونه کلونه کلک وسوز يدل او هجرتونو ته اړ سول.

ګرانو دوستانو! نو يقينا چې د سبأ ملکې قصه، او همدارنګه د هغې نه پخوا او وروسته نورې تار يخې قصې چې په وار وار سره په قرآن کريم کې راغلې دي؛ هغه د زمونږ پيغمبر محمد ﷺ امت ته د قيامت ورځې راتګ پورې د زدکړې او پند اخستلو پاخه داستانو نه دي، نو ښايې چې د مومنانو ټول مشران، علماء او اسلام ته رابلونکې دعات او ډلې هغه په پوره هوښياری او په سړه سينه ولولي، او په خپل ژوند کې ور باندې عمل وکړي، ترڅو خپل دين او خپل امت ته د خدمت کړو ګټور خادمان وګرځي، نه دا چې بيا تار يخ ور باندې لعنت ووايي او دوی هم د هرڅه نه محروم سوي د دنيا نه کډه سي!

{د صالح عليه السلام قوم د خپل پيغمبر پر وړاندې دوه ډلې سول}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونوکې د صالح عليه السلام قصه د خپل قوم سره يادې کړې ده، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمۡ صَٰلِحًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ فَإِذَا هُمۡ فَرِيقَانِ يَخۡتَصِمُونَ ٤٥ قَالَ يَٰقَوۡمِ لِمَ تَسۡتَعۡجِلُونَ بِٱلسَّيِّئَةِ قَبۡلَ ٱلۡحَسَنَةِۖ لَوۡلَا تَسۡتَغۡفِرُونَ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ٤٦ قَالُواْ ٱطَّيَّرۡنَا بِكَ وَبِمَن

مَّعَكَۚ قَالَ طَٰٓئِرُكُمۡ عِندَ ٱللَّهِۖ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ تُفۡتَنُونَ ٤٧ وَكَانَ فِي
ٱلۡمَدِينَةِ تِسۡعَةُ رَهۡطٖ يُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا يُصۡلِحُونَ ٤٨ قَالُواْ
تَقَٰسَمُواْ بِٱللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُۥ وَأَهۡلَهُۥ ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِۦ مَا شَهِدۡنَا مَهۡلِكَ
أَهۡلِهِۦ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ٤٩ وَمَكَرُواْ مَكۡرٗا وَمَكَرۡنَا مَكۡرٗا وَهُمۡ
لَا يَشۡعُرُونَ ٥٠ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ مَكۡرِهِمۡ أَنَّا دَمَّرۡنَٰهُمۡ
أَجۡمَعِينَ ٥١ فَتِلۡكَ بُيُوتُهُمۡ خَاوِيَةَۢ بِمَا ظَلَمُوٓاْۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ
لِّقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ٥٢ وَأَنجَيۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ٥٣

[٤٥] هو! يقينا چې د ثمود قوم ته مونږ د دوی ورور صالح پیغمبر ورولیږه او هغه دوی ته وو یل چې د الله عبادت او بنده کي وکړی، نو بیا ثمودیان دۀ ډلی سول او د یو بل سره یې اختلاف او دعوا وکړه، یعنی یوې ډلې ایمان راوړ او د صالح عليه السلام پلو یان سول او بله ډله په خپل کفرکې پاتي سوه، او هرې ډلې ځان پر حق باله.

[٤٦] [نو بیا صالح عليه السلام کافرې ډلې ته] وو یل: ای د زما عز یزانو! ولې تاسې بدو کړنو ته مخکې د ښو کړنو نه تلوار او عجله لرئ؟ او ولې د الله نه ښښنه نه غواړئ؟ ځکه کیدای سي پر تاسې باندې رحمت وسي، یعنې الله تعالی به ستاسې ګناه و بښي او خپل رحمت به در باندې راووروي.

[٤٧] [او بیا دغو کافرانو صالح عليه السلام ته] وو یل: ته او هغه څوک چې د ستا سره دي؛ ټول مونږ په بد شامت یا بد فال سره ونیولی [یعنی د ستا ای صالحه! او د ستا ملګرو نه به مونږ ته ز یان او نقصان ورسیږي، نو بیا صالح عليه السلام دوی ته په ځواب کې] وو یل: د ستاسې بد فالي د الله سره ده [یعنی که څه تاوان یا ز یان درته ورسیده، نو هغه د الله لخوا تاسې ته په تقدیرکې لیکل سوئ دئ] خو تاسې داسې خلک یاستئ چې خامخا به په خیر او شر او په ز یان رسیدو سره ازمایښت کیږئ!

[٤٨] هو! د صالح قوم په ښارکې نه ډلې خلک او خیلونه ول، او دوی

په ځمکه کې ورانئ او فساد کا ؤ او اصلاح يې نه غوښتله.

[٤٩] [او بيا د صالح عليه السلام قوم کافرانو يو بل ته] وو يل: پر الله باندې د يو بل سره لوړه او قسم وکړئ چې صالح او د هغه کورنۍ به په شپه کې سره وژنو! او بيا به د دوی خپلوانو او تر برو ته وايو چې د صالح او د هغه کورنۍ وژل مونږ ندي ليدلي او مونږ يقينا چې ر ښتيا و يونکي يو!

[٥٠] [او د صالح قوم کافرانو همداسې د هغه وژلو ته] چل او توطئه جوړه کړه، خو مونږ د هغوی توطئه او چل په داسې ډول شنډ که چې دوی ور باندې پوه نسول، يعنی الله تعالی ناڅاپه پر دوی باندې خپل عذاب راکوز که او دوی يې ځای پرځای ټول هلاک کړل.

[٥١] نو ای پيغمبره! د صالح قوم [کافرانو بدو کړنو او چلونو پايلې ته] وګوره چې څنګه وې؟ او دوی او قوم يې مونږ ټوټه ټوټه هلاک کړل.

[٥٢] نو هغه دي د صالح قوم کورونه چې کنډواله سوی دي، ځکه دوی تيرئ وکه [يعنی د خپل پيغمبر خبرې يې ونه منلې او کافران سول] او يقينا چې پدې کې هوښيارانو ته چې پوهيږی د الله لو يو قدرتونو يوه نښه ده، يعنی نو ښايې چې هرڅوک ورڅخه پند واخلې، او تل يې هغه په ياد کې پاتې وي، ترڅو بل هيڅ څوک دغسې فساد ته زړه ښه نکړي.

[٥٣] او هغو کسانو ته مونږ نجات ورکه چې دوی ايمان راوړ او د الله سزا نه يې خپل ځانو نه په اطاعت او فرمان وړو سره وساتل.

قدرمنو دوستانو! دا قصه د اسلام پيغمبر صلى الله عليه وسلم او د هغه دين ته را بلونکو دعاتو او نورو ټولو مومنانو ته د ډاډ، اطمئنان، بريا او د خلاصون لوی ز يرئ دئ، او يقينا چې الله تعالی مومنانو ته چې په خپل ايمان يې صبره کړئ دئ او سختي يې زغملې دي او خپل زړه يې ور باندې کلک کړئ دئ؛ نجات ورکوي او د دښمن ګواښوونکو توطئيو نه يې ساتي او بيا په دنيا او آخرت کې سر لوړي ور په برخه کوي.

{د لوط عليه السلام قوم د نار ينوو زلمكيانو نه جنسي خوند اخست}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د لوط عليه السلام قصه د خپل سرکښې او بد فعله قوم سره مونږ ته کړې ده، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ ﴿٥٤﴾ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴿٥٥﴾ * فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓا۟ أَخْرِجُوٓا۟ ءَالَ لُوطٍ مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴿٥٦﴾ فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ قَدَّرْنَٰهَا مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿٥٧﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَسَآءَ مَطَرُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿٥٨﴾﴾

[٥٤-٥٥] [اى پيغمبره! او د لوط عليه السلام قصه خپلو خلكو ته ور ياده كړه] هو! كله چې لوط خپل قوم ته وو يل: آيا تاسې د هلكانو سره په ملاسته فحشا كړئ؟ او په سترګو و ينئ چې دا ډيره بده او كركجنه كړنه ده [يعنې نښه پوهيږئ چې دا ډير بد كار دئ، نو بيا ولې دغسې بد كړئ؟] او آيا تاسې اى خلكو! په ر ښتيا سره نښځو نه پرته د نار ينوو نه جنسي شهوت خوند اخلئ؟ نو تاسې ډير ناپوه قوم ياستئ، يعنى بد خلک ياستئ!

[٥٦] نو بيا د لوط قوم بل ځواب نه درلود، مګر دا چې يو بل ته يې سره وو يل: د لوط كورنئ د خپل كلي نه و باسئ، ځكه دوى يقينا داسې خلک دي چې په كلكه سره د نار ينوو سره ملاستى نه ځانونه پاک ساتي.

[٥٧- ٥٨] نو بيا مونږ لوط او د هغه كورنئ ته پرته د هغه ميرمنې نه نجات وركه او ميرمن يې د هلاك سوو نه وه، او د لوط په [بچه باز] قوم باندې مونږ د تيګو باران راووورا ؤ او دغه باران په دغو ګواښل سوو خلكو باندې [چې مخكې دوى ورځخه ګواښل سوي ول] ډير بد باران ؤ، يعنى كلك وژونكئ باران ؤاو د لوط عليه السلام سركښه او بد فعله قوم يې ټول هلاك او تباه كړل.

{د الله پر توحيد دليلونه او د مشرکانو خدايانو بطلان اعلان}

او بيا د دغو قصونه وروسته چې لوی مقصديې د قرآن ر يښتينوالي بيان ؤ؛ په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د اسلام پيغمبر محمد ﷺ ته په حکم کړو سره فرمايلي دي:

{د الله سره بل څوک په خدايي کې شريک ندئ}

﴿قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ وَسَلَٰمٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ ٱلَّذِينَ ٱصۡطَفَىٰٓۗ ءَآللَّهُ خَيۡرٌ أَمَّا يُشۡرِكُونَ ٥٩ أَمَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَنۢبَتۡنَا بِهِۦ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهۡجَةٖ مَّا كَانَ لَكُمۡ أَن تُنۢبِتُواْ شَجَرَهَآۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٞ يَعۡدِلُونَ ٦٠ أَمَّن جَعَلَ ٱلۡأَرۡضَ قَرَارٗا وَجَعَلَ خِلَٰلَهَآ أَنۡهَٰرٗا وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِيَ وَجَعَلَ بَيۡنَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ حَاجِزًاۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٦١ أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجۡعَلُكُمۡ خُلَفَآءَ ٱلۡأَرۡضِۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ٦٢ أَمَّن يَهۡدِيكُمۡ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَمَن يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦٓۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ تَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٦٣ أَمَّن يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَمَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ قُلۡ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٦٤ قُل لَّا يَعۡلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلۡغَيۡبَ إِلَّا ٱللَّهُۚ وَمَا يَشۡعُرُونَ أَيَّانَ يُبۡعَثُونَ ٦٥ بَلِ ٱدَّٰرَكَ عِلۡمُهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ مِّنۡهَاۖ بَلۡ هُم مِّنۡهَا عَمُونَ ٦٦﴾

[٥٩] ای پيغمبره! ته الحمد لله ووايه او د الله په غوره سوو بندګانو باندې چې پيغمبران دي؛ سلام واچوه او د خپل قوم کافرانو نه و پوښته چې آيا الله ښه او غوره ځښتن دئ؟ او که هغه بې وسې بتان چې دوی يې د الله سره په خدايي کې شر يکوي؟ يعنی يقينا الله چې لوی خالق او

واکمن څښتن دئ؛ د مشرکانو بې وسې خدایانو نه ښه غوره پالونکئ ذات دئ.

[٦٠] [ای پیغمبره! او همدارنګه د مشرکانو نه و پوښته آیا د کافران دغه ناحقه معبودان ښه دي او د بنده ګي وړتیا لري؟] او که هغه څوک چې اسمانو نه او ځمکه یې پیدا کړل او د اسمان نه یې تاسې ته او به راوورولې؟ نو بیایې په دغو او بو مونږ ته ښایسته او ښکلي باغون راشنه کړل، او تاسې ای خلکو! د باغونو ونو د راشنو کولو وسعه نه درلوده؟ نو آیا د الله سره بل څوک په حق سره معبود سته؟ [ځواب: نا! الله هیڅ څوک شر یك نلري] خو مشرکان د حق نه اوښتي دي!

[٦١] او آیا د هغه چا سره چې ځمکه یې د لړز یدلو نه قراره کړه او وې دروله او سیندونه یې پکې و بیول او غرونه یې پر ځمکه میخ کړل او د دؤ سمندرونو تروې او خوږې او به یې سره بیلې کړې، نو آیا د دغسې الله سره بل په حق سره معبود خدای سته؟ [ځواب: نا! د الله سره بل هیڅ څوک په حق سره معبود نسته] خو ډیر کافران په څه نه پوهیږي، یعنی د الله عظمت د هغه په مخلوقاتوکې نه و یې او نې پیژني!

[٦٢] [او ای خلکو! آیا هغه څوک ښه غوره رب دئ؟] چې د مصیبت ځپلو خلکو دعاء چې کله د الله نه څه شئ وغواړي؛ قبلوي او سختي ورڅخه لرې کوي، او تاسې یې ای خلکو! الله په ځمکه کې خلیفه ګان ګرځولې یاستې [معنا تاسې یې د ځمکې په ودانۍ کې یو بل پسې ځای ناستي ګرځولې یاستې] نو آیا د دې لوی رب الله سره بل په حق سره معبود سته؟ [ځواب: نا! د الله سره هیڅ څوک په خدایي کې شر یك ندي] خو د ستاسې نه ډیر لږ کسان پند اخلي او ځانونه په خبره پوه کوي!

[٦٣] او ای خلکو! آیا تاسې د هغه رب الله سره چې هغه د وچې او د او بو په تیاروکې تاسې سمې لارې ته سموي او د خپل رحمت بارانونو نه وړاندې بادونه یا شمالونه تاسې ته ز یږئ درکونکې را لیږي، نو آیا د هغه نه پرته بل څوک په حق سره معبود بولې او د الله سره یې شر یکوې؟

[ځواب: نا! ځکه د مشرکانو دغسې ضعیفو خدایانو نه] الله ډیر لوړ دئ.

[٦٤] او ای خلکو! آیا د هغه رب الله سره بل څوک په حق سره معبود ســته؟ چې هغه لمړئ ټول خلک پیدا کړل او بیا دوی مړه کوي او بیایې بیرته را ژوندي کوي، او تاســې ته ای خلکو! د ځمکې او اســمان نه روزي درکوي؟ [ځواب: نا! د هغه نه پرته بل په حق ســره معبود نســته، او ای پیغمبره! کافرانو ته] ووایه: که تاســې ر ښتیا و یونکي یاســتی، نو خپل کلک دلیل راوړی، یعنی داچې ترڅو هغه د ستاسې کفر او شرک تصدیق کړي؟

ګرانو عز یزانو! خو د مکې مشرکانو د دغو ټولو پوښتنو په ځواب کې چې هغه د الله تعالی په توحید باندې په ر بوبیت او الوهیت کې ښکاره او قاطع دلیلونه دي؛ هیڅ کم منل سوئ دلیل او برهان نه درلود!

[٦٥-٦٦] ای پیغمبره! [کافرانو ته] ووایه: د الله نه پرته نور ټول هغه څوک چې په ځمکه او اســمانوکې دي په غیب او په پټو شــیانو باندې نه پوهیږي [یعنی یوازې الله تعالی په غیبو او په پټو شیانو باندې علم لري او پرې پوهیږي، او کله چې خلک مړه ســي] نو پدې نه پوهیږی چې کله به د خپلو ګورونو نه بیرته راجګول کیږي، او کافران خو د قیامت په ورځ په بیرته را ژوندي کیدو کې هم شکمن دي او د لیدلو نه یې ړلانده دي او باور ور باندې نلري، خو د آخرت په ورځ به د دوی علم بیا یقیني ســي، یعنی په هغه ورځ به بیا ګوري چې دا دئ اوس بیرته را ژوندي ســوي دي، خو دا یقین بیا دوی ته په هغه ورځ هیڅ ګټه نلري.

{کافران د مرګ نه وروسته ژوند په آخرت کې دروغ بولي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د کافرانو منکر یدل د آخرت ورځې نه یاد کړي او بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا وَءَابَآؤُنَآ أَئِنَّا لَمُخۡرَجُونَ ٦٧ لَقَدۡ وُعِدۡنَا هَٰذَا نَحۡنُ وَءَابَآؤُنَا مِن قَبۡلُ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٦٨ قُلۡ

سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٦٩ وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَلَا تَكُن فِي ضَيۡقٖ مِّمَّا يَمۡكُرُونَ ٧٠ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٧١ قُلۡ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ رَدِفَ لَكُم بَعۡضُ ٱلَّذِي تَسۡتَعۡجِلُونَ ٧٢ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَشۡكُرُونَ ٧٣ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعۡلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمۡ وَمَا يُعۡلِنُونَ ٧٤ وَمَا مِنۡ غَآئِبَةٖ فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٍ ٧٥

[٦٧-٦٨] او هغه کسان چې کافران سول [یعنی د الله تعالی توحید نه منکر سول] نو دوی وو یل: آیا کله چې مونږ او د زمونږ پلرونه خاورې سي، نو آیا بیا به مونږ بیرته د ګورونو نه را و یستل کیږو؟ هو! دغسې وعدې د زمونږ سره او مخکې د زمونږ پلرونو سره سوې دي، خو هغه خوسې د پخوانیو لیکنې دي، یعنی ر یښتیا ندي او [نعوذ بالله] حقیقت نلري.

[٦٩] نو ته ای پیغمبره! [کافرانو ته] ووایه: لاړ سی په ځمکه کې وګرځئ او بیا وګورئ چې د پخوانیو مجرمانو او کافرانو راتلونکې څنګه وه او دوی څه سول؟ یعنی ځواب داچې دوی ټول تباه او هلاك سول.

[٧٠] او ته ای پیغمبره! [د کافرانو په دغسې بې بنسټه خبرو باندې] مه غمجن کیږه او د دوی په مکر او چلونو خپل زړه مه په تنګه ؤ، یعنی دا ځکه چې الله د ستا مرستندوی دئ.

[٧١] [او بیا دغه کافران د مومنانو نه پوښتي او ورته] وایي: ای مومنانو! که تاسې [او د ستاسې پیغمبر] ر یښتیا وایي، نو د دغو ګواښونو او عذابونو وعدو وخت کله راځي؟

[٧٢] نو ته ای پیغمبره! [دوی ته په ځواب کې] ووایه: کیدای سي چې د دغو سزاګانو یوه برخه چې تاسې ای کافرانو! ورته تلوار لرې هغه در پښا سي، یعنی په دنیا کې تاسې ته سزا درکړه سي، لکه څنګه چې بیا د کافران ډیر مشران د بدر په غزا کې ووژل سول او مختورن د دنیا نه لاړل.

[۷۳] ای پیغمبره! او یقینا چې د ستا رب پر خلکو باندې د ډیرو ورکړو او پیرزو ینو خاوند دئ، خو ډیر خلک یې شکر نه باسي، یعنی ایمان نه راوړي او خپل رب او لوی څښتن په توحید سره نه پیژني او په اخلاص او توحید سره د الله عبادت نکړي!

[۷۴-۷۵] او هم د ستا رب ای پیغمبره! د خلکو د زړونو په پټو او ښکاره ټول حال باندې ښه پوه دئ، او هیڅ کم شئ په اسمان او په ځمکه کې د الله نه پټ ندی، مګر هغه څه چې د الله سره په لیکل سوي روښانه کتاب کې ثبت دي، معنا داچې الله تعالی په خپلو ټولو مخلوقات علم لري او ښه ور باندې پوه دئ، او هرڅه چې په ځمکه او اسمان کې دي؛ هغه ټول د لوح محفوظ کتاب کې لیکل سوي ثبت دي.

درندو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې خپل پیغمبرﷺ ته د هغه کافر او مشرك قوم مشرانو سره د اوږدې مرکې او مناقشې نه وروسته د بحث او استدلال لارښودنه کړې ده او د دوی ټولو پوښتنو، شبهو او شکونو ته یې ډیر پر یکنده کلک ځوابونه د کلکو دلیلونو په قوي استدلال سره و یلي او ښودلي دي، ترڅو دغسې د استدلال او بحث تګ لاره د الله حق دین اسلام ته رابلونکي دعات او پوهان د بشري ټولنو ټولو پرګنو را بلنې لپاره د قیامت ورځې راتګ پورې؛ خپله دنده وګرځوي او د الله تعالی توحید ته او نورو ټولو حکمونو منلو ته په دین کې خلک په کلک استدلال او قوي منطق سره را و بولي، ترڅو دوی په پاخه باور او ډا ډه زړه سره حق ومني او په ر یښتیا سره مومنان سي، او الحمدلله د اوسنۍ تکنالوژۍ په مټ همدا د بحث او د پاخه استدلال تګ لاره هوښارانو دعاتو خپله کړې ده او د دوی د دعوت په برکت هرکال په زرهاوو کافران او بت پرستان ایمان راوړي او په اسلام کې رانغوځي او د الله تعالی حق دین مني.

{قرآن مومنانو ته د الله تعالی رحمت او لارښود پیغام دئ}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د قرآن مجید عظمت او

لو يتيا سره د هغه ر ښتينوالي او حقانيت؛ ياد کړئ او بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ يَقُصُّ عَلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَكْثَرَ ٱلَّذِى هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٧٦﴾ وَإِنَّهُۥ لَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾ إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِى بَيْنَهُم بِحُكْمِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٧٨﴾ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۖ إِنَّكَ عَلَى ٱلْحَقِّ ٱلْمُبِينِ ﴿٧٩﴾ إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ ٱلْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوْا۟ مُدْبِرِينَ ﴿٨٠﴾ وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِ ٱلْعُمْىِ عَن ضَلَٰلَتِهِمْ ۖ إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ ﴿٨١﴾﴾

[٧٦-٧٧] هو! يقينا چې دا قرآن بني اسرائيلو ته ډيرې هغه مسئلې چې دوی پکې اختلاف لري بيانوي [يعنی حق پکې روښانه کوي] او يقينا چې قرآن مومنانو ته لارښود دئ [يعنی سمه لار ورښيي] او هغه مومنانو ته د الله رحمت او مهر بانی پيغام دئ.

[٧٨- ٧٩] ای پيغمبره! يقينا چې د ستا رب الله د خلکو په منځ کې په خپل حکم سره پر يکړه کړي او الله لوی ځواکمن او ښه پوه رب دئ، نو ته ای پيغمبره! پر الله باندې توکل او پر وسعه وکړه [يعنی ځان ده په الله تعالی وسپاره] او يقينا چې ته په روښانه حق باندې يې.

[٨٠- ٨١] ای پيغمبره! او يقينا چې ته مړو ته د حق غږ ور اورولای نسې او نه ته دا غږ هغو کنړو ته وراورولای سې چې کله دوی د ستا بلنې نه بيرته په شا واوښتل، او نه ته ړلانده د خپلې ورکتيا نه سمې لارې ته سمولای سې، او ته ای پيغمبره! يوازې هغه چا ته حق اورولای سې چې هغه د زمونږ کتاب په آيتونو باندې ايمان راوړئ وي، نو دوی مسلمانان دي، يعنی ځانو نه يې د الله حکم ته تسليم کړي دي، خو کافران چې د مړو غوندې ړانده او کانه دي نه حق اوري او نه يې و يني، نو دوی ته وعظ او نصيحت کټه نلري!

قدرمنو دوستانو! دا مبارک آيتونه رسول الله ﷺ ته ډاډ او اطمئنان دئ، او کافران الله تعالی مړو، کنړو او ړندو ته ورته بللي دي، ځکه دوی نه

څه اوري او نه څه و يې، نو ځکه ايمان نه راوړي، خو مومنانو چې د الله تعالى کتاب پر آيتونو باندې ايمان راوړ او هغه يې ومنل او ورته تسليم سول؛ دوی د رسول الله ﷺ خبري اوري او هغه مني او عمل پرې کړي.

{د قيامت ورځې نښو راتګ کافر انو ته د ګواښ لوی پيغام دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې کافران الله تعالى د قيامت ورځې راتګ په نښو او بيا د قيامت ورځې په کلکو سزاګانو ګواښلي او فرمايلي دي:

﴿*وَإِذَا وَقَعَ ٱلْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَآبَّةً مِّنَ ٱلْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ ٱلنَّاسَ كَانُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا لَا يُوقِنُونَ ﴿٨٢﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ فَوْجًا مِّمَّن يُكَذِّبُ بِـَٔايَـٰتِنَا فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿٨٣﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُو قَالَ أَكَذَّبْتُم بِـَٔايَـٰتِى وَلَمْ تُحِيطُوا۟ بِهَا عِلْمًا أَمَّاذَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨٤﴾ وَوَقَعَ ٱلْقَوْلُ عَلَيْهِم بِمَا ظَلَمُوا۟ فَهُمْ لَا يَنطِقُونَ ﴿٨٥﴾ أَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا جَعَلْنَا ٱلَّيْلَ لِيَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَـٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٨٦﴾ وَيَوْمَ يُنفَخُ فِى ٱلصُّورِ فَفَزِعَ مَن فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُ ۚ وَكُلٌّ أَتَوْهُ دَٰخِرِينَ ﴿٨٧﴾ وَتَرَى ٱلْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِىَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِ ۚ صُنْعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِىٓ أَتْقَنَ كُلَّ شَىْءٍ ۚ إِنَّهُۥ خَبِيرٌۢ بِمَا تَفْعَلُونَ ﴿٨٨﴾ مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيْرٌ مِّنْهَا وَهُم مِّن فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ ءَامِنُونَ ﴿٨٩﴾ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ وُجُوهُهُمْ فِى ٱلنَّارِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٠﴾*﴾

[٨٢] او کله چې د عذاب راتګ پر کافرانو باندې يقيني سي، نو بيا مونږ [د قيامت ورځې راتګ د لو يو نښانو نه دوی ته] د ځمکې نه يو خوځيدونکئ څاروئ را باسو (دابة الأرض) چې د کافرانو سره خبري کړي، او يقينا چې کافران د زمونږ کتاب په آيتونو باندې باور نکړي، يعنى هغه نه مني او ايمان نه راوړي.

درندو دوستانو! دابة الأرض چې يو خوځيدونکئ څاروئ دئ؛ هغه د

قيامت ورځې د لو يو نښانو نه؛ يوه نښه ده او د قيامت ځينې نورې لويې نښې دا دي: لمر به د لو يديځ نه را وخيژي، او لوی دود به په ځمکه کې خور سي، ياجوج او ماجوج به را ووځي، عيسىعليه السلام به د اسمان نه راکوز سي، دجال به راسي او ځمکه به وچوي او ډو به به سي!

[٨٣- ٨٥] ا و د قيامت په ورځ د هر امت نه مونږ هغه کسان ډله ډله را ټولوو چې دوی د زمونږ کتاب آيتونه او دليلونه دروغ و بلل، نو بيا دوی ټولځ ټولځ حساب ورکولو ته درول کيږي، ترڅو چې کله ټول راغوند سول [يعنی نو بيا الله تعالی دغو کافرانو ته په غږ کړو سره] وايي: آيا تاسې د زما کتابونو آيتونه [يعنی د قدرتونو نښې او دليلونه] په داسې حال کې دروغ وګڼل چې تاسې ور باندې نه پوهيدلی؟ او يا دا چې تاسې بيا څه کړل؟ نو بيا کافران چوپ وي او خبرې نکړي، ځکه پر دوی باندې نور د دوی د کفر سزا را لو يدلې ده، يعنی دوی د خلاصون او د ژغورنې لار نلري او نجات نه مومي.

[٨٦] او آيا دغو کافرانو [د زمونږ قدرتونه او نعمتونه ونه ليدل] چې شپه مونږ دوی ته د دمې لپاره ګرځولی ده، ترڅو پکې ارام وکړي او ورځ مونږ ور ته رڼا کړې ده [يعنی ترڅو پکې د خپل ژوند اړتياوې پوره کړي] او يقينا چې دغه نښانې مومنانو ته د الله د قدرتونو پيژندنې دليلونه دي، يعنې نو ځکه مومنانو هغه ومنلې او ايمان يې راوړ، او همدارنګه ټولو هوښياران ته ښايي چې په دغو نښانوکې ښه ژور فکر وکړي او ايمان راوړي، ترڅو د الله عذاب نه د قيامت په ورځ نجات بيامومي او جنتونه يې برخه سي.

[٨٧-٨٨] ای پيغمبره! او هغه ورځ خلکو ته ور په ياد کړه چې کله د قيامت ورځې راتګ سورئ پوه سي، نو بيا پرته د هغو کسانو نه چې دوی ته الله ډاډ او اطمئنان غوښتئ وي؛ نور په اسمانو او په ځمکه کې ټول ميشت اوسيدونکي په کلکه و يره کې ورخطا سي، نو بيا ټول خلک په زوندو سرونو تسليم سوي الله ته راځي، او په هغه ورځ ای پيغمبره! غرونه وچ سوي و يې او هغه د وورو غوندې په خوزښت کې وي، او دا د الله

جوړونه ده او هرڅه يې ښــه پاخه پکې جوړ کړي دي، او يقينا چې الله د ســتاســې په کړنو باندې ښــه خبر دئ، يعنى هر چا ته الله تعالى د هغه د ښو او بدو کړنو ثواب او سزا ورکوي، او االله تعالى لوى عادل او ځواکمن رب دئ او هر څه په پوره واکمنۍ او عدالت سر کړاى سي.

[٨٩] او هر څوک چې د قيامت په ورځ د ښو کړنو ســره راغئ، نو هغه تــه د ده د کړنو نــه لا ښــــه ډير ثواب ورکول کيږي، او دغــه ښــــه خلک (مومنان) نور د قيامت ورځې ورخطايي او و يرې نه په ډاډ او امن کې وي.

[٩٠] او څوک چې د بدۍ او ګناه ســره راغلل، نو پرمخې پرا ته به د دوزخ اور ته ورغوځول کيږي، او بيا ورته و يل کيږي: آيا تاسې ته د خپلو بدو کړنو نه پرته سزا درکوول کيږي؟

ګرانو عز يزانو! دغــې پوښــتنې ته د ژبې پوهان انکاري پوښــتنه وايي او ځواب يې دا دئ چې دا سزا د کافرانو خپلو بدو کړنو او د ګناه سزا ده، او پر دوى باندې هيڅ ډول ظلم او تيرئ ندئ ســوئ!

{د کعبې معظمې رب الله بنده ګي په ټولو خلکو فرض ده}

او په ور پســې مبارکو آيتونوکې الله تعالى رســول الله ﷺ ته لارښــودنه کړې ده چې خپل رســالت چې د بيت الله شــريف لوى رب عبادت فرضــيت په خلکو باندې دئ؛ هغه دوى ته اعلان کړي، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّمَآ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ رَبَّ هَٰذِهِ ٱلْبَلْدَةِ ٱلَّذِى حَرَّمَهَا وَلَهُۥ كُلُّ شَىْءٍ ۖ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿٩١﴾ وَأَنْ أَتْلُوَا۟ ٱلْقُرْءَانَ ۖ فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن ضَلَّ فَقُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُنذِرِينَ ﴿٩٢﴾ وَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ سَيُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ فَتَعْرِفُونَهَا ۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾﴾

[٩١-٩٢] [اى پيغمبره! ته خپل امت ته اعلان وکه او ورته ووايه]ما ته په يقين ســره حکم ســوئ دئ چې زه د دې ښــار ګوټي [يعنى د مکې معظمى] رب الله عبادت او بندګي وکړم او دا رب هغه څوک دئ چې مکه يې حرامه کړې ده [يعنى ناحقه وژل او ظلم په مکه معظمه کې الله تعالى کلک منع

کړئ دئ] او هر څه د الله په واک کې دي، او ما ته حکم سوئ دئ چې زه د مسلمانانو نه وم [یعنی د الله حکمونو ته تسلیم سم] او قرآن خلکو ته تلاوت کړم [او بیایې حکمونه دوی ته ورسوم او ورزده یې کړم] او بیا چې څوک سمې لارې ته سم سه، نو د هغه هدایت ګټه خپل ځان ته رسیږي، او څوک چې د سمې لارې نه ورک سه، نو ته[ای پیغمبره! خلکو ته اعلان وکه] او ورته ووایه: یقینا چې زه ګواښونکئ یم، یعنی خلک د الله عذاب نه و یروم او د الله اطاعت ته یې رابولم!

[٩٣] ای پیغمبره! [او ته د الحمد لله کلمې په و یلو سره خلکو ته] ووایه: ای خلکو! الله چې د ټولو ستاینو مستحق لوی رب دئ؛ هغه به د خپلو لو یو قدرتونو نښې په ځمکه او په اسمانوکې تاسې ته دروښیي، نو بیا به هغه و پیژنئ [یعنی حق او باطل به سره بیل کړئ، او ای پیغمبره!] د ستا رب الله د ستاسې کړنو نه غافل ندئ، یعنی هر چا ته الله د هغه ښو او د بدو کړنو ثواب او سزا ورکوي.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغسې ډاډ ورکولو سره د خپلو لو یو قدرتونو او د ځواکمنې پیغام رسول الله ﷺ ته او د هغه امت ته رسولئ دئ، نو ښایي د پیغمبرﷺ وارثان، علماء او دعات دا پیغام خپلو ولسونو ته په هرځای او په هرعصرکې په پوره امانت سره ورسوي.

والحمدلله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله الطيبين الطاهرين، وعلى أصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د القصص سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د القصص سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدونه}

درندو دوستانو! د القصص مبارکه سوره مکي سوره ده، او په هغه کې د اسلام پیغمبر ﷺ او د هغه امت ته د پخوانیو پیغمبرانو قصې خپلو امتونو سره الله تعالی یادې کړې او بیان کړې دي، ترڅو دا قصې رسول الله ﷺ ته د تسلیت او ډاډ پیغام وي، ځکه چې پکې د حق بر یا او د باطل ماته په پوره روښتیا سره یاده سوې ده، او د القصص سوره د الشعراء او د النمل مبارکو سورو غوندې په (طاء، سین، میم) غوندي هجایي مقطعاتو تورو سره چې یو د بل نه بیل بیل پر یکړ سوي لوستل کیږي؛ پیل سوې ده، او لکه څنګه چې په ور پسې مبارکو آیتونوکې ښکاري؛ مقصدیي د قرآن کر یم بیاني او ادبي اعجاز ته کوته نیونه او اشاره ده، او د دې مبارکې سورې بل لوی مقصد دا دئ چې په کلکه سره یې مونږ ته اعلان کړئ دئ چې د الله تعالی وعدې خامخا پلې کیږي او حق به حق دار ته سپارل کیږي، نو پدې مبارکه سوره کې همداسې الله تعالی مونږ ته ښه ډیر ر ښتین ارزښتونه بیان کړي دي او د ایمان په حقانیت یې ټینګار کړئ دئ، ځکه الله تعالی د مومنانو مل او ملاتړ دئ، نو دوی ده په کلک ډاډ او اطمئنان سره خپلې منګلې په حق باندې ټینګې کړي او هیڅ کله ده د باطل پلو یانو ګواښونو پروا نکړي او حق ته رابلنې کاروان ده په کلک باور په مخ یوسي، او د دې مبارکې سورې په پیل کې الله فرمایلي دي:

{د قرآن آیتونه حق دي او فرعون د خدایي دعوا وکړه}

﴿طسٓمٓ ۝١ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ۝٢ نَتۡلُواْ عَلَيۡكَ مِن نَّبَإِ مُوسَىٰ

وَفِرْعَوْنَ بِٱلْحَقِّ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٣﴾ إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِى ٱلْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَآئِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْىِۦ نِسَآءَهُمْ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٤﴾ وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ ٱلْوَٰرِثِينَ ﴿٥﴾ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَنُرِىَ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَحْذَرُونَ ﴿٦﴾

[١-٣] [ای پیغمبره!] هغه د [طاء، سین، میم] غوندې عربي تورو نه جوړې سوې خبرې؛ د الله نه رانازل سوي روښانه کتاب (قرآن) آیتونه دي [یعنی دا کتاب پر تا باندې ای پیغمبره! مونږ را نازل کړي دئ] نو ای پیغمبره! د موسی او فرعون قصې مونږ پر تا باندې په حق او ر ښتیا سره لولو، او دا قصې هغو کسانو ته چې ایمان پې راوړئ دئ [د حق منلو لپاره د ډاډ ز یرئ دئ، ځکه پیغمبرﷺ مخکې له وحې ورځخه خبر نه ؤ]

[٤-٦] هو! یقیناچې فرعون په ځمکه کې کبر وکه [یعنی ځان پې په نورو خلکو باندې لوړ او وچت و باله] او نور خلک پې ډله ډله کړل او سره و یشکول، او د دوی یوه ډله پې داسې بې وزره کړل او ځان ته پې لاس لاندې وکړځول چې زامن پې ووژل او ښځې پې ژوندۍ پر ښودلې، نو یقینا چې فرعون د مفسدانو نه ؤ [یعنی په ځمکه کې پې ورانئ کا ؤ] نو مونږ غواړو هغو کسانو سره چې په ځمکه کې ضعیف او بې وزره دي؛ ښه وکړو او دوی مخکښان او مشران وکړځوو [یعنی د فرعون غوندې ظالمانو د هلاکت نه وروسته] دوی د هغوی ځای ناستي او وارثان وکړځوو او په ځمکه کې ورته واکمني ورکړو، او فرعون او هامان او د دوی لښکرو ته هغه څه وروښیو چې دوی ورځخه و یره درلوده، یعنی د مخنیوی لپاره پې منډې وهلې او بني اسرائیل دوی خپلو ځانو ته کوابنې و ګڼل، نو بیایې کلک وځپل، خو الله تعالی دوی ته خپل لوی قدرت وښود او دوی پې هلاك او تباه کړل او ر ینبې پې وایستلې.

قدرمنوعز یزانو! روایت سوئ دئ چې کله فرعون ته د هغه منجمینو

په خپلو خبروکې وو يل چې د ستا واکمني او پاچايي به د يوه داسې چا په لاس ړنګيږي چې هغه په بني اسرائيلوکې ز يږ يږي، نو بيا فرعون فرمان ورکه چې هر څوک په بني اسرائيلوکې هلک وز يږ يده؛ هغه ده ووژل سي او که چيرې جلی وز يږدله، نو هغه ده ژوندی پاتې سي، ترڅو د فرعونيانو خدمت کونکې مينځه وي، نو الله تعالی چې لوی ځواکمن او عادل رب دئ د فرعون ظلم او د هغه کبرجنه امپراتوري پې رانسکوره کړه او بني اسرائيل پې د هغه ظلم نه خلاص کړل او حق پې پر باطل باندي زورور او برلاسئ که، او دغه د زدکړې او د پند اخستلو نه ډکه قصه پې رسول الله ﷺ ته وحيه کړه، ترڅو د مکې کافران د هغه پيغمبري ومني، ځکه رسول الله ﷺ د قران را نازليدو نه وړاندې د پخوانيو پيغمرانو قصو نه په دغسې رونټيا او تفصيل سره خبر نه ؤ.

{د ماشوم موسی عليه السلام نجات د الله قدرتونو لو يه نښه وه}

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارکو آيتونوکې د همدې قصې په پوره بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَرۡضِعِيهِۖ فَإِذَا خِفۡتِ عَلَيۡهِ فَأَلۡقِيهِ فِي ٱلۡيَمِّ وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحۡزَنِيٓۖ إِنَّا رَآدُّوهُ إِلَيۡكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٧ فَٱلۡتَقَطَهُۥٓ ءَالُ فِرۡعَوۡنَ لِيَكُونَ لَهُمۡ عَدُوّٗا وَحَزَنًاۗ إِنَّ فِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا كَانُواْ خَٰطِـِٔينَ ٨ وَقَالَتِ ٱمۡرَأَتُ فِرۡعَوۡنَ قُرَّتُ عَيۡنٖ لِّي وَلَكَۖ لَا تَقۡتُلُوهُ عَسَىٰٓ أَن يَنفَعَنَآ أَوۡ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدٗا وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ٩ وَأَصۡبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَٰرِغًاۖ إِن كَادَتۡ لَتُبۡدِي بِهِۦ لَوۡلَآ أَن رَّبَطۡنَا عَلَىٰ قَلۡبِهَا لِتَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٠ وَقَالَتۡ لِأُخۡتِهِۦ قُصِّيهِۖ فَبَصُرَتۡ بِهِۦ عَن جُنُبٖ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ١١ * وَحَرَّمۡنَا عَلَيۡهِ ٱلۡمَرَاضِعَ مِن قَبۡلُ فَقَالَتۡ هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰٓ أَهۡلِ بَيۡتٖ يَكۡفُلُونَهُۥ لَكُمۡ وَهُمۡ لَهُۥ نَٰصِحُونَ ١٢ فَرَدَدۡنَٰهُ إِلَىٰٓ أُمِّهِۦ كَيۡ تَقَرَّ عَيۡنُهَا وَلَا

تَحۡزَنَ وَلِتَعۡلَمَ أَنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ١٣

[٧-٨] [هو! کله چې د موسی مور هلک وز یږا ؤ، نو هغه ور باندې د فرعون وژلو نه وو یردله، نو بیا مونږ ورته په زړه کې ډاډ واچا ؤ] او ورته مو الهام وکه چې خپل ماشوم ته ده په ډاډه زړه ټۍ ورکړه، خو کله چې ته د فرعونیانو د خبریدلو نه په خپل ماشوم باندې وو یر یدلې، نو بیا خپل ماشوم په یوه ټوکرۍ (صندوق) کې کیږده او د مصر نیل سیند په او بو کې یې واچوه او ته مه خفه او غمجنه کیږه، ځکه مونږ به هغه په یقین سره بیرته تا ته راولو، او بیا موسی مونږ د پیغمبرانو نه وګرځا ؤ، نو بیا د فرعون نوکرانو موسی د او بونه راوایست، ترڅو هغه د دوی زوی سي او سترګې یې پرې رنې سي، خو موسی د الله په تقدیري حکم سره؛ د دوی دښمن سه او دوی یې غمجن کړل، او یقینا چې فرعون، هامان او د دوی دواړو لښکرې تیر وتلي ول، یعنی دوی کافران ول او په ګناه کې لو یدلي ول.

[٩] [او کله چې د فرعون میرمنې دا ښکلۍ ماشوم ولیده، نو فرعون ته یې په کتو سره] وو یل: دا ماشوم د زما او ستا د سترګو تور دئ [یعنی زمونږ سترګې په هغه باندې یخیږي] او هغه مه وژنې، ځکه کیدای سي چې مونږ ته ګټه ورسوي او یا هغه زوی ونیسو، خو د دوی پام نه ؤ [چې همدا ماشوم به د دوی د پاچایي لمنځه وړو سبب او عامل وګرځي!]

[١٠] او د موسی مور زړه د هغه له غمه د بل هرڅه نه نور خالي سه، او که مونږ د موسی مور زړه نه وای ټینګ کړئ، ترڅو دا مطمئنه او ډاډه سي [یعنی د الله تعالی په وعده یې پوخ باور راسي] نو لنډه وه چې موسی وروښي او رسوایې کړي، یعنی چیغه کړي چې دا خو د زما زوی دئ.

[١١-١٢] [نو کله چې د موسی مور موسی په سیند کې وغورځا ؤ] نو د هغه خور ته یې وو یل: ته ور پسې لاړه سه او وې ځاره [چې څوک یې د نیل سیند او بو نه راباسي او څه په کړي؟ نو کله چې د فرعون نوکرانو موسی د أبو نه راوایست] نو خوریې د سترګو لیمو نه ورته کتل، خو د هغوی پام نه ؤ، او پر موسی باندې مونږ د مخکې نه د نورو ښځو شودو رودل حرام

کړي ول، نو بيا موسـى د بلې هيڅ ښـځې تۀ ونه روده [نو خوريې چې هلته ولاړ وه وو يله: آيا زه کمه داسې کورنۍ دروښيم چې د دې ماشوم د رالو يې او د تي ورکولو ضمانت وکړي؟ او دوی بې خير غوښتونکي وي.

[١٣] نو بيا موسـى مونږ خپلې مور ته ورسـتون که، ترڅوپې سـترګې يخې کړي او غمجنـه نـه سـي او پـدې پوه سـي چې د الله وعـده حق او ر ښتيا وه، خو ډير خلک نه پوهيږي!

هو! قدرمنو دوسـتانو! يقينا چې د موسـىعليه السلام قصـې پدې برخه کې د الله تعالى د لوی قدرت نښې ښکاره ځليږي.

{موسىعليه السلام ته په ځوانۍ کې الله هوښياري او پوهه ورکړه}

او بيا الله تعالى په ور پسـې مبارکو آيتونوکې خپلې لويې پيرزو يې پر موسىعليه السلام باندې يادې کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَٱسۡتَوَىٰٓ ءَاتَيۡنَٰهُ حُكۡمٗا وَعِلۡمٗاۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٤ وَدَخَلَ ٱلۡمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفۡلَةٖ مِّنۡ أَهۡلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيۡنِ يَقۡتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ وَهَٰذَا مِنۡ عَدُوِّهِۦۖ فَٱسۡتَغَٰثَهُ ٱلَّذِي مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِي مِنۡ عَدُوِّهِۦ فَوَكَزَهُۥ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيۡهِۖ قَالَ هَٰذَا مِنۡ عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِۖ إِنَّهُۥ عَدُوّٞ مُّضِلّٞ مُّبِينٞ ١٥ قَالَ رَبِّ إِنِّي ظَلَمۡتُ نَفۡسِي فَٱغۡفِرۡ لِي فَغَفَرَ لَهُۥٓۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ١٦ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ فَلَنۡ أَكُونَ ظَهِيرٗا لِّلۡمُجۡرِمِينَ ١٧ فَأَصۡبَحَ فِي ٱلۡمَدِينَةِ خَآئِفٗا يَتَرَقَّبُ فَإِذَا ٱلَّذِي ٱسۡتَنصَرَهُۥ بِٱلۡأَمۡسِ يَسۡتَصۡرِخُهُۥۚ قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰٓ إِنَّكَ لَغَوِيّٞ مُّبِينٞ ١٨ فَلَمَّآ أَنۡ أَرَادَ أَن يَبۡطِشَ بِٱلَّذِي هُوَ عَدُوّٞ لَّهُمَا قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ أَتُرِيدُ أَن تَقۡتُلَنِي كَمَا قَتَلۡتَ نَفۡسَۢا بِٱلۡأَمۡسِۖ إِن تُرِيدُ إِلَّآ أَن تَكُونَ جَبَّارٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا تُرِيدُ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلۡمُصۡلِحِينَ ١٩﴾

[١٤] او کله چې موسى خپلې ځوانۍ ته ورسـيده او زلمۍ سـه، نو هغه ته مونږ پوهه او ښـه هوښـياري ورکړه او څنګه چې موسـى مونږ و پاله

همداسې د ښو کرنو ټول کړونکې مونږ پالو.

[۱۵] او موسي یوه ورځ د ښار اوسیدونکو د پام نه لرې ښار ته ننوت، او ګوري چې په ښارکې دوه سړي د یو بل سره په جګړه کې دي او دا یویې د موسی د ډلې یا ټبر بني اسرائیلو نه دئ او بل یې د هغه د د ښمن قوم نه دئ [یعنی د فرعونیانونه یو قبطئ ؤ] نو هغه سړئ چې د موسی د ټبر نه په یو سوک وهلو سره مړکه [خو بیا موسیعليه السلام ژر پیښمانه سه او په بښې سره] وو یل: دا د شیطان کار ؤ [یعنی زه یې په غوصه کړم] او یقینا چې شیطان ښکاره ورانونکئ دښمن دئ.

[۱۶] نو بیا موسی دعاء وکړه او و یو یل: ای د زما لو یه ر به! ما په خپل ځان باندې ظلم او تیرئ وکه، نو ما و بښه، نو بیا الله موسی و باښه، ځکه یقینا چې الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ.

[۱۷] [او بیا موسی د الله سره تعهد وکه] او و یو یل: ای لو یه ر به! داچې تا پر ما باندې ښې ډیرې پیرزو یې کړې دي، نو زه به نور هیڅ کله د ظالمانو ملا تړ نسم او نه بې مرسته وکړم.

[۱۸] او بیا موسی د و یرې نه نور تل په ځار کې ؤ، نو ناڅاپه هغه سړي چې پرون یې د موسی نه مرسته غوښتې وه؛ هغه بیاپه نعرو وهلو سره د موسی نه مرسته غواړي، نو موسی ورته په ځواب کې وو یل: ته خو په ښکاره ورکتیا کې یې، یعنی سم سړئ نه یې او د هر چا سره جګړه کړي!

[۱۹] نو کله چې بیا موسی وغوښتل هغه قبطي چې د دواړو دښمن ؤ راونیسي، نو دا قبطي[د خپل دښمن خبرونه پوه سه چې هغه پرونئ قبطي موسی وژلئ دئ، نو] و یو یل: آیا ته غواړي چې ما هم مړ کړي، لکه څنګه چې تا پرون یو سړئ مړکه، نو ته غواړي چې په ځمکه کې د زورواکانو نه وې او ته غواړې چې د روغې جوړې غوښتونکو نه نه وې!

هو؛ ګرانو دوستانو! د دغ ناغیړي او لندغر بني اسرائیلي د خبرو نه د هغه دښمن قبطي پوه سه چې هغه پرون مړ سوئ قبطي موسی وژلئ دئ، نو بیاپې موسی پسې ډنډوره ګډه کړه چې موسی د فرعون قوم کې مړئ

کړئ دئ، نو فرعونیانو د موسی علیه السلام قتل او وژلو پر یکړه وکړه، خو موسی یوه شپه سړي ډیر ژر د دغې پر یکړې نه خبر که چې په بیان کې یې الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې فرمایلي دي:

{موسی علیه السلام د مصر نه مدین په لور تیښتې ته پټ اړ سه}

﴿وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنْ أَقْصَا ٱلْمَدِينَةِ يَسْعَىٰ قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ ٱلْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ فَٱخْرُجْ إِنِّي لَكَ مِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٢٠﴾ فَخَرَجَ مِنْهَا خَآئِفًا يَتَرَقَّبُ قَالَ رَبِّ نَجِّنِي مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢١﴾ وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يَهْدِيَنِي سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿٢٢﴾ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِّنَ ٱلنَّاسِ يَسْقُونَ وَوَجَدَ مِن دُونِهِمُ ٱمْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّىٰ يُصْدِرَ ٱلرِّعَآءُ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ ﴿٢٣﴾ فَسَقَىٰ لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّىٰٓ إِلَى ٱلظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ ﴿٢٤﴾ فَجَآءَتْهُ إِحْدَىٰهُمَا تَمْشِي عَلَى ٱسْتِحْيَآءٍ قَالَتْ إِنَّ أَبِي يَدْعُوكَ لِيَجْزِيَكَ أَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا فَلَمَّا جَآءَهُ وَقَصَّ عَلَيْهِ ٱلْقَصَصَ قَالَ لَا تَخَفْ نَجَوْتَ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٥﴾ قَالَتْ إِحْدَىٰهُمَا يَٰٓأَبَتِ ٱسْتَـْٔجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ ٱسْتَـْٔجَرْتَ ٱلْقَوِيُّ ٱلْأَمِينُ ﴿٢٦﴾ قَالَ إِنِّيٓ أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ إِحْدَى ٱبْنَتَيَّ هَٰتَيْنِ عَلَىٰٓ أَن تَأْجُرَنِي ثَمَٰنِيَ حِجَجٍ فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِندِكَ وَمَآ أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾ قَالَ ذَٰلِكَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ أَيَّمَا ٱلْأَجَلَيْنِ قَضَيْتُ فَلَا عُدْوَانَ عَلَيَّ وَٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٌ ﴿٢٨﴾﴾

[۲۰-۲۱] او بیا یو سړئ د ښار لرې څنډې نه په منډه موسی ته راغئ او ورته یې وو یل: په یقین سره پوه سه چې د فرعون قوم مشران جرګه

سوي دي، ترڅو تا ای موسی! مړ کړي، نو زه تاته د خير غوښتنې نصيحت کونکونه يم، نو ته د دې ښارنه ژر ووځه [نو بيا موسی د هغه خبره ومنله] او د ښار نه په و يره او څارکې ووت او دعاء يې وکړه و يو يل: ای د زما لو يه ر به! ماته د دې ظالم قوم نه نجات را کړه!

قدرمنو دوستانو! موسیعليه السلام د مصر نه مدين خواته ووت او د دښمن و يرې نه يې هلته هجرت وکه، نو يقينا چې د موسی دغه هجرت د ظالم دښمن نه د خلاصون په قصد؛ هغه پيغمبري سنت او لار ده چې بيا وروسته د اسلام پيغمبرﷺ هم د الله په حکم ور باندې لاړه، او کله چې د مکې کافرانو د هغه وژلو قصد او پر يکړه وکړه، نو رسول الله ﷺ د الله په مرسته يثرب ته هجرت وکه، او بيايې هلته د خپل رسالت پاتې برخه پوره کړه، ترڅو چې بيا مکه فتحه سوه او د رسول الله ﷺ ټول قوم په اسلام کې راننوتل او ايمان يې راوړ او د شرك نه يې نجات بياموند.

نو د همدې نبوي تار يخي تګ لارې نه په پيروی او د کلک ضرورت په اساس چې کله افغانستان په اوسني تار يخ کې د دوه لو يو نړی والو ځواکونو د ښکيلاک لاندې راغئ، او اسلام پال ځوانان او طالب العلمان زندانونو ته واچول سول، نو پاتې ملګري يې شرقي او غربي ګاونډيانو ته په هجرت مجبور سول، ترڅو د دښمن ګوانښ نه په امن کې سي.

درندو عز يزانو! او د پام وړ ده چې د خطر يا ګوانښ په وخت کې الله تعالی ته زاري او دعاء د مومن بنده غوره اسلحه ده، نو ښايي هيڅ کله ورڅخه غافل نسو، لکه څنګه چې موسیعليه السلام په ور پسې آيتونوکې دعا کړې ده او په زاری سره يی د الله تعالی نه مرسته غوښتې ده!

[۲۲] او بيا چې کله موسی مدين خواته [چې هغه د فلسطين په جنوب کې پروت ډاګ دئ او د فرعون واکمنی نه وتلئ ؤ] مخه کړه، نو دعاء يې وکړه او و يو يل: کيدای سي چې د زما لوی رب الله ما په سمه لار روان کړي او هغه را ته وښيي، يعنی ما د ورکتيا نه وساتي او ما ته د دښمن نيولو نه نجات راکړي او ورڅخه خلاص مې کړي.

[۲۳] او بيا چې کله موسـى د مدين کلي د او بو چينې ته ورسـيده؛ ګوري چې يوه لو يه ډله خلک خپل څاروي او به کوي او دوى ته لنډ پې دوه ښـځې وليدلې چې د نار ينوو نه بيلې ولاړې دي او خپل څاروې د او بو نه ژغوري، نو بيا موسى د هغو دواړو نه و پوښـتل او و يو يل: تاسې دلته څه غواړى؟ دوى دواړو ورته وو يل: مونږ خپل څاروى تر هغو نه او به کوو، ترڅو چې دا شـپانه خپل څاروي او به کړى او لاړ سـي [يعنى داچې مونږ د نار ينوو منځ ته نه ورګډيږو] او د زمونږ پلار ډير زوړ او بوډا دئ، يعنى خپل څاروي نسي او به کولاى.

[۲٤] نو بيا موسـى دوى دواړو ته د دوى څاروي او به کړل، او دئ يو سـوري ته په شـا سـه [نو بيايې الله تعالى ته دعاء وکړه] او و يو يل: اى د زما ر به [او لو يه څښـتنه!] يقينا چى زه د سـتا هغو پيرزو ينو ته چې ماته ده راکوزې کړې دي؛ ډير محتاج او اړ يم!، يعنى نو ته اى لو يه ر به! د زما مرسته وکړه او د مشکلاتو نه ما خلاص کړه.

[۲۵] نو بيا [د هغو ښځونه چې موسى پې څاروي ورته او به کړل] يوه پې چې په ډيره حيا کې وه؛ موسى ته راغله او و يو يل: د زما ابا تا غواړي چې تاته د زمونږ څارو يو د او به کولو مزدوري درکړي، نو بيا چې کله موسـى ورغئ او خپله قصـه پې د فرعون سـره هغه ته وکړې [نو د دغو ښځو زاړه پلار ورته ډاډ ورکه او ورته پې وو يل:] ته نور مه و ير يږه، تا د دې ظالم قوم نه نجات موندلئ دئ، يعنى دوى دلته د زمونږ په خاوره کې واک نلري او تا څارلاى نسي.

[۲٦] نو بيايې يوې لور وو يل: اى پلارجانه! دا سـړئ ځان ته مزدور ونيسه او يقينا چې تا به يو ښه ځواکمن او امين سړئ مزدور نيولئ وي!

[۲۷] [نو بيا دې زاړه سـپينږيري موسـى ته] وو يل: زه غواړم چې د زما دغو دواړو لونو نه يوه تاته وا ده کړم، خو پدې شـرط چې ته اته کاله د زما سـره مزدور سـې [يعنى د زما شـپې وکړې] او که لس کاله ده پوره کړل دا به د سـتا لخوا ښـيګنه وي او زه نه غواړم چې پر تا باندې ز ياتئ او

سختي وکړم، يعنى د پر يکړې نه ډير وخت پر تا باندې تير کړم او ته به ان شاء الله ما د ښو خلکو نه بيامومي.

[٢٨] [او موسى عليه السلام ورته په ځواب کې] وو يل: سمه ده او هغه څه چې تا وو يل هغه به د زما او ستا په منځ کې وي او کمه يوه نيته چې د دغو دوه نيټو نه ما د ستا سره تيره کړه هغه به ما تيره کړې وي او په پر يکړه به ما وفاء کړې وي او پر ما باندې به تيرئ نکيږي [يعنى د دغو کلونو دورې نه به ډير څه نه راځخه غوښتل کيږي] او د زما او ستا په دغه و ينا او هوکړه باندې الله شاهد او څارونکئ دئ.

عزتمنو دوستانو! دغه قصه يقينا چې د موسى عليه السلام د ميړانې، قوت او د امانت پالنې ښکارندو يه ده، نو ځکه د دې سپينږيري يوې لور خپل پلار ته وړلاندیځ وکه چې موسى عليه السلام ده ځان ته خدمت ګار ونيسي او د هغه وړتيا او امانت يې د خپل وړلاندیځ دليل وښود، نو پلارې چې ډير حکيم او هوښيار سړئ ؤ؛ موسى ته يې د خپلې يوې لور سره د واده کړو وړلاندیځ وکه، ترڅو موسى د هغه په کورکې محرم سي او په بدل کې يې د موسى عليه السلام نه اته کاله خدمت وغوښت، نو بيا دوی دواړه پدې پر يکړه؛ سره راضي او خوښ سول، او بيا موسى عليه السلام لکه څنګه چې په رواياتو کې راغلي دي پوره لس کاله د خپل خسر په کورکې خانه داماد او خدمت ګار زوم پاتې سه او لس کاله يې د خسر خدمت او شپني وکړه.

{د طُور پر غونډې موسى عليه السلام باندې د پيغمبرۍ ز يرئ وسه}

او بيا الله تعالى د موسى عليه السلام قصې پاتې برخې په بيان کې فرمايلي دي:

﴿۞ فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى ٱلۡأَجَلَ وَسَارَ بِأَهۡلِهِۦٓ ءَانَسَ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ نَارٗاۖ قَالَ لِأَهۡلِهِ ٱمۡكُثُوٓاْ إِنِّيٓ ءَانَسۡتُ نَارٗا لَّعَلِّيٓ ءَاتِيكُم مِّنۡهَا بِخَبَرٍ أَوۡ جَذۡوَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ لَعَلَّكُمۡ تَصۡطَلُونَ ٢٩ فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِيَ مِن شَٰطِيِٕ ٱلۡوَادِ ٱلۡأَيۡمَنِ فِي ٱلۡبُقۡعَةِ ٱلۡمُبَٰرَكَةِ مِنَ ٱلشَّجَرَةِ أَن يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّيٓ أَنَا ٱللَّهُ

رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٣٠ وَأَنۡ أَلۡقِ عَصَاكَۚ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهۡتَزُّ كَأَنَّهَا جَآنّٞ وَلَّىٰ مُدۡبِرٗا وَلَمۡ يُعَقِّبۡۚ يَٰمُوسَىٰٓ أَقۡبِلۡ وَلَا تَخَفۡۖ إِنَّكَ مِنَ ٱلۡأٓمِنِينَ ٣١ ٱسۡلُكۡ يَدَكَ فِي جَيۡبِكَ تَخۡرُجۡ بَيۡضَآءَ مِنۡ غَيۡرِ سُوٓءٖ وَٱضۡمُمۡ إِلَيۡكَ جَنَاحَكَ مِنَ ٱلرَّهۡبِۖ فَذَٰنِكَ بُرۡهَٰنَانِ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦٓۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ٣٢ قَالَ رَبِّ إِنِّي قَتَلۡتُ مِنۡهُمۡ نَفۡسٗا فَأَخَافُ أَن يَقۡتُلُونِ ٣٣ وَأَخِي هَٰرُونُ هُوَ أَفۡصَحُ مِنِّي لِسَانٗا فَأَرۡسِلۡهُ مَعِيَ رِدۡءٗا يُصَدِّقُنِيٓۖ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ٣٤ قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ وَنَجۡعَلُ لَكُمَا سُلۡطَٰنٗا فَلَا يَصِلُونَ إِلَيۡكُمَا بِـَٔايَٰتِنَآۚ أَنتُمَا وَمَنِ ٱتَّبَعَكُمَا ٱلۡغَٰلِبُونَ ٣٥

[٢٩] نو بيا چې کله موسی خپله ټاکل سوې نيټه پوره کړه[يعني د خپلې شپنۍ او خسر په کورکې د زومتوب خدمت پوره که، نو بيا] د خپل کهول سره يوځای [بيرته مصر خوا ته] وخوځيده؛ او د سينا لوی ډاګ د طور غونډۍ په خيرمه يې اور وليده، نو خپل کهول ته يې وو يل: تاسې دلته تم سی؛ ما اور وليده، نو زه ورځم، او کيدای سي چې د اور بلونکو نه د لارې پيدا کولو خبر تاسي ته راوړم او يا به درته د اور انګار راوړم ترڅو ور باندې د يخنۍ نه تاوده سی.

[٣٠-٣٢] نو کله چې موسی د اور ځای ته ورغئ، نو په دغه مبارکه خاوره کې د يوې ونې نه چې د دغې درې په ښي خوا کې ولاړه وه؛ پر موسی غږ وسه [او ورته وو يل سول چې] ای موسی زه الله رب العالمين يم [يعنی د ټولو نړۍ والو پالونکئ خدای يم] نو ته ای موسی! خپله لکړه پر ځمکه واچوه، نو بيا چې کله موسی خپله لکړه وليده چې ښور يږي، لکه دا چې پيرئ وي، نو بيرته په شا لاړه او لکړې پسې ونه کړځيده، نو بيا الله ور باندې غږ وکه چې ای موسی! بيرته را وکړځه او مه و ير يږه، ځکه ته يقينا چې په امنيت کې سوو کسانو نه يې [يعنی ته اوس په امنيت کې يې

څه ز يان تاته نه رسيږي] او خپل لاس ده په ګر يوان کې ننه باسه او هغه به پرته د کم ز يان نه بيرته سپين راووځي، او دواړه لاسونه او وزرونه ده د و يرې نه د ډاډمن کيدو په مقصد پر ځان باندې ورټول کړي ونښلوه، او دا دواړه نښې د ستا رب لخوا فرعون ته او د هغه وز يرانو ته ستا د پيغمبرۍ تصديق معجزې او دليلونه دي، ځکه يقينا چې دوی د الله حکم نه يو وتلې فاسق قوم دئ، يعنی دوی د ستا دعوت او بلنه الله تعالې ته د معجزې نه پرته نه مني!

[٣٣-٣٤] [نو بيا موسی عليه السلام د الله تعالی د دې پيغام په اور يدلو سره] وو يل: ای د زما لو يه ر به! ما د فرعون قوم قبطيانو نه يو سړی وژلی دئ، نو و يره يرم چې ما به مړ کړي او د زما ورور هارون زما نه د ښو خبرو کړو او د غږ يدا ژ به لري، نو زما سره يې وليږه، ترڅو د زما مرستندوی وي او زما خبرې تصديق کړي او زه يقينا و يره يرم چې ما به دروغژن و بولي.

[٣٥] [نو بيا موسی عليه السلام ته الله تعالی په ځواب کې ډاډ ورکه] او وو يل: د ستا مټ به مونږ د ستا پر ورور باندې کلک کړو او هغه به د ستا مل وګرځوو، او تاسې دواړو ته به د زمونږ معجزو نه داسې زورور دليلونه درکړو چې بيا د فرعون لښکرې تاسې دوړو ته نه در رسيږي [يعنی تاسې ته هغوی هيڅ ډول ز يان رسولای نسي] او تاسې دواړه او نور څوک چې درسره ملګري سول پر فرعون او د هغه پر لښکرو باندې برلاسي کيږی، يعنی د فرعون لښکر به الله تباه او هلاک کړي!

{فرعونيانو موسی عليه السلام په کودړو تورن که د سيالۍ اعلان وکه}

درندو دوستانو! نو بيا چې کله موسی او ورورې هارون عليهما السلام د الله تعالی په ډاډ او په پاخه ملاتړسره فرعون ته ورغلل؛ فرعونيانو دوی کودګر و بلل او ورسره يې د سيالۍ اعلان وکه، او بيان کې الله فرمايلي دي:

﴿ فَلَمَّا جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا بَيِّنَٰتٍ قَالُوا۟ مَا هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى وَمَا

سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِي آبَائِنَا الْأَوَّلِينَ ﴿٣٦﴾ وَقَالَ مُوسَىٰ رَبِّي أَعْلَمُ بِمَن جَاءَ بِالْهُدَىٰ مِنْ عِندِهِ وَمَن تَكُونُ لَهُ عَاقِبَةُ الدَّارِ ۖ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ ﴿٣٧﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِي ۖ فَأَوْقِدْ لِي يَا هَامَانُ عَلَى الطِّينِ فَاجْعَل لِّي صَرْحًا لَّعَلِّي أَطَّلِعُ إِلَىٰ إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّي لَأَظُنُّهُ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿٣٨﴾ وَاسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ إِلَيْنَا لَا يُرْجَعُونَ ﴿٣٩﴾ فَأَخَذْنَاهُ وَجُنُودَهُ فَنَبَذْنَاهُمْ فِي الْيَمِّ ۖ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ ﴿٤٠﴾ وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾ وَأَتْبَعْنَاهُمْ فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ هُم مِّنَ الْمَقْبُوحِينَ ﴿٤٢﴾

[٣٦] نو بيا چې کله موسى د زمونږ روښانه معجزو او دليلونو سره فرعون او د هغه مشرانو مشاور ينو ته راغئ؛ دوی ورته وو يل: دا نښې چې مونږ ته تا راوړې دي؛ هغه الله پسې افترا سوي کوډې دي او مونږ د خپلو پخوانيو پلرونو په وخت کې دغسې څه شئ ندي اور يدلي.

[٣٧] موسى ورته وو يل: د زما رب الله په هغه چا باندې چې هغه ته يې لارښود پيغام راوړئ دئ؛ ښه پوه دئ او هم ښه پوهيږي چې راتلونکې بر يا به د چا وي او يقينا چې الله ظالمان (کافران) نه بر يالي کوي!

[٣٨] نو فرعون [د ډير کبر او غوصې نه خپلو وز يرانو باندې غږ وکه] او و يو يل: ای مشرانو! تاسې ته ما د زما نه پرته بل څوک خدای ندئ پيژندلئ! نو ته ای هامانه! په ختوکې ماته اور بل کړه [يعنی هغه پخې خښتې کړه] او بيا ورځخه ماته جګ برج جوړ کړه، ترڅو زه پاس ور باندې ودر يږم او د موسى خدای وو ينم! خو موسى زه يقينا د دروغژنو نه بولم!

[٣٩-٤٠] نو فرعون کبر وکه او دئ او د هغه لښکر په ناحقه سره د مصر په خاوره کې کبر په سر واخستل او ګمان يې وکه چې دوی به هيڅ

کله بیرته مونږ ته نه راګرځول کیږي، نو بیا فرعون او د هغه لښکرې مونږ راونیول او په سمندرکې دوی مونږ ډوب او غرق کړل، نو ته ای پیغمبره! ښه وګوره چې د ظالمانو راتلونکئ برخلیک څنګه ؤ؟ یعنی الله ظالمانو ته کلکه سزا ورکړه او ټول یې په ډول ډول سزاګانو باندې هلاک کړل.

[٤١-٤٢] هو! دغه ظالمان [یعنی فرعون او لښکریې چې د الله حکم او فرمان وړو نه سرکښي وکړه او ورڅخه منکر سول] دوی مونږ د دوزخ اور ته رابلونکې مخکښ مشران وګرځول او د قیامت په ورځ د دوی مرسته نکیږي [ځکه دوی کافران سول او د الله تعالی پیغمبران موسی او هارون علیهما السلام یې تکذیب کړل او دروغژن یې وګڼل] نو پر دغو سر کښو کافرانو باندي په دنیا کې لعنت دئ او د قیامت په ورځ دوی د رټل سوو کسانو نه دي او د دوزخ اور ته مختورن ورغورځول کیږي!

قدرمنو دوستانو! د موسی علیه السلام د پیغمبرۍ دا بې ساري قصه د کلک پند اخستلو او عبرت په مقصد په وار وار سره په قرآن کې یاده سوې او راغلې ده، او دغسې اوږد بیان یې مخکې د طه په سوره کې هم تیر سه، نو الله تعالی ده دا قصه د قیامت ورځې پورې ټولو خلکو ته د پند اخستلو زدکړه وګرځوي، ترڅو هوښیاران د سرکښۍ نه لاس واخلي او د الله حکم ومني، او همدارنګه ښایي چې اسلام ته رابلونکي دعات دغسې قصې، لکه څنګه چې په قرآن کر یم کې په تکرار سره راغلې دي؛ همداسې تل خلکو ته ولولي او دوی ده د الله تعالی سرکښۍ نه کلک وګوابنې، او همدارنګه ښایي اوسنۍ دعوتي رسنۍ د دغسې قصونه سر یالونه جوړ کړي او په ډیره مسلکي بڼه کې هغه خلکو ته وړاندې سوي ورسوي، ترڅو ورڅخه ګټه واخلي او ځانونه د محشر په ورځ د تور برخلیک نه کلک وساتي.

{تورات موسی علیه السلام ته د پخو انیو امتونو نه وروسته رحمت ؤ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی موسی علیه السلام ته د تورت ورکولو په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ مِنۢ بَعۡدِ مَآ أَهۡلَكۡنَا ٱلۡقُرُونَ ٱلۡأُولَىٰ

بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٣﴾ وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ
ٱلْغَرْبِيِّ إِذْ قَضَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَى ٱلْأَمْرَ وَمَا كُنتَ مِنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٤٤﴾ وَلَٰكِنَّآ
أَنشَأْنَا قُرُونًا فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ ٱلْعُمُرُ ۚ وَمَا كُنتَ ثَاوِيًا فِىٓ أَهْلِ مَدْيَنَ
تَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِنَا وَلَٰكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ﴿٤٥﴾ وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ
ٱلطُّورِ إِذْ نَادَيْنَا وَلَٰكِن رَّحْمَةً مِّن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن
نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٦﴾

[٤٣] [ای پیغمبره!] وروسته له هغې چې پخواني ولسونه [لکه د نوح، عاد، ثمود او د لوط سرکښ قومونه] مونږ هلاک کړل، نو بیا مونږ موسی ته په یقین سره لارښود کتاب (تورات) ورکه او هغه خلکو ته د لارښودنې او رحمت وړانګې وې [یعنی دوی ته یې سمه لار ربنا کوله] ترڅو خلک د هغه نه پند واخلي او د الله پیرزو ینې راپه یاد کړي، یعنی د تورات په لارښودنو سره خیر او شر د یو بل نه بیل کړي او پر خپلو ځانو باندې د الله نعمتونه راپه یاد کړي او شکریې و باسي او ورڅخه منکر نسي او بغاوت او سرکښي ونکړي.

ګرانو دوستانو! د یادونې وړ ده چې پدې مبارک آیت کې الله تعالی دیته اشاره کړې ده چې د موسی علیه السلام پیغمبرۍ نه وروسته بیا نور الله تعالی د کافرانو د هلاکت او له منځه وړنې لړي په خپل زور او لوی قدرت سره ودرولې، او یرغلګرو کافرانو سره یې د تورې جهاد پر مومنانو په خپلې کلکې مرستې سره؛ فرض که، ترڅو کافران او مومنان په ر یښتیا سره د یو بل نه بیل سي او ښه سره و پیژندل سي، او بیا الله تعالی کافران دوزخ ته او مومنان لو یو جنتو ته ورننه باسي.

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د قرآن کر یم د رانازلیدو حقانیت او ر یښتیا والۍ پر رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې تاکید کړئ دئ او هغه ته یې د ډاډ ورکولو په ترڅ کې د کافرانو تورونه او دروغژن تبلغات د قرآن کریم په باره کې کلک رد کړي او غندلي دي، او فرمایلي دي:

[٤٤] ای پیغمبره! کله چې موسی ته مونږ د پیغمبرۍ حکم ورسا ؤ [یعنی معجزي مونږ ورکړي] ته هلته د مکې په لو یدیځ کې [یعنی د طور غره په څیرمه] د حاضرو کسانو نه نوې، یعنی دا چې تا د الله او موسیعليه السلام په منځ کې مرکه او د دوی خبرې ندي اور یدلې.

[٤٥] او بیا د هغې نه وروسته مونږ ډیر نسلونه پیدا کړل او کلونه پرې تیر سول او ته ای پیغمبره! د مدین خلکو په منځ کې نه اوسیدلې، ترڅو د زمونږ کتاب آیتونه تا دوی ته لوستلي وي، خو یقینا چې مونږ د پیغمبرانو را لیږونکي یو، یعنی ای پیغمبره! د موسیعليه السلام قصه فرعون سره مونږ تاته وحیه کړه، ترڅو د ستا پیغمبري تصدیق کړي او بیا ته پر دوی باندې د قیامت په ورځ شاهد وي.

[٤٦] ای پیغمبره! او کله چې مونږ پر موسی غږ وکه ته هلته د طور غره په څنګ کې نوې [یعنی ترڅو د الله او د موسیعليه السلام مرکه او خبرې واورې] خو ته مونږ د ستا رب لخوا خلکو ته د رحمت ز یرئ راولیږلې، ترڅو ته هغه خلک د الله عذاب او سزا نه وو یروې چې دوی ته د ستانه مخکې پیغمبر ندئ راغلئ، نو کیدای سي چې د ستا امت د الله پیرزو ینې او ورکړې په خپلو ځانو باندې راپه یاد کړې او پر الله باندې د ایمان راوړو سره؛ شکر و باسې او د کفر سزا نه ځانونه کلک وساتي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونوکې هغه دروغژن تورونه او تبلیغات رد کړي دي چې د مکې مشرکانو به رسول اللهﷺ پسی کړل او دوی به و یل چې محمد دا خبرې د پخوانیو لیکنو نه اخستې دي، خو حقیقت دا دئ چې د هغوی دا تورونه ټول دروغ ول او هیڅ بنسټ یې نه درلود، او محمدﷺ الله تعالی خپل قوم ته او د نړۍ ټولو خلکو ته د رحمت استازئ را لیږلئ دئ، ځکه دوی ته د هغه نه پخوا پیغمبر نوه راغلئ او پخواني پیغمبران ټول بني اسرائیلو ته راغلي ول؛ نه عر بانو او د نړۍ نورو ولسونو ته، نو بیا الله تعالی ټول بشر یت د محمد ﷺ په پیغمبرۍ ونازا ؤ او خپل لارښود کتاب قرآن یې ورته راولیږه او د هغه حفاظت ز یرئ یې ورکه، یعنی دا چې د دې کتاب حافظ خپله الله تعالی دئ.

{د مکې کافر انو د الله سره دؤ مخې در یځ غوره که}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د قر یشو دؤ مخې در یځونه یاد کړي دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَلَوْلَآ أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَيَقُولُوا۟ رَبَّنَا لَوْلَآ أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ وَنَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ مِنْ عِندِنَا قَالُوا۟ لَوْلَآ أُوتِىَ مِثْلَ مَآ أُوتِىَ مُوسَىٰٓ ۚ أَوَلَمْ يَكْفُرُوا۟ بِمَآ أُوتِىَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ۖ قَالُوا۟ سِحْرَانِ تَظَٰهَرَا وَقَالُوٓا۟ إِنَّا بِكُلٍّ كَٰفِرُونَ ﴿٤٨﴾ قُلْ فَأْتُوا۟ بِكِتَٰبٍ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ هُوَ أَهْدَىٰ مِنْهُمَآ أَتَّبِعْهُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٩﴾ فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُوا۟ لَكَ فَٱعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَآءَهُمْ ۚ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ ٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٠﴾ * وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ ٱلْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥١﴾﴾

[٤٧] او که چیرې دغو کافرانو ته د دوی د تیرو بدو کړنو او د کفر نه کم مصیبت او ستونزه ورسیږي، نو بیا وایي: ای د زمونز لو یه ر به! ولې تا مونږ ته پیغمبر راونه لیږه؟ نو بیا به مونږ د ستا کتاب آیتونو پسې تللي وو او د مومنانو نه به وو.

[٤٨] نو بیا چې کله دوی ته د زمونږ لخوا حق راغئ [یعنی محمد ﷺ ورته پیغمبر راغئ] و یو یل: ولې هغه ته د موسی غوندې معجزې ندي ورکړل سوې؟ او آیا په موسی باندې چې هغه ته مخکې معجزې ورکړل سوې؛ خلک کافران نسول؟ [ځواب: هو! کافران سول] او و یو یل چې دوی دواړه کود کړ دي او مونږ د دوی ټولو نه په یقین سره منکر یو، یعنی نې منو او ایمان نه راوړو!

[٤٩] نو ته ای پیغمبره! دغو کسانو ته ووایه: که تاسې ای د مکې

خلکو! ر ښتیاو یوکو نه یاستی، نو بیا یو داسې کتاب د الله نه راوړی چې هغه د تورات او د قرآن نه ښــه لارښــود پیغام وي، نو بیا به زه هغه پسې لاړ سم او بې منم، یعنی پر حکمونو باندې بې عمل وکړم.

[٥٠] نو که بیا دوی ای پیغمبره! د ســتا غوښــتنه پرځای نکړه [یعنی ښه لارښود کتاب یې درته را نوړ] نو پوه سه چې دا کافران خپلو هوسونو پسې ځی، او هر چا چې د الله لارښودنې نه پرته د خپل هوس پیروي وکړه او ور پســې لاړه، نو بیا د هغه نه بل هیڅ څوک د ســمې لارې نه ډیر ورک سوئ وئ نسته [یعنی څوک چې د خپل نفس او د هوا نه پیروي کړي؛ هغه تل د حق ســمې لارې نه ورک وي] او یقینا چې الله د ظالمانو او کافرانو ډله هیڅ کله د حق لارې ته نه ســموي، یعنی په ســمه لار د تګ توفیق نه ورکوي، ځکه الله دوی ښــه پیژني چې حق ته د هدایت لائق ندي، یعنی په سمه لار د تګ وړتیا نلري او مستحق یې ندي.

[٥١] ای پیغمبره! او یقینا چې د ستا قوم مشرکانو ته [او د اهل کتابو یهودو او نصاراوو ته] مونږ د حق لارښود پیغام ورسا ؤ، ترڅو دوی د الله دغه لور ینی را په یاد کړي او شــکریې و باســي او ایمان راوړي! یعنی خو دوی همداسې په خپل کفرکې پاتې دي او ایمان یې ندئ راوړئ، حال دا چې ځینې پخوانیو اهل کتابو، لکه عبد الله بن ســلامﷺاو نورو ایمان راوړ او په بیان کې یې الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې د هغوی په ستاینې سره فرمایلي دي:

{ هغه اهل کتاب د ستایلو وړ دي چې په قرآن یې ایمان راوړ }

هو! الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې هغه اهل کتاب ستایلي دي چې دوی په قرآن ایمان راوړ، او فرمایلي دي:

﴿ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِهِۦ هُم بِهِۦ يُؤۡمِنُونَ ٥٢ وَإِذَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِهِۦٓ إِنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّنَآ إِنَّا كُنَّا مِن قَبۡلِهِۦ مُسۡلِمِينَ ٥٣ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡتَوۡنَ أَجۡرَهُم مَّرَّتَيۡنِ بِمَا صَبَرُواْ وَيَدۡرَءُونَ بِٱلۡحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ

يُنفِقُونَ ﴿٥٤﴾ وَإِذَا سَمِعُوا۟ ٱللَّغْوَ أَعْرَضُوا۟ عَنْهُ وَقَالُوا۟ لَنَآ أَعْمَٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَٰلُكُمْ سَلَٰمٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِى ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٥٥﴾ إِنَّكَ لَا تَهْدِى مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهْدِى مَن يَشَآءُ ۚ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾

[٥٢] او د اهل کتاب نه (بني اسرائيلو نه) هغه کسان چې دوی ته مونږ د قرآن نه مخکې کتاب ورکړئ ؤ؛ دوی په قرآن ایمان لري او هغه منی، یعنی ځینې یهودو په قرآن ایمان راوړ او باورېې ور باندې وکه، ځکه په تورات کې د قرآن رانازلیدو ز یرئ پر محمد ﷺ باندې یاد سوئ ؤ.

[٥٣] او په دغو اهل کتابو باندې چې کله قرآن لوستل کیږي، نو دوی وایي: مونږ په قرآن ایمان راوړ، ځکه یقینا هغه د زمونږ رب نه راغلئ حق کتاب دئ او مونږ د قرآن نه مخکې مسلمانان وو، یعنی مونږ خپل رب الله په توحید سره پیژاند او ورته تسلیم وو.

[٥٤] نو دغو اهل کتابو ته دؤ برابره ثواب ورکول کیږي، ځکه دوی د الله په لار کې ستونزې وزغملې او د خلکو بد کړل یې په خپلو ښو کړنو سره د ځان نه لرې کړل او د هغې روزی نه چې دوی ته مونږ ورکړې وه؛ بې وزرو کسانو ته خیرات ورکوي، یعنی دغو اهل کتابو تورات او انجیل پسې وروسته په قرآن باندې هم ایمان راوړ او هغه یې ومانه او مسلمانان سول، نو ځکه دوی ته الله تعالی دؤ برابره انعام او لوی ثواب چې د الله تعالی جنتونه دي ورکوي.

[٥٥] [او دغه د اهل کتاب مومنان] چې کله بې ګټې او ناروا خبرې واورې ورڅخه مخ اړوي او غوږ ورته نه باسي [یعنی د کافرانو هغو خبرو ته چې دوی کفر ته رابولي غوږ نه باسي او دغو کافرانو ته وایي:] د زمونږ خپل کار او د ستاسې خپل، او پر تاسې ده سلام وي او مونږ ناپوهان نه غواړو او ور پسې نه ځو!

قدرمنو دوستانو! د الله تعالی لخوا د دغو مخلصو مومنانو ستاینه او ډیر ثواب ورکول، ځکه سوي دي چې دوی د الله په ټولو اسماني

کتابونو باندې ایمان راوړ او ښــه یې وکړل او د کافرانو ســپکو ســپورو خبرو په وړلاندې یې صــبر وکه او هغه یې وزغملې، او د هغوی بدې کړنې یې په خپلو ښــو کړنو باندې ځواب کړې، او دا ټول هغه غوره تګ لار ده چې اســلام ته رابلونکي دعات او نور ټول مومنان ښــایي ورځخه ښــه ګټه واخلي او ور باندې ټینګ ســي، ترڅو الله تعالی د دوی نه خوښ او راضي ســي او په دعوتي هلوځلو کې یې برکت واچوي او هغه قبولې کړي او په حسناتوکې یې ورته حساب کړي او پکې وې لیکي.

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته د تسلیت او ډاډ په مقصد فرمایلي دي:

[٥٦] هو! ای پیغمبره! او هغه څوک چې په تا باندې ګران دئ، نو ته یقینا چې هغه حق ته سمولای نسې، خو الله چې څوک وغواړي هغه سمې لارې ته هدایت کوي [یعنی هغه ته په سمه لار د تګ توفیق ورکوي] او الله حق ته سم سوو کسانو باندې ښه پوهیږي او پیژني یې چې څوک یې لائق دي او څوک یې لائق ندي.

ګرانو عز یزانو! روایت سوئ دئ چې دا مبارك آیت رسول الله ﷺ ته د هغه تره ابو طالب په باره کې رانازل سوئ دئ، ځکه رسول الله ﷺ یې ایمان راوړو ته ډیره تلوســه درلوده او ښــه ډیر ز یارې وایســت او کوښښ یې وکه چې ابو طالب یوځل د توحید کلمه ووایي او بیا رســول الله ﷺ د قیامت په ورځ هغه ته شــفاعت وکړي، خو دا لوی مقام د ابو طالب په برخه نســه، نو بیا الله تعالی پدې مبارك آیت کې رسول الله ﷺ ته د ډاډ ګیرنې په ترڅ کې دا حقیقت بیان کړئ دئ چې د ایمان راوړو توفیق ورکول؛ د الله کار دئ او د بنده په هیلو دا لوی مقام هیڅ چا ته نه حاصــیلیږي، ځکه یوازې الله ښــه پوهیږي چې څوک د هدایت او ایمان لائق دئ او څوک یې لائق ندئ؟

{د مکې کافرانو په خوسې سره پلمو پرځپل کفرټینګارکا ؤ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د مکې کافرانو بې بنسټه پلمو

يادونه کړې ده چې دوی ور باندې د خپل کفر نه دفاع کړه او فرمايلي دي:

﴿وَقَالُوٓاْ إِن نَّتَّبِعِ ٱلۡهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفۡ مِنۡ أَرۡضِنَآۚ أَوَلَمۡ نُمَكِّن لَّهُمۡ حَرَمًا ءَامِنٗا يُجۡبَىٰٓ إِلَيۡهِ ثَمَرَٰتُ كُلِّ شَيۡءٖ رِّزۡقٗا مِّن لَّدُنَّا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٥٧ وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةِۭ بَطِرَتۡ مَعِيشَتَهَاۖ فَتِلۡكَ مَسَٰكِنُهُمۡ لَمۡ تُسۡكَن مِّنۢ بَعۡدِهِمۡ إِلَّا قَلِيلٗاۖ وَكُنَّا نَحۡنُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ٥٨ وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهۡلِكَ ٱلۡقُرَىٰ حَتَّىٰ يَبۡعَثَ فِيٓ أُمِّهَا رَسُولٗا يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِنَاۚ وَمَا كُنَّا مُهۡلِكِي ٱلۡقُرَىٰٓ إِلَّا وَأَهۡلُهَا ظَٰلِمُونَ ٥٩﴾

[٥٧] [او د مکې کافرانو رسول الله ﷺ ته] وو ويل: که مونږ د ستا دين ته د ستا بلنه ومنو او د ستا سره هغه پسې لاړ سو، نو مونږ به نور خلک د خپلې خاورې (مينې) نه وتښتوي [يعنی د زمونږ پر سر او مال باندې به تيرئ وکړئ، نو بيا الله تعالی د دوی دا ګمان او خيالي پلمه چې د خپل کفر لپاره يې ورلاندې کړه؛ کلکه رد کړه او کافرانو ته يې وفرمايل:] او آيا دوی ته مونږ د مکې حرم ځمکه د امنيت او ډاډ کور ونه ګرځا ؤ؟ [ځواب: هو! هغه دوی ته مونږ ډاډمن ځای او د امن کور ګرځولئ دئ] او دا دئ د زمونږ لخوا مکې اوسيدونکو ته د ټولو ميو روزي راوړه کيږي، خو ډير خلک د دغو نعمتونو په قدر نه پوهيږي او شکريې نه باسي!

[٥٨] او د پخوانيو کليو ډير خلک چې کله د خپل ژوند هوسايي (عيش او نوش) په سر واخستل [يعنی د الله په پيغمبرانويې ايمان رانوړ] نو بيا دوی مونږ هلاک کړل او لمنځه مو يوړل او هغه دي د دوی کلي او مينې چې بيا پکې څوک ونه اوسيدل او ډير لږ کسان پکې پاتې سول، او بيا د دوی مينې مونږ ته په ميراث پاتې سوې، يعنی د مکې خلکو پلمې بې ځايه دي، ځکه ايمان راوړو پر دوی باندې د نعمتونو ساتلو ضمانت کړئ دئ، او کفر لکه پخواني سرکښې امتونه؛ دوی هلاکوي او کلئ، کور او ټول مال

او دولت يې ميراث پاتيږي، لکه څنګه چې د پخوانيو سرکښو ولسونو نه ميرث پاتې سول او دوی مختورن هلاك او تباه سول!

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى خلکو ته ډاډ ورکړئ دئ چې الله هيڅ کله يو کلئ نه ورانوي او خلک يې نه هلاکوي؛ مګر دا چې په لوی کلي کې يې پيغمبر نه وي را ليږلئ، او فرمايلي دي:

[٥٩] ای پيغمبره! او هيڅ کلي د ستا رب الله نه ورانوي او خلک يې له منځه نه وړي، ترڅو چې د دوی په لوی کلي کې پيغمبر راجګ کړي او هغه به خپل قوم ته د زما کتاب آيتونه [او حکمونه] لولي او هيڅ کلئ مونږ نه ورانوو[يعنی اوسيدونکې يې مونږ ندي هلاك کړي] مګر دا چې د دې کلي خلک ظالمان ول، يعنی د الله تعالى پيغمبران يې ونه منل او ايمان رانوړ، نو پدې کار سره دوی پر خپلو ځانو باندې ظلم او کلک تيرئ وکه او د الله پيرزو ينو نه يې سرکښي وکړه.

عزتمنو دوستانو! دا دئ د الله تعالى قانون او نظام په خپلو بنده ګانو کې چې تل يې دوی ته لارښود استازي را ليږلي دي، ترڅو د الله پيغام او حکمونه ورته ورسوي او بيا دوی پر الله او پيغمبرانو باندې ايمان راوړي او په دنيا او آخرت کې ښادي وګټي او نيکمرغه سي، نو بيا چې چا د الله تعالى حکمونو نه سرغړونه کړې ده؛ الله دوی هلاګ کړي دي او کلي يې کنډواله سوي دي، خو د موسى عليه السلام د پيغمبرۍ نه وروسته چې کله فرعون او قوم يې په سمندرکې ډوب سوي هلاك سول، د هغوی نه وروسته بيا نور ټول کافران د مومنانو سره په جګړه کې له منځه تللي دي او دا بهير به همداسې تر قيامت ورځې پورې جاري وي، خو پدې شرط چې د حق لارې پلو يان په کلک ايمان او په پاخه تدبير سره د باطل لښکرو په وړاندې ودر يږي او د الله تعالى د دين عزت او نصرت يې مقصد وي، لکه څنګه،چې الله تعالى فرمايلي دي:(ولا تهنوا ولا تحزنوا وأنتم الأعلون إن كنتم مؤمنين) آل عمران " ١٣٩" ای مومنانو! تاسې خپل ځانونه د دښمن په وړاندې مه سستوی او مه غمجن کيږی، ځکه که تاسې مومنان وی [يعنی که د الله په مرسته باور ولری] نو بيا تاسې يقينا بر يالي ياستی.

{د دنيا خوندو نه تلونكي دي او د آخرت نعمتو نه تل پاتې دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى په ټولو خلکو باندې غږ کړئ دئ هغه څه چې تاسې ته د دنيا په ژوند کې درکړل سوي دي؛ هغه تيريدونکي خوندونه دي او څه چې الله درته په آخرت کې تيار کړي دي؛ هغه تل پاتې نعمتونه دي، او فرمايلي دي:

﴿وَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيۡءٖ فَمَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتُهَاۚ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٦٠ أَفَمَن وَعَدۡنَٰهُ وَعۡدًا حَسَنٗا فَهُوَ لَٰقِيهِ كَمَن مَّتَّعۡنَٰهُ مَتَٰعَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا ثُمَّ هُوَ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ مِنَ ٱلۡمُحۡضَرِينَ ٦١ وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ فَيَقُولُ أَيۡنَ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمۡ تَزۡعُمُونَ ٦٢ قَالَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلُ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَغۡوَيۡنَآ أَغۡوَيۡنَٰهُمۡ كَمَا غَوَيۡنَاۖ تَبَرَّأۡنَآ إِلَيۡكَۖ مَا كَانُوٓاْ إِيَّانَا يَعۡبُدُونَ ٦٣ وَقِيلَ ٱدۡعُواْ شُرَكَآءَكُمۡ فَدَعَوۡهُمۡ فَلَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُمۡ وَرَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَۚ لَوۡ أَنَّهُمۡ كَانُواْ يَهۡتَدُونَ ٦٤ وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ فَيَقُولُ مَاذَآ أَجَبۡتُمُ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٦٥ فَعَمِيَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَنۢبَآءُ يَوۡمَئِذٖ فَهُمۡ لَا يَتَسَآءَلُونَ ٦٦ فَأَمَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَعَسَىٰٓ أَن يَكُونَ مِنَ ٱلۡمُفۡلِحِينَ ٦٧﴾

[٦٠] ای خلکو! او هغه څه چې تاسی ته درکړل سوي دي؛ هغه د دنيا ژوند متاع او د خوند اخستلو شکلا او شايست دئ، او هغه څه چې د الله سره دي هغه ډير شه او تل پاتې نعمتونه دي، نو آيا تاسې ای خلکو! شه فکر نکړئ او خپل عقلونه پکې پکار نه اچوئ؟ يعنى دا چې شايي شه ژور فکر وکړئ، ترڅو گټه او تاوان، شه او بد سره بيل کړئ او د دنيا ژر تيريدونکي ژوند نه خوند اخستل تاسې د الله تل پاتې نعمتونو نه په آخرت کې غافل او بې پروا نکړي.

[٦١] او آيا هغه څوک چې مونږ ورسره د شو کړنو او د ثوابونو ورکړو وعده کړي ده او بيا هغه دوی مومي [يعنى لاس ته يې راوړی] نو آيا دوی د

هغه چا غوندې دي چې هغه ته مونږ د دنيا ژوند نه خوند اخستل ورکړل، خو بيا دئ د قيامت په ورځ د دوزخ اور ته د حاضـر يدونکو نه دئ؟ يعنی هغه د دوزخ اور ته ورغورځول کيږي، ترڅو د خپل کفر سزا وګالی؟ جواب دا چې هيڅ کله دا دواړه سره برابر ندی، ځکه مومنان په دنيا او په آخرت کې د الله تعالی نعمتونو او پيرزوينو نه برخمن دي او ورځځه خواند اخلي، خو د کافرانو برخـه يوازې په دنيـا کې ده او پـه آخرت کې د دوی ځـای د دوزخ اور دئ او هلته به پکې تل کړ يږي! يعنی نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ په خپل رحمت سره وساتي.

[٦٢] ای پيغمبره! او هغـه ورځ راپـه يـاد کړه کلـه چې اللـه پـه کافرانو باندې غږ کړي او ورته وايي: هغه کســان چې تاســې خيال کا ؤ دوی د زما سره په خدايي کې شر يکان دي؛ اوس چيرته دي؟

[٦٣] نو بيا هغـه ناحقـه خدايان چې د الله عـذاب ور باندې پـه حق سـره ثابت سـوئ دئ وايي: ای د زمونږ ر به! دا کافران هغه کسـان دي چې دوی مونږ د حق نه واړول، لکه څنګه چې مونږ بې لارې ســوي وو، او دا دئ اوس مونږ د دوی د ملتيا نه تاته ای ر به! خپل براءت اعلانوو، ځکه دوی د زمونږ عبادت او بنده ګي نکړه؛ بلکې دوی په حقيقت کې د شـيطان عبادت کا ؤ او د هغه وسوسو دوی بې لارې کړي ول!

[٦٤] نو بيا مشـرکانو ته د قيامت په ورځ و يل کيږي: اوس تاسې خپل هغه شــر يکان چې دوی تاســې د الله ســره په خدايي کې شــر يك کړی ول راوغواړی! نو بيايې هغوی راوغوښــتل، خو ځواب يې ورنکه [يعنی هغـه عذاب يې وليده چې دوی ورغوځول کيږي] خو که دوی په دنيا کې حق ته سم سوي وای، يعنی نو بيا به دا سزا نه ورکول کيده.

[٦٥] [ای پيغمبره! او د قيامت هغه ورځ راپه ياد کړه، کله چې] الله پر کافرانو باندي غږ کړي او ورځخه پوښــتي چې د پيغمبرانو بلني ته تاســې څنګه ځواب ورکه؟

[٦٦] نو بيا په هغه ورځ د دوی نه نورې خبرې ورکې ســي [يعنې ی ښوي

سره به هيڅ دليل نه وي] نو بيا دوی د کټې راوړو پوښتنې د يو بل نه نکړي.

[٦٧] نو چا چې د دغو کافرانو نه تو به وايستله او ايمان يې راوړ او ښه عمل يې وکه، نو هغه به بيا د بر يالانو نه وي، يعنی د آخرت ورځې سزا نه د کافرانو نجات او خلاصون؛ يوازې لار په دنيا کې تو به و يستل او ايمان راوړل او ښه عمل دئ.

درندو عز يزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې د کافرانو د بد او تور برخليک انځور د قيامت په ورځ مونږ ته وړاندې کړئ دئ او دوی يې د هغې ورځې سزا نه کلک ګواښلي دي، او بيايې ورته د دغسې عذاب نه د ژغورنې او خلاصون ز يرئ د کفر نه په تو به ويستلو او ايمان راوړو سره ورکړي دئ، او يقينا چې دا ز يرئ د لوی څښتن الله تعالی د پيرز ينو بيلکه پر خپلو بنده ګانو باندې ده.

نو دعاءکړو چې الله تعالی ده مونږ د دغسي ترخی ورځی سزا نه په خپل رحمت سره وساتي او په ايمان او ښه عمل باندې ده د ټينګښت توفيق راکړي، آمين يارب العالمين!

{الله تعالی په خپله خدايي کې د شر يك نه پاک اولوړدئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د خپل عظمت او ټولواکې واکمنۍ بيان د نورو خدايانو شر يکولو نه د الله سره په توحيد او يو والي کې کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ۗ مَا كَانَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ ۚ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٨﴾ وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٦٩﴾ وَهُوَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ لَهُ ٱلْحَمْدُ فِى ٱلْأُولَىٰ وَٱلْءَاخِرَةِ ۖ وَلَهُ ٱلْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٧٠﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمُ ٱلَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَآءٍ ۚ أَفَلَا تَسْمَعُونَ ﴿٧١﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمُ ٱلنَّهَارَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ

يَأْتِيكُم بِلَيْلٍ تَسْكُنُونَ فِيهِ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٧٢﴾ وَمِن رَّحْمَتِهِۦ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِىَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٧٤﴾ وَنَزَعْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا فَقُلْنَا هَاتُوا۟ بُرْهَٰنَكُمْ فَعَلِمُوٓا۟ أَنَّ ٱلْحَقَّ لِلَّهِ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿٧٥﴾

[٦٨] ای پیغمبره! او د ستا رب الله چې څه غواړي؛ هغه پیدا کوي او خوښوي یې او خلکو ته یې هیڅ ډول خوښه او انتخاب نسته او الله د مشرکانو ناحقه خدایانو نه چې هغه د الله سره په خدایي کې شر یکوي پاک او لوړ دئ.

[٦٩] [ای پیغمبره!] او خلک چې په خپلو زړونوکې څه شئ پټوي او څه شئ چې ښکاره کوي؛ پر هغو ټولو باندې الله پوهیږي، یعنی د الله نه هیڅ څه شئ پټ ندي.

[٧٠] او الله په حق سره معبود لوی ذات دئ او د هغه نه پرته بل هیڅ څوک په ر یښتیا سره معبود نسته، او په دنیا او آخرت کې ټوله ستاینه د الله ده او حکم او فرمان هم د الله دئ، او ای خلکو! تاسې ټول د قیامت په ورځ الله ته ورګرځول کیږي، یعنی الله تعالی د هر چا نه حساب اخلي او ثواب او سزا ورکوي.

[٧١] ای پیغمبره! خلکو ته ووایه: تاسې ګورئ که چیرې الله دا ټوله شپه پر تاسي باندې تر قیامت ورځې پورې همداسې تل پر یږدي، نو بیا به د الله نه پرته بل څوک خدای یي چې تاسې ته رنا راولي؟ نو آیا تاسې ای خلکو! خبرې نه اورئ؟ یعنی پکې ښه ژور فکر نکړئ؟ او نه پوهیږئ چې د الله تعالی نه پرته بل په حق سره خدای نسته چې د بنده ګئ مستحق وي.

[٧٢] ای پیغمبره! او همدارنګه خلکو ته ووایه: آیا تاسې ولیدل که چیرې الله ټوله ورځ پر تاسې باندې د قیامت ورځې پورې همداسې تل ورځ پر یږدي، نو بیا د الله نه پرته بل څوک خدای دئ چې تاسې ته شپه راولي،

ترڅو پکې دمه وکړی؟ [ځواب: نا! یعنی دا کار د الله نه پرته بل هیڅ څوک کړای نسي] نو آیا تاسې ای خلکو! دغه د شپې او ورځې بدلون نه و ینی؟ او تاسې ته پکې څومره ډیرې کټې دي!

[٧٣] او الله په خپل رحمت سره شپه او ورځ تاسې ته ای خلکو! یوه د بلې نه بیلې بیلې کړځولې دي، ترڅو تاسې په شپه کې دمه وکړی او په ورځ کې د الله فضل نه ځانو ته روزي وغواړی [نو ښایي چې د الله تعالی لو یو نعمتونو] شکر و باسی، یعنی یوازې د الله بنده ګي او عبادت وکړی او بل څوک ورسره ګډ نکړی.

[٧٤] ای پیغمبره! او هغه ورځ راپه یاد کړه، کله چې د قیامت په ورځ الله پر مشرکانو غږ کړي او ورته وایي: هغه خدایان چې تاسې ګمان کا ؤ چې دوی د زما شر یکان دي؛ اوس چیرته دي؟

[٧٥] او د قیامت په ورځ د هر کافر امت له منځه نه مونږ یو شاهد راباسو چې پر خپل قوم باندې شاهدي وایي [یعنی هغه به د دې قوم پیغمبر وي] او بیا دوی ته وایو: اوس خپل دلیل او حجت راوړی [چې ولې تاسې ایمان رانوړ او پیغمبران مو ونه منل؟] نو بیا دوی پوه سول چې عبودیت او بنده ګي یقینا د الله حق دئ، او هغه ناحقه خدایان چې دوی په دروغو الله سره شر یك ګري ول او عبادت یې کا ؤ؛ ورڅخه ورکیږي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونوکې د خپلو لو یو قدرتونو نښانو بیان نه وروسته د قیامت ورځې تصو یر چې حق د باطل نه پکې ښکاره بیلیږي؛ بیان کړئ دئ، ترڅو کافران د خپل کفر نه لاس واخلي او الله ته رجوع وکړي او ایمان راوړي او د بتانو بنده ګی نه تو به و باسي او د قیامت په ورځ بیا د دغسي تورې راتلونکې نه نجات بیاموسي.

{ قارون بني اسر ائیلو باندې په زور بغاوت او تیرئ وکه }

هو! قارون چې لوی بډای او مالدار سړئ ؤ په بني اسرائیلو باندې یې چې د هغه عز یزان ول؛ تیرئ وکه، او په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿۞إِنَّ قَٰرُونَ كَانَ مِن قَوۡمِ مُوسَىٰ فَبَغَىٰ عَلَيۡهِمۡۖ وَءَاتَيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡكُنُوزِ مَآ إِنَّ مَفَاتِحَهُۥ لَتَنُوٓأُ بِٱلۡعُصۡبَةِ أُوْلِي ٱلۡقُوَّةِ إِذۡ قَالَ لَهُۥ قَوۡمُهُۥ لَا تَفۡرَحۡۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡفَرِحِينَ ٧٦ وَٱبۡتَغِ فِيمَآ ءَاتَىٰكَ ٱللَّهُ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَۖ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ ٱلدُّنۡيَاۖ وَأَحۡسِن كَمَآ أَحۡسَنَ ٱللَّهُ إِلَيۡكَۖ وَلَا تَبۡغِ ٱلۡفَسَادَ فِي ٱلۡأَرۡضِۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ٧٧ قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلۡمٍ عِندِيٓۚ أَوَلَمۡ يَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ قَدۡ أَهۡلَكَ مِن قَبۡلِهِۦ مِنَ ٱلۡقُرُونِ مَنۡ هُوَ أَشَدُّ مِنۡهُ قُوَّةٗ وَأَكۡثَرُ جَمۡعٗاۚ وَلَا يُسۡـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٧٨ فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوۡمِهِۦ فِي زِينَتِهِۦۖ قَالَ ٱلَّذِينَ يُرِيدُونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا يَٰلَيۡتَ لَنَا مِثۡلَ مَآ أُوتِيَ قَٰرُونُ إِنَّهُۥ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٖ ٧٩ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ وَيۡلَكُمۡ ثَوَابُ ٱللَّهِ خَيۡرٞ لِّمَنۡ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗاۚ وَلَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلصَّٰبِرُونَ ٨٠ فَخَسَفۡنَا بِهِۦ وَبِدَارِهِ ٱلۡأَرۡضَ فَمَا كَانَ لَهُۥ مِن فِئَةٖ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُنتَصِرِينَ ٨١ وَأَصۡبَحَ ٱلَّذِينَ تَمَنَّوۡاْ مَكَانَهُۥ بِٱلۡأَمۡسِ يَقُولُونَ وَيۡكَأَنَّ ٱللَّهَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُۖ لَوۡلَآ أَن مَّنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا لَخَسَفَ بِنَاۖ وَيۡكَأَنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ٨٢ تِلۡكَ ٱلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ نَجۡعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوّٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فَسَادٗاۚ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلۡمُتَّقِينَ ٨٣ مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيۡرٞ مِّنۡهَاۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزَى ٱلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ إِلَّا مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٨٤﴾

[٧٦-٧٨] هو! يقينا چې قارون د موسى قوم (بني اسرائيلو) نه ؤ او هغه ته مونږ د مال او دولت دومره ډيرې خزانې ورکړې وې چې د کُنجيو يا کيليو وړل يې په يوه ځواکمنه ډله خلکو باندې درانده ول، او قارون د دې ډير مال او دولت کبر پسې واخست، نو بيا چې کله هغه ته د هغه قوم وو يل: د دنيا په مال او دولت مه غولېږه او مه ور باندې خوښېږه او کبر

مکړه، ځکه کبرجن چې په خپله دنیا خوښي کړي الله يې نه خوښوي او په الله ګران ندئ، او ته ای قارونه! پدې ډیر دولت چې الله درکړئ دئ؛ د آخرت ثواب وغواړه او خپله برخه ده په دنیا کې هم مه هیروئ او داسي ښه وکړه، لکه څنګه چې الله د ستا سره ښه کړي دي، او په ځمکه کې ورانئ او فساد مکړه، او باور وکړه چې مفسدان الله نه خوښوي او دوی پر الله ګران ندي، خو قارون د خپل قوم نه سرغړونه وکړه او د دوی ملتیا نه ووت او بغاوت يې وکه او په ډیر کبر سره يې وو يل: ما دا مال او دولت په خپل علم او پوهې سره چې لرم يې؛ ګټلئ دئ، نو آیا قارون پوه نه ؤ چې الله د هغه نه پخوا هغه خلک او ولسونه په یقین سره هلاک کړل او لمنځه يې یوړل چې د قارون نه ډیر ځواکمن ول، او د مجرمانو کبرجنو نه د قیامت په ورځ پوښتنه نه کیږي، ځکه الله ور باندې پوه دئ او سزايې ورکوي، یعنی الله تعالی هغوی ښه پیژني، نو پوښتنې ته اړتیا نسته او بیا الله دوی ته ښه کلکه سزا ورکړه!

[۷۹-۸۰] نو بیا قارون خپل قوم ته په ډیره دبده کې راووت، نو هغو کسانو چې یوازې د دنیا ژوند غوښت وو يل: کاشکې مونږ هم، لکه قارون ته ورکړل سوې دبدبه [یعنی زور او ځواک درلودای، ځکه یقینا چې قارون د ډیرې لویې برخې څښتن دئ، خو هغو کسانو ته چې علم او پوهه ورکړل سوې وه؛ هغوی وو يل: ای خلکو! د ستاسې په حال ده آه او افسوس او هلاکت وي! ځکه هغو کسانو چې ایمان راوړ او ښه يې وکړل؛ دوی ته [د آخرت په ورځ] د الله ثواب ډیر ښه دئ او هغه جنت دئ او صبر کونکو نه پرته بل څوک يې ګټلای نسي.

[۸۱] نو بیا قارون او د هغه کلا(قلعه) او کور مونږ په ځمکه کې ننه ایستل او پکې ډوب سول، نو بیا قارون د الله نه پرته بل هیڅ څوک ملګري او پلو یان نه درلودل، ترڅو د هغه مرسته وکړي او قارون د بر یالانو نه نه ؤ، یعنی ترڅو ځان خلاص کړي او نجات بیاموميي، بلکې هغه په هلاك سوو کې ؤ او ځان، مال او دولت يې تباه سول، او دا دئ بیلګې يې همدا اوس زمونږ په مخکې د پر لپسې نظامونو سقوط سره په

افغانستان کې په ستړکو ولیدل سوې!

[٨٢] او بیا د سحر په وخت کې هغو کسانو چې پرون یې د قارون ځای غوښت [یعنی د هغه غوندې دبده یې غوښتله او ارمانجن یې ول] هغوی وو یل: هوا! ر یښتیا چې یوازې الله ډیر چا ته د خپلو بنده ګانو نه چاته وغواړي روزي یې ډیروي او چاته چې وغواړي روزي یې تنګوي، نو که د الله احسان پر مونږ باندې نه وای، نو مونږ به یې په ځمکه کې خښ کړي وو، او ریښتیا چې کافران تل پاتې بر یا ته نه رسیږي، یعنی د دوی وروستۍ برخه؛ خواري او ذلت دئ، لکه فرعون، قارون، هامان او دوی ته ورته سرکښان.

[٨٣] او د آخرت ورځې ثوابونه چې جنتونه دي؛ هغه هغو کسانوته ورکوو چې په ځمکه کې کبر او فساد نه غواړي او پکې ورانئ نکړي، او ښه راتلونکې د متقیانو په برخه ده، یعنی دا چې دوی په ایمان راړو سره ځانونه د آخرت ورځې عذاب نه ساتلي دي، نو لوی ثوابونه یې برخه ده.

ګرانو دوستانو! دا د قارون قصه د پند اخستلو تل پاتې قصه ده او د بشر یت په تار یخ کې په وار وار سره تکرار سوې ده او همداسې تل د زمونږ په ژوند کې تکرار یږي، او اوسنۍ افغانستان (٢٠٢١م) یې هم یوه ژوندۍ بیلګه ده، نو هوښیارانو ته ښایي چې د دنیا په مال او دولت هیڅکله ونه غولیږي.

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د ښو کړنو او بدو کړنو خاوندانو ته د دوی د کړنو پایلې، ثوابونه او سزا ګانې اعلان کړې دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

[٨٤] او هر څوک چې د آخرت په ورځ د ښو کړنو سره راسي، نو هغه ته د ده د ښو کړنو نه ډیر ښه ورکول کیږي، او څوک چې د بدو کړنو سره راسي، نو بیا دوی ته چې بد یې کړي ول [یعنی ګناه ګاران ول] یوازې د دوی د بدو کړنو او د ګناه سزا ورکول کیږي.

ګرانو دوستانو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونوکې مونږ ته د قارون چې

د موسی عليه السلام قوم بني اسرائيلونه ؤ؛ د هغه د کبر او بغاوت قصه کړي ده، او قارون يو لوی بډا سوداګر ؤ او الله هغه ته ډيره دينا ورکړي وه، خو دئ کبر پسې واخست او د الله ورکړې نه منکر سه او و يو يل: دا مال او دولت هغه په خپله پوهه او هوښاری ګټلئ دئ، او بيايې په ډيره دبدبه او ځواکمنۍ سره ځان خپل قوم ته وښود او په يوه لو يه ورا کې خلکو ته راووت، نو بيا ځيني کسان ور باندې کلک وغوليدل او د قارون غوندې د ډير مال او دولت، او د زور او ځواک ارمانجن سول، نو بيا الله تعالی ډير ژر ځمکه وچوله او قارون او د هغه کور کلا (قلعه) او مانۍ يې پکې خښه او ډو به کړه، ترڅو د نورو سرکښو خلکو لپاره د پند اخستلو ګټوره زد کړه وګرځي او ټول خلک ورڅخه عبرت واخلي!

او د قارون د دغسې کبرجنې قصې او هغه ته د ډيرې ژر سزا ورکولو په پای کې؛ الله تعالی ټول خلک کلک ګواښلي دي، او هغه دا چې د آخرت ورځې ښادي او عزت؛ هيڅ کله په دنيا کې کبرجنو خلکو ته نه ورکول کيږي، او د هغې ورځې راتلونکئ عزت يوازې د متقيانو په برخه دئ، ځکه دوی ايمان راوړ او د الله تعالی ټول حکمونه يې ومنل او ښه يې وکړل او د بدو کړنو او د ګناه نه يې خپل ځانو نه کلک وساتل.

نو ښايي درندو دوستانو! چې د قارون قصه او د هغه غوندې د نورو زورواکانو قصې زمونږ لپاره د عبرت اخستلو درس او ښه زده کړه وي، ترڅو مونږ د الله تعالی حکمونو بغاوت نه؛ کلک وساتي او هيڅ کله د الله کړوونکي عذاب نه غافل نسو.

{ الله په پيغمبرز يرئ کړئ دئ چې بيرته به مکې ته ستون سي }

او په ور پسې مبارک آيت کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته د مکې نه مدينې منورې ته د هجرت او جبري کډه کيدلو په باره کې تسليت ورکړئ دئ، او بيايې ورته ز يرئ ورکړئ دئ چې د خيلو نيکونو مينې مکې ته به ډير ژر سرلوړئ بيرته ورستون سي، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِى فَرَضَ عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ لَرَآدُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍ ۚ قُل رَّبِّىٓ أَعْلَمُ مَن

جَآءَ بِٱلۡهُدَىٰ وَمَنۡ هُوَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٨٥﴾

[٨٥] ای پیغمبره! یقینا هغه چا چې پر تا باندې قرآن رانازل که [یعنی په قرآن باندې عمل کړل او د هغه تبلیغ او خلکو ته رسول یې پر تا باندې] فرض کړل؛ هغه به خامخا تا بیرته هغه ځای ته چې ته ورڅخه وتلئ [او مهاجر سوئ وې] ور وګرځوي [یعنی الله به تا بیرته مکې ته راولي، نو ته ای پیغمبره! خلکو ته] ووایه [او ورته اعلان وکړه چې ای خلکو!] د زما رب هغه څوک ښه پیژني او ښه ور باندې پوه دئ چې هغه د الله پیغام تاسي ته را وړلئ دئ، او د زما رب الله هغه څوک چې په ښکاره ورکتیا دئ او حق نه کوږ سوئ دئ؛ هم ښه پیژني! یعنی بیا الله تعالی هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

{الله تعالی رسول الله ﷺ د کافر انو ملاتړ نه منعې کړئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې چې د القصص سورې وروستي آیتونه دي؛ الله تعالی د قرآن رانازلیدل پر پیغمبر ﷺ باندې؛ خپل رحمت بللئ دئ او پیغمبرې د کافرانو ملاتړ نه کلک ګواښلئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَمَا كُنتَ تَرۡجُوٓاْ أَن يُلۡقَىٰٓ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبُ إِلَّا رَحۡمَةٗ مِّن رَّبِّكَۖ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرٗا لِّلۡكَٰفِرِينَ ٨٦ وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بَعۡدَ إِذۡ أُنزِلَتۡ إِلَيۡكَۖ وَٱدۡعُ إِلَىٰ رَبِّكَۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٨٧ وَلَا تَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۘ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ كُلُّ شَيۡءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجۡهَهُۥۚ لَهُ ٱلۡحُكۡمُ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٨٨﴾

[٨٦-٨٧] ای پیغمبره! او تا هیڅ کله هیله نکړه [یعنی سترکې په لار نه وې] چې پر تا باندې به دا کتاب قرآن را نازلیږي [یعنی هغه به پاس د اسمان نه تا ته راکوز یږي] خو دا غوره کول پر تا باندې د ستا رب الله رحمت او پیر زو ینه وه [یعنی دا چې ته الله پیغمبر کړې او قرآن یې پر تا باندې رانازل که] نو ته ای پیغمبره! هیڅ کله د کافرانو مرستندوی او مل

نسي، او کل چې بيا د الله کتاب آيتونه تا ته رانازل سول، نو دا کافران بيا تا د قرآن آيتونو نه منع نکړي [يعنى ښـايي چې ته په قرآن باندې عمل وکړي او هغه خلکو ته ورسـوي او ورزده يې کړي او دوی پرې وروزې، او ای پيغمبره!] ته خلک پر خپل رب باندې ايمان راوړو ته را دعوت کړه او هيڅ کله ته د مشـرکانو نه مه کيږه، يعنې د کافرانو خبرې مه منه او ملتيايې مکړه، ځکه دوی د حق سمې لارې نه ورک سوي دي.

[٨٨] ای پيغمبره! او د الله سـره بل خدای مه غواړه، ځکه د الله نه پرته بل په حق سـره خدای او معبود نسـته او د الله نه پرته نور ټول هرڅه لـه منځـه ځی او د هلاکت سـره مخ کيږي، او ټول واک او حکم؛ يوازې د الله دئ [يعنى ای خلکو! تاسې ټول] الله ته ورګرځيدونکي ياستی، يعنى الله تعالى د هر چا نه د خپل اسماني عدالت په تله حساب اخلي!

عزتمنو دوسـتانو! د القصص مبارك سوره الله تعالى په دغسې قاطع او پر يکنده لارښـودنو سـره خپل پيغمبر او ګران اسـتازي محمد ﷺ ته پای ته رسـولې ده، او يقينا چې دغه لارښـودنې اسلام ته رابلونکو دعاتو ته چې دوی د پيغمبر ﷺ د دعوت وارثان او لارو يان دي؛ يو تل پاتې لارښـود پيغام دئ، نو ښـايي چې دوی خپلې منګلې پدې قرآني پيغام باندې کلکې ونښـلوي او ور باندې ټينګې يې کړي، او هيڅ کله د قرآن تبليغ او بيان نه خلکو ته لاس وانخلي او د کافرانو ملتيا نه کلکه ډ ډه وکړي، ځکه د دغو کافرانو او مجرمانو ملا تړ نه په کلکه سره د منع کولو حکم پدې مبارك سـوره کې لمړئ د موسـى عليه السلام په خوله په (١٧) مبارك آيت کې ياد سـوئ دئ، او الله تعالې موسـى عليه السلام د دې تعهد په يادونه کې فرمايلي دي: ﴿قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ فَلَنۡ أَكُونَ ظَهِيرٗا لِّلۡمُجۡرِمِينَ ١٧﴾

او بيا دا حکم الله تعالى په (٨٦) مبارك آيت کې د رسـول الله ﷺ په منع کولوکې د کافرانو ملاتړ نه بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي: ﴿وَمَا كُنتَ تَرۡجُوٓاْ أَن يُلۡقَىٰٓ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبُ إِلَّا رَحۡمَةٗ مِّن رَّبِّكَۖ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرٗا لِّلۡكَٰفِرِينَ ٨٦﴾

نو ښايي چې اسلام ته رابلونکي دعات او پوهان علماء د الله تعالى دا قاطع حکم تل په پام کې ولري او هيڅ کله د کافرانو او مجرمانو ملاتړ ونکړي، او دوی ته ښايي ز يار و باسي چې د حق او عدالت ټينګولو په دغه سوتونزمنه لار کې د موسى او محمد ﷺ په پله ګام کيږدي او هغوی پسې لاړ سي او په ټولنه کې حق او عدالت خور کړي او د ظلم او کفر تک لارو مخنيوئ په کلکه سره وکړي!

الحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د العنكبوت سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د العنكبوت سورې لنډه پيژندنه او لوی مقصدو نه}

قدرمنو عز يزانو! د العنكبوت يا د (غَنِي) سوره مكي سوره ده، او په (العنكبوت) څكه نومول سوې ده چې په (٤١) آيت کې يې مشرکان چې د الله نه پرته د بتانو عبادت کړي؛ غني ته ورته بلل سوي دي، او د دې مبارکې سورې په پيل کې الله تعالى خلکو ته ګواښ کړئ دئ چې دوی به خامخا په لو يو ازمايښتونو سره ازمايي او سختي او اساني به ور باندې راولي، ترڅو ر يښتيني مومنان د دروغژنو منافقانو نه بيل سي او ښه روښانه سي چې څوک په ر يښتيا سره مومن دئ او څوک دروغ وايي، نو د دې مبارکې سورې لوی هدف او مقصد مومنانو ته په ازمايښتونوکې په صبر او زغم باندې کلک سپارښت دئ، څکه د دې سورې بل مقصد د مومنانو ايماني قوت باندې ټينګار دئ او د همدې مقصد لپاره چې کله په مکه کې لمړني مومنان د لو يو ستونزو سره مخامخ ول؛ دا مبارکه سوره رانازله سوې ده، او په پيل کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

{د ايمان خوسې دعوا د الله ازمايښت نه خلاصون ندئ}

﴿الٓمٓ ۝١ أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتۡرَكُوٓاْ أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ ۝٢ وَلَقَدۡ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱلۡكَٰذِبِينَ ۝٣ أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَسۡبِقُونَاۚ سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ۝٤﴾

[١] [الف، لام، ميم] د عربي ژبې مقطعات او د يو بل نه پر يکړ سوي توري دي او د العنكبوت سوره ور باندې، لكه څينې نورې سورې پيل

سوې دي، او مقصد او غرض يې همغه مقصد دئ چې په مخکې تير سوو هغو سورو کې بيان سه چې په مقطعاتو تورو يا حرفونو باندې پيل سوې دي، او هغه دا چې الله تعالى د دغو تورو په مقصد او مراد ښه پوه دئ، خو ځينې نورو ډيرو مفسر ينو بيا په مقطعاتو پيل سوو سورو په باره کې و يلي دي چې هغه د قرآن بياني اعجاز نښې دي، يعنې دا قرآن چې د الله تعالى نه په ر يښتيا او حق سره را کوز سوئ لارښود کتاب دئ؛ د همدې عربي تورو نه چې ټول عرب ور باندې غږ يږي او خبرې پرې کړي؛ جوړ سوئ کتاب دئ، خو د عر بانو اديبان او شاعران هغه ته ورته کتاب د راوړو نه عاجز او بې وسې سول، ځکه الله تعالى دوى په وار وار سره ننګولي دي چې که قرآن په حق سره د الله تعالى نه راغلئ کلام نه وي، نو تاسې د هغه غوندې کتاب او يا يوه سوره او يا څو آيتونه راوړئ؟ نو بيا دوى ورځخه پاتې راغلل او د ځواب نه عاجز سول او د قرآن آيتونو غوندې آيتونه يې را نسول وړاى، نو معنا دا چې د سورو پيل په مقطعاتو تورو باندې د قرآن ادبي اعجاز څرګندوى دئ!

[۲] آيا هغه خلک چې په خوله وايي: مونږ ايمان راوړ آيا دوى داسې ګمان کړي چې دوى به پرته د ازمايښت نه همداسې پر يښودل سي؟ [ځواب دا چې: نا! هيڅ کله بې ازمايښته نه پر يښودل کيږي، يعنى دوى به خاماخا ازما يښت کيږي، ترڅو ر يښتني مومنان د منافقانو نه بيل سي.

[۳] او يقينا چې د دوى نه پخوا تير سوي کسان مونږ وازمايل، نو الله به يقينا په خپل علم او پوهې سره؛ د هغو کسانو صداقت چې دوى ر يښتني ول؛ خلکو ته ښکاره وروښيي او دروغژن منافقان به هم هرومرو ورو پيژني، يعنى منافقان به خاماخا خلکو ته رسوا سي، ځکه الله تعالى خپل بنده ګان هيڅ کله د ازمايښت نه پرته همداسې نه پر يږدي چې يوازې په خوله د ايمان دعوا وکړي، ځکه دوى خاماخا په مالي، ځاني ز يان او تاوان باندې ازمايښت کيږي، ترڅو مخلص او متعهد مومن د منافق او دروغژن نه بيل سي او سره و پيژندل سي، او مومنان هيڅکله په منافقانو باندې ونه غولږي او پر هغوى باندې خوش باوري ونکړي!

[٤] او آيا هغه كسان چې بدې كړنې او ګناه كړي؛ دوی داسې انګيري او ګمان كړي چې دوی به د زمونږ نه په تيښتې سره وړلاندې سي او را څخه خلاص به سي؟ [يعنی آيا الله تعالى به (العياذ بالله) دوی ته د سزا ورکولو نه عاجز او بې وسې سي؟ ځواب دا چې: نا ! دا انګيرنه هيڅ كله سمه نده] او دوی ډير بد حكم او خوسې خيال كړي، يعنی دا چې د الله فرمان نه سرغړونكي كسان؛ هيڅ كله د الله سزا نه تښتيدلای او خلاصيدلای نسي!

عزتمنو دوستانو! دا مبارك آيتونه ټولو هغو سركښو او كبرجنو كسانو ته چې د الله تعالى حكمونه د پښولاندې كوي؛ ډير كلك ګواښ دئ، نو ښايي چې هرڅوک خپل سر په ګر يوان کې هكته كړي او خپل ځان سره ده حساب وكړي او د الله تعالى سختو نيولو او سزا ګانو نه ده خپل ځان كلك وساتي، ځكه هيڅ څوک د الله حساب او سزا نه په خپل زور نجات نه مومي او ورڅخه خلاصيدای نسي.

{الله سره ملاقات حتمي دئ او مومنانو ته د ستړيا ګټه رسيږي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى مخلصو مومنانو ته په ډاډ ورکولو سره خپله استغناء او لويي د ټولو خلکو نه يادە كړي ده، او كلك ټينګاريې ور باندې كړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿مَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ ٱللَّهِ فَإِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ لَأٓتٖۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٥ وَمَن جَٰهَدَ فَإِنَّمَا يُجَٰهِدُ لِنَفۡسِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَحۡسَنَ ٱلَّذِي كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٧﴾

[٥] څوک چې [د قيامت په ورځ] د الله سره د ملاقات او يوځای كيدو هيله لري، نو يقينا چې د الله دا تاكل سوې نيټه راتلونكې ده او الله ښه كلك اور يدونكئ او ښه پوه لوی ذات دئ، يعنی مومنانو ته به د قيامت په ورځ ثواب وركړي او خپل ملاقات به ور په برخه كړي او جنتونو ته به دوی

ورننه باسي او د لو يو نعمتونو نه بې برخمن کړي.

[٦] او هرچاچې [د الله تعالى دين د بر يا لپاره] جهاد وکه [او زحمت يې وايست] نو يقيناچې هغه د خپل ځان ګټې لپاره جهاد کړئ دئ، او الله په يقين سره د تولو مخلوقاتو نه مستغنى ذات دئ او هيڅ چا ته اړتيا نلري، يعنى د هرچا جهاد او د ښو کړنو ثواب او ګټه خپله هغه ته رسيږي، او الله مخلوق ته محتاج ندئ، يعني دا چې ښايي هيڅ څوک داسې خيال او ګمان ونکړي چې الله تعالى (العياذ بالله) د هغه عبادت او فرمانوړو ته محتاج دئ، بلکې يوازې خلک دي چې د الله تعالى رحمت او ښېنې ته اړتيا لري او ورته کلک محتاج دي.

[٧] او هغو کسانو چې ايمان راوړ او ښه کارونه يې وکړل [يعنى د الله حکمونه يې پرځاى کړل] د دوى ګناه او بدې کړنې به مونږ پټې کړو او د ښو کړنو ثواب به يې د ښو کړنو نه لا ښه ډير ورکړو!

{د مور او پلار سره ښه کړل پر مومنانو باندې فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى مومنانو ته د مور او پلار سره په ښو کړنو کلک سپارښت کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ حُسْنًا ۖ وَإِن جَٰهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِى مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَآ ۚ إِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِى ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٩﴾﴾

[٨] او تولو خلکو ته مونږ مور او پلار سره په ښو کړنو سپارښت کړئ دئ، خو که چيرې دوى دواړو پر تا باندې اى مومنه! زور واچا ؤ، ترڅو هغه څه چې ته ور باندې نه پوهيږې؛ هغه د زما سره په خدايي کې ګډ او شر يك کړي، نو د دوى دواړو خبره مه منه او اطاعت يې مکړه، او يقينا چې د ستاسې تولو بيرته را ګرځيدل ما ته دي، نو بيا به زه تاسې د ستاسې کړنو نه په دنيا کې خبر کړم، يعنى بيابه د ښو کړنو ثواب او د بدو کړنو سزا درکړم.

[٩] او هغو کسانو چې ايمان راوړ او ښه يې وکړل، نو يقينا چې دوى

به زه د ښو خلکو سره کډوم، یعنی دوی به جنتونو ته ورننه باسم او پکې ځای پرځای کوم ښې.

درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې مومنانو ته ډیرې ګټورې لارښودنې او سپارښتنې کړې دي او عمل کړل ور باندې دوی ته د نیکمرغۍ او سعادت ژ یرئ دئ.

{الله د زړونو مالك دئ او مومنان د منافقانو نه بیلوي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی هغه کسان کلک غندلي دئ چې ایمان یې کمزورئ او ضعیف دئ او د منافقانو خو یونه کړي او په خپل ایمان کې کلک ندي او استقامت او ټینګښت نلري او د حالاتو سره سم بدلیږي را بدلیږي، او په بیان کې الله فرمایلي دي:

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ فَإِذَآ أُوذِىَ فِى ٱللَّهِ جَعَلَ فِتْنَةَ ٱلنَّاسِ كَعَذَابِ ٱللَّهِ ۖ وَلَئِن جَآءَ نَصْرٌ مِّن رَّبِّكَ لَيَقُولُنَّ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ۚ أَوَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَعْلَمَ بِمَا فِى صُدُورِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠﴾ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ ﴿١١﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّبِعُوا۟ سَبِيلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطَٰيَٰكُمْ وَمَا هُم بِحَٰمِلِينَ مِنْ خَطَٰيَٰهُم مِّن شَىْءٍ ۖ إِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿١٢﴾ وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْ ۖ وَلَيُسْـَٔلُنَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ عَمَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿١٣﴾﴾

[١٠] او د خلکو نه داسې څوک هم سته چې په خوله وایي: زه مومن یم، خو کله چې د الله په لار کې وزوروړل سي [یعني څه ژ یان یا تاوان ورته ورسیږی] نو دئ د خلکو دغه ازمایښت، لکه د الله سزا ځان ته بولي! [یعنی لکه چې دا سزا هغه ته الله ورکړې ده] خو که چیرې بیا ای پیغمبره! د ستا رب الله نه دوی ته مرسته راسي، نو بیا مومنانو ته وایي: مونږ خو په کلکه د ستاسې سره وو! نو آیا الله د ټولو خلکو په زړونو ښه پوه ندئ؟ [ځواب دا چې: هو! الله تعالی د خلکو په زړنو ښه پوهیږی چې څوک مومن دئ او څوک منافق؟ او دغه منافق کسان د هیڅا سره نه ول؛ دوی خپلو

شخصي ګټو پسې دلته او هلته منډې وهلې، نو د دغسې کرغېړن خوی نه چې د نفاق بوی ورځخه راځي؛ الله ته پناه وړو!]

[١١] او یقینا چې الله به خپل علم او پوهه د مومنانو په زړونو کې خلکو ته ښکاره کړي او بیا به ټول خلک مومنان ښه و پیژني او منافقان به هم الله رسوا کړی، یعنی نو بیابه دا دواړه ډلې یوې بلې نه ښکاره بیلې سي او ښې به و پیژندل.

[١٢] او مومنانو ته کافرانو وو یل: راځئ د زمونږ لارې پسې لاړ سئ او د ستاسې ګناهوو پیټې به مونږ پشا کړو، خو حقیقت دا دئ چې کافران هیڅ کله د مومنانو د ګناه پیټې نه پشا کوي، او یقینا چې دوی دروغژن دی، یعنی څه چې وایي ر یښتیا ندي.

[١٣] او کافران به د خپلو ګناه وو درانده پیټې هرومرو پشا کړي او هم به د هغو خلکو پیټې پشا کړي چې دوی یې د الله لارې نه منعې کړل، او بیا به د قیامت په ورځ د خپلو دروغو پوښتنه په کلکه ورځخه کیږي!

ګرانو دوستانو! دا مبارك آیتونه که څه هم د کافران او منافقانو د هغو شومو او کرکجنو هلوځلو څرګندوی دي چې دوی د قرآن کر یم نزول په وخت کې مومنان د الله لارې نه منعې کول او د رسول الله ﷺ پر ضدیې هڅول، خو د دي مبارکو آیتونو حکم عام دئ او هغه د قیامت ورځې پورې د ټولو کافرانو او منافقانو د پټو چلونو او توطئیو ښکارندوی دئ چې هغه یې د مومنانو پر ضد په کار اچولې، او همدارنګه دا مبارك آیتونه د قیامت ورځې پورې ټولو منافقانو ته د الله تعالی لخوا په ډیر قاطعیت سره د کلک ګواښ پیغام دئ.

{د نوح قوم(٩٥٠)کاله دعوت نه وروسته الله هلاك کړل}

او په ور پسې مبارکو آیتوکې الله تعالی د نوح عليه السلام پیغمبرۍ نه سوه او پنځوس(٩٥٠) کلونو دعوت لنډه یادونه کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَلَبِثَ فِيهِمۡ أَلۡفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمۡسِينَ عَامٗا فَأَخَذَهُمُ ٱلطُّوفَانُ وَهُمۡ ظَٰلِمُونَ ١٤ فَأَنجَيۡنَٰهُ وَأَصۡحَٰبَ ٱلسَّفِينَةِ

وَجَعَلْنَٰهَآ ءَايَةً لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿١٥﴾

[١٤] نوح مونږ خپل قوم ته په يقين سره پيغمبر راولېږه، نو بيا دئ نه سوه او پنځوس کاله په خپل قوم کې د الله توحيد ته رابلونکئ پاتې سه [خو قوم يې د هغه دعوت ونه مانه او په خپل کفر او سرکښۍ يې ټينګار وکه] نو بيا دوی د ابو زورور طوفان راونيول او لاندې يې کړل، ځکه دوی ظالمان ول، يعنی د الله فرمان او حکم نه يې سرکښي وکړه.

[١٥] نو بيا نوح ته او د هغه سره په بېړۍ کې سپرو ملګرو ته يې مونږ نجات ورکه [يعنی په طوفان کې د غرقيدلو او ډو بيدلو نه دوی مونږ خلاص کړل، او د دوی د سپرلۍ بېړۍ د غره په څوکه په در يدو سره مونږ ټولو نړۍ والو ته د پند اخستلو نښه وګرځوله!

قدرمنو دوستانو! و يل کيږي چې د نوح عليه السلام کښتۍ يا بېړۍ تر اوسه د عراق شمال غرب خوا ته د ترکيې جګو غرونو په څيرمه تم سوې پرته ده، او دا بېړۍ يا کښتۍ د بشر يت په اوږده تار يخ کې لمړۍ کښتۍ وه، او دا دئ په اوسني عصرکې د بېړيو جوړولو کچې په ملکي او نظامي برخوکې ښه ډير او د پام وړ پرمختګ کړئ دئ.

{د بتانو غندل او الله تعالی عبادت ته د ابراهيم دعوت}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د ابراهيم عليه السلام د پيغمبرۍ قصه خپل قوم ته لنډه يادە کړی ده او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې فرمايلي دي:

﴿وَإِبْرَٰهِيمَ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُ ۖ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٦﴾ إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوْثَٰنًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا فَٱبْتَغُواْ عِندَ ٱللَّهِ ٱلرِّزْقَ وَٱعْبُدُوهُ وَٱشْكُرُواْ لَهُۥٓ ۖ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿١٧﴾﴾

[١٦] [او ای پيغمبره! ابراهيم عليه السلام راپه ياد کړه] کله چې هغه پر خپل قوم غږ وکه او ورته يې وو يل: د الله عبادت او بنده کي وکړی او د الله نه وو يرې او د سزا نه يې خپل ځانو نه په فرمان وړو سره وساتی او هغه تاسې ته خير او ښه ده، که تاسې پوهيږی، يعنی که تاسې هوښياران

ياستى او خپل خير او كټه ښه پيژنى!

[١٧] [اى خلكو! او يقينا چې تاسې د الله نه پرته د بتانو بنده كې او عبادت كړى [يعنى دا چې تاسې بتان خپل خدايان بولى] او د ستاسې دا كار الله پسې دروغ جوړل دي، ځكه هغه كسان چې تاسې د الله نه پرته د دوى عبادت كړي؛ هغوى تاسې ته د روزى دركولو څښتن ندي، نو خپله روزي د الله نه وغواړى او عبادت يې وكړى او د الله شكر و باسى [يعنى مننه يې وكړى او د مړ ينې نه وروسته بيا] تاسې الله ته ورګرځول كيږى، يعنى بيا الله تعالى د ټولو خلكو نه حساب اخلي او هرچا ته د هغه حق (ثواب او سزا) وركوي!

قدرمنو دوستانو! الله تعالى پدې مباركو آيتونوكې د نوح عليه السلام او بيا د ابراهيم عليه السلام ولسونو سركښي د دوى پيغمبرى پر وړاندې ډيره لنډه لنډه ياده كړې ده او مقصد يې رسول الله ﷺ ته د خپل قوم (قريشو) پر وړاندې ډاډ او تسليت ؤ، ځكه د هغه نه ډير وړاندې؛ د لوى تصميم خاوندان [نوح او ابراهيم عليهما السلام] د خپلو ولسونو لخوا د كلكې سركښى سره مخامخ سوي دي، نو بيا الله تعالى د هغوى سركښى امتونه تباه او هلاك كړل، نو همداسې به هغه كسان هم هلاك او تباه كړي چې د اسلام پيغمبر ﷺ پر وړاندې سركښي كړي او دښمنى ته يې ملاتړي او د اسلام د خورولو پر وړاندې خنډ كړي.

{د رسول الله ﷺ رسالت خلكو ته د الله پيغام رسول ول}

او په ور پسې مباركو آيتونوكې الله تعالى خلكو ته اعلان كړئ دئ چې د رسول الله ﷺ دنده او رسالت؛ يوازې د دين تبليغ او خلكو ته د الله روښانه پيغامونو رسول دي، او فرمايلي دي:

﴿وَإِن تُكَذِّبُوا۟ فَقَدْ كَذَّبَ أُمَمٌ مِّن قَبْلِكُمْ ۖ وَمَا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٨﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ كَيْفَ يُبْدِئُ ٱللَّهُ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥٓ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١٩﴾ قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ بَدَأَ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ ٱللَّهُ يُنشِئُ ٱلنَّشْأَةَ ٱلْءَاخِرَةَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٠﴾

يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَيَرۡحَمُ مَن يَشَآءُۖ وَإِلَيۡهِ تُقۡلَبُونَ ﴿٢١﴾ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ﴿٢٢﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَلِقَآئِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ يَئِسُواْ مِن رَّحۡمَتِي وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٢٣﴾

[١٨] [ای د مکې کافرانو!] او که تاسې د زمونږ پیغمبر دروغژن و بولئ [یعنی د هغه بلنه د الله تعالی توحید ته په بنده ګی کې ونه منئ، نو د ستاسې دا در یځ څه نوئ چلند ندئ] او یقینا چې د ستاسې نه مخکې ولسونو او امتونو هم خپل پیغمبران دروغژن و بلل [یعنی لکه د نوح او ابراهیم علیهما السلام قامونه او ځینې نور ولسونه او امتونه چې بیا ټول هلاك سول] او د زما پیغمبر(محمدﷺ) دنده او رسالت تاسې ته؛ یوازې د زما روښانه پیغام رسول دي، یعنی د رسول اللهﷺ پیغام منل او نه منل د خلکو خپل کار دئ او رسول اللهﷺ خپل پیغام په زور پر چا باندې نه مني او هرڅوک خپلې خوښې ته پر یږدي، نوکه بیا چا ایمان راوړ ګټه یې خپل ځان ته رسیږی او که کافر پاتې سه خپله سزا به ګالي او دئ په جهنم کې کړ یږي.

[١٩] [او آیا دغو کافرانو چې د بیرته راژوندی کیدونه منکر دي] ونه لیدل [یعنی نه پوهیږي؟] چې الله څنګه د خلکو پیدایښت پیل کوي؟ او بیا دا پیدایښت د مړ ینی نه وروسته بیرته راګرځوي [یعنی مړي بیرته راژوندي کوي] او دا کار الله ته ډیر اسانه دئ، یعنی دا چې د ټولو خلکو پیدایښت په پیل کې د هیڅ نه ؤ، نو بیا همدا مړي بیرته ژوند ته ورګرځول کیږي، لکه څنګه چې دوی په دنیا کې ژوندي ول، نو دا کار الله ته اسانه دئ او د الله تعالی لو یو قدرتونو نښې د ځمکې او اسمانو په پیدایښت کې ور باندې ښې ځلانده ګواهي وایي او هیڅ هوښیار کس ورڅخه سترګې نه پټوي او انکار یې نکړي.

[٢٠] ای پیغمبره! [د قیامت په ورځ د خلکو بیرته راژوندي کیدونه منکرو کسانو ته] ووایه: لاړ سی او په ځمکه کې وګرځئ [یعنی ځیرني او

تحقیقات وکړي] نو بیا وګوری چې د خلکو پیدایښت څنګه پیل سه؟ [یعنی خلک الله تعالی په لمړي ځل کې څنګه پیدا کړل؟] نو بیا دوی الله بل ځل بیرته راپیدا کوي، او یقیناچې الله په هرڅه باندې قادر ذات دئ، یعنی الله تعالی هرڅه کړای سي!

[۲۱-۲۲] [هو! الله تعالی د هرڅه وسعه لري] نو چا ته چې وغواړي هغه ته سزا ورکوي او چا ته چې وغواړي پر هغه رحم کړي، او تاسې ای خلکو! بیرته الله ته وراړول کیږی او پر ځمکه او اسمان کې د ستاسې زور پر الله باندې نه رسیږي او د الله کړنو مخه نیولای نسی او د الله نه پرته تاسې بل هیڅ څوک ملګرئ او مرستندوی نلری.

[۲۳] او هغه کسان چې د الله قدرتونو نښو نه او د قیامت په ورځ د الله سره د ملاقات او یوځای کیدو نه منکرسول؛ دوی د زما رحمت نه ناهیلي سوي دي، او دوی ته په آخرت کې کړونکئ عذاب دئ، یعنی کافرانو ته الله تعالی کلکه سزا ورکوي او د دوزخ په اور کې یې کړوي!

ګرانو وروڼو او خو یندو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې د رسول اللهﷺ قوم کافرانو پام د پخوانیو پیغمبرانو هغو ولسونو ته را اړولئ دئ چې دوی د الله استازي او پیغمبران ټول تکذیب کړل او ایمان یې رانوړ، نو بیا الله تعالی خپل زور دوی ته وښود او ټول یې هلاك کړل او لمنځه یې یوړل، نو همداسې ای د مکې خلکو! د ستاسې زور هم پر الله تعالی باندې نه رسیږي، او الله به کافرانو ته د آخرت پر ورځ کلکه سزا ورکړي او دوی به د دوزخ په اورکې وکړوي.

{ابراهیمؑ پرورانديد هغه قوم وحشتناکه غبرګون}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې د ابراهیمؑ قصې پاتې برخه مونږ ته پوره یاده کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ فَأَنجَىٰهُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلنَّارِ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٤﴾ وَقَالَ إِنَّمَا ٱتَّخَذْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ أَوْثَٰنًا مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ ثُمَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ

يَكۡفُرُ بَعۡضُكُم بِبَعۡضٖ وَيَلۡعَنُ بَعۡضُكُم بَعۡضٗا وَمَأۡوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ ٢٥ فَـَٔامَنَ لَهُۥ لُوطٞۘ وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٢٦ وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَجَعَلۡنَا فِي ذُرِّيَّتِهِ ٱلنُّبُوَّةَ وَٱلۡكِتَٰبَ وَءَاتَيۡنَٰهُ أَجۡرَهُۥ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ٢٧

[٢٤] [نو بيا د ابراهيم عليه السلام قوم ځواب چې کله يې دوی د بتانو عبادت پر ښودلو ته په کلکه سره راو بلل] لدې پرته بل څه نه ؤ چې وو يل: ابراهيم مړ کړئ او په اورکې يې وسوزوئ، نو بيا ابراهيم ته الله د اور نه نجات ورکه او يقيناچې پدې کې [يعنی د ابراهيم عليه السلام په خلاصون کې چې د اور سړې لمبې ور باندې يخې سوې او دئ يې ونه سوزا ؤ] مومنانو ته د الله قدرتونو لويې نښې وې، يعنی نو ښايي ټول خلک ورڅخه عبرت وا خلي.

[٢٥] او بيا ابراهيم خپل قوم ته وو يل: يقينا چې تاسې د الله نه پرته بتان ځان ته ملګري ونيول، ترڅو د دنيا په ژوند کې ورسره مينه وکړئ، خو بيابه د قيامت په ورځ يو بل کافر بولئ او پر يو بل به لعنت وايي او د ستاسې ځای به د دوخ اور وي، او په هغه ورځ هيڅ څوک مرستندوی نلرئ! يعنی ترڅو تاسې د الله سزا نه خلاص کړي.

[٢٦] نو بيا لوط پر ابراهيم ايمان راوړ، او ابراهيم [د خپل قوم نه په کډه کيدو سره] وو يل: زه خپل رب الله ته هجرت کوم [يعنی د عراق نه په شام کې مبارکې خاورې ته ځم] او يقيناچې د زما خدای لوی ځواکمن او ښه حکيم ذات دئ، يعنی داچې ما به هيڅکله خوار نکړي، نو بيا د ابراهيم عليه السلام په لاس الله تعالی خپل کور کعبه معظمه په مکه مکرمه کې ودانه کړه، او د الله تعالی توحيدي عبادت لپاره يې بيت الله شريف حج ته خلک راو بلل، او ورته يې د امنيت او خوږې روزئ دعا وکړه.

[٢٧] او بيا اسحاق او يعقوب مونږ ابراهيم ته و ښل او د ابراهيم کهول ته مونږ نبوت، پيغمبری او کتاب ورکړل، او ابراهيم ته مونږ د هغه

ثواب په دنيا کې ورکه او يقينا چې په آخرت کې به ابراهيم د صالحانو او ښو خلکو په ليکو کې ولاړ وي.

عزتمنو دوستانو! الله تعالى ابراهيم عليه السلام ته دغه لوړ مقام ورکه او هغه يې د پيغمبرانو پلار غوره که او د هغه کهول، لکه: اسماعيل، اسحاق، يعقوب، يوسف، شعيب، داوود، سليمان، موسى، هارون، عيسى او محمد ﷺ يې پيغمبران کړل، ځکه الله تعالى د البقرې سورې په (۱۳٦) آيت کې مومنانو ته حکم کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿ قُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡنَا وَمَآ أُنزِلَ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَآ أُوتِيَ ٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمۡ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ١٣٦ ﴾ معنا دا چې: اى مومنانو! ووايي مونږ پر الله او پر هغه کتاب ايمان راوړ چې هغه يې مونږ ته رانازل کړئ دئ، او پر هغو کتابونو باندې مونږ ايمان راوړ چې پر ابراهيم، اسماعيل، اسحاق او پر يعقوب يې را نازل کړل، او پر هغو کتابونو مونږ ايمان راوړ چې موسى، عيسى او نورو پيغمبرانو ته يې د دوى رب الله ورکړي، او د دوى هيڅ يوه په منځ کې مونږ فرق نکړو او مونږ دوى ته تسليم يو، يعنى ټول پيغمبران منو.

{لوط عليه السلام د خپل بچه بازولس کرکجن فعل کلک وغانده}

او بيا الله تعالى د لوط عليه السلام قصې په بيان کې د دوى دا کرجن عمل کلک غندلئ دئ، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَلُوطًا إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦٓ إِنَّكُمۡ لَتَأۡتُونَ ٱلۡفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنۡ أَحَدٖ مِّنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٨ أَئِنَّكُمۡ لَتَأۡتُونَ ٱلرِّجَالَ وَتَقۡطَعُونَ ٱلسَّبِيلَ وَتَأۡتُونَ فِي نَادِيكُمُ ٱلۡمُنكَرَۖ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱئۡتِنَا بِعَذَابِ ٱللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٢٩ قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ٣٠﴾

[۲۸-۲۹] [اى پيغمبره! او د لوط قصه را په ياد کړه] کله چې هغه خپل

ولس ته وو يل: يقينا چې تاسې داسې يو بد كار كړئ چې هغه ستاسې نه پخوا د ټولې نړۍ خلكو نه هيڅ چا ندئ كړئ او آيا تاسې يقينا د نار ينوو سره [د شا لخوا] دا بد كار كړئ او د كاروانيانو لارې نيسئ؟ [ترڅو د هغوی سره خپل دا بد كار وكړئ] او د خپل بنډار راغونډيدو په ځای كې دا بد كار كړئ؟ نو د لوط قوم جواب هغه ته پرته لدې بل څه نوه چې ورته يې و يو يل: ای لوطه! كه ته د ر يښتياو يونكو نه يې، نو د الله عذاب مونږ ته راوړه!

[۳۰] [نو بيا لوط دعاء وكړه] او و يو يل: ای د زما لو يه ر به! پر دغو وران كارانو او مفسدانو باندې د زما مرسته وكړه، يعنی ای لو يه څښتنه! خپل عذاب ده پر دوی باندې را كوز كړه او كلكه سزا وركړه او نور خلك د دوی د شر نه خلاص كړه!

قدرمنو دوستانو! لكه څنګه چې مخكې د النمل په سوره كې يې يادونه وسوه د لوط عليه السلام بد فعله (بچه باز) قوم د خپل پيغمبر خبرې ونه منلې او يو بل ته يې وو يل چې د لوط كورنۍ خپل كلي نه وشړئ، خو لوط عليه السلام په خپلو نصيحتونو باندې همداسې ټينګار وكه او خپل فاحش، بد فعله او په كركجنو كړنو اخته قوم يې چې د بچه بازۍ په چټله ناروغۍ رودلې ؤ؛ د دغسې بد كار نه كلك منعې كه، او بيا پر دوی باندې د الله عاجل عذاب رانازليدلو غوښتونكې سه، نو الله تعالى د لوط دعاء قبوله كړه او قوم يې د تيګو په باران سره هلاك كه او ټول يې تباه كړل.

{ابراهيم د لوط قوم هلاكت نه په خبر يدو سره ځان ډاډه كه}

او په ور پسې مباركو آيتونوكې الله تعالى ابراهيم عليه السلام د لوط عليه السلام قوم د هلاكت نه خبر كړئ دئ او بيايې د هغه انديښنه د لوط عليه السلام سلامتيا نه لرې كړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرَٰهِيمَ بِٱلْبُشْرَىٰ قَالُوٓاْ إِنَّا مُهْلِكُوٓاْ أَهْلِ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ إِنَّ أَهْلَهَا كَانُواْ ظَٰلِمِينَ ﴿٣١﴾ قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا قَالُواْ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَن فِيهَا لَنُنَجِّيَنَّهُۥ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ كَانَتْ مِنَ

ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿٣٢﴾

[۳۱] او بیاچې کله د زمونږ استازي (ملائکې) ابراهیم ته د اسحاق او د هغه زوی یعقوب ز یرو ورکولو سره راغلل، نو ابراهیم ته یې وو یل: مونږ د دې کلي او سیدونکي له منځه وړو [ځکه هغوی د لوط قوم دئ] او یقیناچې هغوی ظالمان ول، یعنی د لوط قوم د الله تعالی حکمونو نه په سرکښۍ سره پر خپلو ځانو تیرئ کړئ ؤ، نو ځکه د کلکې سزا مستحق وګرځیدل، یعنی د دغسې سختې سزا وړتیاپې پیدا کړه.

[۳۲] ابراهیم د الله استازو فرښتو ته وو یل: پدې کلي کې خو یقینا لوط هم اوسیږي او هغه ظالم ندئ، نو بیا د الله دغو استازو (ملائکو) ورته وو یل: هو! مونږ په هغه چا چې دئ هلته اوسیږي ښه پوهیږو، نو لوط او د هغه کورنۍ ته به نجات ورکړو، خو پرته د لوط میرمنې نه، ځکه هغه د هلاك سوو نه ده، یعنی نو هغه به د خپل بد فعله بچه باز قوم سره یوځای له منځه ځي او هلاکیږي به.

ګرانو عز یزانو! لوط د ابراهیم علیهما السلام د لنډو تر برونو او خپلوانو نه ؤ او پر ابراهیم علیه السلام یې ایمان نؤ راوړئ، نو ځکه ابراهیم علیه السلام چې لوط ښه پیژاند؛ د الله نه راغلیو استازو پام یې ته راوړا ؤ، ترڅو دئ د خپل قوم په ګناه هلاك نسي، نو بیا ورته د الله نه راغلیو استازو ملائکو ډاډ ورکه چې لوط ته د زمونږ پام دئ، نو ښایي چې حق ته رابلونکي دعات د ابراهیم علیه السلام نه په متابعت او پیروی سره د ښو خلکو نه دفاع وکړي او د ناحقه سزا ورکولو نه دوی وساتي، خو د ښو خلکو کورنۍ غړي چې بد فعله وي هیڅ کله د کورنیو اړ یکو له کبله نجات نه مومي، نو د هغوی لپاره سپارښت کړل روا ندي، لکه د لوط علیه السلام ښځه او میرمن چې په لوط یې ایمان را نوړ او د خپل قوم سره په کفرکې پاتې سوه، نو ځکه هغه الله تعالی په هلاك سووکې وشمیرله.

{د لوط سرکښ قوم باندې الله د اسمان نه عذاب راکوزکه}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د لوط علیه السلام قوم د قصې بیان په ادامه کې فرمایلي دي:

﴿وَلَمَّآ أَن جَآءَتۡ رُسُلُنَا لُوطٗا سِيٓءَ بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعٗا وَقَالُواْ لَا تَخَفۡ وَلَا تَحۡزَنۡ إِنَّا مُنَجُّوكَ وَأَهۡلَكَ إِلَّا ٱمۡرَأَتَكَ كَانَتۡ مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ٣٣ إِنَّا مُنزِلُونَ عَلَىٰٓ أَهۡلِ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةِ رِجۡزٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ٣٤ وَلَقَد تَّرَكۡنَا مِنۡهَآ ءَايَةَۢ بَيِّنَةٗ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ٣٥﴾

[٣٣] او بيا چې کله لوط ته د زمونږ استازي راغلل، نو دئ ور باندې خفه سه او زړه يې ډير په تنګ سه [ځکه لوط ګمان وکه چې د هغه ميلمانه نار ينه دي، نو د دوی د بيا بې نه د خپل بد فعله قوم پر لاس کلک وو ير يده، او کله چې ميلمنو د لوط عليه السلام په خيره کې خفتيان وليده، نو ورته يې په ډاډ ورکولو سره] وو يل: ته ای لوطه! مه و ير يږه او مه خفه کيږه، او په يقين سره باور وکړه چې مونږ تا او د ستا کهول د عذاب نه سپموو او نجات ورکوو، خو پرته د ميرمنې نه ده، ځکه هغه به په سزا ورکول سوو کسانوکې همداسي پاتي وي، يعنی دا ځکه چې د لوط عليه السلام ميرمنې ايمان نوه راوړئ او هغه د خپل مفسد قوم په څنګه کې ولاړه وه، نو ځکه هغه الله تعالی د هلاك سوو نه وشميرله!

[٣٤] [نو بيا د الله نه راغليو استازو وو يل:] يقينا چې د دې کلي پر خلکو مونږ د اسمان نه سزا را کوزوو، ځکه دوی فاسقان ول، يعنی د الله تعالی حکم او فرمان نه يې کلکه سرکښي کړې وه.

[٣٥] او يقينا چې د لوط قوم کلي نه مونږ هوښيارانو ته ښکاره نښه پر ښودله، ترڅو دوی ورڅخه پند وا خلي.

درندو دوستانو! تار يخي نښې هوښيارانو ته د پند اخستلو ډکه خزانه ده، نو ښايي هوښياران تل د خپلو نيکونو تار يخ ولولي او د ترخو تجر بو نه يې چې د ولسونو او د دوی د مشرانو بد کړل يې عامل ؤ؛ عبرت وا خلي او بيا هغه تکرار نکړي او د ظالمانو او سرکښو کسانو پيښې ونکړي او د هغوی په پله لاړ نسي.

{شعيب عليه السلام خپل قوم توحيد ته راو باله فساد نه پي وګوابنه}

او په ور پسې مباکو آيتونوکې الله تعالى د شعيب عليه السلام قصه د خپل قوم سره په مدين کې لنډه یاده کړې ده، او فرمايلي دئ:

﴿وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا فَقَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱرْجُواْ ٱلْيَوْمَ ٱلْءَاخِرَ وَلَا تَعْثَوْاْ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٣٦﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُواْ فِى دَارِهِمْ جَٰثِمِينَ ﴿٣٧﴾﴾

[٣٦] او مدين ته مونږ د دوی ورور شعيب پيغمبر ورولېږه، نو [بيا شعيب عليه السلام پر خپل قوم باندې غږ وکه] او ورته يې وو يل: ای زما عزيزانو! د الله عبادت او بنده ګي وکړئ او د آخرت ورځې ثواب ته هيلمن سئ، او په ځمکه کې ورانئ مه خوروئ او د مفسدانو نه مکيږئ!

[٣٧] خو د مدين خلکو شعيب دروغژن و باله [يعنى خبرې يې ونه منلې] نو بيا دوی د ځمکې درندې لړزې او کلک ټکان راونيول، نو بيا چې کله سحر صبا سه دوی په خپلو کورونوکې په ګونډو پراته مړه سوي ول!

{ عاد او ثمود پيغمبران دروغژن و بلل نو هلاك سول }

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى د عاد او ثمود قامونو قصه خپلو پيغمبرانو سره لنډه یاده کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَعَادًا وَثَمُودَاْ وَقَد تَّبَيَّنَ لَكُم مِّن مَّسَٰكِنِهِمْ ۖ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَعْمَٰلَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَكَانُواْ مُسْتَبْصِرِينَ ﴿٣٨﴾﴾

[٣٨] [ای خلکو!] او د عاد او ثمود خلکو قصې را په یاد کړئ [کله چې دوی د خپلو پيغمبرانو خبرې ونه منلې، نو بيا دوی مونږ هلاك کړل او له منځه لاړل او کورو نه يې کنډواله سول] او يقينا چې هغه تاسی ته د دوی د کنډ واله سوو کورونو نه ښکاري او شيطان دغو خلکو ته د دوی بد کړل ښکلي او ښايسته کړل او دوی يې د الله لارې نه منع کړل [نو ځکه يې پر خپلو پيغمبرانو ايمان رانوړ] او دوی خپل کړل ښه ليدل، يعنى هغه

يې خوښ ول، خو په حقيقت کې دوی په باطل او پر ناروا لار باندې چې کفر دئ؛ روان ول، ځکه دوی ملعون شـيطان د حق لارې نه اړولي ول او خپله کړه لارې ورته ښايسته کړې وه.

{قارون فرعون او هامان د لوی کبر نه الله هلاك کړل}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د قارون او د فرعون او هامان هلاکت او تباهۍ يادونه کړې ده، ځکه دوی ټول کبر په سر اخستي ول نو پيغمبران يې ونه منل او ايمان يې را نوړ، او په بيان کې الله فرمايلي دي:

﴿وَقَٰرُونَ وَفِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَۖ وَلَقَدۡ جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا كَانُواْ سَٰبِقِينَ ٣٩ فَكُلًّا أَخَذۡنَا بِذَنۢبِهِۦۖ فَمِنۡهُم مَّنۡ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِ حَاصِبٗا وَمِنۡهُم مَّنۡ أَخَذَتۡهُ ٱلصَّيۡحَةُ وَمِنۡهُم مَّنۡ خَسَفۡنَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ وَمِنۡهُم مَّنۡ أَغۡرَقۡنَاۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٤٠﴾

[٣٩] [ای خلکو!] او قارون، فرعون او هامان را په ياد کړئ [دوی مونږ هلاك کړل او له منځه مو يوړل، ځکه کله چې دوې ته] موسى د معجزو [يعنى د الله لو يو قدرتونو نښو] سره يقينا راغئ، نو دوی په ځمکه کې کبر وکه [يعنى ځانونه يې غټ او زورور وګڼل او په موسى يې ايمان را نوړ، نو د الله عذاب او سزا نه] پر و ړلاندې کيدلو او په تيښته بر يالي نسول، يعنى د الله عذاب دوی کلک را ونيول او سزايې ورکړه.

[٤٠] نو بيا د دغو سرکښو کسانو نه؛ هر يو مونږ د هغه په خپله ګناه را ونيوه او ځينو ته د بړ بښکې ګړندئ شمال يا باد مونږ را ولېږه او دوی يې په تيږو و يشتلو سره مړه کړل [لکه د لوط عليه السلام قوم] او ځينې بيا ډيرو زورورو چيغو غړمبهار کلک را ونيول او هلاك يې کړل [لکه د صالح او شعيب عليهما السلام ولسونه] او پر ځينو باندې ځمکه مونږ وچوله او دوی مونږ پکې ډوب کړل [لکه قارون] او ځينې مونږ په او بو کې ډوب کړل او هلاك سول[لکه د نوح عليه السلام قوم چې د او بو په طوفان کې غرق

سول، او لکه فرعون چې په سمندرکې ډوب سه] او الله په دغو سرکښو خلکو باندې ظلم او تیرئ ندئ کړئ، خو دوی پر خپلو ځانو باندې ظلم وکه او د خپلو پیغمبرانو بلنو نه یې سرغړونه وکړه،نو هلاك او تباه سول.

ګرانو عز یزانو! الله تعالی خپل ټول بنده ګان د ازمایښت لپاره په دنیا کې پیدا کړل او بیایې دوی ته خپل لارښـــود کتابونـه ســره د پیغمبرانو راولیږل او دوی یې د الله تعالی اطاعت او بنده ګی ته را و بلل، خو د دوی مشـران کبر پسې واخسـتل او د خپلو پیغمبرانو نه یې سـرکښي وکړه، نو ځکه دوی د الله تعالی کلکو سـزاګانو لاندې را غلل او تباه او هلاك سـول او لمنځه لاړل، او د الله تعالی دا قانون به همداسې تر قیامت ورځې پورې جاري وي، نو که سـر کښـه او کبرجن خلک د الله بنده ګی او اطاعت ته په دنیا کې تسلیم نسي، نو الله به په آخرت کې دوی ته کلکه سزا ورکړي!

{د بتانو بنده ګان د غَنې ځالې غوندې شړیدلئ سست کوردئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د مشرکانو باور او اعتماد پر خپلو ناحقه خدایانو باندې د غَنې یا د العنکبوت ځالې او کورته چې دغه سوره ور باندې نومول سوې ده؛ ورته بللئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡلِيَآءَ كَمَثَلِ ٱلۡعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتۡ بَيۡتٗاۖ وَإِنَّ أَوۡهَنَ ٱلۡبُيُوتِ لَبَيۡتُ ٱلۡعَنكَبُوتِۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٤١ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٤٢ وَتِلۡكَ ٱلۡأَمۡثَٰلُ نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِۖ وَمَا يَعۡقِلُهَآ إِلَّا ٱلۡعَٰلِمُونَ ٤٣ خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ٤٤﴾

[٤١] د هغو کســانو بیلګه یا مثال چې دوی د الله نه پرته نور څوک ځانونو ته ملګري ونیول، لکه د غَنې بیلګې او مثال غوندې ده چې هغې ځان ته ځالـه جوړه کړه [ترڅو پکې ژوند وکړي] خو کـه دا مشــرکان پوهیدلای! [ځکه د غَنې ځاله او کورکئ د بل هر کور نه ډیر شــړ یدلئ او

ضعيفه سست كور دئ، ډير ژر ړنګيږي او له منځه ځي او د ځان ساتنې لپاره محفوظ ځای ندئ، او دا د مشرکانو د دروغو خدایان هم، لکه د غَنې ځاله بې وسې او ضعیف دي او ډير ژر شړ يږي او له منځه ځي، نو که کافران داسې پوهيدلای، نو بيا به هيڅکله دوی د بتانو بنده ګي نوه کړي، خو دوی نه پوهيدل او ځانو نه يې په لو يه ګناه کې واچول!

[٤٢] او يقينا هغه بتان چې مشرکان يې د الله نه پرته په خدايي غواړي؛ هغه الله نېسه پيژني او پوهيږي چې دغه بتان هيڅ څه شئ ندي [يعنی هيڅ ارزښت نلري] او الله لوی ځواکمن او نېسه حکيم ذات دئ.

[٤٣] او دا بيلګې او مثالونه خلکو ته مونږ بيانوو [ترڅو دوی ورڅخه ګټه وا خلي] خو په مقصد او مراديې د پوهانونه پرته بل څوک نه پوهيږي! يعنی ګټه ورڅخه اخستلای نسي، نو نېسايي چې خلک علم زده کړي او د الله تعالی په خبرو باندې ځانو نه نېسه پوه کړي، ځکه د دغسې جهالت نه د نجات يوازنې لار علم او نېسه پوهه ده چې بشر يت د طاغوت بنده ګۍ نه ساتي او نجات ورکوي.

[٤٤] ځمکه او سمانو نه الله په حق سره پيدا کړي دي [يعنی ترڅو حق او عدالت پکې وچليږي او د الله تعالی د الوهيت حق په بنده ګۍ کې په ځای او خوندي سي] او يقينا چې په هغوکې مومنانو ته د الله لو يو قدرتونو نښې ځليږي، يعنی نو د الله مومن بنده ګان ورڅخه ګټه اخلي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې کافران د خپل کفر او شرك بدو پايلو نه کلک ګواښلي دي او د دوی پام يې د الله تعالی پيژندنې ته په حق او ر يښتيا سره را اړولئ دئ، ځکه د الله تعالی لو يو قدرتونو دليلونه او نښې پر ځمکه او په اسمانوکې خورې ورې پرتې دي او هغه هرڅوک په سترګو و يني!

{ لمونځ د فحشاء مخه نيسي او په خوږه لهجه مرکه ګټه لري }

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی رسول الله ﷺ او مومنانو ته لارښودنه او سپارښت کړئ دئ چې قرآن تلاوت کړي او لمونځ وکړي او د

اهل کتابو سره په خوږه ژبه او ښه لهجه مرکه او خبرې وکړي، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿اُتْلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَۖ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِۗ وَلَذِكْرُ ٱللَّهِ أَكْبَرُۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ ﴿٤٥﴾ * وَلَا تُجَٰدِلُوٓاْ أَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِلَّا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنْهُمْۖ وَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَأُنزِلَ إِلَيْكُمْ وَإِلَٰهُنَا وَإِلَٰهُكُمْ وَٰحِدٌ وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿٤٦﴾ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَۚ فَٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ يُؤْمِنُونَ بِهِۦۖ وَمِنْ هَٰٓؤُلَآءِ مَن يُؤْمِنُ بِهِۦۚ وَمَا يَجْحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٤٧﴾﴾

[٤٥] ای پيغمبره! او د قرآن هغه آيتونه چې تاته وحيه سوي دي؛ هغه تلاوت کړه او و يلوله او لمونځ و دروه [يعنی لمونځ د هغه شرطونو او رکنونو سره سم ښه پوره وکړه او وې دروه] ځکه يقينا چې لمونځ سړئ د ګناه او کرکجنو ناوړه کړنو نه منع کوي، او د الله ذکر او را په يادول د بل هرڅه نه ښه غټ کار دئ، او ای خلکو! الله د ستاسې په کړ نو پوهيږي، يعنی، نو بيا هر چا ته الله د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي، نو ښايي چې هيڅ کله د خپل رب ذکر نه غافل نسو!

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې مومنانو ته الله تعالی سپارښت کړئ دئ چې د اهل کتابو سره ښه وچليږي، او فرمايلي دي:

[٤٦] [او ای مومنانو! کله چې د کتاب خاوندانو (يهودو او نصاراوو) سره مرکه، بحث او استدلال کړئ] نو په ډيره خوږه ژبه ورسره وغږ يږئ [معنا دا چې په ترخه ژبه خبرې مکړئ] مګر د اهل کتابو هغو کسانو نه پرته چې دوی ظلم او تيرئ وکه! [يعنی نو بيا هغوی ته د دوی غوندې کلک ځواب ورکړئ او بالمثل معامله ورسره وکړئ، او ای مومنانو! اهل کتابو ته] ووايي: مونږ پر هغه کتاب ايمان راوړئ دئ چې هغه مونږ ته د الله نه رانازل سوی دئ، او همدارنګه مونږ پر هغو

كتابونو ايمان راوړئ دئ چې هغه تاسې ته رانازل سوي دي، او د زمونږ او ستاسې خداى او په حق سره معبود؛ يو دئ او مونږ هغه ته تسليم سوي يو، يعنى مونږ د خپل رب الله ټول حكمونه منو او عمل پرې كړو.

[٤٧] اى پيغمبره! او لكه څنګه چې د ستا نه مخكې پيغمبرانو ته مونږ كتابونه رانازل كړل؛ همداسې تاته هم مونږ خپل كتاب قرآن رانازل كه، نو هغو كسانو ته چې پخوا مونږ كتاب رانازل كړي ؤ[لكه يهود] دوى په قرآن باندې باور لري او ايمان يې ور باندې راوړئ دئ، او د دغو مشركانو نه هم ځينې كسانو پر قرآن باندې ايمان راوړئ دئ [يعنى هغه مني] او د زمونږ كتاب آيتونونو نه د مشركانو نه پرته بل هيڅ څوک منكر ندي، يعنى يوازې مشركان د قرآن نه منكر دي او هغه نه مني او ايمان نه راوړي.

ګرانو عز يزانو! په دغو مباركو آيتونوكې رسول الله ﷺ ته او د هغه لارې لارو يانو او دعاتو ته الله تعالى ډيرې غوره او ګټورې لارښودنې او سپارښتنې كړي دي، او لمړئ سپارښت يې د الله ذكر او لمونځ كړل دي چې په هغه باندې د مومن بنده ټرون خپل رب الله سره داسې ټينګيږي چې دئ نور بدو كړنو او ګناه ته نه پر يږدي، ځكه د هغه زړه د الله تعالى سره په مينه او محبت رڼا سوئ او پاک سوئ دئ، نو دئ د بښو كړنو سره كلكه مينه لري او د بدو كړنو نه يې كركه كيږي، ځكه دئ تل په لمانحه كې د الله سره ځان په مناجات كې مومي او د ځان ټول غړي يې الله ته په سجده پراته وي، نو فرمان وړو ته يې تل تيار سئ وي.

قدرمنو دوستانو! او همدارنګه الله تعالى پدې مباركو آيتونوكې رسول الله ﷺ ته او د هغه امت مومنانو ته سپارښت كړئ دئ چې د يهودو او د نصارو سره چې دوى قرآن نه مخكې پر تورات او انجيل باندې ايمان راوړئ دئ؛ په بښو خوږو خبرو سره وغږ يږي او دوى ته ډاډ او اطمئنان وركړي چې مونږ مومنانو پر قرآن او د هغه نه مخكې د اسمان نه رانازل سوو ټولو كتابونو باندې چې الله تعالى رانازل كړي دي؛ ايمان راوړئ دي، او يقينا چې دغه لارښودنه اهل كتابو سره په مناظره كې ډيره غوره لارښودنه ده، ځكه پكې پوره انصاف او عدالت ته بلنه وركړل سوې ده،

او ښايي چې حق هيڅ کله پټ نسي او د هرچا سره چې حق وی؛ هغه ومنل سي، خو د دغسي ښه چلند او ښو خبرو نه بيا هغه کافران مستثنی دي چې دوی د مسلمانانو سره د دښمنۍ لار غوره کړی ده، او پر مسلمانانو باندې يې ظلم او تيرئ کړئ دئ او ورسره جګړه کړې، لکه د مکې مشرکان چې څو ځله يې پر رسول اللهﷺ او د هغه پر ملګرو باندي په مدينه منوره کې يرغل او بر يدونه وکړل، خو الله تعالی مومنان د دوی د شر نه په خپل فضل او لوی رحمت سره وساتل.

{محمدﷺ نالوستی له امله د لمړيو کتابو غلا تورنه الله وساته}

ګرانو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آيتونوکې رسول اللهﷺ پسې د مکې کافرانو هغه بې بنسټه تورونه الله تعالی رد کړي دي چې دوی به په دروغو ور پسې تپل او و يل بې چې د هغه خبرې د پخوانيو کتابونو نه غلا سوي ليکنې دي نه د الله نه ورته وحيه سوئ کتاب، او فرمايلي دي:

﴿وَمَا كُنتَ تَتْلُواْ مِن قَبْلِهِۦ مِن كِتَٰبٍ وَلَا تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَ إِذًا لَّٱرْتَابَ ٱلْمُبْطِلُونَ ﴿٤٨﴾ بَلْ هُوَ ءَايَٰتٌۢ بَيِّنَٰتٌ فِى صُدُورِ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ ۚ وَمَا يَجْحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٤٩﴾ وَقَالُواْ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَٰتٌ مِّن رَّبِّهِۦ ۚ قُلْ إِنَّمَا ٱلْـَٔايَٰتُ عِندَ ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٥٠﴾ أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ شَهِيدًا ۖ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلْبَٰطِلِ وَكَفَرُواْ بِٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٥٢﴾﴾

[٤٨] ای پيغمبره کوره! تا د قرآن رانازليدو نه مخکې؛ نه څه لوستل او نده څه شئ په خپل ښي لاس ليکلای سول [نو که چيرې ته په ليک او لوست پوهيدلای] نو د باطل پلو يان به در باندې شکمن سوي ول، يعنی و يل بې چې: تا دا آيتونه د پخوانيو کتابونو نه اخستي او رانقل کړي دي او

اوس يې مونږ ته لولې.

[٤٩] او قرآن د علم او پوهې خاوندانو په زړونو کې روښـــانه دليلونه دئ [يعنی د دوی زړونـه يې رښا کړي دي] او د زمونږ کتـاب آيتونو نـه د ظالمانو نه پرته بل څوک نه منکر يږي، يعنی د منلو نه يې کافرانو نه پرته بل څوک ډ ډه نکړي، او يوازې کينه کښـو کسـانو پر حق تيرئ کړئ دئ، او د الله کتاب آيتونو او د هغه لو يو قدرتونو نښانو نه منکر دي!

[٥٠] هو! کافرانو وو يل چې ولې پر محمد باندې د هغه رب الله لخوا معجزي ندي رانازلې ســوې؟ نو ته ای پيغمبره! دوی ته په ځواب کې ووايه: معجزې د الله سره دي؛ او زه يوازې يؤ ښکاره ګواښونکئ پيغمبر يم، يعنې تاسې ای خلکو! د الله سزا او د دوزخ اور نه و يروم او ورڅخه مو ګواښم!

[٥١] ای پيغمبره! او آيا کافرانو ته دا بس نده چې پر تا باندې مونږ هغه کتاب رانازل کړئ دئ چې هغه پر دوی باندې لوســتل کيږي، يعنی دا کتـاب (قرآن) دوی تـه لو يـه معجزه ده، او يقينـا چې قرآن مومنـانو تـه رحمت او د ور يادولو او ذکر کتاب دئ، يعنی الله تعالی مومنانو ته ور په يادوي او دوی د الله حکمونو باندې عمل کړو ته رابولي.

[٥٢] ای پيغمبره! [او کافرانو ته] ووايه: زما او ســتاســې په منځ کې د الله شاهدي [زما د پيغمبرۍ په تصديق باندې] را ته بس او کافي ده، ځکه په ځمکه او اســمانونوکې چې څه شــئ دي؛ پر ټولو باندې الله پوهيږي [يعنی د الله نه هيڅ څه شــئ پټ ندي] او هغو کســانو چې پر باطل باور وکه او پر الله کافران ســول [يعنی د هغه توحيد يې په الوهيت کې پټ که او ورڅخه منکر ســول] دوی ز يانمن او تاوايان دي، يعنی دوی پر الله تعالی باندې د ايمان راوړو لويې ګټې نه محروم سوي دي.

قدرمنو عز يزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې رســول الله ﷺ ته ډاډ ورکړئ دئ چې ته د قرآن رانازليدلو نه مخکې په ليک او لوســت نه پوهيدلې، کنه نو د باطل پالونکو خلکو به د ســتا په پيغمبرۍ کې کلک شکونه راپارولي ول، او و يل بې چې دا کتاب قرآن تا د تيرو امتونو کتابونو نه اخســتئ دئ، او هغه د الله تعالی لخوا پر تا ندئ رانازل ســوئ، او

همدارنګه الله تعالى د قرآن رانازليدل پر رسـول الله ﷺ باندې د هغه د پيغمبرۍ تصـديق لپاره غټ دليل او لو يه معجزه بللې ده، نو ښـايي چې هوښيارانو هغه ومني او پر رسول الله ﷺ باندې ايمان راوړي او پيغمبري يې تصديق کړي او پر هغو دروغژنو ناچسپه تورونو باندې باور ونکړي او ورته غوږ ونه باسـي چې هغه کافران ور پورې تپي، حال دا چې هغه هيڅ ډول پوخ دليل او بنسټ نه لري.

{ د الله کړونکې عذاب کافرانو ته ناڅاپه راځي }

درندو دوسـتانو! او په ور پسـې مبارکو آيتونوکې الله تعالى مونږ پر کافرانو باندې د ناڅاپه کړونکي عذاب راتګ نه خبر کړي يو، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ وَلَوْلَآ أَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ ٱلْعَذَابُ وَلَيَأْتِيَنَّهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٥٣﴾ يَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌۢ بِٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٥٤﴾ يَوْمَ يَغْشَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ وَيَقُولُ ذُوقُوا۟ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٥٥﴾﴾

[٥٣] ای پيغمبره! [او کافران تا ته د ډير سپکاوي نه] سـتا نه غواړي چې د الله لخوا ده ورته تيار سـوئ عذاب ژر راسـي، نو که د دې عذاب راتګ لپاره ټاکل سـوې نيټه نه واى، نو دا عـذاب به دوى تـه د دوى د غوښـتنو سـره سـم راغلئ ؤ [خو د هغه راتګ ته نيټه ټاکل سـوې ده] او يقينا چې دا عذاب به دوى ته داسـې ناڅاپه راسـي چې د دوى به هيڅ پام نوي!

[٥٤] ای پيغمبره! او کافران د سـتانه د عـذاب ژر راتګ غواړي، او يقينا چې د دوزخ اور پر کافرانو باندې د هرې خوا را ګرد دئ، يعنى دوى پکې کلک راګير دي او پکې کړ يږي!

[٥٥] او په هغه ورځ [يعنى د قيامت په ورځ] د الله عذاب کافران پاس د سرونو نه او لاندې د پښو پورې پټوي او بيا الله ورته وايي: اوس د خپلو بدو کړنو سزا وڅکئ!

درندو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونوکې رسول الله ﷺ ته د کافرانو سپکو سپورو خبرو پر ورلاندې چې رسول الله ﷺ پسې يې کړي او د هغه خبرې يې نه منلې او ايمان نه راوړ؛ تسليت او ډاډ ورکړئ دئ او ورته يې و يلي دي چې د الله شاهدي د ستا پيغمبرۍ تصديق لپاره تا ته بس او کافي ده، نو د کافرانو سپکو او سپورو خبرو پروا مکړه، او همدا رنګه کله چې به رسول الله ﷺ کافران د الله سزا نه و يرول، نو دوی به د ډير سپکاوي نه و يل: ژر که دا سزا چې ته مونږ ور باندې ګوابې راوړه، نو بيا الله تعالى رسول الله ﷺ ته ډاډ ورکړي دئ چې د الله سزا به خامخا په ټاکل سوي وخت کې پر کافرانو باندې په دنيا او آخرت کې په داسې حال کې ناڅاپه راسي چې دوی به هيڅ فکر نکړي! او د الله عذاب دوی د هرې خوا نه رانيسي او د جهنم په سوزونکي اورکې به کړ يږي.

هو؛ ګرانو دوستانو! او دا ډاډ ګيرنه همداسې د رسول الله ﷺ دين ته رابلونکو دعاتو ته د قيامت ورځې پورې؛ د ډاډ او د اطمئنان سبب کلک ز يرئ دئ، ځکه الله تعالى د حق لارو يانو او د دوی پلو يانو؛ مرستندوی او مل دئ، او دښمنانو ته به يې خامخا کلکه سزا په دنيا او په آخرت کې ورکړي، لکه څنګه چې د بشر يت اوږد تار يخ ور باندې ډګ او شاهد دئ.

{څوک چې په خپل کلي کې د الله عبادت کړای نسي هجرت ده وکړي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى هغو مومنانو ته چې دوی کافران زوروي؛ ډاډ ورکړئ دئ او د ظالمانو د لاسه يې هجرت ته رابللي دي، او فرمايلي دي:

﴿يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ أَرۡضِي وَٰسِعَةٌ فَإِيَّٰيَ فَٱعۡبُدُونِ ٥٦ كُلُّ نَفۡسٖ ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِۖ ثُمَّ إِلَيۡنَا تُرۡجَعُونَ ٥٧ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُمۡ مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ غُرَفٗا تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ نِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ٥٨ ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٥٩ وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٖ لَّا تَحۡمِلُ رِزۡقَهَا ٱللَّهُ يَرۡزُقُهَا وَإِيَّاكُمۡۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ﴾

[٥٦] ای د زما هغو مومنو بنده ګانو! [که تاسې د کافرانو زورولو نه په تنګ یاستئ او د خپل رب الله عبادت په ښکاره او په خپله خوښه کړلای نسي] نو یقینا چې د زما ځمکه لو یه ده [یعنی نو د خپل کلي نه کډه سي او هجرت وکړي او هلته] بیا یوازې د زما بنده ګي او عبادت وکړئ.

عزتمنو دوستانو! د الله تعالی همدې حکم سره سم ځینې صحابه د مکې نه د لمړي ځل لپاره حبشې ته مهاجر سول، او بیا هلته د هغه ځای پاچا (نجاشي رضي الله عنه) لخوا د دوی نه ښه هرکلئ وسه او په پوره ډاډ سره یې خپل دیني شعائر، لکه لمونځ او نور شعائر پر ځای کول، تر هغو چې بیا وروسته د هجرت لارې یثرب ته پر مخ خلاصه سوه، او بیا رسول الله ﷺ هم د الله په حکم پروني یثرب او اوسنۍ مدینې منورې ته مهاجر سه او هلته یې لمړی واکمنه اسلامي ټولنه د انصارو او مهاجر ینو په منځ کې جوړه کړه، نو هر کله چې مسلمانان په خپلو کلیو او هیوادونوکې د الله عبادت، بنده ګۍ او اطاعت نه عاجز سي او دوی زور واکي ظالم کافران؛ د خپل دین شعائرو پر ځای کولو په سر زوروي، نو دوی ته روا ده چې هجرت وکړي او د ظالمانو واک لاندې خاوره کې ده د سزا نه خپل ځانو نه وساتي او د خپل رب الله بنده ګي په ډاډ سره وکړي.

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی خلکو ته اعلان کړئ دئ چې تاسې ټول مړه کیږئ او بیا بیرته ماته راګرځول کیږئ، او فرمایلي دي:

[٥٧] هو! هر ژوندئ ساه ایستونکئ مخلوق د مرګ او مړ ینې خوند څکي [یعنی په دنیا کې ټول ژوندي خلک مړه کیږئ] او بیا تاسې ای خلکو! ټول د قیامت په ورځ بیرته مونږ ته را ګرځول کیږئ، یعنی د قیامت په ورځ د ټولو خلکو بیرته راژوندي کیدل حساب ورکول ته حتمي دي.

[٥٨-٥٩] او هغو کسانو چې ایمان راوړ او ښه یې وکړل [یعنی د الله بنده ګي یې وکړه] دوی به یقینا د جنت پر هغو لوړو کوټو او برجونوکې کینوم چې ترلاندې یې پکې د او بو و یالې بهیږي او دوی به هلته پکې تل اوسیږي، او دا ورکړه مومنانو ته ډیر ښه انعام او لوی ثواب دئ، ځکه دغو کسانو د الله په لارکې د سختیو او ستونزو په ګاللو باندې کلک صبر

وكه او په خپل رب يې توكل او پر وسعه وكړه.

[٦٠] هو! هيڅ ژوندئ مخلوق خپله روزي د ځان سره پر شا نوړي، او يوازې الله دئ چې تاسې ته اى خلكو! او د ځمكې پر سر ټولو ژوندیو حيواناتو ته روزي وركوي او الله ښه اور يدونكئ او ښه پوه پالونكئ ذات دئ، يعنى د ټولو مخلوقاتو غوښتنې اوري او په اړتياوويې ښه پوه او خبر دئ، نو ځكه د دوى اړتياوې پوره كوي، او يقينا چې روزي د ټولو ژوندیو مخلوقاتو اړتيا ده.

ګرانو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونوكې هغه مومنان ډاډمن كړي دي چې دوى ايمان راوړئ دئ، او بيا د كافرانو ظلمونو نه تيښتې او هجرت ته اړ سوي دي، او همدارنګه الله تعالى دوى ته په آخرت كې د ښو كورونو چې د دنيا كورونو نه ډير ښكلي دي؛ ز يرئ وركړئ دئ او د هجرت په نوې مينه كې يې د روزى نه ډاډمن كړي دي، ځكه دوى د الله په لار كې په هجرت او پرديسيتوب باندې كلک صبر كړئ دئ او پر خپل رب يې توكل او اعتماد كړئ دئ، او د خپل پلرني كلى او هيواد نه پردي كلي او هيواد ته كډه سوي دي، او دا لوړ مقام د الله تعالى لاړې ټولو مهاجرينو ته د قيامت ورځې پورې وركول كيږي، او الله تل خپل صادق او مخلص بنده ګان په خپلو لو يو پيرزو ينو نازوي، او ښه قدر او كلک عزت يې كړي.

درندو عز يزانو! او پدې تړاو په لنډه تيره شلمه ميلادي پيړۍ كې د افغانستان مومن او مجاهد ولس هجرتونه د پخواني شوروى اتحاد يرغلګرو ملحدو لښكرو نه بهر هيوادونو ته؛ ډير غوره مثال او ښه بيلګه ده، ځكه چې بيا الله تعالى دا مهاجر ين په ډيرو وركړو سره ونازول، او بيا يې بيرته خپل هيواد ته سر لوړي او فاتح ورستانه كړل.

{د مكې كافرانو د الله توحيد باندې په ر بوبيت كې باور درلود}

او په ور پسې مبارکو آيتونوكې الله تعالى د مكې كافرانو ايمان او باور د الله په توحيد باندې په ر بوبيت كې بيان كړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ

ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٦١ ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٦٢ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ٦٣ وَمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَهۡوٞ وَلَعِبٞۚ وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَ لَهِيَ ٱلۡحَيَوَانُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٦٤

[٦١] ای پیغمبره! او که چیرې ته د مشرکانو نه و پوښتې چې ځمکه او اسمانو نه چا پیدا کړي دي؟ او لمر او سپوږمۍ چا تسخیر کړي دي؟ [یعنی د خلکو ګټو لپاره یې په کار اچولي دي؟] نو دوی به په کلکه سره ووایي چې الله! نو بیا کافران څنګه غلول کیږي؟ یعنی ولې یوازې د الله بنده کې نکړي؟ او په خپلو لاسو جوړ کړي بتان د الله سره په عبادت کې ګډوي او ورسره یې شر یکوي؟ ځواب دا چې: دا نو ډیره روښانه ناپوهي او د حق نه کلکه ورکتیا ده!

[٦٢] [ای خلکو! او پدې پوه سی] چې یوازې الله ﷻ چې د خپلو بنده ګانو نه چې چا ته وغواړي؛ روزي یې ډیروي او د ځینې بنده ګانو روزي تنګوي، او یقینا چې الله په هرڅه ښه پوه ذات دی، یعنی د الله تعالی ټول کړل په پاخه علم او ښه پوهه باندې ولاړ دي او ترسره کیږي.

[٦٣] ای پیغمبره! او که ته د کافرانو نه و پوښتې چې د اسمان نه او به چا را وروولې دي؟ او بیایې مړه ځمکه ور باندې راژوندی کړې او راشنه کړې ده؟ نو دوی به درته په ځواب کې په یقین سره ووایي: الله! نو ته ای پیغمبره! ووایه: الحمدلله [یعنې ټوله ستاینه الله لره ده] خو ډیر کافران نه پوهیږي او د الله په لویي کې ژور فکر نکړي، یعنی دا ځکه چې که دوی د خپل عقل او هوښیارۍ نه کار اخستئ وای، نو ایمان بې راوړئ وه او د بتانو عبادت بې پرې ایښئ وه!

[٦٤] [ای خلکو!] او د دنیا ژوند د لهو او لعب نه پرته بل هیڅ څه شئ ندئ [یعنی د دنیا ژوند نه ډیر لنډ او ژر تیریدونکئ خوند اخستل کیږي] او یقینا چې د آخرت په کورکې ژوند کړل تل پاتې ژوند دئ؛ که چیرې خلک [او

په ځانګړي ډول کافران] پدې پوهيدلای، يعنی نو بيا بې هيڅ کله د دنيا ژر تيريدونکي ژوند خوندو نه د آخرت تل پاتې خوندور ژوند پر ځای؛ نوه خوښ کړي او نه به ور پسې لالهانده ستړي سوي ول.

{کافران د ګواښ په وخت يوازې الله غواړي خو په خوښۍ کې يې هيروي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې همداسې الله تعالی د کافرانو دوه مخۍ در يځ او کړن لاره؛ د ايمان راوړو په باره کې بيان کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿فَإِذَا رَكِبُوا۟ فِى ٱلْفُلْكِ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴿٦٥﴾ لِيَكْفُرُوا۟ بِمَآ ءَاتَيْنَٰهُمْ وَلِيَتَمَتَّعُوا۟ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٦٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا ءَامِنًا وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ۚ أَفَبِٱلْبَٰطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ ٱللَّهِ يَكْفُرُونَ ﴿٦٧﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِٱلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُۥٓ ۚ أَلَيْسَ فِى جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكَٰفِرِينَ ﴿٦٨﴾﴾

[٦٥-٦٦] نو بيا چې کله کافران [په سمندر يا سيند کې] په بيړۍ کې سپاره سي، نو په ډير اخلاص سره؛ يوازې الله غواړي او هغه ته غاړه کږدي [يعنی د زړه له کومي د الله تعالی نه ملتيا او سلامتي غواړي] خو کله چې دوی الله وچې ته راو باسي [يعنی نجات ورکړي او په سمندرکې يې د ډوبيدو ګواښ نه خلاص کړي] نو بيا دوی د الله سره بتان په عبادت کې شر يکوي، ترڅو کافران [په خپلو دغسې کړنو سره] د زمونږ هغو ورکړو او نعمتونو نه منکر سي چې هغه دوی ته مونږ ورکړي دي، ترڅو د دنيا نه خوند واخلي، خو دوی به بيا وروسته پوه سي، يعنی دا چې کافرانو ته د آخرت په ورځ هغه سزا ورکوله کيږي چې هغه دوی ته تياره سوي ده.

[٦٧] او آيا د مکې کافرانو ونه ليدل چې مکه مونږ دوې ته حرم او د امن کور وګرځا ؤ، او دا په داسې حال کې چې د دوی شا وخوا کليو خلک د بد امنۍ نه تښتول کيږي [يعنی سر او مال يې تل د ګواښ لاندې دئ] نو آيا دا خلک پر باطل ايمان راوړي او د الله نعمتونو نه منکر يږي؟ يعنی دا چې ښايي دوی خپل رب الله تل هغسې و پيژني، لکه په سختيو کې چې يې

پيژني، او يوازې الله ته مخه کړي او د الله نه سلامتي وغواړي او بل هيڅ څوک د الله سره په عبادت او خدايي کې شر يك نکړي.

[٦٨] [ای خلکو] او څوک د هغه چا نه ډير ظالم دئ چې الله پسې دروغ وايي؟ او يا چې کله حق (قرآن) دوی ته راغئ هغه يې دروغ و باله؟ او آيا دوزخ د کافرانو استوګنځئ ندئ؟ يعنی نو ځواب دا چې: هو! بل هيڅ څوک د دغو کافرانو نه لوی ظالم ندئ، او د دوی را تلونکئ کور په آخرت کې د جهنم کړونکئ اور دئ.

{هر څوک چې د الله په لار کې جهاد کړي سمه لاربه مومي}

او په ور پسې مبارك آيت کې چې د العنكبوت سورې وروستئ مبارك آيت دئ؛ الله تعالی مومنانو ته ډاډ او ز يرئ ورکړئ دئ فرمايلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٦٩﴾

[٦٩] او هغو کسانو چې د زما په لار کې جهاد وکه [يعنی نبې هلې ځلې يې وکړې او په سمه لار تګ يې خوښ که] نو دوی ټول به د زمونږ په سمو لارو باندې روان کړو، او يقينا چې الله د نېکو کړنو خاوندانو مل او ملګر دئ، يعنی تل به د دوی مرستندوی وي، او خپل نعمتونه به ور باندې ووروي او په سمه لار باندې به چې د الله دين دئ؛ د تګ توفيق ورکوي!

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

۞۞۞

د الروم سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الروم مبارکې سورې پيژندنه او لوى مقصدونه}

قدرمنو عز يزانو! د الروم مبارکه سوره د العنکبوت او هغې ته ورته سورو غوندې په [الف، لام، ميم] پر يکړ سوو تورو باندې چې د عربي ژبې مقطعات توري يا حرفونه دي او يو بل نه بيل بيل لوستل کيږي؛ پيل سوې ده، او د دغو تورو معنا او مقصد په مخکې تيرو سوروکې په وار وارسره بيان سه او هغه دا چې ډير علماء وايي چې الله په خپل مراد او مقصد ښه پوهيږي، يعنى هغه د الله تعالى اسرار دي، خو د ځينو نورو مفسر ينو راجح قول او و ينا بيا دا ده چې د مقطعات تورو او حرفونو نه چې ځيني سورې ور باندې پيل سوې دي؛ مقصد او مراد د قرآن ادبي اعجاز ته اشاره او ګوته نيول دي، يعنى دا کتاب (قرآن) چې د همدې عربي ژبې تورو نه جوړ سوئ کتاب دئ؛ د الله تعالى نه په حق سره راغلئ دئ او پکې هيڅ شک او شبهه نسته، نو ځکه د عر بانو پوهانو او شاعرانو د هغه غوندې کتاب او يا د هغه سورو غوندې يوې سورې راوړو نه عاجز سول، نو د دوى دا بې وسي د قرآن کر يم په ر ښتينوالي او حقانيت باندې ښه کلک او روښانه دليل دئ.

درندو دوستانو! د الروم مبارکه سوره مکي سوره ده، او د پيل آيتونه يې هغه وخت رانازل سول چې د فارس پاچا لښکر د روم پاچا پر لښکړ باندې په شام کې زورور سه، او د روم پاچا (هرقل) پرونى قسطنطيني او اوسني استنبول (اسلامبول) ته په تيښته سه، نو په دغه پيښه د مکې مشرکان خوښ سول، ځکه فارسيانو د دوى غوندې د بتانو او د اور عبادت کا ؤ، خو مومنان بيا د روميانو په ماته کلک خفه سول، ځکه روميان د دوى غوندې اهل کتاب ول، نو ځکه الله تعالى مومنانوته د روم پاچا بيرته بر يا

ز يرئ ورکړئ دئ، او دا سوره له همدې کبله په الروم نومول سوې ده.
او د اهل کتابو د بر يا دا ز يرئ ټولو مومنانو ته د تل پاتې بر يا ډاډ او ښه ز يرئ دئ، نو دوی ته ښايي چې پر خپل ايمان ښه کلک سي او هر څوک ده په ښه پوهه خپل دعوتي رسالت او دنده په مخ يوسي او د الله تعالى توحيدي عبادت ته ده خلک راو بولي، او پدې لارکې ده صبر او سرښندنې ته تل تيارسئ وي، ترڅو د بشر يت نيکمرغۍ لپاره دا لوی امانت سرته ورسوي او دوی ښاد او سرلوړي کړي.
هو! د الروم مبارکې سورې په پيل کې الله تعالى مومنانو ته د اهل کتاب بيا فتحې او بر يا ز يرئ ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

{مومنانو ته الله تعالى د اهل کتابو بر يا ز يرئ ورکړئ دئ}

﴿الٓمٓ ١ غُلِبَتِ ٱلرُّومُ ٢ فِيٓ أَدۡنَى ٱلۡأَرۡضِ وَهُم مِّنۢ بَعۡدِ غَلَبِهِمۡ سَيَغۡلِبُونَ ٣ فِي بِضۡعِ سِنِينَۗ لِلَّهِ ٱلۡأَمۡرُ مِن قَبۡلُ وَمِنۢ بَعۡدُۚ وَيَوۡمَئِذٖ يَفۡرَحُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٤ بِنَصۡرِ ٱللَّهِۚ يَنصُرُ مَن يَشَآءُۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ٥ وَعۡدَ ٱللَّهِۖ لَا يُخۡلِفُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٦ يَعۡلَمُونَ ظَٰهِرٗا مِّنَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُمۡ عَنِ ٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ غَٰفِلُونَ ٧ أَوَلَمۡ يَتَفَكَّرُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡۗ مَّا خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَأَجَلٖ مُّسَمّٗىۗ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ بِلِقَآيِٕ رَبِّهِمۡ لَكَٰفِرُونَ ٨ أَوَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗ وَأَثَارُواْ ٱلۡأَرۡضَ وَعَمَرُوهَآ أَكۡثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا وَجَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٩ ثُمَّ كَانَ عَٰقِبَةَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔواْ ٱلسُّوٓأَىٰٓ أَن كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ بِهَا يَسۡتَهۡزِءُونَ ١٠﴾

[١] [الف، لام، ميم] معنا دا چې الله په خپل مراد او مقصد ښه پوهيږي، خو [لکه څنګه چې مخکې وو يل سول] ځينې مفسر ينو بيا و يلي

دي چې د هجاء توري د قرآن کر يم بياني اعجاز څرګندوی دي، او دغه تفسير په مخکې تير سوو ډيرو سوروکې راجح بلل سوئ دئ، ځکه چې د ور پسې آيتونو د معنا سياق سره همغږئ او موافق دئ.

[٢-٥] هوا! د روم لښکرو د فارس لښکرو پر وړاندې [په شام کې چې د عر بانو لويې جز يرې يا تاپو په شمال کې پروت هيواد دئ] ماته وخوړه [يعنی د فارس پاچا د روم پر پاچا (هرقل) باندې زورور سه] خو روميان به د ماتې نه وروسته په څو کلونوکې بيرته برلاسي سي [يعنی د درې کلونو نه تر لسو کلونو په شاو خواکې به روميان بيرته زورور سي] او په هغه ورځ به بيا مومنان د الله په نصرت خوښ او خوشحاله سي [ځکه چې د کتاب خاوندان به په بې کتابه بت پرستانو او مجوسيانو باندې زورور او غالب سي] او د روميانو بر يا نه مخکې او وروسته حقيقي او ر ښتينئ واکمن الله دئ [يعنی هرڅه د الله په حکم او تقديري پر يکړه ترسره کيږي] او الله هغه ځواکمن لوی څښتن دئ چې چا ته وغواړي بر يا ورکوي [او څوک چې وغواړي خواروي يې] او الله لوی ځواکمن او ښه مهر بان ذات دئ، يعنی الله چې څه غواړي هغسې کړای سي.

[٦-٧] او دا د الله وعده ده [چې روميان به بيرته په فارسيانو زورور کيږي] او الله هيڅ کله خپلې وعدې او هوکړې نه ماتوي، خو ډير خلک [لکه د مکې کافران د الله وعدو په حقانيت او ر ښتينوالي باندې] نه پوهيږي [يعنی نو ايمان نه راوړي] ځکه دوی يوازې د دنيا ژوند ښکاره خوندونو باندې پوهيږي او د آخرت ورځې نه غافل او بې پروا دي، يعنی په آخرت باور نلری، نو ورته پام نکړي او نه يې پروا کړي!

[٨] او آيا دغو کافرانو په خپلو ځانوکې فکر ونکه؟ [يعنی سرونه يې په خپلو کې يوانونوکې ښکته نکړل چې پوه سي؛ دوی هيڅ نوه او بيا الله تعالی پيدا کړل؟] او ځمکه او اسمانو نه او د هغوی دواړو په منځ کې سته مخلوقات ټول الله په حق سره او د تاکل سوې نيټې پورې پيدا کړي دي [يعنی د هر چا ژوند په دنيا کې تاکل سوې نيټه لري او بيا د قيامت ورځ راتلونکې ده] خو يقينا چې ډير خلک د خپل رب او لوی څښتن سره يوځای

کيدو نه منکر دي، يعنی د مرګ نه وروسته د قيامت په ورځ په بيرته را ژوندي کيدو او راجګيدو باندې باور نلري.

[٩] او آيا دا د مکې کافران د ځمکې پر سر ونګرځيدل؟ ترڅو د دوی نه مخکې تير سوو کافرانو بده راتلونکې په سترګو وو يني [يعنی داچې هغوی ته څومره سزا ګانې ورکړل سوې او بيا ټول هلاک سول او له منځه لاړل او کلي يې اوس کنډواله سوې کواړې کواړې پرا ته دي!] حال دا چې دوی د مکې کافرانو نه ډير ځواکمن ول او ډيرې شاړې ځمکې يې وکرلې او د مکې خلکو نه هغوی ډيره وداني وکړه او دوی ته د دوی پيغمبران د الله روښانه نښو او معجزو سره راغلل [خو دوی بيا هغوی ونه منل او ايمان يې رانوړ، نو ځکه دوی الله هلاک کړل او له منځه لاړل] او پر دوی باندې الله ظلم او تيرئ ونکه، بلکې دوی خپله پر خپلو ځانو باندې ظلم وکه، يعنی د پيغمبرانو بلنه يې پر الله باندې ايمان راوړو ته ونه منله او پيغمبران يې دروغژن و بلل، نو بيا دوی ته الله تعالی کلکه سزا ورکړه.

[١٠] نو بيا د هغو کسانو راتلونکې ډيره بده وه چې دوی بد وکړل او د الله نه ورته راغلي دليلونه او معجزې يې دروغ و بللې او د هغوی سپکاوئ يې وکه، يعنی پر پيغمبرانو يې ملنډې ووهلې او تکذيب يې کړل.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې د عاد، ثمود او د نورو پخوانيو هغو ولسونو بده راتلونکې په اشارو سره يادې کړې ده چې دوی د الله حکمونو نه سرغړونه وکړه او کافران سول، نو بيا الله تعالی دوی ته کلکه سزا ورکړه او دوی يې ټول هلاک کړل، نو د مکې کافران ده چې خپل پيغمبريې ونه مانه همدغسې بدې راتلونکې ته منتظر او تم سي!

{ټول خلک الله پيدا کړي دي او په قيامت کې يې راژوندي کوي}

او په ور پسې مبارکو آياتونوکې الله تعالی د خلکو په پيدايښت باندې په دنياکې او بيايې د قيامت په ورځ بيرته راژوندي کولو او ورځخه په حساب اخستلو باندې کلک ټينګار کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ١١ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُبۡلِسُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ١٢ وَلَمۡ يَكُن لَّهُم مِّن شُرَكَآئِهِمۡ شُفَعَٰٓؤُاْ وَكَانُواْ

بِشُرَكَآئِهِمۡ كَٰفِرِينَ ١٣ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوۡمَئِذٖ يَتَفَرَّقُونَ ١٤ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَهُمۡ فِي رَوۡضَةٖ يُحۡبَرُونَ ١٥ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآءِ ٱلۡأٓخِرَةِ فَأُوْلَٰٓئِكَ فِي ٱلۡعَذَابِ مُحۡضَرُونَ ١٦

[١١] هوا! د ټولو خلکو پيدايښت يوازې الله پيلوي [يعني دوی ټول الله تعالي راپيدا کوي] او بيا د مړ ينې او مرګ نه وروسته د قيامت په ورځ ټول خلک الله بيرته راژوندي کوي، او بيا تاسې ټول ای خلکو الله ته ورګرځول کيږی، يعنی داچې ترڅو دخپلو ټولو کړنو حساب ورکړی.

[١٢-١٣] او په هغه ورځ چې کله قيامت در يږي، نو مجرمان حيران سوي پټ سي [يعنی چې کله قيامت جوړ سي او ودر يږي، نو کافران د عذاب نه د خلاصون لارو نه ناهيلي کيږي او د عذر غوښتنې ژبې يې چوپ سي او دوی کلک حيران سي] او هغه څوک چې دوی د الله سره په خدايي کې شر يك کړي ول؛ هغوی ورته د شفاعت سپارښت نکړي، او دوی هم د خپلو ناحقه خدايانو نه انکار کړي، يعنی نو همداسې دوی ټول د يو بل نه بيليږي، او يو بل ته هيڅ ګټه رسولای نسي.

[١٤] او په هغه ورځ چې کله قيامت جوړ سي، نو بيا په هغه ورځ ټول خلک (مومنان او کافران) د يو بل نه سره بيليږي، او هرڅوک په خپله مخه ځي، يعنی مومنان جنتونو ته ورننوځي او کافران دوزخ ته.

[١٥] نو هغو کسانو چې ايمان راوړ او ښه يې وکړل [يعنی د الله بنده ګي يې په اخلاص سره وکړه] نو دوی به په جنتونوکې د هوسا ژوند نه خوند اخلي، يعنی دا چې دوی ته الله تعالی په جنتونوکې ښه پر يمانه نعمتونه ورکوي او تل پاتې به پکې نيکمرغه او خوښ وي.

[١٦] او هغه کسان چې کافران سول او د زمونږ کتاب آيتونه او د آخرت ورځې يوځای کيدل يې د الله سره دروغ وګڼل [يعنی او پيغمبران يې ونه منل او الله ته د حساب ورکولو نه منکر سول] نو دوی به تل په عذاب کې پاتې وي، يعنی د دوزخ په اور کې به تل پاتې کړ يږي!

درندو عز يزانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونوکې د قيامت ورځې لنډ تصوير يا انځور مونږ ته وړاندې کړئ دئ، ترڅو ټول خلک خپلې راتلونکې ته پام وکړي او په ايمان او ښه عمل سره جنت وګټي او د ثوابونو نه يې خوند واخلي او د دوزخ عذاب نه نجات بياموميِ.

{د الله لو يو قدرتونو نښې په مخلوقاتو کې ستايل سوي ځليږي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى مونږ ته د خپلو لو يو قدرتونو نښې يادې کړې دي، او په بيان کې يې فرمايلي دي:

﴿فَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ ﴿١٧﴾ وَلَهُ ٱلْحَمْدُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ ﴿١٨﴾ يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ وَيُحْىِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ وَكَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ ﴿١٩﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٌ تَنتَشِرُونَ ﴿٢٠﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَٰجًا لِّتَسْكُنُوٓا۟ إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَٰنِكُمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّلْعَٰلِمِينَ ﴿٢٢﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ مَنَامُكُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱبْتِغَآؤُكُم مِّن فَضْلِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ يُرِيكُمُ ٱلْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَيُحْىِ بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَآ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٤﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن تَقُومَ ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ بِأَمْرِهِۦ ۚ ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً مِّنَ ٱلْأَرْضِ إِذَآ أَنتُمْ تَخْرُجُونَ

﴿٢٥﴾ وَلَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ﴿٢٦﴾ وَهُوَ ٱلَّذِي يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ۚ وَلَهُ ٱلْمَثَلُ ٱلْأَعْلَىٰ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٧﴾

[١٧-١٩] ای مومنانو! نو کله چې پر تاسې باندې شپه راځي [یعنی پکې دمه او خوب کړی] او بیا چې کله تاسې ته سحر راخیځي؛ الله په پاکۍ سره یاد کړی [او ستاینه یې وکړی او لمونځ وکړی] ځکه پر ځمکه او په اسمانونوکې ټوله ستاینه الله لره ده [یعنی ټول مخلوقات او اوسیدونکي یې الله په پاکۍ او لو یتیا سیره یادوي] او ای مومنانو! کله چې پر تاسې باندې ماسپښین سي او بیا ماخستن؛ الله په پاکې سره یاد کړی [او لمونځ وکړی] ځکه الله هغه لوی ذات دئ چې ژوندئ د مړي نه راباسي [یعنی لکه انسان د مړي نطفې نه او مرغه د هګۍ نه] او مړئ د ژوندي نه راباسي [یعنی لکه نطفه د انسان نه او هګۍ د مرغه نه] او مړه ځمکه بیرته راژوندۍ کوي، او همداسې الله تاسې ای خلکو! د ګورونو نه بیرته راباسي، یعنی الله تعالی د قیامت په ورځ ټول خلک د مړ ینې او مرګ نه وروسته د خپلو ګورونو نه بیرته راژوندي کوي او بیایې خپل مخکې حساب ورکولو ته دروي او د هر چا نه د هغه د ښو او د بدو کړنو حساب اخلي.

[٢٠] ای خلکو! او د الله قدرتونو نښو نه بله نښه دا ده چې تاسې یې د خاورې نه پیدا کړی، نو بیا تاسې د انسان په څیره کې سړي (انسانان) سوی او بیا د ځمکې په مخ یو بل پسې همداسې پیل په پیل خور یږی!

[٢١] ای خلکو! او د الله لو یو قدرتونو بله نښه دا ده چې تاسې ته یې د ستاسې خپلو ځانو نه جوړه پیدا کړه، ترڅو یو پر بل باندې ډاډه او مطمئن سی [یعنی روحي سکون درته حاصل سي او دمه مو جوړه سي] او د ستاسې دواړو (میړه او ارتیني) په منځ کې الله د یو بل سره مینه، محبت او رحمت واچا ؤ [یعنی مور او پلار سوی] نو یقینا چې پدې کې د هغه چا لپاره چې ښه ژور فکر کړي؛ د الله تعالی د قدرتونو لویې نښانې دي!

[٢٢] ای خلکو! او د الله لو یو قدرتونو د نښانو نه د ځمکې او اسمانونو پیدایښت دئ، او ستاسې د ژ بو او رنګونو بیلتون دئ، او یقینا چې پدې کې ټولو خلکو ته د الله قدرتونو لویې نښې نغښتې دي، یعنی دا چې ښایي مونږ د الله تعالی د لو یو قدرتونو نښانو نه ګټه واخلو او خپل خالق په توحید سره و پیژنو او عبادت او بنده ګي یې وکړو.

[٢٣] ای خلکو! او د الله قدرتونو نښانو نه د ستاسې خوب او په شپه کې و یده کیدل دي او بیا په ورځ کې د الله فضل نه د ستاسې روزۍ غوښتنه ده، نو هغه قوم چې حق اوري؛ دوی ته پدې کې د الله د قدرتونو لویې نښې ښکاره دي.

[٢٤] ای خلکو! او د الله قدرتونو نښانو نه په اسمان کې تاسې ته د بر یښنا څرک درلیدل دي، ترڅو تاسې ورڅخه وو یر یږۍ او د الله رحمت غږ اور یدلو ته په طمعه سې او هغه وغواړۍ، او د اسمان نه الله پر تاسې او به راووروي، نو بیا مړه ځمکه ور باندې بیرته را ژوندۍ کوي، نو یقینا چې پدې کې هغو کسانو ته چې پوهیږي او هوښیاران دي؛ د الله د لو یو قدرتونو لویې نښې ځلیږي.

[٢٥] او دا چې ځمکه او اسمان د الله په حکم سره ولاړ دي؛ دا د الله د قدرتونو د نښو نه یوه نښه ده، او کله چې تاسې ای خلکو! الله د ځمکې زړه نه بیرته راجګیدلو ته راوغواړي، نو بیا تاسې ناڅاپه د خپلو ګورونو نه راوځئ، یعنی راجګیږۍ او د حساب ورکولو ډګر ته راغونډیږۍ!

[٢٦] او څوک چې په اسمانو او په ځمکه کې دي؛ هغوی ټول د الله واک لاندې دي او ټول الله ته تسلیم دي، یعنی د الله تعالی حکم او فرمان وړو ته یې غاړه ایښې ده، او هیڅ څوک که خوښ وي یا ناخوښ د الله نه سرغړونه کړلای نسي، یعنی د الله تقدیري حکم پر ټول باندې چلیږي.

[٢٧] او الله هغه څوک دئ چې د لمړي ځل لپاره یې خلک پیدا کړل او بیا دوی د مرګ نه وروسته بیرته راژوندي کوي، او دا کار الله ته ډیر اسانه دئ، او د الله صفتونو بیلګه او مثال په اسمانونو او په ځمکه کې لوړ دئ [یعنی هیڅ څوک د مخلوقاتو نه د الله غوندې ندي او نه د الله تعالی سره

څوک برابر دي] او الله لوی څواکمن او ښه حکیم ذات دئ، یعنی د الله تعالی ټول کړل په پاخه تدبیر ترسره کیږي.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې د خپلو لو یو قدرتونو ځینې هغه نښې مونږ ته را یادې کړې او بیان کړې دي چې هغه ټولې مونږ شپه او ورځ و ینو، خو دا چې ورسره اموخته سوي او رودي یو، نو ورته پام نکړو او د خپل رب او لوی څښتن او خالق نه غافل یو، نو ځکه الله تعالی د زمونږ پام ورته پدې مبارکو آیتونوکې کلک را اړولئ دئ، نو را ته ښایي چې د غفلت خوب نه را و ینښ سو او د الله تعالی بنده ګي په حق او ر ینښتیا سره هغسې وکړو چې د الله لوړ مقام سره لائق ده!

{د مخلوق شر یکول الله سره لکه د مزدور شر یکول بادار سره}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د مخلوق شر یکول الله سره په عبادت کې د مزدور ګډولو او شر یکولو ته خپل بادر سره ورته بللي دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿ضَرَبَ لَكُم مَّثَلًا مِّنْ أَنفُسِكُمْ ۖ هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم مِّن شُرَكَاءَ فِي مَا رَزَقْنَاكُمْ فَأَنتُمْ فِيهِ سَوَاءٌ تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٨﴾ بَلِ اتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَهْوَاءَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ فَمَن يَهْدِي مَنْ أَضَلَّ اللَّهُ ۖ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ ﴿٢٩﴾﴾

[٢٨] ای خلکو! تاسې ته الله د ستاسې خپلو ځانو نه یوه بیلګه او مثال یاد کړئ دئ، او هغه دا چې آیا د ستاسې مر یان او مینځې چې تاسې پې څښتن یاستی؛ د ستاسې سره په هغه روزي کې چې هغه ما درکړې ده ګډ او شر یکان دي؟ او آیا تاسې د هغوی سره برابر یاستی؟ او آیا تاسې د هغوی نه هغسې و یر یږی، لکه د ځان غوندې زورورو او ازادو خلکو نه چې و یر یږی؟ [ځواب دا چې: نا! د ستاسې مر یان درسره برابر ندي، او تاسې د بادر او د مریې په منځ کې سیالي نه خوښوي، نو بیا څنګه تاسې د

الله سره د هغه بې وسعې مخلوقات په خدايي کې کړوی؟ او د الله غوندې بنده کې يې کړی او خپلې اړتياوې ورڅخه غواړی؟] هو! مونږ په دغسې روښانه بيان سره خپل دليلو نه هوښيارانو ته چې پوهيږي بيانوو، يعنی دا چې ترڅو دوی ورڅخه ګټه وا خلي او د شرک نه توحيد ته راواوړي، او يوازې خپلو نفسي خواهشاتو پسې لاړ نسي او هغه د الله تعالی توحيد سره ونه تلی او ورسره برابرې نکړي.

[٢٩] خو هغو کسانو چې پر خپلو ځانو باندې ظلم او تيرئ وکه؛ دوی خپلو خوښيو پسې لاړل [يعنی په ناپوهۍ سره يې د خپلو نيکونو رڼو تقليد وکه او د هغوی غوندې کافران پاتې سول، نو هغه څوک چې [دئ د خپل کلک ضد نه] الله د سمې لارې نه ورک که، نو بيا به بل څوک دئ په سمه لار [چې هغه په حق سره د الله تعالی د بنده ګۍ لار ده] روان کړي؟ او دا ظالمان هيڅ څوک مرستندوی نه لري چې بيا دوی د الله سزا نه خلاص کړي! يعنی دا چې د الله تعالی نه پرته بل هيڅ څوک دغه د حق لارې نه ورک سوئ کس په سمه لار روانولای نسي، ځکه په سمه لار د خلکو خوځول او روانول او يا يې ورڅخه ورکول؛ د الله کار دئ، نو دعا کړو چې الله تعالی ده ټولو خلکو ته په سمه لار چې د حق لار ده؛ د تک توفيق ورکړي.

{د الله دين د فطرت غوښتنه ده او خلکې پرې پيدا کړي دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی رسول اللهﷺ او د هغه امت؛ خپل هغه دين ته چې د فطرت غوښتنه ده؛ رابللې دي، او فرمايلي دي:

﴿فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾ *مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَٱتَّقُوهُ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٣١﴾ مِنَ ٱلَّذِينَ فَرَّقُوا۟ دِينَهُمْ وَكَانُوا۟ شِيَعًا ۖ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٣٢﴾

[٣٠] نو ته ای پیغمبره! خپل مخ هغه دین ته [چې هغه د حق دین دئ] سم کړه [یعنی دا چې ته د الله په حق دین باندې ټینګ او کلک سه او د مشرکانو پروا مکړه، ځکه دا دین اسلام] هغه دین دئ چې ټول خلک الله ور باندې پیدا کړي دي او د الله په خلقت او پیدایښت کې هیڅ بدلون نسته او هغه د الله سمونکئ دین دئ [یعنی د الله تعالی پیژندنې ته په توحید او یو والي سره خلک سموي] خو ډیر خلک نه پوهیږي او حق او باطل، کور او سم سره بیلولای نسي! یعنی نو ځکه بتان (سکې) د الله سره په خدایي کې شر یکوي او د الله نه پرته د مخلوق بنده ګي کړي او فرمان ته یې غاړه ګرځوي.

[٣١-٣٢] ای مومنانانو! نو تاسې الله ته خپل مخونه وروړوي او د الله عذاب او سزا نه خپل ځانونه په اطاعت او فرمان ور سره وساتي، او لمونځ وکړئ او د مشرکانو نه مکیږئ [یعنی د هغوی ملګرتیا مکړئ] ځکه مشرکان د هغو کسانو نه ول چې خپل دین یې بیل بیل او ټوټه که [یعني ځینې برخې یې واخستلې او ځینې نورې یې پر یښودلې او دوی ډله ډله سول او بیا هره ډله او هر حزب په خپله برخه دین باندې خوښ ول!

عزتمنو دوستانو! الله تعالی پدې مبارکو آیتونوکې رسول الله ﷺ او د هغه امت مومنان؛ مخصوصا علماء او اسلام ته رابلونکي دعات؛ د کافرانو غوندې فکري او ديني انحراف نه په کلکه سره ګواښلي دي، او د الله تعالی په حق دین باندې یې چې اسلام دئ ټینګښت ته رابللي دي، او یقیناچې دا ګواښ تل پاتې ګواښ دئ، نو ښایي چې د حق لارې لارو یان ور باندې کلک سي او د هر ډول ډله کیدو او فکري ټوټه کیدو نه په کلکه سره ځانونه وساتي او په ډلو بیل سوي ونه و یشل سي، ځکه مومنان الله تعالی د تفرقې او ټوټه کیدو نه کلک منع کړي او ګواښلي دي!

{د الله رحمت خلک خوښوي او مصیبت یې نا هیلې کوي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د ټولو خلکو او بشري پرګنو

روحي څرنګوالئ او بدلون مونږ ته یاد کړئ او بیان دئ، او د دوی ناشکري یې د الله تعالی پر نعمتونو او پیرزو ینو باندې غندلي ده او د ترخې راتلونکې نه یې کلک و یرولي او ګواښلي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذَا مَسَّ ٱلنَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا۟ رَبَّهُم مُّنِيبِينَ إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَآ أَذَاقَهُم مِّنْهُ رَحْمَةً إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾ لِيَكْفُرُوا۟ بِمَآ ءَاتَيْنَٰهُمْ ۚ فَتَمَتَّعُوا۟ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾ أَمْ أَنزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوا۟ بِهِۦ يُشْرِكُونَ ﴿٣٥﴾ وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُوا۟ بِهَا ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ ﴿٣٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٣٧﴾﴾

[٣٣- ٣٤] او کله چې خلکو ته ز یان ورسیږي[یعنی سختي ور باندې راسي او د ستونزو سره مخامخ سي] نو بیا خپل رب غواړي او الله ته رجوع کړي [یعنی د الله تعالی خواته ورګرځي او ډیره زاري ورته کړي، ترڅو دوی الله تعالی د سختۍ او کړاوونو نه خلاص کړي] خو بیاچې کله دوی ته الله خپل رحمت وروڅکي [یعنی د کړاوونو او سختۍ نه خلاص سي] نو بیا ډیر ژر یوه ډله د دوې نه بل څوک د الله سره په خدایي کې کډوي، ترڅو پر خپلو دغو بدو کړنو سره د هغو نعمتونو نه منکر سي چې هغه دوی ته مونږ ورکړې دي [نو ای کافرانو! او د الله پیرزو ینو نه منکرو کسانو! د دنیا متاع او ژر تیریدونکو نعمتونو نه خوند واخلئ] نو بیا به ژر پوه سئ چې، یعنی څومره ډیرې سزاګانې تاسې ته د ناشکرۍ نه تیارې سوې دي!

[٣٥] او آیا پر کافرانو باندې مونږ یو داسې [ښه روښانه] دلیل رانازل کړئ دئ چې هغه دوی د هغو خدایانو نه چې د الله سره یې شریک یکوي خبرې کړي؟ یعنی آیا هغه به د مشرکانو د کفر او شرک دلیل وي؟ [ځواب دا چې نا! الله تعالی هیڅ کله د مشرکانو د تایید او ملاتړ لپاره کم کتاب او دلیل ندئ رانازل کړئ او نه الله خپل ځان سره شریک خوښوي او نه

ورته اړتيا لري، نو بيا ولې دغو کافرانو دغسې مذبذب او زړه نا زړه در يځ د خپل رب الله تعالى پر وړاندې ونيوه؟ چې په سختۍ کې به مومنان ول، خو په هوسايي کې بې الله هيرسه، نو حقيقت دا دئ چې دوی د ډير ضد او د کينې نه او خپلو نيکونو پسې د راندې تقليد نه دا کار کا ؤ!

[٣٦- ٣٧] [او همدارنګه] کله چې مونږ خپل رحمت او پيرزو يې [لکه صحت، روغتيا او د ژوند نورې ډيرې اسانتياوې] خلکو ته وروڅکو دوی ور باندې خوښ سي، خو کله چې دوی ته د خپلو بدو کړنو له کبله کړاوونه او سختي ورسيږي، نو بيا دوی ناڅاپه د الله ورکړو نه ناهيلي کيږي [يعنى د نعمتونو لمنځه تللو باندې ډير خفه کيږي] نو آيا دوي نه و يې او نه پوهيږي چې يقينا الله خپله روزي [او نعمتونه] چې چا ته غواړي؛ خوروي او ډيروي يې او چا ته چې وغواړي روزي ور باندې تنګوي، يعنى الله تعالى خپل بنده ګان ازمايي چې آيا دوی شکر باسي کنه؟ نو يقينا چې د رزق او روزي په ډر يدو او لږ يدوکې مومنانو ته د الله تعالى د لو يو قدرتونو دليلونه او نښې نغښتې دي، ترڅو مومنان ورڅخه ګټه وا خلي، او د غفلت او د بې پروايي خوب نه را و يښ سي.

{پيغمبر ته الله حکم کړئ چې د محتاجانو سره مرسته وکړي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې رسول الله ﷺ ته الله تعالى سپارښت کړئ دئ چې بې وزرو محتاجو کسانو سره مرسته وکړي، او فرمايلي دي:

﴿فَـَٔاتِ ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٣٨ وَمَآ ءَاتَيۡتُم مِّن رِّبٗا لِّيَرۡبُوَاْ فِيٓ أَمۡوَٰلِ ٱلنَّاسِ فَلَا يَرۡبُواْ عِندَ ٱللَّهِۖ وَمَآ ءَاتَيۡتُم مِّن زَكَوٰةٖ تُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُضۡعِفُونَ ٣٩ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ ثُمَّ رَزَقَكُمۡ ثُمَّ يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيكُمۡۖ هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَفۡعَلُ مِن ذَٰلِكُم مِّن شَيۡءٖۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٤٠ ظَهَرَ ٱلۡفَسَادُ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ بِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِي

ٱلنَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعۡضَ ٱلَّذِي عَمِلُواْ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٤١﴾

[٣٨] ای پیغمبره! نو ته [او درسره مومنان!] خپلو خپلوانو ته د دوی هغه حق چې د ستاسې په مال او دولت کې دئ؛ ورکړی [یعنی دوی و پالی] او هم مسکینانو ته او هغو لارو یانو مسافرو ته چې [د دوی سره د لارې خرڅ خلاص سوئ وي] دوی ټولو ته هغه حق چې د ستاسې په مال کې یې لري؛ ورکړی، او یقیناچې دغسې ورکړې هغو کسانو ته چې د الله رضا او خوښي غواړئ؛ ډیر ښه کار دئ [یعنی دوی ته یې په دنیا او په آخرت کې ګټه رسیږي او دوی چې د خلکو سره ښه کړي او خیراتونه ورکوي، نو دوی ر یښتیني او حقیقي بر یالان او سر لوړي دي!

[٣٩] ای خلکو! او هغه مال او دولت چې تاسې په سود ورکه، ترڅو د خلکو مال او دولت نه ګټه راوړي؛ هغه تاسې ته د الله پر وړاندې هیڅ ګټه نلري، خو هغه مال چې تاسې د الله رضا لپاره او د هغه حکم پر ځای کولو په مقصد زکات ورکه؛ هغه الله څو برابره ډیروي، او دوی هغه کسان دي چې مال او دولت یې ډیر یږي، یعنی الله پکې برکت اچوي!

[٤٠] ای خلکو! او الله هغه څوک دئ چې تاسې یې پیدا کړی او بیایې روزي درکړه، او بیاچې کله د ستاسې اجل راسي [یعنی د دنیا په ژوند کې د ستاسې تاکل سوې نیټه پوره سي، نو بیا د ستاسې ساه او روح درڅخه الله اخلي] او تاسې مړه کوي، او بیا د قیامت پر ورځ تاسې الله بیرته راژوندي کوي [یعنی نو ای کافرانو!] آیا د ستاسې خدایانو نه چې هغه تاسې د الله سره په خدایي کې شر یك کړي دي؛ څوک داسې کړای سي؟ [ځواب دا چې: نا! د الله نه پرته بل هیڅ څوک داسې نسي کړلای] او الله د کافرانو خدایانو نه چې هغه د الله سره شر یکوي پاک دئ، یعنی هیڅ څوک د الله لوړ مقام ته رسیدلای نسي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې مومنان زکات ورکولو او خیرات کړو ته هڅولي دي او د خپلوانو او بې وزره مسکینانو سره یې په ښو کړنو ټینګار کړئ دئ، او په څنګ یې دوی د سودي قرضونو نه چې د ګټې کړو په مقصد یې بې وزرو کسانو ته ورکوي؛ کلک

ګوابنلي دي، ځکه سود الله تعالی د خپل ځان سره د جنګ او د جګړې اعلان ګڼړئ دئ، یعنی داځکه چې د سود پایلې ترخې دي، نو ځان ساتنه د سودي راکړې ورکړې نه پر مونږ باندي فرض ده.

او په ور پسې مبارك آیت کې کافران الله تعالی د خپلو بدو کړنو او په ځمکه کې د فساد خورولو په سزا باندې؛ کلک ګوابنلي، او فرمایلي دي:

[٤١] هو! د خلکو د لاسونو بدو کړنو فساد او ورانئ؛ د ځمکې پر سر پر وچه او لمده کې راښکاره او خور سه [یعنی ولږه، قحطي او نور ډول ډول ناروغي په هر ځای کې خوره سوه] ترڅو خلکو ته د دوی د بدو کړنو یوه برخه سزا په دنیا کې ور وڅکل سي، نو بیا کیدا سي چې دوی تو به و باسي او خپل رب الله ته [چې دوی یې پر خپلو ډیرو نعمتونو نازولي دي] ور وګرځي، یعنی په خپلو بدو کړنو او ګناهونو باندې پښیمانه سي او الله تعالی ته رجوع وکړي او تو به و باسي!

ګرانو عز یزانو! الله تعالی پدې مبارك آیت کې د خپل هغه قانون او نه بدلیدونکو تګلارو نه د بشر یت په ژوند کې؛ یادونه کړې ده چې هغه د خلکو د هوسایۍ او نیکمرغۍ او په رزق او روزي کې د ډیروالي سره او هم یې د ناخوالو او مصیبتونو سره ترلې دي، ترڅو مونږ بنده ګان د الله تعالی حق ښه و پیژنو او په توحید سره د الله بنده کې او عبادت وکړو او د هر ډول سرکښۍ او د الله تعالی حکمونو سرغړونې نه خپل ځانونه کلک وساتو، ځکه د الله تعالی دا کوني او شرعي کړن لاره او قانون تل پاتې دئ، او د بشر یت تار یخ په هغه باندې ښکاره شاهد او حجت دئ، او په ځانګړې ډول د اسلامي نړۍ د ځینو هیوادونو اوسنۍ حالت [د ٢٠٠١م کال نه تراوسني ٢٠٢٤م پیله پورې] چې ولسونه یې د هوسایي نه خواړۍ او کورنیو ډیرو خونړو یو جګړو ته ورننوتلي دي، لکه عراق، سور یه، لیبیا، یمن، صومالي او سودان، او همدارنګه افغانستان د کمونستي کودتا نه وروسته په ١٣٥٧هـ ش کال تر ١٤٠٠کال سنبلې برج پورې، ترڅو چې یرغلګرې لښکرې تښتیدلې ووتلې او د طالبانو اسلامي امارت بیرته واک ته ورسیده؛ حال دا چې دغه هیوادونه په تیرو وروستیو کلونوکې په امنیت

کې ول او ځينو خويې په ډيره هوسايي کې شپې او ورځې صباح کولې، خو دا دئ اوس د دوی په ژوند کې پوره بدلون راغلئ دئ، امنيت، ډاډ او هوسايي يې په و يره او ولږه بدله سوې ده او د الله تعالی ډيرو نعمتونو نه محروم سوي دي، او يقينا چې ګناه او د الله تعالی اطاعت نه د سر کښيو خور يدل او ډير يدل او د حکمونو نه يې سرغړونې د دغسې نا امنيو؛ لوی عامل دئ، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده پر مومنانو باندې ورحميږي او دوی ته د توبې و يستلو توفيق ورکړي او جنګ ځپلي ولسونه ده؛ الله تعالی د دغسې لوی ازمايښت نه په خپل لوی رحمت سره را و باسي او ډار او و يره دې په ډاډ بدله کړي او خوښي ده الله تعالی ور په برخه کړي او نيکمرغي دې په نصيب کړي.

{پيغمبر ﷺ د الله په حکم خلکو پام بد برخليک ته راړولئ دئ}

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارکو آيتونوکې د خلکو پام د دوی کرغيړن تور برخليک ته راړولئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلُ ۚ كَانَ أَكْثَرُهُم مُّشْرِكِينَ ﴿٤٢﴾ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ ٱلْقَيِّمِ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ ۖ يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ ﴿٤٣﴾ مَن كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُۥ ۖ وَمَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِأَنفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ ﴿٤٤﴾ لِيَجْزِىَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن فَضْلِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٤٥﴾﴾

[٤٢] ای پيغمبره! [او دغو کافرانو ته چې د ستا پيغمبرۍ او د الله نه ورته راغلئ پيغام(قرآن)يې دروغ و باله] ووايه: ای خلکو! لاړ سی او په ځمکه کې وګرځئ، نو بيا وګورئ چې مخکې تيرسوو ولسونو راتلونکې څنګه وه؟ او د دوی نه ډير کسان مشرکان ول! يعنی ځواب دا چې کله هغوی خپل پيغمبران دروغژون و بلل او ناحقه خدايان يې د الله سره په عبادت او بنده ګۍ کې شريک کړل، لکه د نوح، عاد او ثمود ولسونو، نو بيا دوی ټول د ډير تور برخليک سره مخامخ سول او ټول له منځه لاړل، تباه سول او هر څه يې د لاسه ورکړل.

[٤٣-٤٥] ای پیغمبره! او ته خپله د قیامت ورځې راتګ نه مخکې چې بیا په هغه ورځ د الله نه بیرته راګرځیدل نسته؛ د الله سمونکي دین ته ورواوړه او ور باندې کلک سه [یعنی د کافرانو تکذیب پروا مکړه] او د قیامت په ورځ ټول خلک سره بیلیږي [یعنی هر چا ته د هغه خپل عمل په دنیا کې ورلیدل کیږی] نو څوک چې کافر سه؛ هغه د خپل کفر ګناه پشا کوي او چاچی ښه عمل کړئ ؤ او مومن ؤ، نو ګټه یې خپله دوی ته رسیږي، ځکه دوی خپلو ځانو ته ښه تیارئ نیولئ ؤ [یعنی دا د قیامت ورځ لدې لپاره ده چې] ترڅو الله د خپلو پیرزو ینو ثواب هغو کسانو ته ورکړي چې ایمان یې راوړ او ښه کارونه او عبادتونه یې وکړل، او یقیناچې کافران د الله نه خوښیږي او پر الله باندې ګران ندي.

درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې رسول الله ﷺ او د هغه لارې مبلغینو دعاتو ته د کافرانو سره چلند او دعوت په پاره کې ډیري ګټورې لارښودنې کړې دي، مخصوصا دا چې اسلام ته رابلونکو او په ټولنه کې اصلاح غوښتونکو او دعوت کونکو علماوو رسالت او دنده خلکو ته د الله تعالي پیغام رسول دي، نو که چا ایمان راوړ او د الله تعالی عبادت او بنده ګي یې وکړه، نو ګټه یې خپل ځان ته رسولې ده، او که چیرې چا سرغړونه وکړه او د اسلام سره یې دښمني وکړه؛ دوی به د خپل کفر او ضد کړو ګناه پشا کوي او الله ته به د خپلو بد کړنو ځواب وایي، نو پیغمبرﷺ ته او د هغه دین رابلونکو دعاتو ته ښایي چې په خپل دین باندې ټینګ سي، ځکه دا دین چې اسلام دئ؛ سم دین او حق ته رابلونکئ دین دئ، نو هر څوک چې یې په اخلاص سره ومني هرومرو ښادیږي!

{د الله تعالی توحید نښې په مخلوقاتو کې روښانه ځلیږي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی همداسې د خپلو لو یو قدرتونو نښې مونږ ته یادې کړې دي، او فرمایي دي:

﴿وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن يُرْسِلَ ٱلرِّيَاحَ مُبَشِّرَٰتٍ وَلِيُذِيقَكُم مِّن رَّحْمَتِهِۦ وَلِتَجْرِيَ ٱلْفُلْكُ بِأَمْرِهِۦ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٤٦﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ

رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ فَجَآءُوهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَٱنتَقَمْنَا مِنَ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُوا۟ ۖ وَكَانَ حَقًّا
عَلَيْنَا نَصْرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِى يُرْسِلُ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهُۥ فِى
ٱلسَّمَآءِ كَيْفَ يَشَآءُ وَيَجْعَلُهُۥ كِسَفًا فَتَرَى ٱلْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَٰلِهِۦ ۖ فَإِذَآ أَصَابَ
بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦٓ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٤٨﴾ وَإِن كَانُوا۟ مِن قَبْلِ أَن يُنَزَّلَ
عَلَيْهِم مِّن قَبْلِهِۦ لَمُبْلِسِينَ ﴿٤٩﴾ فَٱنظُرْ إِلَىٰٓ ءَاثَٰرِ رَحْمَتِ ٱللَّهِ كَيْفَ يُحْىِ ٱلْأَرْضَ
بَعْدَ مَوْتِهَآ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٥٠﴾ وَلَئِنْ
أَرْسَلْنَا رِيحًا فَرَأَوْهُ مُصْفَرًّا لَّظَلُّوا۟ مِنۢ بَعْدِهِۦ يَكْفُرُونَ ﴿٥١﴾ فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ
ٱلْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوْا۟ مُدْبِرِينَ ﴿٥٢﴾ وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِ ٱلْعُمْىِ
عَن ضَلَٰلَتِهِمْ ۖ إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ ﴿٥٣﴾

[٤٦] ای خلکو! او د الله قدرتونو نښانو نه یوه نښه دا ده چې شمال یا بادیې تاسې ته ز یرئ ورکونکئ را لیږي دئ، ترڅو د خپل رحمت او به تاسې ته در وڅکي او هم الله پر شمال یا باد باندې بیږي په او بوکې خوځوي، ترڅو تاسې د الله فضل نه در باندې پیرزو سوې روزي وغواړئ [یعنی په سمندرونو او سندونوکې په بیړو یوکې سپاره ښکار او سوداګري وکړئ] او بیا د الله ورکړو شکر و باسئ، او یوازې د الله بنده ګي او عبادت وکړئ، یعنی د شرك او کفر نه خپل ځانونه کلک وساتئ!

[٤٧] ای پیغمبره! او د ستانه وړاندې مونږ پیغمبران او استازي د دوی خپلو ولسونو ته را ولیږل، نو بیا پیغمبرانو دوی ته د ښکاره دلیلونو او معجزو [او د الله تعالی کتابونو سره راغلل] نو بیا د دغو کسانو نه چې چا جرم او ګناه وکړه [یعنی خپل پیغمبرې ونه مانه] دوی ته مونږ سزا ورکړه [یعنی د دوی سرغړونې او سرکښی انتقام مونږ د دوی نه واخست، او چاچې ایمان راوړ او پیغمبران یې ومنل او باوریې ور باندې وکه] نو د مومنانو مرسته پر مونږ فرض وه، یعنی دوی ته مونږ بر یا په برخه کړه.

[٤٨-٤٩] [او ای خلکو! پدې پوه سئ] چې الله هغه څوک دئ چې

شـــمالونه او بادونه هرې خوا ته په هوا کې لیږي، نو بیا ور باندې ووره شـندي، نو بیا چې څنګه دئ غواړي هغسې ووره په اسـمان کې خوروي او ټوټه کوي یې، نو بیا ګوری چې د او بو څاڅکي ورڅخه راوځي [یعنی پر ځمکه اور یږي] نو بیا چې کله الله دا باران او اوریها په هر چا باندې د بنده ګانو نه وغواړي؛ پر هغو راوور یږي، نو دوی ور باندې خوښیږي، که څه هم دوی د باران اور یدو نه مخکې په ناهیلی کې پټ ول، یعنی کلک نا امیده یا ناهیلې ول، خو اوس د باران اور یدل پر خپلو ځانو باندې؛ د الله رحمت ز یرئ بولي چې دوی به ښه ډیره ګټه ورڅخه واخلي.

[٥٠] نو ای خلکو! د الله رحمتونو تاثیر او نښـــو ته په ځمکه کې وګوری چې څنګه مړه ځمکه بیرته را ژوندئ کوي؟ نو یقیناچې همدا الله مړي د قیامت په ورځ بیرته را ژوندي کوي، او الله په هر څه باندې قادر لوی ذات دئ، یعنی هر څه کړلای ســي، لکه څنګه چې مړه وچه ځمکه د باران په او بو را ژوندئ کوي، نو همداسې الله تعالی مړي هم د خپلو ګورونو نه بیرته راجګوي، نو نه ښـــایي چې څوک د قیامت په ورځ د خلکو بیرته راژوندي کیدلو نه حســاب ورکول ته منکر ســي، ځکه دا کار الله تعالی ته ډیر اسانه دئ او هغه خامخا را تلونکئ دئ.

[٥١] او که چیرې د خلکو په کښـتونو باندې مونږ یو داسې شـمال یا باد راوالوزوو چې بیا کافران خپل کښـتونه ز یر سـوي وو یني، نو دوی به د هغې نه وروســـته بیا هم همداســې کافران پاتې وي، یعنی د دغو کافرانو زړونه د کفر په کینو داسې زنګ وهلي دي چې هیڅ نه پاکیږي.

[٥٢] نو ته ای پیغمبره! دغو مړو او کنړو کسانو ته چې کله بیرته په شا لاړ سي او مخ واړوي؛ خپل دعوت او بلنه ور اورولای نسې! یعنی دغه ضد په سر اخستي کافران مړو او کنړو ته ورته دي، او خبرې نه اوري.

[٥٣] او ته ای پیغمبره! ړلانده د خپلې ورکتیا نه سـې لاړې ته سـمولای نسې، هو! ته یوازې هغو کسانو ته خپل غږ اورولای سې چې دوی د زمونږ کتاب په آیتونو باندې باور کړئ دئ او ایمان یې راوړئ دئ، نو دوی په ر یښتیا او حقیقت سره مسلمانان دي.

ګرانو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې رسول الله ﷺ ته د کافرانو عناد او د ضد کړو پر وړاندې؛ ډاډ او تسلیت ورکړئ دئ، ځکه رسول الله ﷺ د کافرانو ضد نه کلک وزور یده او کړاوونه یې وګالل!

{د الله قدرتونو نښې د خلکو په ځانو کې ځلانده ښکاري}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې همداسې الله تعالی د خپلو لو یو قدرتونو نښې د خلکو په ځانوکې مونږ ته یادې کړې او بیان کړې دي، ترڅو خلک پکې ژور فکر وکړی او ایمان راوړي، او فرمایلي دي:

﴿* ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن ضَعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعْدِ ضَعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعْدِ قُوَّةٍ ضَعْفًا وَشَيْبَةً ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۖ وَهُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْقَدِيرُ ﴿٥٤﴾ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُقْسِمُ ٱلْمُجْرِمُونَ مَا لَبِثُوا۟ غَيْرَ سَاعَةٍ ۚ كَذَٰلِكَ كَانُوا۟ يُؤْفَكُونَ ﴿٥٥﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ وَٱلْإِيمَٰنَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِى كِتَٰبِ ٱللَّهِ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْبَعْثِ ۖ فَهَٰذَا يَوْمُ ٱلْبَعْثِ وَلَٰكِنَّكُمْ كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٥٦﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٥٧﴾﴾

[٥٤] ای خلکو! الله هغه څوک دئ چې تاسې یې ضعیف او بې وسې پیدا کړی او بیایې د ضعف نه وروسته قوي یا غښتلي وګرځولی او بیایې د ځوانۍ قوت نه بیرته ضعیفه او زاړه کړی، او الله چې څه غواړي هغه پیدا کوی، ځکه الله ښه پوه او لوی ځواکمن ذات دئ، یعنی د الله تعالی ټول کړل په علم، پوهه، زور یا پر قوت او ځواکمنۍ ترسره کیږي.

[٥٥] او په هغه ورځ چې قیامت ودر یږي مجرمان [یعنې کافران او ګناه ګاران په هغه ورځ د خپلو کورونو نه بیرته راجګیږي] او قسمونه خوري او لوړې کړي چې دوی دلته د یو ساعت نه ډیر وخت ندئ تیر کړئ، هو! کافران همداسې [لکه څنګه چې په دنیا کې ول] دروغ وایي او د حق نه اوړي، یعنی پر خپل کفر باندې ټینګار کړي.

[٥٦] نو بیا کافرانو ته هغو کسانو چې ورته پوهه او ایمان ورکړل سوئ دئ وو یل: تاسې د الله په کتاب (لوح محفوظ) کې د لیکنې سره سم

په خپلو کورونوکې د بېرته راځېدلو او راژوندي کېدلو ورځې پورې همداسې پاتې سوی، نو دا اوس د قیامت ورځ ده، خو تاسې نه پوهیدلی، یعنی د قیامت ورځ تاسې نه پیژندله او باور مو ور باندې نه درلود، نو ځکه ورځخه منکر سوی او ایمان مو رانور، یعنی نو د کافرانو نه سوی.

[٥٧] نو بیا په هغه ورځ کافرانو ته [چې پر خپلو ځانو باندې یې تیرئ کړئ دئ] د دوی پلمې او عذر غوښتنې څه ګټه نه لري او نه دوی توبې و یستلو ته را بلل کیږي، یعنی دا چې بیا دوی ته کلکه سزا ورکول کیږي، ځکه د توبې و یستلو وخت نور تیر دئ.

قدرمنو ورونو! پدې مبارکو آیتونوکې الله تعالی خلکو ته د ګوانې لپاره د کافرانو او د ګناه کړونکو کسانو بد برخلیک په ډیر رانه او ښکاره انځورکې ورلاندې کړئ دئ، ترڅو دوی پکې ښه ژور فکر وکړي او خپل ځانونه د دغسې توري دوزخي راتلونکې نه کلک وساتي.

{په قرآن کې هرڅه الله بیان کړي دي خو رټل سوي یې نه مني}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې چې د الروم مبارکې سورې وروستي آیتونه دي الله تعالی رسول اللهﷺ ته ډاډ ورکړئ دئ چې قرآن د هرڅه بیلکو او مثالونو بیا نولو قاموس دئ، خو کافران ضد کړي او هغه نه مني، نو ته صبر وکړه، ځکه د حق په بر یا کې د الله وعده ر ښتیا ده، او په بیان کې فرمایلي:

﴿وَلَقَدۡ ضَرَبۡنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٖۚ وَلَئِن جِئۡتَهُم بِـَٔايَةٖ لَّيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا مُبۡطِلُونَ ٥٨ كَذَٰلِكَ يَطۡبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ٥٩ فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ وَلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ ٱلَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ٦٠﴾

[٥٨-٥٩] ای پیغمبره! او یقینا چې مونږ خلکو ته پدې قرآن کې [چې هغه په حق او ر ښتیا سره د الله تعالی نه پر رسول الله ﷺ باندې رانازل سوئ لارښود کتاب دئ] د هر څه مثالونه یا بیلکې بیان کړي دي [یعنی الله تعالی په خپل توحید باندې په ر بو بیت او الوهیت کې ښه ډیر

دليلونه ياد او بيان کړل، خو کافرانو ايمان را نوړ] نو که ته ای پيغمبره! دوی ته يوه معجزه هم راوړي، نو هغه کسان چې کافران سول؛ دوی به په ټينګار سره ووايي چې تاسې پر باطل ياستی! نو څوک چې نه پوهيږی د دوی پر زړونو باندې الله همداسې ټاپه وهلې ده، يعنی د کافرانو زړونه ټړل سوي دي او د حق غږ د دوی زړونو ته نه ورننوځي، نو ځکه د پيغمبرﷺ خبرې نه مني او ورته وايي: تاسې پر باطل ياستی!

[٦٠] نو ته ای پيغمبره! صبر وکړه او انتظار و باسه، ځکه يقينا چې د الله وعده حق ده [يعنی حق به خامخا بر يا ته رسيږي او کافرانو ته به سزا ورکول کيږی] او ای پيغمبره! د هغو کسانو سپکې سپورې خبرې چې دوی د قيامت پر ورځ باور نلري؛ تا را ونه پاروي او بې صبره ده نکړي!

درندو دوستانو! دا د ډاډ، اطمئنان او د تسليت پيغام رسول اللهﷺ ته د کافرانو د ډيرو ظلمونو پر وړاندې؛ خپله دئ صبر او زغم ته رابولي، او هغه همداسې ټولو دعاتو ته د قيامت ورځې پورې ډير ازرښتناکه او ښه اړ ين پيغام دئ، نو ښايي چې دوی هغه په خپل دعوت کې تل په پام کې ونيسي او عملي يې کړي او هيڅ کله بې صبره نسي او دښمن ته د وار کړو فرصت ورنکړي، او د اوسني وخت ځينو احساساتي ځوانانو غوندې ده لنډ مهاله تک لاره د د عوت په لارکې نه غوره کوي، او ښايي يقين ولري چې د دوی دغه دعوت د پيغمبرانو مزل دئ او هغه به د باطل پر وړاندې تر قيامت ورځې پورې همداسې جاري وي او حق به هرومرو د باطل سره په سيالۍ کې بر يا ته رسيږي او په ټوله نړۍ که به خور يږي او هر چا ته به رسيږي، لکه څنګه چې په اوسني عصرکې د هغه دين د رسولو لړۍ الحمد لله ډيره ګړندۍ پر مخ ځي، مخصوصا د نيت بر يښنايي رسنيو نه!

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله وصحبه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د لقمان سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د لقمان سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدونه}

قدرمنو وروڼو او خویندو! د لقمان مبارکه سوره مکي سوره ده، او د قرآن حکمت او ګټونه ډکې لارښودنې مومنانو ته او نورو ټولو هغو کسانو ته پکې بیان سوې دي چې دوی ځان ته خیر غواړي، او همدارنګه پدې مبارکه سوره کې الله تعالی د مکې خلکو پوښتنو په ځواب کې لقمان حکیم معرفي کړئ دئ، لکه څنګه چې د الکهف په سوره کې الله تعالی خضر او ذو القرنین را پیژندلي دي.

هو! لقمان حکیم په تیرو امتونو او ولسونوکې د الله تعالی یو مومن او صالح بنده تیرسوئ دئ، او الله تعالی د خپلو ورکړو او پیرزو ینو نه هغه ته ښه پوهه او لوی عقل او هوښیاري ورکړې وه، نو دئ خپلې کورنۍ او خپل ولس ته ښه خیر غوښتونکئ لارښود وه، نو ځکه د هغه نصیحتونه او د حکمت او پاخه عقل هوښیارۍ نه ډکې خبرې په ټوله سیمه کې خورې وې، نو ځکه قر یشو د رسول اللهﷺ نه و پوښتل چې لقمان حکیم څوک ؤ؟ او څنګه یې د خپل ولس په زړونوکې ځای موندلئ ؤ؟ او آیا هغه پیغمبر وه کنه؟ نو الله تعالی پدې مبارکه سوره کې چې د لقمان په نامه نومول سوې ده؛ لقمان حکیم قر یشو ته ښه روښانه ور پیژندلئ دئ او د هغه ګټور نصیحتونه او سپارښتنې یې خپل زوی ته چې هغه اوس مونږ ټولو مومنانو ته لارښودنې دي؛ بیان کړې دي، خو لقمان حکیم خپله پیغمبر نه ؤ، بلکې د پخوانیو پیغمبرانو پر رسالتونو باندې یو مومن بنده ؤ او د الله تعالی د صالحو بنده ګانو نه ؤ، نو ځکه دئ الله تعالی د حکمت نه په ډکو نصیحتونو باندې نازولئ ؤ، ترڅو بیا دئ خپل قوم او ولس ته؛ د الله نه ورکړل سوي نصیحتونه ورسوي او دوی په دغو

لارښودنو ښاد کړي، او دغسې رسالت د بشر یت په اوږده تار یخ کې تل علماوو او مصلحینو خپلو ولسونو ته رسولۍ دۍ او دوی یې د دنیا او د آخرت ښادۍ او نیکمرغۍ ته رابللي دي.

او همدارنګه الله تعالی پدې مبارکه سوره کې د زامنو روزنې اړوند ښه ډیر ګټور نصیحتونه او لارښودنې مونږ ته کړې دي چې یقینا د زمونږ ټول کهول ورته کلک اړ دي او پوهاوۍ او روزنه یې ور باندې ارزښتناکه او ضروري ده، او په دغو لارښودنوکې؛ د الله تعالی توحید او مور او پلار سره ښه کړل، د عبادت ارزښت، او د دنیا ژوند سمه پیژندنه، او د ژوندا نه چارو سمبال لپاره ښه تیارۍ او ښه پلان؛ هغه ټکي دي چې الله تعالی د زمونږ پام ورته کلک را اړولۍ دۍ، نو ښایې چې ځانونه ښه پرې پوه کړو او په خپل ژوند کې عمل ور باندې وکړو، ترڅو ټول ښاد او نیکمرغه سو!

{د حکمت نه ډک قرآني آیتونه مومنانو ته لارښود پیغام دۍ}

ګرانو دوستانو! د لقمان مبارکه سوره، لکه د الروم سوره او ځینې نورې سورې په (الف، لام، میم) تورو باندې چې په عربي ژ به کې ورته مقطعات توري وایي؛ پیل سوې ده، او مقصدیي د ځینې ډیرو معاصرو مفسرینو په و ینا د قرآن کر یم ادبي اعجاز څرګندول دي، او په پیل کې یې الله تعالی فرمایلي:

﴿الٓمٓ ۝١ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡحَكِيمِ ۝٢ هُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّلۡمُحۡسِنِينَ ۝٣ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ ۝٤ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدٗى مِّن رَّبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ۝٥﴾

[۱-۵] هو! دا د [الف، لام، میم] نه جوړ سوي آیتونه د حکمتونو او ګټورو لارښودنو نه ډک کتاب (قرآن) آیتونه دي، او هغه محسنانو ته [یعنی ښو خلکو ته چې په پوره اخلاص سره یې پر الله تعالی باندې ایمان راوړۍ دۍ] لارښود او د رحمت پیغام دۍ، او محسنان او د ښو کړنو مومنان؛ هغه کسان دي چې لمونځ دروي [یعنی د لمانځه ټول رکنونه او شرطونه پوره پرځای کوي] او د خپل مال او دولت زکات ورکوي او د آخرت

او قيامت پر ورځ پوخ ايمان او باور لري، نو دوی د خپل رب لخوا پر سمه لار راوان ســوي دي، او هغوی دي بر يالان او وړونکي، يعنی هغوی د دنيا او د آخرت سر لوړي په يقين سره ګټلې ده.

قدرمنو عز يزانو! نو دعاء کړو چې الله تعالی مونږ د محســانانو نه وګرځوي او د الله تعالی د نبي بنده ګی او د عبادت کړو توفيق را کړي، او بيا ده الله تعالی مونږ د آخرت پر ورځ سپين مخي په خپل حضورکې ودروي او حســاب ده را ته اســانه کړي او د دنيا او آخرت نيکمرغي ده د زمونږ پر برخه کړي، آمين يارب العالمين.

{د الله لارې نه په لهو ولعب ورکتيا سزا سپکونکئ عذا ب دئ}

او په ور پســې مبارکو آيتونوکې هغه کســان الله تعالي غندلي دي چې دوی په خپلو دروغژنو قصــو، بې ګټو خبرو او په ســپکو ســندرو او لهو لعب باندې خلک د الله تعالی لارې نه ورکوی، او په بيان کې يې فرمايلي دي:

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡتَرِي لَهۡوَ ٱلۡحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ٦ وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا وَلَّىٰ مُسۡتَكۡبِرٗا كَأَن لَّمۡ يَسۡمَعۡهَا كَأَنَّ فِيٓ أُذُنَيۡهِ وَقۡرٗاۖ فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ٧ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ جَنَّٰتُ ٱلنَّعِيمِ ٨ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٗاۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٩﴾

[٦-٧] او د خلکو نه ځينې داسې څوک سته چې خوسې بې ګټې خبرې په بيعه اخلي، ترڅو خلک په ناپوهۍ ســره ور باندې د الله لارې نه ورک کړي [يعنی د حق دين لارښودونه يې چې اسلام دئ؛ واړوي او ورڅخه يې ورک کړي] او دوی د الله دين او د هغه کتاب آيتونو ســپکاوئ کړي، نو دوی ته به سپکونکئ عذاب او خوارونکې سزا ورکړه سي، ځکه کله چې پر هغه د زمونږ کتاب آيتونه ولوستل سي، نو په ډير کبر سره شا ور اړوي، لکه داچې دغه آيتونه يې وانو ر يدل، او يا لکه چې غوږونه يې کاڼه ول، نو ته ای پيغمبره! دا کبرجن کافران د دردونکي عذاب نه خبر کړه!

ګرانو دوستانو! روایت سوئ دئ چې دا مبارك آیتونه د النضر بن الحارث په باره کې را نازل سوي دي، او نضر بن الحارث د مکې کافرانو نه ؤ، او هغه کتابونه چې د پارس پاچایانو قصې پکې وې؛ هغه یې په بیعه اخستل او بیایې د قر یشو مشرکانو ته لوستل او و یل یې چې دا قصې د هغو خبرو نه چې محمدﷺ تاسې ته لولي غوره او ښې دي، حال دا چې د هغه قصې د لهو او لعب نه پرته بل څه نوې، خو ځینې مفسرین بیا وایي چې دا آیتونه د موسیقي او د سندرو په باره کې را نازل سوي دي، نو موسیقي او سندرې ناروا دي، ځکه هغه خپل اور یدونکي د الله کتاب قرآن تلاوت اور یدلو نه؛ کلک منع کوي،ځکه پکې هغې غزلي لنډۍ یا سندرې و یل کیږي چې فحشا ته پکې بلنه وي، نو یقینا چې هغه د لهو او لعب خبرې وي او اور یدونکي د الله سمې لارې نه ورکوي.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی مومنانو او صالحانو ته د تل پاتې جنتونو ثوابونو ز یرئ ورکړئ دئ، او فرمایلي دي:

[٨-٩] او یقینا هغو کسانو چې ایمان راوړ او ښه ډیر عبادتونه یې وکړل؛ د دوی ثواب د جنت باغونو نعمتونه دي او دوی به هلته پکې تل پاتې اوسیږي، او دا وعده په حق سره د الله هغه وعده او هوکړه ده چې د مومنانوسره یې کړې ده، او الله لوی ځواکمن او ښه حکیم ذات دئ، یعنی هرکار په خپل زور او په پاخه حکمت سره کړی، نو مومنانو ته جنتونه ورکوي او کافران د دوزخ په اورکې کړوي، ځکه څوک چې ښه کړي ښه به و یني او څوک چې بد کړي بد به ګالي، یعنی د دوزخ په انګارکې به کړ یږي.

{د الله قدرتونونښې په ځمکه او اسمانوکې څرګندې ځلیږي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د خپلو قدرتونو لویې نښې یادې کړې دي، او فرمایلي دي:

﴿خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَا وَأَلۡقَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمۡ وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٖۚ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ

زَوۡجٖ كَرِيمٍ ١٠ هَٰذَا خَلۡقُ ٱللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦۚ بَلِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ١١

[١٠] [هو! الله هغه لوی ذات دئ] چې اسمانونه پې د ستنو نه پرته پیدا کړل، لکه څنګه چې تاسې هغه و یئ [یعنی اسمانو نه الله تعالی د ستنو نه پرته جګ درولي دي] او پر ځمکه الله غټ او دراندې غرونه راوچول [یعنی کلک پې پکې میخ کړل] ترڅو ځمکه پر تاسې باندې ای خلکو! ونه لړز یږي او ټکان ونه خوري، او الله ډول ډول څاروي او حیوانات په ځمکه کې خواره کړل، او او به مونږ د اسمان نه راوورولې، نو بیا مونږ په ځمکه کې جوړه جوړه ګټور بوټي او ونې راشنې کړې.

[١١] ای خلکو! او دا هغه څه دي چې تاسې پې و یئ او هغه ټول الله پیدا کړي دي، نو ای کافرانو! تاسې ماته راوښیئ [چې د ستاسې ناحقه خدایانو چې تاسې پې د الله نه پرته بنده ګي کړئ] څه شئ پیدا کړل؟ بلکې ظالمان په ښکاره ورکتیا دي، یعنې کافران چې د بتانو په عبادت سره پې پر خپلو ځانو باندې ظلم او تیرئ کړئ دئ؛ دوی سمه لار ورکه کړې ده، او پې لارې سوي په کږه لار خوځیدلي دي!

{لقمان ته الله حکمت او هوښیاري ورکړه ترڅو شکر وباسي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د لقمان حکیم قصه مونږ ته یاده کړې ده، او د هغه په پیژندنه کې یې فرمایلې دي:

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا لُقۡمَٰنَ ٱلۡحِكۡمَةَ أَنِ ٱشۡكُرۡ لِلَّهِۚ وَمَن يَشۡكُرۡ فَإِنَّمَا يَشۡكُرُ لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٞ ١٢ وَإِذۡ قَالَ لُقۡمَٰنُ لِٱبۡنِهِۦ وَهُوَ يَعِظُهُۥ يَٰبُنَيَّ لَا تُشۡرِكۡ بِٱللَّهِۖ إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ ١٣

[١٢] او یقینا چې لقمان ته مونږ پخه پوهه، هوښیاري او عقل ورکه، او هغه ته مونږ وو یل چې د الله پیرزو ینو شکر و باسه او مننه پې وکړه، او هرڅوک چې د خپل ځښتن شکر باسي، نو هغه د خپل ځان شکر و یستلئ دئ [ځکه د شکر کتنه پې خپل ځان ته رسیږي] او څوک چې د

الله نعمتونو نه منکر سي [نو هغه ده پدې پوه سي] چې يقينا الله ستايل سوئ او غنی ذات دئ، يعنی الله تعالی هيڅ چا ته محتاج او اړ ندئ.

[١٣] [او ای پيغمبره! ته د لقمان هغه نصيحت د هغه زوی ته راپه ياد کړه] کله چې لقمان خپل زوی ته په خپلو نصيحتونو(سپارښتنو) کې وو يل: ای زوی کيه! هيڅ څوک د الله سره په خدايي کې شر يك نکړې، ځکه چې شرك يقينا ډيره لو يه ګناه ده او هغه پر خپل ځان باندې کلک ظلم او تيرئ دئ!

{الله مونږ ته مور او پلار سره په ښو کړنو سپارښت کړئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې مونږ ته الله تعالی خپل حکمونه مور او پلار سره په ښو کړنوکې ياد کړي او بيان کړي دي، او نورې ډيرې ارزښتناکه سپارښتنې يې راته کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَٰلُهُۥ فِى عَامَيْنِ أَنِ ٱشْكُرْ لِى وَلِوَٰلِدَيْكَ إِلَىَّ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٤﴾ وَإِن جَٰهَدَاكَ عَلَىٰٓ أَن تُشْرِكَ بِى مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ۖ وَصَاحِبْهُمَا فِى ٱلدُّنْيَا مَعْرُوفًا ۖ وَٱتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَىَّ ۚ ثُمَّ إِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٥﴾ يَٰبُنَىَّ إِنَّهَآ إِن تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُن فِى صَخْرَةٍ أَوْ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ أَوْ فِى ٱلْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا ٱللَّهُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴿١٦﴾ يَٰبُنَىَّ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ وَأْمُرْ بِٱلْمَعْرُوفِ وَٱنْهَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَ ۖ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ ٱلْأُمُورِ ﴿١٧﴾ وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِى ٱلْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴿١٨﴾ وَٱقْصِدْ فِى مَشْيِكَ وَٱغْضُضْ مِن صَوْتِكَ ۚ إِنَّ أَنكَرَ ٱلْأَصْوَٰتِ لَصَوْتُ ٱلْحَمِيرِ ﴿١٩﴾﴾

[١٤] او هر انسان ته مونږ حکم او سپارښت وکه چې د خپلې مور او پلار سره ښه وکړه، او د زما او د خپلې مور او پلار شکره و باسه، ځکه موريې دئ په پرله پسې دردونو او ستونزو کاللو سره په خپل نس کې ايور

او بيايې د پيدايښت نه تر تي نه د بيليدو پورې؛ دوه کاله د خپل تي شودې ورکړې او را لوی يې که، او ای خلکو! د ستاسې بيرته راتلونکې ماته ده، يعنی بيا به الله هرچا ته د ښو کړنو ثواب او د بدو کړنو سزا ورکړي.

[۱۵] خو ای انسانه! که چيرې مور او پلار ده پر تا باندې زور واچاؤ، ترڅو ته هغه څوک چې ته يې نه پيژنې د زما سره په خدايي کې شر يك کړي، نو ته د دوی اطاعت مکړه او خبره يې مه منه، خو د دنيا چارو په سمبال کې د مور او پلار سره سم او ښه وچلېږه [يعنی ملتيايي وکړه او خبره يې ومنه] او ته د هغه چا متابعت وکړه او ور پسې لاړ سه چې هغه ماته راګرځيدلۍ دئ [يعنی تو به يې و يستلې ده] او بيا د ستاسې ټولو بيرته راګرځيدل ما ته دي [يعنی د قيامت پر ورځ راتګ مو ما ته دئ] نو بيا زه تاسې د هغو کړنو نه خبروم چې هغه تاسې په خپل ژوند کې کړل، يعنی دا چې بيا به هر چا ته الله تعالی په پوره عدالت سره د هغه ښه عمل ثواب او د بد عمل سزا ورکړي، ترڅو ټولنه نجات بياموميِ.

[۱۶] او ای زوی کيه! يقينا چې [ښه او بد، اطاعت او ګناه که د اووري دانې قدر هم وي او هغه د کلکې تيږې په زړه کې پټه وي او يا په اسمان او ځمکه کې وي؛ هغه الله د قيامت په ورځ راوړي او حساب يې اخلي، ځکه يقينا چې الله د خپلو بنده ګانو ټولو غټو او وړو کړنو نه ښه خبر دئ او پر دوی باندې ښه مهر بان لوی ذات دئ!

[۱۷] او ای زوی کيه! لمونځ وکړه او ښو کړنو ته خلک راو بوله او د بدو کړنو نه يې منع کړه، او پر هغو ستونزو باندې چې تا ته رسيږي صبر وکړه او هغه وزغمه، او يقينا چې صبر او زغم [د امر بالمعروف او نهې عن المنکر او اسلام ته د دعوت په لارکې] د ډيرو غټو کړنو نه دئ، يعنی لوړ همت او کلک عزم او لوی تصميم غواړي.

[۱۸] او ای زوی کيه! تندئ ده خلکو ته تر يب نکړې او د ځمکې پر سر په خپل تګ کې کبرجن ګامونه پورته نکړې، ځکه چې يقينا کبرجن او په نورو خلکو باندې فخر کونکئ سړئ؛ په الله ګران ندئ او هغه الله نه خوښوي، يعنی دا چې هر بنده ته ښايي چې د کبر نه کلکه ډ ډه وکړي.

[١٩] او ای زوی کیه! په ډیرې کمینې او عاجزۍ سره په لاره زه او غږ ده ټیت او ورو کړه [یعنی په هیڅ چا باندې ده غږ مه جګوه، ځکه یقینا چې ډیر کرکجن غږ د خره غږ دئ!

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې مونږ ته خپل صالح او فرمان وړونکي حکیم بنده لقمان حکیم چې په تیرو امتونوکې تیر سوئ دئ؛ ښه راپیژندلئ دئ او بیایې د هغه نصیحتونه او سپارښتنې خپل زوی ته د الله تعالی سپارښتنو سره یوځای مونږ ته د مور او پلار سره د ښوکړنو په باره کې یادې کړې او بیان کړې دي، نو یقینا چې د لقمان دا نصیحتونه چې هغه د الله تعالی نه په رانازل سوي اسماني کتاب قرآن کې یاد سوي او بیان سوي دي؛ دا معنا لري چې هغه د الله تعالی حکمونه او لارښودنې دې، نو ښایي چې مونږ ور باندې خپل ځانونه ښه پوه کړو او عمل یې وکړو، مخصوصا دا چې لقمان خپل زوی د لمانځه کړو نه وروسته امر بالمعروف او نهی عن المنکر ته رابللئ دئ او بیایې ورته پدې لارکې په صبر او زغم سپارښت کړئ دئ، او دئ یې د خلکو سره په چلند او کړو وړو او معامله کې ښه چلند ته رابللئ دئ، او د غوصه کیدو او کبر نه او پر نورو خلکو باندې یې د فخره کړو نه په کلکه سره منع کړئ دئ، او سپارښت یې ورته کړئ دئ چې د دعوت په لارکې هیڅ کله د خلکوسره ستوغ او بد چلند ونکړي او په تر یب وچولي یا تندي باندې او په جګ غږ د چا سره مخامخ نسي او بد چلند ورسره ونکړي.

عزتمنو دوستانو! نو ښایي چې اسلام ته را بلونکي ټول دعات دا مبارك آیتونه ډیر په دقت او په ښه ژور فکر سره ولولي او بیا عمل پرې وکړي، ترڅو دوی د الله دین ته ښه رابلونکي وي، نه بد سلوکه او قهرجن، غوصه ناکه سړي چې بیایي نه خلک خبرو ته غوږ باسي او نه هغه مني، او دا لقماني نصیحتونه چې لقمان حکیم ته الله تعالی ښه هوښیاري او پوهه ورکړي وه؛ د هغې لارښودنې سره سمون خوري چې هغه د حکمت په باره کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته کړې ده او فرمایلي دي:

﴿ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم

بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ١٢٥﴾

سورة النحل آية (١٢٥) ای پیغمبره! ته د خپل رب لارې ته خلک په پوره حکمت او په هوښیارۍ سره راو بوله او ورته په خوږه ژ به وعظ او نصیحت وکړه، او په ښو خبرو ورسره استدلال او بحث وکړه، او یقینا چې د ستا رب الله د سمې لارې نه ورک سوي خلک ښه پیژني، او هم الله سمې لارې ته هدایت سوي کسان پیژني، یعنی داچې بیا الله تعالی د هر چا سره د هغه لائق چلند کړي او مومنانو ته ثواب او کافرانو ته سزا ورکوي.

{د الله نعمتونو شکر ویستل په خلکو فرض دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی خپل لوی قدرتونه او خپل نعمتونه او پیرزو ینې خلکو ته یادې کړې دي، او فرمایلي دي:

﴿ أَلَمۡ تَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَأَسۡبَغَ عَلَيۡكُمۡ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةٗ وَبَاطِنَةٗۗ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَلَا هُدٗى وَلَا كِتَٰبٖ مُّنِيرٖ ٢٠ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ بَلۡ نَتَّبِعُ مَا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ كَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ يَدۡعُوهُمۡ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ٢١ * وَمَن يُسۡلِمۡ وَجۡهَهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰۗ وَإِلَى ٱللَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ٢٢ وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحۡزُنكَ كُفۡرُهُۥٓۚ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ فَنُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٢٣ نُمَتِّعُهُمۡ قَلِيلٗا ثُمَّ نَضۡطَرُّهُمۡ إِلَىٰ عَذَابٍ غَلِيظٖ ٢٤﴾

[٢٠-٢١] ای خلکو! آیا تاسې نه و ینې چې الله تاسې ته یقینا ټول هغه څه چې پر ځمکه او اسمانوکې دي؛ تابع کړي دي؟ [یعنی هغه یې د ستاسې لاس لاندې کړځولي دي، او همدارنګه الله تعالی] پر تاسې باندې خپل ټول نعمتونه او ښکاره او پټې پیرزو ینې لوروﻟﻲ او درکړې دي، خو د خلکو نه داسې څوک هم ستە چې د الله په توحید کې پرته د کم علم او پوهې او لارښودنې او رڼا ته لاښود کتاب نه؛ خبرې او بحثونه کړي! او بیا چې کله

دوی ته وو یل سي: هغو حکمونو پسې لاړ سی او هغه ومنی چې هغه پر رسول الله باندی الله را نازل کړي دي [نو بیا دوی په ځواب کې وایې:] نا! بلکې مونږ هغو دودونو پسې ځو چې هغه مونږ ته د خپلو پلرونو او نیکونو نه راپاتې دي [یعنی نو دغه کافران د شیطان په لمسون د الله حکمونو نه سرغړونه کړي او بتان د الله سره په بنده ګی کې شر یکوي] که څه هم شیطان په دغسې لمسونو سره دوی په دوزخ کې بل سوي اور سزا ته رابولي، یعنی ترڅو پکې کلک وکر بري!

[٢٢-٢٣] او هر څوک چې خپل ځان الله ته تسلیم کړي او ځان پر الله وسپاري او دئ خپله محسن وي [یعنی خپلې ټولې چارې د شر یعت لارښودنو سره سم؛ په ښه ډول ترسره کوي] نو یقینا چې هغه په کلک پړي باندې [چې هغه د الله دین اسلام دئ] خپلې منګلې نښلولې دي او د ټولو خلکو د کړنو راتلونکئ راتګ الله ته دئ [یعنی بیا الله تعالی د هر چا سره حساب کړي، نو ای پیغمبره! د دغو کافرانو سرغړونې] او د الله توحید نه منکر یدل؛ تا غجمن نکړي، ځکه د هغوی ټولو بیرته را ګرځیدل مونږ ته دي، نو بیا دوی په کلکه سره د خپلو کړنو نه خبروو [یعنی کلک حساب ورسره کړو] او یقیناچې الله د ټولو خلکو په زړونو باندې پوه او خبر دئ، یعنی دا چې بیا هر چا ته د هغه لایق ثواب او سزا ورکوي.

[٢٤] کافرانو ته مونږ د دنیا خوند اخستلو نه لږ فرصت ورکوو او بیایې د قیامت په ورځ کلک عذاب او سزا ورکولو ډګر ته په زور ورولو.

هو! قدرمنو دوستانو! دا مبارك آیت کافرانو ته د الله تعالی لخوا ډیره روښانه خبرتیا او کلک ګواښ دئ، خو کافران خپل زور ځواکی په سر اخستې دي، نو د الله تعالی ګواښونو او خبرتیاوو هیڅ پروا نکړي.

{د مکې خلکو د الله ر بو بیت پر ځمکه او اسمانو کې ومانه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی رسول الله ﷺ د مکې کافرانو ایمان او باور نه د الله تعالی توحید باندې په ر بوبیت کې چې د شرك سره په الوهیت کې تضاد لري خبر کړئ دئ، او بیایې د خپلو ټولو لو یو قدرتونو نه پر ځمکه او په اسمانوکې خبر کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٥﴾ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِۚ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْغَنِيُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿٢٦﴾ وَلَوْ أَنَّمَا فِي ٱلْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَٰمٌ وَٱلْبَحْرُ يَمُدُّهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَٰتُ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٧﴾ مَّا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ إِلَّا كَنَفْسٍ وَٰحِدَةٍۗ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ ﴿٢٨﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيْلِ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَۖ كُلٌّ يَجْرِيٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى وَأَنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٩﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِ ٱلْبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْعَلِيُّ ٱلْكَبِيرُ ﴿٣٠﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱلْفُلْكَ تَجْرِي فِي ٱلْبَحْرِ بِنِعْمَتِ ٱللَّهِ لِيُرِيَكُم مِّنْ ءَايَٰتِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿٣١﴾ وَإِذَا غَشِيَهُم مَّوْجٌ كَٱلظُّلَلِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ فَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌۚ وَمَا يَجْحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُورٍ ﴿٣٢﴾﴾

[٢٥] ای پیغمبره! که چیرې ته د مکې کافرانو نه و پوښتې چې ځمکه او اسمانو نه چا پیدا کړل؟ نو دوی به په کلک باور او ټینګارسره درته ووایي: چې الله پیدا کړل [نو بیا ته د دوی د دې اقرار په ځواب کې] ووایه: الحمد لله [چې تاسې په خپله خوله پرځانو باندې شاهدي وو یله] خو د کافرانو نه ډیر کسان نه پوهیږي، یعنی دوی نسه ژور فکر نکړي، ترڅو پدې پوه سي چې هغه خدای چې ځمکه او اسمانو نه یې پیدا کړي دي، نو یوازې هغه د عبادت او بنده کې لائق خدای دئ، او دوی ته ښایي چې د الله تعالی توحید نه په الوهیت کې منکر نسي او بتان د الله سره په بنده کې کې کړ او شر یك نکړي.

[٢٦] هو! پر ځمکه او اسمانوکې چې څومره مخلوقات دي؛ هغه ټول د الله ملك دئ [یعنی هغه الله تعالی پیدا کړي دي او د الله واک لاندې دي او د الله په تقدیري حکم چلیږي] او یقینا چې الله ستایل سوئ او

لوی غني ذات دئ، یعنی په ټولو ښکلو صفتونو ستایل سوئ ذات دئ او هیڅ الله چا ته اړ او محتاج ندئ.

[٢٧] نو که په ځمکه کې ولاړې ټولې ونې یقینا قلمونه سي او د سمندر او به یې چې شاته ور پسې د اووو سمندرنو او به دي؛ رنګ سي، نو بیا هم د الله علم او پوهې خبرو لیکل نه خلاصیږي، او الله ښه ځواکمن او پوخ حکیم ذات دئ، یعنی الله تعالی په لوی ځواک او په پاخه حکمت سره د خپلو مخلوقاتو چارې سمبالوي.

[٢٨] ای خلکو! او د ستاسې پیدایښت او د مړ ینې نه وروسته د قیامت په ورځ بیا بیرته د ستاسې راژوندي کول الله ته، لکه د یوه کس راژوندي کولو غوندې اسانه دي، او یقینا چې الله ښه اور یدونکئ او ښه لیدونکئ لوی ذات دئ، یعنی د هرچا کړنې و ینې او خبرې یې اوري، نو بیا هرچا ته د هغه د ښو او بدو کړنو ثواب او سزا ورکوي.

[٢٩-٣٠] ای پیغمبره! او آیا ته نه و ینې چې یقینا الله شپه پر ورځ کې ورننه باسي او ورځ په شپه کې، او لمر او سپوږمۍ یې تاسې ته تسخیر کړې دي [یعنی د تودوخې او رڼا نه یې ګټه اخلی او هغه دواړه د ټاکل سوي وخته پورې په خپل مدارکې ګرځي را ګرځي] او یقینا چې الله د ستاسې ټولو کړنو نه ښه خبر دئ او د الله قدرتونو دا ټولې ښې د الله پر حقانیت چې په ر یښتیا او حق سره معبود ذات دئ؛ دلالت کړي، او هغه بتان چې تاسې ای خلکو! هغه د الله نه پرته ځان ته را غواړی او عبادت یې کړی؛ هغه ټول باطل دې، او یقیناچې الله لوی او لوړ ذات دئ، یعنی نو یوازې الله تعالی د خدایي مستحق لوی څښتن دئ.

[٣١-٣٢] [او آیا تاسې ای خلکو! په پوره یقین سره بیړی په سمندرکې نه و ینې چې د الله په لور ینو او نعمت سره ګرځي را ګرځي، ترڅو تاسې ته الله د خپلو قدرتونو ښې دروښي، او یقینا چې پدې کې هر ښه زغمونکي او منونکي بنده ته د الله لو یو قدرتونو ښې څلیږي، او کله چې الله د سمندر او بو څپې، لکه د سُوري څیره بیرته پټې کړي، نو بیا په بیړیوکې سپاره کسان په ډیر اخلاص سره الله ته دعاء کړي چې د ډو بیدو ګواښ

نه دوی خلاص کړي [یعنی د خطرنه یې وسـاتي] خو بیا چې کله الله دوی وچې ته را و باسي او نجات ورکړي، نو بیا دوی په دوه برخو و یشل کیږي، ځینې په پوره اخلاص سره شکر باسي او الله ستایي، او ځینې نور بیا د الله د دې لوی نعمت نه منکر یږي، خو د زمونږ قدرتونو نښانو نه د هر خائن او د نعمتونو نه ناشکره او منکر کس نه پرته؛ نور هیڅ څوک انکار نکړي، یعنی هغه کسان د الله نعمتونو او پیرزو ینو نه انکار کړي چې دوی د الله تعالی سـره خپلې هوکړې ماتوي او ناشـکري کړي او ورځخه منکر دي.

درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې مونږ ته د انسان دوه مخه خو یونه چې په سختۍ او اسانۍ کې سره بدلیږي را بدلیږي؛ بیان کړي دي او دا خو یونه د هغو کسانو په و ینه کې تل چلیږي چې دوی خپل رب په سمه معنا نه پیژني او د قدرتونو نه یې منکر دي!

{د قیامت په ورځ څوک یو بل ته څه ګټه رسولای نسي}

او په ور پسـې مبارکو آیتونوکې الله تعالی ټولو خلکو تـه د قیامت ورځ ور په یاد کړي ده او دوی یې د هغې ورځې سخت عذاب نه کلک ګواښـولي دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡ وَٱخۡشَوۡاْ يَوۡمٗا لَّا يَجۡزِي وَالِدٌ عَن وَلَدِهِۦ وَلَا مَوۡلُودٌ هُوَ جَازٍ عَن وَالِدِهِۦ شَيۡـٔٗاۚ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ ٣٣﴾

[٣٣] ای خلکو! د خپل رب الله نه وو یر یږئ [یعنی په ایمان راوړو او په ښـو کړنو سـره د الله عذاب نه ځانونه کلک وسـاتئ] او د هغې ورځې سختۍ نه وو یر یږئ چې په هغه ورځ پلار زوی ته ګټه رسـولای نسي او نه زوی او لور خپل پلار او مور ته څه ګټه رسـولای سـي، او یقینا چې د الله وعدې او هوکړې حق دي، یعنی هغه وعدې چې الله تعالی خپلو بنده ګانو سـره کړې دي؛ هغه هرومرو عملي کوي، نو د دنیا ژوند تاسـې ونه غولوي او نه شیطان تاسې وغولي، یعنې د الله تعالی سې لارې نه تاسې کړې لارې

ته وا نږوي او ورځخه مو ورک نکړي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالى پدې مبارك آيت كې هر چا ته د هغه شخصي مسؤليت په نښه كړئ دئ، ترڅو مونږ د خپلو پلرونو او نيكونو په حسب او نسب فخر ونكړو او الله هير نكړو او د حكمونو نه يې غافل او بې پروا يا ورک نسو.

{پنځه شيانو پټ علم يوازې الله سره دئ بل څوک نه پوهيږي}

او په ور پسې مبارك آيت كې چې د لقمان سورې وروستئ آيت دئ؛ الله تعالى د هغو غيب و يونكو كسانو خولې تړلې دي چې دوى د پټو شيانو په باره كې خبرې كړې، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡأَرۡحَامِۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسٞ مَّاذَا تَكۡسِبُ غَدٗاۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسُۢ بِأَيِّ أَرۡضٖ تَمُوتُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ ٣٤﴾

[٣٤] هو! يقينا چې د قيامت ورځې د راتګ علم او پوهه؛ يوازې د الله سره ده [يعنى دا چې د قيامت ورځې راتګ حق دئ، خو نيټه يې پرته د الله تعالى نه بل هيڅ چا ته معلومه نده او هيڅ څوک نه پوهيږي چې قيامت به كله راځي؟ خو هرچا ته ښايي چې خپل مرګ او مړ ينه قيامت ورځې ته د تيارۍ لپاره ښكاره نښه و بولي، ځكه د دنيا ژوند نه تګ او مړ ينه ټولو خلكو ته باوري ده، نو يقينا چې د هرچا مرګ هغه ته قيامت دئ او ښايي چې توښه ورسره تياره وي] او همدارنګه يوازې الله دئ چې باران راووروي، او يوازې الله پوهيږي چې د ښځو په نسونوكې څه شئ دي؟ او هيڅ څوک پدې نه پوهيږي چې دئ به صباح څه كړي؟ او نه څوک پوهيږي چې دئ به په كمه خاروه كې مري؟ [يعنى چيرته به خښيږي؟] او يقينا چې الله ښه پوه او د هرڅه نه ښه خبر لوى ذات دئ.

ګرانو عز يزانو! هو؛ الله تعالى په ټولو پټو شيانو باندې علم لري او ورځخه خبر دئ، مخصوصا دا وړاندې ياد سوي پنځه شيان چې د علم او

پوهې کيلي يې يوازې د الله سره ده، خو د ځينو پټو شيانو د نښو علم بيا الله خپلو بنده ګانو ته ورکړئ دئ، لکه په اوسني طب کې د مور په نس کې د ماشوم روغتيا او دا چې هغه هلک دئ او که جلۍ، او لکه د هوا پېژندنې په علم کې چې د باران اور يدلو په باره کې ورلاندې و ينه کيږي، او هم، لکه د هرچا د شپې لخوا نيت چې صباح به دئ څه کړي؟ خو دا ټولې خبرې يوازې د بشرى علومو په چوکاټ يا اډانه کې دي او د هغې نه ورلاندې او پورته بيا نور هيڅ څوک نه پوهيږي، لکه دا چې د مور په نس کې ماشوم د صباح يا راتلونکي ژوند څرنګوالئ په دنيا کې چې هغه به څنګه او څومره وي؟ او د هغه نيکمرغي او بد مرغي او همداسې نور ډير پټ شيان چې د الله نه پرته بل هيڅ څوک پرې نه پوهيږي، نو هغه کوډګر او دوى ته ورته کسان چې د پټو شيانو په باره کې څه وايي؛ هغه ټول دروغ دي او مومن بنده ته ښايي چې ور باندې ونه غوليږي او خبرې يې ونه مني، ځکه يوازې الله دئ چې پوره علم لري او د هرڅه نه ښه خبر دئ.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك وأشهد أن لا إله إلا الله استغفرك وأتوب إليك.



د السجدې سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د السجدې مبارکې سورې لنډه پيژندنه او مقصدو نه}

قدرمنو دوستانو! د السجدې مبارکه سوره، لکه د لقمان سوره مکي سوره ده، او په پيل کې يې ټول خلک الله تعالى د نوي پيغمبر نه چې هغه محمد ﷺ ؤ؛ خبر کړي دي، ځکه دا پيغمبر الله تعالى په يو نوي قوم کې چې هغه د مکې قريش ول؛ مبعوث که، او بيا الله تعالى د قرآن شريف حقانيت او ر ښتينوالئ چې په حق سره د الله تعالى نه راغلئ کتاب دئ؛ په کلک باور سره بيان کړئ دئ، او وروسته يې بيا ټول خلک د الله تعالى بنده کې او د هغه خدايي ته په خپله خوښه سر ايښودو او سجدې کړو ته رابللي دي، نو ځکه دا مبارکه سوره د السجدې په سوره نومول سوې ده، او دا مبارکه سوره به رسول ﷺ د جمعې ورځې د فجر يا سحر لمانځه په لمړي رکعت کې ډير کله لوستله او د السجدې آيت په تلاوت سره بې په دننه لمانځه کې سجده کړه، او دا سجده، لکه د تلاوت نورې سجدې واجب ده، او د السجدې سوره الله تعالى د قرآن مجيد ر ښتينوالي او د حقانيت بيان باندې چې هيڅ شك پکې نسته؛ پيل کړې ده، اوفرمايلي دي:

{قرآن د الله نه په حق سره راغلئ لارښود پيغام دئ}

﴿الٓمٓ ۝١ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ لَا رَيۡبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٢ أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۚ بَلۡ هُوَ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٖ مِّن قَبۡلِكَ لَعَلَّهُمۡ يَهۡتَدُونَ ۝٣﴾

[١-٢] هوا! د (الف، لام، ميم) غوندې د ليک او لوست هجا تورو نه جوړ سوئ کتاب (قرآن) هغه کتاب دئ چې د ټولو خلکو رب الله نه را

نازل سوئ دئ او د هغه په ر ښتينوالي او حقانيت کې هيڅ شك او شبه نسته،

يعنى دا د عظمت نه ډک کتاب قرآن په يقين سره د الله کلام او په لوح محفوظ کې ساتل سوئ؛ د نړۍ ټولو خلکو ته لارښود پيغام دئ.

[٣] نو آيا [د مکې کافران] وايي چې دا کتاب (العياذ بالله) الله پسې محمد په درغو تپلئ دئ او هغه خوسې افتراء او تور دئ؟ [ځواب: نا! حقيقت داسې ندئ او کافران دروغ وايي] بلکې قرآن حق دئ [يعنى د قرآن رانازليدل پر محمد رسول الله ﷺ باندې د الله تعالى رب العالمين لخوا حق او ر ښتيا دي] ترڅو ته اى پيغمبره! پدې کتاب يو داسې قوم د الله عذاب نه وګوانبي چې دوى ته ستانه پخوا ګواښونکئ پيغمبر؛ نوه راغلئ، نو کيداى سي چې دوى سمې لارې ته [چې هغه په حق سره د الله تعالى پيژندنه او په توحيد او يو والي سره د الله بنده کې ده] هدايت او سم سي!

درندو دوستانو! لکه څنګه چې مخکې وو يل سول پدې مبارکو آيتونو کې الله تعالى خلکو ته د خاتم النبيين والمرسلين محمد ﷺ د پيغمبرئ لوى ز يرئ په يو نوي امت کې ورکړئ دئ، ځکه په قر يشوکې مخکې پيغمبر نوه راغلئ او د دوى نيکونه سلهاوو کاله مخکې د ابراهيم عليه السلام توحيدي دين پسې روان ول او اقتدايې ور يسې کړې وه، خو بيا وروسته د قر يشو يو مشر(عمرو بن اللحئ الخزاعي)د بتانو عبادت د الله عبادت سره ګډ که، ترڅو چې بيا الله تعالى د ابراهيم عليه السلام زوى اسماعيل عليه السلام د کهول نه محمد بن عبدالله بن عبد المطلب هاشمى قر يشي عدناني ﷺ خپل استازئ او پيغمبر خوښ او غوره که، ترڅو دئ لمړئ د الله تعالي پيغام خپل قوم قر يشو ته په مکه معظمه کې او بيا نورو عر بانو ته او بيا ټول بشر يت ته په نړۍ کې تر قيامت ورځې پورې؛ ورسوي، او دوى ته د الله استازئ وي، او د محمد ﷺ په پيغمبرى سره نور د اسمان نه د وحى را کوز يدل قطع سول او د نبوت لړي پاى ته ورسيدله، نو ځکه د اسلام پيغمبر محمد ﷺ د خاتم النبين والمرسلين لقب ګټلئ دئ، او د هغه استازولي يا پيغمبري ټولو خلکو ته ترقيامت

ورځې پورې ده، نو ځکه د اسلام نه پرته بل دین الله تعالی نه مني.

{ د کائناتو پیدایښت په شپږو ورځو کې د الله قدرتونو نښه ده }

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی خپل لوی قدرتونه د اسمانو او د ځمکې په پیدایښت کې مونږ ته یاد کړی دي، او فرمایلي دي:

﴿ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۖ مَا لَكُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِىٍّ وَلَا شَفِيعٍ ۚ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ﴿٤﴾ يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ إِلَى ٱلْأَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ فِى يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُۥٓ أَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٥﴾ ذَٰلِكَ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٦﴾ ٱلَّذِىٓ أَحْسَنَ كُلَّ شَىْءٍ خَلَقَهُۥ ۖ وَبَدَأَ خَلْقَ ٱلْإِنسَٰنِ مِن طِينٍ ﴿٧﴾ ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهُۥ مِن سُلَٰلَةٍ مِّن مَّآءٍ مَّهِينٍ ﴿٨﴾ ثُمَّ سَوَّىٰهُ وَنَفَخَ فِيهِ مِن رُّوحِهِۦ ۖ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ۚ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٩﴾﴾

[٤] هو! الله هغه څوک دئ چې ځمکه او اسمانونه او د هغوی دواړو په منځ کې پراته ټول مخلوقات يې په شپږو ورځوکې پیدا کړل، او بیا الله [د خپل مقام سره لائق] پر عرش(څوکۍ) باندې مستوي سه، نو تاسې ای خلکو! د الله نه پرته بل هیڅ څوک مرستندوی او سپارښتونکئ خدای نلرئ [چې د ستاسې چارې و پالي او هغه سمبال کړي، او تاسې د سزا او عذاب نه وساتي] نو آیا تاسې ای خلکو عبرت نه اخلئ؟ یعنی دا چې ښایي تاسي ایمان راوړئ او د شرك او کفر نه لاس واخلئ، او یوازې د هغه لوی څښتن الله عبادت او بنده کي وکړئ چې دا لوی مخلوقات يې پیدا کړي دي او هغه ته يې د تعظیم سر ټیټ کړئ دئ!

[٥-٦] هو! الله د اسمان نه تر ځمکې پورې د ټولو مخلوقاتو چارې سمبالوي او بیا [د ستاسې په پرتله ای خلکو!] په یوه ورځ کې، لکه څنګه چې تاسې هغه زر کاله شمیرئ [د ټولو خلکو د کړنو لیکلئ کتاب د الله حضور ته] ور پورته کیږي، او هغه ځکه چې الله په ټولو پټو او ښکاره کړنو باندې پوه دئ، او الله لوی ځواکمن او ښه مهر بان ذات دئ، یعنی

الله تعالي بيا د خپل پوره علم او پوهې سره سم د ټولو خلکو نه حساب اخلي، ځکه الله تعالى په هر چا باندې لوی ځواکمن او ښه مهر بان رب دئ، نو کافرانو ته په دوزخ کې سزا ورکوي او مومنانو ته جنتونه.

[۷-۹] او الله هغه څوک دئ چې د هر چا د پیدایښت ځیره پې ډیره ښکلې او ښایسته کړې ده، او د انسان پیدایښت يې د خټې نه پیل که او بیایې د هغه کهول او نسل يو بل پسې د چې سوو سپکو او بو څاڅکونه وګرځا وه، یعنی د میږه او ارتینې د منیو ګډیدلو نه يې د ښځې په نس کې انسان پیدا او جوړ که او د خپل روح نه يې په هغه کې ساه پو کړه [یعنی روح یا ساه يې پکې وچلوله] او تاسې ته ای خلکو! الله سترکې، غوږونه او زړونه سره د عقلونو درکړل، خو تاسې ډیر لږ کسان د الله د دغو لو یو ورکړو او پیرزو ینو شکر باسی!

قدرمنو دوستانو! الله تعالى مونږ انسانان په ډیرو لو یو لو یو نعمتونو باندې نازولي یو، خو د بده مرغه ډیر لږ کسان د الله نعمتونو په ارزښت پوهیږي او شکریې باسي او کفر او شرك پر یږدي او پر الله تعالى باندې ایمان راوري، او د هغه عبادت او بنده کې په توحید سره کړي.

{ کافران د الله سره ملاقات او د جنت او دوزخ نه منکردي }

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالى د کافرانو منکر یدل د آخرت ورځې ژوند نه یاد کړي او ځواب کړي دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَقَالُوٓاْ أَءِذَا ضَلَلۡنَا فِي ٱلۡأَرۡضِ أَءِنَّا لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدِۭۚ بَلۡ هُم بِلِقَآيِٕ رَبِّهِمۡ كَٰفِرُونَ ١٠ * قُلۡ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلۡمَوۡتِ ٱلَّذِي وُكِّلَ بِكُمۡ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُونَ ١١ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلۡمُجۡرِمُونَ نَاكِسُواْ رُءُوسِهِمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ رَبَّنَآ أَبۡصَرۡنَا وَسَمِعۡنَا فَٱرۡجِعۡنَا نَعۡمَلۡ صَٰلِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ ١٢ وَلَوۡ شِئۡنَا لَأٓتَيۡنَا كُلَّ نَفۡسٍ هُدَىٰهَا وَلَٰكِنۡ حَقَّ ٱلۡقَوۡلُ مِنِّي لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ١٣ فَذُوقُواْ بِمَا نَسِيتُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ

هَٰذَآ إِنَّا نَسِينَٰكُمۡۖ وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡخُلۡدِ بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٤

[١٠] [او دغو کافرانو چې د قیامت په ورځ بیرته را ژوندي کیدو نه منکر ول] وو یل: او آیا کله چې مونږ خاوري سوي په ځمکه کې ورک سو، نو آیا بیا مونږ بیرته نوي را پیدا کیږو؟ بلکې کافران د خپل رب سره د یوځای کیدو نه [یعنی د قیامت په ورځ بیرته را ژوندي کیدو نه] منکر ول، یعنی د مکې کافرانو د قیامت په ورځ بیرته را ژوندي کیدو باندې او د الله تعالی پر وړاندې حساب ورکولو باندې باور نه دلود، او په جنت او دوزخ باندې معتقد نه ول، نو ځکه د قیامت په باره کې دوی وو یل: هو! کله چې مونږ مړه سو او په خاوروکې ورک سو، نو څنګه به بیرته را ژوندي سو؟

[١١] نو ته ای پیغمبره! [کافرانو ته په ځواب کې] ووایه: هو! د مرګ فرښته هغه څوک دئ چې د ستاسې نه د روح یا ساه اخستل هغه ته سپارل سوي دي، یعنی دا فرښته (ازرائیل) د ستاسې ساه اخلي او مړه کیږي او بیا د قیامت په ورځ تاسې خپل رب الله ته ورګرځول کیږی، او دا ځکه چې الله تعالی د دنیا په ژوند کې هر چا ته ټاکل سوئ عمر لیکلئ دئ، نو کله چې د هغه د مرګ او مړ ینې ټاکل سوئ وخت (نیټه) او اجل پوره سي، نو ازرائیل علیه السلام چې د خلکو نه د روح اخستلو دنده یا وظیفه ورته سپارل سوي ده؛ ورځی او ساه یې را باسي، نو بیا هغه مړ کیږي، او بیا د قیامت په ورځ ټول انسانان د الله تعالی مخې ته حساب ورکولو لپاره ورغوندیږي او هر چا ته الله د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي، نو ګرانو وروڼو او خو یندو! دعاء کړو چې الله تعالی ده پر مونږ باندې ورحمیږي او د قیامت ورځی حساب اخستل ده را ته اسانه کړي او خپل جنتونه ده را باندې پیرزو کړي، او د جهنم اور نده مونږ په فضل او رحمت سره وساتي.

[١٢-١٤] او ای پیغمبره! که ته مجرمان د محشر په ورځ وو یې، نو ګورې به چې دوی ټول زوند سرونه خپل خدای په حضورکې ولاړ دي او دعاء کړي وایي: ای د زمونږ لو یه څښتنه! مونږ هر څه ولیدل او هغه مو واور یدل او حق را ته ثابت سه او په پوره باور او یقین سره؛ پوه سوو چې مونږ مجرمان یو، نو مونږ بیرته د دنیا ژوند ته ورګرځوه، ترڅو ایمان

راوړو او ښــه وکړو، ځکه مونږ نور پوخ باور او ایمان لرو [چې یوازې ته د زمونږ خدای یې، خو وخت نور تیر دئ او دا زړا او زاري کافرانو ته ګټه نلري] او که مونږ غوښتي وای، نو د دغو مجرمانو نه به هرچا ته مونږ په حق لار باندې د تګ توفیق ورکړئ ؤ، خو پر ما باندې پر یکړه او فرمان صادرول نور اړ ین ســول، ځکه زه به دوزخ خامخا په پیریانو او انسانانو ټولو باندې ډکوم، نو اوس تاسې ای کافرانو او مجرمانو! د زما سره د دغې ورځې ملاقات او یوځای کیدو هیرولو ســزا؛ وڅکئ، ځکه مونږ هم نور تاسې هیر کړئ، نو د خپل کفر بدو کړنو تل پاتې عذاب وڅکئ!

عزتمنو دوســتانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې د محشــر ورځې هغه تصــو یر د کافرانو مخې ته ایښئ دئ چې دوی ورڅخه منکر ول، خو بیا به په هغه ورځ په زوندو ســرونو د الله په حضــورکې ولاړ وي او په ډیرې پښــیمانۍ ســره به دعاء کړي او هیله به لري چې الله یې بیرته دنیا ته وروګرځوي، ترڅو ایمان راوړي او ښه وکړي او د الله تعالی عبادت وکړي، خو الله تعالی وایي نور وخت تیر دئ او کافران د زمونږ توفیق او پیرزوینو لائق نه ول، نو اوس ده د خپلو بدو کړنو تل پاتې ســزا په دوزخ کې وڅکي، نو قدرمنو مومنانو! مونږ ته ښایي چې پر خپل ایمان باندې شکر و باســو او دعاء وکړو چې الله تعالی ده مونږ د دغــې تور ســر نوشــت او بدې راتلونکې نه په خپل فضل او رحمت سره وساتي.

{مومنانو ته چې کله د الله قدرتونه یاد سي په سجده لو یږي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د مومنانو هغه ښه صفتونه مونږ تــه بیــان کړي دي چې دوی یې پر اللــه بــانــدې د ایمــان راوړو لائق ګرځولي دي او د کبر او الله تعالي د سرغړونو نه یې ساتلي دي، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّمَا يُؤۡمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُواْ بِهَا خَرُّواْ سُجَّدٗا وَسَبَّحُواْ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ ۩ ١٥ تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمۡ عَنِ ٱلۡمَضَاجِعِ يَدۡعُونَ رَبَّهُمۡ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ١٦ فَلَا

﴿تَعۡلَمُ نَفۡسٞ مَّآ أُخۡفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعۡيُنٖ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٧﴾

[١٥-١٧] هو! يقينا د زمونږ کتاب (قرآن) پر آيتونو باندې هغه کسان ايمان راوړي چې کله دوی ته هغه ور په ياد ســي او په قرآن باندې ورته وعظ وسي، نو دوی پرمخې په سجده لو يږي او خپل رب الله په پاکۍ سره يادوي او ســتاينه يې کړي او حمد او ثنايې وايي او د الله حکمونو نه سرغړونه نکړي، اود دوی ډډې د خوب پستو توشکونو اوتودو بړستنو نه رابليږي اود خوارۍ خوب نه راجګيږي، او د الله عذاب نه په و يره او د ثواب په هيله دعاء کړي، او د هغې روزۍ نه چې دوی ته مونږ ورکړې ده؛ خيرات ورکوي، او د هغه ثواب او لوړ مقام نه چې هيڅ څوک خبر ندي او نه پرې پوهيږي هغه دغو مومنانو ته الله تيار کړئ دئ او په ليدلو ســره يې د دوی سترګې يخيږي، او دا ثواب دوی ته د دوی د ښو کړنو په بيعه کې ورکول کيږي، يعنی دا چې الله تعالی پدې مبارك آيت کې د شپې نفلي لمانځه باندې چې هغه ته د تهجد لمونځ وايي؛ کلک ولاړ مومنان ســتايلي دي او د لو يو ثوابونو ز يرئ يې ورکړئ دئ، ترڅو دوی په خپلو ښــو کړنو ټينګ ســي او نور خلک هم په رابللو ور پســې لاړســي او د خپل رب الله ثوابونه وګټي.

{مومنان جنتيان دي او فاسقان دوزخيان}

او په ور پســې مبارکو آيتونوکې بيا الله تعالی مومنان د کافرانو او فاسقانو نه بيل کړي دي، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿أَفَمَن كَانَ مُؤۡمِنٗا كَمَن كَانَ فَاسِقٗاۚ لَّا يَسۡتَوُۥنَ ١٨ أَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمۡ جَنَّٰتُ ٱلۡمَأۡوَىٰ نُزُلَۢا بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٩ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فَسَقُواْ فَمَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ كُلَّمَآ أَرَادُوٓاْ أَن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَآ أُعِيدُواْ فِيهَا وَقِيلَ لَهُمۡ ذُوقُواْ عَذَابَ ٱلنَّارِ ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ٢٠ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَدۡنَىٰ دُونَ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَكۡبَرِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ٢١ وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ ثُمَّ أَعۡرَضَ عَنۡهَآۚ إِنَّا مِنَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ مُنتَقِمُونَ ٢٢﴾

[١٨-٢١] [ای خلکو وګورئ!] آیا هغه څوک چې مومن ول، لکه د هغه چا غوندې دئ چې هغه فاسق ول؟ [ځواب داچې: نا!] هغه دواړه سره برابر ندي [یعنی مومنان او کافران هیڅ کله سره برابر ندي] او هغو کسانو چې ایمان راوړ او ښه کارونه یې وکړل، نو دوی ته د دوی د ښو کړنو په ثواب کې جنتونه ورکول کیږي او هلته به پکې تل اوسیږی، او هغه کسان چې د الله اطاعت نه ووتل او فاسقان سول، نو د دوی ځای د دوزخ اور دئ، او هر کله چې دوی د دوزخ نه د وتلو هڅه وکړي او زور ووهي چې ورڅخه ووځي بیرته ګرځول کیږي او ورته و یل کیږي: ای دوزخیانو! د هغه دوزخ سزا او عذاب وڅکۍ چې تاسې هغه دروغ باله، او دغو کسانو ته مونږ لنډ عذاب په دنیا کې پرته د لوی عذاب نه په آخرت کې ورڅکو، ترڅو دوی د کفر نه بیرته را وګرځي او تو به و باسي.

[٢٢] او څوک د هغه چا نه ډیر ظالم او باغي دئ چې کله هغه ته د الله کتاب په آیتونو باندې وعظ وسي او دئ د الله کلک عذاب نه وګواښل سي، نو بیا دئ د الله آیتونو او حکمونو نه مخ اړوي؟ [ځواب داچې هیڅ څوک د هغه نه ډیر ظالم او د الله حکمونو نه سر غړونکئ ندئ!] او یقینا چې مونږ د مجرمانو(کافرانو) نه غچ اخلو او سزا ورکوو.

درندو عز یزانو! الله تعالی په خپلو کړنوکې لوی عادل ذات دئ او د خپلو بنده ګانو کړنې د انصاف په تله تلې او بیا هرچا ته د هغه د ښه او بد عمل ثواب او سزا په دنیا او په آخرت کې ورکوي، خو د بده مرغه انسان ډیر ناشکره مخلوق دئ او ډیر لږ کسان حق ته غاړه ږدي او په پوره اخلاص سره؛ خپل رب ته تسلیمیږي، او همدارنګه پدې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د مومنانو لوړ مقام د کافرانو په پرتله په ډیر ټینګار سره ستایلئ دئ، ځکه دوی د الله حکمونه منلي دي او د الله تعالی بنده ګي یې په پوره اخلاص سره کړې ده، او کافران د الله اطاعت نه وتلي دي او ډیره سرکښي یې کړې ده، نو دا دوه ډلې خلک؛ هیڅ کله سره برابر ندي.

{ محمد ﷺ لکه موسی علیه السلام یقینا پیغمبر دئ }

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د موسی علیه السلام د پیغمبرۍ لوړ

مقام یاد کړي دئ او د اسلام پیغمبر ﷺ یې د هغه ملاقات او خبرو نه د الله سره د طور په غونډۍ مطمئن کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ فَلَا تَكُن فِى مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآئِهِۦ ۖ وَجَعَلْنَٰهُ هُدًى لِّبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٢٣﴾ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا۟ ۖ وَكَانُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٢٥﴾ أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّنَ ٱلْقُرُونِ يَمْشُونَ فِى مَسَٰكِنِهِمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ ۖ أَفَلَا يَسْمَعُونَ ﴿٢٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا نَسُوقُ ٱلْمَآءَ إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهِۦ زَرْعًا تَأْكُلُ مِنْهُ أَنْعَٰمُهُمْ وَأَنفُسُهُمْ ۖ أَفَلَا يُبْصِرُونَ ﴿٢٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْفَتْحُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٢٨﴾ قُلْ يَوْمَ ٱلْفَتْحِ لَا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِيمَٰنُهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَٱنتَظِرْ إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ ﴿٣٠﴾﴾

[٢٣-٢٥] او یقینا چې موسی ته مونږ خپل کتاب (تورات) ورکه، نو ته ای پیغمبره! د موسی ملاقات سره [د طور غونډۍ په څیرمه او پر موسی باندې د وحی یې په رانازلیدو او د الله سره په خبرو باندې] مه شکمن کیږه، او هغه کتاب (تورات) چې مونږ بني اسرائیلو ته لارښود وګرځا ؤ او د بني اسرائیلو نه ځینې کسانو چې د زمونږ کتاب په آیتونو یې پوخ باور ؤ؛ دوی د دعوت په لارکې ښه صبر وکه، نو بیا دوی مونږ لارښودان اوخلکو ته مخکښ امامان وګرځول او د زمونږ په حکم یې خلک سمې لارې ته را و بلل.

ګرانو دوستانو! صبر او زغم د دعوت په لارکې؛ د دعوت بر یا لپاره ډیر اړ ین شرط دئ، نو ښایي چې اسلام ته رابلونکي دعات د الله دین ته د رابلنې په لارکې هیڅکله بې صبره نسي، بلکې ښه کلک صبر وکړي، او دا خبره هم دلته د یادونې وړ ده چې د [فلا تکن فی مر یة من لقائه] نه مقصد کمه لقاء ده؟ په ځواب کې یې ډیرې څه و یل سوې دي، لکه د معراج په شپه د موسی علیه السلام سره د رسول الله ﷺ ملاقات او دې ته ورته نور اقوال، خو دلته د دې مبارك آیت را نازلیدلو مقصد نه چې د رسول الله

ﷺ نبوت تصديق دئ؛ داسې ښكاري چې د [لقائه] نه مراد د موسى عليه السلام ملاقات د طور غونډې په ځيرمه دئ، يعنى لكه څنګه چې موسى ته الله تعالى تورات رانازل كه، همداسې يې تاته اى پيغمبره! قرآن را نازل كه... والله أعلم.

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى رسول الله ﷺ ته او ورسره مومنانوته ډاډ ورکړئ دئ چې د قيامت په ورځ الله خامخا د كافرانو او مومنانو په منځ کې د اختلافاتو په باره کې خپله پر يکړه کړي او حق او باطل سره بيلوي، او فرمايلي دي:

[٢٥] اى پيغمبره! او يقينا چې د ستا رب الله خپله د قيامت په ورځ د مومنانو او كافرانو په منځ کې اختلافات فيصله كوي او پر يکړه کړي، يعنى مومنان به چې پر حق دي جنت ته ځي او د كافرانو ځاى دوزخ دئ، ځكه د دوى لار باطله لار وه.

[٢٦] او آيا دغو كافرانو ته دا حقيقت روښانه نسه چې د دوى نه مخکې څومره پيړۍ خلک مونږ هلاك كړل، او دا دئ اوس دغه كافران د هغوى په مينوکې ګرځي راګرځي، لكه [د هود، صالح او د لوط عليهم السلام امتونه] نو يقينا چې پدې کې د الله قدرتونو لويې نښې نغښتې دي، خو كافران د تيرو امتونو قصې نه اوري او نه ورڅخه پند اخلي!

[٢٧] او آيا [دغه د قيامت ورځې راتګ نه منكر كافران] نه و يې چې مونږ وچې ځمكې ته او به را ليږو او هغه ور باندې او به كوو او بيا كښت پکې راشين كيږي او هغه دوى او څاروي يې خوري، نو آيا كافران هغه نه و يې [يعنى پکې نسه ژور فكر نكړي؟] يعنې په دغسې وچه ځمكه کې د بوټو او كښتونو راشنه كيدل؛ د قيامت په ورځ د ګورونو نه بيرته د مړو راژوندي كيدو ته ورته دي، نو څنګه چې الله تعالى وچه ځمكه په او بو كيدو سره را ژوندئ كوي او بوټي پکې راشنه كوي؛ همداسې د قيامت په ورځ مړه سوي ټول خلک الله بيرته را ژوندي كوي او حساب وركولو لپاره يې د الله پر وړاندې دروي، نو ښايي چې تاسې اى خلكو! ور باندې باور وكړئ او هغه ومني اوهيڅ شك او شبه پکې ونكړئ.

[٢٨-٣٠] [او هغه کافران چې د الله عذاب راتګ ته په دنیا کې تلوار لري او مومنانو ته] وایي: ای مومنانو! که تاسې د ریښتیاو یونکونه یاستي! نو دغه د فتحې ورځ [چې الله به مونږ ته په هغه ورځ د ستاسې په خوله سزا را کوي] کله ده؟ نو ته ای پیغمبره! دوی ته په ځواب کې ووایه: د فتحې په ورځ [چې په هغه ورځ کافرانو ته سزا ورکول کیږي] ایمان راوړل په هغه ورځ دوی ته نوره ګټه نلري او نه دوی ته نور وخت او د زنډولو نیټه ورکول کیږي، نو ته ای پیغمبره! د غو کافرانو نه نور مخ واړوه [یعنی دوی په خپل کفرکې همداسې خوسې کړه او انتظار و باسه، او کافران ده هم په کلکه سره انتظار و باسي، یعنی کافران د ستاسې په خلاف د پټو توطئیو تګ لارې جوړوي، نو الله به خاماخا هغه ورځ را ولي او کافران به خوارسوي او سر کوزي وي او مومنان به سرلوړي او بریالي وي.

عزتمنو دوستانو! د قرآن مجید د مبارکو آیتونو مفسرین د فتحې ورځې په باره کې دوه نظره لري، یو دا چې د دي ورځې نه مقصد د قیامت ورځ ده چې په هغه ورځ به کافران سرکوزي، خوار سوي او مختورن وي، او دا قول راجح دئ، او بل نظر دا دئ چې د فتحې ورځې نه مقصد د بدر فتحه او یا د مکې فتحې ورځ ده چې په دغو ورځوکې بیا الله تعالی مومنانو ته فتحه او بر یا ورکړه او کافران خوار او سرکوزي تسلیم سول، نو یقینا هغه ورځ چې الله ورته د حق او باطل په منځ کې د بیلتون او فرقان ورځ و یلې ده؛ هغه مومنانو ته د بریا او فتحې ورځ او کافرانو ته د کلکې ماتې اوسپکا وي ورځ ده، او همدارنګه د مکې فتحې ورځ چې د هغې راتګ نه مخکې رسول الله ﷺ ته الله تعالی ز یرئ ورکړي ؤ او کافران ورته بیړني او په تلوارکې ول؛ ډیره لو یه ورځ وه.

قدرندو دوستانو! او دا حقیقت د الله تعالی د دغسې وعدو په رڼا کې د الله هغه تل پاتې سنت او قانون دئ چې الله تعالی تل په تار یخ کې د حق لارې کاروانیان وروسته د ډیر صبر او کلکو زور یدلو نه بر یا ته رسولې دي او د باطل ډلو سرکښان یې د ماتې او هلاکت سره مخامخ کړي دي، او یقینا چې د افغانستان خلکو مقارمت او جهاد د ړنګ سوي کمونستی

شوروي اتحاد سرو يرغلګرو ملحدو لښکرو په وړاندې د شلمې پيړۍ په وروستيو لسيزوکې؛ يوه ډيره لو يه او بې ساري بيلګه او ژوندۍ مثال دئ چې پکې الله تعالى د افغان مظلوم، خو صابر او اتل ولس ته لو يه فتحه او بر يا په برخه کړه او د سره ځواک لښکرې مختورنې د افغانستان نه په ١٩٧٩م کال د دلوي په ٢٦ تار يخ ووتلې، او د السجدې مبارکې سورې د دغو وروستيو مبارکو آيتونو تفسير هم د دلوې آخر سره په ١٣٩٦هـ ش کال کې برابر وه.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين، وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.



د الاحزاب سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د الأحزاب سورې لنډه پیژندنه او لوی پیغامونه}

قدرمنو ورونو! د الأحزاب مبارکه سوره مدني سوره ده، او پکې الله تعالی رسول الله ﷺ ته او د هغه امت ته ښې ډیرې ازرښتناکه لارښودنې او سپارښتنې کړې دي، او هغه ټولې زمونږ لپاره تل پاتې لارښودنې او لوی پیغامونه دي، ښایي مومنان د قیامت ورځې پورې ورڅخه ګټه واخلي، الله تعالی پدې مبارکه سوره کې همداسې د احزابو غزا چې د مکې کافرانو وروسټئ لوی مسلح یرغل او بر ید پر رسول الله ﷺ او د هغه په ملګرو مومنانو باندې ؤ؛ یاد کړئ دئ او په هغه کې مومنانو ته ګټور پیغامونه یاد سوي دي، او دا مبارکه سوره په الاحزاب ځکه نومول سوې ده چې په پیل کې یې خلک الله تعالی په مومنانو، منافقانو او کافرانو و یشلي دي، او بیایې پکې د احزابو غزا یادونه کړې ده، او د هغې په لوی لښکرکې د مکې مشرکانو په مشرۍ لس زره جنګیالي د عربي جز یرې د ډیرو قبائلو نه راغونډ سوي ول او د منافقانو او یهودو په پټه ملتیایې پر رسول الله ﷺ او مومنانو باندې په مدینه منوره کې لوی یرغل او جګړه مار بر ید وکه، او پوره یوه میاشت یې مومنان کلا بند او محاصره کړل، ترڅو چې بیا د الله تعالی په غیبي نصرت سره د مدینې منورې نه دا لوی بر یدګر لښکر بیرته خپلو باندو او کلیو ته په مکه او په نورو قبائلوکې سرکوزي پرشا سول، او مومنان الله تعالی د دوی لوی جنګي ګواښ نه په امن کې کړل.

هو! د الاحزاب سورې په پیل کې الله تعالی خپل پیغمبر ﷺ او ورسره مومنان د کافرانو او منافقانو د شر نه کلکې ځان ساتنې ته رابللي دي، او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې رسول الله ﷺ ته د هغه کورنۍ ژوند په اړه ډیرې کټورې سپارښتنې کړې دي، او په پای کې یې په ځانګړې

ډول د هغه لوی امانت پر غاړه اخستلو بیان راغلئ دئ چې انسان ورته ټټر وهلئ، او پکې الله تعالی فرمایلي دي: (إنا عرضنا الأمانة على السموات والأرض والجبال فأبين أن يحملنها و أشفقنا منها وحملها الإنسان إنه كان ظلوما جهولا...آية:٧٣) هو! یقینا چې د ایمان دا لوی امانت او ور باندې د استقامت او ټینګار پیغام؛ او په لاره کې یې مالي او ځاني جهاد؛ ښه کلک تصمیم او لوی صبر او زغم ته اړتیا لري، او دا درونده امانت په پیل کې پیغمبرانو ته سپارل سوئ دئ او د هغوی د دې اوږده مزله ټولې قصې خاتم النبيين والمرسلين ته په قرآن کې را نازلې سوې دي، او بیا هغه د رسول الله ﷺ امت علماوو او دعاتو ته د قیامت ورځې پورې په میراث پاتې دئ، او دغو وارثانو هر یوه په خپل وار سره دا لوی امانت په پوره اخلاص یو بل ته رسولئ او سپارلئ دئ، او دا لړۍ به همداسې تر قیامت ورځې پورې روانه وي، او په مخ کې یې هیڅ څوک داسې خنډ کړئیدلای نسي چې دا دعوت ودروي، ځکه هغه اسماني پیغام دئ، نو د هغه در یدو پر یکړه به، لکه د پیل پر یکړه؛ په اسمان کې کیږي.

او د الاحزاب مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی رسول الله ﷺ تقوا ته رابللئ دئ او د کافرانو او منافقانو اطاعت او فرمانو وړو نه یې کلک منعې کړئ او ګواښلئ دئ، او ورته یې فرمایلي دي:

{دښمنانو ته تسلیمیدل پر پیغمبر باندې حرام دي}

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ٱتَّقِ ٱللَّهَ وَلَا تُطِعِ ٱلْكَٰفِرِينَ وَٱلْمُنَٰفِقِينَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ۝١ وَٱتَّبِعْ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ۝٢ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ۝٣﴾

[١-٣] ای د الله نبي او پیغمبره! د الله نه وو یر یره [یعنی تقوا وکړه او د لوی عذاب نه یې په فرمان وړو او حکمونو باندې په کلک ټینګار او عمل کړو سره] خپل ځان وساته او د کافرانو او منافقانو خبره مه منه [یعنی د دوی هوا او هوس غوښتنو ته غاړه مږده او مه ورته تسلیمیږه] هو! یقینا چې الله په هرڅه ښه پوه دئ [یعنې په لوی حکمت او لوی تدبیر

سره د کافرانو پټې پر یکړې شندوي، او ته ای پیغمبره!] هغو لارښودونو پسې لاړ سه چې هغه تا ته د ستا رب الله لخوا وحیه کیږي، او یقینا چې د کافرانو او منافقانو ټولو بدو کړنو نه الله ښه خبر دئ، نو ته ای پیغمبره! پر الله باندې توکل وکړه او خپل ځان ور باندې وسپاره او ډاډه او مطمئن اوسه، ځکه چې د الله حفاظت او ساتنه درته بس او کافي ده، یعنی د ستا وکیل او نماینده الله دئ، نو الله تعالی تا د ټولو بشري ستونزو نه ساتی!

ګرانو عز یزانو! یقینا چې رسول الله ﷺ د الله تعالی حکمونو ته تابع ؤ او پر الله یې کلک توکل او اعتماد ؤ، خو د دې سره سره بیا هم الله تعالی هغه ته د لا ډیر ډاډ او اطمئنان ورکولو لپاره رسول الله ﷺ د الله تعالی نه و یرې او تقوا او پر الله باندې توکل ته؛ کلک رابللئ دئ، نو د الله تعالی دا پیغام په حقیقت کې د هغه امت ته او په ځانګړې ډول علماوو او دعاتو ته متوجه دئ، ځکه دوی د الله په لار کې ډیرو ستونزو سره مخامخ کیږي، نو ښایي چې دوی د خپل پیغمبر په سنتو او په سیرت باندې کلک ولاړ وي او د کافرانو او منافقانو غوښتنې د دین حکمونو په پر یښودلوکې هیڅ کله ونه مني او ورته تسلیم نسي، خو البته ورته روا ده چې د ژوندانه په چارو او راکړه ورکړه کې د دود سره سم ؛ کافرانو سره طبیعي چلند او معامله وکړي او د خپل ولس ژوند؛ هیڅ کله د ګواښ لاندې را نه ولي!

{ پردي زامن خپل زامن نکیږي او نه خپلې میرمني میندې کیږي }

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د جاهلیت زمانې ځینې دودو نه رد کړي دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿مَّا جَعَلَ ٱللَّهُ لِرَجُلٍ مِّن قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِۦ ۚ وَمَا جَعَلَ أَزْوَٰجَكُمُ ٱلَّٰٓـِٔي تُظَٰهِرُونَ مِنْهُنَّ أُمَّهَٰتِكُمْ ۚ وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَآءَكُمْ أَبْنَآءَكُمْ ۚ ذَٰلِكُمْ قَوْلُكُم بِأَفْوَٰهِكُمْ ۖ وَٱللَّهُ يَقُولُ ٱلْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِى ٱلسَّبِيلَ ۝٤ ٱدْعُوهُمْ لِءَابَآئِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِندَ ٱللَّهِ ۚ فَإِن لَّمْ تَعْلَمُوٓا۟ ءَابَآءَهُمْ فَإِخْوَٰنُكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَمَوَٰلِيكُمْ ۚ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَآ أَخْطَأْتُم بِهِۦ وَلَٰكِن مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ ۚ وَكَانَ

ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ۝٥ ٱلنَّبِيُّ أَوۡلَىٰ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ مِنۡ أَنفُسِهِمۡۖ وَأَزۡوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمۡۗ وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ إِلَّآ أَن تَفۡعَلُوٓاْ إِلَىٰٓ أَوۡلِيَآئِكُم مَّعۡرُوفٗاۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَسۡطُورٗا ۝٦

[٤] هو! الله د يوه سړي په نس کې دوه زړونه ندي پيدا کړي، او نه ای مومنانو! الله د ستاسې هغه ميرمنې او ارتيني چې ظهار ورسره کړی د ستاسې مينډې ګرځولې دي [يعنی هغه ميرمن چې ميړه يې ورته وايي: د ستا شا پر ما باندې، لکه د زما مور شا حرامه ده؛ نو هغه پدې خبره د ميړه مور نکيږي] او نه ای مومنانو! د ستاسې د خولو په و يناوو سره څوک الله د ستاسې نسبي زامن ګرځولې دي [يعنی دا خبره چې وايي پلانئ د زما زوی دئ] هغه خوسې ستاسې د خولو خبره ده [يعنی هيڅ اعتبار نلري] او ای مومنانو! الله تاسې ته حق وايي، او يوازې الله دئ چې خلک سمې لارې ته رابولي، يعنی هغه دودونه چې په کافرانوکې د اسلام نه مخکې راواج او دود ول، لکه د ظهار رواج چې يوه سړي به خپله ميرمن په مور و يلو سره پر ځان حراموله، او لکه د زوی نيولو دود چې چا ته پې زړه وه؛ هغه بې خپل زوی باله، او بيابې په خپل کورکې، لکه نسبي زوی ګڼلو ؤ! او دا ټول ناروا دودونه ول او خلکو د خولو خوسې خبرې وې، ځکه حق هغه دئ چې هغه الله تعالی خپلو بنده ګانو ته بيان کړئ دئ، او هغه دا چې ميرمن هيڅ کله مور نده او نه پردئ زوی په زوی نيولو سره زوی کيږي، ځکه د دغسې دعوا معنا دا ده، لکه دا چې د يوه سړي په نس يا ګيډه کې دوه زړونه وي، حال دا چې الله تعالی هيڅ چا ته دوه زړونه ندي ورکړي چې په يوه کې کافر او په بل کې مومن وي، او نسځه په يوه کې ميرمن او په بل کې مور وي، او پردئ زوی په يوه زړه کې پردئ او په بل کې زوی وي، او الله تعالی په دغسې کلک او روښانه بيان سره؛ د کافرانو شرک غندلئ او رد کړئ دئ، ځکه ايمان او کفر سره برابر ندي، او په يوه زړه کې هيڅ کله نه سره يوځای کيږي، او همدارنګه الله تعالی د جاهليت دورې ځينې ځانګړي اجتماعي يا

ټولینزه دودونه باطل اعلان کړي دي، لکه پردئ زوی چې هغه به دوی ځان ته زوی نیوه او په میراث کې بې شـر یکا ؤ، او لکه د خپلې میرمنې حرامول پر ځان باندې پدې خبرې سره چې و یل یې: د هغې شا پر ما باندې، لکه د زما مور شا حرامه ده.

قدرمنو دوستانو! د یادونې وړ ده چې د ظهار مسئلې پوره شرعي حکم د مجادلې مبارکې سورې په پیل کې ښه روښانه بیان سوئ دئ.

[٥] نو ای مومنانو! د الله پر وړاندې حق او عدالت دا دئ چې پردي زامن خپلو پلرو ته منسوب کړئ او که چیرې پلرونه یې نه پیژنئ [لکه هغه څوک چې نسب یې معلوم نوي] نو بیا دوی د ستاسې دیني وروڼه او ازاد سوي ملګري دي، او په هغه څه کې چې مخکې تیروتي یاستئ؛ پر تاسې باندې څه ګناه نسته [یعنی نه پرې نیول کیږي] خو که تاسې د زړونو نه په قصد سره څه وکړئ، نو بیا ور باندې کلک نیول کیږئ، او یقینا چې الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ.

[٦] [ای مومنانو!] او د الله پیغمبر(محمد ﷺ) مومنانو ته د دوی د ځانونو نه ډیر وړلاندې دئ [یعنی د هغه حق پر دوی باندې د خپلو ځانو حق نه وړاندې دئ] او د پیغمبر میرمنې د مومنانو میندې دي[یعنی دا چې مومنانو ته ښایي چې لکه خپلې نسبي میندې؛ د هغوی درناوئ وکړي، او مومنانو ته د امهات المومنینو سره واده کړل روا ندي] او د مومنانو او مهاجرانو خپلوان یو بل ته د الله په کتاب کې وړلاندې دي [یعنی د یو بل نه په میراث وړوکې او د یو بل سره په ښو کړنوکې پر پردیو کسانو باندې وړاندې دي، او د هر چا شخصي پیرزو ینې او ښې کړنې د هغه خپل کار دئ، خو هیڅ څوک حق نلري چې په ټولینزو حقوقوکې خپلوان پر نورو خلکو باندې وړلاندې کړي او د نورو حق خپلوانو ته ورکړي، مخصوصا په دولتي دندو او منصبونوکې چې وړتیا او لیاقت پکې شرط دئ، او ټاکنې ښایي په شفافو سالیو ترسره سي] او دا حکمونه ټول د الله په کتاب (لوح محفوظ) کې لیکل سوي دي [لکه د میراث وړو حکومونه چې میراث یوازې میراث خورو خپلوانو ته ورکول کیږي] خو تاسې ای مومنانو! کولای

سی چې د دود سره سم خپلو هغو خپلوانو ته چې په میراث کې ورته برخه نه رسیږي؛ د خپلوی برخې ورکولو سپارښت وکړی، یعنی د ستاسې میراث نه دوی ته هم د خپلوی برخه ورکړه سي، ترڅویې په زړونوکې څه شئ ونکرئ، او پردي ونه ګڼل سي، او خپلوي يې ښه و پالل سي.

{الله د پیغمبرانو نه تعهد اخستئ دئ چې پیغام يې ورسوي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې مونږ الله تعالی د خپل تعهد نه پیغمبرانو سره چې هغه خلکو ته د الله پیغام رسول دي؛ خبر کړي یو او د اسلام پر پیغمبر محمد ﷺ يې غږ کړئ دئ فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِيثَٰقَهُمْ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٍ وَإِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ ۖ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظًا ۝٧ لِّيَسْـَٔلَ ٱلصَّٰدِقِينَ عَن صِدْقِهِمْ ۚ وَأَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا أَلِيمًا ۝٨﴾

[٧-٨] [ای پیغمبره!] او هغه ترون او هوډ راپه یاد کړه کله چې هغه مونږ د ټولو پیغمبرانو نه او د ستا نه واخست، او دا هوډ مونږ د نوح، ابراهیم، موسی او د مر یم زوی عیسی نه هم واخست، او د دغو ټولو پیغمبرانو نه مونږ ډیر کلک تعهد او هوډ واخست چې دوی به د الله نه ورته سپارل سوئ پیغام خلکو ته رسوي، ترڅو الله د دوی د امتونو مومنانو نه چې د هغوی پیغمبري يې تصدیق کړه او وې منله؛ و پوښتي چې آیا پیغمبرانو دوی ته د الله نه ور سپارل سوئ پیغام ورسا ؤ کنه؟ [نو بیا الله تعالی مومنان جنت ته بیایي] او کافرانو ته يې چې دوی د الله استازي ونه منل؛ د دوزخ کړونکئ عذاب تیار کړئ دئ، یعنی دا چې کافران به بیا پکې تل پاتې کړ یږي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې هغه هوکړي رسول الله ﷺ ته ور په یاد کړي دي چې هغه يې د الله تعالی توحیدي عبادت په باره کې د کلک تصمیم خاوندانو پنځو پیغمبرانو نه اخستي دي، او هغه دا چې دوی به خپل امتونه د الله تعالی توحید ته په عبادت او بنده ګۍ کې رابولي، او بیا به د قیامت په ورځ مومنان د خپلو پیغمبرانو

پر امانت داری شـــاهدي وايي، او وايي به چې دغو پيغمبرانو د الله تعالی پيغام خپلو امتونو ته ورســا ؤ، نو بيا به مومنان الله تعالی جنت ته بيايي او کافرانو ته به په دوزخ کې سزا ورکوي.

{د احزابو غزا کافرانو نه د محمدﷺ پر خلاف جګړې واک واخست}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی مومنان د الله نصرت شکر و يســتلو ته په هغه ورځ رابللي دي چې کله ټولو مشــرکانو لاســونه ســره ورکړل او د احزابو يا ټلوالو لوی جګړه مار لښکر پر رسـول الله ﷺ او د هغه پر ملګرو باندې په مدينه منوره کې يرغلګر بر يد وکه، او په بيان کې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ جَآءَتۡكُمۡ جُنُودٞ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا وَجُنُودٗا لَّمۡ تَرَوۡهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرًا ٩ إِذۡ جَآءُوكُم مِّن فَوۡقِكُمۡ وَمِنۡ أَسۡفَلَ مِنكُمۡ وَإِذۡ زَاغَتِ ٱلۡأَبۡصَٰرُ وبلغت ٱلۡقُلُوبُ ٱلۡحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِٱللَّهِ ٱلظُّنُونَا ١٠ هُنَالِكَ ٱبۡتُلِيَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَزُلۡزِلُواْ زِلۡزَالٗا شَدِيدٗا ١١﴾

[٩] ای مومنانو! او د الله هغه نعمتونه او پيرزو ينې پر خپلو ځانو را په ياد کړی، کله چې [د کافرانو ټولو کليو او باندو نه] سر تيری د قر يشو په مشـری تاسـې ته راغلل [يعنی تاسـې پسـې جنګ ته مدينې ته راووتل او تاسې يې کلا بند او محاصره کړی، او بيا د اوږدې محاصرې او کلا بندی نه وروســـته مونږ دغو يرغلګرو لښـــکرو ځپلو پســـې] داســـې لښـــکر راولېږه چې هغه تاسـې ای مومنانو! په سـترګو نه ليده [ځکه هغه لښـکر د اسمان نه را کوز سوئ ملائکې يا فرښتې ول] او ای مومنانو! الله د ستاسې کړنو ښه ليدونکئ ؤ، يعنی د ستاسې دفاعي هلې ځلې يې د خندق ژوَره ولو په ورځ ښې ليدلې، ځکه تاسې غواړي په دغسې جنګي نقشې سره د دښمن بر يد مخه ونيسی او دوی شاتګ ته اړ کړی.

[١٠-١١] هو! کله چې د کافرانو لښـکرې د هرې خوا نه، د پاســه او د

لاندې نه پر تاسې باندې راغلې [او بر یدیې در باندې وکه، نو بیا د ډیرې حیرانتیا او و یرې نه د ستاسې سترګې؛ یوازې دښمن ته وروا وښتلې او د ستاسې زړونه ستوني ته راوختل، او الله پسې تاسې ډول ډول ګمانو نه وکړل [یعنی لکه دا چې الله تعالی نور د خپل دین او د خپل پیغمبر مرسته نکړي، العیاذ بالله] نو بیا هغه وه چې مومنان پر لوی ازمایښت کې را ګیر سول او پکې ولو یدل او کلک ټکان یې وخوړه او ډیر ورخطا سول!

ګرانو عز یزانو! یقیناچې مومنان د احزابو په غزاکې د ډیر لوی ازمایښت لاندې راغلل، ځکه د مشرکانو لوی یرغلګر لښکر دوی کلابند کړل، ترڅو چې مومنانو د سلع غونډۍ په څیرمه چې هغه د مدینې منورې ښارنه د رسول الله ﷺ او د ملګرویې؛ یوازئ دفاعي مورچل ؤ؛ د سلمان فارسي رضی اللہ عنہ په سپارښت یې د خندق لو یه ژوره تاله وایستله او ښه لوی پانډ پکې جوړ سه، او د خندق ژورولو سره سم چې یوه میاشت یې ونیوله؛ د مشرکانو لوی لښکر چې د سر تیرو شمیریې د لس زرو جنګیالیو نه چې ټول په اسلحو سمبال ول اوښت؛ را ورسیدل او د خندق پورې خوا ته تیار سئ سول ترڅو پر پیغمبر ﷺ او پر ملګرو مجاهدینویې بر ید وکړي، خو د رسول الله ﷺ یارانو یا ملګرو دغسې لوی دفاعي مورچل؛ د کافرانو بر یدګر لښکر حیران که، ځکه دوی پخوا دغسې مورچل نوه لیدلئ، نو بیایې د یو بل پر ضد د غشو و یشتل پیل کړل او عمر بن عبدود قر یشي چې په اس سپور ؤ؛ ځانمرګئ بر یدیې وکه او دغې لویې ژورې (خندق) ته یې راودانګل، خو ډیر ژر د علی بن طالب رضی اللہ عنہ په توره ووژل سه، او دا حصار او کلابندي همداسې د ژمي په یخنۍ کې یوه میاشت اوږده سوه چې بیان یې په همدې مبارکو آیتونوکې راغلئ دئ او د دښمن دا لوی لښکر همداسې مختورن پرته د کمې لاس ته راوړنې بیرته پر شا تګ سره مکې ته په تیښته سه!

{د احزابو په غزاکې د منافقانو دؤ مخه دریځونه رسوا سول}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د منافقانو دؤ مخئ در یځ کلک رسوا کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ يَقُولُ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ إِلَّا غُرُورًا ﴿١٢﴾ وَإِذْ قَالَت طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ يَٰٓأَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ فَٱرْجِعُوا۟ وَيَسْتَـْٔذِنُ فَرِيقٌ مِّنْهُمُ ٱلنَّبِىَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ وَمَا هِىَ بِعَوْرَةٍ إِن يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارًا ﴿١٣﴾ وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِم مِّنْ أَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا۟ ٱلْفِتْنَةَ لَـَٔاتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوا۟ بِهَآ إِلَّا يَسِيرًا ﴿١٤﴾ وَلَقَدْ كَانُوا۟ عَٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ مِن قَبْلُ لَا يُوَلُّونَ ٱلْأَدْبَٰرَ ۚ وَكَانَ عَهْدُ ٱللَّهِ مَسْـُٔولًا ﴿١٥﴾ قُل لَّن يَنفَعَكُمُ ٱلْفِرَارُ إِن فَرَرْتُم مِّنَ ٱلْمَوْتِ أَوِ ٱلْقَتْلِ وَإِذًا لَّا تُمَتَّعُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٦﴾ قُلْ مَن ذَا ٱلَّذِى يَعْصِمُكُم مِّنَ ٱللَّهِ إِنْ أَرَادَ بِكُمْ سُوٓءًا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ۚ وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿١٧﴾﴾

[١٢] [ای مومنانو! او هغه وخت راپه یاد کړی] کله چې منافقان او هغه کسان چې په زړونوکې یې ناروغي ده وایي: د الله او پیغمبر وعدې زمونږ سره (العیاذ بالله) غولونکي وې، یعنی د الله مرستې او د نصرت هغه وعدې چې د زمونږ سره یې کړې وې؛ مه منی!

[١٣-١٤] [او همدارنګه ای مومنانو] د منافقانو هغې یوې ډلې خبره راپه یاد کړی! کله چې دوی مومنانو ته وو یل: ای د یثرب (مدینې) خلکو! د ستاسې پاتې کیدل په دغه جګړه کې ګټه نلري، نو بیرته خپلو کورونو ته وګرځئ، او یوې بلې ډلې منافقانو بیا د پیغمبر نه اجازه وغوښتله چې خپلو کورونو ته لاړ سي او و یل یې چې یقینا زمونږ کورونه بې پردې او لوڅ دي [یعنی ساتونکي پکې نسته] حال دا چې د دوی کورونه بې پردې ندي [یعنی د هیڅ ډول سر خلاصې ګواښ لاندې ندي] خو دوی غواړي چې د جګړې نه وتښتي، نو که چیرې د احزابو لښکرې پر دوی باندې د هرې خوا نه راننوځي او د منافقانو نه د ازمایښت لپاره وغوښتل سي چې کافران سی [یعنی د اسلام نه بیرته واوړي] نو ډیر ژر به دوی کفر ته ور واوړي او ډیر لږ وخت به په انتظارکې پاتې سي.

[١٥] حال دا چې دغو منافقانو پخوا د الله سره تعهد او هوډ کړی وه، چې دوی به بیرته په شا نه اوړي [خو دا دئ اوس دوی خپله هوکړه ماته کړه او کافرانو ته ورواوښتل] او د الله سره د هوکړو پوښتنه کیږی، یعنی د هوکړې ماتونکو ته کلکه سزا ورکول کیږي!

[١٦] نو ته ای پیغمبره! [دغو منافقانو ته] ووایه: د جګړې نه تیښته تاسې ته څه ګټه نلري، او که تاسې د مرګ او وژلو نه وتښتی، نو بیا به هم ډیر لږ وخت د دنیا ژوند نه خوند واخلی!

[١٧] ای پیغمبره! [او همدارنګه دغو منافقانو ته] ووایه: که الله تاسې ته ز یان رسول او یا ګټه رسول وغواړي، نو بیا به څوک وي چې تاسې د الله عذاب نه وساتي؟ [ځواب: نا! د الله نه پرته بل هیڅ څوک منافقان د الله سزا نه ساتلای نسي] ځکه منافقان د الله نه پرته بل هیڅ څوک ځان ته ملګرئ او ځواکمن مرستندوی نلري.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې د احزابو یا د خندق جګړې او غزا ؛ ډیر دقیق تصو یر مونږ ته وړاندې کړئ دئ، ځکه دغه غزا د هجرت په پنځم کال د بدر او احد غزاګانو نه وروسته وه، او پکې د قر یشو لښکرو په مشرتابه د عر بانو نورو ټولو قومونو کافرانو برخه اخستې وه، او رسول الله ﷺ او مومنانو پسې پې د لس زره نه ډیر جنګیالي را و یستلي ول، او بیا چې کله دوی مدینې ته را ورسیدل، نو رسول الله ﷺ او مومنان پې مخې ته کلک ودر یدل او د یوې لوی پې ژورې یا خندق په و یستلو سره پې مدینې منورې شار ته د یرغلګرو راننوتلو مخه ونیوله او مدینه کلا بنده سوه او دا کلا بندي اوږده سوه، اود بني قر یظې یهود هم د یوې پټې توطئې په مټ د مشرکانو ملګري سول، او منافقانو هم خپلې هلې ځلې د مومنانو پر ضد کړندی کړې، ترڅو د جګړې نه په تیښته ځانو نه خلاص کړي، او د مومنانو زړونه هم پدې وخت کې د کلک ټکان سره مخامخ سول، نو بیا الله تعالی خپله مرسته مومنانو ته د ځمکې او اسمان نه را ولیږله او د احزابو لښکریې د جګړې نه پرته تیښتې ته اړ کړل، او مومنان الله تعالی په غیبي نصرت او مرستې سره؛ د کافرانو

لوی جنګیالي لښکر نه سلامت وساتل.

درنـدو عز یزانو! د یـادوني وړ ده چې د دغې لویې تـار یخې جګړې نـه وروسـته بیا نور د مکې مشـرکان رسـول الله ﷺ پسـې جګړه مارې لښـکرې راونه و یسـتلې، تر هغو چې بیا د هجرت په شـپږم کال د الحدیبې اور بند صـلحه امضـاء سـوه، او بیا په اتم کال د هجرت رسـول الله ﷺ د مکې فتحې بیرغ ښـه ځواکمن ور پا ؤ، او مکه د جګړې نه پرته فتحه سـوه او مسـلمانان سـر لوړي د عر بانو لوی تاټوبي یا جزیرې بې سـیاله واکمنان سـول، او د توحید کلمه (لا اله الا الله محمد رسـول الله) د هر کلي او باندې پر سـر ور پیدله او پکې میشـت ولوسـونه؛ د بنده ګانو بنده ګۍ نه د الله تعالی بنده ګۍ ته را وایسـتل سـول او یوازې د خپل خدای بنده ګان سول، والحمد لله على ذلك حمدا كثيرا طيبا مباركا فيه.

{د احزابو غزا منافقان ښه غلبیل او سپک کړل}

او بیا الله تعالی د احزابو په غزا کې د منافقانو سـپکاوي په بیان کې فرمایلی دي:

﴿* قَدۡ يَعۡلَمُ ٱللَّهُ ٱلۡمُعَوِّقِينَ مِنكُمۡ وَٱلۡقَآئِلِينَ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ هَلُمَّ إِلَيۡنَاۖ وَلَا يَأۡتُونَ ٱلۡبَأۡسَ إِلَّا قَلِيلًا ١٨ أَشِحَّةً عَلَيۡكُمۡۖ فَإِذَا جَآءَ ٱلۡخَوۡفُ رَأَيۡتَهُمۡ يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ تَدُورُ أَعۡيُنُهُمۡ كَٱلَّذِي يُغۡشَىٰ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡمَوۡتِۖ فَإِذَا ذَهَبَ ٱلۡخَوۡفُ سَلَقُوكُم بِأَلۡسِنَةٍ حِدَادٍ أَشِحَّةً عَلَى ٱلۡخَيۡرِۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَمۡ يُؤۡمِنُواْ فَأَحۡبَطَ ٱللَّهُ أَعۡمَٰلَهُمۡۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ١٩ يَحۡسَبُونَ ٱلۡأَحۡزَابَ لَمۡ يَذۡهَبُواْۖ وَإِن يَأۡتِ ٱلۡأَحۡزَابُ يَوَدُّواْ لَوۡ أَنَّهُم بَادُونَ فِي ٱلۡأَعۡرَابِ يَسۡـَٔلُونَ عَنۡ أَنۢبَآئِكُمۡۖ وَلَوۡ كَانُواْ فِيكُم مَّا قَٰتَلُوٓاْ إِلَّا قَلِيلًا ٢٠﴾

[١٨-١٩] [ای مومنانو!] یقینا چې الله د سـتاسـې نه هغه کسـان ښـه پیژني او پرې پوهیږي [چې دوی مومنان د جهاد نه او رسول الله ﷺ سره د مدینې دفاع نه منع کوي] او خپلو خپلوانو ته وایي: راځئ زمونږ سـره یوځای سـی [یعنی د محمد ﷺ ملتیا پر یږدی او جنګ مکړی، او دغه

کســـان چې مومنان د رســـول اللهﷺ ســـره جهاد نه منعې کوي] دوی په خپله ډیر لږ د جګړې ډګر ته ورځي [او هغه هم د دې و یرې نه چې رســـوا نســـي] او دا منافقان په تاسـې باندې ای مومنانو! ډیر بخیله دي او خپل مال او دولت په جهاد کې نه ورکوي، او کله چې د دښمن سره جګړه راسي؛ د دوی په زړونوکې و یره ولو یرې، نو دوی به ای پیغمبره! و ینې چې تا ته ګوري، خو ستړکې یې د ډیرې ویرې نه هرې خوا ته اوړي را اوړي، لکه هغه څوک چې د مرګ و یرې نه ور باندې بې اوښـــي راځي، او کله چې و یره لاړه سي، نو بیا دوی په ښـو تیرو ژ بو تاسې پسې ای مومنانو! سپکې سپورې وایي او د ستاسې غیبتونه کړي او د غنیمتونو نه د خیرات ورکولو په وخت کې دا منافقان ډیر بخیله وي او خیرات نه ورکوي، ځکه دوی د زړونو نه ایمان نه ؤ راوړئ [یعنی همداســې کافران پاتې ول] نو بیا الله د دوی ټول ښــه کړل له منځه وړي او دا کار الله ته ډیر اســانه دئ، یعنی دا چې الله تعالی د هرڅه په کړنو قادر لوی ذات دئ.

[۲۰] [او دغه منافقان همدارنګه] ګمان کړي چې د کافرانو احزابو لښکرې [چې الله تعالی په خپل غیبي ځواک سره د ماتې سره مخامخ کړل] بیرته ندي تللي [یعنی د مدینې کلا بندي یې نده پرې ایښې] خو که د احزابو لښـــکرې بیرته مدینې ته راســـي، نو دا منافقان به بیا وایي: کاشـــکې مونږ مدینې نه لرې باندې چیانو سره په ډاګوکې میشت وای او د ستاسې خبرونه یې نه وای اور یدلي، خوکه چیرې دا منافقان ســـتاســـې ســـره په مدینه کې وای، نو ډیر لږ کســـان به د دوی نه د ســـتاســـې په پلوی د کافرانو ســـره جنګیدلي ول، یعنی دا ځکه چې د دوی ایمان شـــړ یدلئ دئ، او دوی ډیرې کلکې و یرې یا ډار په سر اخستې دي.

عزتمنو دوســتانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې منافقان مومنانو ته د احزابو په غزا کې ښه روښانه ور پیژندلي دي او د دوی سپک خو یونه او شـوم نیتونه او نفاق یې رسـوا کړئ دئ، ترڅو د دوی تورې ځیرې مومنان ښې و پیژني او ور باندې ونه غولیږي، نو یقیناچې دغسې لویې پیښې او پر مومنانو باندې د کافرانو بر یدونه او تیري؛ هغه ځلانده ازمایښـــت ؤ چې

منافقان يي د مومنانو نه بيل کړل، او کلک يې رسوا کړل.

ګرانو عز يزانو! او دا د حق برلاسي او د باطل ماتې الهي قانون به په بشري ټولنوکې او په ځانګړې ډول د مومنانو په منځ کې همداسې تر قيامت ورځې پورې چليږي او د مومنانو پرکنې او ټولنې به تل د دغسې لوی ازمايښت سره مخامخ وي، نو ښايي چې مومنان تل خپل ايمان ښه پياوړئ کړي او د قرآن لارښودنو او د پيغمبرﷺ مبارک سيرت په رڼا کې ده د کافرانو او منافقانو پټې دسيسې او چلونه تل شنډ او رسوا کړي، او د توحيد کلمه چې د اسلام لمړی ستن ده؛ د هرې وچې او لندې پر سر ښه لوړه ځپانده ور پوي، ترڅو د الله تعالی نوم لوړ او کفر سرکوزئ سي!

{رسول اللهﷺ مومنانوته د نيکمرغۍ ښه بيلګه او لارښود دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی مومنان رسول اللهﷺ پسې تک ته او د هغه سيرت او سنتو باندې تينګښت ته را بللي، او فرمايلي دي:

﴿لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُواْ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْآخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾ وَلَمَّا رَءَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْأَحْزَابَ قَالُواْ هَٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَصَدَقَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّآ إِيمَٰنًا وَتَسْلِيمًا ﴿٢٢﴾ مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُواْ مَا عَٰهَدُواْ ٱللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُۥ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُواْ تَبْدِيلًا ﴿٢٣﴾ لِّيَجْزِيَ ٱللَّهُ ٱلصَّٰدِقِينَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ ٱلْمُنَٰفِقِينَ إِن شَآءَ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٢٤﴾﴾

[٢١] ای مومنانو! په رسول الله کې تاسې ته او هغه چا ته چې د الله سره يوځای کيدو او د قيامت ورځې راتګ ته هيلمن دئ او الله ډير يادوي؛ د لارښودنې ښه بيلګه وه، يعنی د رسول الله ﷺ خبرې او کړنې؛ ټول د هغه چا لپاره ښه لارښود دئ چې دوی د الله خوښی ته او د آخرت ورځې جنتونوته هيله لري او الله ډير يادوي او ژ به يې د الله په ستاينه لنده وي.

[۲۲] هو! کله چې مومنانو د احزابو لښکرې ولیدلې چې پر مدینه باندې یې یرغل وکه، نو و یو یل: دا د الله او د هغه پیغمبر وعده ده چې د زمونږ سره یې کړې وه، او د لوی ځواکمن دښمن لښکرو سره د مخامخ کیدو او بیا پر هغه باندې د زورور کیدو او بر یا نه یې خبر کړي وو، نو الله او پیغمبرې ر یښتیا وو یل او خپله وعدې پوره کړه، نو دغو لښکرو د مومنانو ایمان لا ډیر غښتلئ او کلک که، او د الله تقدیري پر یکړو ته تسلیم سول او ځانونه یې پر الله کلک وسپارل.

[۲۳-۲٤] او د مومنانو نه داسې کسان هم ستە چې د الله سره یې خپل ټړونونه او هوډونه ر یښتیا کړل، نو ځینې د دغو مومنانو نه د الله په لارکې شهیدان سول او ځینې نورې لا په انتظارکې ناست دي او د الله په لارکې قر باني ته سترکې په لار دي او هیڅ بدلون یې په خپلو هوکړوکې ندئ راوړئ، ترڅو الله ر یښتیا و یونکو ته د خپل ر یښتینې ایمان ثواب ورکړي او منافقانو ته که وغواړي سزا به ورکړي او یا بې تو به قبوله کړي، او هغوي به و بښي، او یقینا چې الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ.

ګرانو دوستانو! د مومنانو نه د رسول الله ﷺ ملګرو او صحابوو نه نیولې تر قیامت ورځې پورې؛ داسې کسان ستە چې د الله او د هغه پیغمبرﷺ سره تل په خپلو تعهدونو او هوکړوکې ټینګ پاتې سوي دي او ور باندې کلک ولاړ دي، او بیایې ځینې د الله په لارکې شهیدان سوي دي، لکه د احد او د نورو غزاګانو شهیدان او ځینې نورې همداسې د الله په لارکې شهادتونو ته منتظر دي او هیڅ بدلون یې په خپلو تعهدونو او هوکړو کې ندئ راوستئ!

{د احزابو غزا کې یرغلګر الله د جګړې نه پرته مختورن وشړل}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالې د احزابو لښکرو سرکوزې ماته یاده کړي ده چې دوی الله تعالی پرته د جګړې نه مختورن مات کړل او د مدینې نه په تیښته په شا سول او مومنان یې د دوی سره جګړې ته

اړ نکړل، او فرمايلي د ي:

﴿وَرَدَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِغَيۡظِهِمۡ لَمۡ يَنَالُواْ خَيۡرٗاۚ وَكَفَى ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلۡقِتَالَۚ وَكَانَ ٱللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزٗا ٢٥ وَأَنزَلَ ٱلَّذِينَ ظَٰهَرُوهُم مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مِن صَيَاصِيهِمۡ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعۡبَ فَرِيقٗا تَقۡتُلُونَ وَتَأۡسِرُونَ فَرِيقٗا ٢٦ وَأَوۡرَثَكُمۡ أَرۡضَهُمۡ وَدِيَٰرَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُمۡ وَأَرۡضٗا لَّمۡ تَطَـُٔوهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٗا ٢٧﴾

[٢٥] او د کافرانو لښکر د غوصونه ډک، قهرجن او خفه د مدينې نه الله بيرته وشړل او هيڅ ګټه يې لاس ته ورنغله، او مومنانو ته د کافرانو سره جګړې ته الله بس سه [يعني دوی يې د جګړې نه وساتل] او الله لوي ځواکمن او ښه زورور ذات دئ.

[٢٦-٢٧] او د اهل کتابو نه هغو کسانو چې د بر يدګرو کافرانو ملاتړ وکه؛ دوی الله د خپلو مرچلو نه را کوز کړل او په زړنوکې يې و يره واچوله، نو د دوی نه يې ځينې ووژل او ځينې نورې برمته کړل، يعنی ژوندي يې ونيول، او د بني قريظه يهودو لښکرې چې د عر بانو يرغلګرو کافرانو شا ته ودر يدل او خپل ټرون يې د رسوالله ﷺ سره په ګډ ژوند کې مات که؛ دوی هم الله تعالی د خپلو مورچلو نه راکوز کړل او په زړونوکې يې و يره واچوله، او بيا د هغوی نه ځيني کسان مومنانو مړه کړل او ځيني يې غلامان يا مر يان ونيول، او د دوی ځمکې، کورونه، او مال او دولت مومنانو ته ميراث سول، او همدارنګه د بني قر يظه هغه ځمکې مومنانو ته ميراث پاتي سوې چې مومنان هلته پخوا نوه تللي، لکه په خيبرکې د يهودو باندې، نو يقيناچې الله په هر څه باندې قادر لوی ځواکمن ذات دئ او څه چې الله وغواړي هغسې کړلای سي.

عزتمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې د احزابو په غزاکې د مشرکانو او ورسره نورو ټولو کافرانو؛ لوی شکست او کلکه ماته پرته د مخامخ جګړې نه مونږ ته يادە کړې او بيان کړې ده؛ نو يقيناچې هغه د الله تعالی لويې ځواکمنۍ ښه ده، او په وار وار سره د رسول

الله ﷺ او د هغه يارانو په لو يو جګړوکې د کافرانو سره، لکه په بدر، احد، احزابو، حنين او په نورو جګړوکې؛ ښکاره سوه، او د الله تعالى دغسې لوى پټ قدرتونه تل همداسې مخلصو مومنانو ته د اسلام په اوږده تار يخ کې ښکاره سوي دي، نو الله ده مومنانو ته توفيق ورکړي چې خپل رب ښه و پيژني او پر دين باندې يې ځانو نه ښه پوه کړي او عمل پرې وکړي، ترڅويې په دنيا او آخرت کې نيکمرغي په برخه سي.

{پيغمبر هغو ميرمنوته چې د ډيرخرڅ غوښتونکې وې واک ورکه}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى رسول الله ﷺ ته لارښودنه کړې ده چې ای پيغمبره! خپلو ميرمنو ته ده د دنيا ژوند نه د خوند اخستلو او د الله او پيغمبر د خوښۍ په منځ کې واک ورکړه، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدۡنَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيۡنَ أُمَتِّعۡكُنَّ وَأُسَرِّحۡكُنَّ سَرَاحٗا جَمِيلٗا ٢٨ وَإِن كُنتُنَّ تُرِدۡنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَ فَإِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلۡمُحۡسِنَٰتِ مِنكُنَّ أَجۡرًا عَظِيمٗا ٢٩ يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ مَن يَأۡتِ مِنكُنَّ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖ يُضَٰعَفۡ لَهَا ٱلۡعَذَابُ ضِعۡفَيۡنِۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٗا ٣٠ * وَمَن يَقۡنُتۡ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتَعۡمَلۡ صَٰلِحٗا نُّؤۡتِهَآ أَجۡرَهَا مَرَّتَيۡنِ وَأَعۡتَدۡنَا لَهَا رِزۡقٗا كَرِيمٗا ٣١ يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ لَسۡتُنَّ كَأَحَدٖ مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِنِ ٱتَّقَيۡتُنَّۚ فَلَا تَخۡضَعۡنَ بِٱلۡقَوۡلِ فَيَطۡمَعَ ٱلَّذِي فِي قَلۡبِهِۦ مَرَضٞ وَقُلۡنَ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا ٣٢ وَقَرۡنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجۡنَ تَبَرُّجَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ ٱلۡأُولَىٰۖ وَأَقِمۡنَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتِينَ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِعۡنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرٗا ٣٣ وَٱذۡكُرۡنَ مَا يُتۡلَىٰ فِي بُيُوتِكُنَّ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ وَٱلۡحِكۡمَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا ٣٤﴾

[٢٨-٢٩] ای پيغمبره! خپلو ميرمنو ته ده [چې د ستا نه دوی ډير خرڅ غواړي] ووايه: ای ښځو! که چيرې تاسې د دنيا ژوند او د هغه خوندورو

خورو او د ښکلو جامو نه خوند اخستل غواړی، نو راسی چې زه د دنیا متاع نه چې څه راسره دي؛ هغه درکړم او بیا تاسې زه په ډیره ښه وجه خوسې کړم [یعنی پرته لدې چې تاسې ته څه تاوان یا ز یان او زَور ورسیږی] او که چیرې تاسې ای ښځو! د الله او د هغه پیغمبر رضا او خوښي غواړی او د آخرت ورځې ثوابونو او خوندونو ته طمعه لری [نو په خپل اوسني ژوند صبر وکړی او ستونزې وزغمی] ځکه چې الله په پوره یقین سره د ستاسې نه د ښو کړنو میرمنو ته ډیر لوی ثواب په آخرت کې تیار کړئ دئ، یعنی چې هغه په جنت کې تل پاتې ژوند دئ!

قدرمنو دوستانو! روایت سوئ دئ چې د رسول الله ﷺ میرمنو د ژوند سختیو نه رسول الله ﷺ ته شکایت وکه او د ډیر خرڅ غوښتونکې سوې او رسول الله ﷺ چې په ډیرو لږو خورو او جامو باندې په خپل ژوند کې قانع ؤ، او د پاچیانو غوندې ژوندیې نه غوښته، نو خپلو میرمنو ته یې د الله په سپارښت واک ورکه، او ورته یې وو یل: څوک چې د دنیا ژوند ډیر خوندونه غواړي، نو ما ته ده راسي چې زه یې و پالم او هغه څه چې د دنیا مال او دولت نه راسره سته؛ هغه ورته ډالی کړم او بیابې پرته د کمې زورونې او ستونزې نه په خوښی سره خوسې کړم، خوکه څوک د الله رضا او بیا د زما خوښه غواړي، نو پوه ده سي چې الله د دغو میرمنو نه د ښو کړنو خاوندانو ته ډیر ثوابونه په آخرت کې تیار کړي دي.

نو پدې ډول ګرانو عز یزانو! رسول الله ﷺ خپلو میرمنو ته خوښه او اختیار ورکه، نو بیا دوی ټولو چې ام المومنین عائشه رضي الله عنهایې مخکښه او په سرکې وه؛ د الله رضا او د پیغمبر ﷺ رضا او خوښي غوره کړه، نو ښایي چې اسلام پالونکي او اسلام ته را بلونکي ټول مشران او علماء خپله کورنی او میرمني د الله تعالی د دغسې لارښودنو نه خبرې کړي، او ښې یې ور باندې وروزي، او هغه د خپل کورني ژوند لپاره تګ لاره وګرځوي، او د ژوند په ټولو چاروکې په ساده ژوند باندې ځانونه عادت کړي، ترڅو دوی خپل ځان او خپل قوم او ولس ته مشران وګرځي او دین ته رابلنه دوی ته د دنیایي مال او دولت وسیله نه وي، او هم نه ښایي چې

د دوی کورنۍ، زامن او لوڑنه چې ورســره د دعوت په کاروان کې لګیا دي؛ مرفه ژوند ولري، او د بډایانو یا د لو یو سودا ګرو پیښې وکړي، لکه څنګه چې د بـده مرغـه پـه اوســنیو ټولنوکې پې بیلګې و ینو او د ټولنې د ډیرو مشرانو د کورنیو غړي ډیر مرفه ژوند لري، او عامل پې د مشرانو مقام نه په ګټې اخستلو سره د مال او دولت لاس ته راوړل وي!

عزتمنو دوسـتانو! او په ور پسې مبارکو آیتونوکې همداسې الله تعالی د پیغمبرﷺ میرمنو ته په و یناکې خپلې ارزښــتناکه لارښــودنې او ز یرې یاد کړې دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

[٣٠] ای د پیغمبر میرمنو! د ستاسې نه چې څوک ښکاره بد وکړي، نو هغې ته ســزا ورکول دوه برابره کیږي [یعنی دا چې ترڅو په دغســې درندې ننګونې سـره د رسـول اللهﷺ درووند مقام د هر ډول سـپکاوی نه خوندي وساتل سي] او د پیغمبر میرمنو ته کلک عذاب ورکول الله ته اسانه دي.

[٣١] او هر څوک چې د سـتاسـې نه [ای د پیغمبر میرمنو!] د الله او د هغه پیغمبر اطاعت وکړي او خبره پې ومني او ښـه وکړي، نو مونږ هغې ته د دې ثواب دوه ځله ورکوو، او همدارنګه هغې ته مونږ ډیره عزتمنه برخه په آخرت کې تیاره کړی ده او هغه جنت دئ.

[٣٢-٣٤] او ای د پیغمبر میرمنو! تاسې د نورو ښځو غوندې نه یاستئ [یعنی تاســې د الله تعالی پر وړاندې ډیر درووند او لوړ ځای لرئ] نو که چیرې تاســې د الله اطاعت کړئ؛ د هغه حکمونو ته غاړه کیږدئ، نو کله چې تاسـې پردیو خلکو سـره خبرې کړئ، نو په خبروکې خپل ځان دوی ته مه ټیټوئ، ځکه چې بیا سپک کسان چې په زړوکې پې ناروغي ده؛ د ستاسې سـره د بدو کړنو طمعه کړي، نو تاسـې پردیو خلکو سـره په خپلو خبروکې د دود سـره سـمې غږ یږئ، او ورسـره پسـتې پسـتې خبرې مکړئ او په خپلو کورونو کې کینئ او د اســلام نه پخوا د ناپوهۍ زمانې ښـځو غوندې لوڅ سرونه او بر بنډ ګر یوانو نه مګرځئ، او لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ او د الله او د هغه پیغمبر اطاعت وکړئ او حکمونه پې ومنئ، ځکه یقینا چې الله غواړي د سـتاسـې نه ای د پیغمبر کورنۍ! چټلي لرې کړي او د سـتاسـې

زړونه ښه پاک کړي او تاسې ای د پیغمبر میرمنو! د قرآن لارښودنې چې هغه د ستاسې په کورونوکې لوستل کیږي راپه یاد کړئ او هم د پیغمبر ﷺ کټورې خبرې [چې هغه د رسول الله ﷺ په احادیثوکې تاسې ته سپارښتنې دي] په یاد کې وساتئ او عمل پرې وکړئ، ځکه یقینا چې الله پر تاسې باندې ډیر لطف کړئ دئ او تاسې د پیغمبر میرمنې یاستئ، نو په پوره پوهه او خبرتیا سره تاسې ته الله دغه مقام درکړي دئ!

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې د رسول الله ﷺ میرمنو ته چې ټولې میرمنې یې د ام المومنین عائشې نه پرته کوندې وي؛ ډیرې ارزښتناکه لارښودنې کړې دي، او مقصد او مرادیې د پیغمبر ﷺ د کورنۍ لوړول او د هر ډول ښکاره او پټو ناپاکیو نه پاک ساتل ول، ځکه دوی الله تعالی د دغسې لوړ مقام لائق ګرځولې وې او د اهل بیت و یاړیې ورکړئ ؤ، نو یقینا چې د رسول الله ﷺ میرمنو بیا دغه د اهل بیت لوړ مقام وساته او دوی ټولو د الله تعالی رضا او د رسول الله ﷺ خوښه د دنیا پر ګټو او خوندونو باندې غوره او خوښه کړه،او ټول عمریې په ستونزوکې د رسول الله ﷺ سره په ګډ خواږه ژوندکې تیر کړه.

{ دغسې ښځو او نار ینوته الله د لوړ مقام زیرئ ورکړئ دئ }

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی هغو مومنو ښځو او نار ینوو ته چې په لاندې ښکلو خو یونو ستایل سوي دي؛ د ښې او د لو یو ثوابونو ز یري ورکړي دي، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلۡمُسۡلِمِينَ وَٱلۡمُسۡلِمَٰتِ وَٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ وَٱلۡقَٰنِتِينَ وَٱلۡقَٰنِتَٰتِ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلصَّٰدِقَٰتِ وَٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰبِرَٰتِ وَٱلۡخَٰشِعِينَ وَٱلۡخَٰشِعَٰتِ وَٱلۡمُتَصَدِّقِينَ وَٱلۡمُتَصَدِّقَٰتِ وَٱلصَّآئِمِينَ وَٱلصَّٰٓئِمَٰتِ وَٱلۡحَٰفِظِينَ فُرُوجَهُمۡ وَٱلۡحَٰفِظَٰتِ وَٱلذَّٰكِرِينَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا وَٱلذَّٰكِرَٰتِ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُم مَّغۡفِرَةٗ وَأَجۡرًا عَظِيمَۢا ٣٥﴾

[۳۵] هو! یقینا چې مومنو ښځو او نار ینوو ته الله ښښنه او لوی ثواب په جنت کې تیار کړئ دئ، او دا ز یرئ یې هغو نار ینوو او ښځو ته ورکړئ

دئ چې دوی د الله حکمونو ته غاړه ایښې ده او دوی ر یښتیا و یونکي دي، او په سختیو او ستونزو باندې یې صبر کړئ دئ، او دا مومن نار ینه او ښځې د الله سزا نه و یر یږي او د الله په لار کې خیراتونه ورکوي، روزې نیسي او خپل ځانونه د زنا او فحشا نه کلک ساتي او الله تل یادوي، نو دوی ټولو ته الله د تیرو ګناه وو ښښنه کړي ده او لوی لوی جنتونه او ثوابونه یې ورته تیار کړي دي او هغه په آخرت کې یوازی دوی ته ورکوي.

{د الله حکم پر مومنانو فرض دئ او دوی پکې خوښه نلري}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مومنان ښځې او نار ینه پدې پوه کړي دي چې د الله او پیغمبر حکم پر وړاندې دوی هیڅ خوښه نلري او د الله او پیغمبرحکم پلي کول پر دوی باندې فرض دي، او فرمایلي دي:

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا مُّبِينًا ﴿٣٦﴾﴾

[٣٦] او کله چې الله او د هغه پیغمبر د یو کار کړو حکم وکړي، نو بیا هیڅ مومن نار ینه او مومنې میرمنې ته نه ښایي چې پکې خوښه ولري [یعنی پر دوی باندې د الله او پیغمبر حکم اطاعت فرض دئ او سر غړونه ورڅخه ګناه ده] او هر څوک چې د الله حکم نه سر غړونه وکړي او هغه ونه مني، نو دئ په ښکاره ورکتیا دئ، یعنی سمه لاریې ورکه کړې ده.

درندو عز یزانو! الله تعالی پدې مبارك آیت کې او هغه ته ورته په نورو ډیرو آیتونوکې د الله تعالی حکمونو ته غاړه ایښودل پر ټولو نار ینوو او ښځینوو مومنانو باندې فرض کړي دي او دوی حق نلري چې د الله تعالی حکمونو په باره کې؛ که هغه حلال وي او که حرام او یا هغه د اسلام نورو حکمونو او شعائرو نه وي، لکه عبادات، شرعي آداب او اخلاق؛ ووایي دا حلال دئ او هغه حرام دئ، ځکه دوی پکې هیڅ اختیار نلري او پکې په خپله خوښه ندي، او همدا د ایمان راوړو معنا ده چې ښایي مومن بنده د الله تعالی حکمونو ته په حلالو او حرامو ټولوکې تسلیم وي، او هغه مني او عمل پرې کړي، مګر دا چې وسعه یې ونلري او د عملي کولو نه یې عاجز وي او عذریې ښکاره وي، نو بیا الله تعالی د عذر خاوندانو ته

ځانکړي حکمونه چې ورته د شــر يعت په اصــطلاح کې رخصــتونه و يل کيږي؛ بيان کړي او روا کړي دي، او د عذر خاوند پکې د خپلې وسعې سره سم ور باندې مکلف دئ.

{زينب پيغمبر تــه اللــه واده کړه ترڅو د زوی نيولو دود ورک کړي}

عزتمنو دوســتانو! او د ور پســې مبارکو آيتونو په پيل کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته په و يناکې د هغه واده ز ينب بنت جحش رضي الله عنها ســره چې هغه خپل پخواني ميړه ز يد بن حارثه رضي الله عنه طلاق کړي وه؛ اعلان کړئ دئ، ځکه چې ز يد د هغه وخت دود ســره ســم رســول الله ﷺ په زوی توب نيولئ ؤ، نو دا خبره ډيره درنده وه چې پلار د خپل زوی مطلقې سره واده وکړي؛ که څه هم رسول الله ﷺ پدې پوهيده چې دئ به د الله په حکم د ز ينب ســره واده کړی، ترڅو د جاهليت زمانې دغه دود لغو اعلان سي، ځکه خلکو به دغسې په زوی توب نيولي زامن، لکه نسبي زامن بلل، او په بيان کې الله فرمايلي دی.

﴿وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِيٓ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَٱتَّقِ ٱللَّهَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا ٱللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى ٱلنَّاسَ وَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَىٰهُ ۖ فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَٰكَهَا لِكَيْ لَا يَكُونَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِيٓ أَزْوَٰجِ أَدْعِيَآئِهِمْ إِذَا قَضَوْا۟ مِنْهُنَّ وَطَرًا ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٣٧﴾ مَّا كَانَ عَلَى ٱلنَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيمَا فَرَضَ ٱللَّهُ لَهُۥ ۖ سُنَّةَ ٱللَّهِ فِي ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلُ ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ قَدَرًا مَّقْدُورًا ﴿٣٨﴾ ٱلَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَٰلَٰتِ ٱللَّهِ وَيَخْشَوْنَهُۥ وَلَا يَخْشَوْنَ أَحَدًا إِلَّا ٱللَّهَ ۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبًا ﴿٣٩﴾ مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ﴿٤٠﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ﴿٤١﴾ وَسَبِّحُوهُ

بُكۡرَةٗ وَأَصِيلًا ﴿٤٢﴾ هُوَ ٱلَّذِي يُصَلِّي عَلَيۡكُمۡ وَمَلَٰٓئِكَتُهُۥ لِيُخۡرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۚ وَكَانَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَحِيمٗا ﴿٤٣﴾ تَحِيَّتُهُمۡ يَوۡمَ يَلۡقَوۡنَهُۥ سَلَٰمٞۚ وَأَعَدَّ لَهُمۡ أَجۡرٗا كَرِيمٗا ﴿٤٤﴾

[٣٧] [ای پیغمبره! او هغه وخت راپه یاد کړه] کله چې ز ید بن حارثه ته چې پر هغه باندې الله خپله پیرزو ینه وکړه او دئ مسلمان سه او بیا تا هم هغه ونازا ؤ[او د مر یتوب نه ده آزاد که] هغه ته تا وو یل چې خپله میرمن (زینب) وساته او هغه مې خوسې کوه او د الله نه وو یر یره [یعنی په خوسې کولوکې یې تلوار مکړه] خو ته په زړه کې هغه څه پټوي چې بیا الله هغه ښکاره کوي، او ته ای پیغمبره! د خلکو نه و یر یرې [یعنی دا چې بیا څوک ونه وایي: پیغمبر د خپل زوی خوسې سوې میرمنې سره وا ده کړي، ځکه رسول الله ﷺ ز ید په زوی توب نیولئ ؤ] او الله د حق نه په و یر یدلو کې د پیغمبر نه وړاندې دئ [یعنی الله تعالی حق نه پټوي او حق دا دئ چې په زوی نیولو سره؛ څوک زوی نکیږي او د زوی توب حکمونه ور باندې نه جاري کیږي] نو کله چې بیا ز ید بن حارثه خپله اړتیا ز ینب سره پوره کړه؛ هغه یې خوسې کړه، نو بیا ز ینب مونږ تا ته ای پیغمبره! وا ده کړه، ترڅو پر مومنانو باندې د هغو ښځو سره په وا ده کړوکې څه ګناه نه وي چې هغه د دوی غوښتل سوو زامنو خوسې کړې میرمنې وي، او دا کار د الله فیصله سوې پر یکړه وه، یعنی هغه د جاهلیت زمانې دود له منځه وړل ول، نو بیا رسول الله ﷺ په خپله خپل امت ته عملي لارښود وکړځیده او په زوی توب نیول سوي زوی (ز ید بن حارثه رضی الله عنه) مطلقې سره یې وا ده وکه او زینب د پیغمبر میرمن سوه او د ام المومنین مقام یې وګاټه.

[٣٨] او پدې کارکې [چې رسول الله ﷺ به د ز ید بن حارثه خوسې سوې میرمنې ز ینب سره وا ده کړي] پر پیغمبر باندې څه ګناه نوه، ځکه دا وا ده ورته الله روا کړي ؤ، لکه څنګه چې وا ده کړل الله پخوانیو پیغمبرانو ته روا کړي ول، او هم د الله دا حکم مخکې په تقدیرکې فیصله

سوئ حکم ؤ، یعنی داچې په دغسې وا ده سره به پیغمبرﷺ د جاهلیت زمانې یو دود چې پکې پردي زامن سکه زامن بلل کیدل؛ لغو اعلانوي.

قدرمنو دوستانو! د رسول الله ﷺ واده نه د ز ینب رضي الله عنها سره د الله تعالی لوی مقصد؛ د جاهلیت پیړۍ پیړۍ ناروا دودونو نه په دغسې دود باندې د بطلان سره کړنه راو یستل ول، ځکه د اسلام نه مخکې دود دا ؤ چې څوک پردئ زوی ځان ته زوی ونیسي؛ هغه ورته، لکه نسبي زوی ګرځي او په کور کې ورسره په هرڅه کې ګډ او شر یکیږي، نو څنګه چې د نسبي زوی خوسې سوې ښځې سره واده کړل پلار ته روا ندي؛ همداسې په نامه زوی خوسې سوې ښځه هم ورته روا نده، او یقینا چې دا دود په ټولنه کې یو ستونزمن او ناروا دود وه، نو الله تعالی هغه لمنځه یوړ او پیل یې خپله پر رسول الله ﷺباندې ؤ چې وحیه ور باندې رانازلیدله، او رسول الله ﷺ په الهام سره مخکې د وحی یې رانازلیدلو نه؛ پدې پوهیده چې دا دود نور الله تعالی لغوه کوي او د بطلان کړنه پرې راکاږي، او یقینا چې پدې قرآني حکم سره یو ډیر نا وړه دود له منځه لاړه او پدې سره الله تعالی د پردیو زامنو نیول ځان ته په زوی توب سره؛ باطل دود اعلان که، لکه څنګه چې یې بیان په مخکې مبارکو آیتونو کې بیان سه.

[٣٩] هو! د الله پیغمبران هغه کسان دي چې د الله پیغامونه خلکو ته رسوي او د الله نه و یر یږي، او د هغه نه پرته بل هیڅ چا نه نه و یر یږي، او د خلکو نه حساب اخستونکئ؛ یوازې الله بس دئ، یعنی د رسول اللهﷺ رسالت خلکو ته د الله پیغام رسول ول، او پیغمبران د الله نه پرته بل هیڅ چا نه نه و یره نلري!

[٤٠-٤٢] ای مومنانو! محمد د ستاسې نار ینوو نه د هیڅ چا پلار نه ؤ، او دئ د الله پیغمبر او خاتم النبین ؤ [یعنی د هغه نه وروسته بل پیغمبر نه راځي] او الله په هرڅه ښه پوه دئ، نو تاسې الله ډیر یاد کړئ او سحر او بیګاه د الله ستاینه وکړئ، یعنی لمنځونه وکړئ او الله باد کړئ.

[٤٣] او الله هغه څوک دئ چې پر تاسې باندې ای مومنانو! خپل رحمت ووروي، او هم د الله ملائکې پر تاسې درود وایي او درته دعاء کړي، ترڅو الله تاسې د کفر تورو تیارو نه د ایمان رڼا ته را و باسي او پر مومنانو باندې الله ښه مهربان لوی څښتن دئ.

[٤٤] او مومنان چې کله په آخرت کې خپل رب سره یوځای کیږي، نو په سلام اچولو او ډاډ ورکولو سره؛ د دوی هرکلئ کیږي او الله دوی ته په جنت کې ډیر نعمتونه او ډیرې ورکړې تیارې کړې دي.

درندو دوستانو! په دغو مبارکو آیتونوکې الله تعالی لمړئ د جاهلیت زمانې هغه دود لغو او باطل اعلان کړئ دئ چې پردئ زوی به خلکو په زوی توب نیولو سره لکه نسبي زوی باله او د هغه خوسې سوې مطلقې ښځې سره به واده کړل پلار ته روا نه ول، نو ځکه الله تعالی ز ینب د جحش لور خپل پیغمبر ته واده کړه او دا نکاح یې د قرآن آیتونو په رانازلیدلو سره اعلان کړه، او بیا وروسته الله تعالی د پیغمبرانو لوړ مقام ستایلئ دئ او دا وضاحت یې کړئ دئ چې محمد ﷺ د مومنانو نه د هیڅ چا پلار نه ؤ، ځکه الله پر دوی باندې خپلې ډیرې پیرز ینې لورولي دي، نو شکر و یستل یې پر مومنانو باندې فرض دي، او په پای کې بیا الله تعالی پر مومنانو باندې په سلام اچولو او ډاډ ورکولو سره ؛هرکلی کړئ دئ.

{رسول الله ﷺ خلکو ته د الله په حکم رڼا کونکئ څراغ ؤ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی رسول الله ﷺ ته د هغه پیغمبرۍ رسالت دندې یادې کړې او بیان کړې دې، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ٤٥ وَدَاعِيًا إِلَى ٱللَّهِ بِإِذۡنِهِۦ وَسِرَاجٗا مُّنِيرٗا ٤٦ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ بِأَنَّ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَضۡلٗا كَبِيرٗا ٤٧ وَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَدَعۡ أَذَىٰهُمۡ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ٤٨﴾

[٤٥-٤٦] ای پیغمبره! ته مونږ یقینا پر خپل امت شاهدي ورکونکئ او جنتونو ته ز یرئ ورکونکئ او د دوزخ اور نه ګواښونکئ را ولیږلې، او ته به د

الله په حکم خلک د الله عبادت ته په توحید ســره را و بولي، او ته رڼا کونکئ څراغ يي، يعنی خلکو ته د الله تعالی لار رڼا کوي!

[٤٧-٤٨] نو ای پیغمبره! مومنانو ته ز یرئ ورکړه چې دوی ته به الله د خپل لوی فضـل نه نعمتونه ورکړي، او ای پیغمبره! د کافرانو او منافقانو اطاعت مکړه او خبره يي مه منه، او د دوی زورونو نه تیر ســه او دوی پر ېږ ده [یعنی دوی و ښــه] او پر الله باندې توکل وکړه، او تاته ای پیغمبره! د ستا ټولو چارو سمبال لپاره الله بس او کافي دئ.

قدرمنو دوســتانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې د رســول الله ﷺ رسالت دنده په ډیر وضاحت سره په ښه کړي او معلومه کړې ده، او بیا يي د کافرانو او منافقانو سپکو سپورو خبرو او زورونو پر وړاندې ورته ډیره پر یکنده لارښودنه او سپارښتنه کړې ده، او هغه دا چې پیغمبر ده د کافرانو غوښتنو ته غوږ نه باسي او پروا دې نکړي، نو یقیناچې دغه لارښودنې اسلام ته رابلونکو ټولو دعاتو لپاره ډیرې ارزښتناکه سپارښتنې دي او د دوی لار ورته د قیامت ورځې راتګ پورې رڼا کوي، نو اســلام ته رابلونکو دعاتو ته ښایي چې په رڼا کې يې خپل دعوت پر مخ یوسي او د الله تعالی حکمونه خلکو ته په پوره حکمت سره ورسوي.

{میرمني سره ملاسته د عدت شرط دئ او مهرد میرمن حق دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی رسول الله ﷺ او مومنانو ته د کورني ژوند په باره کې ډیرې اړ ینې او ارزښــناکه لارښــودنې او کټورې سپارښتنې کړې دي، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَكَحْتُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا ۖ فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴿٤٩﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَٰجَكَ ٱلَّٰتِىٓ ءَاتَيْتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَيْكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّٰتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَٰلَٰتِكَ ٱلَّٰتِى هَاجَرْنَ مَعَكَ وَٱمْرَأَةً مُّؤْمِنَةً

إِن وَهَبَتۡ نَفۡسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنۡ أَرَادَ ٱلنَّبِيُّ أَن يَسۡتَنكِحَهَا خَالِصَةٗ لَّكَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ قَدۡ عَلِمۡنَا مَا فَرَضۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ وَمَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ لِكَيۡلَا يَكُونَ عَلَيۡكَ حَرَجٞۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٥٠ * تُرۡجِي مَن تَشَآءُ مِنۡهُنَّ وَتُـٔۡوِيٓ إِلَيۡكَ مَن تَشَآءُۖ وَمَنِ ٱبۡتَغَيۡتَ مِمَّنۡ عَزَلۡتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكَۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن تَقَرَّ أَعۡيُنُهُنَّ وَلَا يَحۡزَنَّ وَيَرۡضَيۡنَ بِمَآ ءَاتَيۡتَهُنَّ كُلُّهُنَّۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَلِيمٗا ٥١ لَّا يَحِلُّ لَكَ ٱلنِّسَآءُ مِنۢ بَعۡدُ وَلَآ أَن تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنۡ أَزۡوَٰجٖ وَلَوۡ أَعۡجَبَكَ حُسۡنُهُنَّ إِلَّا مَا مَلَكَتۡ يَمِينُكَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ رَّقِيبًا ٥٢

[٤٩] ای مومنانو! کله چې تاسې د مومنو میرمنو سره وا ده وکه او بیا دوی تاسې مخکې لدې چې ورسره څملې خوسې او طلاق کړې، نو د عدت تیرولو حق ور باندې نه لرئ چې ترڅو دوی هغه تیر کړی، نو خپلې طلاق سوې میرمنې و پالئ او په ډالئ ورکول سره یې خوښې کړئ، او بیایې په ډیر ښه چلند سره خوسې کړئ، یعنی په کورکې یې مه کینوئ او مې زوروی!

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی رسول الله ﷺ ته د ډیرو ښځو سره وا ده کړلو روا کیدل او د دغسې ځانګړي حکم اړوند آداب او حکمونه، لکه مهر ورکول او نور حکمونه بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

[٥٠] ای پیغمبره! تا ته مونږ د ستا هغه میرمني حلالې او روا کړې چې تا دوی ته د دوی مهر ورکه، او هم هغه ښځې تا ته مونږ حلالې کړې چې هغه الله پر تا باندې پیرزو کړې [یعنی هغه ښځې چې د کافرانو سره په جګړه کې تاسې ته الله په غنیمت او ولکه کې مینځې وکړځولې] ای پیغمبره! او تا ته مونږ د ستا تره او تروړکانو لونې او د ماما او توړئ ګانو لونې ده چې دوی د ستا سره مکې نه مدینې ته کډه سول او هجرت یې وکه؛ روا کړې، ترڅو ته ورسره وا ده وکړې، او هره هغه مومنه میرمن چې خپل ځان

پیغمبر ته و ښـــي او پیغمبر وغواړي چې هغې ســـره وا ده وکړي، نو هغه مونږ یوازې تا ته ای پیغمبره! پرته د مومنانو نه روا کړې، او مونږ پر هغو حکمونو ښـــه پوهیږو چې هغه مونږ پر مومنانو باندې د دوی د ښـځو او مینځو په باره کې مقرر کړي دي [یعنی هغه دا چې مومنانو ته په یو وخت کې د څلورو ښـځو نه د ډیرو ښـځو ســره وا ده کړل روا ندي، خو دوی کولای سي چې د خپلو مینځو نه خوند وا خلي، او دا وضـاحت د دې لپاره ضـروري یا اړ ین دئ چې] ترڅو پر تا باندې ای پیغمبره! د څلورو نه ډیرو ښـځو ســره وا ده کړل درانده نسـي، او الله ډیر ښښـونکئ او ښـه مهر بان ذات دئ، یعنی نوځکه ورته الله تعالی د ډیرو ښځو سره وا ده روا کړئ ؤ؟

قدرمنو دوسـتانو! رسـول اللهﷺ د خپلو ټولو هغو خپلوانو مشـر ؤ چې دوی ایمان راوړ او د مکې نه یې هجرت کړو ته د رسـول اللهﷺ ســره یوځای اړ ســول، او هم رسـول الله ﷺ د ټولو نار ینوو او مومنو ښـځو مل او پالونکئ ؤ، نو ځکه الله تعالی ورته د ډیرو میرمنو سره وا ده کړل روا کړل، او په ځـانګړي ډول هغو کونډو میرمنو ســره چې دوی د رســول اللهﷺ پالنې ته اړوې لکه د ځینې شـهدانو کونډې، نو یقیناچې الله تعالی پر مومنانو باندې لوی مهر بان خدای دئ او دوی هیڅ کله نه خواروي.

[۵۱] ای پیغمبره! [او پر تا باندې د خپلو میرمنو ســره په ځـانګړي چلند کې] څه ګناه نسـته، نو خوښـه ده چې د ځینو سـره د شـپې ملاسـتې وار زندوي او ځینې نورې بیا ځان ته راغواړي او ورسره شپه کړي، او هغه میرمن چې تـا د ځـان نـه بیلـه کړې وه [خو اوس هغـه بیرتـه راغواړي] او دغسـې ګزاره دیته لنده ده چې د دوی سـترګې یخې سـي او غمجنې او خفه نسي [یعنی د ستا نه ای پیغمبره! خوښې او راضي سي] او د ستا په ورکړل سـوي و یش باندې دوی ټولې راضـي او خوښـې وي، او الله د سـتاسـې په زړونوکې چې څـه شــئ دي پوهیږي، ځکـه اللـه ښـــه پوه او ډیر حلیم او زغمونکئ ذات دئ، یعنی هر چا ته صـبر کړي او ورته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي .

[۵۲] او ای پیغمبره! د دې نه وروسـته بیا نور تا ته د نورو ښـځو سـره

وا ده کړل روا ندي، او هم تا ته روا نده چې د خپلو دغو ميرمنو نه څوک د نورو ښځو سره بدلې کړې، که څه هم د دوی ښايست د ستا خوښ سي، مګر دا چې هغه مينځه وي، او الله پر هر څه باندې څارونکئ ذات دئ، يعنی هيڅ څوک د الله څار نه پټ ندي او الله د هر چا سره حساب کړي!

ګرانو دوستانو! کله چې د پيغمبرﷺ ميرمنو الله او رسول الله ﷺ ځانو ته غوره کړل او رسول الله ﷺ سره يې په فقيرانه ژوند قناعت وکه او د ډير هوسي ژوند غوښتنو نه تيرې سوې، نو بيا الله تعالی دوی په يوه لو يه پيرزو ينه ونازولې او هغه دا چې رسول اللهﷺ به پر دوی باندې نورې ښځې نه راولي او نور ودونه به نکړي.

{د پيغمبرکور ته د اجازې نه پرته ورننوتل روا ندي}

درندو دوستانو! او ور پسې مبارکو آيتونو د رانازليدو نه مخکې به د رسول الله ﷺ کور ته بې وزره صحابه د څه خوړلو لپاره اجازې نه پرته ورننوتل،او دا کار به پر رسول الله ﷺ ډير درومد تاميده، خو رسول الله ﷺ به هغه زغامه او صبر بې په که، ځکه چې دا د هغه وخت دود ؤ او حجاب لا نوه رانازول سوئ، نو بيا الله تعالی رسول اللهﷺ کورونو ته د ورننوتلو دا لاندې ځانګړي آداب را نازل کړل او پکې يې پر مومنانو غږ کړئ دئ چې د رسول اللهﷺ کورنو ته د ورننوتلو لپاره ده اجازه وغواړي، او بې اجازې ده نه ورننوځي، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتَ ٱلنَّبِيِّ إِلَّآ أَن يُؤۡذَنَ لَكُمۡ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيۡرَ نَٰظِرِينَ إِنَىٰهُ وَلَٰكِنۡ إِذَا دُعِيتُمۡ فَٱدۡخُلُواْ فَإِذَا طَعِمۡتُمۡ فَٱنتَشِرُواْ وَلَا مُسۡتَـٔۡنِسِينَ لِحَدِيثٍۚ إِنَّ ذَٰلِكُمۡ كَانَ يُؤۡذِي ٱلنَّبِيَّ فَيَسۡتَحۡيِۦ مِنكُمۡۖ وَٱللَّهُ لَا يَسۡتَحۡيِۦ مِنَ ٱلۡحَقِّۚ وَإِذَا سَأَلۡتُمُوهُنَّ مَتَٰعٗا فَسۡـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٖۚ ذَٰلِكُمۡ أَطۡهَرُ لِقُلُوبِكُمۡ وَقُلُوبِهِنَّۚ وَمَا كَانَ لَكُمۡ أَن تُؤۡذُواْ رَسُولَ ٱللَّهِ وَلَآ أَن تَنكِحُوٓاْ أَزۡوَٰجَهُۥ مِنۢ بَعۡدِهِۦٓ أَبَدًاۚ إِنَّ ذَٰلِكُمۡ كَانَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمًا ٥٣ إِن تُبۡدُواْ شَيۡـًٔا أَوۡ تُخۡفُوهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمًا ٥٤﴾

[٥٣] ای مومنانو! د پیغمبر کورونو ته مخکې لدې چې د ډوډۍ خوړو لپاره درته اجازه وسي؛ مه ورننوځئ او لوښو ته يې پخلاو په وخت کې مه ګورئ، او کله چې ورو بلل سوی، نو بیا ورننوځئ او کله چې تاسې ډوډۍ وخوړه، نو بیا بیرته ووځئ او د یو بل سره خبرې او مرکه مکړئ، ځکه یقیناچې د ستاسې اوږده ناسته هلته رسول الله زوروي او دئ ستاسې نه حیا کړي [یعنی څه نه وایي] خو الله د حق و یلو نه حیا نکړي [نو ښایي چې د خوړا نه وروسته بیا ژر بیرته ووځئ او لاړ سئ] او کله چې تاسې ای مومنانو! د رسول الله يې بیانو نه څه شئ غوښتل، نو هغه د پردې شانه وغواړئ او پدې کې د ستاسې زړونو ته پاکي ده، او تاسی ته روا نده چې رسول الله وزوروئ او یا د رسول الله کونډو میرمنو سره د هغه نه وروسته وا ده وکړئ، یعنی د رسول اللهﷺ کونډو سره وا ده کړل د تل لپاره پر مومنانو باندې حرام دي، ځکه دوی الله تعالی د مومنانو مینډې بللې دي، او سول الله ﷺ ته هر ډول تکلیف رسول او د هغه کونډو سره وا ده کړل الله تعالی په وړلاندې لو یه ګناه ده.

[٥٤] او ای مومنانو او د پیغمبر ملګرو! [هر هغه کارچې پکې رسول الله ﷺ ته زورونه ده] که هغه تاسې ښکاره کړئ او یاپې پټ کړئ؛ هغه روا ندئ، ځکه یقیناچې الله پر ټولو کړنو باندې ښه پوهیږي، یعنی په هرڅه باندې الله تعالی علم لري او پرې پوهیږي، نو بیا به هر هغه چا ته کلکه سزا ورکړي چې دئ ناروا کړنو ته لاس اوږدوي.

عزتمنو دوستانو! نو دغسې آداب ښایي په ټولنیزو اړ یکو کلک په پام کې ونیول سي، او په ځانګړي ډول د علماوو او مشرانوسره، ځکه د هغوی اړ یکې ټولو خلکو سره تړې دي، نو ځکه د هغوی شخصي کورونو ته ورتګ ځانګړي تنظیم غواړي، او خلاص پر یښودل يې ستونزمن دي.

{مومنو ښځو ته د خپلو انو نه یوازې لاندې کسان محرم دي}

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی مومنو میرمنو ته هغه خپلوان ور پیژندلي دي چې ورڅخه ځانو نه په پرده کې نه پټوي، او فرمایلي دي:

﴿لَّا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِيٓ ءَابَآئِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآئِهِنَّ وَلَآ إِخْوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآءِ إِخْوَٰنِهِنَّ

وَلَآ أَبۡنَآئِهِنَّ وَلَآ إِخۡوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبۡنَآءِ إِخۡوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبۡنَآءِ أَخَوَٰتِهِنَّ وَلَا نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُنَّۚ وَٱتَّقِينَ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدًا ﴿٥٥﴾

[٥٥] هو! پر ښځو څه ګناه نسته چې دوی د خپلو پلرنو، زامنو او د وروڼو نه ستر ونکړي، او هم ورته روا ده چې د خپلو ور یرو، خور یو او د ښځو او خپلو مر یانو نه ستر ونکړي، او دوی ده د الله سزا نه وو یر یږي، او حکمونو ته دې په حلالو او حراموکې غاړه کیږدي، او یقیناچې الله په هر څه باندې شاهد دئ، یعنی هر څه الله تعالی و یني او هر چا ته د هغه د ښو کړنو ثواب او د بدو کړنو سزا ورکوي.

{پر رسول الله ﷺ باندې درود و یل پر مومنانو فرض دئ}

او په ور پسې مبارك ایت کې مومنان الله تعالی رسول الله ﷺ باندې درود و یلو ته رابللي دي، او فرمایلي دي:

إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا ﴿٥٦﴾

[٥٦] هو! یقینا چې الله او د هغه ملائکې پر پیغمبر (محمد ﷺ) باندې درود وایي، نو تاسې ای مومنانو پر رسول الله باندې درود ووایي او سلام پرې واچوی، یعنی د رسول الله ﷺ سنتو او آدابو ته تسلیم سی او پرې عمل وکړی او درناوئ او عزت یې وکړی.

قدرمنو دوستانو! پر رسول الله ﷺ باندې درود و یلو غوره الفاظ هغه دي چې ورته ابراهیمي درود وایي، او هغه د رسول الله ﷺ احادیثو په صحي روایاتوکې د رسول الله ﷺ نه روایت سوي دي، او عربي الفاظ یې دا دي: (اللهم صل على محمد وعلى آل محمد كما صليت على إبراهيم وعلى آل إبرهيم إنك حميد مجيد، و بارك على محمد وعلى آل محمد كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم إنك حميد مجيد)

نو ښایي چې ټول مومنان د خپل پیغمبر درناوئ وکړي او تل ور باندې درود ووایي او دعاء وکړي ووایي: چې ای پیغمبره ﷺ تا د خپل رب الله پیغام خپل امت ته ورسا وه او امانت ده پر ځای که او خپل امت ته ده په

ډير اخلاص ســره نصــيحت وکه، نو الله ده تا ته د قيامت په ورځ هغه ســتايل ســوئ لوړ مقام درکړي چې د هغه وعده ســتا ســره الله کړي ده، آمين يارب العالمين! او د پام وړ ده چې د الله لخوا پر پيغمبرﷺ باندې د درود معنا د هغه ستاينه او ورځخه خوښي او رضايت څرګندول دي، او د ملائکو لخوا درود پر پيغمبر باندې هغه ته دعاء او اســتغفار او د الله نه ورته د بښنې غوښتل دي، او د زمونږ درود معنا پر رسول الله ﷺ باندې؛ د هغه عزت کړل، ستايل او درنښت دئ.

{د مومنانو زَورول حرام دي او پردیو سړي یو نه ستر فرض دئ}

او په ور پســې مبارکو آيتونوکې الله تعالى هغه کســان غندلي دي چې دوی رسول اللهﷺ او د هغه ملګرى درانده صحابه زوروي، ځکه ښايي د پيغمبر لوړ مقام ته درناوئ او د هغه ســتاينه وســي، نه دا چې څوک يې ســپک ياد کړي او وې زوروي، لکه د مکې مشــرکانو او نورو کافرانو چې رسول اللهﷺ کلک وزورا ؤ او سپکې سپورې يې ور پسې وو يلي، نو ځکه الله تعالى دوی په سخته سزا باندې ګواښلي دي، او فرمايلي دي

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿٥٧﴾ وَٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ بِغَيْرِ مَا ٱكْتَسَبُوا۟ فَقَدِ ٱحْتَمَلُوا۟ بُهْتَٰنًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ﴿٥٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥٩﴾ لَّئِن لَّمْ يَنتَهِ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْمُرْجِفُونَ فِى ٱلْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَآ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٦٠﴾ مَّلْعُونِينَ ۖ أَيْنَمَا ثُقِفُوٓا۟ أُخِذُوا۟ وَقُتِّلُوا۟ تَقْتِيلًا ﴿٦١﴾ سُنَّةَ ٱللَّهِ فِى ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلُ ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا ﴿٦٢﴾﴾

[٥٧] هو! يقينا هغه کســان چې الله او د هغه پيغمبر زَوروي [يعنى ســپکاوئ يې کړي] پر دوی باندې په دنيا او په آخرت کې د الله لعنت دئ

[یعنی دوی الله تعالی د خپل رحمت نه رټلي او شړلي دي] او د قیامت په ورځ دوی ته الله سپکونکئ عذاب تیار کړئ دئ.

[٥٨] او هغه کسان چې مومن نار ینه او مومنې ښځې پرته د کمو بدو کړنو نه زوروي [یعني سپکاوئ یې کړي] نو دوی ښکاره بهتان کړئ دئ او لو یه ګناه یې پشا کړې ده، یعنی نو دوی د آخرت په ورځ د سزا وړ دي.

او په ور پسې مبارك آیت کې بیا الله تعالی رسول الله ﷺ ته حکم کړئ دئ چې نور ده د پیغمبر کورنۍ میرمنې او هم ده نورې ټولې مومنې میرمني؛ ستر وکړي او په ټکر یو یا پرنوکې ده ځانونه پټ کړي، او فرمایلي دي:

[٥٩] ای پیغمبره! خپلو میرمنو او لونو ته ده او نورو ټولو مومنو ښځو ته ووایه چې خپل ټکري یا پروني ده پر خپلو ځانو باندې را واچوي، او ځانونه ده پکې پټ کړي، ځکه دا ورته ښه او غوره ده، ترڅو دوی ښې و پیژندل سي [یعنی دروند والئ یې ښکاره سي] او ونه زورول سي، او الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان ذات دئ، یعنی د مومنانو تیروتنو نه الله تعالی تیریږي او د دوی ګناه وې بښي.

[٦٠-٦١] او که چیرې دغه منافقان او هغه کسان چې په زړونوکې یې د کفر ناروغي ده، او هغه څوک چې په مدینه کې دروغژن خبرونه او ناحقه تورونه خوروي؛ که دوی د خپلو دغو بدو کړنو نه لاس وانخلي! نو بیا به تا ای پیغمبره! پر دوی باندې کلک را وهڅوو او ور باندې مسلط بده کړو، او دوی به بیا ډیر لږ وخت د ستا سره په مدینه کې ګاونډیان پاتې سي، او هر چیرته چې دوی ول؛ هلته به رټل سوي [مختورن وي] او چیرته چې ونیول سول په ډیر بد حال به ووژل سي، یعنی دا چې ترڅو رسول الله ﷺ او مومنان د دغو منافقانو د شر اچولو نه په امن کې سي او د منافقانو لاسونه مومنانو ته د شر او ز یان رسولو نه را لنډ سي.

[٦٢] [او دغسې سزا ورکول کافرانو او منافقانو ته] د الله تل پاتې قانون او هغه کړن لار ده چې پر هغو کسانو باندې پلې سوې ده چې دوی په پخوا تیر سوو ولسونوکې کافران او منافقان ول، او ته ای پیغمبره! د

الله ســنتو او قانون په څرنګوالي کې بدلون نه مومې، یعنی الله تعالی سرکښو او د بدو کړنو کسانو ته درنده سزا ورکوي او دوی د مومنانو په لاس برمته کوي او کلک یې را نیسي او وژني یې، ترڅو ټولنه د دوی د شر نه خلاصه او په امن کې سي، او د الله تعالی دا قانون د بني قر یظه یهودو په باره کې عملي ســه، ځکه کله چې دوی د رســول الله ﷺ ســره خپلې هوکړې د پښــو لاندې کړې او د رســول الله او مومنانو ســره یې خیانت وکه، او د احزابو په غزا کې د کافرانو سره ودر یدل او د مومنانو پر ضد او خلاف یې جګړه وکړه، نو د الله په حکم د دغسې کلکې سزا مستحق سول.

{د قیامت ورځې راتګ د الله نه پرته بل هیڅ چا ته معلوم ندئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی رسول الله ﷺ ته د قیامت ورځې راتګ په باره کې د خلکو پوښتنو ته ځواب و یلئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿يَسْـَٔلُكَ ٱلنَّاسُ عَنِ ٱلسَّاعَةِ ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ ٱللَّهِ ۚ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا ﴿٦٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ لَعَنَ ٱلْكَـٰفِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيرًا ﴿٦٤﴾ خَـٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٦٥﴾ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِى ٱلنَّارِ يَقُولُونَ يَـٰلَيْتَنَآ أَطَعْنَا ٱللَّهَ وَأَطَعْنَا ٱلرَّسُولَا۠ ﴿٦٦﴾ وَقَالُوا۟ رَبَّنَآ إِنَّآ أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَأَضَلُّونَا ٱلسَّبِيلَا۠ ﴿٦٧﴾ رَبَّنَآ ءَاتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ ٱلْعَذَابِ وَٱلْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا ﴿٦٨﴾﴾

[٦٣] ای پیغمبره! خلک د ســتا نه د قیامت ورځې راتګ نیټې او د وخت پوښــتنه کړي [یعنی وایي چې قیامت کله دئ؟ نو ته دوی ته په ځواب کې] ووایه: یقینا چې د قیامت ورځې راتګ علم او پوهه؛ یوازي د الله ســره ده، او ته ای پیغمبره! څه پوهیږي؟ کیدای سي چې د قیامت راتګ ډیر لنډ وي!

[٦٤-٦٥] هو! یقینا چې کافران الله د خپل رحمت نه رټلي او شــړلي دي، او په آخرت کې دوی ته الله ســور اور تیار کړئ دئ، او هلته به پکې تل کړ یږي او هیڅ ځوک به مل او مرســتندوی نه مومي! یعنی

کافران د الله رحمت نه کلک رټل سوي او شړل سوي دي.

[٦٦-٦٨] نو د قیامت په ورځ چې کله د کافرانو مخونه د دوزخ په اورکې اړول کیږي او را اړول کیږي؛ دوی وایي: ای کاشکې مونږ د الله او د هغه پیغمبر فرمان وړئ وای او حکم یې مونږ منلئ وای! [یعنی په پښیمانۍ سره اقرار کړي] او وایي: ای د زمونږ لو یه ر به! مونږ د خپلو بادارانو او مشرانو اطاعت وکه [یعنی د هغوی خبرې مونږ ومنلې، نو بیا دوی زمونږ نه سمه لار چې [ایمان راوړل ول] ورکه کړه او مونږ یې پر کړه لار روان کړو، نو ای د زمونږ لو یه خدایه! دغو مشرانو ته دوه برابره سزا ورکړه او لوی لعنت پر دوی باندې ووور وه، او د خپل رحمت نه یې ډیر لرې وشړه!

هو! قدرمنو دوستانو! دا د آخرت ورځې د بیلتون او بې زاري پیغام انځور د مشرانو او کشرانو په منځ کې دئ، او مونږ ورځخه الله تعالی خبر کړي یو، او یقینا مقصدیې لوی نصیحت هغو مشرانو ته دئ چې دوی کشران د خپلو ځاني ګټو په مقصد د حق نه کړوي او باطل پسې یې خوځوي، نو بیا کشرانو چې د مشرانو لاس نه په دوزخ کې کړول کیږي؛ مشرانو ته یې الله نه د سخت عذاب غوښتنه کړې ده، نو ښایي چې مونږ ټول کشران او مشران په حق باندې چې د الله تعالی دین اسلام دئ؛ خپلې منګلې کلکې کړو او باطل پسې چې کفر او فسق دئ لاړ نسو او د شر یعت ټول حکمونه په اخلاص سره ومنو او د اخرت ورځې ښادۍ او نیکمرغۍ لپاره ور باندې عمل وکړو.

{مومنان ده خپل پیغمبر د موسی علیه السلام قوم غوندې نه زوروي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې مومنان الله تعالی د موسی علیه السلام قوم بني اسرائیلو د بدو خو یونو تقلید او پیښو نه کلک ګواښلي دي او د الله عذاب نه یې تقوا او ځان ساتنې ته را بللې دي، او فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ ءَاذَوۡاْ مُوسَىٰ فَبَرَّأَهُ ٱللَّهُ مِمَّا قَالُواْۚ وَكَانَ عِندَ ٱللَّهِ وَجِيهٗا ٦٩ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ

فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ﴿٧١﴾

[٦٩] ای مومنانو! تاسې هغو کسانو غوندې مکیږئ چې موسی یې وزورا ؤ [یعنی دروغژن ښتان یې ور پسې وتاپه] خو بیا موسی ته الله د دوی د ښتان نه براءت ورکه، ځکه موسی د الله پر ورلاندې لوړ او درومند مقام درلود، یعنی نو د موسی علیه السلام پاکې د دوی دروغژنو تورونو نه خلکو ته الله تعالی ثابته کړه، نو ښایي چې مومنان هیڅ کله د خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم سپکاوئ ونکړي او د هر ډول ناحق تور نه ور پسې ځانونه کلک وساتي!

درندو دوستانو! روایت سوئ دئ چې بني اسرائیلو به لوڅ لوڅ او کډ سره لمبل او د یو بل عورت ته بې کتل، خو موسی علیه السلام د دغسې لوڅتیا نه ځان کلک ساته او د لمبلو لپاره به د خلکو نه لرې ته، نو د بني اسرائیلو ځینې سپکو کسانو به ور پسې د دروغو تور لږا ؤ چې د موسی شرم ځای کې څه نقصان او عیب دئ [یعنی ایزک دئ] نو بیا یوه ورځ چې کله موسی غسل ته خپلې جامې و یستلې وې او په یوه کټ یې پرتې ایښې وي؛ د بني اسرائیلو نه څوک هلته ورغلل، نو کله چې موسی صلی الله علیه وسلم خپلو جامو پسې ورغئ؛ ګوري چې کټ ورڅخه وتښتیده، ترڅو چې موسی صلی الله علیه وسلم خلکو لوڅ ولیده او په هغه کې یې هیڅ عیب بیانمود، ځکه موسی علیه السلام روغ رمټ ؤ، نو پدې ډول الله تعالی موسی ته براءت ورکه او د سپکو خلکو خولې همداسې وازې پاتې سوې او د دوی سپکې خبرې بې ارزښته سوې!

او یقینا چې د اسلام پیغمبر رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د خپل قوم نه ښه ډیر وزور یده او په ځانګړي ډول د افك مشهور تور چې بیا د ام المومنین عایشې رضی الله عنها په براءت او پاکۍ کې؛ د قرآن مبارك آیتونه را نازل سول، او دا مبارك آیتونه چې د النور سورې ١١ آیت نه تر ١٣ آیته پورې آیتونه دي تر قیامت ورځې پورې په قرآن کې چې د الله تعالی ستایلئ محفوظ کتاب دئ؛ تل لوستل کیږي.

[٧٠-٧١] او ای مومنانو! د الله نه تقوا وکړئ [یعنی د عذاب نه یې خپل ځانو نه په کلک اطاعت او بنده ګۍ سره وساتئ] او تل ر ښتیا ووایي او سمه خبره وکړئ، ترڅو الله د ستاسې کړنې اصلاح او سمې کړي، او د

ستاسې ګناه درته و بښي، او هغه څوک چې د الله او د هغه پيغمبر اطاعت کړي، نو هغه لويې بر يا ته رسيدلئ دئ او سر لوړي يې په برخه سوې ده.

{انسان هغه لوی امانت چې ځمکه او اسمان ورځخه عاجز سول پر غاړه واخست}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې چې د الاحزاب سورې وروستي آيتونه دي؛ الله تعالى مونږ د هغه لوی امانت د پښاکولو نه خبر کړي يو چې ځمکه او اسمان ورځخه بې وسې او عاجز سول، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّا عَرَضْنَا ٱلْأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱلْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا ٱلْإِنسَٰنُ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ﴿٧٢﴾ لِّيُعَذِّبَ ٱللَّهُ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلْمُشْرِكِينَ وَٱلْمُشْرِكَٰتِ وَيَتُوبَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٧٣﴾﴾

[٧٢] هو! يقينا چې مونږ هغه لوی امانت[چې هغه د الله تعالى د ټولو شرعي حکمونو منل او فرمان وړل او اطاعت او په ځمکه کې خلافت دئ] پر اسمانونو او پر ځمکه او غرونو باندې واچا ؤ، خو دوی د هغه پښاکولو او په غاړه اخستلو نه ډډه وکړه او د وړو نه يې وو ير يدل [يعنى دا چې اسمانو نه او ځمکه د دې نه وو ير يدل چې بيا به دا لوی امانت سر ته ونسي رسولای] خو انسان دا [لوی امانت اوغټ پيټئ] پښا که او پر غاړه يې واخست، او يقينا چې انسان ډير ناپوه ؤ او په خپل ځان يې لوی ظلم او تيرئ وکه، يعنى دا چې بيا پر خپل تعهد او هوکړه باندې د الله تعالى سره ونه در يده او عمل يې پرې ونکه، لکه څنګه چې د نړۍ سرکښو کافرانو اوږد تار يخ ور باندې شاهد دئ!

[٧٣] [هو! پدې کار کې چې انسان دا دروند امانت پر غاړه واخست او هغه يې پښاکه؛ لوی حکمت ؤ او هغه دا چې] ترڅو الله د منافقانو او مشرکانو نار ينوو او ښځو ته؛ کلکه سزا ورکړي [ځکه دوی د الله حکمونو نه سرغړونه وکړه، او دا لوی امانت يې پرځای نکه او هغه يې

سر ته ونه رسا ؤ] او الله د مومنانو نار ينوو او ښځو توبې قبلوي [يعنى دوى ښېي، ځكه الله تعالى خپلو مومنو بنده ګانو ته] لوى ښونكئ او پر دوى باندې ښه مهر بان ذات دئ، يعنى دا چې مونږ الله تعالى د لوى ازمايښت او امتحان لپاره پيدا كړى يو، نو ځكه پدې لويې ازمو يني سره الله تعالى ټول خلک ازمايي او بيا مومنانو ته جنتو نه وركوي او كافران د دوزخ اور كې كړوي او كلكه سزا وركوي، او خپل لوى عدالت خلكو ته وربښي!

ګرانو دوستانو! نو دعاء كړو چې الله تعالى ده مونږ ته پدې لوى امتحان كې بر يا په نصيب كړي، آمين يا رب!

والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا الله استغفرك وأتوب إليك...

د سبأ سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل كيږي]

{د سبأ مبارکې سورې لنډه پيژندنه او لوى اهداف}

قدرمنو دوستانو! د سبأ مباركه سوره مكي سوره ده، او په پيل كې يې الله تعالى مونږ ته د خپلې لو يتيا او ټولواكۍ ستايلو لارښودنې يادې كړې او بيان كړئ دئ، ترڅو د خپل رب په عظمت باندې ښه پوه شو او ستاينه يې وكړو او د خورو ورو نعمتونو او پيرزو ينو شكريې د حكمونو په منلو او پلې كولو سره په ژوند كې و باسو، او په توحيد سره د خپل لوى خښتن عبادت او بنده ګي وكړو، او د سبأ په مباركه سوره كې الله تعالى د كافرانو ډيرې نيوكې د رسول الله ﷺ پر توحيدي دعوت باندې ځواب كړې دي، او د قيامت ورځې په حتمي راتګ باندې يې ټينګار كړئ دئ، او دا مباركه سوره په سبأ ځكه نومول سوې ده چې پكې د سبأ قوم

ملکې قصه راغلې ده، او د سبأ خلک چې د الله اطاعت نه یو سرکښ قوم ؤ؛ د عر بانو لوی ټاپو یا جز یرې په جنوب یا ســو یل کې اوســیدل او په ګاونډکې یې د بل قوم د داوودعليه السلام زوی ســلیمانعليه السلام واکمني وه، او د هغوی ټولنه الله تعالی ته په بنده ګی تســلیم وه، نو د دې قصــې لوی مقصــد او هدف دا دئ چې دا دوه لویې واکمنی ســره پرتله ســي، او بیا د ســلیمانعليه السلام واکمنی نیکمرغي پکې ښــه څرګنده وځلیږي، او دا قصــه د مکې خلکو ته د پند او د عبرت اخســتلو نه ډکه قصــه وه، نو اوس د دوی خوښــه چې کمه ټولنه خوښــوي؟ او همدارنګه پدې مبارکه ســوره کې مونږ ته الله تعالی دا لوی ارزښــت بیان کړئ دئ چې د بشــري ژوند تمدن پر ایمان او ښــه عمل باندې ولاړ دئ، نه د دنیا په ډیر مال او دولت باندې، او وروســتئ حســاب اخســتونکئ الله دئ، او الله تعالی د ثواب او ســزا ر ښتینئ واکمن څښتن دئ، مومنانو ته الله نیکمرغي او ثواب ورکوي، او د االله تعالی اطاعت نه وتلو ســرکښــو خلکو ته کلکه ســزا ورکوي، او همداســې نورې ډیرې ګټورې لارښــودنې مونږ ته الله تعالی پدې مبارکه سوره کې یادې کړې او بیان کړې دي، او په پیل کې فرمایلي دي:

{ټول حمداو ستاینه د ځمکې او اسمانو واکمن الله حق دئ}

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ١ يَعۡلَمُ مَا يَلِجُ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا يَخۡرُجُ مِنۡهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعۡرُجُ فِيهَاۚ وَهُوَ ٱلرَّحِيمُ ٱلۡغَفُورُ ٢﴾

[١] هو! ټول حمد او ســتاینه الله لره ده [او الله هغه څوک دئ] چې په ځمکه او اسمانوکې چې هرڅه دي؛ هغه ټول د الله ملك دئ [یعنی الله یې ټولواک او پیدا کونکئ لوی څښتن دئ] او په آخرت کې هم ټوله ستاینه الله لره ده او الله د هرڅه نه ښــه خبر او د لوی حکمت خاوند دئ، یعنی نو ښایي چې خلک خپل لوی څښتن الله تعالی په دغسې عظمت چې لوی صفتونو لري و پیژني او د هغه بنده ګي وکړي او بل هیڅ څوک د الله سره په خدایي کې شر یك نکړي.

[٢] او هر هغه څه چې په ځمکه کې ننوځي او څه چې د ځمکې نه راوځي؛ پر هغو ټولو باندې الله پوهيږي، او هر هغه څه چې د اسمان نه راکوز يږي او څه چې اسمان ته ورځګيږي؛ پر هغو ټولو باندې هم الله پوهيږي او الله ښه مهر بان او لوی بښونکئ ذات دئ.

نو ښايي عزتمنو دوستانو! چې خپل رب په دغسې لو يو صفتونو سره ښه و پيژنو او په توحيد سره يې عبادت او بنده کې وکړو، او بل هيڅ څوک د الله سره په خدايي کې شر يك او ګډ نکړو، او يوازې الله تعالى ته سر په سجده کيږدو او حکمونو ته يې تسليم سو.

{په قيامت کې مومنانو ته الله ثواب او کافر انو ته سزا ورکوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې رسول ﷺ ته الله تعالى لارښودنه کړې ده چې د قيامت ورځې راتګ نه د کافرانو انکار ده؛ په پوره ډاډ سره رد کړي، ځکه د قيامت راتګ حتمي دئ او په هغه ورځ الله تعالى د خلکو سره کلک حساب کړي او بيا ورته ثواب او سزا ورکوي، او فرمايلي دي:

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَأۡتِينَا ٱلسَّاعَةُۖ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأۡتِيَنَّكُمۡ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِۖ لَا يَعۡزُبُ عَنۡهُ مِثۡقَالُ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَآ أَصۡغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡبَرُ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ٣ لِّيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ٤ وَٱلَّذِينَ سَعَوۡ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مِّن رِّجۡزٍ أَلِيمٞ ٥ وَيَرَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ هُوَ ٱلۡحَقَّ وَيَهۡدِيٓ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ٦ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ هَلۡ نَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ رَجُلٖ يُنَبِّئُكُمۡ إِذَا مُزِّقۡتُمۡ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمۡ لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدٍ ٧ أَفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَم بِهِۦ جِنَّةُۢۗ بَلِ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ فِي ٱلۡعَذَابِ وَٱلضَّلَٰلِ ٱلۡبَعِيدِ ٨ أَفَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَىٰ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِن نَّشَأۡ نَخۡسِفۡ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضَ أَوۡ نُسۡقِطۡ عَلَيۡهِمۡ كِسَفٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِۚ إِنَّ فِي

ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيبٍ ﴿٨﴾

[٣-٤] او هغه کسان چې کافران سول دوی وو يل چې مونږ ته قيامت نه راځي، نو ته ای پيغمبره! دوی ته [په ځواب کې] ووايه: هو! زما ده پر الله قسم وي چې د قيامت ورځ تاسې ته هرومرو راتلونکې ده، او الله په پټو شيانو باندې پوه دئ، او د الله علم نه د يوه بځرکې په اندازه څه شئ او د هغه نه هم څه وړ شئ نه په اسمانونوکې پټ دي او نه په ځمکه کې، او نه د الله نه د يو مثقال په اندازه لږ وړ او يا د هغه نه لږ غټ څه شئ پټ دي، او دا ټول د الله په ليکل سوي بيانونکي کتاب (لوح محفوظ) کې ساتل سوي دي، ترڅو الله هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړ او ښه يې وکړل؛ ثواب ورکړي، او هغه دغو کسانو ته [په دنيا کې] د ګناه ښنه ده [او په آخرت کې دوی ته الله تعالى] ښه او ډيره روزي ورکوي، يعنى جنتونو ته يې ورننه باسي، ترڅويې د لو يو نعمتونو نه خوند واخلي!

[٥] او هغو کسانو چې د زما قدرتونو نښو او د کتاب دليلونو نه د منکر يدو هڅې وکړې، ترڅو د الله په پر يکړو باندې زورور سي؛ دوی ته د عذاب نه ښه سوزنکې سزا ورکول کيږي، يعنى دوی د جهنم په سره اور کې چې ورسره ښايې؛ کلک کړول کيږي.

[٦] او هغو کسانو ته چې الله علم او پوهه ورکړې ده؛ دوی باور لري چې دا کتاب (قرآن) چې پر تا باندې ای پيغمبره! د ستا رب الله لخوا را نازل سوئ دئ؛ هغه حق دئ او د لوی ځواکمن او ښه ستايل سوي رب لارې ته لارښودنه کړي، يعنى قرآن مونږ ته د ژوند لارښود پيغام دئ.

[٧] او هغه کسان چې کافران سول يو بل ته يې وو يل: آيا هغه سړئ مونږ تاسې ته دروښيو؟ چې دئ تاسې ته وايي: ای خلکو! کله چې تاسې ښه ټوټه ټوټه سوی [يعنى خاورې سوی] نو بيا تاسې يقينا چې بيرته نوي راپيدا کيږی او را ژوندي کيږی.

[٨] نو آيا پيغمبر الله پسې دروغ وو يل او يا دئ پيريانو نيولي دئ؟ [يعنى څه چې وايي ور باندې نه پوهيږي، حال دا چې رسول الله ﷺ ريښتيا وايي] خو کافران په آخرت باور نلري [يعنى هغه نه مني، نو ځوک چې د

آخرت پر ورځ ایمان نه راوړي] دوی د آخرت ورځې په لوی عذاب کې کلک کړ یږي، او دوی په ښــه اوږده ورکتیا کې دي، یعنی د ســمې لارې نه چې په الله تعالی باندې ایمان راوړل دي؛ ښه کلک ورک سوي دي، او د حق سمه لارې ورکه کړې ده.

[٩] نو آیا دغه کافران د دوی نه وړاندې او وروسته اسمان او ځمکه نه و یني؟ او که مونږ وغواړو نو ځمکه به د دوی لاندې وچوو [یعنی داچې دوي به پکې ډوب کړو] او یا به د اســمان نه ټوټې ور باندې را وغورځوو، ترڅو دوی لاندې کړي، او یقینا چې الله ته هر ورګرځیدونکې بنده د زمونږ لوی قدرت ښه دئ،یعنی مومن بنده ور باندې باور لري او خپل رب پیژني.

ګرانو دوســتانو! په دغو مبارکو آیتونوکې الله تعالی د کافرانو ناحقه او د عناد او کرکجنو کینو نه ډک انځور د رسول الله ﷺ په مخکې ایښئ دئ، او الله تعالی خپل پیغمبر ﷺ ته د پام وړل لارښــودنې کړې دي، ترڅو د کافرانو تورونه رد کړي، او همدارنګه ورته الله تعالی د هغه نبوت او د پیغمبرۍ ر یښــتینوالي او حقانیت په باره کې؛ پوخ ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ، او دغه لارښــودنې همدارنګه د پیغمبر ﷺ امت دعاتو ته رښا کونکي څراغونه دي، نو ښایي چې په رښا کې یې په مخ لاړ سي.

{داوود عليه السلام او زوی سلیمان عليه السلام ته الله لوی نعمتونه ورکړل}

او په ور پســې مبارکو آیتونوکې الله تعالی خپلې بې ســارې پیرزو ینې او لوی نعمتونه پر داوود او د هغه پر زوی ســلیمان علیهما الســلام باندې یادې کړې دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿*وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ مِنَّا فَضۡلٗاۖ يَٰجِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُۥ وَٱلطَّيۡرَۖ وَأَلَنَّا لَهُ ٱلۡحَدِيدَ ١٠ أَنِ ٱعۡمَلۡ سَٰبِغَٰتٖ وَقَدِّرۡ فِي ٱلسَّرۡدِۖ وَٱعۡمَلُواْ صَٰلِحًاۖ إِنِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ١١ وَلِسُلَيۡمَٰنَ ٱلرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهۡرٞ وَرَوَاحُهَا شَهۡرٞۖ وَأَسَلۡنَا لَهُۥ عَيۡنَ ٱلۡقِطۡرِۖ وَمِنَ ٱلۡجِنِّ مَن يَعۡمَلُ بَيۡنَ يَدَيۡهِ بِإِذۡنِ رَبِّهِۦۖ وَمَن يَزِغۡ مِنۡهُمۡ عَنۡ أَمۡرِنَا نُذِقۡهُ مِنۡ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ١٢ يَعۡمَلُونَ لَهُۥ مَا يَشَآءُ مِن مَّحَٰرِيبَ

وَتَمَٰثِيلَ وَجِفَانٖ كَٱلۡجَوَابِ وَقُدُورٖ رَّاسِيَٰتٍۚ ٱعۡمَلُوٓاْ ءَالَ دَاوُۥدَ شُكۡرٗاۚ وَقَلِيلٞ مِّنۡ عِبَادِيَ ٱلشَّكُورُ ١٣ فَلَمَّا قَضَيۡنَا عَلَيۡهِ ٱلۡمَوۡتَ مَا دَلَّهُمۡ عَلَىٰ مَوۡتِهِۦٓ إِلَّا دَآبَّةُ ٱلۡأَرۡضِ تَأۡكُلُ مِنسَأَتَهُۥۖ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ ٱلۡجِنُّ أَن لَّوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٱلۡغَيۡبَ مَا لَبِثُواْ فِي ٱلۡعَذَابِ ٱلۡمُهِينِ ١٤

[١٠-١١] يقيناچې داوود ته مونږ د خپل فضل نه [پيغمبري او پاچايي ورکړه] او غرونو او مرغانو ته مونږ وو يل چې د داوود سره يوځای تسبيح ووايي [يعنی خپل رب په پاکۍ سره ياد کړی] او وسپنه مونږ داوود ته ولې کړه او هغه ته مونږ حکم وکه چې لويي لويي کړی جوړې کړه او هغه ښې سره په اندازه وټړه، ترڅو کلکې سي، او تاسې ټول ښه وکړئ [يعنی د خپل رب الله اطاعت وکړئ او ايمان راوړی] او يقيناچې زه د ستاسې کړل ښه و ينم، يعنی الله تعالی د خپلو بنده ګانو په کړنو ښه پوهيږي او هغه و يې او هر چا سره د هغه لائق حساب کړي.

قدرمنو دوستانو! داوودعليه السلام ته دغه اسپنيز صنعت پيغام ټولو خلکو ته لارښود پيغام دئ، او هغه دوی ته د قرآن په رانازليدلو سره الله تعالی رسولئ دئ، ترڅو د وسپنې نه ګټه وا خلي.

[١٢-١٣] او د سليمان فرمان لاندې داسې شمال يا باد مونږ وګرځا ؤ چې په خپلو الوتلو سره يې صباح او بيګا يوه يوه مياشت مزل واهه [يعنی د يوې مياشتې مزل يې صباح واهه، او بيايې بيرته راتګ کې بيګاه د يوې مياشتې مزل وهه] او د مسو چينه مونږ داوود ته و بيوله، او پيريان سليمان ته د هغه رب الله په حکم خدمت کړي، او د پيريانو نه چې هر څوک د زمونږ حکم نه کوږ سي [يعنی د الله فرمان ته غوږ ونه باسي] نو بيا هغه ته مونږ د دوزخ عذاب ورڅکو، او دغه پيريان سليمان ته چې هغه څه غواړي ورته يې جوړوي، او د عبادت لپاره ورته محرابونه جوړوي، او د مسونه ورته کالبوت يا مجسمې او کوزې جوړوي، او د ډنډونو غوندې لوی لوی ديګي ورته جوړوي، ترڅو هغه ځای په ځای کلک خښ سوي ايښی وي د خپل ځای نه نشور يږي، نو ای د داوود کورنۍ! تاسې ټول د

خپل رب الله د دغو پيرزو ينو شکر و باسی، ځکه د زما بنده ګانو نه ډير لږ کسان د خپل لوی څښتن نعمتونو شکر باسي، او تاسې ای د داوود کهوله! د دغو لږو شکر و يستونکو نه ياستی، يعنی د خپل لوی رب الله نعمتونو شکر باسی او حکمونه يې جاري کوی او عملي کوي!

[١٤] نو بيا چې کله مونږ پر سليمان باندې د مړ ينې يا د مرګ حکم وکه [يعنی دغه پر يکړه مونږ ورته اعلان کړه] او دئ مړ سه، نو د سليمان مرګ نه د هغه خدمت کونکی پيريان هغو وَ ينو [يعنی چينجيو خبر کړل چې د سليمان عليه السلام هغه لکړه چې ده ور باندې تکيه وهلې وه؛ دغو وَ ينو وخوړله او سليمان پرمخې را ولو يد، نو بيا پيريانو ته معلومه سوه چې سليمان مړ سوئ دئ، نو بيا دوی خپلو ځانو سره وو يل:] که دوی په پټو شيانو پوهيدلای، نو دومره وخت به په دغسې سپکونکي عذاب کې نه وای پاتې سوي!

ګرانو عز يزانو! الله تعالی په دغو مبارکوآيتونوکې مونږ د خپلو يو هغو پيرزو ينو نه خبر کړي يو چې هغه يې پر داوود او د هغه پر زوی سليمان عليهما السلام باندې لوروړې وې، او خپل ډير مخلوقات يې دوی ته تابع کړي ول، او الله تعالی دا حقيقت هم بيان کړي دئ چې پيريان په پټو شيانو باندې علم نلري او ورځخه خبرندي، ترڅو ټول خلک د کوډګرو پر هغو دروغژنو خبرو باور ونکړي چې وايي: پيريان په پټو شيانو علم لري او ور باندې پوهيږي.

{د سبأ قوم چې الله په لويو نعمتونو نازولي ؤ څوک ول}

او په ور پسې مبارکوآيتونوکې مونږ ته الله تعالی د سبأ قوم چې دا مبارکه سوره ور باندې نومول سوې ده؛ را پيژندلئ دئ او فرمايلي:

﴿لَقَدۡ كَانَ لِسَبَإٖ فِي مَسۡكَنِهِمۡ ءَايَةٞۖ جَنَّتَانِ عَن يَمِينٖ وَشِمَالٖۖ كُلُواْ مِن رِّزۡقِ رَبِّكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لَهُۥۚ بَلۡدَةٞ طَيِّبَةٞ وَرَبٌّ غَفُورٞ ١٥ فَأَعۡرَضُواْ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ سَيۡلَ ٱلۡعَرِمِ وَبَدَّلۡنَٰهُم بِجَنَّتَيۡهِمۡ جَنَّتَيۡنِ ذَوَاتَيۡ أُكُلٍ خَمۡطٖ وَأَثۡلٖ وَشَيۡءٖ مِّن سِدۡرٖ قَلِيلٖ ١٦ ذَٰلِكَ جَزَيۡنَٰهُم بِمَا كَفَرُواْۖ وَهَلۡ نُجَٰزِيٓ إِلَّا

ٱلۡكَفُورَ ﴿١٧﴾ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمۡ وَبَيۡنَ ٱلۡقُرَى ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَا قُرٗى ظَٰهِرَةٗ وَقَدَّرۡنَا فِيهَا ٱلسَّيۡرَۖ سِيرُواْ فِيهَا لَيَالِيَ وَأَيَّامًا ءَامِنِينَ ﴿١٨﴾ فَقَالُواْ رَبَّنَا بَٰعِدۡ بَيۡنَ أَسۡفَارِنَا وَظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَجَعَلۡنَٰهُمۡ أَحَادِيثَ وَمَزَّقۡنَٰهُمۡ كُلَّ مُمَزَّقٍۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٖ ﴿١٩﴾ وَلَقَدۡ صَدَّقَ عَلَيۡهِمۡ إِبۡلِيسُ ظَنَّهُۥ فَٱتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٢٠﴾ وَمَا كَانَ لَهُۥ عَلَيۡهِم مِّن سُلۡطَٰنٍ إِلَّا لِنَعۡلَمَ مَن يُؤۡمِنُ بِٱلۡأٓخِرَةِ مِمَّنۡ هُوَ مِنۡهَا فِي شَكّٖۗ وَرَبُّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ حَفِيظٞ ﴿٢١﴾

[١٥] هو! يقيناچې د سبأ قوم په اسټوګنځي کې د زمونږ قدرتونو يوه لو يه نښه وه، او هغه د دوی د کلي په ښي او کين خوا کې د ميوو دوه لوی باغونه ول [نو الله پر دوی باندې غږ وکه] چې د خپل لوی څښتن روزي وخوړئ [او ښه خوند ورځخه واخلئ] او بيا د الله د دې لوی نعمت شکر و باسئ [يعنی يوازې د الله تعالی بنده ګان سئ او فرمان ته يې غاړه کيږدی، ځکه ستاسې] د کلي خاوره خوږه او حاصل خيزه ده او رب مو ښه لوی بښونکئ ذات دئ! يعنی تاسې د دې لوی نعمت په شکر و يستلو سره چې هغه د الله اطاعت او بنده ګي ده؛ ساتل کيږئ!

[١٦-١٧] خو سبأيانو د الله نه مخ واړلا ؤ[يعنی د الله نعمتونو شکريې څنګه چې ښاييده ونه و يست او د الله بنده ګي يې په توحيد سره ونه منله] نو بيا مونږ ډير زورور سيل آب ور باندې را وست چې ډنډونه يې لاندې کړل او د دوی دواړه باغونه يې د خاورو سره خاورې کړل، او بيا پکې ترخه بوټي او لږ د بيرې ونې راشنې سوي، او دا سزا مونږ دوی ته ځکه ورکړه چې دوی کافران سول او د زمونږ نعمتونو شکريې ونه و يست، او دغسې درنده سزا مونږ يوازې هغو کافرانو ته ورکوو چې دوی په خپل کفرکې ډير وړلاندې تللي وي، يعنی د الله تعالی نعمتونو کلکه ناشکري يې کړې وي.

[١٨] او د سبأ خلکو د کلیو او د هغو کلیو په منځ کې چې مونږ برکت اچولئ ؤ [یعنی د بیت المقدس په کلیوکې] نور کلي یو بل ته مونږ ښکاره کړځولي ول، او په منځ کې یې د مزله سترېا نه د دمې کړو ځایونه مونږ ټاکلي ول، او د سبأ کلیو خلکو ته مونږ و یلي ؤ چې په پوره ډاډ سره شپې او ورځې د یوه کلي نه بل کلي ته مزل وکړی او لاړ سی!

[١٩] نو بیا [سبأیانو ناشکري وکړه] او و یو یل: ای د زمونږ لو یه ر به! زمونږ کلي د یو بل نه سره لرې کړه [ترڅو د زمونږ مزلونه د یوه کلي نه بل کلي ته اوږده سي، یعنی دا چې په لارکې د دمې لپاره وداني او مینه بیا نه مومو] نو دغو خلکو پر خپلو ځانو باندې تیرئ او ظلم وکه [یعنی د خپل رب الله نعمتونو او اسانتیاوو ناشکري یې وکړه] نو بیا دوی مونږ ټوټه ټوټه کړل [یعنی له منځه مو یوړل او د تار یخ برخه سول او کلي یې کنډ واله سول] او دا دئ اوس یې خلک قصې کړي، نو یقیناچې په هغه کې، یعنی د دغو خلکو په تور برخلیک کې هر صبر کونکي او شکر ویستونکي بنده ته؛ د الله تعالی د لو یو قدرتونو نښې ځلیږي، نو ښایي چې ورڅخه پند او عبرت واخلي !

[٢٠] او یقیناچې رټل سوي ابلیس خپل ګمانونه [او غولونکې وعدې] د سبأ پر خلکو باندې ر یښتیا کړل او د یوې مومنې ډلې نه پرته، نور ټول شیطان پسې لاړل، یعنی د ابلیس بلنه او چلونه یې ومنل او باوریې ور باندې وکه او ځانونه یې د شیطان په لوموکې کلک ونښلول.

[٢١] او پر دغو خلکو باندې د شیطان زور نه رسیده، خو مونږ وغوښتل چې پوه سو [یعنی ټولو خلکو ته روښانه سي] چې څوک د آخرت په ورځ ایمان راوړي او هغه مني او څوک پکې شک کړي؟ [یعنی ترڅو زمونږ ازلي علم او حکم خلکو ته ښکاره او معلوم سي چې بیایې څوک مني او څوک یې نه مني] او د ستا رب ای پیغمبره! د هر څه ساتونکئ دئ، یعنی د خلکو ټول کړل الله سره محفوظ دي، نو بیا الله هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي!

درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې مونږ ته د سبأ

قوم د ناشکرۍ او بیا د دوی د هلاکت قصه کړي ده او دوی یې ښه راپیژندلي دي، ترڅو دغه د پند نه ډکې قصې د مکې مشرکان چې د الله او د پیغمبر حکمونو نه یې سرغړونه وکړه او د الله تعالی لو یو نعمتونو شکریې کلک ونه و یست؛ پند او عبرت واخلي او سر په ګر یوان کې ښکته کړي او ښه د ر یښتیا تو به و باسي او د کفر نه نور لاس واخلي او ایمان راوړي، ځکه د سبأ ولس د دوی په ګاونډ کې پروت ؤ، او د مکې سوداګرو جوپې به په ژمي کې یمن ته تللي، نو دوی د سبأ تار یخ نه په مارب کې ښه خبر ول، او د هغوی هلاکت قصې یې اور یدلې وې،او همدارنګه دا قصه تر قیامت ورځې پورې ټولو خلکو ته او په ځانګړي ډول مومنانو ته د زدکړې او عبرت اخستلو لوی درس دئ، نو ځکه دا ټول سوره د سبأ په نامه نومول سوې ده، او کله چې د سبأ قوم د الله پیغامونه د خپلو پیغمبرانو په خوله په پاخه باور سره وانور یدل، نو بیا د دغسې تور برخلیک سره مخامخ سول او دا د الله تعالی تل پاتې سنت او نظام دئ، او الله تعالی تل سرکښ ولسونه د دغسې تباهۍ او هلاکت سره مخامخ کوي، ترڅو حق او باطل سره بیل سي، او بیا الله تعالی خپل هغه مومن بنده ګان بر یا ته ورسول او عزتمن یې کړل چې دوی په خپل دین باندې د ټولو ستونزو سره سره کلک ولاړ ول او د خپل رب په نعمتونو باندې یې شکر وایست، او یوازې د الله عبادت او بنده ګي یې وکړه.

{یوازې الله تعالی د خدایي مستحق لوی ځښتن دئ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی په رسول الله ﷺ باندې غږ کړئ دئ چې ته د ابراهیم علیه السلام غوندې د مکې مشرکانو پام د ناحقه معبودانو پې وسعې ته راوړ وه، او بیا د مشرکانو نه د الله تعالی په لو یتیا او واکمنۍ باندې په ځمکه او په اسمانوکې اقرار واخله، ترڅو یقینا د مشرکانو باور راسي چې یوازې الله تعالی د بنده ګۍ او د عبادت وړ او مستحق لوی ځښتن دئ، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمۡلِكُونَ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا لَهُمۡ فِيهِمَا مِن شِرۡكٖ وَمَا لَهُۥ مِنۡهُم مِّن ظَهِيرٖ ٢٢﴾

وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنۡ أَذِنَ لَهُۥۚ حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمۡ قَالُواْ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمۡۖ قَالُواْ ٱلۡحَقَّۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ ٢٣ ۞قُلۡ مَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ قُلِ ٱللَّهُۖ وَإِنَّآ أَوۡ إِيَّاكُمۡ لَعَلَىٰ هُدًى أَوۡ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٢٤ قُل لَّا تُسۡـَٔلُونَ عَمَّآ أَجۡرَمۡنَا وَلَا نُسۡـَٔلُ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ٢٥ قُلۡ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفۡتَحُ بَيۡنَنَا بِٱلۡحَقِّ وَهُوَ ٱلۡفَتَّاحُ ٱلۡعَلِيمُ ٢٦ قُلۡ أَرُونِيَ ٱلَّذِينَ أَلۡحَقۡتُم بِهِۦ شُرَكَآءَ كَلَّاۚ بَلۡ هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٢٧ ۩

[٢٢-٢٣] ای پیغمبره! [په کافرانو باندې غږ وکړه او ورڅخه و پوښته چې آیا هغه کسان چې دوی تاسې د الله نه پرته خپلو ځانو ته راغواړی او خدایان یې بولی؛ آیا دوی خپلو ځانو ته څه کتې یا تاوان رسولای سي کنه؟ ځواب دا چې: نا! هیڅ څه شئ کړلای نسي] او دوی د یوه مثقال یا خورد په اندازه وسعه او قدرت نه په اسمانوکې او نه په ځمکه کې لري، او نه ځوک هلته مل لري او نه یې ځوک ملا تړ کړي [یعنی کافران په ځمکه او اسمانوکې ځوک مل او مرستدوی نلري] او نه دوی ته د چا شفاعت او سپارښت د الله پر وړلاندې کتې لري، ځکه الله ته یوازې هغه ځوک شفاعت کړلای سي چې هغه ته الله اجازه او واک ورکړي، او د الله عظمت او لو یتیا تاثیر په اسمانوکې ډیر درونډ دئ، نو کله چې د الله حکم پر ملائکو باندې رانازل سي، هغوی داسې ټکان وخوري او ولړز یږي، لکه چې بې اوښه سوې وي، نو بیا چې کله دا وام، هیبت او و یره د دوی د زړونو نه لرې سي، نو بیا یو بل ته وایي او پوښتي چې د ستاسې رب الله څه وو یل؟[نو بیا دوی په ځواب کې ورته] وایي: الله حق وو یل او د ر یښتیا پیغام یې راکه، او الله لوی او لوړ ذات دئ!

[٢٤] او ای پیغمبره! د مشرکانو نه و پوښته چې ځوک تاسې ته د باران په اور یدلو سره د اسمان او ځمکې نه [د کښتنو په راشنو کیدو او د دانو په راو یستلو سره] روزي درکوي؟ [نو د دوی ځواب به دا وي چې ته ای پیغمبره ورته] ووایې: الله تاسې ته روزي درکوي، او یقیناچې یا به زه او

یا به تاسې په سمه لار روان یو؟ او یا دا چې ټول به په ښکاره ورکتیا کې یو! یعنی ای کافرانو! اوس تاسې قضاوت او پر یکړه وکړئ چې څوک پر حق او څوک پر باطل دي؟ جواب: دا چې یقینا پیغمبر پر حق دئ او مشرکان پر باطل دي، ځکه دوی سمه لار په ښکاره سره ورکه کړې ده، او په کبره لار روان دي، او د کبرې لارې پایله یقینا هلاکت او تباهي ده!

[۲۵] ای پیغمبره! [او همدارنګه مشرکانو ته اعلان وکه او ورته] ووایه چې ستاسې نه د زمونږ ګناه پوښتنه نه نکیږي، او نه د زمونږ نه د ستاسې بدو کړنو پوښتنه کیږي، یعنی هر څوک به د محشر په ورځ الله پر وړاندې خپل ځواب وایي، نو بیا به مومنان جنتونو ته ځي او کافران به د دوزخ اورته ورغورځول کیږي.

[۲۶] ای پیغمبره! [او همدارنګه کافرانو ته] ووایه چې د قیامت په ورځ مونږ ټول الله سره راغونډوي او یوځای کیږو او بیا به په حق او عدالت سره د زمونږ په منځ کې پر یکړه کړي، ځکه الله خپله ښه پوه او کلک بیلونکئ قاضي دئ، یعنی حق او باطل سره ښه بیلوي.

[۲۷] ای پیغمبره! [او د کافرانو نه و پوښته او ورته] ووایه: هغه کسان ما ته راوښیی چې دوی تاسې د الله سره په خدایي کې کډ کړل؟ [یعنی د خپل شرک دلیلونه ده ما ته راوړي؟ ځواب دا چې] نا! خبره هغسې نده، لکه څنګه چې مشرکان دعوا کړي، ځکه یوازې الله ښه ځواکمن زورور او لوی حکیم ذات دئ، یعنی نو یوازې الله د خدایي او عبادت مستحق لوی څښتن دئ، او د مشرکانو دعوا وې خوسې بې ارزښته خبري او کړنې دي، یعنې هیڅ دلیل او بنسټ یا اساس نه لري.

عزتمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې رسول الله ﷺ ته او د هغه دین اسلام ته د دعوت لارو یانو ته؛ د مشرکانو سره د مرکې او د منطقي بحث او استدلال لارښودنې په ترڅ کې؛ خپله لو یتیا او عظمت په اسمانونو او په ځمکه کې بیان کړئ دئ او خلک یې د الله عبادت او بنده ګي ته په توحید سره رابللي دي، نو ښایي چې مومنان دغه د معقول استدلال تک لاره د کافرانو سره او همدارنګه د ګناه ګارارانو

سره خپله کړي، او په ښه نصيحت او خوږه ژ به او په کلک استدلال سره د دوی ذهنیت بدل کړي او قناعت ورکړي او د الله په توحید باندې پې په بنده ګې کې او د الله تعالی دین پر حقانیت باندې پې ښه پوه کړي او د تکر او عناد او د ضد کړو راپارولو نه پې کلکه ډ ډه وکړي!

{محمد ﷺ الله ټولو خلکو ته لارښود استازئ رالیږلئ دئ}

او بیا الله تعالی د خپل توحید ثبوت بیان نه وروسته په ور پسې مبارکو آیتونوکې د نړۍ ټولو خلکو ته د رسول الله ﷺ د پیغمبرۍ ز یرئ ورکړئ دئ، او د کافرانو پوښتنې پې د قیامت ورځې یقیني راتګ په باره کې ځواب کړې دي، او فرمایلي دي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةٗ لِّلنَّاسِ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٢٨ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٢٩ قُل لَّكُم مِّيعَادُ يَوۡمٖ لَّا تَسۡتَـٔۡخِرُونَ عَنۡهُ سَاعَةٗ وَلَا تَسۡتَقۡدِمُونَ ٣٠﴾

[٢٨] ای پیغمبره! او ته مونږ ټولو خلکو ته د جنتونو ز یرئ ورکونکئ او د دوزخ اورنه ګواښونکئ را لیږلي یې، خو ډیر خلک حق نه پیژني او په حق باندې نه پوهیږي، یعنی نو د حق منلو نه ډه ډه کړي او هغه نه مني.

هو! قدرمنو عز یزانو! د اسلام پیغمبر محمد ﷺ رسالت او پیغمبري خپل قوم ته ځانګړې نه وه او دئ چې د الله تعالی وروستئ پیغمبر او استازئ دئ؛ د نړۍ ټولو خلکو ته را لیږل سوئ دئ، او د هغه د پیغمبرۍ عمومیت ټول بشر یت ته نه یوازې پدې مبارک آیت کې الله تعالی ډیر روښانه یاد کړئ دئ، بلکې په نورو ډیرو آیتونوکې یې په وار وار سره بیان راغلئ دئ، او د رسول الله ﷺ نه وروسته بل پیغمبر نه راځي، او هغه علماء او اسلام پوهان چې خلک د الله تعالی دین ته رابولي او دوی ته دین ورزدکوي؛ هغوی د رسول الله وارثان دي، او د الله تعالی دین اسلام چې هغه یې پر خاتم النبیین والمرسلین را نازل کړئ دئ، خلکو ته رسوي او ورزده کوی یې.

او بیا الله تعالی د کافرانو پوښتنې د قیامت ورځې په باره کې ځواب

کړي دي، او فرمايلي دي:

[٢٩] [او هغو کافرانو چې د قيامت ورځې راتګ نه منکر ول؛ د رسول الله ﷺ نه و پوښتل] او و يول: که تاسې د ر يښتياو يونکي ياستئ، نو دا د قيامت ورځې را تګ وعده کله ده؟ يعنی قيامت کله راځي؟

[٣٠] نو ته ای پيغمبره! [دوی ته په ځواب کې] ووايه: تاسی ته دغه وعده خامخا را تلونکې ده او د هغې نه تاسې نه يو ساعت وروسته کيږي او نه ورڅخه وړاندی کيږي، يعنی د قيامت ورځ په خپل ټاکل سوي وخت کې حتمي راځي، نو ځانونه ورته تيار کړئ او د کفر نه لاس واخلئ او ژر ايمان راوړئ او خپل رب الله په توحيد سره و پيژنئ او قرآن د الله تعالی کتاب او پيغمبريې محمد ﷺ ومنئ.

{ د مکي کافر انو نه قرآن ومانه او نه مخکني کتابونه }

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارکوآيتونوکې د مکې کافرانو سرکښي د قرآن نه او د نورو پخوانيو اسماني کتابونو منلو نه يادونه کړې ده، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن نُّؤۡمِنَ بِهَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ وَلَا بِٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِۗ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ مَوۡقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمۡ يَرۡجِعُ بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٍ ٱلۡقَوۡلَ يَقُولُ ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ لِلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ لَوۡلَآ أَنتُمۡ لَكُنَّا مُؤۡمِنِينَ ٣١ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ لِلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُوٓاْ أَنَحۡنُ صَدَدۡنَٰكُمۡ عَنِ ٱلۡهُدَىٰ بَعۡدَ إِذۡ جَآءَكُم بَلۡ كُنتُم مُّجۡرِمِينَ ٣٢ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ لِلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ بَلۡ مَكۡرُ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ إِذۡ تَأۡمُرُونَنَآ أَن نَّكۡفُرَ بِٱللَّهِ وَنَجۡعَلَ لَهُۥٓ أَندَادٗاۚ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَۚ وَجَعَلۡنَا ٱلۡأَغۡلَٰلَ فِيٓ أَعۡنَاقِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۖ هَلۡ يُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٣٣﴾

[٣١-٣٢] او هغو کسانوچې کافران سول او ايمان پې رانوړ وو يل: مونږ هيڅ کله پدې قرآن باندې ايمان نه راوړو او نه پر هغه کتاب ايمان راوړو چې هغه د قرآن نه مخکې ؤ [يعنی لکه تورات او انجيل] نو بيا به ته

ای پیغمبره! د قیامت په ورځ دغه کافران [چې پر خپلو ځانو باندې ظلم کونکي ول] و یې چې د خپل رب پر وړاندې به حساب ورکولو ته درول سوي وي او د یو بل خبرې به ځوابوي، او د دوی لاس لاندې بې وزره مزدوران به خپلو کبرجنو بادرانو ته وایي: که تاسې نه وای، نو مونږ به مومنان وو [یعنی پر خپل رب الله باندي به مونږ ایمان راوړئ ؤ او د هغه کتاب او پیغمبر به مونږ منلي ؤ او اوس به د دغسې کرغیړن تور برخلیک سره نه مخامخ کیدلو] نو بیا هغه کسان چې په ایمان راوړوپې کبر وکه [یعنی خپل ځانونه یې غټ و بلل؛ خپلو مزدرورانو او د دوی لاس لاندې ضعیفو کسانو ته به] وایي: کله چې لارښود پیغام تاسې ته راغئ، نو بیا آیا تاسې مونږ د هغه منلو نه منعې کړی؟ نا! داسې نه ؤ، تاسې خپله مجرمان وی، یعنی تاسې خپله کافران سوی او ایمان مو رانوړ!

[٣٣] او هغو کسانو چې لاس لاندې مزدوران ول؛ خپلو کبرجنو بادارانو ته وو یل: بلکې د ستاسې شپې او ورځې بدو پر یکړو مونږ هلاك او تباه کړو، کله چې به تاسې مونږ ته حکم کا وه چې د الله نه منکر سو [یعنی الله په توحید سره ونه پیژنو] او بتان د الله سره سیالان وګرځوو [یعنی د الله سره یې په خدایي کې ګد کړو] خو بیاچې کله دوی د الله عذاب ولیده، نو د یو بل نه یې خپله پښیماني پټه کړه، نو بیا د کافرانو په غاړوکې مونږ زنځیرونه یا پرې واچول [او د دوزخ اور زورو ته وروغورځول سول] او کافرانو ته دغه سزا د دوی د کفر او د بدو کړنو سزا وه، یعنی د دوی د سر غړونو له کبله ورته الله کلکه سزا ورکړه.

ګرانو دوستان! په دغو مبارکو آیتونوکې د قیامت په ورځ د زورواکو کافرانو او د دوی لاس لاندې بې وزرو مزدورانو په منځ کې د یو بل ملامتولو ژوندئ انځور الله تعالی کافرانو ته وړاندې کړئ دئ، ترڅو هغه دوی ته په دنیا کې د زدکړې او د عبرت اخستلو درس وګرځي او دوی توبې و یستلو او ایمان راوړو ته وهڅوي، او دا انځور همدارنګه ټولو خلکو ته د قیامت ورځې راتګ پورې د زدکړې تل پاتې سبق دئ.

{د زور واکانو تاریخي دښمني پیغمبر انو سره تل پاتې دود دئ}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې د نړۍ په ټول تار یخ کې د حق پر وړاندې د زور واکانو د دښمنۍ اوږد تار یخ انځور وړاندې کړئ دئ، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ٣٤ وَقَالُواْ نَحۡنُ أَكۡثَرُ أَمۡوَٰلٗا وَأَوۡلَٰدٗا وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِينَ ٣٥ قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٣٦ وَمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُم بِٱلَّتِي تُقَرِّبُكُمۡ عِندَنَا زُلۡفَىٰٓ إِلَّا مَنۡ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ جَزَآءُ ٱلضِّعۡفِ بِمَا عَمِلُواْ وَهُمۡ فِي ٱلۡغُرُفَٰتِ ءَامِنُونَ ٣٧ وَٱلَّذِينَ يَسۡعَوۡنَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ٱلۡعَذَابِ مُحۡضَرُونَ ٣٨ قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥۚ وَمَآ أَنفَقۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَهُوَ يُخۡلِفُهُۥۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ٣٩﴾

[٣٤-٣٥] هو! په هیڅ کلي کې مونږ کوانسونکئ پیغمبر ندئ را لیږلئ [ترڅو خلک یوازې د الله عبادت او بنده ګۍ ته راو بولي] مګر دا چې د دنیا په خوندونوکې مست زور واکان یې [مخې ته در یدلي دي] او ویلي یې دي چې مونږ د ستاسې پیغمبرۍ نه په کلکه سره منکر یو او هغه نه منو، او وې و یل: ځکه مونږ د ستاسې نه ډیر مال، دولت او زامن لرو، او مونږ ته سزا نه راکول کیږي، یعنی دا ډیر مال او زامن د دې معنا لري چې مونږ په خدای ګران یو، نو الله مونږ ته سزا نه راکوي، او یا به ډیر مال، دولت او زامن زمونږ نه د سزا مخه ونیسي!

[٣٦] نو ته ای پیغمبره! [د خپل قوم دغسې کافرانو په ځواب کې] ووایه: هو! یقیناچې د زما رب الله خپله روزي [او د دنیا ورکړې] چې چا ته وغواړي خوروي او چا ته چې وغواړي روزي ور باندې تنګوي، خو ډیر خلک نه پوهیږي! یعنی دا چې الله تعالی غواړي خپل بنده ګان وازمایي، نو د ځینو کسانو په روزي کې ډیروالئ راولي او پر ځینو باندې تنګي او سختي

راولي، ترڅو الله د خلکو شکر و يستل، صبر او زغم معلوم او ښکاره کړي، خو خلک ژور فکر نکړي، ترڅو د الله په مقصد پوه سي او د الله تعالى حکمونو ته غاړه کيږدي او ورته تسليم سي.

[۳۷] ای خلکو! او د ستاسې مال، دولت او ډير کهول مونږ تاسې ته نه را لندوي، خو هغه چاچې ايمان راوړ او ښه يې وکړل [يعنی د خپل رب الله حکمونه يې ومنل او عمل يې پرې وکه] نو هغوی ته د دوی د ښو کړنو ثواب دوه برابره ورکول کيږي، او دوی به د جنت په کوټو او بنګلوکې په پوره ډاډ او امن کې وي.

[۳۸] او هغه کسان چې د زمونږ قدرتونو نښانو [او د کتاب آيتونو] پر وړاندې منډې وهې او هڅې کړي چې ور باندې زورور سي؛ دوی به تل د دوزخ په عذاب کې پرا ته وي، يعنی دا چې دغه کسان د الله تعالى ځواکمنۍ نه غافل دي او هغه څنګه چې ښايي نه پيژني!

[۳۹] ای پيغمبره! [او دغو کسانو ته چې دوی د دنيا مال او دولت غولولي دي] ووايه: يقينا د زما رب الله چې د خپلو بنده ګانو نه چا ته وغواړي روزي يې ډيروي او چا ته چې وغواړي روزي يې لږوي! [يعنی دا د الله تعالى کار دئ چې د ازمايښت په مقصد يې کړي] او ای مومنانو! هغه مال چې تاسې د الله په حکم لږوی او خيرات ورکوی، نو بيا الله دهغه عوض درکوي او يوازې الله ښه روزي ورکونکئ لوی ذات دئ، يعنی نو خلکو ته ښايي چې د روزۍ ګټلو هغو لارو نه چې هغه الله ورته ښودلي دي؛ کار واخلي او يوازې الله تعالى نه د روا لارو نه؛ رزق او روزي وغواړي.

درندو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونوکې د زور واکو کسانو او د دنيا په خوندونوکې د مست کسانو تل پاتې خوی د حق پر وړاندې مونږ ته ياد کړئ او بيان کړئ دئ، او بيايې رسول الله ﷺ ته لارښودنه کړې ده چې ته ای پيغمبره! دغه کبرجن کسان چې د دنيا خوند غولولي دي؛ پوه کړه چې ډير والئ او لږ والئ د دنيا په مال او دولت کې د الله کار دئ او الله ځينې کسانو ته ډير مال او دولت ورکوي او ځينو ته بيا لږ مال ورکوي، ترڅو دوی ټول ښه وازمايي او شکر و يستونکي د ناشکرانو نه

بيل كړي، او بيا الله تعالى په همدغو مبارکو آيتونوکې مومنانو ته د جنتونو ز يرئ ورکړئ دئ او کافران يې د دوزخ سزا نه کلک ګوابنلي دي، او مقصديې دا دئ چې مومنان ښه ډير په خپل ايمان او ښو کړنو باندې ټينګ او کلک سي او کافران پيښمانه سي او تو به و باسي، نو هيله ده چې علماء او دعات تل دغه قراني لارښودنې خلکو ته ورسوي او هغه دوی ته ور پياد کړي او دوی د الله اطاعت او فرمانو وړو ته را و بولي او ښه يې وهڅوي، ترڅو په دنيا او آخرت کې ښاد او نيکمرغه سي!

{قيامت په ورځ بتان د خپلو بندګانو نه براءت اعلانوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى همداسې د قيامت ورځې يقيني راتګ باندې ټينګار کړئ دئ او د مشرکانو د رسوايي يو ډير سپکونکئ انځوريې د دوی د ناحقه خدايانو سره وړاندې کړئ دئ، او هغه دا چې د مشرکانو په نامه خدايان چې د کانړو يا تيګو نه جوړسوي دي؛ خپله بيزاري د خپلو بنډه ګانو نه قيامت په ورځ اعلانوي او بيان کې الله فرمايلي دي:

﴿وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا۟ يَعْبُدُونَ ﴿٤٠﴾ قَالُوا۟ سُبْحَٰنَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِم ۖ بَلْ كَانُوا۟ يَعْبُدُونَ ٱلْجِنَّ ۖ أَكْثَرُهُم بِهِم مُّؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾ فَٱلْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَّفْعًا وَلَا ضَرًّا وَنَقُولُ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلنَّارِ ٱلَّتِى كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴿٤٢﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالُوا۟ مَا هَٰذَآ إِلَّا رَجُلٌ يُرِيدُ أَن يَصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ ءَابَآؤُكُمْ ۚ وَقَالُوا۟ مَا هَٰذَآ إِلَّآ إِفْكٌ مُّفْتَرًى ۚ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٤٣﴾ وَمَآ ءَاتَيْنَٰهُم مِّن كُتُبٍ يَدْرُسُونَهَا ۖ وَمَآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ قَبْلَكَ مِن نَّذِيرٍ ﴿٤٤﴾ وَكَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَمَا بَلَغُوا۟ مِعْشَارَ مَآ ءَاتَيْنَٰهُمْ فَكَذَّبُوا۟ رُسُلِى ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٥﴾﴾

[٤٠-٤١] [ای پيغمبره! او هغه ورځ کافرانو ته ور په ياد کړه، کله چې

مشرکان او د ملائکو نه د دوی خدایان الله تعالی د قیامت په ورځ حساب ورکولو ته] راغوندوي [نو بیا الله تعالی د ملائکو نه پوښتي او ورته] وایي:آیا دغو کسانو یوازې د ستاسې عبادت کا وه؟ [نو بیا ملائکو په ځواب کې] وو یل: ای لو یه خدایه ! ته د شر یك نه په خدایي او عبادت کې پاک یې [یعنی هیڅ څوک د ستا سره په عبادت او په خدایې کې شر یك ندي] او ته ای لو یه ر به! د مشرکانو نه پرته د زمونږ پالونکئ څښتن یې [یعني، نو مونږ یوازې د ستا بنده کې کړو] خو دغو کافرانو د پیریانو بنده کې کړه او ډیرو کسانویې په پیریانو ایمان راوړئ ؤ، یعنی د هغوی فرمان لاندې ول!

[٤٢] [نو ای کافرانو! نن چې د محشر ورځ ده] تاسې یو بل ته ګټه او تاوان رسولای نسی، او په دغه ورځ مونږ هغو کسانو ته چې په خپلو ځانونویې ظلم وکه [یعنی تیرئ وکه او په خپل ر یښتیني رب الله باندې کافران سول او په خپلو لاسونو جوړ کړي خدایان یې د الله سره په خدایۍ کې ګډ او شر یك کړل؛ نو دوی ته مونږ] وایو: اوس نو د هغه اور عذاب او سزا وڅکۍ چې تاسې دروغ باله، یعنی د پیغمبر خبرې مو نه منلې!

[٤٣] او کله چې د مکې پر کافرانو باندې د زمونږ کتاب روښانه آیتونه او دلیلونه لوستل کیدل؛ دوی به خلکو ته و یل: دا سړئ [یعنی پیغمبرﷺ العیاذ بالله] غواړي چې تاسې د هغو خدایانو عبادت او بنده کۍ نه منعې کړي چې د ستاسې پلرونو او نیکونو به د هغوی عبادت کا ؤ، او و یل یې: دا قرآن [چې محمد یې لولي] هغه الله پسې تور او افترا دئ، او کله چې قرآن هغو کسانو ته چې کافران سول؛ په حق سره راغئ، نو دوی وو یل: دا خو د ښکاره کوډو نه پرته بل څه شئ ندي! یعنی قرآن العیاذ بالله کوډې دي، او دوی هر خارق العاده شئ کوډې ګڼلې، ځکه کوډې په دوی کې خورې وې!

[٤٤] ای پیغمبره! او د ستا نه پخوا دغو کافرانو ته مونږ هیڅ کتابونه نه ؤ ورکړي چې هغه ولولي [یعنی زده یې کړي او بیا دا کتابونه دوی دغسې خبرو ته او د ستا پیغمبرۍ نه منکر یدو ته وهڅوي] او نه د ستا نه مخکې د مکې خلکو ته مونږ کم ګواښونکئ پیغمبر را لیږلئ ؤ، ترڅو دوی د الله

سزا نه وو يروي، يعنى رسول اللهﷺ خپل قوم ته لمړنئ او وروستئ پيغمبر ؤ، خو د دې سره سره قوم يې د الله د دغسې لويې پيرزو يې په ارزښت پوه نسول او پيغمبر ته يې دروغژن او مفتري وو يل، نو يقينا چې دا کار د مکې کافرانو په ناپوهۍ او ناشکرۍ لوى دليل او غټه نښه وه.

قدرمنو دوستانو! په دغو مبارکو آيتونوکې الله تعالى د قيامت ورځې په راتګ باندې يقيني باور سره يوځاى د کافرانو شرکي عقيده چې د الله سره په خدايي کې د فرښتو شر يکول ول؛ کلکه غندلې ده او هغه يې په ډير روښانه او پر يکنده استدلال سره رد کړې ده، او بيا الله تعالى د مشرکانو ټولې هڅې او د عقل او منطق نه لرې خبرې د رسول الله ﷺ پر وړاندې يادې کړې دي، ترڅو دا مبارک آيتونه پيغمبرﷺ ته د ډاډ او تسليت پيغام سي، او د مشرکانو په جهالت، نا پوهۍ او ناشکرۍ باندې د بطلان سره کرښه را کش کړي.

او بيا الله تعالى په ور پسې آيت کې مکې کافران د پخوانيو کافرانو تور سرنوشت او برخليک نه خبر کړي دي، او فرمايلي دي:

[٤٥] [اى پيغمبره!] او هغو کسانو چې د مکې کافرانو نه مخکې تير سوي دي؛ خپل پيغمبران دروغژن وګڼل، او د مکې کافرانو زور اوځواک د پخوانيو کافرانو ځواک په پرتله چې هغه مونږ دوى ته ورکړئ ؤ؛ لسمې برخې ته هم نه رسيږي، خو دوى د زمونږ پيغمبران دروغژن و بلل [نو بيا دوى مونږ هلاک کړل، او اى پيغمبره وګوره!] چې د زمونږ غندنه او سزا ورکول دغو کافرانو ته څنګه ول؟ يعنى الله تعالى پخوانيو کافرانو ته کلکه سزا ورکړه، نو د مکې کافران ده هغسې کلکې سزا ته سترګې پر لار منتظر پاتې سي چې تيرو کافرانو ته ورکړل سوه!

ګرانو عز يزانو! د مکې کافرانو نه پخوا د عر بانو په جز يره کې ډير داسې زورور ولسونه، لکه عاد، ثمود او د صالحعليه السلام قوم په مداين کې تير سوي دي چې دوى ټولو د الله نه ورغلي پيغمبران تکذيب کړل او د هغوى پيغمبرۍ نه منکر سول، نو بيا دوى ته الله تعالى کلکه سزا ورکړه او کلي او باندې يې د خاورو سره خاورې او کنډوالې سوې، او د مکې سوداګرو

جوړې د دوی پر کنډواله سوو کلیو تیریدل را تیریدل او هغه یې د حجاز او شام په لو یه لار تل لیدل، نو بیاچې چا د مکې کافرانو نه پند وانخست او په خپل ضـدکې همداسـې پاتې سـول او ټینګاریې ور باندې وکه، نو الله تعالی دوی ته د تیرو سرکښـو ولسـونو غوندې کلکه سزا ور کړه او ډیریې هلاک سول، ر ینې یې وختلې او تباه او بر باد سول.

{د پیغمبر ﷺ نصیحت او ګټور وړاندیځ خپل قوم ته}

ګرانو دوسـتانو! هو! الله تعالی چې لوی حلیم ذات دئ؛ خپل پیغمبر محمد ﷺ ته یې په ور پسې مبارکو آیتونوکې لارښودنه کړې ده چې دئ ده په یو نوي ځانګړي منطق د خپل قوم مشـرانو سـره اسـتدلال وکړي او دوی ده قانع کړي، ترڅو حق ومني او د بتانو عبادت نه لاس واخلي او د هغه پیغمبري ومني، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿*قُلۡ إِنَّمَآ أَعِظُكُم بِوَٰحِدَةٍۖ أَن تَقُومُواْ لِلَّهِ مَثۡنَىٰ وَفُرَٰدَىٰ ثُمَّ تَتَفَكَّرُواْۚ مَا بِصَاحِبِكُم مِّن جِنَّةٍۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا نَذِيرٞ لَّكُم بَيۡنَ يَدَيۡ عَذَابٖ شَدِيدٖ ٤٦ قُلۡ مَا سَأَلۡتُكُم مِّنۡ أَجۡرٖ فَهُوَ لَكُمۡۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٞ ٤٧ قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَقۡذِفُ بِٱلۡحَقِّ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ٤٨ قُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَمَا يُبۡدِئُ ٱلۡبَٰطِلُ وَمَا يُعِيدُ ٤٩ قُلۡ إِن ضَلَلۡتُ فَإِنَّمَآ أَضِلُّ عَلَىٰ نَفۡسِيۖ وَإِنِ ٱهۡتَدَيۡتُ فَبِمَا يُوحِيٓ إِلَيَّ رَبِّيٓۚ إِنَّهُۥ سَمِيعٞ قَرِيبٞ ٥٠ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ فَزِعُواْ فَلَا فَوۡتَ وَأُخِذُواْ مِن مَّكَانٖ قَرِيبٖ ٥١ وَقَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِهِۦ وَأَنَّىٰ لَهُمُ ٱلتَّنَاوُشُ مِن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ ٥٢ وَقَدۡ كَفَرُواْ بِهِۦ مِن قَبۡلُۖ وَيَقۡذِفُونَ بِٱلۡغَيۡبِ مِن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ ٥٣ وَحِيلَ بَيۡنَهُمۡ وَبَيۡنَ مَا يَشۡتَهُونَ كَمَا فُعِلَ بِأَشۡيَاعِهِم مِّن قَبۡلُۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ فِي شَكّٖ مُّرِيبٖ ٥٤﴾

[٤٦] ای پیغمبره! [پر دغو کافرانو باندې غږ وکړه او ورته] ووایه: زه یوازې یو نصیحت تاسې ته کړم او هغه دا چې د الله په بنده ګۍ او اطاعت کې دوه دوه او یا یو یو سره ودر یږۍ او بیا د خپل سیال او تر بره (محمد

ﷺ) په باره کې ښه ژور فکر وکړئ! او د ستاسې دغه ملګرئ (محمد ﷺ) لیونئ ندئ او نه پیریانو نیولئ دئ، هغه تاسې یوازې د را تلونکې عذاب نه ګوابـي، یعنی دا چې ای خلکو! ایمان راوړئ او د الله تعالی کلکې سـزا نه خپل ځانو نه وساتئ!

[٤٧] ای پیغمبره! [اوهمدارنګه ته خپل قوم ته] ووایه: ما د سـتاسـې نه څه مزدوري [یعنی مال او دولت] ونه غوښـتل او هغه ده تاسـې ته مبارك وي او د زما مزدوري او ثواب پر الله باندې دئ، او الله په هرڅه باندې شاهد دئ او هر څه و یې، یعنی الله تعالی په هر چا باندې پوه دئ او بیا ورسره حساب کړي او هر چا ته د هغه لائق ثواب یا سزا ورکوي.

[٤٨] ای پیغمبره! [او همداسـې کافرانو ته] ووایه: یقینا چې د زما رب او لوی څښـتن باطل د حق پر وړانګو ولې کوي [یعنی له منځه یې وړي] او الله پر ټولو پټو شـیانو باندې [په ځمکه او اسمانوکې] ښـه پوه دئ، یعنی هیڅ څه شئ د الله نه پټ ندي.

درندو عز یزانو! روایت سـوئ دئ چې د حق نه مقصـد دلته د نبوت وحیه ده او هغه چې الله تعالی په هر چا باندې وغواړي را نازلوي یې، نو دا چې الله تعالی محمدﷺ باندې د پیغمبرۍ وحیه را نازله کړه؛ دا د الله خپل انتخاب او خوښـه وه، او الله په هر څه ښـه پوهیږي، لکه څنګه چې یې د الانعام سـورې په ١٢٤ آیت کې فرمایلي دي:" الله أعلم حیث یجعل رسـالته" الله ښـه پوه دئ چې خپل پیغام چیرته او چا ته وحیه کړي او څوک پیغمبر وګرځوي!

[٤٩] ای پیغمبره! [او خپل قوم قر یشو ته اعلان وکه چې دا دئ] حق راغئ او باطل لاړه او بیا بیرته نه را ګرځي، یعنی حق چې د الله دین اسـلام دئ زورور سه او باطل چې کفر دئ له منځه لاړه او بیرته را تلای نسي.

[٥٠] ای پیغمبره! [او کافرانو ته ډاډ ورکړه او ورته] ووایه: که چیرې زه د حق نه اوښـتئ او ورک سـوئ یم، نو یقینا چې زه به خپل ځان ورکوم [او د ګناه سـزا ټې ګالم] خو که زه حق ته سـم سـوئ یم، نو دا زما د رب هغه وحیه ده چې ما ته یې را کړې ده، او زه ور باندې سم سوئ یم، او یقینا چې

الله ښه اور يدونکئ او هر چا ته ډير لنډ لوی څښتن دئ!

[٥١] ای پيغمبره! [او هغه ورځ راپه ياد کړه] کله چې ته کافران و يې چې [د الله عذاب ليدلو نه د قيامت په ورځ په و يره کې وي او د خلاصون غوښتونکي وي، خو ورځخه خلاصيدای نسي او د تيښې لار نه مومي] او د ډير لنډ ځای نه را نيول کيږي [او بيا د دوزخ اور زَورې ته ورغورځول کيږي او هلته پکې کلک کړول کيږي] يعنی د تور مختورن برخليک سره مخامخ کيږي، او د دوزخ اور په لمبوکې کړول کيږي.

[٥٢] [او پدې وخت کې بيا کافران] وايي: مونږ پر الله ايمان راوړ، خو اوس ايمان ته د ډير اوږده ځای نه چيرته رسيدلای سي؟ يعنی دا چې د ايمان راوړو فرصت په دنيا کې ؤ او هغه فرصت اوس د کافرانو لاس نه وتلئ دئ او ورځخه ډير لرې دئ، ځکه د قيامت پر ورځ ايمان راوړل اوس څه ګټه نلري، او کافرانو ته تيار سوئ عذاب خاماخا ورځکل کيږي!

[٥٣-٥٤] هو! يقينا چې کافران پخوا په دنيا کې د الله نه منکر سول او اوس غواړي چې د لرې ځای نه نښه په نه ليدلو سره وولي [يعنی حق ته ورسيږي او نجات بيامومي، خو دا واړې نور باللئ دئ!] او دا کافران نور د خپلو خوښو او هيلونه بيل سوي دي [يعنی په منځ کې يې لوی واټن دئ او دا چې غواړي ايمان راوړي او نجات بيامومي؛ دا خوسې خوب او خيال دئ، نو دوی خپل مقصد ته رسيدلای نسي] لکه څنګه چې د دوی نه مخکې خلکو سره وسول او ټول هلاك سول، ځکه يقينا چې دوی په دنيا کې په ډير کلک شك کې ول، يعنی په پيغمبر او د الله په کتاب او د قيامت په راتګ يې هيڅ باور نکه او ورځخه کلک منکر ول!

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې رسول الله ﷺ ته ډيره پخه او روښانه لارښودنه کړي ده، او هغه دا چې پيغمبر ﷺ په ډير صراحت سره خپل قوم د الله عذاب نه و يروئ دئ، او په ډيرو قاطعو او پر يکندو دليلونو سره يې حق خپل امت ته رسولئ او بيان کړي دئ، او دوی يې د الله تعالی دردونکې سزا نه ګواښلي دي، ترڅو دوی ښه پوه سي او د قيامت ورځې راتګ نه مخکې ايمان راوړي، ځکه په هغه ورځ نور ايمان

راوړل او تو به و يستل کټه نلري، نو هوښيار هغه څوک دئ چې د فرصتونو نه ګټه واخلي او خپل خير وغواړي او د الله تعالى تل پاتې عذاب نه د قيامت په ورځ خپل ځان خلاص کړي!

هو! قدرمنو دوستانو! يقينا چې دا رسالت اوس د علماوو او اسلام ته رابلونکو دعاتو په غاړه کې لوی امانت دئ، ځکه دوی د پيغمبرﷺ وارثان دي او دا ميراث الله تعالى د دوی په برخه کړئ دئ، نو ښايي چې د الله تعالى دا ګټورې لارښودنې پيغمبر ته د دعوت په لار کې؛ دوی خپلو ځانو ته څراغ وګرځوي، او خپل ولسونه حق ته را و بولي او د کفر او شرك او د اوسني عصر فکري انحرافاتو نه، لکه الحاد، لبراليزم، سيکولار يزم او نورو فاسدو الحادي عقايدو نه يې وګوابني.

والحمدلله رب الحمد لله رب العالمين وصلى الله على نبيه الأمين وعلي آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا الله استغفرك وأتوب إليك...

❁❁❁

﴿د فاطر سورې پښتو معنا او لنډ تفسير﴾

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د فاطر مبارکې سورې لنډه پيژندنه او لوړ مقصدو نه}

قدرمنو دوستانو! د فاطر مبارکه سوره مکي سوره ده، او پکې الله تعالى د خپلو لو يو قدرتونو نښاني يادې کړې او ستايلې دي، ترڅو خلک خپل رب او خالق وپيژني او ستاينه يې وکړي، او يوازې د الله تعالى بنده ګان سي او الله سره بل څوک په عبادت او بنده ګۍ کې شريك نکړي، او پدې مبارکه سوره کې د الله تعالى لو يتيا او د واکمنۍ ډيرې

بيلكې د ښـو لو يو مخلوقاتو په پيدايښـت کې؛ يادې سـوې او بيان سـوې دي، او دا مبارکه سوره په (فاطر) باندې ځکه نومول سـوې ده چې په پيل کې يې الله تعالي د (فاطر السماوات والأرض) په نامه باندې ستايل سـوئ دئ، او د فاطر معنا دا ده چې الله تعالى د اسـمانونو او ځمکې يې بيلکې پيدا کونکئ لوى ځښـتن دئ، يعنى دغو لو يو مخلوقـاتو پخوا هيڅ ډول مثال او بيلګه نه درلوده او هغه الله تعالى په خپل لوى قدرت سره د هيڅ نه پيدا کړل، او دا چې د فاطر مبارکه سـوره مکي سـوره ده، نو پکې د عقيدې مسـئلې په ټينګار سره بيان سـوې دي او د کافرانو نيوکې په قرآن عظيم الشـأن او د رسـول الله ﷺ په نبوت او پيغمبرۍ باندې کلکې ځواب سـوې او ردې سـوې دي، او الله تعالى خپل استازي رسـول الله ﷺ تـه او د هغـه دين مبلغينو تـه پـه جرګو او پـه فکري بحثونو او منـاظرو باندې سـپارښـت کړئ دئ، او پدې باره کې يې ورته ډيرې ګټورې لارښـودنې کړې دي او اسـلام ته د را بلنې تک لاره يې ورته ښـه رڼا کړې ده، او په پيل کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

{ځمکه او اسمانو د الله پيدايښت او فرښتې د الله استازي دي}

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ جَاعِلِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُوْلِيٓ أَجۡنِحَةٖ مَّثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۚ يَزِيدُ فِي ٱلۡخَلۡقِ مَا يَشَآءُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١ مَّا يَفۡتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحۡمَةٖ فَلَا مُمۡسِكَ لَهَاۖ وَمَا يُمۡسِكۡ فَلَا مُرۡسِلَ لَهُۥ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٢﴾

[١] ټول حمد او سـتاينه يوازې الله لره ده چې دئ د اسـمانونو او د ځمکې د پيدايښـت بې مخينې بيلکې پيدا کونکئ خالق دئ، او ملائکې يا فرښـتې الله خپلې اسـتازې ګرځولې دي [يعنى هغه د الله تعالى پيغامونه خلکو ته رسوي او حکمونه يې پر ځمکه او اسمان کې چلوي] او ملائکوته الله دوه وزرونه او ځينو ته بيا درې او ځينو ته څلور وزرونه ورکړي دي [يعنى په دغو وزرونو دوى الوزي] او د مخلوقاتو په پيدايښت کې چې الله

څه شئ وغواړي؛ هغه ډيروي، او يقيناچې الله په هر څه باندې قادر لوی ذات دئ، يعنی هرڅه چې الله وغواړي هغسې کړای سي او وسعه يې لري!

[٢] او هغه وَرونه يا دروازی چې الله د خپل رحمت ورکړو نه خلکو ته خلاص کړي دي؛ بل څوک هغه ترلای نسي او هغه څه چې الله ونيسي او منع يې کړي، نو بيا د الله نه وروسته بل هيڅ څوک خوسې کونکئ نه لري، ځکه الله ښه ځواکمن او لوی حکيم ذات دئ، يعنی د الله تعالی ټولې کړنې په پوره واکمنۍ او په لوی قدرت او حکمت ترسره کيږي!

درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې د خپل زور او د لوی قدرت ځينې هغه نښې چې په ځمکه او په اسمان کې خورې ورې پرتې دي؛ يادې کړې دي، ترڅو خلک خپل لوی رب الله په هغو صفتونو و پيژني چې د الله نه پرته بل هيڅ څوک دغه بې ساري صفتونه نه لري، نو بيا يوازې د الله بنده کې وکړي او حکمونو ته يې غاړه کيږدي او هغه په ژوند کې ځان ته لاربښود وګرځوي.

{يوازې الله د يادونې او د بنده ګی مستحق لوی څښتن دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې ټول خلک الله تعالی خپلو لو يو نعمتونو او پيرزو ينو يادونې اوشکر و يستلو ته کلک را بللي دي، ځکه يوازې الله تعالی د خدايي لائق ذات دئ، او رسول الله ﷺ ته يې د مشرکانو سرکښۍ پر وراندې چې پيغمبر ﷺ يې کلک زورا وه؛ تسليت ورکړئ دئ او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡۚ هَلۡ مِنۡ خَٰلِقٍ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ٣ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدۡ كُذِّبَتۡ رُسُلٞ مِّن قَبۡلِكَۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ٤﴾

[٣] ای خلکو! د الله نعمتونه او لور ينې پر تاسې باندې را په ياد کړی او ښه ز ير سی او وګوری چې آيا د الله نه پرته بل څوک دغسې خالق او پيدا کونکئ ذات سته چې تاسې ته د اسمان او د ځمکې نه روزي درکړي؟ [ځواب دا چې: نا! بل هيڅ څوک د الله غوندې ځواکمن خالق او مهر بان

ذات نسته، ترڅو هغه د عبادت او بنده ګي حق ولري، او يوازې الله تعالى په حق سره معبود دئ] نو تاسې اى خلکو! د الله عبادت نه کمې خوا ته اوړى؟ او څنګه دروغ وايي او بتان د الله سره په خدايي کې ګډوى؟

او بيا په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى رسول الله ﷺ ته ډاډ او تسليت ورکړئ دئ چې ټول پيغمبران د خپلو کينه کښو ولسونو تکذيب سره مخامخ سوي دي، او فرمايلي دي:

[٤] اى پيغمبره! که چيرې تا خپل قوم دروغژن و بولي [يعنې د ستا پيغمبرى نه منکر سي، نو ته مه خفه کيږه] ځکه د ستا نه پخوا تير سوي پيغمبران هم د روغژن و بلل سول [يعنى خپلو ولسونوپې ونه منل او دروغژن يې و بلل، او ته اى پيغمبره! ډاډه او مطمئن اوسه] چې د آخرت په ورځ هر څه الله ته ورګرځول کيږي! يعنى بيا الله تعالى د هر چا نه حساب اخلي او هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

{شيطان د ټولو خلکو دښمن دئ نو دښمنى ورسره پکار ده}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى پر ټولو خلکو باندې غږ کړئ دئ چې د آخرت ورځې را تګ نه غافل او بې پروا نسى، ځکه د هغې ورځې راتګ حتمي دئ او هغه هرومرو راتلونکې ده، او شيطان چې د دوى دښمن دئ؛ نو دوى ده پام کړي چې په لوموکې يې وننښلى، او فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ ۝٥ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ لَكُمۡ عَدُوّٞ فَٱتَّخِذُوهُ عَدُوًّاۚ إِنَّمَا يَدۡعُواْ حِزۡبَهُۥ لِيَكُونُواْ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ۝٦ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٞ كَبِيرٌ ۝٧ أَفَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ فَرَءَاهُ حَسَنٗاۖ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۖ فَلَا تَذۡهَبۡ نَفۡسُكَ عَلَيۡهِمۡ حَسَرَٰتٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِمَا يَصۡنَعُونَ ۝٨ وَٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابٗا فَسُقۡنَٰهُ إِلَىٰ بَلَدٖ مَّيِّتٖ فَأَحۡيَيۡنَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ كَذَٰلِكَ ٱلنُّشُورُ ۝٩ مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ جَمِيعًاۚ إِلَيۡهِ يَصۡعَدُ ٱلۡكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ وَٱلۡعَمَلُ ٱلصَّٰلِحُ

يَرۡفَعُهُۥۚ وَٱلَّذِينَ يَمۡكُرُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۖ وَمَكۡرُ أُوْلَٰٓئِكَ هُوَ يَبُورُ ١٠

[٥-٦] ای خلکو! د الله وعدې [ستاسې سره د مرګ نه وروسته قیامت په ورځ په بیرته را ژوندي کیدوکې] حق دي، نو پام کړی چې د دنیا ژوند خوندونه تاسې ونه غولوي او نه شیطان تاسې په لوی زغم او حوصیلې سره وغولوي، ځکه شیطان د ستاسې دښمن دئ، نو هغه خپل دښمن ونیسي [یعنی د هغه وسوسې مه منئ] او یقینا چې شیطان خپله ډله او پلو یان د دوزخ سوزونکي اور ته را بولي، ترڅو دوزخیان سي، یعنی د دوزخ کړونکي اور ملګري سي!

[٧] او هغه کسان چې کافران سول او ایمان یې رانه وړ؛ دوی ته په آخرت کې کلک عذاب دئ او هغو کسانوچې ایمان راوړ او ښه یې وکړل؛ دوی ته بښنه او ښه لوی ثواب دئ، یعنی الله تعالی د مومنانو ګناه بښي او جنتونه ورکوي او تل پاتې ښاد سوئ خوشحاله ژوند ور بښي.

[٨] نو آیا هغه چا ته چې د ده بد کړل ښایسته او ښکلي وښودل سول، نو بیا ده هم هغه ښه وګڼل [یعنی ور باندې خوښ او خوشحاله سه، نو آیا دا سړئ د هغه چا سره برابر دئ چې هغه الله سمې لارې ته سم که او بیا هغه ښې کړنې ښې او بدې یې بدې وګڼلې؟ ځواب دا چې: نا! دا دواړه کسان هیڅ کله سره برابر ندي!] نو یقینا څوک چې الله وغواړي د سمې لارې نه یې ورکوي، او څوک چې وغواړي هغه سمې لارې ته سموي [یعني هدایت او ضلالت د الله په واک کې دي] نو ته ای پیغمبره! په کافرانو باندې چې د حق نه اوښتي دي؛ مه خفه کیږي او غم یې مه خوره، ځکه چې الله یقینا د دوی په بدو کړنو ښه پوه دئ، یعنې نو بیا دوی ته الله تعالی د دوی لائق سزا ورکوي، ځکه دوی د الله دین نه کاږه سول او حق یې قبول نکه او د هغه نه یې سرکښي وکړه.

قدرمنو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې رسول الله ﷺ ته ډاډ او تسلیت ورکړئ دئ او پدې لوی حقیقت یې ښه پوه کړئ دئ چې حق ته د هدایت توفیق او ورځخه بې لارې توب او ورکتیا؛ ټول د الله په

لاس او واک کې دي، نو ته ای پیغمبره! هیڅ کله د خپل قوم په کفر باندې ځان مه زوروه او غم یې مخوره، ځکه تا خپل رسالت سر ته رسولئ دئ او د الله تعالی پیغام ده دوی ته رسولئ او ښه روښانه بیان کړئ دئ.

او بیا الله تعالی د قیامت په ورځ د مړو بیرته راژوندي کیدو ثبوت لپاره د خپل لوی قدرت لوبې نښې د مړې ځمکې راشنې کولو بیلګې ته ورته بیان سره؛ یادې کړې دي او خلکو ته یې د عزتمن ژوند لار په نښه کړې او بیان کړې ده، او فرمایلي دي.

[۹] [او ای خلکو! پدې پوه سې] چې الله هغه څوک دئ چې شمال یا باد یې را والوزا ؤ او ووره ور باندې هرې خوا ته خوروي او شندي، نو بیا دا ووره مونږ مړې ځمکې ته ورولیږل، نو بیا دا مړه ځمکه مونږ پر وورو راژوندۍ کړه، او همداسې مړه سوي خلک بیرته را ژوندي کیږي، یعنی د قیامت په ورځ د مړو بیرته را ژوندي کول الله ته، لکه د دغې مړې ځمکې راشنه کول؛ اسانه دي، ځکه الله لوی ځواکمن ذات دئ، او هرڅه کړای سي، نو څنګه چې مړه ځمکه را ژوندۍ کولای سي، نو مړي هم بیرته راژوندي کولای سي.

[۱۰] هو! څوک چې [په دنیا او آخرت کې] عزت او پت غواړي، نو ټول پت او عزت د الله سره دئ [یعنی نو د الله نه ده عزت وغواړي] او خوږې خبرې [او د الله تعالی ستاینه] او ښه کړل بنده لوړوي او عزت ورکوي [یعنی دا چې ایمان را وړل او ښه کړل د سړي عزت پورته کوي] او هغه کسان چې بد کړي [یعنی شپه اورځ د الله نه په سرکښۍ سره د خلکو په غولولوکې لګیا وي] هغوی ته کلکه سزا ده او د هغوی ټولې توطئې له منځه ځي، یعنی شنډیږي او دوی ته هیڅ ګټه نکړي.

{د خلکو ژوند پراوو نه الله پیدا کړي او په تقدیرکې ثبت دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د خپلو لو یو قدرتونو نښې زمونږ په ځانو او په لو یو سمندرونوکې یادې کړې او بیان کړې دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَٱللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ جَعَلَكُمۡ أَزۡوَٰجٗاۚ وَمَا تَحۡمِلُ مِنۡ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلۡمِهِۦۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٖ وَلَا يُنقَصُ مِنۡ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِي كِتَٰبٍۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ١١ وَمَا يَسۡتَوِي ٱلۡبَحۡرَانِ هَٰذَا عَذۡبٞ فُرَاتٞ سَآئِغٞ شَرَابُهُۥ وَهَٰذَا مِلۡحٌ أُجَاجٞۖ وَمِن كُلّٖ تَأۡكُلُونَ لَحۡمٗا طَرِيّٗا وَتَسۡتَخۡرِجُونَ حِلۡيَةٗ تَلۡبَسُونَهَاۖ وَتَرَى ٱلۡفُلۡكَ فِيهِ مَوَاخِرَ لِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ١٢ يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ ٱلۡمُلۡكُۚ وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمۡلِكُونَ مِن قِطۡمِيرٍ ١٣ إِن تَدۡعُوهُمۡ لَا يَسۡمَعُواْ دُعَآءَكُمۡ وَلَوۡ سَمِعُواْ مَا ٱسۡتَجَابُواْ لَكُمۡۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُونَ بِشِرۡكِكُمۡۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثۡلُ خَبِيرٖ ١٤﴾

[١١] ای خلکو! تاسې په لمړي ځل کې الله د خاورې نه پیدا کړی او بیا یې د نطفې نه وز یږولی، او بیا تاسې الله د یو بل سره جوړه (نر او ښځه) وګرځولی، او هیڅ ښځه نه بلار بیږي یا نه حامله کیږي، او نه خپل ماشوم ز یږوي؛ مګر د الله په علم او پوهې سره، او د هیڅ چا عمر نه اوږدیږي او نه لنډیږي؛ مګر څنګه چې هغه ټول د الله په لیکل سوی کتاب (لوح محفوظ) کې ثبت او لیکل سوي دي،او یقیناچې دا کار الله ته اسانه دئ.

[١٢] او د خوږو او تروو او بو سمندرونه دواړه سره برابر ندي، د یوه او به ډیرې خوږې دي [یعنی د څکلو دي] او دا بل تروه مالږه ده، او تاسې ای خلکو! د ټولو نه تازه غوښه خوړی [یعنی کبان یا مایان په خوږو او ترو او بوکې ښکار کوي او خورې یې] او د سیندونو او سمندرونو نه ګاڼې راباسی او بیا هغه اغوندي، او بیږی په او بوکې ګرځي راګرځي، ترڅو تاسې ور باندې د الله فضل نه روزي وکړی، نو ښایي چې تاسې د دغو نعمتونو شکر و باسي، یعنی خپل رب الله تعالی په توحید سره و پیژني، او بیا

یوازې د الله عبادت او بنده کې وکړئ!

[١٣-١٤] او یوازې الله دئ چې شپه پر ورځ کې ورننه باسي او ورځ پر شپه، او لمر او سپوږمۍ تاسې ته ای خلکو! الله تسخر کړي دي او ورځخه ګټه اخلئ، او هر یوې د ټاکل سوې نیټې پورې په خپل مدارکې ګرځي را ګرځي، نو دا دئ د ستاسې رب او لوی څښتن، او ټوله واکمني او پاچایي د الله ده، او هغه کسان چې تاسې ای خلکو! د الله نه پرته خپلو ځانو ته راغواړئ [یعنی خدایان یې بولئ] دوی د کجورې یا خرما د زړه نري پوښ په اندازه واک نه لري، نو که تاسې پر دوی باندې غږ وکړئ او د دوی نه خپلې اړتیاوې وغواړئ؛ دوی د ستاسې غږ نه اوري، او که وایې وري هم، خو ځواب نه درکوي، او د قیامت په ورځ د ستاسې دا ناحقه خدایان د ستاسې شرك نه منکر یږي [یعنی په هغه ورځ بیا وایي چې مونږ د دوی خدایان نه وو!] نو ته ای پیغمبره! پدې پوه سه چې تا هیڅ څوک د الله غوندې چې د هر څه نه خبر دئ؛ د حق نه نه خبروي! یعنی الله تعالی خپل استازئ پیغمبر د هر څه نه خبر کړئ دئ.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې خپل لوی قدرتونه په کایناتوکې او زمونږ په ځانونوکې را ته ښه روښانه بیان کړي دي او په پای کې یې رسول الله ﷺ ته په و ینا کې فرمایلي دي: هیڅ څوک د الله تعالی غوندې چې خپل مخلوقات ښه پیژني؛ تا د حق او د ر یښتیا نه نسي خبرولای، نو ښایي چې هر څوک خپل رب ښه و پیژني او ایمان راوړي او د کفر او شرك نه تو به و باسي او الله ته رجوع وکړي او حکمونو ته یې غاړه کیږدي، ترڅو په دنیا او په آخرت ښاد او نیکمرغه سي.

{ټول خلک الله ته محتاج دي او د ګرنو پوښتنه ورڅخه کیږي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی خلک ګواښلي دي چې که چیرې دوی ایمان را نوړي، نو الله به د دوی پرځای نور نوي خلک پیدا کړي چې د الله بنده ګي به په توحید سره وکړي او بیا به د آخرت په ورځ د هرچا نه د خپل عمل پوښتنه او ورسره حساب کیږي، او فرمایلي دي:

﴿۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلْفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِ ۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلْغَنِيُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿١٥﴾ إِن

يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَأۡتِ بِخَلۡقٖ جَدِيدٖ ١٦ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٖ ١٧ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۚ وَإِن تَدۡعُ مُثۡقَلَةٌ إِلَىٰ حِمۡلِهَا لَا يُحۡمَلۡ مِنۡهُ شَيۡءٞ وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰٓۗ إِنَّمَا تُنذِرُ ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُم بِٱلۡغَيۡبِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَۚ وَمَن تَزَكَّىٰ فَإِنَّمَا يَتَزَكَّىٰ لِنَفۡسِهِۦۚ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلۡمَصِيرُ ١٨

[۱۵-۱۷] ای خلکو! تاسې د خپل ژوند په ټولو چاروکې الله ته اړ او محتاج یاستی [یعنی هیڅ کله د الله ورکړو او پیرزوینو نه بې پروا کیدای نسی] او الله ښه ستایل سوئ غني ذات دئ، او که الله وغواړي تاسې هلاکوي او له منځ مو وړي، او د ستاسې پرځای نور نوي خلک را پیدا کوي، او دا کار الله ته سخت ندئ، یعنی الله تعالی ته هغه ډیر اسانه دئ، ځکه الله لوی ځواکمن ذات او خالق دئ.

نو ښایي درندو دوستانو! چې مونږ بنده ګان په خپله عاجزي او بې وسۍ اقرار وکړو او باور ولرو چې الله تعالی د زمونږ لوی رب او خالق دئ، نو ښایي چې حکمونو ته یې غاړه کیږدو او هغه ومنو او ورته تسلیم سو.

او په ور پسې مبارك آیت کې الله تعالی د هرچا کړنو مسئولیت د هغه خپل مسؤلیت بللئ دئ او هیڅ څوک د بل چا ګناه پرغاړه نه اخلي، که څه هم سره خپلوان وي، او په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

[۱۸] [ای خلکو!] هیڅ څوک د بل چا ګناه پر شا نه وړي، که څه هم د درانده پیټي خاوند د بل چا نه وغواړي چې د هغه پیټئ ورسره پشا کړي، نو دا بل سړئ که د هغه خپلوان هم وي د ده پیټي نه هیڅ څه شئ نه پشا کوي، او ته ای پیغمبره! هغه کسان د الله عذاب او سزا نه ګوابنې چې دوی په پټه سره د خپل رب الله نه و یر یږي او لمونځ یې سم درولئ وي، او هرچا چې خپل ځان د ګناه نه پاک کړ، نو د پاکولو ګټه یې ځان ته رسیږي او د ټولو خلکو ورتګ بیرته الله ته دئ، یعنی الله تعالی هرچا ته د هغه د ښو او د بدو کړنو ثواب او سزا ورکوي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې مومنانو ته

سپارښت کړئ دې چې خپل فقر الله ته وړاندې کړي او په اخلاص سره د الله بنده کې وکړي، او بيا الله تعالى د هرچا شخصي مسئوليت د هغه پر خپله غاړه اچولئ دئ، او هيڅ څوک د بل چا په ګناه نه نيول کيږي، که څه هم د هغه پلار، زوی او يا بل خپلوان وي، او دا حکم يقيناچې د الله تعالى د عدالت لوی مثال او بڼه بيلګه ده، او بيا الله تعالى رسول الله ﷺ ته د تسـليت او د ډاډ ورکولو په ترڅ کې چې کافرانو به د هغه خبرې نه منلې او رسـول اللهﷺ بې کلک زورا وه؛ فرمايلي دي چې د سـتا وعظ او نصـيحتونو نه؛ يوازې مومنان ګټه اخلي او خپل ځانو نه په عبادت کړو سـره د ګناه نه پاکوي او بيا د قيامت په ورځ الله تعالى هر چا سـره خپل حساب کړي او هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي!

{کافران د تورو تيارو او د مړو غوندې دي او مړي څه نه اوري}

او په ور پسـې مبارکوآيتونوکې الله تعالى د بيلګو او مثالونو په يادولو سره حق او باطل، کفر او اسلام سره بيل کړي دي، او رسول اللهﷺ ته يې ډاډ ورکړئ دئ چې د هغه رسـالت خلکو ته يوازې د الله تعالى پيغام رسـول دي، نو هيڅ کله ده دئ د کافرانو په کينه کښ در يځ چې د پيغمبر خبرې نه مني نه خفه کيږي، او فرمايلي دي:

﴿وَمَا يَسْتَوِي ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ ﴿١٩﴾ وَلَا ٱلظُّلُمَٰتُ وَلَا ٱلنُّورُ ﴿٢٠﴾ وَلَا ٱلظِّلُّ وَلَا ٱلْحَرُورُ ﴿٢١﴾ وَمَا يَسْتَوِي ٱلْأَحْيَآءُ وَلَا ٱلْأَمْوَٰتُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُسْمِعُ مَن يَشَآءُ ۖ وَمَآ أَنتَ بِمُسْمِعٍ مَّن فِي ٱلْقُبُورِ ﴿٢٢﴾ إِنْ أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ ﴿٢٣﴾ إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا ۚ وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ ﴿٢٤﴾ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَبِٱلزُّبُرِ وَبِٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُنِيرِ ﴿٢٥﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ ثَمَرَٰتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهَا ۚ وَمِنَ ٱلْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ ﴿٢٧﴾ وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلْأَنْعَٰمِ مُخْتَلِفٌ

أَلْوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَۗ إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُاْۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ ﴿٢٨﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَٰرَةً لَّن تَبُورَ ﴿٢٩﴾ لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٣٠﴾

[١٩-٢٣] هو! ړوند او بينا، تياړې او رڼا، سورئ او تود شمال يا باد سره برابر ندي، او نه ژوندي او مړي سره برابر دي، او الله چې چا ته وغواړي؛ د حق غږ هغه ته په يقين سره رسوي، او ته اى پيغمبره! مړي په خپلو ګورونوکې نسي اورولاى! او ته يوازې د الله عذاب نه خلک ګوابسوې، يعنى د پيغمبر کار او دنده يوازې د الله پيغام چې د الله تعالى توحيد ته بلنه ده؛ خلکو ته رسول دي، او بيا دوى د الله سزا نه و يروي.

ګرانو عز يزانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونوکى کافران ړندو او تورو تيارو ته او سره سوزونکي باد ته او په ګورونو کې پرتو مړو ته ورته بللي دي، نو ځکه دوى د حق پيغام نه اوري او نه يې و يني او نه د کافرانو نه، لکه سور سوزونکئ شمال يا باد ګټه اخستل کيږي، او نه لکه مړي د پيغمبر غږ اوري، او بيا الله تعالى مومنان د کافرانو په پرتله ليدونکي بينا او رڼا او يخ سورى او ژوندیو ته ورته بللي دي چې د پيغمبرﷺ خبرې او د الله تعالى حق پيغام اوري او هغه و يني او ګټه ورځخه اخلي او د پيغمبر غږ هم اوري او هغه مني، او يقيناچې دا پيغام رسول الله ﷺ ته د اطمئنان او د ډاډ ورکولو؛ لوى ز يرئ ؤ، ترڅو رسول اللهﷺ د کافرانو په عناد او ضد کړو باندې چې حق نه مني؛ خفه نسي، ځکه پيغمبرﷺ چې دنده او رسالت يې تبليغ ؤ؛ هغه خپل دا رسالت سر ته ورسا ؤ، او د الله تعالى پيغام يې خلکو ته په رسولو سره پوره که.

قدرمنو دوستانو! ښايي اسلام ته رابلونکي علماء، ملايان او دعات چې د پيغمبر وارثان دي؛ د هغه په سنتو او تګ لاره باندې کلک ولاړ وي، او کله چې د دوى خبرې خلک نه اوري؛ نو بيا خپل ځانو نه خفه نکړي او خپل دعوت پرته د کم خفتيان نه پر مخ يوسي او خلکو ته يې ورسوي او

ورزده يې کړي او دوی ور باندې ښه وروزي.

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې رسول الله ﷺ ته الله تعالی همداسې په ډاډ ورکولو سره؛ د هغه روښانه رسالت خلکو ته، لکه پخواني پيغمبران بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

[٢٤-٢٥] ای پيغمبره! يقيناچې ته مونږ په حق او ر ښتيا سره ز يرئ ورکونکئ او ګواښونکئ استازئ خلکو ته را ليږلي يې او د ستا نه پخوا په ټولو امتونو او ولسونوکې ګواښونکي استازي تيرسوي دي، نو که چيرې ته خپل قوم او خلکو دروغژن و بللې [نو دا د ټولوخلکو خوی دئ] او کله چې پخواينو امتونو ته د الله پيغمبران د ښکاره نښو(معجزو) او دليلونو سره او د ګنو رښا کونکو کتابونو سره راغلل؛ دوی يې دروغژن و بلل، يعنی پيغامونه يې ونه ملل، نو ته ای پيغمبره! مه خفه کيږه او د کافرانو د دغسې سپک چلند پروا مکړه او خپل دعوت ده په مخ يوسه او هغه خلکو ته ورسوه او بيايې ښه ورزده کړه او دوی ور باندې کلک وروزه!

[٢٦] او بيا نو هغه کسان چې کافران سول؛ دوی ما کلک را ونيول، نو ګوره ای پيغمبره! چې کافرانو ته سزا ورکول څنګه ول؟ يعنی دا چې الله تعالی دغو کافرانو ته کلکه سزا ورکړه او د دوی ر ښې يې وايستلي او هلاک يې کړل، او نور نوي ولسونه يې د دوی پرځای را پيدا کړل.

[٢٧-٢٨] [ای پيغمبره! آيا ته او نور ټول خلک نه و يې چې] يقينا الله د اسمان نه او به را ووورولي او په دغو او بو باندې يې بيا مونږ ته داسې ميوې را وايستلې چې رنګونه يې د يو بل نه بيل بيل ول، او د غرونو نه مونږ سپين او سره بيل بيل کانې او تيرې را وايستيلې او د هغو رنګونه هم د يو بل نه بيل بيل ول، او تک تور غرونه مونږ پيدا کړل، او همدارنګه د انسانانو نه او د ځمکې په سر ګرځندوی حيواناتو، څارو يو او خزندو نه مونږ رنګ رنګ، تور، سپين، ز يړ او برګ برګ مخلوقات پيدا کړل [يعنی دا ټول د الله تعالی د لو يو قدرتونو نښې دي، نو ښايي چې خلک پکې ښه ژور فکر وکړي او خپل رب الله په توحيد او په يو والي سره و پيژني او عبادت يې وکړي] خو حقيقت دا دئ چې يقينا يوازې علماء او پوهان د

الله عذاب نه و یر یږي [یعنی د الله تعالی په لوی ځواک پوهیږي، ځکه] یقیناچې یوازې الله لوی ځواکمن او ښه ښونکئ ذات دئ، یعنی نو کافرانو ته سزا ورکوي، او ګناه کونکي که تو به و باسي ښني، یعنی د الله تعالی لخوا د توبې قبولو ورونه یا دروازې ټولو خلکو په مخ بیرته او پرانستي دي.

[۲۹-۳۰] او یقینا هغه کسان چې د الله کتاب قرآن لولي او لمنځونه په سمه طر یقه دروي او ادا کوي یې، او د هغه مال او دولت نه چې دوی ته مونږ روزي کړئ دئ؛ په پټه او ښکاره سره یې وزروه محتاجو کسانو ته زکات او خیرات ورکوي، او دغه کسان د خپل رب الله سره هغسې سودا کړو ته هیلمن دي چې هیڅ کله پکې تاوان نکړي، ترڅو دوی ته الله د دوی مزدوري او ثواب پوره ورکړي او د خپل فضل نه څه ورډیرکړي، ځکه یقینا چې الله لوی ښښونکئ او ښه شکر و یستونکئ لوی ذات دئ، یعنی الله تعالی خپل پیښمانه سوي بنده ګان ښني او چاچې په اخلاص سره عبادت کړئ وي او د خپل رب الله حکمونو ته یې غاړه ایښې وي؛ دوی پالي او خپل نعمتونه چې هغه په آخرت کې جنتو نه دي ور باندې پیرزو کوي!

عزتمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې لمړئ رسول اللهﷺ ته د خپل قوم د لاسه زورولو نه تسلیت ورکړئ دئ، ځکه دغسې بد چلند پخوانیو ولسونو هم د خپلو پیغمبرانو سره کړئ دئ، او هغه د حق او باطل په منځ کې د سیالۍ او د جګړې تل پاتې قانون دئ، نو رسول الله ﷺ ده د خپل قوم زورونې وزغمي ا وصبر ده پرې وکړي او نه ده خفه کیږي، او بیا الله تعالی رسول اللهﷺ ډاډمن کړئ دئ چې الله تل کافرانو ته کلکه سزا ورکړي ده، او بیایې پیغمبر ته په و یناکې د ټولو خلکو پام خپلو لو یو قدرتونو ښو ته په ځمکه او اسمانوکې را ډولئ دئ، ترڅو دوی ژور فکر وکړي او ایمان راوړي، لکه څنګه چې پوه کسان او علماء د الله عذاب نه و یر یږي او حکمونه یې مني، او په آخرکې مومنانو ته الله تعالی چې په پوره اخلاص سره د الله عبادت کړي او په لمانځه کړو او زکات او خیرات ورکولو باندې ټینګ ولاړ دي؛ د لو یو لو یو ثوابونو ز یرئ

ورکړئ دئ، او ډاډمن کړي يې دي چې دوی خپل رب سره په سوداکې هيڅ کله تاوان نکړی او نه ز يانمن کيږي، او الله د دوی برخه ثواب پوره ورکوي، نو ښايي چې کلک ډاډه او مطمئن وي.

{قرآن چې پيغمبر ﷺ ته وحيه ده پخوانې کتابونه تصديقوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې رسول الله ﷺ ته الله تعالی د قرآن کريم حقانيت او د ر ښتينوالي ډاډ ورکړئ دئ او په ټينګار سره يې و يلي دي چې قرآن د پخوانيو اسماني کتابونو تصديقونکئ کتاب دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ هُوَ ٱلۡحَقُّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِعِبَادِهِۦ لَخَبِيرُۢ بَصِيرٞ ٣١ ثُمَّ أَوۡرَثۡنَا ٱلۡكِتَٰبَ ٱلَّذِينَ ٱصۡطَفَيۡنَا مِنۡ عِبَادِنَاۖ فَمِنۡهُمۡ ظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ وَمِنۡهُم مُّقۡتَصِدٞ وَمِنۡهُمۡ سَابِقُۢ بِٱلۡخَيۡرَٰتِ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡكَبِيرُ ٣٢ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَلُؤۡلُؤٗاۖ وَلِبَاسُهُمۡ فِيهَا حَرِيرٞ ٣٣ وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَذۡهَبَ عَنَّا ٱلۡحَزَنَۖ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٞ شَكُورٌ ٣٤ ٱلَّذِيٓ أَحَلَّنَا دَارَ ٱلۡمُقَامَةِ مِن فَضۡلِهِۦ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٞ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٞ ٣٥﴾

[٣١] ای پيغمبره! هغه څه چې د دې کتاب (قرآن) آيتونو نه تا ته مونږ وحيه کړې دي؛ هغه حق دي او د هغه نه مخکې کتابونو تصديق کوي، او يقينا چې الله د خپلو بنده ګانو چارو نه ښه خبر دئ او هغه ښې و يني، يعنی نو الله تعالی هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

[٣٢] او بيا دا کتاب (قرآن) مونږ د خپلو بنده ګانو نه هغو کسانو ته په ميراث پر ښود چې دوی مونږ د زمونږ بنده ګانو نه خوښ او غوره کړل [يعنی دوی مونږ د قرآن لائق وګڼل] نو بيا د دوی نه ځينې کسان پر خپلو ځانو باندې تيرئ کونکي ول [يعنی د خپل رب حکمونه پې، لکه څنګه چې ښاييدل هغسې پرځای نکړل] خو ځيني نورې معتدل ول [يعنی فرضونه يې پرځای کړل او د حرامونه يې ځانونه وساتل] او ځينوې د الله په مرسته په عبادت او په ښو کړنوکې ښه سيالي وکړه [يعنی خپل ځانو نه

يې ښه ستړي کړل] نو دا ورکړه دوی ته د الله لو يه پيرزو ينه ؤ!

[٣٣-٣٥] [او د دغو ښــو کړنو مخلصــو مومنانو انعام او ثواب په آخرت کې] تل پاتې جنتونه يا باغونه دي چې دوی به ورننوځي او بيا هلته د سـرو زرو او د مرغلرو نه جوړسـوي اميلونه، ګاڼې او هارونه د جنتيانو په غاړوکې اچول کيږي او دوی ور باندې ښکلي او ښايسته کيږي، او جامې بې په جنت کې د ور ښــمو نه وي، او دوی به دغو ښونو يا باغونو ته په ورننوتلو سره وايي: الحمد لله چې د زمونږ نه الله ټول خفتيان او کړاوونه لرې کړل، او يقينـاچې د زمونږ رب اللـه لوی ښــونکئ او ښــه شــکر و يسـتونکئ ذات دئ [يعنی دا چې د زمونږ ښـه کړل او عبادتونه يې قبول کړل او په بدل او عوض کې يې مونږ ته جنتونه په شکرانه کې را کړل]هو! الله د خپل فضـل او رحمت نه په لوروونو سـره مونږ په تل پاتې کورنوکې ميشــت او ځای پرځای کړو او هلته مونږ ته نوره ســتړيا او تکليف نه رسيږي او نه به يکې زورول کيږو.

قدرمنو دوســتانو! دا لوی مقام او لو يه ورکړه د الله تعالی هغه لوی انعام دئ چې يوازې مومنانو ته يې په آخرت کې ورکوي او بيا دوی ور باندې شـکرونه باسي او د خپل لوی پالونکي څښـتن الله سـتاينه کړي، نو دعاء کړو چې الله ده د دغسې لوړ مقام لائق مونږ او نور ټول مومنان وګرځوي او هغه ده د زمونږ په برخه کړي او په دنيا کې ده الله تعالی د ټولو ستړياوو او ستونزو خفتيان او غمونه راڅخه هير کړي، آمين يارب العالمين!

{کافران په آخرت کې د دوزخ په ژورو کې کلک کړ يږي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د آخرت په ورځ کافرانو ته په دوزخ کې د کلکو ســزاګانو ورکولو ژوندئ تصــو ير يا انځور زمونږ مخې ته ايښئ دئ، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ نَارُ جَهَنَّمَۖ لَا يُقۡضَىٰ عَلَيۡهِمۡ فَيَمُوتُواْ وَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُم مِّنۡ عَذَابِهَاۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي كُلَّ كَفُورٖ ٣٦ وَهُمۡ يَصۡطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا نَعۡمَلۡ صَٰلِحًا غَيۡرَ ٱلَّذِي كُنَّا نَعۡمَلُۚ أَوَلَمۡ نُعَمِّرۡكُم مَّا

يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ ٱلنَّذِيرُۖ فَذُوقُواْ فَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴿٣٧﴾ إِنَّ ٱللَّهَ عَٰلِمُ غَيۡبِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٣٨﴾ هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَكُمۡ خَلَٰٓئِفَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ فَمَن كَفَرَ فَعَلَيۡهِ كُفۡرُهُۥۖ وَلَا يَزِيدُ ٱلۡكَٰفِرِينَ كُفۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ إِلَّا مَقۡتٗاۖ وَلَا يَزِيدُ ٱلۡكَٰفِرِينَ كُفۡرُهُمۡ إِلَّا خَسَارٗا ﴿٣٩﴾ قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ شُرَكَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُواْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ لَهُمۡ شِرۡكٞ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِۚ أَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ كِتَٰبٗا فَهُمۡ عَلَىٰ بَيِّنَتٖ مِّنۡهُۚ بَلۡ إِن يَعِدُ ٱلظَّٰلِمُونَ بَعۡضُهُم بَعۡضًا إِلَّا غُرُورًا ﴿٤٠﴾

[٣٦-٣٧] [ای خلکو!] هغه کسان چې کافران سول او ایمان یې رانه وړ؛ د دوی سزا د دوزخ په سره اورکې کړ یدل دي [یعنی داچې د دوزخ په اورکې به اوړي را اوړي او ژر له منځه نه وړل کیږي] او نه د دوی نه د دوزخ عذاب سپکیږي، هو! هر سرکښ کافر ته مونږ همدغسې سزا ورکوو، او دغه کافران په دوزخ کې چیغې او بغارې وهي وایي: ای د زمونږ لو یه خدایه! مونږ د دوزخ نه بیرته را و باسه، ترڅو د هغو بدو کړنو پرځای چې مخکې مونږ کړې وې؛ نور نسه وکړو [یعنی ایمان راوړو او اطاعت او عبادت وکړو، نو بیا الله تعالی دوی ته په ځواب کې وایي:] آیا تاسې ته په دنیا کې مونږ نسه اوږد عمر درنکه؟ نو که چا پکې پند اخستئ وای، نو نسه یې کړي ول! خو تاسې د هغه فرصت نه ګټه وانخسته او تاسې ته د الله عذاب نه ګواښونکئ هم راغئ، خو د هغه خبره تاسې ونه منله، نو اوس د جهنم سزا او کلک عذاب وڅکئ، ځکه ظالمان او کافران نور هیڅ څوک مرسته ندوي نه لري چې د الله عذاب د دوی نه لرې کړي! یعنی د الله تعالی سزا د دوی نه لرې کیږي او ورڅخه نه سپکیږي.

[٣٨] او یقینا چې الله په ځمکه او په اسمانوکې په پټو شیانو پوه دئ او الله د خلکو په زړونو باندې هم نسه پوه دئ، یعنی د دوی په زړونوکې چې څه دي؛ د هغو ټولونه الله تعالی خبر دئ، نو ای خلکو! د الله نه کلک وو یر یږئ او په ایمان راوړو او نسو کړنو سره یې د سزا نه خپل ځانو نه

کلک وساتی!

[٣٩] هو؛ ای خلکو! تاسې یو بل پسې په ځمکه کې الله ځای پرځای کړی او د ځمکې واکمنې او خلافت یې تاسې ته وسپاره، نو څوک چې کافر سه [یعنی د خپل رب پیژندنې او عبادت نه په یو والي سره منکر سه] نو د کفر تاوان یې خپله هغه ته رسیږي، او د کافرانو کفر دوی د خپل رب په مخکې لاډیر مختورن کوي، او د الله کرکه د دوی نه ډیر یږي، او د دغو کافرانو د کفر ز یان خپله دوی ته لا ډیر یږي.

[٤٠] [ای پیغمبره! پر دغو مشرکانو باندې غږ وکړه او ورته] ووا یه ما ته را وښیي چې آیا تاسې خپل شر یکان او هغه کسان چې تاسې د الله نه پرته د هغوی عبادت او بنده کې کړه؛ ولیدل چې دوی په ځمکه کې څه شئ پیدا کړي دي؟ او آیا د ستاسې دغه ناحقه خدایان د الله سره د اسمانو په پیدایښت کې کډ ملګري او شر یکان ول؟ او یا دا چې آیا دوی ته مونږ کم کتاب ورکړئ دئ؟ نو بیا به دوی د دې کتاب نه د ځانو سره څه دلیل ولري؟ [ځواب دا چې: نا! هیڅ څه شئ نسته، بلکې دغو کافرانو چې پر خپلو ځانو باندې یې ظلم او تیرئ کړئ دئ] د دوی ځینو کسانو ځینو نورو ته؛ یوازې غولونکې وعدې ورکولې!

{ځمکه اواسمانو نه الله هواکې نیولي دي خپلې دایرې نه نه وځي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې مونږ ته الله تعالی د خپل لوی قدرت ډاډ د ځمکې او اسمانو په کلکو نیولوکې را کړئ دئ چې هغه په خپل طبیعي کښت کې د خپل مدار دائرې وتلو نه کلک ساتي، او فرمایلي دي:

﴿۞ إِنَّ ٱللَّهَ يُمۡسِكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ أَن تَزُولَاۚ وَلَئِن زَالَتَآ إِنۡ أَمۡسَكَهُمَا مِنۡ أَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا ٤١ وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَئِن جَآءَهُمۡ نَذِيرٞ لَّيَكُونُنَّ أَهۡدَىٰ مِنۡ إِحۡدَى ٱلۡأُمَمِۖ فَلَمَّا جَآءَهُمۡ نَذِيرٞ مَّا زَادَهُمۡ إِلَّا نُفُورًا ٤٢ ٱسۡتِكۡبَارٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَكۡرَ ٱلسَّيِّئِۚ وَلَا يَحِيقُ ٱلۡمَكۡرُ ٱلسَّيِّئُ إِلَّا بِأَهۡلِهِۦۚ فَهَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ ٱلۡأَوَّلِينَۚ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗاۖ وَلَن

تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَحۡوِيلٗا ﴿٤٣﴾ أَوَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَكَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعۡجِزَهُۥ مِن شَيۡءٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَلِيمٗا قَدِيرٗا ﴿٤٤﴾ وَلَوۡ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِمَا كَسَبُواْ مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهۡرِهَا مِن دَآبَّةٖ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗىۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِعِبَادِهِۦ بَصِيرَۢا ﴿٤٥﴾

[٤١] هو يقيناچې ځمکه او اسمانو نه الله کلک نيولي دي، ترڅو د خپل مدار نه ونه وځي [يعنی الله تعالی پې د ټاکل سوې دائرې نه د وتلو مخنيوی کړي] او که چيرې ځمکه او اسمانو نه د خپل مدار نه بې ځايه سي، نو بيايې د الله نه وروسته هيڅ څوک ټينګولای نسي، نو يقيناچې الله ډير حليم زغمونکئ او لوی بښونکئ ذات دئ، يعنی خپله سزا پر کافرانو باندې د اسمانونو او د ځمکې په را غورځولو سره زندوي، او الله لوی بښونکې ذات دئ، او هر څوک چې تو به و باسي الله پې بښي او ګناه پې محوه کوي او تو يوي پې!

[٤٢-٤٣] ای پيغمبره! دغو کافرانو د ستا پيغمبرۍ نه مخکې پر الله باندې کلکې لوړې وکړې او قسمونه پې وخوړل او و يو يل: که چيرې دوی ته د الله نه پيغمبر راغئ، نو دوی به د تيرو امتونو يوه امت نه بښه کلک سې لارې ته سم سوي وي [يعنی د هغوی غوندې به نه وي چې خپل پيغمبر تکذيب کړي او هغه دروغژن و بولي، او دوی به په بښه سمه لار روان وي او د خپل پيغمبر خبره به مني] نو بياچې کله دوی ته د الله عذاب نه ګواښونکئ پيغمبر راغئ، نو د دوی کرکه پې د حق نه لا ډيره کړه، ځکه دوی په ځمکه کې کبرجن ول[يعنی نور خلک پې غولول او چلونه پې ورته جوړول] نو د چل او غولنې سزا اور به په دغو چلکرو را ګردیږي او دوی پې په لمبوکې سوز يږي، نو آيا دغه غولونکي کافران د تيرو امتونو کافرانو ته د کلکې سزا ورکونکې تک لارې نه پرته بل څه ته انتظار باسي؟ [يعنی

ورته ســترګې په لار دي؟ او الله تعالى به دوى ته د خپلې تل پاتې تګ لارې سره سم؛ کلکه سزا ورکړي] ځکه ته اى پيغمبره! هيڅ کله د الله په سنتو او په تل پاتې تګ لارکې بدلون نه مومي او نه پکې بلې خواته اوښتل مومي! يعنى د الله قانون او نظام ثابت دئ او هيڅ بدلون پکې نه راځي، نو څوک چې د الله فرمان نه سرکښي وکړي؛ الله يې هلاکوي!

[٤٤] او آيا دا د مکې کافران په ځمکه کې ونه ګرځيدل؟ ترڅو بيا دوى وو يني چې د دوى نه پخوا سرکښو ولسونو ته څنګه سزا ورکړل سوه؟ حال دا چې دغه پخواني ولسونه د مکې مشرکانو نه ښه کلک ځواکمن ول، او الله د هيڅ ډول کړنو نه په ځمکه او په اسمانوکې بې وسعې او عاجز ندئ [يعنى الله تعالى چې هرڅه وغواړي هغسې کړلاى سي] ځکه يقيناچې الله په هر څه ښه پوه؛ لوى ځواکمن ذات دئ!

او په ور پسې مبارك آيت کې چې د فاطر سورې وروستئ آيت دئ؛ خلک الله تعالى د خپل لوى رحمت نه خبر کړي دي، او هغه دا چې دوى د ټاکلې نيټې پورې چې د قيامت ورځ ده زنډوي، ترڅو تو به و باسي، او په بيان کې فرمايلي دي:

[٤٥] [اى خلکو!] که چيرې الله ټول خلک د خپلو بدو کړنو په ګناه راونيسي، نو بيا بې هيڅ خوزنده مخلوق د ځمکې پر سر نوه پرې ايښئ، خو الله يې د ټاکل سوې نيټې پورې زنډوي، او بياچې يې اجل راسي او نيټه يې [چې د قيامت ورځ ده] پوره سي، نو يقيناچې الله په خپلو بنده ګانو باندې ښه بينا دئ، يعنى بيا الله تعالى چې د ټولو خلکو ښو او بدو کړنو نه خبر دئ؛ هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

درندو لوستونکو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونوکې کافرانو ته د خپلو لو يو قدرتونو تصو ير د خپل زغم او حلم انځور سره يوځاى ورلاندې کړئ دئ، او پدې تصو يرکې ټولو خلکو ته د قيامت ورځې راتګ په باره کې د زدکړې او د عبرت او پند اخستلو نه ډک درسونه او زدکړې نغښتي دي، نو ښايي چې هر هوښيار بنده پکې ښه ژور فکر وکړي او ورڅخه ګټه وا خلي!

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله وأصحابه، وعلى من والاه إلى يوم الدين.

سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا الله استغفرك وأتوب إليك... ولاحول ولاقوة إلا بالله العزيز الحكيم.



د يس سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د ياء سين مبارکې سورې لنډه پيژنده او لوی مقصدو نه}

قدرمنو دوستانو! د (ياء سين) مبارکه سوره مکي سوره ده، او په پيل

کې الله تعالی پر قرآن عظیم الشان باندې چې په حق سره را نازل سوئ لوی لارښود کتاب دئ؛ لوړه او قسم کړئ دئ چې محمدﷺ د الله پیغمبر دئ او په سمه لار چې د اسلام لار ده؛ روان دئ، ترڅو رسول الله ﷺ په پوره ډاډ او اطمئنان سره د الله تعالی دین خلکو ته ورسوي، او د کافرانو ټینګار په کفر او شرك باندې د رسول الله ﷺ کلک هوډ او تصمیم ضعیف نکړي، او پیغمبر ﷺ خپل پیغام امت ته په کلک عزم سره ورسوي او دوی د الله عذاب نه وګوابنې، او همداسې د ایمان او د عقیدې نورې ډیرې مسئلې پدې مبارکه سوره کې مونږ ته الله تعالی ښودلې او بیان کړې دي، ترڅو کافران حق ومني او د شرك او کفر نه ایمان او توحید ته راواوړي او خپل ژوند په دنیا او آخرت کې ښاد او نیکمرغه کړي.

هو! د (یاء سین) مبارکې سورې په فضلیت او ثوابونوکې ډیر روایتونه راغلي دي چې په ځینوکې یې یاسین سورې ته د قرآن زړه و یل سوئ دئ، خو د دغو ډیرو روایتونو د سندونو په راو یانوکې ضعف کسان سته، او یوازې د معقل بن یسارﷺ حدیث سند چې حافظ المنذري په خپل کتاب (الترغیب والترهیب) کې روایت کړئ دئ؛ حسن دئ او پدې روایت کې معقل بن یسار وایي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:" یس د قرآن زړه دئ، او هیڅ څوك هغه د الله رضا او د آخرت ورځې د ثواب لپاره نه لولي؛ مګر دا چې الله یې بښي، او هغه تاسې په خپلو مړو باندې ولولئ الحدیث..."

او دا چې رسول اللهﷺ و یلي یې دي:" ای مومنانو! (یس سوره) تاسې په خپلو مړو باندې ولولئ..." مقصدیې د ځانکندن یا ساه ختلو وخت دئ، نه وروسته د ساه ختلو نه، ځکه الله تعالی د دې مبارکې سورې د لوستلو په برکت ساه ختل پر خپل مومن بنده باندې اسانه کوي او د (علی موتاکم) معنا دا چې هغه نور په مړو کې شمیرل کیږي.

او د (یاء سین) مبارکه سوره، لکه د قرآن مجید نورې ډیرې سورې په [یاء، سین] دوه پر یکړل سوو تورو باندې نومول سوې ده، او معنا او

مقصدیې، لکه څنګه چې د علماوو راجح قول سره سم په تیرو سورو کې په وار وارسره بیان سه؛ د قرآن کریم بیاني اعجاز ته اشاره ده، یعنی عظیم الشان قرآن په ر یښتیا او یقین سره د الله نه راغلئ حق اسماني کتاب دئ، نو ځکه د عر بانو شاعران او ادیبان یې د سیالۍ نه عاجز او بې وسې سول، او د (یس) مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی د رسول الله ﷺ پیغمبرۍ حقانیت او ر یښتینوالئ چې هغه د ایمان یو لوی رکن او کلکه ستن ده مونږ ته بیان کړئ دئ، او هغه دا چې قرآن د همدې هجاء تورو نه جوړ سوئ لوی کتاب دئ، نو که هغه محمدﷺ د خپل ځان نه راوړئ وي، نو تاسې ای قر یشو! د هغه غوندې یوه سوره راوړی؟ نو بیا د عر بانو ټول پوهان، شاعران او لیکوالان د دې ننګونې ځواب نه بې وسې او عاجز سول، نو د قرآن کر یم حقانیت او د رسول الله ﷺ پیغمبرۍ ثابته سوه او ایمان را وړل په قرآن او په پیغمبر باندې فرض سول او مخ ارول ورڅخه کفر دئ، نو ښایي هوښیاران دا ځلانده حق ومني او مومنان سي او د قرآن په ر یښتینوالي او د محمد ﷺ په پیغمبرۍ اقرار وکړي.

{د محمد ﷺ قوم قریشو نیکونو ته پیغمبر نه ؤراغلئ}

ګرانو دوستانو! د (یاء سین) مبارکې سورې په پیل کې د رسول الله ﷺ پیغمبرۍ ر یښتینوالي باندې الله تعالی کلک ټینګار کړئ دئ، او فرمایلی دي چې ته به ای پیغمبره! داسې یو قوم د الله سزا نه ګوابنې چې پلرونه او نیکونه یې نه ول ګوابنل سوي، یعنی دوی ته د ستا نه وړاندې پیغمبر نه ؤ راغلئ، او په بیان کې یې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿يسٓ ۝١ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ ۝٢ إِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ۝٣ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ۝٤ تَنزِيلَ ٱلۡعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ۝٥ لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ أُنذِرَ ءَابَآؤُهُمۡ فَهُمۡ غَٰفِلُونَ ۝٦ لَقَدۡ حَقَّ ٱلۡقَوۡلُ عَلَىٰٓ أَكۡثَرِهِمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ۝٧ إِنَّا جَعَلۡنَا فِيٓ أَعۡنَٰقِهِمۡ أَغۡلَٰلٗا فَهِيَ إِلَى ٱلۡأَذۡقَانِ فَهُم مُّقۡمَحُونَ ۝٨ وَجَعَلۡنَا مِنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ سَدّٗا وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ سَدّٗا فَأَغۡشَيۡنَٰهُمۡ فَهُمۡ لَا يُبۡصِرُونَ ۝٩ وَسَوَآءٌ

عَلَيۡهِمۡ ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٠ إِنَّمَا تُنذِرُ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلذِّكۡرَ وَخَشِيَ ٱلرَّحۡمَٰنَ بِٱلۡغَيۡبِۖ فَبَشِّرۡهُ بِمَغۡفِرَةٖ وَأَجۡرٖ كَرِيمٍ ١١ إِنَّا نَحۡنُ نُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَنَكۡتُبُ مَا قَدَّمُواْ وَءَاثَٰرَهُمۡۚ وَكُلَّ شَيۡءٍ أَحۡصَيۡنَٰهُ فِيٓ إِمَامٖ مُّبِينٖ ١٢

[١-٦] ای پیغمبره! د حکمت نه ډک کتاب قرآن باندې چې د [یاء، سین غوندې هجایي تورو نه جوړ سوئ دئ] لوړه او قسم دئ چې ته یقینا د زما پیغمبرانو او استازو نه یې [یعنی تا ته وحیه کیږي] او ته په سمه لار [چې هغه د الله دین اسلام دئ] روان یې، او دا کتاب قرآن د الله لخوا چې لوی ځواکمن او ښه مهر بان ذات دئ؛ پر تا باندې را نازل سوئ دئ، ترڅو ته ور باندې هغه خلک د الله سزا نه وو یروي چې د دوی نیکونه په دغسې کتاب نه ؤ و یرول سوي [یعنی دوی ته د محمد ﷺ نه مخکې پیغمبر نه ؤ راغلئ، نو اوس به ته ای پیغمبره! خپل قوم قر یش یوازې د الله عبادت او بنده کې ته په توحید سره را و بولې او د بتانو عبادت نه بې چې ښکاره شرك دئ؛ کلک وګوابنې] ځکه د دوی نیکونه په دغسې سزا نه ؤ و یرول سوي، نو دوی په غفلت او بې پروایي کې ول، یعنی خپل رب الله یې په توحید او یو والي سره په عبادت کې نه پیژاند او بتان یې د الله سره په خدایي کې ګډول، نو یقینا چې دوی مشرکان ول او شرك لو یه ګناه ده.

[٧] او د دغو کافرنو نه ډیرو کسانو ته سزا ورکول یقیني دي، ځکه دوی ایمان نه راوړی، یعنی دوی د الله تعالی ازلي علم سره سم د ایمان راوړو نه بې برخې او محروم دي، لکه څنګه چې د قر یشو ډیر مشران د ابوجهل په څیر؛ کفر او شرك کې ووژل سول او مختورن د دنیا نه لاړل.

[٨-٩] او یقیناچې د دغو کافرانو په غاړوکې مونږ ځنځیرونه اچولي دي، نو دوی خپل ور بوزونه پورته نیولي دي، یعنی د الله تعالی تقدیري پر یکړې سره سم د قر یشو کافرانو مشران کبر او کینو په سر اخستي دي، نو حق ته غاړه نږدي او ایمان نه راوړي، لکه هغه څاروي چې په غاړوکې یې پرې اچولي سوي وي، نو دوی خپلې زنې پورته کشکوي او ښکته

نه ګوري، او د دغوو کينه کښو کافرانو وړاندې او وروسته مونږ بندونه اچولي دي [يعنی دوی کلا بند سوي دي] او د دوی سترګې مونږ پټې کړې دي او هيڅ شئ نه و يني، يعنی دا کينه کښ کافران حق نه مني، لکه دا چې په ځنځيرنو کې ترړل سوي وي او شا او خوا ټولې لارې يې ترړلې بندې وي او سترګې يې ړندې وي؛ هيڅ څه شئ نه و يني!

[١٠] او ای پيغمبره! که ته دغه کافران د الله سزا نه وګوابنې او که وې نه ګوابنې؛ دا دواړه دوی ته يو شئ دي او دوی ايمان نه راوړي، يعنی دا ځکه چې زړونه يې پيغمبره سره کينو تور کړې دي!

درندو دوستانو! الله تعالی په خپل ازلي علم او پوهې سره د مکې کافرانو سرکښي او د رسول الله ﷺ سره د دوی کينه او ضد اخستل؛ د دغسې کسانو انځور ته ورته بللي دي، ترڅو رسول الله ﷺ ناهيله نسي او خپل دعوت په کلک تصميم سره پر مخ يوسي، نو ځکه په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی رسول الله ﷺ ډاډمن کړئ دئ، او ز يرئ ورکړئ دئ فرمايلي دي:

[١١] ای پيغمبره! يقينا چې د ستا ګوابنونه او و يرول هغه چا ته ګټه رسوي چې هغه پر قرآن ايمان راوړئ دئ او هغه مني او د لوی الرحمن رب الله نه په پټه کې و ير يږي [يعنی د الله په ځواکمنۍ او لو يه خدايي باندې کلک باور لري او د سزا نه يې و ير يږي] نو بيا ته ای پيغمبره! دغسې مومن بنده ته د بښنې او د ډير ثواب ورکولو ز يرئ ورکړه، يعنی دا چې ای پيغمبره! يوازې مومنان د ستا وعظ او نصيحت نه ګټه اخلي، ځکه دوی پر الله او د الله پر کتاب قرآن باندې پوخ باور او ايمان لري، او د ستا پيغمبري مني او د الله عذاب نه و ير يږي، نو ته ای پيغمبره! د مومنانو په زده کړه او روزنه کې ښه ز يار و باسه او د کافرانو دښمنۍ پروا مکړه، ځکه دوی ته الله تعالی د خپل تقديري علم سره سم د ايمان راوړو توفيق نه ورکوي، نو دوی به همداسې په خپل کفر کې پاتې وي، ترڅو د الله عذاب پر دوی باندې را پر يوځي او ټول هلاک کړي.

او په ور پسې مبارک آيت کې الله تعالی خپله ځواکمنه پر يکړه کافرانو او

مومنانو ټولو ته اعلان کړي ده او په کلک یقین او باورسره یې فرمایلي دي:

[۱۲] هو! یقیناچې د قیامت په ورځ مړې مونږ را ژوندي کوو او د دوی ښـه او بد کړل په دنیا کې او ورځخه پاتې ښـه او بد میراث؛ مونږ لیکو او هرڅه [یعنی د خلکو ټول کړل] په ښـکاره کتاب (لوح محفوظ) کې مونږ شـمیرلې دي، یعنی ترڅو چې بیا هر چا ته الله د هغه د ښـو او د بدو کړنو ثواب او سزا ورکړي، مومنان جنت ته او کافران دوزخ ته ورننه باسي.

{د پیغمبر انو رسالت خلکو ته د الله پیغام رسول دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې رسـول اللهﷺ ته الله تعالی لارښـودنه کړی ده چې ته د خپل قوم کافرانو ته د پخوانیو امتونو او ولسـونو د هغه کلي بیلکه او مثال ور په یاد کړه، کله چې دوی ته پرله پسـې پیغمبران راغلل، خو کافرانو پیغمبران ونه منل او هغوی یې دروغژن و بلل، نو پیغمبرانو خپل رسالت چې خلکو ته د الله دین رسـول ول؛ پرځای که او د حق پیغام یې هغوی ته ورسا ؤ، او په بیان کې یې الله تعالی رسول اللهﷺ ته په و یناکې فرمایلی دي:

﴿وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلًا أَصۡحَٰبَ ٱلۡقَرۡيَةِ إِذۡ جَآءَهَا ٱلۡمُرۡسَلُونَ ١٣ إِذۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمُ ٱثۡنَيۡنِ فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزۡنَا بِثَالِثٖ فَقَالُوٓاْ إِنَّآ إِلَيۡكُم مُّرۡسَلُونَ ١٤ قَالُواْ مَآ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا وَمَآ أَنزَلَ ٱلرَّحۡمَٰنُ مِن شَيۡءٍ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا تَكۡذِبُونَ ١٥ قَالُواْ رَبُّنَا يَعۡلَمُ إِنَّآ إِلَيۡكُمۡ لَمُرۡسَلُونَ ١٦ وَمَا عَلَيۡنَآ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ١٧ قَالُوٓاْ إِنَّا تَطَيَّرۡنَا بِكُمۡۖ لَئِن لَّمۡ تَنتَهُواْ لَنَرۡجُمَنَّكُمۡ وَلَيَمَسَّنَّكُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٞ ١٨ قَالُواْ طَٰٓئِرُكُم مَّعَكُمۡۚ أَئِن ذُكِّرۡتُمۡۚ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ مُّسۡرِفُونَ ١٩﴾

[۱۳-۱۷] ای پیغمبره! ته د خپل قوم کافرانو ته د پخوانیو ولسـونو نه د هغه کلي کافرانو بیلکه ور په یاد او بیان کړه، کله چې دوی ته د زما اسـتازي پیغمبران راغلل، او په پیل کې دوی ته مونږ دۀ پیغمبران را ولیږل، نو بیا دوی هغه دواړه پیغمبران دروغژن و بلل، نو بیا د پیغمبرانو ملا

مونږ د در يم پيغمبر په ورليږلو ســره وټړله، نو بيا پيغمبرانو په يوه خوله دغو خلکو ته وو يل چې مونږ تاسې ته په يقين سره استازي را ليږل سوي يو، نو بيا کافرانو په ځواب کې ورته وو يل: تاسې د زمونږ غوندې انسانان او سړي ياستئ او الرحمن رب الله پر تاسې باندې هيڅ څه شئ ندي را نازل کړي [يعنى تاسې ته الله تعالى وحيه نده کړې] او تاسې خوسې دروغ وايئ [نو بيا پيغمبرانو دوى تــه پــه ځواب کې] وو يـل: د زمونږ رب الله پوهيږي چې مونږ يې يقينا تاســې ته پيغمبران را ليږلي يو، او د زمونږ دنده او رسـالت تاسې ته يوازې د الله ښکاره پيغام رسـول دي، يعنى نور نو د ســتاسې خوښــه چې هغه منئ او که نې منئ، او ايمان نه راوړئ او د الله تعالى بنده ګئ نه همداسې سرکښي کړئ؟

هو؛ درندو دوستانو! دا ده فکري ازادي چې هغه د الله تعالى ټولو پيغمبرانو شعار ؤ، او هر پيغمبر خپل قوم ته اعلان کړئ دئ چې د زما کار يوازې د الله پيغام رسول دي، نور نو د ستاسې خوښه چې هغه منئ او کنه؟ يعنى دين پر هيڅ چا باندې په زور نه منل کيږي او هر څوک به د الله نه ورته راغلئ دين په خپله خوښه او په قناعت سره مني، او دا کار په دين کې يقينا چې لوى پوهاوي او ډير علم ته اړتيا لري، نو ښايي چې د دعاتو ښه تعليم او عملي روزنې ته کلکه پاملرنه وسي، لکه څنګه چې الله تعالى خپلو پيغمبرانو پوهاوي او ښې روزنې ته پام کړئ دئ، او دغه لوى رسالت يې ورته سپارلئ دئ، ترڅو دوى خپل ولسونه اصلاح کړي

[١٨] [نو بيا د کلي کافرانو] پيغمبرانو ته وو يل: د ستاسې راتګ مونږ بد شــامت انګيرو، نو که تاســې د خپل تبليغ نه لاس وانخلئ؛ مونږ به په يقين سره تاسې په تيګو يا کانړو وولو او تاسې ته به د زمونږ لخوا دردونکې سزا او عذاب درکړل سي!

[١٩] [نو بيا دوى ته پيغمبرانو په ځواب کې] وو يل: هر کله چې تاســې ته وعظ وسي او د الله عذاب نه وګواښل سئ، نو بيا بد شامتي کړئ، نو د ستاسې بد شامتي يا بد فال نيول؛ خپله ستاسې سره دي [يعنى تاسې به مونږ ته د خپلو پټکو او ګواښونو او د الله پيغمبرانو نه د سرکښئ سزا

په خپله کالی] بلکې تاسې یقینا د حق او انصاف نه یو تیر سوئ اسراف کونکئ قوم یاستی، یعنی تاسې د حق پولو نه اوښتي یاستی او د خپل پالونکي خدای استازو سپکاوئ مو کړئ دئ!

{د پخوانیو امتونو مومن بنده قصه حق ته بلنه ده}

او بیا الله تعالی د پخوانیو امتونو نه د یوه مومن بنده قصه چې د اخلاص نه ډکه قصه ده؛ یاده کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿وَجَآءَ مِنْ أَقْصَا ٱلْمَدِينَةِ رَجُلٌ يَسْعَىٰ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱتَّبِعُوا۟ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٢٠﴾ ٱتَّبِعُوا۟ مَن لَّا يَسْـَٔلُكُمْ أَجْرًا وَهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٢١﴾ وَمَا لِىَ لَآ أَعْبُدُ ٱلَّذِى فَطَرَنِى وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٢﴾ ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً إِن يُرِدْنِ ٱلرَّحْمَٰنُ بِضُرٍّ لَّا تُغْنِ عَنِّى شَفَٰعَتُهُمْ شَيْـًٔا وَلَا يُنقِذُونِ ﴿٢٣﴾ إِنِّىٓ إِذًا لَّفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾ إِنِّىٓ ءَامَنتُ بِرَبِّكُمْ فَٱسْمَعُونِ ﴿٢٥﴾ قِيلَ ٱدْخُلِ ٱلْجَنَّةَ قَالَ يَٰلَيْتَ قَوْمِى يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾ بِمَا غَفَرَ لِى رَبِّى وَجَعَلَنِى مِنَ ٱلْمُكْرَمِينَ ﴿٢٧﴾﴾

[۲۰-۲۱] او بیا د ښار یوې لرې څنډې نه یو سړئ چې منډې یې وهلې راغئ [او د دې کلي په خلکو باندې یې غږ وکه او ورته] وو یل: ای د زما قومه! د الله نه را لیږل سوو پیغمبرانو پسې لاړ سی او خبرې یې ومنی، هو! هغه چا پسې لاړ سی چې دوی سمې لارې ته هدایت سوي دي او د ستاسې نه د خپلو نصیحتونو او سپارښتنو مزدوري نه غواړي، یعنی دغه پیغمبران د الله تعالی نه ورته سپارل سوئ پیغام تاسې ته ای خلکو! پرته د کمې ځاني ګټې او مزدورۍ غوښتلو نه رسوي او ستاسې نه هیڅ څه شئ هم نه غواړي، او خوسې په وړ یا ستاسې خدمت کړي!

[۲۲] [نو بیا دې خیر غوښتونکي مومن سړي(بنده) ز یاته کړه او دوی ته یې وو یل] ولې به زه د هغه چا عبادت او بنده کي نکړم چې زه یې پیدا کړي یم؟ او تاسې ټول ای خلکو! الله ته ورګرځول کیږی، یعنی د حساب ورکول لپاره الله ته ورتلونکي یاستی، نو ایمان راوړی، ترڅو ښاد او

نیکمرغه سی او د الله په مخکې د محشر په ورځ سپین مخې ودر یږی!

[٢٣-٢٤] او ای قومه! آیا غواړی چې زه د الله نه پرته ځان ته څوک خدیان ونیسم؟ حال دا چې که الرحمن رب ما ته د ز یان رسولو قصد او اراده وکړي، نو بیا د ناحقه خدایانو سپارښت ما ته هیڅ ګټه رسولای نسي او نه ما د الله سزا او عذاب نه خلاصولای سي، او زه به بیا یقینا په ښکاره ورکتیا کې وم، یعنی ما به په توحید سره د الله بنده ګی سمه لار ورکه کړې وي او زه به ورڅخه کوږ سوئ یم!

[٢٥-٢٧] [او بیا دی مومن بنده ټول قوم ته خپل ایمان راوړل په یو خدای الله تعالی باندې اعلان کړل او دوی ته یې وو یل:] نو ای قومه واوری چې دا دئ ما د ستاسې پر پالونکي څښتن الله باندې په یقین سره ایمان راوړ! نو بیا د همدې قوم لنډ غږ ور باندې راخیز کړل او دا مومن او خیر غوښتونکئ مومن سړي یې مړکه، نو بیا په هغه باندې غیبي غږ وسه او ورته وو یل سول: ځه جنت ته ورننوځه! [نو بیا هغه په ځواب کې] وو یل: کاشکې د زما قوم او د ټبر خلک پوهیدلای چې دا دئ زه الله و ښلم او د پالل سوو عزتمنو نه یې وګرځولم، یعنی د جنتونو نعمتونو ته یې سر لوړئ وردننه کړم، او د خپلو قدرمنو بنده ګانو په لیکه او قطارکې یې ودرولم، او ما ته الله تعالی د ایمان راوړو او هغه ته د دعوت په بدل کې یې لوړ مقام او ښه لو یه رتبه را کړه!

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې رسول اللهﷺ ته او د هغه امت ته ډیر ګتور نصیحتونه او لارښودنې کړې دي او هغه دا چې اسلام ته د رابلونکي واعظ او ملا دنده او رسالت یوازې تبلیغ دئ، نو ښایي چې خلکو سره د ټکر او تصادم نه کلکه ډ ډه وکړي، او همداسې ورته ښایي چې د دعوت په بدل کې د خلکو نه ځان ته څه شئ ونه غواړي او خپل اجرت، مزدوري او ثواب؛ یوازې د الله نه وغواړي او اسلام ته رابلنه یې د الله تعالی رضا لپاره وي نه د ځاني ګټې لپاره، ځکه دئ الله تعالی کلک ډاډمن کړئ دئ چې ثواب یې پر الله باندې لازم دئ.

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې همداسې د دې مومن بنده چې نوم

يې (حبيب النجار) روايت سوئ دئ؛ قصې په بيان کې الله فرمايلي دي:
﴿*وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ قَوۡمِهِۦ مِنۢ بَعۡدِهِۦ مِن جُندٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا كُنَّا مُنزِلِينَ ٢٨ إِن كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَإِذَا هُمۡ خَٰمِدُونَ ٢٩ يَٰحَسۡرَةً عَلَى ٱلۡعِبَادِۚ مَا يَأۡتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٣٠ أَلَمۡ يَرَوۡاْ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّنَ ٱلۡقُرُونِ أَنَّهُمۡ إِلَيۡهِمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ٣١ وَإِن كُلٞ لَّمَّا جَمِيعٞ لَّدَيۡنَا مُحۡضَرُونَ ٣٢﴾

[٢٨-٢٩] [هو! کله چې دغو خلکو هغه مومن سړئ (حبيب بن نجار) چې هغه خپل قوم ايمان راوړو ته را و باله مړکه] نو بيا د هغه نه وروسته؛ مونږ د اسمان نه سر تيرى را کوز نکړل [ترڅو دغو سرکښو ظالمانو وژونکو ته سزا ورکړي] او نه مونږ چا ته د سزا ورکولو لپاره ملائکې را کوزوو [نو بيا د دغو کافرانو هلاکول] په يوه کړزونکې نعره باندې ول، او کله چې کړزهار سه، نو دوى ټول پر ځمکه خواره واره مړه سوي ولو يدل او هيڅ څوک د دوى نه ژوندي پاتې نسول.

[٣٠] او دغو خلکو ته چې به هر کله يو پيغمبر راغئ د هغه سپکاوئ پې کا ؤ [يعنى دا پيغمبر پې دروغژن باله او ايمان پې نه راوړ] نو بيا چې کله دا کسان د قيامت په ورځ عذاب و يې پښيماني کړي، خو په هغه ورځ نوره پښيماني ګټه نلري! يعنى دوى غواړي چې بيرته دنيا ته وروګرځول سي، ترڅو ايمان راوړي او د پيغمبرانو په لارښودنو باندې عمل وکړي او نجات بيامومي، خو دا هيلې نورې خوسې خوب او خيال دئ، ځکه دوى په دنيا کې لاس ته ورغلي فرصتونه ضائع کړل!

[٣١] او آيا دغو کافرانو ونه ليدل چې د دوى نه پخوا پيړيوکې څومره کافران مونږ هلاک کړل؟ او يقيناچې دوى هيڅ کله بيرته دنيا ته نه ورګرځي، ترڅو بيا ايمان راوړي او ښه عمل وکړي، يعنى هغه فرصت نور د دوى د لاس نه وتلئ دئ او بيا هغه فرصت نه ورکول کيږي.

[٣٢] او د دغو تيرو پيړيو ټول خلک د زمونږ مخې ته حاضر يږي، يعنى الله تعالى ورڅخه حساب ا خلي او بيا هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا

ورکول کيږي!

قدرمنو دوستانو! په دغو مبارکو آيتونو کې الله تعالى کافرانو ته خپل لوى قدرتونه ښودلي دي او دوى ته يې د کلکې سزا ورکولو نه مونږ خبر کړي يو، ترڅو مونږ ورڅخه د عبرت اخستلو سبقونه زده کړو او د الله تعالى حکمونو نه بيا نور هيڅ څوک سرکښي ونکړي.

او همدارنګه د عبدالله بن عباسﷺ او د ځينې نورو صحابوو نه روايت سوئ دئ چې دغه مومن دعوت کونکئ سړئ د پخوانيو امتونو نه په همدې کلي کې چې ورته پرله پسې درې پيغمبران راغلل تير سوي دئ، او کله چې د الله تعالى دا مومن بنده چې ده حبيب بن نجار په نامه ياد سوئ دئ؛ خبر سه چې کليوال يې د الله پيغمبران وژني، نو په منډه ورغئ او خپل کليوال يې پيغمبرانو باندې ايمان راوړو ته را و بلل او خپل ايمان راوړل يې هم دوى ته ښکاره اعلان که، نو بيا د هغه قوم لنډغرو پر هغه باندې راخيځ کړل او دئ يې مړکه او په شهادت يې ورسا ؤ، نو بيا هغه ته د الله تعالى لخوا د جنتونو ز يري ورکړل سول، نو ځکه هغه و يلي دي:(ياليت قومي يعلمون بما غفرلي... الاية)نو يقينا چې دا قصه ټولو دعاتو ته چې د الله په لارکې هلې ځلې کړي او په پوره اخلاص سره خپل ولسونه د حق منلو ته رابولي؛ ډيره ارزښتناکه لارښوده قصه او غټ ز يرئ دئ، نو ځکه دا قصه که څه هم په بني اسرائيلوکې تيره سوې ده، خو هغه الله تعالى په خپل اسماني کتاب قرآن کې پر رسول اللهﷺ باندې رانازله کړې ده، ترڅو د هغه امت ټول دعات ورڅخه تر قيامت ورځې پورې ګټه واخلي او دغه مومن بنده ځان ته لارښود او مقتدا وګرځوي او په دعوت کې ور پسې اقتدا وکړي او د هغه غوندې خپل قوم پر الله تعالى باندې ايمان راوړو ته را و بولي او د دعوت په لارکې تل قر بانۍ او د ځان قر بانۍ ته تيار وي!

{د الله لوى قدرتونه په ځمکه او اسمانو کې را ښه ځليږي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى خلکو ته په ځمکه او اسمانو کې خپل لوى قدرتونه ياد کړي او ښودلي دي، او فرمايلي دي:

﴿وَءَايَةٌ لَّهُمُ ٱلۡأَرۡضُ ٱلۡمَيۡتَةُ أَحۡيَيۡنَٰهَا وَأَخۡرَجۡنَا مِنۡهَا حَبّٗا فَمِنۡهُ يَأۡكُلُونَ ٣٣ وَجَعَلۡنَا فِيهَا جَنَّٰتٖ مِّن نَّخِيلٖ وَأَعۡنَٰبٖ وَفَجَّرۡنَا فِيهَا مِنَ ٱلۡعُيُونِ ٣٤ لِيَأۡكُلُواْ مِن ثَمَرِهِۦ وَمَا عَمِلَتۡهُ أَيۡدِيهِمۡۖ أَفَلَا يَشۡكُرُونَ ٣٥ سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡأَزۡوَٰجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلۡأَرۡضُ وَمِنۡ أَنفُسِهِمۡ وَمِمَّا لَا يَعۡلَمُونَ ٣٦ وَءَايَةٞ لَّهُمُ ٱلَّيۡلُ نَسۡلَخُ مِنۡهُ ٱلنَّهَارَ فَإِذَا هُم مُّظۡلِمُونَ ٣٧ وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ٣٨ وَٱلۡقَمَرَ قَدَّرۡنَٰهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ كَٱلۡعُرۡجُونِ ٱلۡقَدِيمِ ٣٩ لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ ٤٠ وَءَايَةٞ لَّهُمۡ أَنَّا حَمَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ٤١ وَخَلَقۡنَا لَهُم مِّن مِّثۡلِهِۦ مَا يَرۡكَبُونَ ٤٢ وَإِن نَّشَأۡ نُغۡرِقۡهُمۡ فَلَا صَرِيخَ لَهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنقَذُونَ ٤٣ إِلَّا رَحۡمَةٗ مِّنَّا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٖ ٤٤ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّقُواْ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيكُمۡ وَمَا خَلۡفَكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ٤٥ وَمَا تَأۡتِيهِم مِّنۡ ءَايَةٖ مِّنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِمۡ إِلَّا كَانُواْ عَنۡهَا مُعۡرِضِينَ ٤٦ وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنُطۡعِمُ مَن لَّوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ أَطۡعَمَهُۥٓ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٤٧﴾

[٣٣-٣٥] او کافرانو ته د الله لو يو قدرتونو يوه نښه دغه مړه ځمکه ده چې هغه مونږ را ژوندی کړه او د هغې نه مونږ غلې او دانې راوايستلي او هغه دوی خوري، او په ځمکه کې مونږ د او بو چينې راوخوتولې، او د انګورو او خرما يا کجورو باغونه مونږ پکې راشنه کړل، ترڅويې ميوې وخوری، او دا نعمتونه د خلکو د لاسونو کار ندئ؛ هغه پر دوی باندې د الله رحمت او پيرزو ينې دي، نو آيا دا خلک يې شکر نه باسي او ايمان نه راوړي، او د الله حکمونو ته غاړه نږدي؟ يعنی شايي د دغو لو يو نعمتونو شکر و باسي او ايمان راوړي، ترڅو په دنيا او آخرت کې ښاد سي او نيکمرغي يې په برخه سي.

[٣٦] او الله چې د هر ډول نقصان او عيب نه پاک لوی ذات دئ؛ دئ هغه څوک دئ چې ټول مخلوقات يې جفت پيدا کړي دي [يعنی جوړه جوړه نر او ښځه] او د ځمکې نه راشنه سوي بوټي او د خلکو ځانونو نه پيدا سوي ماشومان او نور ټول هغه مخلوقات چې دوی يې نه پيژني او نه ور باندې پوهيږي؛ دا ټول الله جوړه جوړه پيدا کړل، يعنی د دې ټولو مخلوقاتو چې په ځمکه او اسمانوکې شيندل سوي پراته دي؛ يوازنئ پالونکئ څښتن او خالق الله تعالی دئ او دوی يې جوړه جوړه نر او ښځه، مثبت او منفي پيدا کړي دي!

[٣٧-٣٨] [او همدارنګه د الله تعالی په لوی والي او عظمت باندې بله] لو يه نښه؛ شپه ده چې ورځ مونږ ورڅخه را باسو او ټول خلک په توره تياره کې وي، او د لمر سترګه هم لو يه نښه ده چې خپل تم ځای ته تل په ګښت کې ده او هغه ټول [يعنی د افلاکو د خوزښت ورو ورو تنظيمول ټول] د لوی ځواکمن او ښه پوه ذات الله د لو يو قدرتونو کار دئ، يعنی الله تعالی ټولو ستورو ته د خپل څرخښت دايره يا ځای اندازه سوئ ټاکلی دئ او هغه د الله تعالی د لوی قدرت نښه ده.

[٣٩] او سپوږمی چې د الله لو يو قدرتونو بله نښه ده؛ هغه مونږ پور پور کړځولې ده، يعنی د مياشتې په سرکې وړه وړه پيل کيږي او بيا غټيږي او بيا وروسته بيرته د خرما وني زړي وچې څانګې غوندې کړځي.

[٤٠] هوا! نه د لمر سترګې ته ښايي چې سپوږمی لاندې کړي او نه شپه د ورځې نه وړاندې کيدای سي، بلکې هغه ټول [يعنی لمر، سپوږمی او نور ستوري] هر يو په خپل مدار [يا د څرخي پوڅي نه راګرد] ګښت کې؛ لامبو وهي او يو بل پسې په خوزښت کې دي، يعنی هر يو خپل فلکي مزل همداسې د الله په حکم سره وهي او کړئ راکړئ.

[٤١-٤٤] [او همدارنګه د الله تعالی د لو يو قدرتونو بله نښه خلکو ته دا ده چې] د ټولو خلکو کوول [د آدم عليه السلام نه وروسته] د نوح په ډکه بيړۍ کې؛ مونږ په يقين سره سپاره کړل، ترڅو د او بو په طوفان کې ډوب او مړه نسي او د خلکو ژوند د ځمکې په سر همداسې اوږد سي، او بيا ټولو

خلکو ته مونږ د نوح پېړۍ غوندې بېړۍ پیدا کړې او دا دئ اوس دوی پکې سپېریږي او په سیندونو او سمندرونو کې ګرځي راګرځي، خو که مونږ وغواړو چې دوی په سیندونو او سمندرونو کې ډوب کړو، نو بیا بل هیڅ څوک مرستندوی نلري، ترڅو دوی د ډو بیدو نه خلاص کړي او ورڅخه پې وساتي، مګر دا چې د زمونږ رحمت او مهر باني ورته نجات ورکړي، او د ټاکل سوي وخته پورې د دنیا نعمتونو نه خوند واخلي.

[٤٥] او هر کله چې دغو کافرانو ته وو یل سي چې د وړاندې او وروسته سزاګانو نه ځانو نه وساتئ، ترڅو د الله رحمت پر تاسې ښه وورږي، یعنی په دنیا او په آخرت کې د الله عذاب نه نجات بیامومئ، خو دوی خبره نه اوري او د حق منلو نه مخ اړوي او خپلې هوا او هوس پسې ځي.

[٤٦] هو! دغو کافرانو ته د دوی د لوی ځښتن د قدرتونو نه هیڅ یوه نښه نه راځي؛ مګر دا چې دوی د هغې نه مخ اړوونکي وي، یعنی هغه نه مني او کینو پسې اخستي دي، او د حق منلو نه چې د الله عبادت او بنده ګي په توحید سره ده؛ تښتي!

[٤٧] او کله چې دغو کافرانو ته وو یل سي چې د هغې روزۍ [یعنی مال او دولت نه] چې هغه الله درکړې ده خیرات ورکړئ [یعنی بې وزرو کسانو سره مرسته وکړئ] نو بیا کافرانو مومنانو ته وو یل: آیا هغه چا ته مونږ ډوډۍ ورکړو چې که الله غوښتي وای، نو هغه ته بې ډوډۍ ورکړې وه! [یعنی هغه کسان د ورکړې لائق ندئ، او مومنانو ته وایي] تاسې ای مومنانو! په ښکاره ورکتیاکې یاستئ! یعنی تاسې په څه نه پوهیږئ او ښه کلک ساده خلک یاستئ، او مونږ څنګه دغو تنبلو کسانو سره مرسته وکړو؟ یعنی دا چې دغه کافران هیڅ ډول انساني عاطفه نلري او تیار ندي چې محتاجو فقیرو کسانو سره مرسته وسي!

{د قیامت ورځې انتظار او د کافرانو کړیدو انځور په هغه ورځ}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې کافرانو د قیامت ورځې راتګ د هغې سپکاوي په مقصد غوښتئ دئ، او د هغوی دا غوښتنه مونږ ته الله تعالی انځور کړې ده، او په بیان فرمایلي دي:

﴿وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٤٨ مَا يَنظُرُونَ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ تَأۡخُذُهُمۡ وَهُمۡ يَخِصِّمُونَ ٤٩ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ تَوۡصِيَةٗ وَلَآ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمۡ يَرۡجِعُونَ ٥٠ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يَنسِلُونَ ٥١ قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَا مَنۢ بَعَثَنَا مِن مَّرۡقَدِنَاۜ هَٰذَا مَا وَعَدَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَصَدَقَ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ٥٢ إِن كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَإِذَا هُمۡ جَمِيعٞ لَّدَيۡنَا مُحۡضَرُونَ ٥٣ فَٱلۡيَوۡمَ لَا تُظۡلَمُ نَفۡسٞ شَيۡـٔٗا وَلَا تُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٥٤﴾

[٤٨] [او دغه کافران د ډير سپکاوي او کينې نه د مومنانو نه پوښتي] او وايي: که تاسې ای مومنانو! ر يښتيا وايي، نو د قيامت ورځې را تګ وعده کله ده؟ يعنی دا چې د مړ ينې نه وروسته بيا ژوند نسته او د ستاسې دا وعدې خوسې دروغ دي!

[٤٩] [نو بيا الله تعالی د دوی په ځواب کې وايي:] کافران [پدې نه پوهيږي چې دوی هغسې ورځی را ټک ته] انتظار باسي چې د سورني پوکولو په يوه کړزهار سره ناڅاپه دوی په داسې حال کې را نسي چې دوی لا د يو بل سره د دنيا په چاروکې ناندرې وهي!

[٥٠] نو بيا کافران د قيامت ورځې سورني وهلو په وخت کې نه يو بل ته سپارښت کړلای سي او نه خپلو کورنيو ته بيرته ورګرځيدای سي!

[٥١] او د دو يم ځل لپاره بيا سورنئ پوکيږي، نو بيا دوی [او نور ټول خلک] د ګورونو نه [په منډو] را وځي، يعنی د خپل لوی څښتن الله تعالي حضور ته حساب ورکولو ته ورځي!

[٥٢] [نو بيا کافرانو چې د قيامت ورځې راتګ نه منکر ول؛ په واو يلا سره] وو يل: آه او افسوس زمونږ په بد حال! مونږ د خپلو ګورونو نه چا را جګ کړو؟ [نو بيا په ځواب کې ورته و يل کيږي:] هو! دا د الرحمن رب الله هغه وعده ده چې اوس پرځای سوه، او هغو پيغمبرانو چې تاسې د دغسې ورځې را تګ نه خبر کړي وی؛ دوی ر يښتيا و يل!

[٥٣] [نو بيا د قيامت ورځې د سورلي] په يوه غږ سره ټول خلک زمونږ پر وړاندې حاضر وي، يعنی په يوه نعره ټول حساب ورکولو ته د الله تعالی په حضورکې راغونډيږي.

[٥٤] نو نن ورځ د هيڅ چا سره ظلم او هيڅ ډول تيرۍ نه کيږي، او تاسې ته ای خلکو! د ستاسې د ښو او بدو کړنو ثواب او سزا درکول کيږی.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکوآ يتونو کې ټولو خلکو ته لمړۍ د الله تعالی لو يو قدرتونو ښې په ځمکه او اسمانوکې وړاندې کړې دي او دوی يې د الله تعالی پژندنې ته په توحيد سره رابللي دي، نو ښايي چې ايمان راوړي او يوازې د الله تعالی عبادت او بنده ګي وکړي، او بيا الله تعالی د قيامت ورځې د ژړ او ناڅاپه را تګ ټکانوونکۍ تصو ير وړاندې کړۍ دۍ، ترڅو کافران پکې ښه ژور فکر وکړي او تو به و باسي، او هم مومنان خپل ځانونه په ښو کړنو سره د قيامت ورځې حساب ورکولو ته تيار کړي!

{ جنتيانو ته د ښادۍ ز يرۍ او دوزخيانو ته د عذاب ګوابنې }

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې مومنانو ته الله تعالی د جنتونو ز يرۍ ورکړۍ دۍ او کافران يې د کلک عذاب نه ګوابنلي دي، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ ٱلۡيَوۡمَ فِي شُغُلٖ فَٰكِهُونَ ٥٥ هُمۡ وَأَزۡوَٰجُهُمۡ فِي ظِلَٰلٍ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔونَ ٥٦ لَهُمۡ فِيهَا فَٰكِهَةٞ وَلَهُم مَّا يَدَّعُونَ ٥٧ سَلَٰمٞ قَوۡلٗا مِّن رَّبّٖ رَّحِيمٖ ٥٨ وَٱمۡتَٰزُواْ ٱلۡيَوۡمَ أَيُّهَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٥٩ * أَلَمۡ أَعۡهَدۡ إِلَيۡكُمۡ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ أَن لَّا تَعۡبُدُواْ ٱلشَّيۡطَٰنَۖ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ٦٠ وَأَنِ ٱعۡبُدُونِيۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ٦١ وَلَقَدۡ أَضَلَّ مِنكُمۡ جِبِلّٗا كَثِيرًاۖ أَفَلَمۡ تَكُونُواْ تَعۡقِلُونَ ٦٢ هَٰذِهِۦ جَهَنَّمُ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ٦٣ ٱصۡلَوۡهَا ٱلۡيَوۡمَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ٦٤ ٱلۡيَوۡمَ نَخۡتِمُ عَلَىٰٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَتُكَلِّمُنَآ أَيۡدِيهِمۡ وَتَشۡهَدُ أَرۡجُلُهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٦٥ وَلَوۡ نَشَآءُ لَطَمَسۡنَا عَلَىٰٓ أَعۡيُنِهِمۡ فَٱسۡتَبَقُواْ ٱلصِّرَٰطَ فَأَنَّىٰ يُبۡصِرُونَ ٦٦ وَلَوۡ نَشَآءُ لَمَسَخۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ

مَكَانَتِهِمْ فَمَا ٱسْتَطَٰعُوا۟ مُضِيًّا وَلَا يَرْجِعُونَ ﴿٦٧﴾ وَمَن نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِى ٱلْخَلْقِ ۖ أَفَلَا يَعْقِلُونَ ﴿٦٨﴾

[٥٥-٥٨] هو! يقينا چې د قيامت په ورځ جنتيان د الله پيرزو ينو نه په خوند اخستلو سره دومره منګيره وي چې بل هيڅ چا ته يې پام نه وي، او دوی او ميرمني يې د خورو ورو سور يو لاندې په کټو باندې ناست تکيه وهلې وي، او په مخکې يې د جنت ډول ډول ميوې پرتې وي او دوی چې څه غواړي هغه ورته تيار وي، او د لو يو رحمتونو لورونکئ څښتن الله ورته په سلام اچولو سره هرکلئ او ښه راغلاست وايي.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى کافرانو ته د قيامت په ورځ کلک ګواښونه ياد کړي دي، او په بيان کې يې فرمايلي دي:

[٥٩-٦١] [هو! د قيامت په ورځ کافرانو باندې الله غږ کړي او ورته وايي:] ای مجرمانو! د مومنانو نه بيل او ګوښه سئ! [او بيا ورته وايي:] ای د آدم کوله! آيا تاسې ته ما د خپلو پيغمبرانو په خوله سپارښت نۀ کړئ چې د شيطان بنده ګي مکړئ؟ ځکه شيطان يقينا د ستاسې ښکاره دښمن دئ، او تاسې ای د آدم کوله! يوازې د زما عبادت او بنده ګي وکړئ، او دا ده سمه لار، يعنى هغه تاسې تل پاتې نيکمرغئ او ښادئ ته رسوي.

[٦٢] ای خلکو! او ډير کسان د ستاسې نه شيطان د حق نه ورک او بې لارې کړل، نو آيا د ستاسې اوښ نور سر ته نه راځي او عقل نلرئ؟

[٦٣] او دا دئ هغه دوزخ چې ستاسې سره يې وعده سوې وه، يعنى تاسې په د نيا کې په دوزخ کلک ګواښل سوي وئ او تل درته و يل کيدل چې ای خلکو! که تاسې د کفر نه لاس وانخلئ او ايمان را نوړئ، نو د ستاسې ځای د دوزخ سور اور دئ او هلته به پکې کړ يړئ!

[٦٤] ای کافرانو! نن نو د خپل کفر په ګناه دوزخ ته ورننوځئ، يعنى په دوزخ کې د خپل کفر سزا وګالئ!

[٦٥] او د کافرانو په خولو باندې نن مونږ د چو پتيا ټاپه وهلې ده او لاسونه يې د زمونږ سره خبرې کړي او پښې يې د دوی په بدو کړنو شاهدي وايي، يعنى په ګناهوو اقرار کړي.

[٦٦] او که مونږ وغواړو د کافرانو د سترګو لیدا به یوسو [یعنی ړلانده یې کړو] نو بیا چې کله دوی د یو بل سره په لار کې په منډو سي، نو بیا به څنګه سمه لار وو یني؟ یعنی د خپل مقصد ځای ته رسیدلای نسي.

[٦٧] او که مونږ غوښتي وای، نو کافران به مونږ د دوی د استوګنې په مینوکې مسخ کړي او بدل کړي ول [یعنی څیرې یې مونږ ور بدلې کړې وي] نو بیا به نه په مخ تلای سول او نه به بیرته په شا را ګرځیدای سول.

[٦٨] او د هرچا عمر چې مونږ اوږد کړو، نو بیایې د ځان زور او غټوالئ ور بدلوو [یعنی غښتلې ځواني یې په زړ بوډۍ بدلوو] نو آیا تاسې ای کافرانو پدې نه پوهیږئ؟ [یعنی خپل عقل په کار نه اچوئ؟] ترڅو پوه سي چې دا لوی ذات الله د خپلو بنده ګانو سره دغسې کړنې کړلای سي، یعنی نو الله سبحانه وتعالی همدارنګه کولای سي چې مړي بیرته د قیامت په ورځ را ژوندي کړي او حساب ورکولو ته یې په خپل مخکې ودروي!

قدرمنو عز یزانو! په دغو مبارکو آیتونو کې مومنانو ته د قیامت په ورځ د خوښۍ او ښادۍ او کافرانو ته د لوی عذاب ډیر ځلانده انځور الله تعالی وړاندې کړئ دئ، ترڅو دوی عبرت او پند واخلي، او د حق منلو ته ځانونه تیار کړي او د غفلت خوب نه نور را و یښ سي.

{ پیغمبر ته الله شعر ندي ښودلي او قرآن ښکاره پیغام دئ }

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د شعر و یلو نسبت رسول الله ﷺ ته، کلک لرې کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَمَا عَلَّمۡنَٰهُ ٱلشِّعۡرَ وَمَا يَنۢبَغِي لَهُۥٓۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ وَقُرۡءَانٞ مُّبِينٞ ٦٩ لِّيُنذِرَ مَن كَانَ حَيّٗا وَيَحِقَّ ٱلۡقَوۡلُ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ٧٠﴾

[٦٩-٧٠] [ای خلکو! خپل پیغمبر محمد ﷺ ته] مونږ شعر ندئ ښودلئ او نه شعر و یل هغه ته ښایي، او هغه کتاب چې پیغمبر راوړئ دئ؛ هغه تاسې ته د وعظ او نصیحت کړو یادوونکئ او ښکاره قرآن دئ چې لوستل کیږي، ترڅو پیغمبر په هغه باندې د ژوندیو زړونو خاوندان د الله سزا نه وګوابنې او د حق و ینا [او پیغام چې هغه کافرانو ته د الله عذاب نه ګوابنې دئ] پر کافرانو باندې لازم او کلکه سي، یعنی الله تعالی د

قرآن په بيان سره کافران نور پې ځوابه کړل.

{ کافران د الله تعالى لو يو پيرزو ينو شکر نه باسي }

او بيا الله تعالى خپلې پيرزو يې په کافرانو باندې يادې کړې دي، خو دوی تل ناشکري کړې ده، او د دغسې لو يو پيرزوينو شکريې ندئ و يستلئ، او په بيان کې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَآ أَنْعَٰمًا فَهُمْ لَهَا مَٰلِكُونَ ﴿٧١﴾ وَذَلَّلْنَٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ وَمِنْهَا يَأْكُلُونَ ﴿٧٢﴾ وَلَهُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ وَمَشَارِبُ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾ وَٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةً لَّعَلَّهُمْ يُنصَرُونَ ﴿٧٤﴾ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَهُمْ وَهُمْ لَهُمْ جُندٌ مُّحْضَرُونَ ﴿٧٥﴾ فَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ ۘ إِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٦﴾﴾

[٧١-٧٣] او آيا دغو خلکو ونه ليدل چې دوی ته مونږ په خپلو لاسونو څاروي پيدا کړل او دوی پې څښتن سول او هغه مونږ د دوی لاس لاندې وګرځول او دوی ته تابع سول، نو بيا په ځينو باندې سپريږی او د ځينو نورو غوښې خوري او دوی ته پکې نورې ګټې هم سته، او د دغو څار يو شودې څکي، نو بيا دا کسان ولې د خپل رب الله د دغسې نعمتونو شکر نه باسي؟ يعنى ولې د الله تعالى بنده کې او عبادت په توحيد سره نکړي؟ حال دا چې ښايي کافران د الله په ورکړو او په خورو ورو نعمتونو باندې کلک شکر و باسي او يوازي د الله تعالى بنده ګان سي او د بتانو عبادت او بنده ګی نه لاس وا خلي.

[٧٤-٧٥] او کافرانو د الله نه پرته بتان ځانو ته خدايان ونيول، ځکه کيدای سي چې مرسته يې وکړي! خو دا بتان [يعنى د مشرکانو ناحقه خدايان د دوی] مرسته کړلای نسي او کافران د بتانو ساتلو ته تيار سئ دي، يعنى بيا دوی ټول يوځای د الله عذاب ورځې ته ورتلونکي دي او الله تعالى دوی ټولو ته کلکه سزا ورکوي.

[٧٦] نو ای پيغمبره! د کافرانو خبرې او و يناوې تا غمجن نکړی [يعنى ور باندې خفه نسې] ځکه يقينا چې د دوی په پټو او ښکاره ټولو کړنو

باندې مونږ پوهيږو او بيا د دوی نه هر چا ته د هغه لائق سزا ورکوو.

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې د آدم عليه السلام کوول ټولو کافرانو ته خپلې سپارښتنې او حکمونه ور په ياد کړي دي، ترڅو دوی شيطان پسې لاړ نسي او د هغه وسوسې يې ونه غولوي، او يوازې د الله عبادت وکړي، خو د آدم عليه السلام کوول کافرانو دغسې خبرې او د خپل رب سپارښتنې هيرې کړې، نو بيا دوی الله تعالی په کلکو سزا کانو ګواښلي دي او خپل لوی قدرتونه او ځواکمني يې ور په ياد کړې ده، ترڅو د دوی اوښ سر ته را سي او د کفر او شرک نه لاس وا خلي او خپل لوی څښتن رب العالمين ته په اخلاص او توحيد سره وروګرځي.

او بيا همداسې الله تعالی د کافرانو ناروا تورونه رسول الله ﷺ پسې او قرآن کر يم پسې رد کړي دي، ځکه دوی به رسول الله ﷺ ته شاعر و يل او بيا الله تعالی پر کافرانو باندې خپلې لور يني چې د ژوند ټول نعمتونه يې ورکړي ول؛ ياد کړي دي، ترڅو دوی شکر و باسي او ايمان راوړی او يوازې د الله عبادت او بنده ګي وکړي، خو کافرانو د الله تعالی پيرزو ينو سره سره؛ خپلو ځانو ته داسي ناحقه خدايان ونيول چې هيڅ ګټه ورته رسولای نسي، نو بيا الله تعالی رسول الله ﷺ ته ډاډ ورکړئ دئ چې هيڅ کله ده دئ د کافرانو په بدو خبرو او په ناحقه تورونو نه خفه کيږي، ځکه الله د دوی د بدو کړنو نه خبر دئ او ورته د دوی لائق سزا ورکوي.

{د قيامت په ورځ خلک الله د لمړي ځل غونډې ته راژوندي کوي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی پر کافرانو باندې غږ کړئ دئ او د دوی بې وسعي يې ښکاره کړې او ياده کړې ده، او فرمايلي دي.

﴿أَوَلَمْ يَرَ ٱلْإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقْنَٰهُ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴿٧٧﴾ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُۥ ۖ قَالَ مَن يُحْىِ ٱلْعِظَٰمَ وَهِىَ رَمِيمٌ ﴿٧٨﴾ قُلْ يُحْيِيهَا ٱلَّذِىٓ أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ ﴿٧٩﴾ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلشَّجَرِ ٱلْأَخْضَرِ نَارًا فَإِذَآ أَنتُم مِّنْهُ تُوقِدُونَ ﴿٨٠﴾ أَوَلَيْسَ

ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يَخۡلُقَ مِثۡلَهُمۚ بَلَىٰ وَهُوَ ٱلۡخَلَّٰقُ ٱلۡعَلِيمُ ٨١ إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٨٢ فَسُبۡحَٰنَ ٱلَّذِى بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَىۡءٍ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٨٣

[٧٧] او آيا هغه انسان [چې د الله لو يو قدرتونو نه منکر دئ] آيا هغه ونه ليدل [يعنی نه پوهيږي] چې دئ د نطفې نه [چې هغه د ميړه او د ارتيني ګډه مني ده] مونږ پيدا که، خو دا دئ اوس دئ ښکاره دښمن دئ، يعنی د خپل لوی څښتن سره په بحث او استدلال سره ښکاره دښمني کړي!

[٧٨] او دغه انسان مونږ ته بيلکې او مثالونه يادوي او خپل پيدايښت يې هيرکه او و يو يل: څوک دغه خاورې سوي اډوکي بيرته را ژوندي کوي؟ يعنی دغه خاورې سوي مړې بيا بيرته نه را ژوندي کيږي! حال دا چې، لکه څنګه چې لمړئ ځل دوی الله پيدا کړل همداسې يې وروسته د مرګ نه بيرته را ژوندي کوي او په خپل حضور کې يې د حساب لپاره دروي، ځکه الله پر هر څه باندې قادر ذات دئ او هر څه چې الله وغواړي هغسې کړای سي!

[٧٩] ای پيغمبره! نو ته کافرانو ته ووايه: هغه چاچې خلک په لمړي ځل کې پيدا کړل؛ هغه يې بيرته راژوندي کوي، او دا خالق څښتن پر ټولو خلکو باندې ښه پوه او لوی ذات دئ.

[٨٠] او الله هغه څوک دئ چې د شنې ونې نه يې اور پيدا که او دا دئ اوس تاسې ای خلکو! هغه اور بلوی، يعنی دا چې الله تعالی په هر څه لوی قادر ذات دئ او مړي الله تعالی د قيامت په ورځ بيرته را ژوندی کوي.

[٨١] [ای خلکو!] او آيا هغه څوک چې اسمانو نه او ځمکه يې پيدا کړل؛ نسې کولای چې د هغوی غوندې نور مخلوقات هم پيدا کړي؟ [ځواب] هو! الله کولای سي چې د هغوی غوندې نور مخلوقات هم پيدا کړي، ځکه يقينا چې الله لوی پيدا کونکئ او ښه پوه پالونکئ ذات دئ.

[٨٢] او د الله حکم دا دئ چې کله وغواړي څه شئ پيدا کړي، نو ورته

وايي: پيدا سه، نو بيا هغه پيدا کيږي، يعنی د [کن فيکون] په کلمه هرڅه الله تعالی پيدا کوي.

[٨٣] نو پاک دئ هغه لوی څښتن چې د ټولو کايناتو او مخلوقاتو واکمنۍ يې په لاس کې ده [يعنی الله تعالی هيڅ چا ته اړ او محتاج نه دئ] او ای خلکو! تاسې ټول االله ته ورګرځول کيږي، ترڅو د خپلو کړنو حساب ورکړی، او بيا مومنان جنتونو ته ننوځي او کافران دوزخ ته وغورځول سي!

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې چې د (ياء سين) مبارکې سورې وروستي آيتونه دي؛ خپل لوی قدرتونه په ټولو کايناتو کې مونږ ته ياد کړي او بيان کړي دي، ترڅو دا حقيقت ټولو خلکو ته يقيني سي چې الله تعالی دوی د قيامت په ورځ بيرته راژوندی کوي او په خپل حضورکې يې حساب ورکولو ته دروي او بيا هر چا ته د دوی د ښو او بدو کړنو لائق ثواب او سزا ورکوي، او دا کار الله تعالی ته چې د ټولو خلکو واکمن لوی څښتن دئ ډير اسانه دئ.

والحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات وصلى الله وسلم على رسوله الآمين وعلى آله وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

د الصافات سورې پښتو معنا او لنډ تفسير

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{د الصافات سورې لنډه پېژندنه او لوی مقصدونه}

قدرمنو دوستانو! د الصافات مبارکه سوره مکي سوره ده، او پکې د الله تعالی توحید باندې په عبادت او بنده ګۍ کې؛ ټینګار سوئ دئ، او د مومنانو په زړونوکې د توحید عقیدې پر غښتلتیا باندې الله تعالی کلک سپارښت کړئ دئ، او همدارنګه پدې مبارکه سوره کې د الله تعالی بل لوی مقصد د هغه حکمونو ته پرته لدې چې مومن بنده د الله په پټو مقصدونو او د تشریع په حکمتونو باندې پوه سي؛ تسلیمیدل دي، لکه ابراهیم عليه السلام چې د خپل زوی اسماعیل عليه السلام ذبح کولو حکم پرته له کمې پوښتني عملي کړ، او همداسې ګڼې نورې لارښودنې او سپارښتنې مونږ ته الله تعالی پدې مبارکه سوره کې یادې کړې دي، او په پیل کې یې الله تعالی پر هغو ملائکو باندې په وار وار سره لوړه کړې ده چې دوی یقینا د جبرئیل امین په مشرۍ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د الله تعالی پیغامونه راوړي دي، او دا مبارکه سوره ځکه په الصافات نومول سوې ده چې دا فرښتې د الله تعالی حکمونو جاري کولو ته په ځمکه او اسمانوکې تل لاس په سینه تیار سئ ولاړ وي، او د الصافات مبارکې سورې په پیل کې الله تعالی فرمایلي دي:

{الله پرتولو خلکو باندې د بنده ګۍ یوازنئ حق لرونکئ رب دئ}

﴿وَٱلصَّٰٓفَّٰتِ صَفّٗا ۝١ فَٱلزَّٰجِرَٰتِ زَجۡرٗا ۝٢ فَٱلتَّٰلِيَٰتِ ذِكۡرًا ۝٣ إِنَّ إِلَٰهَكُمۡ لَوَٰحِدٞ ۝٤ رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا وَرَبُّ ٱلۡمَشَٰرِقِ ۝٥ إِنَّا زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِزِينَةٍ ٱلۡكَوَاكِبِ ۝٦ وَحِفۡظٗا مِّن كُلِّ شَيۡطَٰنٖ مَّارِدٖ ۝٧ لَّا يَسَّمَّعُونَ إِلَى ٱلۡمَلَإِ ٱلۡأَعۡلَىٰ وَيُقۡذَفُونَ مِن كُلِّ جَانِبٖ ۝٨ دُحُورٗا وَلَهُمۡ عَذَابٞ وَاصِبٌ ۝٩ إِلَّا مَنۡ خَطِفَ ٱلۡخَطۡفَةَ فَأَتۡبَعَهُۥ شِهَابٞ ثَاقِبٞ ۝١٠﴾

[١-٤] [ای خلکو! زما ده پر هغو ملائکو باندې لوړه او قسم وي چې د دوی ورا وي ډله ډله] د الله په عبادت او بنده ګۍ کې یو بل په څنګ کې د کلکو صفونو په لیکو یا قطارونوکې سره ولاړ دي [یعنی د الله حکمونه پر ځمکه او اسمانوکې په پوره اخلاص او کلک تصمیم سره] او په سزا

ورکولو سره پرځای کوي او د الله ذکر او خبرې لولي، نو ای خلکو! زما ده د دغو ملائکو پر رب قسم وي چې یقینا د ستاسې معبود خدای الله په ر یښتیا سره یو ذات دئ او بل هیڅ څوک شر یك او مل نه لري!

[٥] [او دغه په حق سره معبود رب الله] د اسمانونو او د ځمکې او د دوی دواړو په منځ کې د ټولو مخلوقاتو او د شرق او غرب (ختیځ او لو یدیځ) ټولو پالونکئ لوی څښتن دئ.

[٦-٧] او یقینا چې دا د دنیا اسمان [چې ځمکې ته را لنډ اسمان دئ] هغه مونږ د ستورو پر ښکلا ښایسته کړئ دئ، او دغه اسمان مونږ د هر سرکښ شیطان نفوذ او ورننوتلو نه ساتلئ دئ، یعني شیطان اسمان ته ورننوتلاي نسي، ترڅو د الله خبرې ملائکو ته واوروي.

[٨-١٠] او شیطانان په پورته لوړو اسمانوکې؛ هیڅ څه شئ اور یدلای نسي [او که وغواړي چې غوږ و باسي] نو بیا د هرې خوا نه په غشو باندې و یشتل کیږي او شړل کیږی، او بیا د قیامت په ورځ دوی ته تل پاتې عذاب او سزا ورکول کیږي، او که د دغو شیطانانو نه څوک اسمان خواته غلچکې منده ووهي، نو بیا سوزونکې لمبه ور پسې ورسي او وې سوزوي، یعنی شیطانان نه څه خبره په اسمان کې اورې او نه هغه ساتلای سي!

درندو عز یزانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې مونږ ته خپل یو والئ او توحید په خدایي او عبودیت کې په یقین سره یاد کړئ دئ، او بیایې د کافرانو هغه ناحقه تورونه رد کړي دي چې دوی به و یل: شیطانان پورته اسمان ته خیځي او د الله خبرې ملائکو نه اوري او هغه خپلو ملګرو ته په ځمکه کې رسوي، ترڅو دوی د شیطان تقلید او پیرې په ځمکه کې وکړي.

{د مکې کافرانو د الله لویو قدرتونو پرو راندې سرکښي وکړه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د کافرانو منکر یدل د خلکو بیرته راژوندي کولونه د قیامت په ورځ په ښو روښانه دلیلونو سره رد کړي دي، او د دوی انکارې کلک غندلئ دئ، او په پوره بیان کې رسول الله ﷺ ته فرمایلي دي:

﴿فَٱسۡتَفۡتِهِمۡ أَهُمۡ أَشَدُّ خَلۡقًا أَم مَّنۡ خَلَقۡنَآۚ إِنَّا خَلَقۡنَٰهُم مِّن طِينٖ لَّازِبِۭ ١١﴾

بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُونَ ﴿١٢﴾ وَإِذَا ذُكِّرُوا۟ لَا يَذْكُرُونَ ﴿١٣﴾ وَإِذَا رَأَوْا۟ ءَايَةً يَسْتَسْخِرُونَ
﴿١٤﴾ وَقَالُوٓا۟ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ أَءِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَبْعُوثُونَ
﴿١٦﴾ أَوَءَابَآؤُنَا ٱلْأَوَّلُونَ ﴿١٧﴾ قُلْ نَعَمْ وَأَنتُمْ دَٰخِرُونَ ﴿١٨﴾ فَإِنَّمَا هِىَ زَجْرَةٌ وَٰحِدَةٌ
فَإِذَا هُمْ يَنظُرُونَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوا۟ يَٰوَيْلَنَا هَٰذَا يَوْمُ ٱلدِّينِ ﴿٢٠﴾ هَٰذَا يَوْمُ ٱلْفَصْلِ ٱلَّذِى
كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢١﴾

[١١] ای پیغمبره! نو ته [د قیامت ورځې راتګ منکرو کافرانو نه] و پوښته چې آیا د ستاسې پیدا کول ډیر سخت دي او که د هغو خلکو پیدا کول چې دوی مونږ پیدا کړل؟ هو! دوی ټول چې هیڅ نه ول؛ مونږ د سرښت ناکه خټې نه پیدا کړل، یعنی الله تعالی ته د انسانانو پیدا کول په لمړي ځل کې او بیایې بیرته راژوندي کول قیامت په ورځ؛ د اسمانو او ځمکې او د نورو ډیرو مخلوقاتو پیدا کولو نه اسانه دي.

[١٢-١٣] او ته ای پیغمبره! [د کافرانو منکر یدلو د ستا هغو خبرو نه چې پکې تا د آخرت ورځې په باره کې د الله پیغام دوی ته ورسا ؤ] په حیرانتیا کې واچولې [خو د هغې نه ډیره حیرانتیا او تعجب دا دئ چې] کافران تا پسې پسخند وهي او تا سپک یادوي! او کله چې دوی ته وعظ وسي [ترڅو د غفلت خوب نه راویښ سي، نو دوی د وعظ نه] ګټه نه اخلي.

[١٤-١٥] ای پیغمبره! او کله چې کافران یوه معجزه وو یني [چې دا معجزه د ستا پیغمبري تصدیقوي، نو بیا دوی] د ستا خبرو پورې خاندي او سپکاوئ پې کړي، او کافرانو وو یل دا خو ښکاره کودې دي!

[١٦-١٧] او همدارنګه کافرانو وو یل: آیا کله چې مونږ مړه سوو او خاورې او اډوکي سو، نو آیا بیا به مونږ په یقین سره بیرته د خپلو ګورونو نه راجګول کیږو؟ [یعنی آیا بیا به مونږ یقینا بیرته را ژوندي کیږو؟] او آیا د زمونږ پخواني پلرونه ا ونیکونه بیرته راژوندي کیږي؟

[١٨] نوته ای پیغمبره ![کافرانوته په ځواب کې]ووایه: هو! ای کافرانو! تاسې ډیر خوار او سپک سوي بیرته را ژوندي کیږی! یعنی د قیامت په ورځ د کافرانو را ژوندي کیدل حساب ورکولو ته یقیني او حتمي دي.

[١٩-٢٠] [او ای خلکو! ســتاســې د مړو بېرته را ژوندي کېدل به د قیامت په ورځ] په یوه ټکانوونکي غږ سره وي، نو په ګړزهاریې ټول خلک د خپلو ګورونو نه راجګېږي او د قیامت ورځې پېښــوته به راڼه راڼه ګوري او وایي به چې دا خو زمونږ لپاره هلاکت دئ، ځکه دا خو د حســاب ورکولو او سزا ورکولو لو یه ورځ ده!

[٢١] [نو بیا کافرانو ته و یل کېږي: هو! دا د ښــو او بدو خلکو، او د مومنانو او کافرانو په منځ کې په عدالت ســره] د بیلتون هغه ورځ ده چې تاسې هغه د دنیا په ژوند کې دروغ بلله! یعنی تاسې ور پورې خندل او هغه مو خوسې خبرې ګڼلې او د ډیر کبر نه مو ور باندې باور نکه.

{د قیامت په ورځ د کافرانو ستونزمن حالت ژوندئ تصویر}

او په ور پســې مبارکو آیتونوکې مونږ ته الله تعالی د محشــر ورځې سخت او ستونزمن حالت انځور کړئ دئ، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿۞ٱحۡشُرُواْ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ وَأَزۡوَٰجَهُمۡ وَمَا كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ٢٢ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَٱهۡدُوهُمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡجَحِيمِ ٢٣ وَقِفُوهُمۡۖ إِنَّهُم مَّسۡـُٔولُونَ ٢٤ مَا لَكُمۡ لَا تَنَاصَرُونَ ٢٥ بَلۡ هُمُ ٱلۡيَوۡمَ مُسۡتَسۡلِمُونَ ٢٦ وَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَسَآءَلُونَ ٢٧ قَالُوٓاْ إِنَّكُمۡ كُنتُمۡ تَأۡتُونَنَا عَنِ ٱلۡيَمِينِ ٢٨ قَالُواْ بَل لَّمۡ تَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ ٢٩ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيۡكُم مِّن سُلۡطَٰنٖۖ بَلۡ كُنتُمۡ قَوۡمٗا طَٰغِينَ ٣٠ فَحَقَّ عَلَيۡنَا قَوۡلُ رَبِّنَآۖ إِنَّا لَذَآئِقُونَ ٣١ فَأَغۡوَيۡنَٰكُمۡ إِنَّا كُنَّا غَٰوِينَ ٣٢ فَإِنَّهُمۡ يَوۡمَئِذٖ فِي ٱلۡعَذَابِ مُشۡتَرِكُونَ ٣٣ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَفۡعَلُ بِٱلۡمُجۡرِمِينَ ٣٤ إِنَّهُمۡ كَانُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَهُمۡ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسۡتَكۡبِرُونَ ٣٥ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوٓاْ ءَالِهَتِنَا لِشَاعِرٖ مَّجۡنُونِۭ ٣٦ بَلۡ جَآءَ بِٱلۡحَقِّ وَصَدَّقَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٣٧ إِنَّكُمۡ لَذَآئِقُواْ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَلِيمِ ٣٨ وَمَا تُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٣٩﴾

[٢٢-٢٦] [نو بیا الله تعالی ملائکو ته حکم کړي او ورته وایي:] هغو کســانو چې تیرئ وکه [یعني کافران ســول] دوی او میرمنې یې د هغو بتانو

سره يوځای راغونډ کړی چې د الله نه پرته يې د هغوی عبادت او بنده کې کړه، نو بيا دوی د دوزخ لارې ته ورسـوم کړی او په جيل کې يې واچوی او بنديان يې کړی، ځکه دوی په کلکه سـره د خپلو ټولو کړنو او و يناوو نه په دنيا کې مسـئوول دي او پوښـتل کيږي! او بيا ورته و يل کيږي: اوس ولې تاسې د يو بل مرسته نکړی؟ [ځواب دا چې] بلکې دوی نن نور د الله حکم ته تسليم سوي دي، يعنی هيڅ څه کړای نسي او د الله تعالی ټول حکمونه ور باندې پلي کيږي او جاري کيږي!

[٢٧-٣٢] نو بيا کافران يو بل ته مخ اړوي او سـره پوښـتي [يعنی يو بل ملامتوي او کشـران مشـرانو ته وايي:] تاسې د ښې خوا نه [چې پکې ډاډمن وی] مونږ تـه راتلی [يعنی مونږ مو کفر تـه رابللو، نو بيـايې بـاداران يـا مشـران ورته په ځواب کې] وايي: نا داسـې نوه، تاسـې خپله مومنان نوی [يعنی کفر ته مو زور واهه] او مونږ پر تاسـې باندې څه زور يا ځواک نه درلود، بلکې تاسې خپله [د حق او د ايمان راوړو نه] يو سـرکښ قوم وی، نو بيا پر مونږ ټولو باندې د زمونږ لوی رب الله حکم لازم سه چې د جهنم عذاب به هرومرو څکو[نو دا چې مونږ پخوا نه د حق لارې او ايمان راوړو نه اوښتي] او سرکښ وو، نو تاسې هم مونږ د سمې لارې نه ورک کړی!

[٣٣] نو يقينا چې دوی به ټول په عذاب څکلوکې سـره يوځای او ګډ وي، يعنی د کافرانو او ګناه ګارانو مشـران او کشـران به د قيامت په ورځ په عذاب ګاللوکې سره يوځای کيږي، لکه څنګه چې په دنيا کې يوځای ول.

[٣٤-٣٦] هو! يقينا چې مجرمانو او کافرانو ته مونږ همداسـې سـزا ورکوو! ځکه کله چې به دوی ته په دنيا کې وو يل سول چې د الله نه پرته په حق سره بل معبود نسته، نو دوی به يقينا کبر وکه [يعنی ځانو نه بې غټ و بلل او د حق منلو نه بې ور بوزونه اړول] او و يل بې چې آيا مونږ خپل خدايان د يوه ليوني شـاعر په خوله پر يږدو؟ يعنی کافرانو (العياذ بالله) پيغمبرﷺ ليونئ شـاعر باله، نو بيا الله تعالی د مکې کافرانو چا تور رد کړئ او فرمايلي دي:

[٣٧] [نا! د کافرانو خبره سـمه نه ده] بلکې رسـول الله دوی ته د حق

پیغام راوړئ دئ او د الله توحید او یو والي ته په رابلنه کې یې د پخوانیو پیغمبرانو تصدیق او تایید کړئ دئ، یعنی داچې دا پیغام د ټولو پخوانیو پیغمبرانو پیغام خپلو ولسونو ته ؤ او په هغه کې هیڅ شك او شبه نسته.

[۳۸-۳۹] او یقینا چې تاسې به ای کافرانو! د قیامت په ورځ دردونکئ عذاب او کلکه سزا وڅکی، او دا سزا تاسې ته په آخرت کې ستاسې د بدو کړنو او کفر له کبله درکول کیږي، یعنی پر تاسې باندې ای کافرانو او ګناه ګارانو! هیڅ ډول ظلم او تیرئ نکیږي، او د هرچا کړنې د الله تعالی عدالت په ټله تلل کیږي، او بیا هرچا ته خپل ثواب او سزا ورکول کیږي.

{د قیامت په ورځ د الله مخلصو بنده ګانو ژوندئ انځور}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې د خپلو مخلصو بنده ګانو لوړ مقام د قیامت په ورځ بیان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿٤٠﴾ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُومٌ ﴿٤١﴾ فَوَٰكِهُ وَهُم مُّكْرَمُونَ ﴿٤٢﴾ فِى جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٤٣﴾ عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴿٤٤﴾ يُطَافُ عَلَيْهِم بِكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍۭ ﴿٤٥﴾ بَيْضَآءَ لَذَّةٍ لِّلشَّٰرِبِينَ ﴿٤٦﴾ لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنزَفُونَ ﴿٤٧﴾ وَعِندَهُمْ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ عِينٌ ﴿٤٨﴾ كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ ﴿٤٩﴾ فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٥٠﴾﴾

[٤٠ - ٤٤] خو د الله هغه مومن بنده ګان چې د دغسې سخت عذاب نه خلاص ســوي دي؛ دوی ته په جنت کې معلومه ســوې روزي ورکول کیږي، او هغه د جنت میوې دي او دوی به د نعمتونو او میوونه ډکو جنتونوکې عزتمن وي او یو بل ته به مخامخ پر کټو ناست وي.

[٤٥-٤٧] او د جنتونو پاک او خوندورو ســپین څښــاکونه [یعنی شوډې] به پر څکونکو باندې ګرځول کیږي، او دغه شر بت به نه د دوی عقل او اوښ له منځه وړي او نه به دوی مســتوي، یعنی د جنت شــراب د دنیا شرابو غوندې ندي چې څکونکئ مست او بې اوښه کړي.

[٤٨-٤٩] او د جنتیانو په مخکې به د جنت هغه حورې ناســتې وي چې

د خپلو میړونه پرته بل هیڅ چا ته نه کوري، او لکه هګۍ یا او یه به سپینې وي، یعنی د بل هیڅ چا لاس به په دغو سپینو حورو باندې نه وي لږ یدلئ!

[٥٠] او بیا دا جنتیان یو بل ته مخ اړوي او پوښتنې سره کړي، یعنی د یو بل سره روغبړ کړي او د یو بل حال نه ځان خبروي، ترڅو پوه سي چې الله تعالی څومره نعمتونه پر دوی باندې پیرزو کړل او لوی لوی جنتونه یې د دوی په برخه کړل.

هو! درندو دوســتانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې مونږ ته د قیامت ورځې د در یدو او بیا په جنت کې مومنانو ته د خپلو نعمتونو ژوندئ ځلاند انځور یا تصــو یر وړاندې کړئ دئ، نو ښــایي چې ورڅخه ګټه واخلو او خپل مســئوولیت په ژوند کې د قرآني لارښــودنو په رڼا کې ترسره کړو، ترڅو د جنت لوړ مقام وګټو.

{د جنتي مومن مرکې انځور د خپل کافر ګاونډي سره}

او په ور پســې مبارکو آیتونوکې الله تعالی په خپل علم ســره د خپل جنتي مومن بنده په ژ به هغه خبرې او مرکه یاده کړې ده چې مومن بنده د خپل کافر ګاونډي سره په دنیا کې کړې وه، او بیایې دا مرکه په جنت کې خپلو جنتیانو ملګرو سره وکړه او مقصدیې د قیامت ورځې یقیني راتګ ؤ، ځکه د بشــر یت په تار یخ کې د قیامت راتګ نه انکار د ټولو ســرکښــو امتونو ګډ خوی، تار یخ او شــعار ؤ، او د پیغمبرانو دغــې پیغام ســره ټولو کافرانو کلک مخالفت کړئ دئ، خو د ډیرو زړونه بیا الله تعالی رڼا کړي دي او د قیامت په ورځ یې ایمان راوړئ دئ، او د دغې مرکې په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿قَالَ قَآئِلٌ مِّنۡهُمۡ إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٞ ٥١ يَقُولُ أَءِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُصَدِّقِينَ ٥٢ أَءِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَدِينُونَ ٥٣ قَالَ هَلۡ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ ٥٤ فَٱطَّلَعَ فَرَءَاهُ فِي سَوَآءِ ٱلۡجَحِيمِ ٥٥ قَالَ تَٱللَّهِ إِن كِدتَّ لَتُرۡدِينِ ٥٦ وَلَوۡلَا نِعۡمَةُ رَبِّي لَكُنتُ مِنَ ٱلۡمُحۡضَرِينَ ٥٧ أَفَمَا نَحۡنُ بِمَيِّتِينَ ٥٨ إِلَّا مَوۡتَتَنَا ٱلۡأُولَىٰ وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِينَ ٥٩ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ٦٠ لِمِثۡلِ هَٰذَا فَلۡيَعۡمَلِ

ٱلۡعَٰمِلُونَ ٦١ أَذَٰلِكَ خَيۡرٞ نُّزُلًا أَمۡ شَجَرَةُ ٱلزَّقُّومِ ٦٢ إِنَّا جَعَلۡنَٰهَا فِتۡنَةٗ لِّلظَّٰلِمِينَ ٦٣ إِنَّهَا شَجَرَةٞ تَخۡرُجُ فِيٓ أَصۡلِ ٱلۡجَحِيمِ ٦٤ طَلۡعُهَا كَأَنَّهُۥ رُءُوسُ ٱلشَّيَٰطِينِ ٦٥ فَإِنَّهُمۡ لَأٓكِلُونَ مِنۡهَا فَمَالِـُٔونَ مِنۡهَا ٱلۡبُطُونَ ٦٦ ثُمَّ إِنَّ لَهُمۡ عَلَيۡهَا لَشَوۡبٗا مِّنۡ حَمِيمٖ ٦٧ ثُمَّ إِنَّ مَرۡجِعَهُمۡ لَإِلَى ٱلۡجَحِيمِ ٦٨ إِنَّهُمۡ أَلۡفَوۡاْ ءَابَآءَهُمۡ ضَآلِّينَ ٦٩ فَهُمۡ عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمۡ يُهۡرَعُونَ ٧٠ وَلَقَدۡ ضَلَّ قَبۡلَهُمۡ أَكۡثَرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٧١ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا فِيهِم مُّنذِرِينَ ٧٢ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُنذَرِينَ ٧٣ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ٧٤

[٥١-٥٣] [او د دغو جنتيانو نه بيا يو مومن بنده] وو يل: هو! يقينا چې په دنيا کې د زما يو ګاونډئ ؤ چې و يل بې: ای مومنانو! آيا تاسې د قيامت په ورځ د مړو په بيرته راژوندي کيدو باندې په ر يښتيا سره د باور کونکو نه ياستئ او هغه منئ؟ [او بيا هغه ز ياته کړه و يو يل:] آيا کله چې مونږ مړه سو او خاورې او اډوکې سو [نو آيا بيا به بيرته راژوندي کيږو؟] او مونږ به يقينا محاکمه کيږو؟ يعنی په خپل فکر او عقيده او په بدو کړنو به سزا را کول کيږي، حساب به راڅخه اخستل کيږي؟

[٥٤-٥٥] [نو بيا همدې مومن جنتي بنده خپلو ملګرو ته] وو يل: آيا تاسې غواړئ چې دا اوس د زما دې ګاونډي برخليک نه خبر سئ او هغه وو ينئ چې دئ په څه حال کې دئ؟ نو بيا چې يې کله وکتل، نو خپل هغه کافر ګاونډئ يې د دوزخ اور په سرو لمبوکې وليده!

[٥٦-٥٧] نو بيا همدې مومن بنده په خپل دوزخي ګاونډي باندې غږ وکه او ورته و يو يل: قسم په الله چې لنډه وه؛ ته ما دې اور ته وروغورځوي او هلاک مه کړي، او که پر ما باندې د زما رب او لوی څښتن پيرزو ينه نه وای، نو اوس به زه هم د ستا غوندې په دوزخ کې د حاضر سوو کسانو نه وم، يعنی دا چې دا دئ زه اوس د الله په لوی فضل سره چې ايمان يې راباندې پيرزو که؛ د دوزخ په سره اور کې د کړ يدلو نه خلاص سوم او نجات مه يباموند.

[٥٨-٦١] [او بيا همدې مومن بنده د ډيرې خوښۍ نه په تعجب سره و پوښتل] نو آيا مونږ به د لمړۍ ځل مړ ينې نه په دنيا کې بيا هم مړه کيږو، او سزا به راکول کيږي؟ ځواب دا چې هو! مونږ به همداسې په تل پاتې نعمتونوکې يو او خوند به ورځخه اخلو، او يقينا چې دا ده لو يه بر يا! نو ښايي چې دې لوړ مقام ته د رسيدو لپاره په دنيا کې ټول خلک کار وکړي، يعنی ايمان راوړي او د الله بنده کې په اخلاص سره وکړي.

او بيا الله تعالى د جنتيانو او دوزخيانو په منځ کې تو پير بيان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

[٦٢] او آيا دا د جنتيانو پالنه او نازول چې هغه الله ور باندې پيرزو کړل غوره او ښه دي؟ او که د دوزخيانو خواړه چې هغه د زقوم ترخې ونې نه دي؟ يعنی ځواب دا چې يقينا جنتيان ښه دي، ځکه دوی په لوی نعمت کې دي او ورځخه خوند اخلي.

[٦٣] هو! يقينا چې دغه د زقوم ونه کافرانو ته مونږ د ازمايښت سبب وګرځوله، يعنی دوی ور باندې خپل ځانونه په ګناه کې واچول او د ډير پسخند نه يې وو يل: محمد وايي چې په اور کې يوه ونه ده او دوزخيان يې خوري! يعنی د زقوم ونه د دوزخيانو خواړه دي.

[٦٤-٦٨] او دغه ونه په ر ښتيا چې داسې يوه ونه ده چې د دوزخ په زوَره کې راشنه کيږي او غوټې يې، لکه د شيطان سرونه دي او دوزخيان د دغې ونې ميوه خوري او خپل نسونه ور باندې ډکوي، او بيا د سرو او بو ګډوله ځښاک د پاسه ور باندې څکې او بيا بيرته دوزخ ته ورګرځول کيږي.

[٦٩-٧٠] او يقينا چې کافرانو خپل پلرونه په کفرکې او د سمې لارې نه په ورکتيا کې بياموندل، نو بيا دوی د هغو په پله پسې په منډو سول.

[٧١-٧٢] او د دغو کافرانو نه مخکې ډير پخواني ولسونه د حق نه بې لارې او ورک سول؛ حال دا چې دوی ته د قيامت ورځې سزا يا عذاب نه مونږ ګواښونکي پيغمبران را ليږلي ول، يعنی خو دوی کافران سول او پيغمبران يې ونه منل!

[٧٣] نو ای پيغمبره! وګوره [يعنی ښه فکر وکړه] چې بيا د دغو

سرکښو ولسونو را تلونکې څنګه وه؟ یعنی دا چې بیا دوی ته کلکه سزا ورکړه سوه او هلاک سول!

[٧٤] او یوازې د الله مخلصو بنده ګانوچې ایمان یې راوړ نجات بیاموند او د هلاکت او سزا نه خلاص سول.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی مونږ ته په دغو مبارکو آیتونو کې د کافرانو او مومنانو په منځ کې د آخرت ورځې د راتلو په باره کې چې کافران ورڅخه منکر ول؛ د هغې مرکې او بحث ژوندئ تصو یر وړاندې کړئ دئ چې یوه جنتي مومن بنده دا قصه خپلو ملګرو سره په جنت کې کړې ده، او بیا الله تعالی د جنتیانو او د دوزخیانو په منځ کې مقایسه یا پرتله کړې ده او په پوره یقین سره یې جنتیان بر یالان او سرلوړي بللي دي او د کافرانو تورې راتلونکې ډیر ځلانده تصو یر یا انځوریې وړاندې کړئ دئ، نو یقینا چې دا روښانه اسماني بیان د هوښیار سړي او ښځې لپاره د زدکړې او د پند اخستلو ډیر غوره درس او سبق دئ، او د خلاصون او نجات یوازنی لار ایمان راوړ او ښه عمل دئ.

{نوح عليه السلام ته الله نجات ورکه او کافرقوم یې طوفان کې ډوب که}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې د نوح عليه السلام قصه خپل سرکښ قوم سره د بیلګې په ډول یاده کړې ده، او بیاې د ابراهیم او د موسی علیهما السلام قصې او ور پسې یې د قرآن کر یم دعوتي مقصدونو او اهدافو سره سم؛ د ځینې نورو پیغمبرانو قصې لنډې لنډې یادې کړې دي، ترڅو په وار وار یادولوسره د هرې سورې په رانازلیدلوکې؛ هغه خلکو ته د پند اخستلو سبب وګرځي، ځکه قرآن کریم ورو ورو او بیل بیل رانازل سوئ دئ، نو خلک د هغه په هر وار نازلیدلوکې دغسې یادونو ته اړ دي، ترڅو ورڅخه ګټه واخلي، او همدارنګه اوس هم دغسې یادونو ته مونږ اړ یو، او د دغسې قصو په لوستلو او اور یدلوکې ډیرې ګټې نغښتې دي، نوښایي چې تل یې ولولو او وایې ورو.

درندو دوستانو! د نوح عليه السلام قصې په پیل کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ نَادَىٰنَا نُوحٞ فَلَنِعۡمَ ٱلۡمُجِيبُونَ ٧٥ وَنَجَّيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥ مِنَ ٱلۡكَرۡبِ ٱلۡعَظِيمِ ٧٦ وَجَعَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُۥ هُمُ ٱلۡبَاقِينَ ٧٧ وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ٧٨ سَلَٰمٌ عَلَىٰ نُوحٖ فِي ٱلۡعَٰلَمِينَ ٧٩ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٨٠ إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٨١ ثُمَّ أَغۡرَقۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ٨٢﴾

[٧٥-٧٦] هو! يقينا چې مونږ ته نوح غږ وکه [يعنى د خپل ســرکښ قوم پر وړاندې يې راڅخه مرسته وغوښتله] نو بيا مونږ د هغه غوښتنو ته ښه ځواب ورکونکي وو او هغه ته او د هغه کورنۍ ته مونږ د لوی عذاب نــه نجــات ورکــه، يعنى نوح عليه السلام او د هغــه کوول مومنــان اللــه تعــالى د غرقيدلو او په طوفان کې د ډوبيدو نه خلاص کړل او يوازې د نوح قوم سرکښه مشران کافران يې پدې لوی طوفان کې ډوب او هلاک کړل.

[٧٧-٧٩] او يوازې د نوح کوول مونږ ژوندي پر يښــودل او د نوح نيک نوم په نورو راتلونکو ولســونوکې مونږ [يادګار] پر يښــود، نو پر نوح باندې ده د ټول جهان په منځ کې سلام وي، يعنى نوح صلى الله عليه وسلم به تل ښــه يادېږی او د بد ياداښت نه به په امن کې وي.

[٨٠- ٨٢] او يقينا چې مونږ همداســي د ښــو کړنو خاوندانو ته ښــه ثواب او نيک نوم ورکوو،او نوح يقينا د زمونږ مومنانو بنده ګانو نه ؤ، او د مومنانو نه پرته نور ټول خلک مونږ د او بو په طوفان کې ډوب کړل.

{ ابراهيم عليه السلام پر خپل قوم باندې زړه سوانده ؤ}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د ابراهيم عليه السلام ښــه يادونه کړې ده او هغه يې په خپل بوت پرســت قوم باندې ښــه کلک زړه ســوانده پيغمبر ياد کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿* وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِۦ لَإِبۡرَٰهِيمَ ٨٣ إِذۡ جَآءَ رَبَّهُۥ بِقَلۡبٖ سَلِيمٍ ٨٤ إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦ مَاذَا تَعۡبُدُونَ ٨٥ أَئِفۡكًا ءَالِهَةٗ دُونَ ٱللَّهِ تُرِيدُونَ ٨٦ فَمَا ظَنُّكُم بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٨٧ فَنَظَرَ نَظۡرَةٗ فِي ٱلنُّجُومِ ٨٨ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٞ ٨٩ فَتَوَلَّوۡاْ عَنۡهُ مُدۡبِرِينَ ٩٠ فَرَاغَ إِلَىٰٓ ءَالِهَتِهِمۡ فَقَالَ أَلَا تَأۡكُلُونَ ٩١ مَا لَكُمۡ لَا تَنطِقُونَ

﴿٩٢﴾ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِينِ ﴿٩٣﴾ فَأَقْبَلُوا إِلَيْهِ يَزِفُّونَ ﴿٩٤﴾ قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ ﴿٩٥﴾ وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾

[٨٣-٨٧] او ابراهيم د نوح کلکو پلو يانو نه ؤ، نو بيا چې کله ډئ د شرك او کفر نه په پاک زړه سره خپل رب ته راغئ، نو بيا ابراهيم خپل پلار او خپل قوم [يعنی خپلو تر بورو او عز يزانو ته] وو يل: ای خلکو! تاسې د الله نه پرته بل د چا عبادت او بنده کې کړئ؟ [يعنی دا چې تاسې د الله په ځای چې هغه د ستاسې خالق او پالونکئ څښتن دئ؛ د بتانو عبادت او بنده کې کړئ او دغه د دروغو خدايان پالئ، نو تاسې ای خلکو! څه فکر او ګمان کړئ چې رب العالمين الله به د ستاسې سره څه وکړي؟ ځواب دا چې االله به تاسې ته د کفر او د بتانو عبادت کلکه سزا درکړي!

[٨٨-٩٠] نو بيا ابراهيم په اسمان کې ستورو ته وکتل او وو يل: زه ناروغ يم، نو قوم يې ورځخه بيرته په شا وګرځيده او ابراهيم يې شاته پر يښود، يعنی د ابراهيم عليه السلام خبرو ته يې پام ونکه او هغه يې ونه مانه.

[٩١-٩٢] نو بيا ابراهيم د خپل قوم [په لاس جوړ سوو بتانو او] خدايانو ته ورغئ او ورته يې وو يل: تاسې ولې دغه خواړه چې د ستاسې مخکې ايښي دي نه خورئ؟ او ولې خبرې نکړئ؟ يعنی کله چې څوک درځخه څه شئ پوښتي ځواب نه ورکوئ او خبرې نکړئ؟

[٩٣] نو بيا ابراهيم په ښي لاس پر بتانو باندې وار وکه او ټول يې ډلې ورې او مات کړل.

[٩٤-٩٦] نو بيا د ابراهيم قوم خلک د ډول وهلو په ورا سره ابراهيم ته په منډه راغلل [خو ابراهيم په ډيره سړه سينه دوی ته] وو يل: آيا تاسې د هغو بتانو عبادت کړئ چې هغه تاسې په خپلو لاسونو د شوکانې کټ نه راپرې کړي دي او د خپل هغه رب عبادت پر يږدئ چې تاسې يې پيدا کړئ ياستئ او د هرڅه وسعه يې درکړې ده؟ يعنی د ستاسې دغسې کړنه لو يه غوليدنه ده او تاسې کلک غوليدلې ياستئ!

{ابراهيم عليه السلام ته د اورپه لمبو کې الله تعالی نجات ورکه}

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارکو آيتونوکې د ابراهيم عليه السلام سوزل په

اوركې د هغه مشرك قوم مشرانو په حكم ياد كړي دي، ترڅو چې بيا الله تعالى په خپل لوى قدرت سره هغه سور اور پر ابراهيم عليه السلام باندې سور او يخ كه او ابراهيم عليه السلام ته يې نجات وركه، او په بيان كې فرمايلي دي:

﴿قَالُواْ ٱبۡنُواْ لَهُۥ بُنۡيَٰنٗا فَأَلۡقُوهُ فِي ٱلۡجَحِيمِ ٩٧ فَأَرَادُواْ بِهِۦ كَيۡدٗا فَجَعَلۡنَٰهُمُ ٱلۡأَسۡفَلِينَ ٩٨ وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهۡدِينِ ٩٩ رَبِّ هَبۡ لِي مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ١٠٠ فَبَشَّرۡنَٰهُ بِغُلَٰمٍ حَلِيمٖ ١٠١ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ ٱلسَّعۡيَ قَالَ يَٰبُنَيَّ إِنِّيٓ أَرَىٰ فِي ٱلۡمَنَامِ أَنِّيٓ أَذۡبَحُكَ فَٱنظُرۡ مَاذَا تَرَىٰۚ قَالَ يَٰٓأَبَتِ ٱفۡعَلۡ مَا تُؤۡمَرُۖ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٠٢ فَلَمَّآ أَسۡلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلۡجَبِينِ ١٠٣ وَنَٰدَيۡنَٰهُ أَن يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ ١٠٤ قَدۡ صَدَّقۡتَ ٱلرُّءۡيَآۚ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٠٥ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡبَلَٰٓؤُاْ ٱلۡمُبِينُ ١٠٦ وَفَدَيۡنَٰهُ بِذِبۡحٍ عَظِيمٖ ١٠٧ وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ١٠٨ سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ ١٠٩ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١١٠ إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١١١ وَبَشَّرۡنَٰهُ بِإِسۡحَٰقَ نَبِيّٗا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ١١٢ وَبَٰرَكۡنَا عَلَيۡهِ وَعَلَىٰٓ إِسۡحَٰقَۚ وَمِن ذُرِّيَّتِهِمَا مُحۡسِنٞ وَظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ مُبِينٞ ١١٣﴾

[٩٧] [نو بيا د ابراهيم عليه السلام قوم مشرانو حكم وكه] او وو يل چې يوه ودانه (لوى تنور) ورته جوړه كړئ او په هغه كې اور بل كړئ او په لمبوكې يې ابراهيم واچوئ!

[٩٨] نو بيا د ابراهيم قوم هغه ته داسې يو چل جوړ كه چې دئ پكې له منځه يوسي، خو بيا دوى مونږ لاندې كړل، يعنى الله تعالى د اور نه د سوزلو خاصيت واخست او اوريې پر ابراهيم عليه السلام باندې سور او يخ كه او ابراهيم عليه السلام اور ونه سوځا ؤ او د اور لمبو نه روغ رمټ را ووت، نو يقينا چې دا د الله تعالى د لوى قدرت يوه نښه وه!

[٩٩-١٠١] نو بيا ابراهيم اعلان وكه او و يل: زه خپل رب ته ورتلونكئ يم او ما ته به الله سمه لار راوښيي او دعايې وكړه او و يو يل: اى لو يه

څښتنه! ما ته یو صالح او ښه زوی را و ښه! نو بیا ابراهیم ته مونږ د ډیر صبرناک او حلیم زوی ز یرئ ورکه.

[۱۰۲] نو بیا چې کله د ابراهیم دا زوی (اسماعیل علیه السلام) غټ سه او د خپل پلار سره د تګ سه، نو ابراهیم هغه ته وو یل: ای زوکیه! زه په خوب کې و ینم چې یقینا تا زه ذبح کوم، نو فکر وکړه چې ته څه وایې او د ستا خوښه څه ده؟ نو زوی یې په ځواب کې ورته وو یل: ای پلارجانه! په هرڅه چې تا ته امر سوئ دئ؛ هغسې وکړه او که الله وغوښتل ما به د صابرانو نه بیاموميِ!

[۱۰۳-۱۰۶] نو کله چې دوی دواړه د الله حکم ته تسلیم سول او اسماعیل یې پلار پرمخې پر ځمکه څملا وه، ترڅویې ذبح او حلال کړي، نو بیا مونږ ور باندې غږ وکه چې ای ابراهیمه! تا خپل خوب ر ښتیا که او یقینا چې د ښو کړنو خاوندانو ته مونږ همداسي انعام ورکوو، یعنی د دنیا او آخرت سختیونه یې خلاصوو او یقینا چې دا یو ښکاره ازمایښت ؤ! یعنی الله تعالی پدې خوب سره ابراهیم علیه السلام کلک ازمایښت که او زوی یې روغ او سلامت پاتې سه.

[۱۰۷] نو بیا د اسماعیل په فد یه کې یو غټ مږ مونږ فد یه که، یعنی دا مږ بیا ابراهیم علیه السلام د اسماعیل علیه السلام په ځای قر باني که، او پدې لوی ازمایښت کې الله تعالی دوی دواړه علیهما السلام بر یالي او عزتمن کړل او د څارو یو قر بانی سنت یې مومنانو ته په میراث پر یښودل.

[۱۰۸-۱۰۹] او د ابراهیم ښه نوم مونږ په نورو راتلونکو ولسونوکې همداسي پر یښود، نو سلام ده وي پر ابراهیم باندې، یعنی ابراهیم علیه السلام به الله د هر ډول تیري نه وساتی او سلامتي یې په برخه کړي.

[۱۱۰-۱۱۲] او د ښو کړنو خاوندانو ته مونږ همداسې ثواب او انعام ورکوو، او یقینا چې ابراهیم د زمونږ مومنو بنده ګانو نه ؤ، او ابراهیم ته مونږ د [هغه بل زوی] اسحاق د پیغمبرۍ ز یرئ ورکه او اسحاق به د ښو خلکو نه وي.

[۱۱۳] او پر ابراهیم او اسحاق باندې مونږ برکت را نازل که، نو د

دوی د کوول نه به یو څوک ښـــه ســړئ وي او بل څوک به په خپل ځان باندې ښــکاره تیرئ کونکئ وي، یعنی د پیغمبرانو کوول نه به څوک مومن او څوک به کافر وي!

قدرمنو دوســتانو! پدې مبارکو آیتونوکې مونږ ته الله تعالی په ډیره روښتیا سره د ابراهیم علیه السلام او د هغه دوه زامنو اسماعیل او اسحاق علیهما السلام هغه لوړ مقام راپیژندلئ دئ چې د پیغمبرانو مقام سره ښایي، ترڅو دوی پســې اقتدا وکړو او پر پلونوپې لاړ ســو، نو ځکه کله چې محمد صلی الله علیه وسلم چې د هغه نسب لړی د اسماعیل علیه السلام نه ابراهیم علیه السلام ته رسیږي؛ پیغمبر ســه، نو محمد صلی الله علیه وسلم ابراهیمي توحید او ســنت د الله تعالی په حکم په خپل امت کې راژوندي کړل، او دا ابراهیمي ســنت بــه د قیامت ورځې پورې همداســې پاتې وي، او هرکال به ملیونو نه مومنان د قر بانی ابرهیمي سنت په حج کې په مکه معظمه کې او د لوی اختر په ورځوکې به قر باني د نړۍ په ګوډ ګوډ کې پالي او مومنان به قر بانی کړي!

{موسی علیه السلام او قوم یې د الله په فضل د ظلم نه خلاص سول}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی خپل لوی احسان پر موسی او د هغه ورور هارون علیهما السلام باندې یاد کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿١١٤﴾ وَنَجَّيْنَاهُمَا وَقَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ ﴿١١٥﴾ وَنَصَرْنَاهُمْ فَكَانُوا هُمُ الْغَالِبِينَ ﴿١١٦﴾ وَآتَيْنَاهُمَا الْكِتَابَ الْمُسْتَبِينَ ﴿١١٧﴾ وَهَدَيْنَاهُمَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿١١٨﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا فِي الْآخِرِينَ ﴿١١٩﴾ سَلَامٌ عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿١٢٠﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١٢١﴾ إِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٢٢﴾ ﴾

[١١٤-١١٦] او یقیناچې پر موسی او هارون باندې مونږ لوی احسان وکه، او ډیر ښه مونږ ورسره وکړل، او دوی دواړه او د دوی قوم (بني اسرائیل) مونږ د لویې ستونزمنې سختۍ نه خلاص کړل او مونږ د دوی مرسته وکړه [یعنی موسی علیه السلام او قوم یې د فرعونیانو غلامۍ نه او په سمندرکې د ډوبیدونه د الله په مرسته نجات بیاموند] نو بیا دوی زورور

سول، یعنی لوی دښمن یې فرعون د خپلو لښکرو سره د سمندر په لوی سیند کې ډوب او هلاك سول.

[١١٧-١١٩] او ښــه ځلانده بیانونکئ کتاب (تورات) مونږ موســی او هارون ته ورکه او دوی دواړه مونږ په سمه لار[چې یوازې د الله بنده ګی ته تســلیدل دي] روان کړل او د دوی ښــه نوم او ښــه یاد مونږ په نورو امتونو او ولسونوکې تل پاتې پر یښود او پکې خور سه.

[١٢٠-١٢٢] نو پر موسـی او هارون ده سـلام وي، او یقیناچې د ښــو کړنو خاوندانو ته مونږ همداسې ښه ثواب ورکوو [یعنی عزت یې په برخه کوو] او یقینا چې موسـی او هارون د زمونږ مومنو بنده ګانو نه ول، یعنی نو ځکه دوی ته الله تعالی د پیغمبرۍ دا لوی مقام ورکه.

ګرانو دوســتانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې د نوح او بیا د ابراهیم او بیا د موسی او د وروریې هارون علیهم السلام؛ د پیغمبرۍ او د دوی سره د الله تعالی د مرستې لنډه یادونه کړي ده، او مقصدیي رسـول الله ﷺ ته او بیا د هغه امت ټولو علماوو او اسلام ته را بلونکو دعاتو ته د ستونزو پر وړاندې د تسلیت او د ډاډ ګیرنې ښکاره او پر یکنده پیغام دئ، او هغه دا چې د الله تعالی مرسته، نصرت او بیا فتحه او بر یا رسـول الله ﷺ ته او ور پسې د هغه د امت مخلصو دعاتو ته حتمي او یقیني ده، لکه څنګه چې الله تعالی نوح، ابراهیم او موســی علیهم الســلام پر خپلو کافرانو ولسونو او د الله تعالی فرمان نه سرکښه دښمنانو باندې برلاسي او زورور کړل، او همداسې د اسـلام پیغمبر او د هغه امت دعاتو ته الله تعالی نصرت او فتحه ورکړه، او الله تعالی خپل پیغمبر ﷺ ته او د اسـلام په اوږده تار یخ کې مخلصــو مومنانو ته تل بر یا او فتحه ورکړې ده او دښـمن یې کلک مختورن مات سـوئ دئ، او ژوندۍ بیلګې یې په یوه پیړۍ یـا قرن کې د افغـان ولس مظلومو مجـاهـدینو بر یـا پر درې نړۍ والو یرغلګرو امپراتور یو بـانـدې وه، یعنی پر انګلیس، روس او د امریکـا پـه مشرۍ د ناتو پر لښکرو؛ او دا ټول ښکلاکګر د ١٩١٩م کال نه تر ٢٠٢١م کال په اوږدوکې مات سول او نړۍ والې واکمنۍ یې مخ په ختمیدو سوې.

{د الياس عليه السلام د پيغمبرۍ لنډه يادونه او ستاينه}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د الياس عليه السلام پيغمبري ياد کړي دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَإِنَّ إِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾ أَتَدْعُونَ بَعْلًا وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ الْخَالِقِينَ ﴿١٢٥﴾ اللَّهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٢٦﴾ فَكَذَّبُوهُ فَإِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٢٧﴾ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿١٢٨﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ﴿١٢٩﴾ سَلَامٌ عَلَىٰ إِلْ يَاسِينَ ﴿١٣٠﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١٣١﴾ إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٣٢﴾﴾

[١٢٣] او يقيناچې الياس د زمونږ پيغمبرانو استازو نه؛ يو استازئ ؤ.

[١٢٤-١٢٦] [اى مومنانو! او هغه وخت راپه ياد کړى] کله چې الياس خپل قوم (بني اسرائيلو) ته وو يل: آيا تاسې د الله سزا نه ځانونه نه ساتى؟ [يعنى د عذاب نه يې نه و ير يرى؟ بلکې ښايي د الله نه په و يرې سره د آخرت ورځې عذاب نه خپل ځانونه په ښو کړنو سره وساتى] او اى کافرانو! آيا تاسې د هغه بوت عبادت او بنده کې کړى چې نوم يې بعل دئ، او د ډير لوى او غوره پيدا کونکي رب الله عبادت او بنده کې پر يږدى؟ هو! الله د ستاسې رب او لوى څښتن دئ او هغه همداسې د ستاسې لمړ يو نيکونو رب او څښتن ؤ!

[١٢٧-١٣٢] نو بيا د الياس قوم خپل پيغمبر دروغژن و باله، نو دوى به خامخا د الله حضور ته د قيامت په ورځ راوستل کيږي [يعنى ترڅو د خپلو بدو کړنو او د کفر حساب ورکړي او سزايې وګالي] او د الله مخلص بنده ګان به نجات مومي [يعنى د عذاب نه به خلاصيږي] او د الياس ستاينه مونږ د هغه نه وروسته په راتلونکو امتونوکې همداسې پر ښوده، نو سلام ده پرالياس باندې وي، او يقينا چې د ښو کړنو خاوندانو ته مونږ ثوابونه ورکوو [يعنى په خپلو پيرزو ينويې نازو] او ر ښتيا چې الياس د زمونږ مومنانو بنده ګانو نه دئ.

{لوط او کورنۍ يې د زړې ښځې نه پرته الله د عذاب نه وساتل}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د لوط عليه السلام لنډه يادونه کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿وَإِنَّ لُوطًا لَّمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٣٣﴾ إِذْ نَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ أَجْمَعِينَ ﴿١٣٤﴾ إِلَّا عَجُوزًا فِى ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿١٣٥﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا ٱلْءَاخَرِينَ ﴿١٣٦﴾ وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِم مُّصْبِحِينَ ﴿١٣٧﴾ وَبِٱلَّيْلِ ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٣٨﴾﴾

[١٣٣-١٣٦] او يقينا چې لوط د پيغمبرانو نه دئ [نو ای خلکو! هغه وخت راپه ياد کړئ] کله چې لوط ته او د هغه ټولې کورنۍ ته مونږ پرته د هغه زړې ښځې نه چې هغه په هلاك سوو کافرانوکې وه؛ نجات ورکه [يعنى دوى الله تعالى د هغه لوى عذاب نه خلاص کړل چې د لوط پر بد کار او فاحش قوم باندې يې را کوز که] او بيا د لوط قوم نور کسان [چې کافران ول او د ښځو پرځای يې نار ينوو نه جنسي خوند اخست] دوى ټول مونږ هلاك کړل.

[١٣٧-١٣٨] او تاسې ای د مکې خلکو! سحر او بيګا او د شپې لخوا د دغو هلاك سوو خلکو په کليو باندې تيريږئ را تيريږئ، نو آيا خپل عقلونه په کار نه اچوي او پکې ښه ژور فکر نکړئ؟ يعنى داچې ښايي ژور فکر وکړئ او ايمان راوړئ، کنه نو تاسې به هم د هغوى غوندې د خپل کفر په سزا هلاك سئ!

{يونس عليه السلام د الله پيغمبر ډکې بيړۍ ته وتښتيده}

او بيا الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونوکې د يونس عليه السلام قصه ياده کړې چې د خپل سرکښ ولس نه ډکې بيړۍ ته وتښتيده، او فرمايلي دي:

﴿وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٣٩﴾ إِذْ أَبَقَ إِلَى ٱلْفُلْكِ ٱلْمَشْحُونِ ﴿١٤٠﴾ فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ ٱلْمُدْحَضِينَ ﴿١٤١﴾ فَٱلْتَقَمَهُ ٱلْحُوتُ وَهُوَ مُلِيمٌ ﴿١٤٢﴾ فَلَوْلَآ أَنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُسَبِّحِينَ ﴿١٤٣﴾ لَلَبِثَ فِى بَطْنِهِۦٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٤٤﴾ فَنَبَذْنَٰهُ بِٱلْعَرَآءِ

وَهُوَ سَقِيمٌ ﴿١٤٥﴾ وَأَنۢبَتۡنَا عَلَيۡهِ شَجَرَةٗ مِّن يَقۡطِينٖ ﴿١٤٦﴾ وَأَرۡسَلۡنَٰهُ إِلَىٰ مِاْئَةِ أَلۡفٍ أَوۡ يَزِيدُونَ ﴿١٤٧﴾ فَـَٔامَنُواْ فَمَتَّعۡنَٰهُمۡ إِلَىٰ حِينٖ ﴿١٤٨﴾

[١٣٩-١٤١] او يقينا چې يونس د پيغمبرانو نه ؤ[يعنى دئ الله تعالى خپل استاز يتوب ته غوره كړى ؤ] نو بيا چې كله دئ د خپل قوم نه خفه وتښتيده او په سمندركې د سپرليو نه په يوه ډكه بيړى كې سپور سه، نو كله چې بيا د سپرليو نه ډكه بيړى د ډير درنښت نه د ډو بيدو ګواښ لاندې راغله، نو د سپكولو لپاره يې سپورليو په خپل منځ كې سره] قرعه (چک) واچاوه، نو په قرعه كې د يونس نوم د ځپل سوو كسانو نوم لړكې راووت، يعنى ښايي د دوى په كوز يدو سره د بيړى دروندوالئ سپک سي، ترڅو د نورو ټولو سپورليو ډو بيدو مخنيوئ وسي.

[١٤٢] [او بيا چې كله يونس عليه السلام سمندر ته وروغورځول سه] نو نهګ هغه په يو غړپ سره په خوله ننه و يست، ځكه يونس د خپل قوم نه په تښتيدو سره ملامت ؤ، يعنى يونس عليه السلام د خپل لوى رب حكم نه تښتيدلئ ؤ او يونس عليه السلام الله تعالى خپل قوم ته پيغمبر را ليږلئ ؤ او پيغمبرانو ته نه ښايي چې بې صبره سي او د الله تعالى بنده ګى ته د خپل قوم رابلنې په لار كې ستونزې ونه زغمي، نو يقينا چې دا قصه د پيغمبرانو لارو يانو ته د تل پاتې لارښودنو او زدكړو نه ډكه قصه ده.

[١٤٣-١٤٤] نو كه يونس د الله تسبيحاتو و يونكو او ستايونكو نه نواى، نو همداسې به د نهنګ په ګيډه كې د قيامت ورځې پورې د بيرته راجګيدو نه پاتې ؤ.

[١٤٥-١٤٦] [او دا چې يونس عليه السلام د الله تسبيح و يلې او الله يې په پاكى سره ستايه] نو بيا دئ مونږ د نهنګ ګيډې نه په را و يستلو سره چې كلک ناروغ ؤ؛ د سمندر ساحل ته په لوڅه وچه كې وروغورځا ؤ او د كدو ونه مونږ ور باندې راشنه كړه، يعنى دا چې ترڅو د هغې په سورې كې پروت ورڅخه ګټه وا خلي او ځپل سوئ زخمي ځان يې روغ سي.

عزتمنو دوستانو! روايت سوئ دئ چې يونس عليه السلام د نهګ په نس كې دعاء وكړه او و يو يل: [لا إله إلا أنت سبحانك إني كنت من الظالمين] اى

لو يه څښتنه! د ستا نه پرته په حق سره بل معبود نسته او ته د هر نقصان او عيب نه پاک لوی ذات يې، او زه يقينا چې د ظالمانو نه وم، يعنی زه د خپل قوم په دعوت کې بې صبره سوم، نو ورځخه وتښتيدلم او راته سپارل سوې دنده او رسالت ما پر ښود!

ګرانو دوستانو! نو ښايي چې د الله تعالی توحيد ته رابلونکي دعات د ستونزو پر وړاندې صبر وکړي او په کلک تصميم او قوي عزم او پخې ارادې سره؛ خپل دعوت په مخ يوسي او د الله رحمت او نصرت نه هيڅ کله ناهيلې نسي.

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د يونس عليه السلام د پيغمبرۍ په بيان کې فرمايلي دي:

[١٤٧-١٤٨] او يونس مونږ سل زره او يا د سلو زرو نه لږ ډيرو خلکوته خپل استازئ راولېږه، نو بيا دوی ايمان راوړ او د يونس پيغمبري يې ومنله، او مونږ دوی د ټاکل سوي وخت او نيټې پورې؛ د ژوند نعمتونو خوند اخستلو نه برخمن کړل.

ګرانو عز يزانو! دا د پخوانيو پيغمبرانو قصې ټولې د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه امت لپاره د زده کړې او د پند اخستلو پاخه درسونه او سبقونه دي، او د الله تعالی لوی نصرت او مرستې هغه ډاډ دئ چې ښايي د الله تعالی حق دين اسلام لارښودنو ته يې هر دعوتکونکئ په پام کې ونيسي او پر الله تعالی باندې توکل وکړي، او په پاخه يقين او باور سره خپل دعوت په مخ يوسي او هيڅکله ستړئ او ناهيلې نسي.

{الله د مکې خلکو هغه تورغندلئ چې ملائکې يې د الله لونې بللې}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د اسلام پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم ته د مشرکانو سره په بحث او استدلال سپارښت کړئ دئ، او د دوی ناحقه تورونه يې د الله په شان کې غندلي او رد کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿فَٱسۡتَفۡتِهِمۡ أَلِرَبِّكَ ٱلۡبَنَاتُ وَلَهُمُ ٱلۡبَنُونَ ١٤٩ أَمۡ خَلَقۡنَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ إِنَٰثٗا وَهُمۡ شَٰهِدُونَ ١٥٠ أَلَآ إِنَّهُم مِّنۡ إِفۡكِهِمۡ لَيَقُولُونَ ١٥١ وَلَدَ ٱللَّهُ

وَإِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿١٥٢﴾ أَصْطَفَى ٱلْبَنَاتِ عَلَى ٱلْبَنِينَ ﴿١٥٣﴾ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿١٥٤﴾ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٥﴾ أَمْ لَكُمْ سُلْطَٰنٌ مُّبِينٌ ﴿١٥٦﴾ فَأْتُوا۟ بِكِتَٰبِكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٥٧﴾ وَجَعَلُوا۟ بَيْنَهُۥ وَبَيْنَ ٱلْجِنَّةِ نَسَبًا وَلَقَدْ عَلِمَتِ ٱلْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٥٨﴾ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٥٩﴾ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿١٦٠﴾ فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ﴿١٦١﴾ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ بِفَٰتِنِينَ ﴿١٦٢﴾ إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ ٱلْجَحِيمِ ﴿١٦٣﴾ وَمَا مِنَّآ إِلَّا لَهُۥ مَقَامٌ مَّعْلُومٌ ﴿١٦٤﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ ٱلصَّآفُّونَ ﴿١٦٥﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ ٱلْمُسَبِّحُونَ ﴿١٦٦﴾ وَإِن كَانُوا۟ لَيَقُولُونَ ﴿١٦٧﴾ لَوْ أَنَّ عِندَنَا ذِكْرًا مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٦٨﴾ لَكُنَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿١٦٩﴾ فَكَفَرُوا۟ بِهِۦ ۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿١٧٠﴾

[١٤٩-١٥٠] نو ته ای پیغمبره! د مکې کافرانو نه چې دوی ملائکې د الله لونې بولي و پوښته چې آیا د ستاسې رب الله لونې لري او دوی ته الله زامن ورکړي دي؟ او یا دا چې کله ملائکې مونږ ښځې پیدا کړې او دوی [یعنی د مکې کافران] هلته تیار ناست شاهدان ول؟ یعنی څنګه به غوره وي چې الله ځان ته لونې خوښې کړي او د مکې کافرانو ته به زامن ورکړي، ځکه دوی په لونو شرمیږي؟

[١٥١-١٥٣] او ای خلکو! پام کړئ چې کافران دا خبرې ټولې د دروغو نه کړي او حقیقت نلري، او کافران چې یقینا دروغژن دي دوی (العیاذ بالله) وایي: الله بچیان وز یږول [یعنی کافران د ډیرې ناپوهۍ نه دروغ وایي] او وایي: الله چې بچیان وز یږول هغه لونې دي او د کم بل مقصد لپاره یې هغه په زامنو باندې غوره کړې دي! العیاذ بالله.

[١٥٤-١٥٥] نو ای کافرانو! تاسې څنګه دغسې حکم او پر یکړه کړئ؟ [یعنی وایي چې الله لونې لري! حال داچې تاسې په لونو شرمیږي] نو آیا تاسې نه پوهیږي چې دا تورونه سم ندي[یعنی هغه لوی تور] او ګناه ده!

[١٥٦-١٦٠] او آیا تاسې ای کافرانو! په خپلو دغو خبرو باندې کم دلیل لري؟ او که تاسې د ر یښتیا و یونکو نه یاستئ، نو خپل هغه کتاب چې پکې دا خبره لیکل سوي ده؛ هغه راوړئ! او ای کافرانو! که تاسې په

دغو خبرو ســره د الله او د پيريانو په منځ کې د خپلوی دعوا کړی، نو يقينا چې پيريان پدې پوهيږي چې کافران دروغ وايي او د قيامت په ورځ دوی يقينا د الله عذاب ته راوسـتل کيږي [يعنی نو بيا دوی ته کلکه سـزا ورکول کيږي] او الله د کافرانو د دغسې سپکو خبرو نه پاک دئ [يعنی الله تعالی د لونو زيږولو نه پاک، منزه او لوړ دئ] خو د الله عذاب نه خلاص سـوي بنده ګان هيڅ کله خپل رب په دغسـی نالائقه صـفتونو باندې نه يادوي، يعنی د الله مومن بنده ګان چې الله دوی د عذاب نه سـاتلي دي؛ خپل رب ښه پيژني او د هر ډول سپکو خبرو نه د الله په حق کې په کلکه سره ډ ډه کړي.

[١٦١-١٦٣] نو ای کافرانو! يقينا چې تاسـې او د سـتاسـې ناحقه معبودان؛ هيڅ څوک د حق لارې نه ورکولای او اړولای نسـي، مګر هغه څوک چې دئ د الله په تقديري پر يکړه او علم کې د دوزخيانو نه وي.

[١٦٤-١٦٦] [او د ملائکو په خوله الله تعالی وايي:] د زمونږ نه هيڅ څوک ندئ، مګر دا چې د هغه ځای په اسـمان کې معلوم او ټاکل سـوئ دئ، او مونږ ټول د الله په اطاعت کې يو او فرمان وړو ته يې په ليکوکې تيار سئ ولاړ يو، او يقينا چې مونږ د الله تسبيح وايو او په پاکۍ يې يادوو.

قدرمنو دوسـتانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې د رسـول الله ﷺ او د مکې کافرانو په منځ کې د اوږدي مناقشې، بحث او اسـتدلال په ترڅ کې؛ کافران کلک ملامت کړي دي او د دوی ټول درروغ او ناحقه تورورو نه يې چې ملائکې يې د الله لونه ګڼلي رسوا کړي او غندلې دي.

او په ور پسـې مبارکو آيتونوکې بيا الله تعالی د مکې کافرانو هغه لاپو باټو نه پرده پورته کړې ده چې دوی به د اسـلام نه مخکې د اخلاص هيلی کړي، او فرمايلي دي:

[١٦٧-١٦٩] [او ای پيغمبره! د سـتا پيغمبرۍ نه مخکې به] که څه هم د مکې کافرانو و يل: که د زمونږ سره د پخواينو امتونو کم کتاب وای، نو مونږ به يقينا د الله مخلصـو بنده ګانو نه وو! يعنی د مکې مشـرکان لدې غافل سـول چې دوی ته الله تعالی محمد ﷺ په همدې خاطر را وليږه چې

مخکې ورته کتاب نوه راغلئ.

[١٧٠] [خو بياچې کله د مکې کافرانو ته د الله پيغمبر د قرآن سره راغئ] نو دوی ور باندې کافران سول او هغه يې ونه مانه او ايمان يې رانوړ، نو بيا به دوی پوه سي چې په آخرت کې دوی ته څومره سزا تياره سوې ده! يعنی کافرانو ته په آخرت کلکه سزا ورکول کيږي؟

{الله د خپلو استازو سره د مرستې او بر يا پر يکړه کړې ده}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د خپلو پيغمبران بر يا ز يرئ اعلان کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٧١﴾ إِنَّهُمْ لَهُمُ ٱلْمَنصُورُونَ ﴿١٧٢﴾ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴿١٧٣﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿١٧٤﴾ وَأَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ﴿١٧٥﴾ أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿١٧٦﴾ فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿١٧٧﴾ وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿١٧٨﴾ وَأَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ﴿١٧٩﴾﴾

[١٧١-١٧٣] هو! يقينا چې د زمونږ خبره او حکم پخوا نه د زمونږ استازو بنده ګانو ته رسيدلئ دئ چې خاماخا به؛ د دوی نصرت او مرسته کيږي، ځکه د زمونږ لښکر تل بر يالئ او زورور دئ، يعنی الله تعالی د حق پلو يانو د بر يا پر يکړه ډيره د پخوانه کړې ده او پيغمبران يې ډاډمن کړي دي چې دوی به هرومرو بر يا ته رسيږي.

[١٧٤-١٧٥] نو ته ای پيغمبره! د ټاکل سوې نيټې پورې د دغو [سر زورو او سرکښو کافرانو نه] مخ واړه او بيا ورته وګوره [يعنی انتظار و باسه چې دوی ته ستاسره په مخالفت کې څنګه سزا ورکول کيږي؟] او دوی به هم وو يني چې څه ورته پيښيږي! يعنی ټول ده تم سي او انتظار ده و باسي چې څه کيږي؟ يعنی ای مومنانو! تلوار مکړئ او مه بې صبره کيږي، ځکه حق خاماخا الله تعالی بر يا ته رسوي.

[١٧٦-١٧٧] او آيا کافران د زمونږ عذاب راتګ ته ليوال دي او هغه ژر غواړي؟ نو بيا چې کله دوی ته عذب راسي، نو په هغه ورځ به د کافرانو

سحر ډير بد وي، يعنى دوى به په لوى و يرکې وي.

[١٧٨-١٧٩] او ته اى پيغمبره! د ټاكل سوې نيټې پورې [د دغو كينه كښو او ضد كونكو كافرانو نه] مخ واړه او وګوره چې دوى ته څه پيښيږي؟ او كافران به هم انتظار و باسي او و به و يې چې څه ورته پيښيږى؟ يعنى كافران به ډير ژر خپل تور برخليک په سترګو وو يې، نو بيا هغه وه چې دوى الله تعالى د بدر په غزا کې کلک مختورن کړل او بيا په ور پسې يرغلونوکې هم؛ خپلو شومو مقصدونو ته ونه رسيدل.

عزتمنو دوسانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونوکې په کلکه سره رسول اللهﷺ ته د فتحې او د بر يا ز يرئ او ډاډ ورکړئ دئ، نو بيا دا فتحه او بر يا ډيره ژر د رسول الله ﷺ او د هغه يارانو او صحابوو په برخه سوه، حال دا چې دوى د مکې نه پټ تښتيدلي ول، او بيا پيغمبرﷺ د خپلو ملګرو سره يوځاى سر لوړئ بيرته مکې معظمې ته پرته د جنګ او جګړې نه راننوت او د توحيد کلمې په غږ باندې ښکلئ بيرغ يې په مسجد الحرام کې د الله اكبر نعرو په پورته کولو سره ور پا ؤ او د الله اكبر نعرې هرې خوا د مکې په ناوونو او کوڅوکې خورې سوي او د اور يدونکو مغزونه يې خلاص او زړونه يې رنا کړل او مکه فتحه سوه، او توحيد د شرك ځاى ونيوه او د لا إله إلا الله محمد رسول الله کلمه لوړه سوه!

ګرانو دوستانو! او الحمد لله د مکې فتحې نه وروسته د الله لارې مجاهدينو او غاز يانو فتوحات همداسې په ټوله نړۍ کې خواره سول، او دا دئ په يو پشتمه ميلادي پيړۍ کې يې يوه نوې بيلګه په افغانستان کې هم ښه څرګنده وځليده او پکې افغان مظلوم او مجاهد ملت د نړۍ دوه لو يو امپراتور يو ښکيلاککرو لښکرو يرغل نه خپلواکي وګټله.

{د الله تعالى ستاينې او حمد او ثناء اسماني پيغام}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې چې د الصافات سورې وروستي مبارك آيتونه دي؛ الله تعالى د خپلې ستاينې اسماني نسخه رسول اللهﷺ ته او د هغه امت ته ښودلې او ډالۍ کړې ده، او فرمايلي دي:

﴿ سُبْحَٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٨٠﴾ وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٨١﴾

﴿وَٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٨٢﴾

[۱۸۰-۱۸۲] ای پیغمبره! د ستا رب الله چې د لوی عزت او لوړ مقام څښتن دئ؛ د کافرانو سپکو خبرو نه پاک دئ، او پر ټولو پیغمبرانو باندې ده د زما سلام وي او ټول حمد، ثنا او ستاینه یوازې الله لره ده چې دئ د ټول عالم او د ټولې نړۍ رب او لوی څښتن دئ!

ګرانو عز یزانو! روایت سوئ دئ چې د دغو مبارکو آیتونو لوستل د مجلس په پای کې د مجلس خبرو لپاره کفارت ګرځي.

والحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات وصلى الله وسلم على رسوله الآمين وعلى آله وصحبه أجمعين وعلى من دعا بدعوته إلى يوم الدين.

سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.

﴿د ص سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر﴾

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالی په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د ص سورې لنډه پیژندنه او لوی مقصدو نه}

درندو دوستانو! د صاد مبارکه سوره مکي سوره ده او پکې د حق پر وړاندې د کافرانو کبر او ناحقه سرغړونه، کینه او ضد کړل د اسلام سره؛ بیان سوي او کلک غندل سوي دي، او بیا دوی د حق منلو ته په ټینګار سره رابلل سوي دي، او په اوږدو بحثونو او مناظروکې د کافرانو کبرجن چلند او در یځ د رسول الله ﷺ او د قرآن پر وړاندې غندل سوئ دئ، او بیا کافران د بیلګو په بیانولو سره د پخوانیو ځینو پیغمبرانو امتونو، لکه: د داوود، سلیمان او ایوب علیهم السلام او د نورو سرکښو ولسونو د تور برخلیک نه ګواښل سوي دي، او ورته کلک سپارښت سوئ دئ چې ځانونه په الله تعالی وسپاري او حکمونو ته یې تسلیم سي، او دا مبارکه سوره په (ص) باندې چې هغه د عربي ژبې هجاء تورو نه یو پر یکړ سوئ تورئ دئ؛ الله تعالی پیل کړې ده، او پدې سره، لکه څنګه چې مخکې په وار وار سره ښه روښانه وو یل سول؛ د قرآن بیاني اعجاز ته اشاره ده، ځکه د عر بانو شاعران او ادیبان یې پر وړاندې بې وسې او عاجز سول.

قدرمنو دوستانو! د صاد مبارکې سورې د پیل آیتونو رانازلیدو په سبب نزول کې روایت سوئ دئ چې یوه ورځ د مکې مشرکانو مشران د ابوطالب کور ته چې هغه د رسول الله ﷺ تره ؤ؛ ورغلل او ابوطالب ته یې د رسول الله ﷺ نه شکایت او ګیلې وکړې، ځکه ابوطالب د خپل وراره حمایت کا وه، نو بیا رسول الله ﷺ د دوی په ځواب کې خپل تره ابوطالب ته وو یل: زه دوی یوازی (لا إله إلا الله) کلمې ته رابولم، نو د مشرکانو مشران د هغه خبرو په اور یدو سره د مجلس نه په غوصه ووتل، او دغه

خبرې يې چې د (ص) سورې په پيل کې يې يادونه سوې ده؛ وکړې، نو بيا د دوی دغه خبرې الله تعالى پدی سوره کې غندلې دي، او فرمايلي دي:

{د مکې کافران الله د خپلې سر کښې تور برخليک نه ګواښلي دي}

﴿صٓ وَٱلۡقُرۡءَانِ ذِي ٱلذِّكۡرِ ١ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي عِزَّةٖ وَشِقَاقٖ ٢ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَبۡلِهِم مِّن قَرۡنٖ فَنَادَواْ وَّلَاتَ حِينَ مَنَاصٖ ٣ وَعَجِبُوٓاْ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٞ مِّنۡهُمۡۖ وَقَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ هَٰذَا سَٰحِرٞ كَذَّابٌ ٤ أَجَعَلَ ٱلۡأٓلِهَةَ إِلَٰهٗا وَٰحِدًاۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٌ عُجَابٞ ٥ وَٱنطَلَقَ ٱلۡمَلَأُ مِنۡهُمۡ أَنِ ٱمۡشُواْ وَٱصۡبِرُواْ عَلَىٰٓ ءَالِهَتِكُمۡۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٞ يُرَادُ ٦ مَا سَمِعۡنَا بِهَٰذَا فِي ٱلۡمِلَّةِ ٱلۡأٓخِرَةِ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا ٱخۡتِلَاقٌ ٧ أَءُنزِلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ مِنۢ بَيۡنِنَاۖ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ مِّن ذِكۡرِيۖ بَل لَّمَّا يَذُوقُواْ عَذَابِ ٨ أَمۡ عِندَهُمۡ خَزَآئِنُ رَحۡمَةِ رَبِّكَ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡوَهَّابِ ٩ أَمۡ لَهُم مُّلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَاۖ فَلۡيَرۡتَقُواْ فِي ٱلۡأَسۡبَٰبِ ١٠ جُندٞ مَّا هُنَالِكَ مَهۡزُومٞ مِّنَ ٱلۡأَحۡزَابِ ١١﴾

[١-٢] ص او په قرآن باندې [چې د ص غوندې عربي تورو نه جوړ سوئ کتاب دئ] قسم او لوړه ده چې دا کتاب خلکو ته د يادونې [او د سر لوړی او د عزت پيغام دئ] خو کافران چې کبر او ضد په سراخسته دي او د قرآن سره په اختلاف او بيلتون کې دي؛ هغه نه من مني!

[٣] او دا په داسې حال کې چې د دوی نه پخوا د ډيرو پيړيو سرکښه خلک يا ولسونه [چې کله دوی د الله نه ورته راغلي پيغامونه او پيغمبران ونه منل] دوی مونږ هلاک کړل او له منځه مو يوړل [خو بيا چې کله دوی ته د زمونږ عذابونه راغلل او هغه پې وليدل] د تو بو و يستلو غږ يې پورته که، خو نور د توبې قبليدو وخت تير سوئ ؤ، او نه دوی ته د تيښتې او د خلاصون لار بيرته وه! يعنی د کافرانو په مخ نور د توبې و يستلو ورونه تړي سوي دي.

[٤-٥] او کله چې دغو کافرانو ته د دوی د منځ نه ګواښونکئ پيغمبر

راغئ؛ دوی تعجب وکه او حیران سول [یعنی په ډیرې سپین سترکی سره یې] وو یل: دا سړئ دروغژن کوډګر دئ [العیاذ بالله] او آیا هغه ډیر خدایان یې یو خدای وګرځا وه؟ یعنی څنګه محمدﷺ د ډیرو خدایان په ځای یوه خدای ته بلنه ورکوي؟ نو یقیناچې دغسې پیغام حیرانونکئ دئ!

[٦-٧] او بیا د کافرانو مشران د مجلس نه ووتل او لاړل، او پر خپلو تر برونویې غږ وکه چې نور ځی او د خپلو خدایانو په عبادت باندې کلک سی او ټینګ ور باندې ودر یږی، او یقینا چې د محمد دا بلنه؛ د هغه خپله پر یکړه ده [یعنې غواړي چې ځان مشرتابه ته ورسوي] ځکه د هغه دا بلنه [چې وایي: راځی د یوه خدای بنده کې وکړی] مونږ په نورو دینونو کې د هیڅ چانه نده اور یدلې، نو د هغه دا پیغام دروغ دئ، یعنی هغه یې د ځان نه جوړ کړئ دئ! [العیاذ بالله]

[٨] او آیا د زمونږ منځ نه یوازی پر محمد باندی دا یادونکئ پیغام رانازل سوئ دئ؟ [یعنی ای پیغمبره!] بلکې کافران د زما نه دوی ته په ور یادونکي کتاب قرآن کې شك لري، او د زمونږ عذاب او سزا لا دوی نده څکلې! یعنی کله چې کافرانو ته د الله عذاب وروڅکل سي، نو بیا به پوه سي چې الله یو دئ او هرڅه د هغه په واک او اختیارکې دي، نو ښایي چې یوازې د یوه خدای بنده کې او عبادت وسي.

[٩] او یا دا چې ای پیغمبره! کافرانو سره د ستا ځواکمن او ډالی کونکي رب الله د رحمت لویي خزانې پرتې دي؟

[١٠-١١] او یا دا چې کافرانو سره د ځمکې او اسمانونو او د هغوی دواړو په منځ کې د ټولو مخلوقات پاچایي او واکمني ده؟ او که داسې وي، نو دوی ده پورته اسمان ته وخیژي او ورجک ده سي! [یعنی دا کافران چې د خپل لوی رب حکمونه نه مني او ځانونه ځواکمن بولي] نو ټول اسباب ده په کار واچوي او اسمانو ته ده وخیژي [او بیا ده وګوري چې دا لوی کائنات چا پیدا کړي دي او څوک یې چلوي او سمبالوي یې؟ او هلته پاس په اسمان کې] د کافرانو ټولو ډلو لښکرو ماته خوړلې ده او هیڅ څه شئ یې ندي کټلې، یعنی دا کینه کښ کافران چې د حق سره دښمني کړي؛ هیڅ

څه کړای نسي او یوازې رسوایي په برخه کیږي او تل به مخټورن وي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغسې روښانه بیان سره د قریشو کبرجنو مشرانو استاذو کینه کښې در یځ غندلئ دئ او رسول الله یې ډاډمن کړئ دئ، ترڅو خپل دعوت د الله تعالی لارښودنو سره سم په مخ یوسي او د کافران غوصو او د کینه کښې در یځ پروا ونکړي، ځکه حق او باطل ښه روښانه سره بیل سوي دي، نو د خلکو خوښه چې چا پسې ځي او دعوت یې مني او خپلو ځانو ته د تباهۍ نه نجات ورکوي.

{د مکې کافران الله د پخوانیو امتونو په تور برخلیک وګواښل}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې د مکې کافران الله تعالی د پخوانیو ولسونو غوندې په تور برخلیک باندې کواښلي دي، او فرمایلي دي:

﴿كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ ذُو ٱلْأَوْتَادِ ﴿١٢﴾ وَثَمُودُ وَقَوْمُ لُوطٍ وَأَصْحَٰبُ لْـَٔيْكَةِ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلْأَحْزَابُ ﴿١٣﴾ إِن كُلٌّ إِلَّا كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ﴿١٤﴾ وَمَا يَنظُرُ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا صَيْحَةً وَٰحِدَةً مَّا لَهَا مِن فَوَاقٍ ﴿١٥﴾ وَقَالُواْ رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ ٱلْحِسَابِ ﴿١٦﴾﴾

[۱۲-۱۵] د مکې کافرانو نه پخوا [ټولو سرکښو ولسونو، لکه د] نوح قوم، عاد، فرعون، ثمود او د لوط قومونو او د شعیب قوم چې ګڼ ښونه یا باغونه یې درلودل؛ دوی ټولو ډلو د الله نه ورغلي استازي او پیغمبران دروغژن و بلل [یعنی دښمنۍ ته یې ورسره ملا وترله] نو بیا د الله عذاب په حق سره راغئ [او دوی ټول یې هلاک کړل] نو دا کافران انتظار نه باسي مګر یو لړزونکي غږ ته! [یعنی هغه دوی ته د الله تعالی عذاب راتګ دئ] او هغه نه زنډیږي، یعنی د قیامت ورځې ټکانوونکئ عذاب به خامخا په دغو سرکښو امتونو باندې راکوز یږي او دوی به لاندې کوي او سزا به ورکړي او کلک به وځپل سي!

[۱۶] نو بیا کافرانو د ډیرسپکاوي نه وو یل: ای د زمونږ لو یه څښتنه! د زمونږ برخه سزا د قیامت ورځې حساب نه مخکې را کړه!

قدرمنو دوستانو! په دغو مبارکو آیتونوکې چې د صاد سورې پیل دئ؛

الله تعالى د قرآن په شـــرافت او برکت باندې لوړه کړي ده او د هغه په حقانیت او ر ښـــتینوالي یې چې د الله نه پر رســـول اللهﷺ باندې رانازل ســـوئ لارښـــود کتاب دئ؛ کلک ټینګار کړئ دئ، او د کافرانو دا کبرجن چلند او کرکجن در یځ یې چې هغه د حق پر وړاندې د باطل ملتیا وه؛ غندلئ او رد کړئ دئ، او بیا الله تعالى د مکې کبرجن او کینه کښ کافران د پخوانیو ولسونو غوندې په کلکه سزا او په لوی عذاب باندې ګواښلي دي، ترڅو خپل سرو نه په ګر یوان کې ښکته کړي او تو به و باسي.

{د داوودعليه السلام قصه او رسول اللهﷺ ته په صبر سپارښت}

او بیا په ور پســـې مبارکو آیتونوکې الله تعالى رســـول اللهﷺ ته د کافرانو سپکو سپورو خبرو پر وړاندې د صبر او زغم سپارښت کړئ دئ او د داوودعليه السلام اوږده قصه یې ورته د بیلګې په څیر یاده کړې فرمایلي دي:

﴿ٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَا دَاوُۥدَ ذَا ٱلۡأَيۡدِۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٞ ١٧ إِنَّا سَخَّرۡنَا ٱلۡجِبَالَ مَعَهُۥ يُسَبِّحۡنَ بِٱلۡعَشِيِّ وَٱلۡإِشۡرَاقِ ١٨ وَٱلطَّيۡرَ مَحۡشُورَةٗۖ كُلّٞ لَّهُۥٓ أَوَّابٞ ١٩ وَشَدَدۡنَا مُلۡكَهُۥ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡحِكۡمَةَ وَفَصۡلَ ٱلۡخِطَابِ ٢٠ * وَهَلۡ أَتَىٰكَ نَبَؤُاْ ٱلۡخَصۡمِ إِذۡ تَسَوَّرُواْ ٱلۡمِحۡرَابَ ٢١ إِذۡ دَخَلُواْ عَلَىٰ دَاوُۥدَ فَفَزِعَ مِنۡهُمۡۖ قَالُواْ لَا تَخَفۡۖ خَصۡمَانِ بَغَىٰ بَعۡضُنَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فَٱحۡكُم بَيۡنَنَا بِٱلۡحَقِّ وَلَا تُشۡطِطۡ وَٱهۡدِنَآ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلصِّرَٰطِ ٢٢ إِنَّ هَٰذَآ أَخِي لَهُۥ تِسۡعٞ وَتِسۡعُونَ نَعۡجَةٗ وَلِيَ نَعۡجَةٞ وَٰحِدَةٞ فَقَالَ أَكۡفِلۡنِيهَا وَعَزَّنِي فِي ٱلۡخِطَابِ ٢٣ قَالَ لَقَدۡ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعۡجَتِكَ إِلَىٰ نِعَاجِهِۦۖ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡخُلَطَآءِ لَيَبۡغِي بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٍ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَقَلِيلٞ مَّا هُمۡۗ وَظَنَّ دَاوُۥدُ أَنَّمَا فَتَنَّٰهُ فَٱسۡتَغۡفَرَ رَبَّهُۥ وَخَرَّ رَاكِعٗا وَأَنَابَ۩ ٢٤ فَغَفَرۡنَا لَهُۥ ذَٰلِكَۖ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلۡفَىٰ وَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ٢٥﴾

[١٧] ای پیغمبره! د کافرانو په سپکو سپورو خبرو [یعنی د کافرانو په دروغژنو تورونو باندې چې تا پسې یې کړي؛ صبر وکړه او هغه وزغمه] او د زمونږ [صبرناک بنده] داوود راپه یاد کړه! او یقینا چې داوود ډیر ځواکمن

او ښه کلک عابد ؤ، یعنی داوودعليه السلام د خپل رب پیرزو ینو منونکئ بنده ؤ، او الله ته کلک ورمات سوئ ؤ!

[١٨-١٩] او یقینا چې د داوود سره مونږ غرونه همغږي کړي ول، او غرونو سحر او بیګاه الله په پاکۍ سره یادا ؤ [یعنی د الله تعالی ستاینه یې کړه] او مرغان مونږ داوود ته ورغوند کړي ول، او ټولو الله ته مخه کړې وه، یعنی په ګډه یې الله تعالی په لو یتیا او پاکۍ سره یادا ؤ او ستاینه یې کړه او فرمان وړو ته یې تیار سئ ول.

[٢٠] هو! د داوود واکمني او پاچایي مونږ ښه کلکه کړه او هغه ته مونږ حکمت او په خبرو او پر یکړو کې هوښیاري او پوخ تدبیر او لوی حکمت ورکړئ ؤ!

[٢١-٢٢] ای پیغمبره! آیا تا ته د هغو دوه کسانو خپل منځی دعوا خبر راغئ؟ [کله چې دوی دواړو د یو بل سره دعوا وکړه او یو بل سره په جنجال کې ولو یدل] او بیا د دیوال نه ور وا وښتل او ناڅاپه پر داوود ورننوتل، نو داوود د دوی نه په و یره کې سه، خو دوی [داوود ته ژر ډاډ ورکه] او هغه ته یې وو یل چې ته مه و یر یره؛ مونږ د یو بل سره دوه جګړه کونکي کسان یو، مونږ پر یو بل باندې تیرئ کړئ دئ، نو ته د زمونږ په منځ کې په حق (په انصاف) سره پر یکړه وکړه او تیرئ مکړه او سمه لار مونږ ته را وښیه!

[٢٣] [نو بیا د دوی دواړو نه یوه خبرې پیل کړې او و یو یل:] دغه د زما ورور دئ او دئ نوي (٩٠) میږي لري او زه یوه میږ، خو هغه راته وو یل چې دا یوه میږ ده ما ته را کړه [یعنی ته ورڅخه تیرسه] او په خبروکې راباندې زورور سه، یعنی د زما دا یوه میږه یې راڅخه بوتله!

[٢٤] او داوود [مخکې لدې چې د هغه بل سړي نه څه و پوښتي ژریې ورته په ځواب کې] وو یل: دا چې هغه د ستا یوه میږ غوښتي ده، ترڅو هغه د خپلو میږو سره ګډه کړي، نو پر تا باندې یې تیرئ کړئ دئ، او ر ښتیا چې ډیر شر یکان پر یو بل باندې تیرئ کړي [یعنی د هغه حق خوري] خو یوازې مومنان او د ښو کړنو خاوندان پر یو بل باندې تیرئ نکړي [او یو د بل مال په ناروا سره نه خوري] خو دغسې کسان ډیر لږ دي، نو بیا د

داوود پام ســـه چې دئ مونږ وازمایه، نو بیا داوود خپل رب الله ته پرمخې په سجده ولو یده او بښنه یې وغوښتله او الله ته وروګرځیده او تو به یې وایستله، یعنی په خپل بیړني حکم باندې پښیمانه سه.

درندو دوســتانو! د دې مبارك آیت په تلاوت ســره د تلاوت سـجده په لوستونکي او همدارنګه په اور یدونکي واجب ده.

[۲۵] نو بیا داوود ته دا تیروتنه مونږ و بښـــله، ځکه یقینا چې داوود مونږ ته ډیر را لنډ ؤ، او هغه ته په آخرت کی مونږ ښـــه اســـتوګنځئ تیار کړئ دئ، یعنی هغه جنت دئ.

{ داوود علیه السلام پر ځمکه د الله تعالی خلیفه ؤ }

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې داوود علیه السلام ته په ځمکه کې د خلافت او واکمنۍ سپارلو په بیان کې فرمایلي دي:

﴿يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلۡنَٰكَ خَلِيفَةٗ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱحۡكُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ ٱلۡهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدُۢ بِمَا نَسُواْ يَوۡمَ ٱلۡحِسَابِ ٢٦ وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا بَٰطِلٗاۚ ذَٰلِكَ ظَنُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنَ ٱلنَّارِ ٢٧ أَمۡ نَجۡعَلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَٱلۡمُفۡسِدِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ نَجۡعَلُ ٱلۡمُتَّقِينَ كَٱلۡفُجَّارِ ٢٨﴾

[۲۶] [او بیا الله تعالی پر داوود علیه السلام باندې غږ وکه او ورته یې وو یل:] ای داوودې! ته مونږ په ځمکه کې خلیفه او واکمن وګرځولې، نو د خلکو په منځ کې په حق او عدالت سره پر یکړې وکړه او خپل هوس او خواهشـاتو پسې مځه، ځکه چې بیا هغه تا د الله لارې نه ورکوي، او یقینا هغه کسان چې د الله لارې نه ورګیږي؛ دوی ته د حســاب اخســتلو په ورځ چې هغه یې هیره کړه؛ کلک عذاب تیار سوئ دئ.

ګرانو دوســتانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې د داوود علیه السلام دا قصه چې دئ پکې غلط سه او تیروت او هغه دوه پرښتې یې چې د سړ یو

په څيره کې داوود عليه السلام ته په عدالت سره د حکم کړو لپاره راغلې وې؛ ونه پيژندلې، نو دا قصه د اسلام پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته الله تعالى د تسليت او ډاډ ورکولو په مقصد يادە کړې ده، څکه داوود عليه السلام سره لدې چې د الله تعالى يو غوره پيغمبر ؤ او دئ الله تعالى په ډيرو نعمتونو نازولئ وه، خو بيا هم تيروت، څکه دئ د الله ذکر او ياد نه غافل سه او خپله بشري پوهه پې په کار واچوله، نو پيغمبرانو ته او بيا د دوی د دين وارثانو علماوو او قاضيانو ته ښايي چې تل په خپلو پر يکړو کې کلک پام وکړي، او تلوار ونکړي، ترڅو هيڅ کله د الله لارښودنو نه غافل نسي او د الله تعالى په عادلانه حکمونو کې تير نوئي او حق او عدالت د پښو لاندې نکړي، نو دا قصه يقينا چې واکمنانو ته د حکم کړو په وخت کې ښه زدکړه ده، او دوی ته ښايي چې په قضاوت کې تل عدالت په پام کې ونيسي، نو څکه الله تعالى په ور پسې مبارکو آيتونو کې د خپل لوی عدالت يادونه کړې فرمايلي دي:

[٢٧] ای خلکو! اسمان او څمکه او د دوی دواړو په منځ کې پراته نور مخلوقات؛ مونږ ناحقه او عبث او بې مقصده ندي پيدا کړي! [يعنى لکه څنګه چې کافران فکر کړي او وايي: د اسمانو او د څمکې په پيدايښت کې کم لوی مقصد نسته!] دا د دوی خوسې ګمان دئ، نو هر څوک چې کافران سول؛ د دوی سزا د قيامت په ورځ د دوزخ اور دئ، يعنى دا چې الله تعالى دا ټول مخلوقات د لوی مقصد لپاره پيدا کړي دي او هغه د الله تعالى په قدرتونو کې ښه ژور فکر کړل او په حق سره د خپل پيدا کونکي او پالونکي څښتن پيژندل او په توحيد سره د الله بنده کې او په ر يښتيا سره يې د شر يعت نافذول دي.

[٢٨] [او ای خلکو! آيا دا خبره سمه او پرځای ده؟] چې مونږ هغه کسان چې ايمان يې راوړ او په څکمه کې يې ښه وکړل؛ هغوی د مفسدانو او ورانونکو کسانو غوندې وګرځوو؟ او يا دا چې متقيان او د الله سزا نه و ير يدونکي او د عذاب نه يې ځان ساتونکي کسان، لکه فاجران او فاسقان وګرځوو؟ لکه څنګه چې دوی د الله اطاعت او بنده ګی نه وتلي

دي، ځواب دا چې نا ! دا خبره هيڅ کله سمه نده او هوښياران هغه نه مني او نه هغه د الله تعالى د لوړ مقام او پاخه علم او حکمت سره مناسبه ده، ځکه مومن او کافر، صالح او فاجر د الله پر وړلاندي چې لوی عادل رب دئ هيڅکله سره برابر ندي او مومنانو ته الله تعالي جنتونه ور ښي او کافران د دوزخ په اور کې کړوي!

{د داوود عليه السلام د دغې قصې اړوند يو ډير ضروري وضاحت}

قدرمنو لوستونکو! د داوود عليه السلام د دغې قصې په اړه ځينې پخوانيو مفسر ينو اسرائيلي روايات په خپلو تفسيرونو کې روايت کړي دي، او هغه دا چې د دې قصه نه مقصد دا ظاهري عدالت ندئ چې حکومتونه او قاضيان يې پرې مکلف دي، بلکې دا قصه ځانګړئ سبب او عامل لري او هغه په اسرائيلي رواياتو کې راغلئ دئ، خو يادونه يې د زمونږ پدې لنډ تفسيرکې نه ځايږي، او له بلې خوا اسرائيلي روايات پدې اړه د نبوت مقام سره لائق ندي، مخصوصا د داوود عليه السلام هغه لوړ مقام سره چې الله تعالى ور باندې پيرزو کړئ ؤ، او دئ پدې قصه کې الله تعالى په ډيرو غورو صفتونو ستايلئ دئ، او د دغو اسرائيلي رواياتو تايید د رسول الله ﷺ نه په صحي رواياتو کې ثابت ندئ، نو دغسې اسرائيلي روايات ټول باطل دي او هيڅ اعتبار نلري او ډيرو پخوانيو او اوسنيو مفسر ينو؛ هغه رد کړي دي او هغه د قرآن کر يم لوی مقصد او قاطع حکم سره هم موافق ندي، ځکه قرآن الله تعالى په کتاب مبين نومولئ دئ او ټولې خبرې يې رښې او سپينې دي، او که چيرې د ځينو کلمو په ظاهري پوهه کې څه مشکل وي؛ هغه مونږ ته د عربي روښانه ژبې علماوو په ډير وضاحت سره بيان کړې دي او د رسول الله ﷺ او صحابوو نه په صحي او منل سوو معتبرو رواياتو کې يې بيان سوئ دئ، نو اسرائيلي رواياتو ته هيڅ حاجت نسته.

{قرآن مونږ ته الله د پند اخستلو او فکر کړو لپاره را ليږلئ دئ}

او په ور پسې مبارك آيت کې الله تعالى خپل استازي محمد ﷺ ته لارښودنه کړې ده چې قرآن تا ته او هوښيارانو ته؛ د ژور فکر کړو او د

پند اخستلو لارښود پيغام دئ، او فرمايلي دي:

﴿كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ مُبَٰرَكٞ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٢٩﴾

[٢٩] ای پیغمبره! دا کتاب قرآن چې هغه تا ته مونږ رانازل کړئ دئ؛ یو مبارك کتاب دئ [یعنی پکې ښې ډیرې لارښودنې او ګټې نغښتې دي، ترڅو هوښیاران د قرآن په آیتونو او دلیلونو کې ژور فکر وکړي] او د عقل خاوندان او هوښیاران ورڅخه ګټه واخلی او عمل ور باندې وکړي، یعنی داسې نه چې هغه په ډیرو ښکلو او ښایسته پوښتونو کې ونغاړي او د کور په لوړه الماری کې یې کیږدئ او کلک یې وساتي او د تبرك لپاره یې کله راواخلي او په مخ یې وموښي او چپ یې کړي.

قدرمنو دوستانو! قرآن کریم چې الله تعالی پر خپل پیغمبر ﷺ باندې په حق سره رانازل کړئ دئ؛ هغه مونږ ته لارښود پیغام دئ، ځکه په قرآن کې مونږ ته االله تعالی خپله بنده کې په توحید سره راپیژندلې ده، او د ژوندانه د ټولو چارو په سمبال کې یې را ته لارښودنې کړې دي، نو ښایي چې قرآن زده کړو او په معنایې ځانونه ښه پوه کړو او په لارښودونویې چې د الله تعالی حکمونه اوسپارښتنې دي؛ عمل وکړو او د دنیا او آخرت ښادي وګټو ترڅو د قیامت په ورځ په سپینو مخونو د الله تعالی په حضور کې سر لوړي ودر یږو او د زمونږ حساب راته الله تعالی اسانه کړي.

{سلیمان د داوود عليه السلام زوی او د لله عابد بنده ؤ}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې د داوود عليه السلام قصې پاتې برخه مونږ ته یاده کړې ده او سلیمان عليه السلام یې ستایلې دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَوَهَبۡنَا لِدَاوُۥدَ سُلَيۡمَٰنَۚ نِعۡمَ ٱلۡعَبۡدُ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ٣٠ إِذۡ عُرِضَ عَلَيۡهِ بِٱلۡعَشِيِّ ٱلصَّٰفِنَٰتُ ٱلۡجِيَادُ ٣١ فَقَالَ إِنِّيٓ أَحۡبَبۡتُ حُبَّ ٱلۡخَيۡرِ عَن ذِكۡرِ رَبِّيۖ حَتَّىٰ تَوَارَتۡ بِٱلۡحِجَابِ ٣٢ رُدُّوهَا عَلَيَّۖ فَطَفِقَ مَسۡحَۢا بِٱلسُّوقِ وَٱلۡأَعۡنَاقِ ٣٣ وَلَقَدۡ فَتَنَّا سُلَيۡمَٰنَ وَأَلۡقَيۡنَا عَلَىٰ كُرۡسِيِّهِۦ جَسَدٗا ثُمَّ أَنَابَ ٣٤ قَالَ رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَهَبۡ لِي مُلۡكٗا لَّا يَنۢبَغِي

لِأَحَدٍ مِّنۢ بَعۡدِيٓۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ ﴿٣٥﴾ فَسَخَّرۡنَا لَهُ ٱلرِّيحَ تَجۡرِي بِأَمۡرِهِۦ رُخَآءً حَيۡثُ أَصَابَ ﴿٣٦﴾ وَٱلشَّيَٰطِينَ كُلَّ بَنَّآءٖ وَغَوَّاصٖ ﴿٣٧﴾ وَءَاخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِي ٱلۡأَصۡفَادِ ﴿٣٨﴾ هَٰذَا عَطَآؤُنَا فَٱمۡنُنۡ أَوۡ أَمۡسِكۡ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ﴿٣٩﴾ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلۡفَىٰ وَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ﴿٤٠﴾

[٣٠] او داوود ته مونږ د هغه زوی سلیمان و بانبه [یعنی هغه مونږ ورته ډالۍ که] او سلیمان ډیر ښه بنده ؤ او خپل رب الله ته یقینا ښه کلک مخ اړونکئ ؤ، یعنی د الله تعالی د پیرزو نیو ډیر منونکئ او شکر و یستونکئ ؤ او خپل لوی څښتن الله ته یې تل کلکه رجوع کړه، او قائم اللیل او صائم النهار ؤ، نو ځکه الله هغه ته دا لو یه پاچایي ورکړې وه.

[٣١-٣٣] هو! کله چې سلیمان ته د ورځې په آخرکی [د هغه د پاچایي د لو یو لښکرو ورا پر ولاړندې] ډیر ښکلي ایرغه اسان نندارې لپاره وړاندې او وښودل سول، نو سلیمان وو یل: ر یښتیا چې د دغو اسانو نندارہ دومره زما خوښه سوه چې د زما نه یې زما د لوی رب الله یاد او د مازدیګر لمونځ هیر که، ترڅو چې لمر پر یوت او ماښام سه [نو بیا سلیمان امر وکه چې] دا اسان بیرته ما ته راوګرځوی، نو بیاې د اسانو په غاړو او لینګیو باندې د مینې لاس راکش که، یعنی د اسانو خولې یې وچې کړي.

درندو دوستانو! دا روایت محمد بن جر یر طبري رحمت الله علیه چې د قرآن کر یم مشر مفسر دئ؛ غوره کړئ دئ، خو ځیني نورو مفسر ینو بیا هغه روایت ته ترجیح ورکړې ده چې وایي: نو بیا سلیمان دغه اسان پر غاړو او پر لینګیو باندې په توره ووښل او دغه اسان یې د الله رضا لپاره ذبح او قر باني کړل، ځکه د دغو اسانو نندارې د الله یاد او لمونځ کړل د سلیمان علیه السلام نه هیر کړل، نو سلیمان یې په کفاره کې اسان ذبح او قر باني کړل، خو د ابن جر یر رحمة الله علیه انتخاب راجح بر ینبي، ځکه دغه اسان د سلیمان په پاچایي کې د سپرو لښکرو؛ یوه ځواکمنه برخه وه او د هغه د پاچایي لوی ځواک یې جوړا ؤ، نو ځکه سلیمان علیه السلام خپله مینه ور باندې ما ته کړه او د اسانو پر غاړویي لاس راکش که، او دا دود په اوسنیو پاچایانو کې همداسې پاتې دود دئ، او پاچایان د اسانو

زغلا اتل ولي په ځانکړو مراسمو سره پالي او ننداري ته يې ورځي.

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى د سليمان عليه السلام د ازمايښت په ياد کې فرمايلي دي:

[٣٤] نو بيا سليمان مونږ وازمايه او د هغه په تخت باندې مونږ يو جسد (کالبوت) را واچا ؤ، يعنى داچې الله تعالى د سليمان عليه السلام د ازمايښت په مقصد خوسې د کالبوت غوندې تنه د هغه پر تخت باندې کينوله.

قدرمنو دوستانو! د سليمان عليه السلام د دې ازما يښت يا امتحان په باره کې ډير اسرائيلي روايات راغلي دي او ځينو مفسر ينو هم هغه روايت کړي دي، خو د قرآن ښکاره لارښودنو سره سمون نلري او ر يښتيا او دروغ يې معلوم ندي، نو ځکه ځينو اوسنيو معاصرو مفسر ينو د سليمان عليه السلام د قصې د بيان په رنا کې ليکلي دي چې هو! لکه څنګه چې سليمان عليه السلام ته دا لو يه پاچايي د خپل پلار داوود عليه السلام نه په ميراث پاتې وه، نو سليمان هم د الله تعالى نه وغوښتل چې د سليمان عليه السلام پاچايي د هغه زوى ته په ميراث پاتې کړي، او دا پرته لدې چې د سليمان عليه السلام پام د خپل زوى لياقت او وړتيا ته وسي، نو بيا الله تعالى سليمان وازمايه او د خوسې کالبوت غوندې يوه تنه يا جسديې د هغه سلطنت پر تخت باندې راواچوه، نو بيا چې کله د سليمان عليه السلام پام ديته سه چې زوى يې د هغه ځاى ناستې او د سلطنت وړتيا نه لري، نو بيا سليمان عليه السلام ډير ژر الله تعالى ته وروګرځيده او د خپلې غوښتنې نه تير سه، خو د الله نه يې داسې پاچايي وغوښتله چې د هغه نه وروسته بل هيڅ چا ته لائق نه وي او د سليمان عليه السلام دا غوښتنه الله تعالى مونږ ته بيان کړي ده، او فرمايلي دي:

[٣٥] او ای ر به او لو يه څښتنه! ما و بښه او داسې پاچايي را و بښه چې د زما نه وروسته بل هيڅ چا ته نه ښايي او لائق يې نه وي، او يقيناچې ته ای لو يه ر به! لوى بښونکئ ذات يې، يعنى د ډيرو ورکړو خاوند يې او ډير نعمتونه ده پر خپلو مخلصو بنده ګانو باندې پيرزو کړي دي!

[٣٦] نو بيا سليمان ته مونږ باد يا شمال داسې تسخير که چې چير ته به سليمان غوښتل هلته به ډير پوست لږ يده.

[٣٧-٣٨] او شيطانان او پيريان مونږ د سليمان حكم او فرمان لاندې وګرځول او دوی به سليمان د خپلې پاچايي چارو په سمبال كې ګمارل او ځينو به په ځمكه كې وداني كړه او ځينې يې د سمندرونو په ژورو كې لامبوزن ول، خو سركښ شيطانان په زنځيرونوكې تړل سوي ول، ترڅو ورانۍ ونكړي، يعنی په ځمكه كې فساد خور نكړي.

او بيا الله تعالى پر سليمان باندې غږ وكه او د پاچايي تقسيم واكمني يې هغه ته وركړه، او په بيان كې يې فرمايلي دي:

[٣٩] ای سليمانه! دا لو يه پاچايي تا ته زمونږ د وركړې نه ده، نو پرته د كم حساب كړو او شميرلو نه چې ته چا ته څه غواړې؛ هغه وركړه او چا ته چې نه غواړې، نو مې وركوه، يعنی د و يش يا تقسيم واكمن يې ته يې.

[٤٠] او يقينا چې په آخرت كې سليمان مونږ ته ډير لنډ او رانزدې ځای او ښه راتلونكي لرې، يعنی الله تعالى سليمان عليه السلام ته په جنت كې لوړ ځای او لوی مقام وركوي.

ګرانو دوستانو! د داوود او د هغه زوی سليمان عليهما السلام قصه د حكمتونو او ګټونه ډكه قصه ده، او پكې د اسلام پيغمبر محمد ﷺ او د هغه دين علماوو او دعاتو ته تر قيامت ورځې پورې ډيرې ارزښتناكه لارښودنې او سپارښتنې نغښتې دي، نو ښايي چې په دغو لارښودونو كې ښه ژور فكر وسي او ګټه ورڅخه واخستل سي.

هو؛ قدرمنو عز يزانو! پخوا تير سوو پيغمبرانو قصې د دوی سركښو ولسونو سره د رسول الله ﷺ او د هغه امت لپاره د صبر او د ډاډ ګيرنې او تسليت پيغامونه دي، ترڅو دوی په كلك تصميم او غښتلې اراده الله تعالى دين اسلام ته خلك راو بولي او پدې لار كې هيڅ كله ستړي او بې صبره نسي، او تل پر الله باندې خپل ځانونه وسپاري او يوازې د الله نه مرسته وغواړي او د الله تعالى د لو يو وركړو او پيرزو ينو مننه وكړي، او په خپله عقيده او تګلاره باندې چې هغه ورته الله تعالى سپارلې ده؛ ښه ټينګ پاتې سي او د الله او پيغمبر دښمنانو پر وړاندې د صبر او زغم نه كار واخلي او خپل ځانونه د قهر او غوصې نه وساتي او شپه او ورځ د

دعوتي رسالت پرځای کولو په څنګ کې د خپل رب الله تعالی په عبادت او ذکر باندې؛ خپل معنوي قوت غښتلئ کړي، او یقیناچې د اسلام پیغمبر محمد ﷺ غوره سیرت پدې لار کې مونږ ته ښه ځلانده لارښود څراغ دئ، نو دعا کړو چې الله ده راته د هغه په لار باندې د عمل توفیق راکړي، ترڅو د هغه دعوت خپلو ولسونو ته په اخلاص سره ورسوو.آمین یارب العالمین!

{د ایوب علیه السلام د صبر لنډه قصه او د دعاء قبلیدل}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې د ایوب علیه السلام د لوی زغم او د صبر قصه الله تعالی مونږ ته را په یاده کړې ده، نو ښایي چې ورڅخه ګټه پورته سي او هر مومن بنده خپل ځان پر صبر او زغم ښه وروزي، او فرمایلي دي:

﴿وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَآ أَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلشَّيۡطَٰنُ بِنُصۡبٖ وَعَذَابٍ ٤١ ٱرۡكُضۡ بِرِجۡلِكَۖ هَٰذَا مُغۡتَسَلُۢ بَارِدٞ وَشَرَابٞ ٤٢ وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ أَهۡلَهُۥ وَمِثۡلَهُم مَّعَهُمۡ رَحۡمَةٗ مِّنَّا وَذِكۡرَىٰ لِأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٤٣ وَخُذۡ بِيَدِكَ ضِغۡثٗا فَٱضۡرِب بِّهِۦ وَلَا تَحۡنَثۡۗ إِنَّا وَجَدۡنَٰهُ صَابِرٗاۚ نِّعۡمَ ٱلۡعَبۡدُ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٞ ٤٤﴾

[٤١] ای پیغمبره! او د زمونږ بنده ایوب راپه یاد کړه، کله چې هغه خپل رب الله ته نعره کړه [یعنی الله ته یې په دعاء کې وو یل: ای لو یه څښتنه!] یقیناچې زه شیطان ستړئ کړم او په کلک عذاب او زَور کې یې واچولم، یعنی دا چې شیطان غوښتل د ایوب علیه السلام باور او اعتماد پر الله تعالی باندې کمزورئ او ضعیف کړي، ځکه شیطان څوک ناروغولای نسي، او ناروغول یوازې د الله تعالی کار دئ!

[٤٢] [نو بیا ایوب ته مونږ وو یل:] دا ځمکه ده په پښه ووهه او د هغې نه به درته یخې او به د لمبیدو او څکلو لپاره راووځی، یعنی دا او به بیا وڅکه او ور باندې ولامبه او ځان ده پرې وو ینځه، او په دغسې غسل یا لمبلو سره به د ستا دا ناروغي او زَورونه؛ لرې سي او ته به د الله تعالی په حکم روغ جوړ سې.

[٤٣] [او بیا چې کله ایوب علیه السلام روغ سه؛ هغه ته مونږ د هغه کورنی او

ټول کوول بیرته ورکړل، او د هغوی غوندې نور ډیر کوول هم مونږ ایوب ته ورکه، او دا ټول زمونږ له پلوه پر ایوب باندې د رحمت وورول او لو یه پیرزو ینه وه، او هغه هوښیارانو ته یوه ور یادونه وه، یعنی دا چې د صبر او زغم میوه ښه پخیږي او په صبر سره ټولې ستونزې او تکلیفونه لرې کیږي، او په عوض کې یې بنده ته الله تعالی ښادي او ډیر نعمتونه ورکوي.

[٤٤] [او بیا ایوب ته مونږ وو یل چې د داسې یوی وڼې یوه نوده چې ډیرې لښتې لرې راواخله او خپله میرمن ده ور باندې ووهه او لوړه ده پرې ر یښتیا کړه او ځان ده مه حانثه وه [یعنی دا ټولې پیرزو یې پر ایوب علیه السلام باندې ځکه الله تعالی ولوروڼې] چې یقینا ایوب مونږ ډیر صبرناکه سړئ بیاموند او دئ د زمونږ ډیر ښه بنده ؤ، او یقیناچې ایوب خپل رب بنده کې او اطاعت ته کلک ورکړځیدونکی بنده ؤ، یعنی الله ته یې تل تضرع او زاري کړه او د خپل پاملرونکي رب حق یې پیژاند او کلک یې پرځای کا ؤ.

قدرمنو دوستانو! روایت سوئ دئ چې ایوب علیه السلام د الله تعالی یؤ مخلص او هوښیار بنده ؤ؛ او یوه ورځ په دغسې اوږده ناروغۍ کې په خپله میرمن چې د هغه درمل کونکې وه؛ کلک په غوصه سه او د ډیرې غوصې نه یې لوړه وکړه چې کله روغ او جوړ سه، نو خپله میرمن به سل لښتې ووهي، نو بیا چې کله دئ روغ سه الله تعالی ورته لارښوودنه وکړه چې ځان ده مه حانثه وه او د هغسې یوې وڼې نه چې ډیرې لښتې لري؛ یوه نوده راماته کړه او خپله میرمن ده ور باندې ووهه او لوړه ده ر یښتیا کړه، نو په دغسې لارښودنه د ایوب علیه السلام میرمن الله تعالی د وهلو نه خلاصه کړه او ایوب هم په خپل قسم کې براءت بیاموند او حانث نسه او د لوړې کفارت نه خلاص سه، نو یقینا چې دا لارښودنه د ستونزو نه د وتلو لپاره ښه لنډه قرآني لارښودنه ده، او ښایي چې هوښیاران د هغې نه تل ګټه واخلي، او د سختیو نه ور باندې خپل خلاص کړي، لکه څنګه چې فقهاوو د شرعي حیلو په باب کې ورڅخه ګټه اخستل روا بللي دي.

{ ابراهیم علیه السلام او زامن یې د الله غوره بنده ګان ول }

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د ابراهیم علیه السلام او د هغه

زامنو: اسحاق، اسماعيل او د لمسيانو يعقوب او عيسى عليهم السلام لنډه لنډه يادونه او ستاينه کړې ده، او رسول الله ﷺ ته يې په و ينا کې فرمايلي دي:

﴿وَٱذۡكُرۡ عِبَٰدَنَآ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ أُوْلِي ٱلۡأَيۡدِي وَٱلۡأَبۡصَٰرِ ٤٥ إِنَّآ أَخۡلَصۡنَٰهُم بِخَالِصَةٖ ذِكۡرَى ٱلدَّارِ ٤٦ وَإِنَّهُمۡ عِندَنَا لَمِنَ ٱلۡمُصۡطَفَيۡنَ ٱلۡأَخۡيَارِ ٤٧ وَٱذۡكُرۡ إِسۡمَٰعِيلَ وَٱلۡيَسَعَ وَذَا ٱلۡكِفۡلِۖ وَكُلّٞ مِّنَ ٱلۡأَخۡيَارِ ٤٨ هَٰذَا ذِكۡرٞۚ وَإِنَّ لِلۡمُتَّقِينَ لَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ٤٩ جَنَّٰتِ عَدۡنٖ مُّفَتَّحَةٗ لَّهُمُ ٱلۡأَبۡوَٰبُ ٥٠ مُتَّكِـِٔينَ فِيهَا يَدۡعُونَ فِيهَا بِفَٰكِهَةٖ كَثِيرَةٖ وَشَرَابٖ ٥١ وَعِندَهُمۡ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ أَتۡرَابٌ ٥٢ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ٥٣ إِنَّ هَٰذَا لَرِزۡقُنَا مَا لَهُۥ مِن نَّفَادٖ ٥٤﴾

[٤٥-٤٨] ای پیغمبره! او د زمونږ بنده ګانو نه ابراهیم، اسحاق او یعقوب را په یاد کړه، څکه دوی د خپل رب په بنده ګۍ او اطاعت کې د کلک تصمیم او د لوی ځواک خاوندان ول، او د الله په دین کې يې ښه پوهه او بصیرت درلود، او یقینا چې دوی ته مونږ د آخرت ورځې په یادښت کې ځانګړتیا ورکړې وه او د آخرت ورځې نیکمرغۍ ګټلو لپاره يې په پوره اخلاص سره تل عبادت کا وه، او د دوی زمونږ پر ورلاندې د غوره سوو کسانو نه ول، او یقینا چې دوی مونږ خپلې پیغمبرۍ ته غوره کړي ول! [او همداسې ته ای پیغمبره!] د زمونږ بنده ګان اسماعیل د ابراهیم بل زوی او یسع او ذا الکفل [یعنی د ښې برخې خاوند] را په یاد کړه، څکه دوی ټول د غوره سوو ښو خلکو نه ول، یعنی دوی ټول غوره بنده ګان ول، او د الله دین په تبلیغ کې دوی ډیرې ستونزې وګاللې او صبرې ور باندې وکه، نو د اسلام پیغمبر هم د هغوی غوندې صبر ته اړتیا لري، او همدارنګه د هغه دین وارثانو دعاتو ته ښایي چې په ستونزوکې صبر او زغم خپل خوی وګرځوي او کلک ودر یږي.

[٤٩-٥١] او د دغو پورته یاد سوو پیغمبرانو یادونه او د هغوی ښو خو یونو یادول په دنیا کې؛ دوی ته ښه ډیر پاتې یاد دئ، او په آخرت کې

دوی ته چې متقیان ول؛ ښـــه راتلونکې ده، او هغه تل پاتې جنتونه دي چې ورونه یې د دوی پر مخ تل پرانســـتي وي، او دوی به پکې تکیې وهلې وي او ډول ډول ډیري میوې او خوندور څښـاکونه به راغواړي، او د دوی سـره به د جنت حورو نه داسې میرمنې وي چې عمرونه یې په کلوکې سره برابرې وي او د خپلو میړونه پرته بل چا ته به نه ګوري! یعنی ښـــایي د زمونږ مومنې میرمنې په دنیا کې، لکه د جنتونو حورې خپلو میړو نه پرته بل چا ته ونه ګوري او خپل پت او عزت، لکه حورې کلک وساتي.

[۵۲-۵۳] [هو؛ ای متقیانو! او د الله تعالی فرمان وړونکو بنده ګانو!] دا هغه نعمتونه دي چې د ســتاســې ســره یې د حســاب ورکولو په ورځ په قیامت کې وعده ســوې وه او هغه تاسې ته د زمونږ تل پاتې روزي ده، یعنی نو تاسې به همداسې ورځخه خوند اخلی او خلاصیدل نلري!

ګرانو دوستانو! دا د آخرت ورځې تل پاتې او نه خلاصیدونکو نعمتونو ز یري دي چې هغه الله تعالی خپلو مخلصـــو او د الله په اطاعت او بنده ګی کې کلکو بنده ګانو تـه ورکړي دي، نو دعـاء کړو چې الله تعالی ده په خپل فضـل او رحمت سـره مونږ هم په دغسـې نعمتونو باندې ونازوي او په دنیا کې ده الله تعالی د خپل عبادت او بنده ګی توفیق راکړي او مونږ ده د محرومـانو نـه نـه ګرځوي، او یقینـا چې د پیغمبرانو د صـــبرونو او عبادتونو قصې د الله تعالی په لار کې رسول الله ﷺ ته او بیا د هغه امت دعاتو ته ډیرې غوره لارښـودنې دي، او کلک ډاډ او اطمئنان ورکوي.

{د کافر انو ځای د دوزخ په اور کې کړ یدل دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی مونږ د کافرانو تورې راتلونکې نه خبر کړې یو او د دوی او د نورو سـرکښـو کسـانو تور برخلیک تصـو یر یې مونږ ته په مخ کې انځور کړئ ایښئ دئ، او فرمایلي د:

﴿هَٰذَا ۚ وَإِنَّ لِلطَّٰغِينَ لَشَرَّ مَـَٔابٍ ﴿٥٥﴾ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا فَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ﴿٥٦﴾ هَٰذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ ﴿٥٧﴾ وَءَاخَرُ مِن شَكْلِهِۦٓ أَزْوَٰجٌ ﴿٥٨﴾ هَٰذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ لَا مَرْحَبًۢا بِهِمْ ۚ إِنَّهُمْ صَالُوا۟ ٱلنَّارِ ﴿٥٩﴾ قَالُوا۟ بَلْ أَنتُمْ

لَا مَرۡحَبَۢا بِكُمۡۖ أَنتُمۡ قَدَّمۡتُمُوهُ لَنَاۖ فَبِئۡسَ ٱلۡقَرَارُ ﴿٦٠﴾ قَالُواْ رَبَّنَا مَن قَدَّمَ لَنَا هَٰذَا فَزِدۡهُ عَذَابٗا ضِعۡفٗا فِي ٱلنَّارِ ﴿٦١﴾ وَقَالُواْ مَا لَنَا لَا نَرَىٰ رِجَالٗا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ ٱلۡأَشۡرَارِ ﴿٦٢﴾ أَتَّخَذۡنَٰهُمۡ سِخۡرِيًّا أَمۡ زَاغَتۡ عَنۡهُمُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ ﴿٦٣﴾ إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقّٞ تَخَاصُمُ أَهۡلِ ٱلنَّارِ ﴿٦٤﴾

[٥٥-٥٦] هو! دغه نعمتونه [چې مخکې یاد سول دا د متقیانو برخه وه] او یقینا چې د الله بنده ګی نه د سرکښو خلکو راتلونکې ډیره بده ده او هغه د دوزخ اور جهنم دئ او دوی به پکې کړ یږي، نو جهنم د اوسیدو ډیر بد ځای دئ!

[٥٧-٥٨] او دا دئ جهنم [نو کافران او ګناه ګاران ده] د دوزخ دغه سري او به او په اور کې سوز یدلو زوې وڅکي، او دوزخیانوته د دې نه پرته نور دغسې ډول ډول سزا هم ورکول کیږي، یعنی په جهنم کې کړ یدلو کافرانوته ډول ډول سوزوونکې سزاګانې ورڅکل کیږیږي [أعاذنا الله منها]

[٥٩-٦٠] [هو! کله چې دا د الله اطاعت او بنده ګی نه وتلي سرکښه کسان] ډله ډله دوزخ ته ورننوځي [یو بل ته کنځل کړي او سپکې سپورې سره وایي او یوه ډله بلې ته وایي: دغه کسان چې د ستاسي سره راننوتل] دوی ته څوک ښه راغلاست نه وایي، ځکه یقینا چې دوی په اور کې کړول کیږي، نو بیا کافرانو او د الله بنده ګی نه سرکښو خلکو پسې تللي کسان؛ خپلو مشرانوته وایي: اوس دلته تاسی ته نور توډ هرکلئ او ښه راغلاست نسته، ځکه تاسې مونږ ته د دوزخ اور سوغات په دنیا کې وړلاندې که [یعنی تاسې مونږ د خدای لارې نه واړولو] نو یقینا چې دوزخ هغو کسانو ته چې دوی تل پکې اوسیږي؛ ډیر بد ځائ دئ، یعنی هیڅ څوک ورڅخه د تیښتې لار نه مومي او بیرته را وتلای نسي.

[٦١] [نو بیا دا غولول سوي کشران خپلو مشرانوته ښیرې کړي او الله ته په زاری سره] وایي: ای د زمونږ لو یه ر به! هرچا چې دا [د کفر او د الله اطاعت نه د وتلو سوغات مونږ ته په دنیا کې] وړلاندې که [یعنی مونږ یې د سمې لارې نه واړولو] دوی ته د دوزخ په اور کې عذاب څو برابره کړې،

يعنی کلکه سزا ورکړي!

[٦٢-٦٣] [او بيا دا کافران او ګناه ګاران همداسې] وايي: هغه کسان چې دوی به مونږ په دنيا کې اشرار بلل او پر دوی باندې به مونږ ملنډې وهلې او سپکول به مو؛ اوس دوی چيرته دي؟ او يا دا چې د زمونږ سترګې د هغوی ليدلو نه کړې دي، يعنی دوی دلته ليدلای نسو؟ يعنی دا چې کله کافران مومنان په دوزخ کې نه و يې، نو بيا د پښيمانۍ په ښه کې د هغوی يوښتنه کړي او وايي: هغه کسان چې دوی ته به مونږ اشرار و يل اوس دوی چيرته دي؟ نو ځواب دا چې: هو! د مومنانو او متقيانوسره چې د حق پلو يان سول او پيغمبرانو پسې لاړل؛ الله تعالی خپلې وعدې پوره کړې او دوی يې د جنتونو په نعمتونو باندې ونازول او پکې يې خوښ ژوند او نيکمرغي ورکړه، ښاد او خوشحاله سول.

او بيا الله تعالی په ور پسې آيت کې د دوزخيانو په منځ کې د يو بل سره دغسې دعوا او د يو بل نه پوښتنې ر يښتيا بللي دي او په کلکه سره يې تاييد کړي دي، او فرمايلي دي:

[٦٤] هو! يقينا هغه خبرې ټولې حق او ر يښتيا دي او دوزخيان د يؤ بل سره دعوا کړي، او يؤ بل ملامتوي.

قدرمنو دوستانو! دا ؤ په دوزخ کې د کافرانو تور برخليک ژوندئ انځور يا تصوير چې هغه الله تعالی کافرانوته د نندارې لپاره په دنيا کې وړاندې کړئ دئ، ترڅو د دوی اوښ سرته راسي او ښه ژور فکر وکړي او ايمان راوړي او د دغسې تورې راتلونکې نه ځانونه په ايمان راوړو سره کلک وساتي، او يقينا چې الله تعالی په خپلو بنده ګانو باندې ډير مهر بان دئ او نه غواړي چې دوی د دوزخ په اور کې وکړ يږي.

{ پيغمبر د الله عذاب نه ګوابښونکئ اوقرآن لارښود پيغام دئ }

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارکو آيتونوکې د رسول اللهﷺ رسالت او د قرآن لوی پيغام مونږته ياد کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ مُنذِرٌ ۖ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّارُ ﴿٦٥﴾ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ

وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفَّٰرُ ٦٦ قُلۡ هُوَ نَبَؤٌاْ عَظِيمٌ ٦٧ أَنتُمۡ عَنۡهُ مُعۡرِضُونَ ٦٨ مَا كَانَ لِيَ مِنۡ عِلۡمِۭ بِٱلۡمَلَإِ ٱلۡأَعۡلَىٰٓ إِذۡ يَخۡتَصِمُونَ ٦٩ إِن يُوحَىٰٓ إِلَيَّ إِلَّآ أَنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ٧٠

[٦٥-٦٦] ای پیغمبره! ته [په کافرانو باندې غږ وکه او ورته] ووایه: زه په یقین سره تاسې ته د الله سزا نه یو و یرونکئ او ګواښونکئ یم [نو د بتانو بنده کې او عبادت پریږدی] ځکه د الله نه پرته بل په حق سره معبود نسه، او یوازې الله لوی ځواکمن خدای دئ او د ځمکې او د اسمانو په منځ کې د ټولو مخلوقات لوی څښتن دئ، او الله ښه ځواکمن او لوی بښونکئ ذات دئ، یعنی کافرانوته الله تعالی کلکه سزا ورکوي او هر څوک چې تو به و باسي او الله ته وروګرځي او یوازې د الله عبادت او بنده کې وکړي؛ هغه الله بښي، یعنی او بیا په آخرت کې جنتونه ورکوي او په ډیرو لو یو نعمتونوپې نازوي او هغه ورته بښي.

[٦٧-٦٨] او ای پیغمبره! [خلکوته ز یرئ ورکه او ورته] ووایه: دا کتاب قرآن [چې د هغه آیتونه زه تاسې ته لولم] هغه ډیر لوی پیغام دئ، خو تاسې ورڅخه مخ اړولئ دئ، یعنی د قرآن ګټورو لارښودنو نه ګټه نه اخلی!

[٦٩-٧٠] [ای خلکو!] او زه پاس په اسمان کې د ملائکو خبرو او مرکو نه چې د الله سره یې [د آدم د پیدایښت په باره کې کړې] پوه نه وم، یعنی دا چې که دا خبرې ماته وحیه سوې نه وای، نو زه ور باندې نه پوهیدلم او نه ورڅخه خبر وم [یعنی نو د زما دا ټولې خبرې په قرآن کې] د الله لخوا راته وحیه سوې خبرې دي [یعنی زه الله تعالی د هغې مرکې او مناظرې نه خبر کړم چې د الله او د ملائکو په منځ کی وسوه] او زه یقینا خلکوته ښکاره و یرونکئ یم، یعنی کافران او ګناه ګاران د الله عذاب نه د آخرت په ورځ ګواښم او ورڅخه یې و یروم.

{د لعنت سوي شیطان سره د الله اوږدې خبرې او مرکه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی ملائکې د آدم عليه السلام پیدایښت نه خبرې کړې دي او ورته یې حکم کړئ دئ چې آدم عليه السلام ته د درناوي سجده

وکړی، او فرمایلي دي:

﴿إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَٰلِقٌۢ بَشَرًا مِّن طِينٍ ﴿٧١﴾ فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِى فَقَعُوا۟ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴿٧٢﴾ فَسَجَدَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ﴿٧٣﴾ إِلَّآ إِبْلِيسَ ٱسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٧٤﴾ قَالَ يَٰٓإِبْلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَىَّ ۖ أَسْتَكْبَرْتَ أَمْ كُنتَ مِنَ ٱلْعَالِينَ ﴿٧٥﴾ قَالَ أَنَا۠ خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِى مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُۥ مِن طِينٍ ﴿٧٦﴾ قَالَ فَٱخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿٧٧﴾ وَإِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِىٓ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿٧٨﴾ قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِىٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿٧٩﴾ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلْمُنظَرِينَ ﴿٨٠﴾ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْوَقْتِ ٱلْمَعْلُومِ ﴿٨١﴾ قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٨٢﴾ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿٨٣﴾ قَالَ فَٱلْحَقُّ وَٱلْحَقَّ أَقُولُ ﴿٨٤﴾ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكَ وَمِمَّن تَبِعَكَ مِنْهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٨٥﴾﴾

[٧١-٧٢] ای پیغمبره! [او هغه خبرې ده خپل قوم ته راپه یادې کړه، کله چې د ستا رب الله ملائکو باندې غږ وکه او ورته یې] وو یل: زه یقینا د خټې نه انسان یا بشر پیدا کوم، نو بیاچې کله د هغه کالبوت ما جوړکه او د خپل روح نه ما پکې روح یا ساه پوه کړه [یعنی دمه پکې وچلیدله] نو بیا تاسې ای خلکو! هغه ته [د درناوي] په سجده پرمخې پر یوځی!

[٧٣-٧٤] نو بیا ټولو ملائکو آدم ته سجده وکړه، خو ابلیس چې د هغوی سره ؤ؛ کبرې وکه او سجده یې ونکړه، او ابلیس د کافرانو نه ؤ، یعنی ابلیس ملعون د الله حکم نه منکر سه او کبرې وکه او آدم علیه السلام ته یې د درناوي سجده ونکړه!

[٧٥] او بیا الله [د ابلیس نه و پوښتل او ورته یې] وو یل: ای ابلیسه! آدم چې ما په خپلو لاسو پیدا که، نو ته هغه ته سجدې کړو نه څه شي پرې نښودلې؟ آیا تا په آدم کبر وکه او ځان ده پر آدم باندې لوړ و باله، او که ته [ای ابلیسه!] د لوړو کسانو نه وې؟ یعنی آیا ته پر آدم لوړې او که ځان ده په خپل رب باندې لوړ و باله او کبر پسې واخستلې؟

[٧٦] [نو بيا ابليس په ډيره کبرجنه لهجه] وو يل: زه د آدم نه ښه او غوره يم، ځکه زه تا د اور نه پيدا کړم او آدم ده د خټې نه پيدا که!

[٧٧-٧٨] [نو بيا الله ورته وو يل: نور نو د دی ځای نه ووځه، ځکه ته په يقين سره رټل سوئ يې او د زما لعنت به يقينا د قيامت ورځې پورې پر تا باندې وي، يعنی ته به مختورن او رټل سوئ وې!

[٧٩-٨١] [نو بيا ابليس په زاری سره] وو يل: ای د زما لو يه څښتنه! ما د قيامت ورځې پورې چې په هغه ورځ ټول خلک د خپلو ګورونو نه بيرته راجګيږي؛ وزندوه [يعنی ما ته وخت او مهلت را کړه] الله ورته وو يل: ځه ای ابليسه! ته يقينا د هغې ښکاره ټاکل سوې ورځې پورې [چې هغه د قيامت ورځ ده] د زندول سوو نه يې، يعنی نو څه چې ده خوښه وي هغسې وکړه او خلک وغلوؤ!

[٨٢-٨٣] نو بيا ابليس لوړه وکړه او و يو يل: ای ر به! د ستا په عزت او لو يتيا ده زما قسم او لوړه وي چې زه به د آدم ټول کوول پرته د ستا خلاص سوو بنده ګانو نه وغولوم!

[٨٤-٨٥] [نو بيا الله تعالی په ځواب کې ورته وو يل:] ای ابليسه! نو حق او ر ښتيا واوره او تاته زه حق او ر ښتيا وايم چې دوزخ به ستانه او څوک چې تا پسې ځي د ټولونه ډک کړم! يعنی د ابليس او پلو يانو ځای او مينه يې دوزخ دئ او الله تعالی پر دوی دوزخ ډکوي.

ګرانو دوستانو! نو نن چې هرځوک د الله تعالی او د هغه دين سره دښمنی کړي او په ډول ډول پلمو سره د شيطان په لار روان دي؛ دوی ټول د ابليس ملعون فرمان لاندې دي او د قيامت په ورځ به د ټولو ځای د جهنم سور اور وي.

{رسول الله ﷺ اعلان کړئ دئ چې قرآن خلکوته لارښود دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې چې د (ص) مبارکې سورې وروستي آيتونه دي؛ رسول الله ﷺ د الله تعالی په حکم خلکوته اعلان کړئ دئ چې زه د دين په تبليغ کې د ستاسې نه څه مزدوري نه غواړم او قرآن د الله تعالی حق کلام تاسې ته لارښود پيغام دئ، او فرمايلي دي:

﴿ قُلْ مَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُتَكَلِّفِينَ ﴿٨٦﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَأَهُۥ بَعْدَ حِينٍۭ ﴿٨٨﴾ ﴾

[٨٦-٨٨] ای پیغمبره! [کافرانوته اعلان وکه او ورته] ووایه: زه د ستاسې نه څه مزدوري او اجرت نه غواړم او نه خپل ځان په تکلیفوم [یعنی زه د خپل دعوت په بدل کې څه اجرت نه غواړم، او نه زه د تور لرووونکو نه یم او نه دروغ وایم، او دا قرآن چې تاسې ته لولم] هغه ټولو خلکوته لارښود پیغام دئ [یعنی دوی ته په دنیا او په آخرت کې د دوی د ګټو یادونې کړي، او ای خلکو!] لږ وروسته به د قرآن په ر یښتینوالي پوه سی، یعنی کله چې اسلام په دنیا کې فاتح سوئ خور سي!

هو! عزتمنو دوستانو! بیا همداسې وسول او کله چې مکه فتحه سوه، نو ټولو خلکو ډله ډله ایمان راوړ او د اسلام دین یې په خپله خوښه ومانه، او دا دئ اوس هم الحمد لله د حق غږ او پیغام ته د نړۍ په ګوډ ګوډکې خلک لبیك وایي او مسلمانیږي او د الله تعالی حکمونه مني، نو یقینا چې راتلونکې د اسلام ده!

والحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وصحبه الكرام، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله أنت استغفرك وأتوب إليك.... ۞ ۞ ۞

د الزُمر سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوى رحمت خښتن او ښه مهر بان رب دئ پيل کيږي]

{ د الزُمر مبارکې سورې لنډه پيژندنه او لوى مقصدونه }

درندو عز يزانو! د الزُمر مبارکه سوره مکي سوره ده، نو په ډيرو آيتونو کې يې په اخلاص سره د الله تعالى په توحيد باندې په عبادت کې ټينګار کړئ دئ، او شرك او د بتانو ګډول الله تعالى سره په بنده ګى کې؛ کلک غندل سوي او رد سوي دي، او په پيل کې يې د قرآن مجيد پر رانازليدو باندې د ځواکمن رب الله تعالى لخوا ټينګار کړئ دئ، او دا ځکه چې د مکې کافرانو د قرآن کر يم په نزول کې شکونه او انديښنې راپارولې او د قرآن عظيم الشأن نزول يې د الله تعالي لخوا ردا وه او هغه يې نه مانه.

قدرمنو دوستانو! د الزمر کلمې معنا: ډله ډله ده، نو دا مبارکه سوره په الزمر، ځکه نومول سوې ده چې په وروستيو آيتونو کې يې جنت ته د مومنانو او دوزخ ته د دوزخيانو د ورننوتلو څرنګوالئ په ډله ايز ډول ياد سوئ دئ، يعنى دا چې د قيامت په ورځ به دوزخيان او جنتيان خپلو تل پاتې مينو او کورونو ته ډله ډله ورننوځي، او د الزمر مبارکې سورې په پيل

کې الله تعالى فرمايلي دي:

{ قرآن د الله نه رانازل سوئ دئ او عبادت د الله حق دئ }

هو! د الزمر مبارکې ســورې په پيل کې چې د قرآن مجيد حقانيت او ر ښتينوالئ پکې ياد سوئ او تاکيد سوئ دئ؛ الله تعالى فرمايلي دي:

﴿تَنزِيلُ ٱلْكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ۝١ إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ فَٱعْبُدِ ٱللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ ٱلدِّينَ ۝٢ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلْخَالِصُ ۚ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلْفَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِى مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى مَنْ هُوَ كَٰذِبٌ كَفَّارٌ ۝٣ لَّوْ أَرَادَ ٱللَّهُ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا لَّٱصْطَفَىٰ مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ ۖ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّارُ ۝٤﴾

[١] دا کتاب (قرآن) د الله نه چې لوی ځواکمن او ښــه حکيم رب دئ رانازل سوئ دئ.

[٢] ای پيغمبره! دا کتاب (قرآن) تاته مونږ يقينا په حق او ر ښــتيا ســره را نازل کړئ دئ، نو ته يوازې د الله عبادت وکړه او خپله بنده کې الله ته وکړځوه، يعنی د بتانو عبادت او بنده کې د الله عبادت ســره مه ګډوه، ځکه د مکې مشــرکانو به و يل چې مونږ بتان الله ته ســپارښــتونکې ګرځوو، ترڅو مونږ ته شــفاعت وکړي، ځکه دوی الله ته لنډ دي، خو په حقيقت کې مشرکانو د بتانو عبادت کا وه او هغه يې، لکه الله تعالى ځانو ته خدايان بلل او خپلې اړتياوې او حاجتو نه يې د بتانو نه غوښــتل، نو الله تعالى د مشــرکانو دا بې معنا دعوا رســول الله ته په و ينا کې رده کړې ده!

[٣] ای خلکو! پام کړئ چې دين [يعنی اطاعت او بنده کې] يوازې د الله حق دئ، نو د هغه عبادت کيږي [يعنی نو بل هيچا تــه د بنــده کې او د فرمان وړو سر ټيټول روا ندي] او هغو کسانو چې د الله نه پرته نور څوک خپلو ځانو ته ملګري ونيول [يعنی د الله ســره يې په عبادت کې ګډ کړل]

نو بيا دوی وو يل چې مونږ د بتانو عبادت نکړو، مګر دا چې بتان مونږ الله ته ورلنډ کړي [يعنی دوی مونږ په سپارښت کړو سره الله تعالی ته ورلنډه وي] او يقينا چې الله د قيامت په ورځ د مشرکانو او مومنانو په منځ کې په هغو مسئلو کې چې دوی د يو بل سره پکې اختلاف درلود؛ پر يکړه کړي [يعنی بيا هر چا ته د هغه خپل ثواب او سزا ورکوي] او يقينا هغه دروغژن کافر چې د حق نه منکر دئ؛ هغه الله سمې لارې ته نه سموي، يعنی هغه ته په سمه لار د تګ توفيق نه ورکوي او مرسته پې نکړي.

[٤] [هو؛ ای خلکو!] که الله غوښتي وای چې زوی ولري، نو بيا پې د خپلو مخلوقاتونه چې څوک غوښتي وای هغه پې خوښ کړئ ؤ، خو الله د زوی نيولو نه پاک او لوړ دئ [ځکه زوی د عاجزۍ او پې وسۍ نښه ده] او الله لوی ذات دئ او پر خپلو مخلوقاتو باندې کلک مسلط او واکمن دئ، يعنی الله بل هيڅ چا ته اړ ندئ، بلکې الله د مخلوقاتو څښتن دئ!

{د الله توحيد نښې د اسمانو او ځمکې په پيدايښت کې ځليږي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی خپل يو والئ او لوی قدرتونه ياد کړي دي، او فرمايلي دي:

﴿ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۖ يُكَوِّرُ ٱلَّيۡلَ عَلَى ٱلنَّهَارِ وَيُكَوِّرُ ٱلنَّهَارَ عَلَى ٱلَّيۡلِۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۗ أَلَا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفَّٰرُ ٥ خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ ثُمَّ جَعَلَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ ثَمَٰنِيَةَ أَزۡوَاجٖۚ يَخۡلُقُكُمۡ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ خَلۡقٗا مِّنۢ بَعۡدِ خَلۡقٖ فِي ظُلُمَٰتٖ ثَلَٰثٖۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ ٱلۡمُلۡكُۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُصۡرَفُونَ ٦ إِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنكُمۡۖ وَلَا يَرۡضَىٰ لِعِبَادِهِ ٱلۡكُفۡرَۖ وَإِن تَشۡكُرُواْ يَرۡضَهُ لَكُمۡۗ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرۡجِعُكُمۡ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ

تَعۡمَلُونَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٧

[٥] ځمکه او اسمانونه الله په حق اور یښتیا سره پیدا کړل، او شپه الله پر ورځ باندې راولي او ورځ پر شپه باندې، او لمر او سپوږمۍ د الله واک لاندې دي، او هغه ټول د ټاکل سوې نیټې پورې [یعنی د قیامت ورځې پورې] په خپل مدار او لیکه کې ګرځي راګرځي [یعنی خلک ورځخه خپلې ګټې پورته کوي] او ای خلکو! خبر سئ [چې د دغو ټولو مخلوقات پالونکې ځښتن الله؛ لوی ځواکمن او ښه ښونکئ ذات دئ، یعنی سرکښو کافرانو ته الله کلکه سزا ورکوي او مومنان ښې او د وړو تیروتنو نه تیریږي.

[٦] ای خلکو! تاسې ټول الله د یوه سړي نه [چې هغه آدم عليه السلام ؤ] پیدا کړئ او بیایې د هغه نه د هغه جوړه (میرمن) پیدا کړه او د څارو یو نه الله اته جوړې نر او ښځه درته پیدا کړل، او تاسې ستاسې د میندو په نسونو کې د درې تیارو لاندې یو بل پسې پیدا کوي، او الله د ستاسې پالونکئ ځښتن دئ او ټوله پاچایي او واکمني د الله ده، او د الله نه پرته بل په حق سره معبود نسته، نو تاسې څنګه د الله بنده ګئ نه پرته د بل چا بنده ګئ ته اوړئ؟ یعنی د خپل پالونکي ځښتن الله سره په عبادت او خدایئ کې بوتان شر یکوئ؟ نو د ستاسې دا کار شرک دئ او مشرکان الله نه ښئي.

[٧] او ای خلکو! که تاسې کافران سئ او د یوه رب الله بنده ګئ نه منکر سئ، نو پدې پوه سئ چې الله د ستاسې نه مستغني ذات دئ [یعنی تاسې ته هیڅ اړ او محتاج ندئ] خو الله خپلو بندګانوته کفر نه خوښوي، او که تاسې شکر و باسئ [یعنی یوازې د الله عبادت او بنده ګې وکړئ] نو هغه تاسې ته الله خوښوي، او هیڅ ګناه ګار بنده د بل چا ګناه پرغاړه نه اخلي، او ای خلکو! د ستاسې ټولو بیرته ورګرځیدل د ستاسې رب الله ته دي، او بیا الله تاسې د ستاسې ټولو کړنو نه په دنیا کې خبروي، ځکه یقینا چې الله د ټولو خلکو په زړونو ښه پوه خدای دئ، یعنی دا چې الله تعالی د هرچا سره د هغه کړنو او ګښت یا چلند سره برابر حساب کړي، نو بیا د ښو کړنو خاوندانو ته ثواب او ګناهګارانو ته

سزا ورکوي.

درندو عز يزانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د قرآن کر يم په حقانيت باندې کلک ټينګار کړئ دئ او رسـول الله ﷺ او د هغه امت يې د الله تعالى په عبادت او بنده ګۍ کې اخلاص ته رابللئ دئ او د مشـرکانو عبادت يې چې بتان يې پکې د الله سره شر يك کړي ول؛ غندلئ دئ او هغه يې په کلکو دليلونو سره رد کړئ دئ، او د الله تعالى د قدرتونو نښې يې د ځمکې او اسـمانو په خلقت او پيدايښـت کې او د خلکو په پيدايښـت کې بيان کړې دي، او بيايې د کافرانو نه خپله اسـتغنا ښـه روښـانه بيان کړې ده، او کافران يې په کلک حسـاب اخسـتلو ګواښـلي دي، نو ښـايي چې هر هوښيار بنده هغه ولولي او عمل پرې وکړي.

{د الله نعمتونو هيروونکي او د کافر انو ملګري دوزخيان دي}

او په ور پسـې مبارکو آيتونوکې الله تعالى انسـان د خپلې ناشـکرۍ نه خبر کړئ دئ، ځکه انسـان ته خپل رب يوازې په سـختيوکې ور په يادېږي، او کله چې سختي لرې سي، نو بيايې خداى هير سي، او په بيان کې يې الله تعالى داسې فرمايلي دي:

﴿* وَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ضُرّٞ دَعَا رَبَّهُۥ مُنِيبًا إِلَيۡهِ ثُمَّ إِذَا خَوَّلَهُۥ نِعۡمَةٗ مِّنۡهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدۡعُوٓاْ إِلَيۡهِ مِن قَبۡلُ وَجَعَلَ لِلَّهِ أَندَادٗا لِّيُضِلَّ عَن سَبِيلِهِۦۚ قُلۡ تَمَتَّعۡ بِكُفۡرِكَ قَلِيلًا إِنَّكَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِ ٨ أَمَّنۡ هُوَ قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيۡلِ سَاجِدٗا وَقَآئِمٗا يَحۡذَرُ ٱلۡأٓخِرَةَ وَيَرۡجُواْ رَحۡمَةَ رَبِّهِۦۗ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلَّذِينَ يَعۡلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٩﴾

[٨] [هو؛ ای پيغمبره!] کله چې انسـان ته کمه سـتونزه او ز يان ورسـېږي، نو بيا خپل رب ته رجوع کړي او دعاء کړي، خو کله چې الله خپلې پېرزو يني ور باندې ولوروي او د سـتونزونه يې خلاص کړي، نو بيا دئ خپلې پخوانۍ دعوا وې او غوښتنې د الله نه هيرې کړي، او د الله سره سـيالان ګرځوي او هغه ورسـره په خدايي کې ګډوي، ترڅو د الله لارې نه

ورک سي، نو ته ای پیغمبره! [په دغسې ناشکره او کافر سړي باندې غږ وکړه او ورته] ووایه: د خپل کفر نه لږ وخت لپاره خوند واخله، خو پوره باور او یقین ولره چې ته د دوزخیانو ملګرئ یې!

[۹] او آیا هغه څوک چې د شپې په ساعتونو یا ګړ یو کې په ولاړه یا په سجده پروت د الله عبادت کړي او د آخرت ورځې عذاب نه و یر یږي [یعنی ځان په اطاعت او بنده ګی سره د الله تعالی عذاب نه ساتي] او د خپل رب رحمت ورکړو او پیرزو ینو ته هیلمن او په طمعه دئ [یعنی نو آیا دا بنده او هغه کافر چې د خپل کفر نه خوند ا خلي سره برابر دي؟ ځواب دا چې نا دا دواړه هیڅ کله سره برابر ندي!] نو ای پیغمبره! [همداسې د کافرانو نه پوښتنه وکړه او ورته] ووایه: آیا هغه کسان چې پوهیږي [یعنی حق پیژني] آیا دوی د هغو کسانو سره برابر دي چې په څه نه پوهیږي او حق نه پیژني [ځواب دا چې: نا دا دواړه ډلې هیڅ کله سره برابر ندي] او یقیناچې یوازې هوښیاران د دغسې بیلګو نه ګټه ا خلي، یعنی د دغو دوه ډلو په منځ کې فرق باندې یوازې هوښیاران پوهیږي، نو ورځخه ګټه اخلي!

{مومنانو ته ارزښتناکه لارښودنې او کافرانو ته ګواښونه}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی مومنانو ته ډیرې ارزښتانکه لارښودنې او سپارښتنې کړې دي، او کافران یې کلک ګواښلي دي، او په بیان کې فرمایلي دي:

﴿قُلْ يَٰعِبَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمْۚ لِلَّذِينَ أَحْسَنُواْ فِي هَٰذِهِ حَسَنَةٌۗ وَأَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةٌۗ إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿١٠﴾ قُلْ إِنِّيٓ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ ٱلدِّينَ ﴿١١﴾ وَأُمِرْتُ لِأَنْ أَكُونَ أَوَّلَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿١٢﴾ قُلْ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٣﴾ قُلِ ٱللَّهَ أَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهُۥ دِينِي ﴿١٤﴾ فَٱعْبُدُواْ مَا شِئْتُم مِّن دُونِهِۦۗ قُلْ إِنَّ ٱلْخَٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِۗ أَلَا ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْخُسْرَانُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٥﴾ لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ ٱلنَّارِ وَمِن تَحْتِهِمْ ظُلَلٌۚ ذَٰلِكَ يُخَوِّفُ ٱللَّهُ بِهِۦ عِبَادَهُۥۚ يَٰعِبَادِ فَٱتَّقُونِ ﴿١٦﴾﴾

[١٠] ای پیغمبره! [د زما پر هغو بنده ګانو باندې چې دوی ایمان راوړئ دئ؛ غږ وکړه او ورته] ووایه: ای مومنانو! د خپل رب نه وو یر یږئ او په فرمان وړو سره یې د عذاب نه ځان وساتئ، او هغو کسانو چې پدې دنیا کې ښه وکړل او ایمان راوړ، نو بیا د دوی سره په دنیا او په آخرت کې ښه کړل کیږي [یعنی ښه نعمتونه ورکول کیږي، او ای مومنانو!] پدې پوه سئ چې د الله ځمکه ډیره لو یه ده [نو چې چیرته د الله ښه عبادت او بنده کې کړلای سئ؛ هلته هجرت وکړئ او کډه سئ] او هم پوه سئ چې صابرانو ته [چې دوی د الله دین په لار کې کلکې ستونزې ګالي او ور باندې صبر کړي] د دوی ثواب، مزدوري او اجرت د آخرت په ورځ ورته پوره او بې شمیره ورکول کیږي، یعنی هیڅ کمښت پکې نه وي!

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې د کافر او مومن په منځ کې فرق کړل په پوره عدالت سره بیان کړي دي، او مومنانو ته یې ډاډ او تسلیت ورکړئ دئ چې چیرې دوی د الله په دین ټینګ سي او ستونزې وګالي او کلک صبر ور باندې وکړي، نو بیا دوی ته الله تعالی په دنیا او په آخرت کې ډیر ثوابونه ورکوي او عزت او سرلوړي ور په برخه کوي، او بیا الله تعالی رسول اللهﷺ ته لارښودنه کړي ده چې د خپل امت مومنانو ته اجازه ورکړي چې د الله تعالی ډاډمن عبادت په مقصد د ظالمانو واکمنئ سیمې نه بل ځای ته د الله په ځمکه کې کډه سي او هجرت وکړي، ترڅو د خپل رب عبادت په پوره ډاډ او اطمینان سره وکړي.

هو! درندو دوستانو! دا دئ د هجرت حکم، ترهغو چې مظلوم مومنان د ظالمانو او کافرانو د ظلم نه خلاص سي او وکولای سي چې په ډاډه زړه او پاخه اطمئنان سره د خپل رب الله تعالی عبادت او بنده ګی وکړي او د الله حکمونه پر ځان عملي کړي او لوی لوی ثوابونه وګټي.

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی همداسې خپلې لارښودنې رسول اللهﷺ ته سره ده سپارښتنو رسولي دي، او فرمایلي دي:

[١١-١٢] ای پیغمبره! [خلکو ته اعلان وکړه او ورته] ووایه: ما ته د زما رب الله حکم کړئ دئ چې یوازې د الله عبادت او بنده ګي وکړم او خپل

اطاعت او فرمان وړنه یوازې الله ته وکړځوم، او هم را ته حکم سوئ دئ چې لمړنئ مسلمان وم، یعنی دا چې بیا تاسی هم راپسې لاړ سی او یوازې د یوه رب الله بنده کې وکړی او بل هیڅ څوک د الله سره په خدایي کې ګډ او شریك نکړی!

[١٣] ای پیغمبره! [او خلکو ته] ووایه: هو! که چیرې زه د خپل رب الله حکم نه سرغړونه وکړم، نو بیا یقیناچې د لویې ورځې (قیامت) د عذاب او سزا نه و یر یږم!

[١٤-١٦] ای پیغمبره! [نو ته په یقین سره خلکو ته] ووایه: زه د الله عبادت او بنده کې کړم او په پوره اخلاص سره یوازې د الله فرمان وړم، یعنی بل هیڅ څوک او هیڅ څه شئ د الله سره په فرمان وړو او خدایي کې نه ګډوم، نو تاسې ای کافرانو! په خپله خوښه د الله نه پرته بل هر څوک چې غواړی د هغه عبادت وکړی! [یعنی دا ځکه چې د ستاسې شرك الله ته هیڅ ز یان یا تاوان رسولای نسي] خو ای پیغمبره! دا خبره ټولو خلکو ته اعلان کړه چې ر یښتیني ز یانمن؛ هغه کسان دي چې د قیامت په ورځ یې خپل ځانونه او خپله کورنۍ او کوول د لاسه ورکړل، او دا نو ښکاره ز یان او تاوان دئ [یعنی د قیامت په ورځ چې ډیره لو یه ورځ ده کافران سره د خپلو کورنیو د دوزخ سره اور ته ورغورځول کیږي او له پاسه او لاندې نه یې د دوزخ اور لمبې بلې وي، او دوی کړوي، او په دغسې عذاب باندې الله خپل بنده ګان ګوابنې، ترڅو ورڅخه ځانونه وساتي، نو ای د زما بنده ګانو! د د غسې ورځې سزا او عذاب نه خپل ځانونه کلک وساتئ، او د الله عذاب نه کلک وو یر یږي، یعنی ایمان راوړی او شر یعت عملي کړی!

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې رسول الله ﷺ ته امر کړئ دئ چې ټول خلک د خپلې پیغمبرۍ لوی مقصد نه خبر کړي او ورته ښکاره اعلان وکړي چې ما ته الله امر کړئ دئ، ترڅو یوازې د الله عبادت وکړم او د هغه حکمونو ته غاړه کیږدم، نو ځکه زه د خپل رب الله سره بل هیڅ څوک او هیڅ شئ په عبادت کې نه شر یکوم، ځکه زه د قیامت ورځې کلکې سزا نه و یر یږم، او ای خلکو! د ستاسې خوښه چې د

بل هر چا عبادت او بنده کي کړی، خو پدې پوه سی چې د قیامت په ورځ خپل ځانونه او خپل کافر کوول د لاسه ورکوی او د ستاسې ټولو ځای به د دوزخ سور اور وي، او هغه به د ستاسې لاندې او باندې در باندې بلیږي او تاسې به پکې کړ یږی. [نعوذ بالله من نار جهنم!]

{د طاغوت بنده گی نه ځان ساتونکي ر یښتیني هوښیاران دي}

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی هغو مومنانو ته ز یږئ ورکړئ دئ چې دوی د طاغوت بنده گی نه خپل ځانونه ساتلي دي او طاغوت یې د الله سره په عبادت کې ندئ شر یك کړي، او فرمایلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ ٱجْتَنَبُوا۟ ٱلطَّٰغُوتَ أَن يَعْبُدُوهَا وَأَنَابُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ ۚ فَبَشِّرْ عِبَادِ ﴿١٧﴾ ٱلَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُۥٓ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَىٰهُمُ ٱللَّهُ ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمْ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١٨﴾ أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ ٱلْعَذَابِ أَفَأَنتَ تُنقِذُ مَن فِى ٱلنَّارِ ﴿١٩﴾ لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ مِّن فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ۖ وَعْدَ ٱللَّهِ لَا يُخْلِفُ ٱللَّهُ ٱلْمِيعَادَ ﴿٢٠﴾﴾

[۱۷-۱۸] او هغو کسانو چې د طاغوت عبادت نه ځانونه وساتل او خپل رب الله ته یې مخ واړا ؤ[یعنی په اخلاص سره یې د الله عبادت او بنده کي وکړه] نو ته ای پیغمبره! د زما دغو بنده گانو ته ز یږئ ورکړه [چې دوی ته به په دنیا او په آخرت کې نیکمرغی او جنتونه ورکړل سي، ځکه دوی خپل ځانونه د بتانو بنده گی او فرمان وړو نه وساتل] او دوی هغه کسان دي چې خبرې اوري او بیا ښو خبرو پسې ځي او هغه منی، او هم دوی هغه کسان دي چې الله حق ته سم کړي او هدایت کړي دي، نو همدا دوی په حق او ر یښتیا سره هوښیاران دي!

قدرمنو دوستانو! د طاغوت نه مقصد او مراد د الله تعالی نه پرته د هر ناحقه معبود بنده کي او حکم منل دي، که هغه بوت وي او یا ژوندئ فرمان ورکونکئ ټول واک انسان، لکه فرعون او یا بشري فلسفه، لکه الحاد، سوسیالیزم، امپریالیزم او ورسره تړې اوسنی بشري فلسفې، لکه لبرالیزم، سیکولار یزم او نورې ډیر هغه غربي فکرو نه او نظریې چې

ملحدين او سيکولاران ور باندې تل د ترقۍ کاذب شعار لاندې شوخند وهي او هغه په ټولنه کې خوروي.

[١٩] نو آيا ته اى پيغمبره! هغه څوک د دوزخ اور نه خلاصولاى سې چې په هغه باندې د عذابولو حکم سوئ دئ؟ يعنى کله چې دا سړئ په خپل کفر ټينګار کړي، نو په هغه باندې د سزا ورکولو پر يکړه سوې ده، او ته اى پيغمبره! هيڅ کله کافران د الله سزا نه خلاصولاى نسي!

[٢٠] خو هغو کسانو چې په ايمان رواړو سره ځانونه د خپل رب الله عذاب نه وساتل؛ دوى ته په جنت کې داسې کوټې او مانۍ ورکول کيږي چې يوه يې د بلې په سر ودانه سوي وي [يعنى د لوړو پوړونو نه جوړه سوې مانۍ ورکول کيږي] او د دغو برجونو لاندې د او بو و يالې او نهرونه بهيږي، او دا د الله وعده ده او الله په خپلو وعدو کې خلاف نکړي!

قدرمنو عز يزانو! دا مبارك آيت رسول الله ﷺ ته د تسليت او د ډاډ پيغام دئ، ځکه دئ د خپل قوم په شرك باندې ډير خفه ؤ، او هداسې پدې مبارك آيت کې متقيانو ته الله د لو يو جنتونو ز يرئ ورکړئ دئ.

{ حق او باطل ته د زړه اوښتلو څرنګوالئ لکه د دنيا ژوند دئ }

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى په ډير ټينګار سره د خپلو بنــو لو يو قدرتونو هغه نښې يادې کړې دي چې هغه حق او باطل ته د زړونو اوښتلو ته ورته دي، او فرمايلي دي:

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهُۥ يَنَٰبِيعَ فِى ٱلْأَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِۦ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ حُطَٰمًا ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٢١﴾ أَفَمَن شَرَحَ ٱللَّهُ صَدْرَهُۥ لِلْإِسْلَٰمِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ مِّن رَّبِّهِۦ ۚ فَوَيْلٌ لِّلْقَٰسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن ذِكْرِ ٱللَّهِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢٢﴾ ٱللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ ٱلْحَدِيثِ كِتَٰبًا مُّتَشَٰبِهًا مَّثَانِىَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهْدِى بِهِۦ مَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنْ هَادٍ ﴿٢٣﴾ أَفَمَن

يَتَّقِي بِوَجْهِهِۦ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِۚ وَقِيلَ لِلظَّٰلِمِينَ ذُوقُواْ مَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٢٤﴾ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٥﴾ فَأَذَاقَهُمُ ٱللَّهُ ٱلْخِزْيَ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلْءَاخِرَةِ أَكْبَرُۚ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾

[٢١] ای پیغمبره! آیا ته نه و یې چې او به الله یقینا د اسمان نه راوورولې او بیایې د هغو نه په ځمکه کې چینې و بیولې او بیا په او بو باندې الله د ځمکې نه ډول ډول کښتونه راشنه کوي، او بیا دا شنه کښتونه مخ په وچیدو زیړ سوي و یې او بیا هغه الله ټوټه سوې ایره کړځوي او یقیناچې د الله په دغو کړنو کې هوښیارانو ته د الله لو یو قدرتونو ور په یادول دي، یعنی داچې ښایي هوښیارن عبرت وا خلي او ایمان راوړي او د کفر او شرك نه لاس وا خلي!

[٢٢] [هو؛ ای خلکو!] آیا هغه څوک چې د هغه زړه الله اسلام ته [یعنی ایمان را وړ ته] لوی او رڼا که او هغه ته د خپل رب الله له لوري رڼا ورکړه سوه [یعنی آیا دئ د هغه چا غوندې دئ چې زړه یې تنګ او کلک دئ؟ ځواب دا چې: نا دا دواړه سره برابر ندي] نو د کلکو زړنو خاوندانو ته چې د الله یاد نه غافل دي؛ هلاکت دئ او دوی په ښکاره ورکتیا کې دي!

[٢٣] [ای خلکو!] او دا د ډیرو ښو خبرو کتاب(قرآن) الله [پر خپل پیغمبر باندې رانازل که] او د هغه آیتونه یو بل ته ورته دي او د زدکړې دلیلونه او قصې یې یوه بلې پسې په وار وار سره یادې سوې دي [یعنی په تکرار سره لوستل کیږي] او د هغه کسان چې د الله عذاب نه و یر یږي د قرآن آیتونو په اور یدلو سره د دوی غوني یا پوستکي ز یږ یږي او ځانونه یې لړز یږي، او بیایې پوستکي او زړونه بیرته د الله یاد ته ور پستیږي، او دا کتاب (قرآن) د الله لارښودنو پیغام دئ او الله چې څوک په هغه باندې وغواړي؛ په سمه لارې خوځوي او د چا نه چې الله سمه لار ورکه کړي، نو بیا دئ بل څوک لارښود نلري، یعنی خلکو ته د ایمان راوړو او د ښو کړنو توفیق ورکولو واک ټول د الله سره دئ، او هغه څوک چې د الله په

تقديري حكم سره د سمې لارې نه ورک سي، نو بيايې بل هيڅ څوک په سمه لار روانولای نسي! نو همداسې به تل ورک وي.

[٢٤] ای خلکو! او آيا هغه څوک چې[د قيامت په ورځ لاس ترلۍ د دوزخ اور ته اچول کيږي] او بيا دئ په خپل مخ باندې د بد عذاب نه ځان ساتي [نو آيا دا کس او په جنتونو کې نازول سوئ مومن بنده سره برابر دئ؟ ځواب دا چې: دا دواړه هيڅ کله سره برابر ندي، ځکه مومن بنده د الله ډيرو نعمتونو نه په خوند اخستو کې دئ] نو بيا د قيامت په ورځ پر هغو کافرانو باندې چې په خپلو ځانويې تيرئ کړئ دئ؛ غږ کړی چې اوس نو د خپلو بدو کړنو سزا وڅکی!

[٢٥-٢٦] [هو؛ ای پيغمبره! د ستا امت نه مخکې پخوانيو خلکو خپل پيغمبران دروغژن و بلل او ايمان را نور] نو بيا دوی ته ډير کلک عذاب او سزا د داسې يوې خوا نه راغله چې دوی هيڅ فکر نه کا وه، نو بيا دوی ته الله په دنيا کې خواري ور وڅکله او د آخرت ورځې عذاب خو لا ډير غټ دئ، نو که کافران پوهيدلای، يعنی نو ايمان بې راوړئ ؤ او پيغمبران بې منلي ول او ځانونه بې د قيامت ورځې کلک عذاب نه ساتلي ول، خو دوی همداسې د ډير ضد نه په ناپوهی کې پاتې سول، ترڅو چې دوزخ د دوی ځای سه او هلته به پکې تل پاتې کړ يږي!

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونوکې د خپل مبارك کلام قرآن زورور تاثير د مومنانو په زړنو باندې ياد کړئ دئ او دوی يې ستايلي دي او د کافرانو کلک زړونه يې غندلي دي، او بيايې دوی په کلک عذاب باندې په دنيا او په آخرت کې ګواښلي دي، ترڅو دوی د خپل ضد کړونو نه لاس واخلي او د رسول اللهﷺ پيغمبري ومني او باور پرې وکړي او بيا د قيامت په ورځ د مومنانو سره ګډو جنتونو ته ورننوځي، خو هغه کافران چې د دوزخ اور ته پرمخې ورغورځول کيږي، که دوی خپل ځانونه پوه نکړي، نو ډير خواروونکئ عذاب به په دنيا او آخرت کې وروڅکل سي!

ګرانو عز يانو! نو مونږ مومنان د الله تعالی پيرزو ينو نه ډير منونکي يو چې الحمد لله د اسلام حق دين ته الله هدايت کړي يو، او دعاء کړو

چې الله ده مونږ همداسې په خپل دين باندې ټينګ وساتي او د هر ډول کفر او الحاد نه ده الله تعالى مونږ لرې لري او ثبات او ټينګښت ده راپه برخه کړي او مونږ ده الله د هر ډول شر نه په خپل رحمت سره وساتي او د دنيا او آخرت ورځې نيکى ده د زمونږ ټولو په برخه کړي.

{ قرآن چې په عربي ژبه دئ د شرك او توحيد بيلتون بيانوي }

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى قرآن کر يم کلک ستايلي دئ او په بيان کې فرمايلې دي:

﴿وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ مِن كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾ قُرْآنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِي عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٢٨﴾ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيهِ شُرَكَاءُ مُتَشَاكِسُونَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ۚ الْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٩﴾ إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ ﴿٣١﴾ * فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَذَبَ عَلَى اللَّهِ وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ إِذْ جَاءَهُ ۚ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكَافِرِينَ ﴿٣٢﴾ وَالَّذِي جَاءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴿٣٣﴾ لَهُم مَّا يَشَاءُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ۚ ذَٰلِكَ جَزَاءُ الْمُحْسِنِينَ ﴿٣٤﴾ لِيُكَفِّرَ اللَّهُ عَنْهُمْ أَسْوَأَ الَّذِي عَمِلُوا وَيَجْزِيَهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ الَّذِي كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٣٥﴾ أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ ۖ وَيُخَوِّفُونَكَ بِالَّذِينَ مِن دُونِهِ ۚ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ﴿٣٦﴾ وَمَن يَهْدِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن مُّضِلٍّ ۗ أَلَيْسَ اللَّهُ بِعَزِيزٍ ذِي انتِقَامٍ ﴿٣٧﴾﴾

[٢٧] اى پيغمبره! او پدې کتاب قرآن کې خلکو ته مونږ [د پخوانيو امتونو د مثالونو او بيلکو نه هر مثال او بيلکه] بيان کړه، ترڅو دوى ورته پام وکړي او کټه ورڅخه وا خلي، يعنى ايمان راوړي او د الله تعالى عبادت نه سرغړونه پر يږدي.

[٢٨] او قرآن مونږ په سمه عربي ژ به را نازل کړئ دئ [يعنى هيڅ ککښت او بندښت پکې نسته] ترڅو خلک د الله عذاب نه وو ير يږي او

ځان ورځخه وساتي، یعنی د الله تعالی حکمونه چې په قرآن کې ورته بیان سوي دي ومني او عمل ور باندې وکړي او خپل ځانونه د آخرت ورځې کړونکي عذاب نه کلک وساتي!

[۲۹] هو! الله خلکو ته د هغو دوه (مر یانو یا مزدورانو) مثال او بیلګه یاده کړې ده چې یو د دوی د څو ګډو بادارانو لاس لاندې وي او دوی تل د یو بل سره په ستونزه او لانجه کې وي، نو بیا دا مر یه یا مزدور حیران وي چې د خپلو بادرانو نه کم یو لمړئ خوښ او راضي کړي؟ او بل مزدور یا مر یېئ د یوه سم بادار لاس لاندې وي، نو آیا دا دواړه یو د بل سره برابر دي؟ [ځواب دا چې: نا! هیڅ کله هم دا دواړه مر یان یا مزدوران سره برابر ندي، ځکه یویې تل په اندیښنه او حیرانتیا کې دئ او بل یې په ډاډ او اطمئنان کې دئ، نو مشرك او مومن بنده همدې مثال ته ورته دي [یعنی مشرك او کافر تل په حیرانتیاکې وي چې څه وکړي او کم یو د خپلو خدایانو نه ژر خوښ او راضي کړي؟ او مومن بنده چې د یوه رب او خدای بنده کې کړي؛ ښه ډاډمن او مطمئن وي] نو الحمد لله چې دغه بیلتون یې را ته د کافر او مومن په منځ کې [په دغسې یوه بیلګه او روښانه مثال کې] بیان کړئ دئ، خو د کافرانونه ډیر خلک نه پوهیږي او حق نه پیژني!

هو! درندو دوستانو! دا ژوندۍ بیلګه چې د حق او باطل او د شرك او توحید واقعي مثال دئ؛ د ټولو مشرکانو او باطل پلو یانو نه غواړي چې په دغسې بیلګه کې چې د حقیقت ښه ځلانده څرګنده وونکې ده؛ ژور فکر وکړي او د شرك نه توحید ته راواوړي او د کفر او شرك نه لاس وا خلي!

[۳۰-۳۱] ای پیغمبره! او یقیناچې ته مړ کیږې او کافران هم یقینا مړه کیږي او بیا به تاسې ټول د قیامت په ورځ د خپل رب الله پر وړاندې یو بل سره دعوا او جدال کړی، نو بیا الله په پوره عدالت او انصاف سره د ستاسې په منځ کې قضاوت او پر یکړه کړي، یعنی په هغه ورځ به بیا کافران دوزخ ته ځي او مومنان به د الله لو یو جنتونو ته ورننوځي.

[۳۲] نو څوک د هغه چا نه ډیر ظالم دئ چې الله پسې یې دروغ وو یل [او کله چې حق ورته راغئ] هغه یې هم دروغ و باله او وې نه مانه؟ [یعنی

هيڅ څوک د دغسې سړي نه ډير دروغژن ندئ او دغه سړئ هغو کافرانو ته ورته دئ چې قرآن د الله تعالى نه راغلئ حق کتاب نه مني او هغه دروغ بولي او پيغمبر پسې هم سپکې سپورې وايي] نو آيا د کافرانو ځای دوزخ ندئ؟ يعنى نو ځواب دا چې: هو! دوزخ د کافرانو ځای او تل پاتې کور دئ، او په سره اور کې بې دوی تل کړ يږي.

[٣٣] او هغه چاچې د حق پيغام خلکو ته راوړ [يعنى پيغمبرﷺ] او بيا چې هرچا هغه تصديق که او وې مانه، نو دا کسان ټول په ر يښتيا سره متقيان دي، يعنى خپل ځانونه يې د الله سزا او عذاب نه کلک ساتلي دي.

[٣٤] او دوی ته چې څه شئ غواړي هغه د دوی رب الله سره تيار دي، او هغه ښو خلکو ته ثواب او انعام دئ.

[٣٥] ترڅو د مومنانو نه الله بد کړل او ګناه په دنيا کې تويې کړي او د دوی اجر او ثواب د دوی د ښو کړنو نه لا ښه او ډير ورکړي.

[٣٦] ای پيغمبره! او آيا الله خپل بنده ته بس او کافي ندئ؟ [ځواب: هو! الله تعالى خپل بنده رسوالله ﷺ ته کافي دئ] ای پيغمبره! او مشرکان چې تا د الله نه پرته پر هغو کسانو و يروي او ګوابې ده چې دوی يې د الله نه پرته خدايان بولي [نو تاته يوازې الله بس دئ او الله تعالى تا د دوی ګوابښونو او پټکو نه کلک ساتي] او هغه څوک چې الله ورک او بې لارې کړي، نو بيا هغه بل هيڅ څوک لارښود نلري چې هغه ته سمه لار وښيي!

[٣٧] او هغه څوک چې الله هدايت کړي [يعنى په حق او سمه لارې روان کړي] نو بل هيڅ څوک هغه د سمې لارې نه ورکولای نسي، او آيا الله ځواکمن او غچ اخستونکئ ذات ندئ؟ يعنى نو ځواب داچې: هو! الله لوی ځواکمن او زورو څښتن دئ او کافرانو ته سزا ورکونکئ؛ لوی غچ اخستونکئ ذات دئ؟

عزتمنو دوستانو! الله تعالى په دغو مبارکو آيتونو کې د حق او باطل په منځ کې ډير روښانه مثال او بيلګه بيان کړي ده، او بيايې د کافرانو ظلم او تيرئ د الله تعالى او د هغه پيغمبرﷺ حق باندې بيان کړئ دئ او کافران يې په کلکه سزا ګوابلي دي او مومنانو ته يې د ډيرو ثوابونو او د

لو يو انعامونو ز يرئ ورکړئ دئ، او بيا الله تعالى رسول الله ﷺ ته د کافرانو د دښمنۍ او د ډيرو توطئيو پر وړاندې چې رسول الله ﷺ ته يې جوړولې، ډاډ او کلک اطمئنان ورکړئ دئ، لکه څنګه چې د رسول الله ﷺ د نبوت دوره ور باندې شاهدي وايي! او دا ډاډ او اطمئنان همداسې د پيغمبر د دين ټولو مبلغينو او دعاتو ته چې په پوره هوښياري او اخلاص سره د رسول الله ﷺ په لار کلک ولاړ دي؛ د تل پاتې ډاډ ز يرئ دئ او الحمد لله په بيلګويې د اسلام تار يخ ډک دئ.

{د مکې کافرانو د ر بوبيت توحيد مانه په الوهيت منکرول}

او په ور پسې مبارکو آيتون کې الله تعالى همداسې د رسول الله ﷺ او د کافرانو په منځ کې سوال ځواب د الله تعالى ر بو بيت په باره کې ياد کړئ دئ، او په بيان کې فرمايلي دي:

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۚ قُلْ أَفَرَءَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ إِنْ أَرَادَنِىَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كَٰشِفَٰتُ ضُرِّهِۦٓ أَوْ أَرَادَنِى بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكَٰتُ رَحْمَتِهِۦ ۚ قُلْ حَسْبِىَ ٱللَّهُ ۖ عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ﴿٣٨﴾ قُلْ يَٰقَوْمِ ٱعْمَلُوا۟ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّى عَٰمِلٌ ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٤٠﴾﴾

[۳۸] ای پيغمبره! او که ته د دغو مشرکانو نه و پوښتې چې دا اسمانونه او ځمکه چا پيدا کړل؟ نو دوی به په کلک باور سره درته ووايي: الله پيدا کړل، نو بيا ته ووايه: نو که ما ته الله څه ز يان يا ضرر رسول وغواړي، نو آيا د ستاسې دغه خدايان چې تاسې د الله نه پرته خپلو ځانو ته د دوی نه مرسته غواړی، آيا هغوی زما نه دا ستونزه او ز يان لرې کولای سي ؟ او همدارنګه که الله د خپل رحمت نه ما ته څه شئ راکړي، نو آيا د ستاسې خدايان د الله رحمت پيرزو يې د زما نه لرې کولای سي؟ [نو ای پيغمبره! کافران به تا ته په ځواب کې وايي: نا! د زمونږ خدايان د دغسې کارونو وسعه نلري] نو بيا ته دوی ته ووايه: نو ما ته يوازې الله کافي او بس دئ، او توکل کونکي بنده ګان يوازې پر الله باندې باور کړي او

خپل ځانونه ور باندې سپاري!

[٣٩-٤٠] او ای پیغمبره! [نو ته ده خپل کینه کښې او سـر زوري قوم قر یشـو ته اعلان وکه او ورته] ووایه: تاسـې ځې خپل کار کړئ او زه به خپل کار کړم او بیا به تاسې پوه سې چې چا ته په دنیا کې خوارونکئ عذاب راځي او ور ته ښه ذلت او خواري ورکوي، او په آخرت کې به هم په تل پاتې عذاب کې کړ یږي؟ یعنی دا چې کافرانو ته په دنیا او په آخرت کې؛ کلکه سـزا ورکول کیږي، لکه څنګه چې د مکې کافرانو ته الله تعالی په بدر او په نورو غزا ګانو کې کلکه سزا ورکړه او دوی یې ښه خوار او سپک کړل.

{قرآن خلکو ته لارښود دئ او د الله قدرتونه پکې یاد سوي دي}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی همداسې رسـول الله ﷺ ته ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ او خپل لوی قدرتونه او د کافرانو بده راتلونکې یې پکې بیان کړې ده، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ لِلنَّاسِ بِٱلۡحَقِّۖ فَمَنِ ٱهۡتَدَىٰ فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيۡهَاۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡهِم بِوَكِيلٍ ٤١ ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلۡأَنفُسَ حِينَ مَوۡتِهَا وَٱلَّتِي لَمۡ تَمُتۡ فِي مَنَامِهَاۖ فَيُمۡسِكُ ٱلَّتِي قَضَىٰ عَلَيۡهَا ٱلۡمَوۡتَ وَيُرۡسِلُ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّىۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ٤٢ أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُفَعَآءَۚ قُلۡ أَوَلَوۡ كَانُواْ لَا يَمۡلِكُونَ شَيۡـٔٗا وَلَا يَعۡقِلُونَ ٤٣ قُل لِّلَّهِ ٱلشَّفَٰعَةُ جَمِيعٗاۖ لَّهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٤٤﴾

[٤١] ای پیغمبره! یقیناچې مونږ دا کتاب قرآن چې هغه په ر یښـتیا او حق سـره خلکو ته لارښـود دئ؛ پر تا باندې رانازل کړئ دئ، نو څوک چې هدایت سـه [یعنی د قرآن لارښـودنو نه یې ګټه واخسـته] نو ګټه یې خپل ځان ته رسـولې ده، او څوک چې د قرآن لارښـودنو نه ورک سـه، نو خپل ځان یې ورک کړئ دئ، یعنی خپل ځان ته یې ز یان رسـولئ دئ، او ته ای

پیغمبره! پر دوی څارن او د دوی نماینده نه یې، یعنی د خلکو پوښتنه د ستا نه نکیږي او هر څوک د خپلو کړنو مسؤول دئ او ګټه او تاوان یې ګالي، او پیغمبر او د هغه دین ته رابلونکي دعات د کافرانو او فاسقانو د بې دینۍ نه د تبلیغ نه وروسته مسؤول ندي، او هر څوک به خپل پیټئ خپله پشا کوي!

قدرمنو دوستانو! نو د اسلام مبلغینو او حق ته رابلونکو دعاتو ته چې دوی د پیغمبرﷺ وارثان دي؛ ښایي د الله تعالی دا لارښودنه او سپارښت خپل پیغمبرﷺ ته؛ تل په یادکې ولري او هیڅ کله هم د خپل قوم ټینګار نه په کفر او ګناه باندې؛ داسې خفه نسي چې بیا خپل ځانونه ور باندې کلک غمجن کړي.

[٤٢] هو! یوازې الله دئ چې هر چا ته د هغه ژوند برخه ور پوره کوي، او بیاچې کله د هغه مړ ینې وخت راسي او اجل یې پوره سي، نو بیایې ساه اخلي او بیرته یې نه ورخوسې کوي، خو هغه څوک چې په خوب کې مړ نسه، نو د مړ ینې پر یکړه یې لا نده سوې، نو بیا الله د هغه روح او ساه د هغه اجل پوره کیدو پورې بیرته ورخوسې کوي، او یقیناچې پدې کې هوښیارانو ته چې ښه فکر کړي؛ د الله د قدرتونو لوبې نښې نغښتې دي.

ګرانو دوستانو! مفسر ین وایي چې د انسان مرګ او مړ ینه دوه ډوله ده، لمړۍ وړه مړ ینه چې په خوب کې وي، او دو یمه غټه مړ ینه چې هغه د انسان روح او ساه اخستل دي چې الله تعالی دئ ور باندې را ژوندئ ګرځ دئ او بیا هغه الله تعالی بیرته ورڅخه را باسي او اخلي یې، نو بیایې بدن د کالبوت غوندې پاتې کیږي او ساه پکې نه چلیږي، ځکه روح یې قبض سوئ او و یستل سوئ دئ، نو یقیناچې دا کار د الله تعالی پر لوی قدرت باندې دلالت کړي، او هغه څوک ښه پرې پوهیږي چې هوښیار وي او ژور فکر کړي، ترڅو خپل رب الله ښه و پیژني او په اخلاص سره یې بنده ګي وکړي!

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونوکې همداسې الله تعالی خپل نور لوی قدرتونه یاد کړي او بیان کړي دي او د مشرکانو پلمې یې د بتانو په عبادت کې غندلې او کلکې ردی کړې دي، او فرمایلي دي:

[٤٣] او آيا دغو مشـــرکانو د اللـه نـه پرتـه نور څوک ځـانو تـه ســپارښــتونکي ونيول؟ [ترڅو دوی تـه د قيامت په ورځ د الله تعالی پر وړاندې شـفاعت او سپارښـت وکړي؟] نو ته ای پيغمبره! دغو کافرانو ته ووايه: [آيا تاسـې ای خلکو! داسـې څوک خپلو ځانونو ته شـفاعت کونکي نيسـی او ورته خدای وايي چې د هغه په واک کې هيڅ څه شـئ نسـته او د ســتاســې په عبادت او بنده ګی هم نه پوهيږي، يعنی دا خدايان، لکه کالبوت خوســي بتان دي او په هيڅ څه نه پوهيږي، نو څنګه تاســې دوی خپل خدايان بولی؟ نو د ستاسې دا کار لو يه ناپوهي ده!

[٤٤] ای پيغمبره! [او دغو خلکو ته اعلان وکه او ورته] ووايه چې ټول شفاعت او سپارښت د الله په واک کې دئ [يعنی هيڅ څوک د الله اجازې نه پرته د هيڅ چا لپاره سپارت او شـفاعت کړلای نسي] او يقيناچې الله د اســمانو او د ځمکې واکمن څښــتن دئ، او بيا تاســې ټول ای خلکو! د قيامت په ورځ الله ته ورګرځول کيږي، يعنی بيا الله تعالی د هر چا نه د هغه کړنو حســاب په دنيا کې؛ اخلي او بيا ورته د هغه لائق ثواب او ســزا ورکوي.

قدرمنو دوستانو! د شفاعت غوښتنه او د بل چا لپاره شفاعت کړل؛ د توحيدي عقيدې مســئلو نه؛ يوه ډيره لو يه او اړ ينه مســئله ده، نو ځکه د ګناه ګار بنده لپاره د الله په حضــور کې د شــفاعت کړو اجازه يوازې د الله تعالی په واک ده، او د الله اجازې نه پرته نه څوک شــفاعت کړلای سـي او نه د چا شـفاعت منل کيږي، او الله تعالی د هغه چا لپاره د شـفاعت اجازه ورکوي چې د هغه نه الله خوښ او راضـي وي، يعنی دا چې شـفاعت يوازې د الله په امر کيږي او هغه هم يوازې ګناه ګار مومن بنده ته، نو کافر ته هيڅ کله څوک د شـفاعت کړو اجازه لاس ته راوړلای نسـي او نه ورته څوک شـفاعت کړي، او د ابراهيمعليه السلام د استغفار او د شـفاعت قصه په عظيم الشأن قرآن کې ډيره روښانه يادە سوې ده او ابراهيمعليه السلام خپل پلار ته د اسـتغفار نه کلک منع سـوئ دئ، او همدارنګه د رسـول ﷺ حرص د خپل مهر بان تره ابو طالب په ايمان راوړو باندې د دې لپاره

ؤ چې ترڅو بيا دئ وکړای سي د الله په حضور کې ورته شفاعت وکړي.

{د الله توحيد نه د کافر انو کرکه او پيغمبر ته د الله دعاء امر}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى د کافرانو کرکه د الله تعالى توحيد سره په عبادت کې؛ يادە کړې ده او رسول اللهﷺ ته يې د ځانکړې دعاء سپارښت کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَحۡدَهُ ٱشۡمَأَزَّتۡ قُلُوبُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِۖ وَإِذَا ذُكِرَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦٓ إِذَا هُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ٤٥ قُلِ ٱللَّهُمَّ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ عَٰلِمَ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ أَنتَ تَحۡكُمُ بَيۡنَ عِبَادِكَ فِي مَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ٤٦﴾

[٤٥] او کله چې الله په يوالي سره يوازې ياد سي، نو بيا د هغو کسانو زړونه چې په آخرت باور او ايمان نلري وتر يېرې او کرکجن سي، خو کله چې بيا د الله نه پرته بتان ياد سي، نو بيا دوی خوښي کړي، يعنى دا چې د بتانو کډول الله تعالى سره په عبادت کې د دوی خوښى سره برابر وي.

هو! قدرمنو عز يزانو! نو ځکه کله چې د مکې کافرانو پر خپل کفر او شرك باندې دومره کلک ټينګار وکه، نو بيا الله تعالى رسول اللهﷺ ته پدې لاندې دعاء سپارښت او لارښودنه کړي ده، او فرمايلي دي:

[٤٦] نو ته اى پيغمبره! [خپل رب الله تعالى ته په زارى سره دعاء وکړه او] ووايه: اى لو يه خدايه! ته چې د اسمانونو او د ځمکې پيدا کونکې؛ لوى څښتن يې او په پټ او ښکاره ټولو باندې پوه يې! او ته د خپلو بنده ګانو په منځ کې د هغو اختلافاتو پر سر چې د ستا په خدايي کې يې د يو بل سره لري؛ حکم او پر يکړه کړي! يعنى نو ته اى لو يه ر به! ما هم حق ته چې هغه د ستا عبادت او بنده ګى لار ده؛ هدايت او سم کړه.

ګرانو دوستانو! دا دعاء د رسول اللهﷺ په لار روانو دعاتو ته لارښودنه او سپارښت دئ، او ښايي چې دوی خلکو ته د وعظ کړو او د الله تعالى توحيدي عبادت ته د رابلنې په څنګ کې تل خپل رب ته په ډيرې زارى سره دغسې دعاء وکړي او خپلو ځانو او خپل امت ته خير وغواړي، امام مسلم او نورو محدثينو د ام المومنين عايشې رضي الله عنها نه روايت کړئ دئ چې رسول اللهﷺ به د شپې لمونځ په دغه لاندې دعاء

باندې پيل کا وه او و يل يې:"ای د جبريل، ميکاييل او د اسرافيل ر به! او د اسمانونو او د ځمکې پيدا کونکې څښتنه! او په ټولو پټو او ښکاره کړنو باندې پوه خدايه! ته چې د خپلو هغو بنده ګانو په منځ کې چې د ستا په خدايي کې يې د يو بل سره اختلاف درلود؛ د آخرت په ورځ حکم او پر يکړه کړي او هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي، نو ته ای لو يه ر به! ما هم د خپل حکم په فضل سره حق ته هدايت او سم کړه او ور باندې ټينګ مه کړه، ځکه چې ته ای لو يه ر به! که څوک وغواړي په سمه لار باندې يې په يقين سره روانوي!"

{د قيامت ورځې عذاب نه د خلاصون نذرانې ارمان ګټه نلري}

او بيا په ور پسې مبارکو آيتونوکې د کافرانو د بد حال تصو ير يا انځور مونږ ته الله تعالى ورلاندې کړئ دئ او دا حقيقت يې ياد کړئ دئ چې د قيامت په ورځ د نذرانو ورکولو ارمانونه ګټه نلري، او فرمايلي دي:

﴿وَلَوْ أَنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُ مَعَهُ لَافْتَدَوْا بِهِ مِن سُوءِ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ وَبَدَا لَهُم مِّنَ اللَّهِ مَا لَمْ يَكُونُوا يَحْتَسِبُونَ ﴿٤٧﴾ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا كَسَبُوا وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٤٨﴾﴾

[٤٧] او هغو کسانو چې پر خپلو ځانو بانظلم او تيرئ کړئ دئ، دوی به د دنيا دا ټول مال او دولت او د هغه غوندې نور څه مال او دولت که د دوی سره وي؛ هغه به دوی د قيامت ورځې سخت عذاب نه د خلاصون لپاره په يقين سره نذرانه کړي، ځکه د قيامت په ورځ دوی ته د الله نه هغه لوی عذاب يا سزا را ښکاره کيږي چې دوی يې په دنيا کې هيڅ خيال او ګمان هم نه کا ؤ، خو د فديې او نذرانې ورکولو وخت نور تير سوئ دئ!

[٤٨] او کافرانو ته د قيامت په ورځ د دوی بد کړل را ښکاره کيږي، او پر دوی باندې به هغه سزا يا عذاب را ګرديږي چې دوی يې په اور يدلو سره په دنيا کې کلک سپکاوئ کا ؤ او ملنډې يې ور باندې وهلې!

قدرمنو دوستانو! نو ښايي چې کافران او ګناهګاران په دنيا کې تو به و باسي او د آخرت ورځې سخت عذاب نه د خلاصون لپاره؛ خيراتونه

وکړي او بې وزرو محتاجو کسانو سره مرسته وکړي، څکه د آخرت په ورځ بیا خوسې ارمان کړل ورته هیڅ ګټه نلري.

{د الله تعالی نعمتونو پیرزو ینو نه مقصد د خلکو ازمایښت دئ}

ګرانو مومنانو! او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی مونږ ته د انسان په خټه کې د تل پاتې ناشکرۍ خوی یاد کړئ دئ او ورته یې و یلي دي چې د خلکو سختۍ او اسانۍ نه په ژوند کې لوی مقصد؛ د دوی ازمایښت دئ، ترڅو ښکاره سي چې څوک شکر باسي او څوک ای خلکو نه پوهیږي او شکر نه باسي! او په بیان کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿فَإِذَا مَسَّ ٱلْإِنسَٰنَ ضُرٌّ دَعَانَا ثُمَّ إِذَا خَوَّلْنَٰهُ نِعْمَةً مِّنَّا قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍۭ ۚ بَلْ هِىَ فِتْنَةٌ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٩﴾ قَدْ قَالَهَا ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿٥٠﴾ فَأَصَابَهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُوا۟ ۚ وَٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنْ هَٰٓؤُلَآءِ سَيُصِيبُهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُوا۟ وَمَا هُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٥١﴾ أَوَلَمْ يَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٢﴾﴾

[٤٩] نو کله چې انسان ته ستونزه او سختي ورسیږي، نو بیا مونږ غواړي! [یعنی الله ته دعاء او زاري کړي چې دا غم او مصیبت ورڅخه لرې کړي] خو کله چې بیا مونږ خپل نعمت او هوسایي پر هغه ولوروو، نو بیا دئ وایي: دا نعمت خو ما ته د زما په خپل علم او پوهه را کړل سه [یعنی الله تعالی پوهیږي چې زه د دغسې نعمت لائق یم، خو د هغه دا خبره حقیقت او ر یښتیا نده] بلکې دغه ورکړه هغه ته لوی ازمایښت دئ، خو ډیر خلک نه پوهیږي!

[٥٠-٥١] او یقیناچې دغسې [سپکه و ینا د اوسنیو کافرانو نه مخکې] پخوانیو کافرانو هم وکړه [نو بیا چې کله دوی ته] د دوی د بدو کړنو سزاګانې راغلې؛ هیڅ ګټه یې ورته ونکړه او د خپلو بدو کړنو او ګناه وو

سزايې ورته ورسيدلې، او چاچې د دغو اوسنيو کافرانو نه پر خپلو ځانو باندې ظلم وکه او د الله په توحيديې تيرئ وکه؛ دوی ته به هم د دوی د بدو کړنو سزا رسيږي، ځکه د الله سزا نه دوی هيڅ کله خلاصيدای نسي!

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارکو آيتونوکې د کافرانو دا شبهه رده کړې ده چې دوی به و يل: مونږ ته چې الله کم نعمتونه او د دنيا مال او دولت را کړئ دئ؛ هغه يې د زمونږ خپلې پوهې سره را کړئ دئ، او فرما يلي دي:

[٥٢] او آيا هغه کافران پوه نسول؟ [يعنی نه پوهيږي] چې يقينا الله د هرچا رزق او روزي چې کله وغواړي ډيروي، او چا ته چې وغواړي د هغه روزي لږوي او ستونزې او تنګي ور باندې راولي، او مومنانو ته د الله پدې کار کې د هغه قدرتونو لويي نښې او دليلونه نغښتي دي، يعنی دا چې ښايي مومنان د الله تعالی په ټولو لو يو کړنو کې ښه فکر وکړي او ورڅخه ښه ګټه او پند واخلي، خو د بده مرغه دا سرکښ انسان هيڅ کله پند نه اخلي او ژوندئ مثال او بيلګه يې افغانان دي چې د څه باندې څلو ويښتو کلونو نه پديخوا (١٣٥٧- ١٤٠٠هـ ش چې د ١٩٧٨-٢٠٢١م موافق دئ) تر اوسه په لوی ازمايښت کې کړ يږي، خو عبرت يې لا ندئ اخستئ، او هر نوي حکومت افغان ولس په و ينو کې لمبولئ دئ! او دا دئ اوس بيا د اسلامي امارت د دو يمې دورې حکومت ته ټول خلک سترګې په لار دي، او ټول ولس ورته هيلمن دئ چې د حکومت چلونکي د ټولو زړونو په پرهارونو باندې د روغتيا پټې کيږدي، او خپل مجاهد ملت د الله په مرسته ښادی ته ورسوي او د هوسا او عزتمن ژوند شرائط ورته تيار کړي.

{د الله رحمت او ښښې ورو نه تو به و يستونکو پر مخ بيرته دي}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالی د رسول اللهﷺ په خوله پر خپلو ګناهګارو بنده ګانو باندې غږ کړئ دئ او د ښښې ز يرئ يې ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿* قُلْ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسْرَفُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا۟ مِن رَّحْمَةِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥٣﴾ وَأَنِيبُوٓا۟ إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا۟ لَهُۥ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ ٱلْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿٥٤﴾ وَٱتَّبِعُوٓا۟ أَحْسَنَ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ ٱلْعَذَابُ بَغْتَةً وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ﴿٥٥﴾ أَن تَقُولَ نَفْسٌ يَٰحَسْرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِى جَنۢبِ ٱللَّهِ وَإِن كُنتُ لَمِنَ ٱلسَّٰخِرِينَ ﴿٥٦﴾ أَوْ تَقُولَ لَوْ أَنَّ ٱللَّهَ هَدَىٰنِى لَكُنتُ مِنَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٥٧﴾ أَوْ تَقُولَ حِينَ تَرَى ٱلْعَذَابَ لَوْ أَنَّ لِى كَرَّةً فَأَكُونَ مِنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٥٨﴾ بَلَىٰ قَدْ جَآءَتْكَ ءَايَٰتِى فَكَذَّبْتَ بِهَا وَٱسْتَكْبَرْتَ وَكُنتَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٥٩﴾ *﴾

[٥٣-٥٥] ای پیغمبره! [او د زما هغو بنده ګانو ته چې په ګناه کړو سره يې پر خپلو ځانو تیرئ کړئ دئ؛ اعلان وکړه او ورته] ووایه چې د الله رحمت او مهر بانۍ نه مه ناهیلي کیږئ او پوره ډاډه اوسئ چې الله ټولې ګناهونه بښي او یقینا چې الله لوی بښونکئ او ښه مهر بان لوی ذات دئ، نو تاسې خپل رب الله ته وروګرځئ او مخکې لدې نه چې تاسې ته د الله عذاب راسي ځانو نه الله ته تسلیم کړئ، ځکه چې بیا نور د ستاسې مرسته نکیږي، او هم ای خلکو! مخکې لدې نه چې تاسې ته ناڅاپه په داسې حال کې د الله عذاب راسي چې هیڅ پام مو نه وي، نو تاسې د خپل رب نه درته را نازل سوي کتاب (قرآن) ښو خبرو پسې لاړ سئ او هغه ومنئ او عمل پرې وکړئ، یعنی ایمان راوړئ او د کفر او شرک نه لاس واخلئ، ترڅو نجات بیامومي او نیکمرغي مو په برخه سي.

[٥٦-٥٨] ای خلکو! تو به و باسئ او خپل رب الله ته وروګرځئ کنه، نو بیا به هرڅوک د ډیري پښیمانۍ نه وایي د زما په حال ده ډیر افسوس وي چې د الله په اطاعت او بنده ګۍ کې ما کمئ وکه او زه په دنیا کې د هغو کسانو نه وم چې د الله په کتاب، پیغمبر او پر مومنانو باندې مونږ ملنډې وهلې او مونږ د دوی سپکاوئ کا ؤ، او یا به وایي: که چیرې زه الله سې لارې ته هدایت کړئ وای، نو بیا به زه د متقیانو نه وم [یعنی د الله

سزا نه به ما خپل ځان په اطاعت او بنده کې سره ساتلئ ؤ، او د الله عذاب نه به و یر یدلئ وم] او یا داچې کله د الله عذاب په سترګو وو یني، نو وایي: که الله ما بیرته د دنیا ژوند ته وروګرځوي، نو زه به د ښو خلکو نه وم، یعنی د الله امرونه او حکمونه به منم او ښه به کړم!

[٥٩] [خو ای د حق لارې نه ورک سو یه انسانه! خبره داسې نده، لکه ته چې وایي] او تا ته د زمونږ پیغامونه او دلیلونه راغلل، خو تا هغه ټول دروغ وګڼل او کبر ده وکه [یعنی ځان ده غټ او لوی وګاڼه] او ته د کافرانو نه وې او د حق منلو نه کلک منکر سوې!

درندو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې خپل پیغمبر ته سپارښت کړئ دئ چې ګناه کړونکو خلکو ته د الله تعالی رحمتونو او ښنو ز یري ورکړي، ترڅو دوی د کفر او ګناه نه لاس وا خلي او د الله بنده کې او اطاعت ته وروګرځي، او بیا الله تعالی د قیامت په ورځ د کافرانو او فاسقانو د پښیمانۍ دغه تصو یر یا انځور مونږ ته وړاندې کړئ دئ، خو هغه اوس دوی ته نور هیڅ ګټه نلري، نو ښایي چې هوښیاران د دغو مبارکو آیتونو نه ګټه وا خلي او د آخرت په ورځ د الله تعالی کلک عذاب نه په ایمان راوړو او ښه عمل سره ځانونه وساتی.

{ قیامت په ورځ مومنان په سپینو مخو او کافران په تورو مخو الله ته درول کیږي }

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی مونږ ته د قیامت په ورځ د متیقیانو ښه سپین انځور او د کافرانو بد تور انځور وړاندې کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ تَرَى ٱلَّذِينَ كَذَبُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ وُجُوهُهُم مُّسْوَدَّةٌ ۚ أَلَيْسَ فِى جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٦٠﴾ وَيُنَجِّى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ بِمَفَازَتِهِمْ لَا يَمَسُّهُمُ ٱلسُّوٓءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦١﴾ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ وَكِيلٌ ﴿٦٢﴾ لَّهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ

ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿٦٣﴾ قُلۡ أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَأۡمُرُوٓنِّيٓ أَعۡبُدُ أَيُّهَا ٱلۡجَٰهِلُونَ ﴿٦٤﴾ وَلَقَدۡ
أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ
وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٦٥﴾ بَلِ ٱللَّهَ فَٱعۡبُدۡ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٦٦﴾
وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ
مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿٦٧﴾ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ
فَصَعِقَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُۖ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخۡرَىٰ
فَإِذَا هُمۡ قِيَامٞ يَنظُرُونَ ﴿٦٨﴾ وَأَشۡرَقَتِ ٱلۡأَرۡضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ
وَجِاْيٓءَ بِٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡحَقِّ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿٦٩﴾ وَوُفِّيَتۡ
كُلُّ نَفۡسٖ مَّا عَمِلَتۡ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِمَا يَفۡعَلُونَ ﴿٧٠﴾

[٦٠] ای پیغمبره! او هغو کسانو چې الله پسې دروغ وو یل او بتان یې د الله سره په خدایي کې شر یك کړل؛ د دوی مخونه به د قیامت په ورځ تور سوي و یې، نو آیا په دوزخ کې کبرجنو ته ځای نسته؟ یعنی ځواب دا چې: هو! دوزخ د کبرجنو کافرانو ځای دئ او مختورن به د دوزخ په سره اور کې کړ یږي، ځکه دوی د لوی رب الله په بنده کې باندې کبر وکه؟

[٦١] او هغه کسان چې د الله نه وو یر یدل او ځانونه یې د الله سزا نه په اطاعت او بنده کې سره وساتل [یعنی پکې بر یالي او نیکمرغه سول؛ دوی ته الله د دوی د بر یا په انعام کې] نجات ورکوي او دوی ته د دوزخ اور نه رسیږي، نو دوی ده نه غمجن کیږي!

[٦٢-٦٣] او الله د ټولو مخلوقاتو پیدا کونکئ لوی څښتن او د هرڅه پالونکئ او ساتونکئ خاوند دئ [یعنی دا ټول خلک یوازي الله پیدا کړي دي او الله یې پالي او چارې یې سمبالوي] او د ځمکې او اسمانونو دا لویې خزانې د الله په واک کې دي، او هغه کسان چې د الله کتاب په آیتونو او

دليلونو باندې کافران او ورڅخه منکر سول؛ دوی خپله ډیر ز یانمن دي، یعنی لوی تاوان یې کړئ دئ او د آخرت په ورځ کلکه سزا ورکول کیږي.

[٦٤-٦٦] ای پیغمبره! [په دغو کافرانو باندې چې خپل رب په ر ښتیا سره نه پیژني؛ غږ وکړه او ورته] ووایه: ای ناپوهانو! آیا تاسی د زما نه غواړی چې د الله نه پرته د بل چا عبادت او بنده کې وکړم؟ حال دا چې تاته ای پیغمبره! او د ستا نه مخکې پیغمبرانو ته وحیه سوې ده چې که چیرې ته بتان د الله سره په عبادت کې کډ کړې، نو د ستا ټول ښه کړل به لمنځه یوسي او ته به یقینا د ز یانمنو نه وي، نو ته ای پیغمبره! یوازې د الله عبادت او بنده کې وکړه او د شکر کونکو نه سه، یعنی د خپل رب نعمتونو او پیرزو ینو شکر د الله په توحید سره و باسه او د الله سره بل هیڅ څوک په خدایي کې مه شر یکوه!

[٦٧] او دغو کافرانو د الله قدر او عزت، لکه څنګه چې د الله مقام سره لائق ؤ؛ په حق او ر ښتیا سره ونکه، ځکه بتان یې د الله سره په عبادت کې شر یك کړل، حال دا چې الله هغه لوی او ځواکمن ذات دئ چې د قیامت په ورځ ټوله ځمکه د هغه په منګول کې راغونده سوي وي، او اسمانونه یې په ښي لاس کې را ټول کړي وي، نو الله د مشرکانو کالبوتي خدایانو نه پاک او لوړ دئ.

قدرمنو دوستانو! دا خبره دلته د پام وړ ده چې الله تعالی ځان ته د قبضې یا منګول او د ښی لاس نسبت کړئ دئ، خو دا تعبیر یوازې د زمونږ پوهاوي لپاره سوئ دئ نه د ورته والئ په مقصد، نو ځکه علماء وایي: هو! دغسې صفتونه الله ته هغسې ثابت دي لکه څنګه چې هغه د الله تعالی لوی مقام ته ښایي، خو نه د بشر غوندې، ځکه الله ته ورته هیڅ څوک نسته، او الله خالق دئ او خالق خپل مخلوق ته ورته نه وي، لکه چې الله فرمایلي دي"لیس کمثله شيء"هیڅ څه شئ د الله غوندې ندي.

[٦٨] او کله چې د قیامت په ورځ د لمړي ځل لپاره سورنئ پؤ سي، نو په ځمکه او په اسمانو کې سته ټول ژوندي مخلوقات پرته د هغه چانه

چې الله يې مړ ينه نه غواړي؛ نور ټول يې اوښـــه کيږي او بياچې د بل ځل لپاره کله سـورنئ پؤ سـي، نو دوی ټول را ولاړ سـي او ګوري چې څه ورسـره کيږي؟ يعنی دا چې پدې وخت کې خلک ډير کلک انديښمن وي.

[٦٩] او په هغه ورځ ځمکه د خپل لوی رب په رڼا ســره وځليږي او رڼا ســي او د هرچا د کړنو کتاب وغوړ يږي او پيغمبران ټول پر خلکو باندې شاهدان راوستل سي [يعنی بيا د ټولو پيغمبرانو نه الله تعالی پوښتنې کړي او شـاهدان ور باندې شـاهدي وايي] نو بيا په هغه ورځ الله پر ټولو خلکو باندې په پوره عدالت ســره پر يکړه کړي او په دوی باندې هيڅ ظلم او تيرئ نکيږي، يعنی نو په دغه ورځ د عدالت په تله د خلکو ټولې کړنې تلل کيږي او د هرچا ســرنوشــت يا برخليک اعلانيږي، نو بيا مومنان د الله لو يو جنتونو ته ورننوځي او کافران د دوزخ زورو ته ورغورځول کيږي!

[٧٠] او الله چې د ټولو خلکو په کړنو باندې ښــه پوه دئ؛ هرچا ته د هغه د خپلو کړنو ثواب او ســزا ورکوي، يعنی هرچا تـه خپل کړن ليـک سـپارل کيږي، نو بيا متقيان جنت ته ننوځي او کافران او ګناهګاران دوزخ ته ورننه و يســتل کيږي، او په بيان کې الله په ور پســې آيتونوکې فرمايلي دي:

{په آخرت کې مومنانو ته زيري او کافرانو ته ګواښونه}

او په ور پسـې مبارکو آيتونو کې الله تعالی مومنان ته دجنتونو ز يرئ او کافران ته د دوزخ ګواښ کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَسِيقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا فُتِحَتۡ أَبۡوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمۡ خَزَنَتُهَآ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ رُسُلٞ مِّنكُمۡ يَتۡلُونَ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِ رَبِّكُمۡ وَيُنذِرُونَكُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَاۚ قَالُواْ بَلَىٰ وَلَٰكِنۡ حَقَّتۡ كَلِمَةُ ٱلۡعَذَابِ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ٧١ قِيلَ ٱدۡخُلُوٓاْ أَبۡوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ فَبِئۡسَ مَثۡوَى ٱلۡمُتَكَبِّرِينَ ٧٢ وَسِيقَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ إِلَى ٱلۡجَنَّةِ زُمَرًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا وَفُتِحَتۡ أَبۡوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمۡ خَزَنَتُهَا سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡ طِبۡتُمۡ

فَٱدۡخُلُوهَا خَٰلِدِينَ ﴿٧٣﴾ وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي صَدَقَنَا وَعۡدَهُۥ وَأَوۡرَثَنَا ٱلۡأَرۡضَ نَتَبَوَّأُ مِنَ ٱلۡجَنَّةِ حَيۡثُ نَشَآءُۖ فَنِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ﴿٧٤﴾ وَتَرَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ حَآفِّينَ مِنۡ حَوۡلِ ٱلۡعَرۡشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡۚ وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡحَقِّۚ وَقِيلَ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٧٥﴾

[٧١] او کافران ډله ډله جنهم ته ورغورځول کيږي، ترهغو چې بيا کله هلته ورسيږي، نو د دوزخ ورونه ورته په مخ خلاص سي او د دوزخ په ورونو کې ولاړ ساتونکي ورڅخه پوښتي او وايي: آيا تاسې ته د ستاسې منځ نه پيغمبران نۀ راغلي؟ او دوی د ستاسې رب او څښتن نه ور باندې را نازل سوو کتابونو آيتونه تاسې ته نه لوستل او تاسې يې د دغې ورځې سره د يوځای کيدو او ملاقات نه نه ګوابښلی او نه يې ورڅخه و يرولی؟ [نو بيا دوزخيان په ځواب کې ورته اقرار کړي] او وايي: هو! مونږ ته پيغمبران راغلي ول، او د قيامت ورځې سزا نه يې ګوابښلي وو، خو اوس نور پر کافرانو باندې د الله عذاب حکم راپر يوت او د هغه جاري کيدل حتمي سول، يعنی نور اقرار کړل او پښيماني ګټه نلري!

[٧٢] [او بيا پر کافرانو باندې غږ وسي او ورته] وو يل سي چې د دوزخ په ورونو يا دروازو ورننوځی او هلته به پکې تل اوسيږی، او يقيناچې دوزخ کبرجنو کافرانو ته ډير بد استوګنځۍ او بده مينه ده!

[٧٣] او هغو کسانوچې د خپل رب الله عذاب او سزا نه ځانونه په ايمان راوړو او په ښه عمل سره ساتلي ول او متقيان ول؛ دوی ډله ډله د الله جنتونو ته ورستنول کيږي، او کله چې جنت ته ورسيږي، نو د جنت ورونه په سلام اچولو سره ورته بيرته سي او د جنت خزانو څارونکي [دوی ته ښه راغلاست وايي او تود هرکلئ يې کړي] او ورته وايي: پر تاسې باندې سلام دئ او تاسې پاک سوی، نو جنتونو ته ورننوځی او تل پکې اوسيږی!

[٧٤] [نو بيا مومنان او متقيان په الحمدلله و يلو سره خپل رب الله ستايي] او وايي: ټوله ستاينه د هغه رب لره ده چې خپلې وعدې يې زمونږ سره ر ښتيا کړې او د جنت خاوره او لو يه ځمکه يې د زمونږ په برخه

کړه، نو چیرته چې د زمونږ خوښـــه وي هلته به پکې اوســیږو، نو د ښـــو خلکو ثوابونه ډیر ښـــه وي، یعنی دا ځکه چې دوی د الله په بنده ګی کې ډیرې ستونزې وګالل.

[۷۵] ای پیغمبره! او ملائکې به ته د الله عرش [یعنی د لوی تخت او څوکۍ نه] را ګردي و ینې چې خپل رب او لوی ځښـتن په پاکې سـره سـتایي [او دا ځکه چې الله تعالی د خپلو بنده ګانو او ټولو خلکو په منځ کې په پوره حق او عدالت سـره حکم او پر یکړه وکړه، مومنان یې په جنتونو کې ځای پر ځای کړل او کافران یې د دوزخ اور ته ورننه و یســتل، نو بیا غږ وسي] او وو یل سي: ټول حمد او ستاینه الله لره ده چې دئ د ټول عالم یا جهان پالونکې ځښتن دئ، یعنی د مومنانو او کافرانو په منځ کې یې په پوره انصـاف او عدلت سـره فیصـله وکړه؛ مومنانو ته یې جنتونه وښـل او د کافرانو ځای یې دوزخ وګرځا ؤ.

قدرمنو دوستانو! دا ؤ د قیامت ورځې یو ډیر روښـانه انځور چې پکې د الله تعالی لوی قدرتونه او په عدالت ولاړ قضـــاوت؛ لکه د لمر وړانګې ځلیږي، نو مومنانو ته ښـایي چې هغه په خپل ژوند کې ځانو ته ســر لیک وګرځوي او د خپلو ځانونو لپاره د عدالت نه ډکه ټولنه جوړه کړي.

هو؛ ګرانو عز یزانو! الله تعالی مونږ ته د آخرت ژوند دغســې رون انځور وړاندې کړئ دئ، او هغه یې ښـه روښـانه را ته بیان کړئ دئ، ترڅو ټول خلک د دنیا په ژوند کې ښـــه پوه ســي او حق او باطل و پیژني او د قیامت په ورځ د الله تعالی کلک عذاب نه چې کافرانو ته یې تیار کړئ دئ؛ ځان وســاتي او د خپل رب پیژندنې ســره ســم ایمان راوړي او یوازې د الله بنده ګي وکړی او په آخرت کې د الله په لو یو جنتو کې تل پاتې ژوند وکړي.

نو دعاء کړو چې مونږ ټولو مومنانو ته ده الله تعالی په ایمان باندې ثبات او ټینګښـت راپه برخه کړي او د قیامت په ورځ ده الله مونږ ســپین مخي خپل حضـــور کې ومني او د کافرانو غوندې مختورن برخلیک نه ده الله مونږ په خپل فضل او رحمت سره وساتي.

والحمد لله رب العالمین، وصلی الله وسلم علی رسوله الأمین، وعلی

آله وأصحابه أجمعين، و سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك...



د غافر سورې پښتو معنا او لنډ تفسیر

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله تعالى په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د غافر سورې لنډه پیژندنه او لوړ مقصدو نه}

قدرمنو دوستانو! د غافر مبارکه سوره چې بل نوم یې (مومن) دئ

مکي سـوره ده، او په (حاء، ميم) هجايي تورو باندې پيل سـوې ده، او په معنا کې يې د ځينې مفسـر ينو راجح قول او و ينا دا ده چې پدې پر يکړ سوو تورو کې د قرآن ادبي اعجاز ته اشاره ده، ځکه قرآن کر يم چې د الله تعالى نه په ر يښتيا او حق سره را نازل سوئ اسماني کتاب دئ؛ په همدې عربي تورو باندې لوسـتل کيږي، خو د عر بانو ټول شـاعران او اديبان يې د ننکونې سره سره د قرآن غوندې آيتونو او د سورو راوړو نه عاجز او بې وسـې سـول، او د غافر سـورې سـره ور پسـې شـپږ نورې سـورې ټولې په (حم) پيل سـوي دي، نو ځکه په عربي کې ورته [حواميم] وايي، د عبدالله بن عباسﷺ نه روايت سـوئ دئ چې په (حم) باندې پيل سـوي سـورې د قرآن ديباجه او سر يزه ده.

هو! کله چې دغه په هجائي تورو باندې پيل سوي مبارکې سورې لولو، نو پوهيږو چې پکې د الله تعالى پر توحيد او يو والي باندې په خدايي کې دليلونه او د قرآن پر حقانيت او ر يښـتينوالي باندې؛ کلک ټينګار سـوئ دئ او دغه بيان پکې دومره روښ ځليږي چې د لوسـتونکو زړونو کومي ته ورننوځي، ځکه هغه د دوی سـره مل دئ، او ملائکې دوی ته تل دعاء کړي او الله تعالى د دوی ټولې دعاګانې قبلوي او د آخرت ورځې نعمتونه مومنانو ته تيار سـوي دي، نو ښـايي چې مومنان خپل دعوتي مقصـدونه په کلک هوډ او په پاخه باور او يقين سـره پر مخ يوسـې او د هيڅ ډول سـترې احساس ونکړي، او د غافر مبارکې سورې په پيل کې الله فرمايلي دي:

{د قرآن په ريښـتينوالي کې چې د الله پيغام دئ کافران شـک لري}

﴿حمٓ ۝١ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ۝٢ غَافِرِ ٱلذَّنۢبِ وَقَابِلِ ٱلتَّوۡبِ شَدِيدِ ٱلۡعِقَابِ ذِي ٱلطَّوۡلِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ إِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ۝٣ مَا يُجَٰدِلُ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَلَا يَغُرُرۡكَ تَقَلُّبُهُمۡ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ۝٤ كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٖ وَٱلۡأَحۡزَابُ مِنۢ بَعۡدِهِمۡۖ وَهَمَّتۡ كُلُّ أُمَّةِۭ بِرَسُولِهِمۡ لِيَأۡخُذُوهُۖ وَجَٰدَلُواْ بِٱلۡبَٰطِلِ لِيُدۡحِضُواْ بِهِ ٱلۡحَقَّ فَأَخَذۡتُهُمۡۖ فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ ۝٥ وَكَذَٰلِكَ حَقَّتۡ

كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ ٦

[١-٣] [هو؛ ای خلکو!] دا کتاب (قرآن) چې د (حاء، میم) غوندې [د پر یکړسوو تورو نه جوړ سوئ کتاب دئ؛ هغه په حق او ر ښتیا سره] د لوی ځواکمن او ښه پوه رب الله نه رانازل سوئ دئ، او الله د ګناه ښونکئ او د توبې قبلونکئ څښتن دئ، او هغو کافرانو ته چې په خپله ګناه ټینګار او ضد کړي؛ ډیره کلکه سزا ورکوي او الله لوی ځواکمن ذات دئ او د الله نه پرته بل هیڅ څوک په حق سره معبود خدای ندئ، او الله ته ورتګ حق دئ، یعنی د قیامت په ورځ الله تعالی د ټولو خلکو نه حساب اخلي او بیا هرچا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي!

[٤] ای پیغمبره! او د کافرانو نه پرته بل هیڅ څوک د ستا سره د الله کتاب (قرآن) آیتونو او دلیلونو په حقانیت او ر ښتینوالي کې؛ مناظره او بحث نکړي، یعنی دا چې یوازې کافران د حق نه منکر دي او د محمد ﷺ پیغمبري نه مني او ورسره مناظره، جنجال او دعوا کړي.

نو ای پیغمبره! د دغو کافرانو [زَر، زُور او د دنیا مال او دولت] چې په ځمکه کې دوی پکې اوړي را اوړي؛ تا ونه غولوي، یعنی د دنیا مال، دولت او مادي زور او ځواک د دوی د حقانیت دلیل ندئ، نو پیغمبر ﷺ ته او د هغه دین وارثانو علماوو او دعات ته ښایي چې هیڅ کله د دغو زور واکو کافرانو پروا ونکړي او ور باندې ونه غولیږي، ځکه تار یخ د دوی د ورکتیا او ماتو نه ډک دئ، لکه هغه قصې چې ځینې یې لنډې لنډې په ور پسې مبارك آیت کې یادې سوې دي، او الله تعالی یې په بیان کې فرمایلي دي:

[٥] هو؛ ای خلکو! د دغو کافرانو نه مخکې د نوح قوم هم خپل پیغمبر (نوح علیه السلام) دروغژن و باله، او بیا د نوح قوم نه وروسته ډیرو ډلو، لکه [عاد او ثمود] خپلو پیغمبرانو پر ضد د جګړې اعلان وکه او د دوی پیغمبري یې ونه منله، او هر قوم او ډلې وغوښتل چې خپل پیغمبر را ونیسي او مړې کړي او دوی ټولو په ناروا او په باطل سره جدال او جګړه وکړه، ترڅو په دغسې ناحقه جګړې سره حق له منځه یوسي، نو بیا دوی مونږ را ونیول او هلاك مو کړل [یعنی، نو ای خلکو! ګورئ چې بیا] د زما

سـزا ورکول دغو کافرانو ته څنګه ول؟ یعنی دا چې ښـایي نور ولسـونه د هغوی سـرکښـی او د ناروا دښـمنۍ نه عبرت او پند وا خلي او د حق سـره دښـمنۍ ته زړه ښـه نکړي او ورته ملا ونه تړي او په حق سـره د الله نه را نازل سوي کتاب قرآن باندې ایمان راوړي او د الله تعالی پیغمبرﷺ ومني.

[٦] ای پیغمبره! او د ستا رب خبره او حکم همداسې [د تیرو امتونو غوندې د ستا امت په کافرانو باندې ر یښتیا سه] او یقینا چې دوی ښه ښکاره دوزخیان دي!

درندو دوسـتانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې لمړۍ د قرآن په حقانیت او ر یښـتینوالي باندې؛ کلک ټینګار کړۍ دۍ او خپل عظمت او لو یتیا او ځواکمني یې مونږ ته بیان کړې ده، نو ښـایي چې هیڅ څوک د الله نه پرته د بل ناحقه خدای عبادت او بنده ګي ونکړي، او بیا الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې رسـول اللهﷺ ته او د هغه د دین دعاتو او مبلغینو ته چې د رسول الله ﷺ وارثان دي؛ تسلیت او ډاډ ورکړۍ دۍ چې دوی ده هیڅ کله د کافرانو دنیایي زور او ځواک نه نه و یر یږي او نه ده پرې غولیږي، او الله به دغو ظالمانو ته، لکه د نوحعليه السلام قوم کلکه سـزا ورکړي، او یقینا چې دا ډاډ ټولو دعاتو ته د قیامت ورځې پورې د اطمئنان پیغام دۍ، ترڅو دوی خپل رسالت په ډاډمن زړه ښه پر مخ یوسي.

او ښایي ګرانو وروڼو او خو یندو! چې افغانان هیڅ کله پدې وروستیو پنځسو کلونو کې [١٣٥٢ـ ١٣٩٩هـ ش] د هغو کسانو تور تار یخ او تر یخ برخلیک هیر نکړي چې دوی د الله تعالی لارې حق دین نه ووتل او د کافرانو او ملحدینو او سیکولرانو تقلید او پیښې یې وکړې، او بیا ډیر ژر دوی الله تعالی مختورن کړل، نو فاعتبروا یا أولي الألباب.

{د عرش نه را تاوې ملائکې د الله ستاینه کړي او مومنانو ته ښـنه غواړي}

او په ور پسـې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د عرش نه را ګردو ملائکو هغه سـتاینې یادې کړې دي چې د الله تعالی په سـتایني سـره یې د دوی د دعاګانو ز یري مومنانو ته ورکړي دي، او فرمایلي دي:

﴿ٱلَّذِينَ يَحۡمِلُونَ ٱلۡعَرۡشَ وَمَنۡ حَوۡلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيُؤۡمِنُونَ بِهِۦ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْۖ رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا فَٱغۡفِرۡ لِلَّذِينَ تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ٧ رَبَّنَا وَأَدۡخِلۡهُمۡ جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي وَعَدتَّهُمۡ وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٨ وَقِهِمُ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ وَمَن تَقِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ يَوۡمَئِذٖ فَقَدۡ رَحِمۡتَهُۥۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ٩﴾

[٧] او د ملائکو یا فرښتو نه هغه کسان چې د الله عرش (لوی تخت) یې په وکو باندې نیولې دئ او هم هغه ملائکې چې د عرش شا وخوا راګردې تیار سئ دي؛ دوی ټول خپل رب الله په پاکۍ سره ستایي او په الله باندې یې ایمان راوړئ دئ او مومنانو ته د الله نه بښنه غواړي او وایي: ای د زمونږ لو یه خدایه! د ستا په رحمت او مهر بانۍ او په علم او پوهه کې هرڅه ځاییږي [یعنی مهر باني او پوهه ده په هر چا باندې خوره ده] نو هغه کسان و بښه چې تو به یې وایستله او د ستا لارې ومنله، او ای لو یه ر به! د دوزخ عذاب او سزا نه دوی وسا ته!

[٨-٩] او ای د زمونږ لو یه ر به! دا مومنان او ورسره د دوی صالح او مومن پلرونه او جوړې (میرمنې) او کوول یې ټول هغو تل پاتې جنتونو ته ورننه باسه چې تا ورسره وعده کړې ده، او یقینا چې ته ای ر به! لوی ځواکمن او بښه حکیم ذات یې، نو ته دغه مومنان د عذابونو او سزا نه وسا ته او هر څوک چې ته ای ر به! د قیامت په ورځ د عذاب نه وساتې، نو یقینا چې تا په هغه باندې خپل رحمت پیرزو کړئ دئ، او هغه یقینا چې بښه لو یه بر یا ده، یعنی بل هیڅ څه شئ ورسره برابر ندي!

قدرمنو دوستانو! هو! دا هغه لوی ز یرئ دئ چې الله تعالی خپلو مومنو بنده ګانو ته ورکړئ دئ، نو دعاء کړو چې الله تعالی ده هغه د زمونږ ټولو مومنانو په برخه کړي او جنتونه ده زمونږ ځای کړي.

{کافران د قیامت په ورځ په خپلو ګناه وو باندې اعتراف کړي}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونوکې د کافرانو بد حالت د قیامت په ورځ او د دوی اقرار په خپل کفر او د ځانونو په ملامتولو سره یاد کړئ او بیان کړئ دئ، او فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ ٱللَّهِ أَكْبَرُ مِن مَّقْتِكُمْ أَنفُسَكُمْ إِذْ تُدْعَوْنَ إِلَى ٱلْإِيمَٰنِ فَتَكْفُرُونَ ﴿١٠﴾ قَالُواْ رَبَّنَآ أَمَتَّنَا ٱثْنَتَيْنِ وَأَحْيَيْتَنَا ٱثْنَتَيْنِ فَٱعْتَرَفْنَا بِذُنُوبِنَا فَهَلْ إِلَىٰ خُرُوجٍ مِّن سَبِيلٍ ﴿١١﴾ ذَٰلِكُم بِأَنَّهُۥٓ إِذَا دُعِىَ ٱللَّهُ وَحْدَهُۥ كَفَرْتُمْ وَإِن يُشْرَكْ بِهِۦ تُؤْمِنُواْ فَٱلْحُكْمُ لِلَّهِ ٱلْعَلِىِّ ٱلْكَبِيرِ ﴿١٢﴾ هُوَ ٱلَّذِى يُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ وَيُنَزِّلُ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ رِزْقًا وَمَا يَتَذَكَّرُ إِلَّا مَن يُنِيبُ ﴿١٣﴾ فَٱدْعُواْ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿١٤﴾ رَفِيعُ ٱلدَّرَجَٰتِ ذُو ٱلْعَرْشِ يُلْقِى ٱلرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ لِيُنذِرَ يَوْمَ ٱلتَّلَاقِ ﴿١٥﴾ يَوْمَ هُم بَٰرِزُونَ لَا يَخْفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِنْهُمْ شَىْءٌ لِّمَنِ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ﴿١٦﴾ ٱلْيَوْمَ تُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ لَا ظُلْمَ ٱلْيَوْمَ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿١٧﴾﴾

[١٠-١١] یقینا هغه کسان چې کافران سول [یعنی د الله تعالی بنده ګی نه په دنیا کې منکر سول] نو په آخرت کې پر دوی باندې غږ کیږي [او ورته و یل کیږي چې] د الله کرکه او رټل د ستاسې کرکې او د ځانونو ملامتولو نه ډیر غټ دي، ځکه کله چې تاسې په دنیا کې په الله باندې ایمان راوړو ته راو بلل سوی؛ تاسې د حق منلو نه منکر سوی! [نو بیا کافرانو په ځواب کې وو یل:] ای د زمونږ لو یه خدایه! تا دوه ځله مونږ مړه کړو او دوه ځله ده بیرته را ژوندي کړو، نو بیا مونږ په خپلو ګناه وو باندې اقرار وکه، نو آیا اوس مونږ ته د دغسې کلک عذاب نه د وتلو لار سته؟ یعنی دا چې آیا ته ای لو یه څښتنه! مونږ بیرته د دنیا ژوند ته ورګرځوي، ترڅو مونږ ایمان راوړو او د ستا په حکمونو او فرمانونو

باندې عمل وکړو؟ نو بيا دوی ته ځواب دا دئ چې اوس تاسې ته نور دغسې اقرارو نه او په ګناه باندې اعتراف کړل؛ څه ګټه نلري او نه دنيا ته بيرته ورګرځول کيږی.

ګرانو دوستانو! دلته د دوځله مړ ينې او بيرته ورژخه د دوځله را ژوندي کيدو نه؛ مقصد لمړئ د انسان د پيدايښت نه مخکې وخت دئ چې دئ لکه مړ هيڅ نۀ او بيا الله تعالى پيدا او را ژوندئ که، او بيا د ژوند نه وروسته مرګ او مړ ينه ده، او همدارنګه د دوځله را ژوندي کيدونه؛ مقصد لمړئ د دنيا ژوند او بيا د آخرت په ورځ دو يم ځل ژوند دئ.

او په ور پسې مبارك آيت کې د همدې مرکې په پای کې الله فرمايلي دي:

[١٢] [ای کافرانو! او دغه سزا تاسې ته د دې لپاره درکول کيږي] چې کله به الله په يوالي سره ياد سه، نو تاسې به ورژخه منکر سوی او د الله عبادت تاسې په توحيد سره نه مانه، خو کله چې به د الله سره بتان په عبادت کې شر يك سول، نو تاسي به ايمان راوړ او هغه به مو ومنل، او اوس ټول حکم او پر يکړه د الله په واک کې ده، او الله لوړ او لوی ذات دئ، يعنی نوره پښيماني ګټه نلري او د توبې و يستلو او دنيا ته بيرته د ورګرځيدلو ورونه يا دروازې ټرل سوې دي.

درندو عز يزانو! دا مبارك آيتونه کافرانو ته او نورو ټولو ګناه کونکو کسانو ته په دنيا کې؛ ډير پر يکنده ګواښ دئ، او الله تعالى چې ډير مهر بان او لوی بښونکئ ذات دئ؛ خپلو ګناه ګارو بنده ګانو ته يې د دوی د تور برخليک تصو ير يا انځور د آخرت پر ورځ د دوی مخې ته په دنيا کې ايښئ دئ، ترڅو دوی ښه ژور فکر وکړي او د الله تعالى حکمونو سرکښی نه نور لاس واخلي او کلکه تو به و باسي او په پوره اخلاص سره ايمان راوړي، او يوازې د الله عبادت او بنده کې وکړي، نو هيله ده چې اسلام ته رابلونکي دعات دا ګواښونه د اوسني عصر ټولو کافرانو ته هم تل ورسوي او دوی ايمان ته راو بولي، ترڅو ايمان راوړي او بيا د قيامت ورځې سخت او کړوونکي عذاب نه نجات بياموميِ.

[١٣-١٤] ای خلکو! او الله هغه لوی ذات دئ چې د خپلو لو يو

قدرتونو نښې تاسې ته درښيي او تاسې ته د اسمان نه روزي را کوزوي [يعنی د باران په اور يدو سره ځمکه او به کيږي او خلک ورځخه د خپلو کرل سوو کښتونو حاصل اخلي] خو د الله لو يو قدرتونو نښانو نه؛ يوازې هغه څوک ګټه اخلي چې د الله اطاعت او بنده ګی ته ورګرځيدلئ وي [يعنی په پوره اخلاص سره يوازې د الله عبادت کړي] نو تاسې ای مومنانو! يوازې الله خپلو ځانو ته را وغواړی او خپل عبادت او بنده ګي؛ يوازې الله ته وګرځوی، که څه هم کافران د ستاسې توحيدي عبادت نه کرکه لري او هغه نه مني.

[١٥-١٦] او الله د لوړ مقام او د لوړو درجو څښتن دئ او د عرش خاوند دئ، او هرچا ته چې يې د خپلو بنده ګانو نه خوښه وه؛ هغه ته خپل حکمونه په وحې يې سره را اچوي او پرې را نازلوي يې، ترڅو پيغمبران خلک ور باندې د قيامت ورځې سزا نه وو يروي، ځکه د قيامت په ورځ ټول خلک د الله په حضور کې ښکاره در يږي، او د خلکو کړنو نه هيڅ څه شئ د الله نه پټ نه پاتې کيږي، نو بيا به په هغه ورځ پاچايي او واکمني د چا وي؟ هو! د قيامت په ورځ ټولواکي او پا چايي يوازې د يوه ځواکمن ذات الله ده، يعنی ټول خلک به يوازې د الله واک او حکم لاندې وي او يوازې الله ده ټولو سره حساب کړي!

[١٧] او نن ورځ چې د قيامت ورځ ده؛ هر چا ته د هغه د ښو او بدو کړنو ثواب او سزا ورکول کيږي او پر هيڅ چا باندې نن ظلم او تيرئ نه کيږي، او يقينا چې الله ډير ژر حساب اخستونکئ لوی ذات دئ.

ګرانو دوستانو! نو ښايي چې ټول خلک د قيامت ورځې راتګ او چټک حساب اخستلو ته خپل ځانو نه تيار کړي، ځکه د هر چا فرصت په ژوند کې د هغه د عمر لنډ فرصت دئ، نو ښايي چې ورځخه ښه ګټه واخستل سي، او هم ښايي چې هيڅ څوک غافل نسي، ځکه چې بيا به وار تير وي او پښيماني ګټه نلري، او دوی بيرته دنيا ته نه ورګرځول کيږي.

{پر پيغمبر ﷺ او علماوو فرض ده چې خلک د قيامت سزا نه وګوابنې}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې همداسې الله تعالى رسول الله ﷺ ته سپارښت کړئ دئ چې خپل امت د قيامت ورځې سختۍ نه په کلکه سره وګوابني، او فرمايلي دي:

﴿وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ ٱلْآزِفَةِ إِذِ ٱلْقُلُوبُ لَدَى ٱلْحَنَاجِرِ كَٰظِمِينَ ۚ مَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ ﴿١٨﴾ يَعْلَمُ خَآئِنَةَ ٱلْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِى ٱلصُّدُورُ ﴿١٩﴾ وَٱللَّهُ يَقْضِى بِٱلْحَقِّ ۖ وَٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَقْضُونَ بِشَىْءٍ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴿٢٠﴾ * أَوَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ كَانُوا۟ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَانُوا۟ هُمْ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَءَاثَارًا فِى ٱلْأَرْضِ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن وَاقٍ ﴿٢١﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانَت تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَكَفَرُوا۟ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ ۖ إِنَّهُۥ قَوِىٌّ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٢٢﴾﴾

[١٨] اى پيغمبره! او خلک د قيامت ورځې لنډ راتک نه وو ير ؤ، ځکه د خلکو زړونه په دغه ورځ د ډير خفتيان نه ستونو ته راخيځي او کافران او ظالمان په هغه ورځ؛ هيڅ څوک زړه سواندئ ملګرئ او سپارښتونکئ چې خبره يې منل کيږي نلري.

[١٩] [هو! الله هغه پوه ذات دئ چې] د سترګو په غلچکيو ليدولو او په سينو او زړو کې په پټو شيانو باندې پوهيږي، يعنى د بنده هيڅ دول پټې کړنې د الله تعالى نه پټې ندي، ځکه الله د هغه په ټولو اسرارو پوه دئ!

[٢٠] او الله د خلکو په منځ کې په حق او عدالت سره حکم او پر يکړې کړي، او هغه کسان (بتان) چې د الله نه پرته د دوى عبادت او بنده ګي کيږي؛ په هيڅ څه کې حکم او پر يکړه کړلاى نسي [يعنى دا چې دوى خوسې مجسمې (بتان) دي او د هيڅ کار کړو وسعه نلري او د هر ډول حکم کړو نه عاجز دي] او يقينا چې يوازې الله ښه اور يدونکئ او کلک ليدونکئ ذات دئ، يعنى هرڅه اوري او هرڅه و يني، نو بيا هرچا ته الله تعالى د هغه د ښو او د بدو کړنو ثواب او سزا ورکوي!

[٢١-٢٢] [اى پيغمبره! او آيا دغه کافران چې د ستا پيغمبرۍ نه منکر

سـول] آيا دوی په ځمکه کې نه کړئ يا ګرځئ؟ ترڅو وو يې چې د دوی نه مخکې تير سـوو ولسـونو برخليک او راتلونکې څنګه وه؟ او څنګه سـوه؟ حال دا چې هغه پخواني ولسونه د ستا قوم نه ډير ځواکمن ول او دوی په ځمکه کې ډيرې نښې د ځانو نه پرې ايښې دي، خو بيا الله دغه پخوا تير سـوي ولسـونه په خپلو ګناه وو باندې را ونيول، او دوی د الله نه پرته بل هيڅ څوک ساتندوی نه درلود [ترڅو د دوی مرسته وکړي او د الله عذاب ورڅخه لرې کړي] او دوی ته دغه کلکې سـزاګانې پدې جرم او ګناه ورکړې سـوې چې دوی ته يې خپل پيغمبران د ښـکاره دليلونو او معجزو سـره راغلل، خو دوی ورڅخه منکر سـول [يعنی د پيغمبرانو خبرې يې ونه منلې] نو بيا دوی الله کلک را ونيول، او يقينا چې الله لوی ځواکمن او ښـه کلک عذابونکئ ذات دئ!

قدرمنو عز يزانو! الله تعالی د خپل پيغمبر محمد ﷺ په خوله د هغه قوم قر يشـو کافران او همدارنګه ټول خلک د قيامت ورځې پورې د کفر او د الله بنده ګۍ او اطاعت سرکښۍ نه په کلکه سره ګواښلي او و يرولي دي، نو بيا د خلکو خوښه چې ايمان راوړي او په ر يښتيا سره د الله بنده ګي کړي او جنتونه ګټي؟ او يا دا چې همداسـې په خپل کفر باندې ټينګار کړي او ضـد او عناديې پسـې اخلي، او د قيامت په ورځ بيا د تور برخليک سره مخامخ کيږي، او د دوزخ اور سرو لمَبو ته ورغورځول کيږي؟

{فرعون د يهودو نارينوو ټول وژنه او د ښځو مينځې ګرځول اعلان کړل}

او په ور پسـې مبارکو آيتونو کې الله تعالی رسـول الله ﷺ ته د ډاډ ګيرنې په مقصـد او د هغه قوم تـه د پنـد او عبرت اخسـتلو لپـاره د موسـی عليه السلام قصـه د فرعون او د هغه قوم سـرکښـانو (هامان او قارون) سـره يادە کړي ده، ترڅو د محمد ﷺ امت ورڅخه ګټه واخلي او خپل ځانو نه د هلاکت نه په دنيا او آخرت کې وساتي، او فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٢٣﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَقَٰرُونَ فَقَالُوا۟ سَٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿٢٤﴾ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلْحَقِّ مِنْ

عِندِنَا قَالُواْ ٱقۡتُلُوٓاْ أَبۡنَآءَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ وَٱسۡتَحۡيُواْ نِسَآءَهُمۡۚ وَمَا كَيۡدُ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ ٢٥ وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ذَرُونِيٓ أَقۡتُلۡ مُوسَىٰ وَلۡيَدۡعُ رَبَّهُۥٓۖ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمۡ أَوۡ أَن يُظۡهِرَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡفَسَادَ ٢٦ وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِنِّي عُذۡتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُم مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٖ لَّا يُؤۡمِنُ بِيَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ٢٧

[٢٣-٢٤] او يقينا چې موسى مونږ د كتاب آيتونو او دليلونو سره او د روښانه ځواک سره [چې هغه معجزې وې او د موسى پيغمبرۍ تصديق يې كا ؤ] فرعون، هامان او قارون ته را وليږه، نو بيا دوى وو يل چې موسى كودګر او لوى دروغژن دئ! يعنى د هغه پيغمبري يې ونه منله.

[٢٥] او كله چې موسى دوى ته د زمونږ لخوا ښكاره معجزو سره راغئ [نو بيا فرعون فرمان صادر كه] او و يو يل: هغو كسانو چې د موسى سره ايمان راوړ [يعنى د هغه پيغمبري يې ومنله] د دوى زامن مړه كړئ او ښځې يې ژوندۍ پرېږدئ! خو د كافرانو مكر او چل د ورکتيا او هلاكت نه پرته بل څه شئ ندي، يعنى هغه الله تعالى شنډوي.

[٢٦] او فرعون [د خپلې واكمنۍ لاندې ټولو مشرانو ته اعلان وكه] او و يو يل: ما پر پرېږدئ چې موسى مړ كړم او موسى ده د خپل رب نه مرسته وغواړي [يعنى دا چې ترڅويې زمونږ نه وساتي] ځكه زه و يرم چې موسى به د ستاسې دين خاماخا بدل كړي او يا به د مصر په خاوره كې ورانئ وكړي، يعنى فرعون په دغسې پوچو خبرو غوښتل چې خلک د موسى عليه السلام پيغمبرۍ منلو نه وكوانبي!

[٢٧] نو بيا موسى [فرعون ته او د هغه قوم مشرانو ته اعلان وكه] او ورته يې وو يل: يقينا چې زه د هر كبرجن زورواكي نه چې د حساب ورځولو په ورځ [يعنى د قيامت په ورځ باندې ايمان نه راوړي او هغه نه منى] خپل رب او د ستاسې رب او لوى څښتن الله ته پناه وړم، يعنى د هغه نه مرسته غواړم او خپل ځان ور باندې سپارم!

{د فرعون قوم مومن سړي د موسی په حمایت سپارښت وکه}

او بیا الله تعالی په ور پسې مبارکو آیتونو کې د فرعون قوم نه د یوه مومن سړي نصیحتونه خپل قوم ته یاد کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَٰنَهُۥٓ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَن يَقُولَ رَبِّىَ ٱللَّهُ وَقَدْ جَآءَكُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ مِن رَّبِّكُمْ ۖ وَإِن يَكُ كَٰذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهُۥ ۖ وَإِن يَكُ صَادِقًا يُصِبْكُم بَعْضُ ٱلَّذِى يَعِدُكُمْ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿٢٨﴾ يَٰقَوْمِ لَكُمُ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَ ظَٰهِرِينَ فِى ٱلْأَرْضِ فَمَن يَنصُرُنَا مِنۢ بَأْسِ ٱللَّهِ إِن جَآءَنَا ۚ قَالَ فِرْعَوْنُ مَآ أُرِيكُمْ إِلَّا مَآ أَرَىٰ وَمَآ أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴿٢٩﴾ وَقَالَ ٱلَّذِىٓ ءَامَنَ يَٰقَوْمِ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُم مِّثْلَ يَوْمِ ٱلْأَحْزَابِ ﴿٣٠﴾ مِثْلَ دَأْبِ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِمْ ۚ وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ ﴿٣١﴾ وَيَٰقَوْمِ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ يَوْمَ ٱلتَّنَادِ ﴿٣٢﴾ يَوْمَ تُوَلُّونَ مُدْبِرِينَ مَا لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنْ عَاصِمٍ ۗ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾﴾

[۲۸] او بیا د فرعون کورنۍ نه یو مومن بنده چې خپل ایمان یې په موسی باندې پټا ؤ؛ د خپل قوم پر مشرانو باندې یې غږ وکه او و یو یل: آیا تاسې داسې یو سړئ وژنۍ چې وایي: د زما رب الله دئ؟ او هغه د خپل رب لخوا تاسې ته یقینا د معجزو او ښکاره دلیلونو سره راغئ! نو که دئ دروغژن وي، نو د خپلو دروغو سزا به ګالي او که ر یښتیا وایي، نو د هغه وعدو نه به تاسې ته څه ګټه ورسیږي، او یقینا چې الله هغه څوک د حق سمې لارې ته نه سموي چې د حق پولو نه اوښتئ وي او لوی دروغژن وي!

[۲۹] او ای د زما قوم عز یزانو! تاسې نن په ځمکه کې ځواکمن واکمنان یاستی، نو که چیرې د الله سزا مونږ ته راسي، نو څوک به د زمونږ مرسته وکړي، او د الله سزا نه به مونږ وساتي؟ [یعنی د الله سزا نه هیڅ څوک مونږ ساتلای نسي! خو فرعون چې کبر پسې اخستی ؤ؛ په

ځواب کې يې خپل قوم ته] وو يل: زه تاسې ته پرته د هغه څه نه چې په هغه کې ځان ته کټه و ينم؛ بل هيڅ څه نه و ينم او تاسې سمې لارې ته رابولم! يعنی داچې ښايي يوازې د فرعون کټې و پالل سي، که څه هم پدې سره د ولس خير او کټې د پښو لاندې سوې! نو فرعون په خپل دې فرمان سره د اوسني عصر ميکاو يلي د کټو فلسفه خپل قوم ته اعلان کړه.

[٣٠-٣٣] [نو بيا د فرعون کورنۍ نه] هغه سړي چې په موسی باندې يې ايمان راوړئ ؤ؛ فرعون او د هغه قوم ته وو يل: ای د زما عز يزانو! [که تاسې موسی مړ کړی] نو يقينا چې زه و ير يږم د هغو ولسونو ورځ به په تاسې باندې راسي، چې کله دوی د خپلو پيغمبرانو پر ضد ټول سره يوه ډله سول [يعنی ګوندي يې سره وکړه] لکه د نوح قوم او د عاد او ثمود قامونه، او د دوی نه وروسته نور قاومونه، او الله هيڅ کله خپلو بنده ګانو ته د ظلم او تيري قصد نلري [يعنی الله تعالی پر خپلو بنده ګانو باندې ظلم نکړي او د دوی خواري او ذلت نه غواړي!] او ای د زما قومه! زه پر تاسې د قيامت ورځې سزا نه و ير يږم چې بيا به په هغه ورځ په يو بل باندې غږ کړی چې درسره مرسته وکړي، خو هيڅ څه شئ به کړلای نسی! او بيا به تاسی په هغه ورځ بيرته په شا اوړی، او د الله سزا نه تاسې بل هيڅ څوک ساتونکئ نلري، او هر څوک چې الله د سمې لارې نه ورک کړي، نو بيا دئ بل څوک ملګرئ نلري، ترڅو سمه لار ورته وښيي، يعني هر هغه څوک چې د حق نه واوړي، نو بيا دئ بل څوک سمې لارې ته لارښود نه مومي، ترڅويې د ستونزو نه خلاص کړي!

هو! درندو دوستانو! د فرعون کورنۍ ډلې نه دغه مومن بنده فرعون ته او د خپل قوم نورو خلکو ته ډير د زړه سواندي نه ډک وعظ او نصيحت کړئ دئ، خو دوی يې خبرې ونه منلې، ترڅو چې بيا دوی ټول هلاک او تباه سول، او يقينا چې دغسې زړه سواندئ وعظ او نصيحت د الله بنده ګی نه ټولو سرکښو ولسونو ته، لکه فرعون او د هغه در بار مشران، لکه نمرود او قارون ته، د زدکړې لوی پيغام دئ، نو ځکه هغه الله تعالی د اسلام ستر پيغمبر محمد ﷺ باندې، لکه نورې قصې رانازل

کړئ دئ، ترڅو دوی ورڅخه د قیامت ورځې پورې کټه واخلي او د فرعونیانو پیښې او تقلید ونکړي، او هیڅ کله بې وزره او بې وسې ولسونه ونه زوروي او پر هغوی باندې د ظلم او تیري نه ډ ډه وکړي.

{فرعونیانو د یوسف علیه السلام نه وروسته نور پیغمبران نه منل}

او په ور پسې مبارکو آیتونوکې الله تعالی د یوسف علیه السلام د پیغمبرۍ نه وروسته د فرعونیانو دښمني نورو پیغمبرانو سره یاده کړې فرمایلي دي:

﴿ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوسُفُ مِن قَبْلُ بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِى شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُم بِهِۦ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَن يَبْعَثَ ٱللَّهُ مِنۢ بَعْدِهِۦ رَسُولًا ۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابٌ ﴿٣٤﴾ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَٰنٍ أَتَىٰهُمْ ۖ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۚ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿٣٥﴾ ﴾

[٣٤] ای د فرعون قومه! یقینا چې تاسې ته د موسی نه مخکې یوسف د ښکاره دلیلونو او معجزو سره راغئ [او تاسې یې یوازې د الله عبادت او بنده کې ته راو بللی] خو تاسې همداسې د هغه په دعوت او بلنه کې شکمن پاتې سوی، ترڅو چې یوسف مړ سه او بیا تاسې وو یل: د یوسف نه وروسته بیا الله هیڅ استازئ نه را لیږي، نو الله همداسې هغه څوک د سمې لارې نه ورکوي چې هغه د حق پولو نه اوښتي شکمن وي.

[٣٥] او هغه کسان چې د الله په دلیلونو او معجزو کې پرته د کم منل سوي دلیل او حجت نه چې دوی ته راغلي وي؛ بحث او استدلال کړي [یعنی حق نه منی] دوی د الله پر وړاندې او هم د مومنانو پر وړاندې ډیر رټل سوي لوی ګناه ګاران دي، او الله همداسې د هر کبرجن، جابر سړي په زړه باندې ټاپه وهي، یعنی دا چې د فرعون بې ځایه ضد او کبر د حق پر وړاندې د دې دلیل او عامل سه چې دئ الله تعالی د خپل رحمت او لو یو پیرزو ینو نه وشړي او محروم یې کړي، او په سمه لار باندې چې د الله تعالی پیژندل او د موسی علیه السلام د پیغمبرۍ منل ول؛ ورته د تک توفیق ورنکړي، او بیایې همداسې رټل سوئ هلاک کړي، او دغسې تور برخلیک د

مکې کبرجنو کافرانو په برخه هم سـه او د دوی ډیر مشـران د بدر په غزا کې الله تعالی هلاک کړل او مخترن د دنیا نه لاړل.

{فرعون د خپلې خدایي مستۍ په سر اخستئ ؤ}

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې همداسې الله تعالی د فرعون دروغژنې خدایي مستۍ په بیان کې فرمایلي دي:

﴿وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰهَٰمَٰنُ ٱبْنِ لِي صَرْحًا لَّعَلِّيٓ أَبْلُغُ ٱلْأَسْبَٰبَ ﴿٣٦﴾ أَسْبَٰبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ فَأَطَّلِعَ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّي لَأَظُنُّهُۥ كَٰذِبًا ۚ وَكَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ وَصُدَّ عَنِ ٱلسَّبِيلِ ۚ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ إِلَّا فِي تَبَابٍ ﴿٣٧﴾ وَقَالَ ٱلَّذِيٓ ءَامَنَ يَٰقَوْمِ ٱتَّبِعُونِ أَهْدِكُمْ سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴿٣٨﴾ يَٰقَوْمِ إِنَّمَا هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا مَتَٰعٌ وَإِنَّ ٱلْءَاخِرَةَ هِيَ دَارُ ٱلْقَرَارِ ﴿٣٩﴾ مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا يُجْزَىٰٓ إِلَّا مِثْلَهَا ۖ وَمَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُو۟لَٰٓئِكَ يَدْخُلُونَ ٱلْجَنَّةَ يُرْزَقُونَ فِيهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٤٠﴾ * وَيَٰقَوْمِ مَا لِيٓ أَدْعُوكُمْ إِلَى ٱلنَّجَوٰةِ وَتَدْعُونَنِيٓ إِلَى ٱلنَّارِ ﴿٤١﴾ تَدْعُونَنِي لِأَكْفُرَ بِٱللَّهِ وَأُشْرِكَ بِهِۦ مَا لَيْسَ لِي بِهِۦ عِلْمٌ وَأَنَا۠ أَدْعُوكُمْ إِلَى ٱلْعَزِيزِ ٱلْغَفَّٰرِ ﴿٤٢﴾ لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدْعُونَنِيٓ إِلَيْهِ لَيْسَ لَهُۥ دَعْوَةٌ فِي ٱلدُّنْيَا وَلَا فِي ٱلْءَاخِرَةِ وَأَنَّ مَرَدَّنَآ إِلَى ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱلْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ﴿٤٣﴾ فَسَتَذْكُرُونَ مَآ أَقُولُ لَكُمْ ۚ وَأُفَوِّضُ أَمْرِيٓ إِلَى ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَصِيرٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿٤٤﴾ فَوَقَىٰهُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِ مَا مَكَرُوا۟ وَحَاقَ بِـَٔالِ فِرْعَوْنَ سُوٓءُ ٱلْعَذَابِ ﴿٤٥﴾ ٱلنَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا ۚ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدْخِلُوٓا۟ ءَالَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ ٱلْعَذَابِ ﴿٤٦﴾﴾

[٣٦-٣٧] او بیا فرعون [پر هامان باندې چې د فرعون وز یر ؤ؛ غږ وکه او ورته یې] وو یل: ای هاما نه! ما ته یوه لوړه ودانه (برج) جوړ کړه، ترڅو پکې جک سـم او هغو لورو ورونو ته چې هغه د اسـمان ورونه دي

ورسـيږم او بيا هلته د موسـى خداى وو ينم، ځكه يقينا زه ګمان كړم چې موسـى دروغژن دئ، نو فرعون ته همداسـې د هغه كركجنه كړنه او بد عمل ښكلى او ښايسته ښكاره سه او د حق په لاريې د تګ ورونه يا دروازئ پر مخ وتړل سـول، او د فرعون چلونه او پلمې ټولې شـنډې سـوې، يعنى فرعون مقصد ته ونه رسيده او مخ پې ارمانجن تور سه.

او په ور پسـې مبارکو آيتونو كې د فرعون قوم يوه مومن بنده خپل ولس په اوږدې مركې سره د الله توحيد ته راو باله، او الله فرمايلي دي:

[٣٨] او د فرعون قوم هغه مومن بنده چې ايمان پې راوړئ ؤ[پر خپل قوم باندې غږ وكه او ورته پې] وو يل: اى د زما قومه او عز يزانو! ما پسې لاړ سى، زه تاسې سمې لارې ته چې مقصد ته د رسيدو لار ده رسوم، يعنى ښادي او نيكمرغي در ښيم!

[٣٩] او اى قومه! د دغې دنيا ژوند خوسـې تيريدونكې متاع ده [يعنى يوازې ورځخه موقتي خوند اخسـتل دي] او يقينا چې د آخرت ورځې ژوند تل پاتې ژوند دئ.

[٤٠] او هرڅوک چې په دنيا كې بد او ګناه وكړي، نو د بدو كړنو غوندې سزا وركول كيږي، او هرمومن نار ينه او ښځه چې ښه وكړي او د خپل رب فرمان يوسي، نو بيا دوى جنت ته ورننوځى او هلته پكې بې شميره روزي وركول كيږي، يعنى الله تعالى ګناه ګار بنده ته؛ يوازې د هغه ګناه او د بدو كړنو سزا وركوي، خو مومن بنده ته د هغه ښو كړنو او د خپل رب الله حكمونو پرځاى كولو په عوض كې د آخرت ورځې لو يو باغونوته ورننوتل ور په برخه كوي او هلته د شـمار نه وتلې خوره وره روزي وركوي، نو يقينا چې دا د الله تعالى د لوى عدالت او په خپلو بنده ګانو باندې د ډيرو پيرزو ينو لو يه بيلګه ده.

[٤١-٤٢] [او د فرعون قوم مومن سړي يوځل بيا هم خپلو تر برو ته وو يل] اى خلكو! زه څنګه تاسې د خلاصون لارې ته رابولم، خو تاسې ما د دوزخ اور ته رابولئ! يعنى د سـتاسـې دا در يځ د تعجب او حيرانتيا وړ دئ! ځكه تاسې ما د الله خدايي نه منكر يدلو او كفر ته رابولئ او غواړئ چې

زه د الله سره په بنده ګې کې هغه څه ګډ او شر يك کړم چې زه يې نه پېژنم او نه ور باندې پوهيږم، او زه تاسې ای خلکو! لوی ځواکمن او کلک بښونکي خدای عبادت او بنده ګې ته رابولم!

[٤٣] او تاسې ما د هغه چا خدايي منلو ته رابولئ چې هغه، خو يقينا نه په دنيا کې او نه په آخرت کې د خدايي لائق دئ، ترڅويې څوک خپل خدای و بولي [يعنی هيڅ څوک د هغه خدايي نه مني] او مونږ ټول په يقين سره الله ته ورتلونکی يو، او هغو کسانو چې د الله پر حکمونو باندې تيرئ او پکې اسراف کړئ دئ؛ دوی د ر يښتينو دوزخيانو نه دي!

[٤٤] او ای د زما قومه! نو بيا به تاسې خامخا د زما دغه و ينا چې تاسې ته يې کړم راپه ياد کړئ! [يعنی بيا به تاسې د زما دا نصيحتونه راپيادوئ او پښيمانئ به کړئ، خو پښيماني بيا نوره هيڅ ګته نلري] او ای خلکو! زه خپل ځان پر الله باندې سپارم او يقين لرم چې الله پر خپلو بنده ګانو باندې ښه بينا دئ، يعنی د دوی هرڅه و يې او هيڅ څه شئ د الله نه پټ ندي، نو بيا الله تعالی هرچا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

[٤٥] نو بيا دغه مومن بنده الله د خپل قوم بدو چلونو او توطئيو نه وساته او د فرعون په کورنئ او پلو يانو باندې ډير بد عذاب راپر يوت، يعنی دوی ټول د سمندر په او بو کې ډوب او هلاك سول.

[٤٦] او فرعون او ملګرو ته يې سحر او بيګاه د دوزخ اور تر قيامت ورځې پورې ورښودل کيږي، او کله چې قيامت جوړسي [نو بيا پر فرعونيانو باندې غږ کيږي او ورته و يل کيږي] اوس د دوزخ کلک عذاب ته ورننوځئ، يعنی په دوزخ کې به ډير سخت عذاب وڅکئ او د خپل کفر سزا به وګالئ!

ګرانو دوستانو! دا وه هغه اوږده مرکه او مناظره چې د فرعون قوم يوه مومن بنده خپل کافر قوم سره وکړه او دوی يې په ډير زړه سواندي سره ايمان راوړ ته راو بلل، خو د فرعون سرکښو او کافرو پلو يانو د هغه وعظ ته غوږ ونه و يست او د هغه نصيحت يې ونه مانه او په خپل کفر او سرکښئ باندې يې ټينګار وکه، ترڅو چې بيا دوی الله تعالی په سمندر کې په ډو بيدو سره هلاك کړل، او د قيامت ورځې پورې به همداسې سزا

ورکول کيږي، نو يقينا چې د دې مومن بنده وعظ او نصيحت خپل فرعوني قوم ته؛ هغه پيغام دئ چې د ټولو مومنانو پر غاړه کې الله تعالى دين کرځولئ دئ، او په ځانګړي ډول د علماوو پر غاړه هغه د الله لوى امانت دئ، نو ښايي چې دوى خپل دغه لوى مسئوليت په لوى علم او په پاخه حکمت سره سر ته ورسوي او خپله ټولنه د الله تعالى عذاب نه په دنيا او په آخرت کې کلکه وساتي او د ګواښونو نه يې وژغوري.

{په دوزخ کې د مزدورانو مناظره خپلو کافرانو واکمنو سره}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې مونږ ته الله تعالى د کافرانو او د دوى د مزدورانو په منځ کې د بحث او مناظرې ژوندئ انځور وړاندې کړئ دئ، او په بيا کې فرمايلي دي:

﴿وَإِذْ يَتَحَآجُّونَ فِي ٱلنَّارِ فَيَقُولُ ٱلضُّعَفَٰٓؤُاْ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓاْ إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا نَصِيبًا مِّنَ ٱلنَّارِ ﴿٤٧﴾ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓاْ إِنَّا كُلٌّ فِيهَآ إِنَّ ٱللَّهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ ٱلْعِبَادِ ﴿٤٨﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ فِي ٱلنَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ٱدْعُواْ رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ ٱلْعَذَابِ ﴿٤٩﴾ قَالُوٓاْ أَوَلَمْ تَكُ تَأْتِيكُمْ رُسُلُكُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ قَالُواْ بَلَىٰ قَالُواْ فَٱدْعُواْ وَمَا دُعَٰٓؤُاْ ٱلْكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ ﴿٥٠﴾﴾

[٤٧] [ای پيغمبره! او هغه وخت راپه ياد کړه] کله چې د دوزخ په اور کې دوزخيان د يو بل سره بحث او مناظره کوي، نو بيابې وزره دوزخيان کبرجنو زور واکانو مشرانو ته وايي: مونږ په دنيا کې يقينا تاسې پسې وو، نو آيا اوس تاسي د زمونږ نه څه برخه عذاب لرې کولای سی؟ يعنى هغه پر غاړه واخلي او دا دروند پيټئ د زمونږ وګو نه لرې کړی؟

[٤٨] نو بيا کبرجن [يعنى زورواکي مشران په ځواب کې ورته] وايي: هو! يقينا چې اوس مونږ ټول د دوزخ په اورکې کلک کړ يږو [يعنى دا چې نور ورځخه د وتلو او د تيښتې وسعه نلرو] ځکه يقينا چې الله نوره خپله فيصله او پر يکړه د بنده ګانو په باره کې کړې ده، يعنى دوزخ يې د دوى په

برخه کړئ دئ او ورڅخه د نجات لار نه مومي.

[٤٩] او بيا هغه کســـان چې په دوزخ کې دي [دوی ټول مشـــران او کشـــران په ډيرې زاری ســـره] د دوزخ څارونکو ته وايي: د خپل رب او لوی څښتن نه وغواړی چې يوه ورځ خو ده د زمونږ نه عذاب سپک کړي!

[٥٠] نو بيا د دوزخ څارونکي دوزخيانو ته وايي: آيا د ستاسې پيغمبران تاسې ته د ښکاره نښو(معجزو) او دليلونو سره رانغلل او تاسې يې په الله باندې ايمان راوړو ته راو نه بللی؟ [نو بيا دوزخيان په ځواب کې اقرار کړي] او ورته وايي: هو! را ته راغلل، نو بيا د دوزخ څارونکي ورته وايي: نو اوس تاسی دعاء وکړی [يعنی د عذاب سپکيدل د الله نه وغواړی!] خو د کافرانو دعاء [يعنی مرسته غوښتنه نوره] په ورکتيا کې ده، يعنی نور وخت تير سوئ دئ، او د دوی دعاء څه ګټه نلري او نه قبليږي، ځکه د دعا ځای دنيا وه! او بيا چې کله قيامت جوړ ســي؛ کافران د دوزخ اور ته ورغورځول کيږي او بيا به هلته کشـــران مشـــران ملامتوي، خو نوره پښـــيماني او د يو بل ملامتول ګټه نلري او دوی به د تل پاتې اور په لمبو کې سوزل کيږي!

قدرمنو دوســـتانو! نو دعاء کړو چې الله تعالی ده مونږ په خپل ايمان او ښه عمل باندې همداسې کلک لري او استقامت ده را په برخه کړي او د جهنم سره اور لمبو نه ده الله تعالی مونږ په خپل فضل او لوی رحمت سره وساتي! آمين يارب العالمين.

عزتمنو دوستانو! ښايي د دوزخيانو دغسې پيښـيماني زمونږ لپاره د عبرت اخستلو پيغام وي، کله چې د ژوند په چارو کې د خپلو بدو کړنو بدې پايلې د يو بل پر غاړه اچوو، لکه د وروستۍ نيمې پيړۍ افغاني سياسي ډلې چې د پرلپســـې ناکاميو ملامتي پر يو بل اچوي، خو دا پيړۍ نورې دوی ته هيڅ ګټه نلري او ورته د نجات بيړۍ نګرځي، ځکه دوی د تار يخ نه پند وانخست او يو بل پسې د زور واکۍ په مستۍ کې په مخ لاړل، تر هغو چې ښکلاککر په تيښـــته ســـول او دوی هم په ډير خوار ســـوي حال کې ور پســـې لاړل او پرديسي سول!

{الله پيغمبر انو او مومنانو ته د نصرت ز يرئ ورکړئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى خپلو پيغمبرانو او پر دوى باندې مخلصو مومنانو ته؛ د نصرت او د بر يا او فتحې ز يرئ ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ ٱلْأَشْهَٰدُ ﴿٥١﴾ يَوْمَ لَا يَنفَعُ ٱلظَّٰلِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ ۖ وَلَهُمُ ٱللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴿٥٢﴾ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْهُدَىٰ وَأَوْرَثْنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْكِتَٰبَ ﴿٥٣﴾ هُدًى وَذِكْرَىٰ لِأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٥٤﴾ فَٱصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَٱسْتَغْفِرْ لِذَنۢبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِٱلْعَشِىِّ وَٱلْإِبْكَٰرِ ﴿٥٥﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَٰنٍ أَتَىٰهُمْ إِن فِى صُدُورِهِمْ إِلَّا كِبْرٌ مَّا هُم بِبَٰلِغِيهِ ۚ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴿٥٦﴾﴾

[٥١] هو! يقينا چې مونږ په دنيا او په آخرت کې د خپلو پيغمبرانو او ورسره مومنانو مرسته کړو، يعنى دوي ته د دوى په زورواکو دښمنانو باندې په دنيا او په آخرت کې؛ بر يا او سر لوړي ورکوو، او د قيامت په ورځ چې د شاهدى و يلو ورځ ده؛ ملائکې پيغمبران او مومنان ټول د کافرانو په سرکښى باندې چې د خپلو پيغمبرانو خبرې يې ونه منلې او ايمان رانوړ شاهدي وايي او بيا کافران تور مخي دوزخ ته ورغورځول کيږي، او پکې کړول کيږي.

[٥٢] او کافرانو ته چې دوى پر خپلو ځانو باندې ظلم او تيرئ وکه؛ د قيامت په ورځ د دوى پښيماني او عذر غوښتنه گټه نلري او پر دوى باندې لعنت و يل کيږي او د الله رحمت نه شړل کيږي، او استوګنځئ يې په دوزخ کې ډير بد استوګنځئ او بده مينه ده.

گرانو دوستانو! نو دعاء کړو چې الله تعالى ده مونږ د دغسې بدې او تورې راتلونکې نه په خپل فضل او رحمت سره وساتي او په ايمان باندې

ده مونږ ته الله تعالی د ټینګښت توفیق را کړي!

[٥٣-٥٤] او موسی ته مونږ په پوره یقین سره لارښود کتاب تورات ورکه او بیا بني اسرائیلو ته دا کتاب مونږ په میراث پر ښود او هغه ټولو هوښیارانو ته لارښود او ښه غوره ور یادونکئ واعظ ؤ.

قدرمنو عز یزانو! الله تعالی خپل لارښود کتاب تورات پر موسی علیه السلام باندې رانازل که او بیا موسی ور باندې خپل قوم بني اسرائیل د حق لارې ته چې هغه د الله تعالی عبادت او صادقانه بنده ګی ده؛ سم کړل او هم یې پکې دوی ته د الله نور ښه ډیر حکمونه د ژوند چارو سمبال لپاره وښودل او بیان یې کړل، او هغه ټولو بني اسرائیلو ته ښه غوره لارښودنه وه، او دوی یې په سمه لار تګ ته هڅول، خو بني اسرائیلو په تورات کې بدلون راوست او ځینې حکمونه یې پټ کړل، ترڅو چې بیا دوی ته عیسی علیه السلام د نوي کتاب انجیل سره راغئ، خو هغه هم بني اسرائیلو ونه مانه او د عیسی علیه السلام وژلو په هڅه کې سول، ترڅو چې د اسلام پیغمبر محمد ﷺ باندې قرآن الله تعالی رانازل که او بني اسرائیل یې ور باندې ایمان راوړو ته را و بلل، خو هغه یهود چې په یثرب کې اوسیدل؛ کینو پسې واخستل او ایمان یې رانوړ او ډیرویې د رسول الله ﷺ سره د دښمنۍ لار خپله کړه، نو بیا د مکې مشرکانو پلو یان یهود د مدیني نه وتلو ته اړ کړل سول، ترڅو چې مومنان د دوی د فتنو او شر او د پټو دسیسو نه په امن کې سي.

او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی رسول الله ﷺ ته ډاډ او اطمئنان ورکړئ دئ چې صبر وکړي، ترڅو د موسی علیه السلام غوندې بر یا د هغه په برخه سي، او فرمایلي دي:

[٥٥] [نو ته ای د اسلام پیغمبره! د کافرانو او مشرکانو په زَورونو باندې چې پر تا باندې کړي] صبر وکړه او هغه وګاله او یقینا چې د الله وعدې [ستا سره په مرسته کړو او په بر یا کې] حق دي [یعنی الله به خامخا تا ای پیغمبره! او د ستا دین اسلام به په نورو ټولو ادیانو باندې زورور او برلاسئ کړي او نور به ټول خوار کړي، لکه څنګه چې یې

موسی علیه السلام ته په فرعون باندې بر یا ورکړه] او ته ای پیغمبره! خپلو تیروتنو نه بښنه وغواړه او سحر او بیګاه خپل رب الله په پاکې سره وستایه او حمد او ثنا یې ووایه او ستاینه یې وکړه!

هو! درندو عز یزانو! دا سپارښتنې که څه هم مخامخ رسول الله ﷺ ته دي، خو لوی هدف او مقصدیې د رسول الله امت مومنان دي، لکه څنګه چې د سحر او د بیګاه تسبیحاتو نه مقصد د سحر او مابنام لمونځونه دي او هغه پر مومنانو باندې فرض دي، لکه څنګه چې پر رسول الله ﷺ باندې فرض ول، او د پیغمبر ګناه نه مقصد هغه تیروتنې دي چې په سهوه یا په اجتهاد سره د رسول الله نه ﷺ پیښیې سوې وي، او همدارنګه هغه د رسول الله ﷺ امت ته د استغفار او د الله نه د بښنې غوښتنې تل پاتې سپارښت دئ.

[٥٦] ای پیغمبره! او یقینا هغه کافران چې د الله کتاب (قرآن) په آیتونو او دلیلونو کې پرته د کم حجت او رانازل سوي دلیل نه چې دوی ته راغلئ وي؛ جدال او مناظره کړي؛ هغه د دوی په زړونو کې کبر دئ [یعنی دوی ځانو نه غټ بولي او کبرجن دي او د ډیر کبر او لویې کینې نه د الله کتاب په آیتونو کې د کم دلیل نه پرته بې ځایه استدلال او دروغژنې خبرې کړي او د الله تعالی کتاب آیتونه نه منی] خو دوی خپل هدف او کرکجنو مقصدونو ته رسیدلای نسي، نو ته ای پیغمبره! د کافرانو د شر نه د ځان ساتنې لپاره الله ته پناه یوسه او ځان ده پر الله باندې وسپاره، او یقینا چې الله ښه اور یدونکئ او لوی لیدونکئ ذات دئ، یعنی تا د کافرانو شر نه خاماخا ساتي او کافرانو ته کلکه سزا ورکوي!

ګرانو دوستانو! دا خبره دلته، لکه څنګه چې لږ وړاندې لنډه یادونه وسوه؛ د پام وړ ده چې د الله تعالی سپارښت رسول الله ﷺ ته په صبر او زغم په ګاللو سره؛ همداسې د هغه امت ته تر قیامت ورځې پورې یو ارزښتناکه سپارښت دئ، او په ځانګړې ډول اسلام پالو دعاتو او مبلغینو ته دا سپارښت ډیر ضروري او اړ ین دئ، نو ښایي چې دوی تل په صبر او لوی زغم سره د خپلو ولسونو ناندرې او تر یخ چلند وګالي او د هغوی ټولې

ناخوالې د دوی په ضد تحمل کړي او هیڅ کله بې صبره نسي، او همدارنکه دعاتو ته ښـــایي چې، لکه رســـول الله ﷺ د خپل رب الله تعالی په ذکر، ستاینه، عبادت او په لمونځ کړو کې شپه او ورځ لګیاوي او ځانو نه خپل مومن ولس ته ښه لارښودان وګرځوي، ترڅو د خلکو زړونه پاسته سي او د کبر او ســرکښــی نه لاس واخلي او حق ومني او ایمان راوړي او خپل ځانونه ښاد کړي.

{د الله قدرتونو نښانې هرې خوا خورې سوي لیدل کیږي}

او په ور پســې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د خپلو لو یو قدرتونو ځلانده نښې او پاخه دلیلو نه د قیامت ورځې په یقیني راتګ او په هغه ورځ د خلکو بیرته راژوندي کولو ثبوت لپاره یاد کړي دي او ښې روښــانه بیان کړي دي، او فرمایلي دي:

﴿لَخَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٧﴾ وَمَا يَسْتَوِي ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَلَا ٱلْمُسِىٓـُٔ قَلِيلًا مَّا تَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾ إِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَءَاتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٥٩﴾ وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدْعُونِىٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِى سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴿٦٠﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٦١﴾ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٦٢﴾ كَذَٰلِكَ يُؤْفَكُ ٱلَّذِينَ كَانُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٦٣﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ قَرَارًا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءً وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ ۖ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦٤﴾ هُوَ ٱلْحَىُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱدْعُوهُ

مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَۚ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٦٥﴾

[٥٧] هو! يقينا چې د اسمانو او د ځمکې پيدا کول د خلکو پيدا کولو نه ډير غټ کار دئ، خو ډير خلک پدې نه پوهيږي [يعنى الله تعالى چې دا لوى اسمانو نه او خوره وره لو يه ځمکه پيدا کړي ده، نو الله ته د انسان پيدا کول او بيايې د قيامت په ورځ بيرته راژوندي کول ډير اسانه دي] خو ډير خلک (کافران) چې ژوره پوهه نلري ورځخه منکر دي!

[٥٨] ای خلکو! او هيڅ کله ړوند چې څه نه و يې او بينا چې هرڅه و يې سره برابر ندي، او نه مومنان چې د الله عبادت او ښه کړي، د بدو کړنو خاوندانو (کافرانو) سره برابر دي، خو تاسې ای خلکو! ډير لږ د الله لوى قدرتونه او د الله کتاب دليلونه راپه يادوى او پکې ژور فکر کړى!

[٥٩] او ای خلکو! يقينا چې د قيامت ورځ راتلونکې ده او هيڅ شك پکې نسته [نو ښايي چې ور باندې باور وکړى او ايمان راوړى او هغه ومنى] خو ډير خلک ايمان نه راوړي، يعنى د قيامت ورځې په راتګ باور نلري!

[٦٠] ای خلکو! او د ستاسې رب الله وو يو يل چې ای خلکو! يوازى ما وغواړى او زه د ستاسې غوښتنې منم [يعنى څه چې غواړى هغه درکوم] او په يقين سره پوه سى؛ هغه کسان چې د زما عبادت نه کبر کړي [يعنى ځانو نه ورځخه غټ بولي] دوى به سپک د دوزخ اور ته ورننوځي!

[٦١] او ای خلکو! االله هغه څوک دئ چې شپه يې تاسې ته د دمې کړو او راحت لپاره ګرځولې ده او ورځ يې درته رڼا کړې ده [يعنى ترڅو تاسې پکې د خپل ژوند چارې سمبال کړى] او يقينا چې الله په خلکو باندې د ورکړو او د احسان کړو؛ لوى څښتن دئ، خو ډير خلک د الله نعمتونو او لو يو پيرزو ينو شکر نه باسي او منه يې نکړي!

[٦٢] ای خلکو! او الله د ستاسې يوازنئ رب او خداى دئ چې هرڅه يې پيدا کړي دي، او د الله نه پرته بل څوک په حق او په ر يښتيا سره معبود نسته، نو تاسې ای خلکو! څنګه د الله بنده ګى نه بلې خوا ته اوړى، يعنى څنګه د بتانو عبادت کړى، حال دا چې د الله تعالى بنده ګى ټول دلائل

درته بيان سول!

[٦٣] او هغه کسان چې د زمونږ کتاب آيتونو نه منکر سول، نو دوی به همداسې د حق نه بلې خوا ته اوړي، يعنی د الله تعالی توحيد او يو والئ به په عبادت کې نه مني او باور به ور باندې نکړي او په خپل کفر باندې به کلک ولاړ وي!

[٦٤] ای خلکو! او االله هغه لوی ذات دئ چې ځمکه يې د ستاسې لپاره استوګنځئ وګرځا ؤ او اسمان يې له پاسه ور باندې ودرا ؤ، او تاسې يې ای خلکو! په ډيرو ښکلو او ښايسته څيرو کې پيدا کړی او د خوږو خوږو روزي يې درکړه، نو ټول عظمت او لو يتيا الله لره ده چې د ټول عالم او د نړۍ رب او لوی څښتن دئ!

[٦٥] او الله يوازې تل پاتې ژوندئ ذات دئ او د الله نه پرته بل په حق سره معبود نسته، نو ای خلکو! يوازې الله وغواړی او خپل عبادت او بنده کې يوازې الله ته ورګرځوی! [يعنی بل هيڅ څوک د الله سره په فرمان وړو کې مه ګډوی] او ټول حمد او ستاينه الله لره ده، ځکه الله د ټولو عالم رب او لوی څښتن دئ!

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آيتونو کې د خپل ر بو بيت ټول دليلونه او نښې په وار وار سره بيان کړي دي او د مکې کافران يې چې بتان يې د الله سره په عبادت او بنده ګی کې ګډول؛ يوازې د الله تعالی عبادت او بنده ګی ته په توحيد سره رابللي دي او د بتانو شر يکولو نه يې د الله سره په عبادت کې؛ کلک ګوابنلي او منع کړي دي.

ګرانو مومنانو! د رسول الله ﷺ پيغمبري پوره ديارلس کاله په مکه مکرمه کې په همدغسې بلنه کې تير سول، نو ځکه د قرآن لو يه برخه مبارك آيتونه او سورې د شرك سره په جګړه کې او په اوږدو دعوتي هلو ځلو او مناقشوکې را نازل سوي دي، او رسول الله ﷺ په پوره صبر، زغم او لوړې حوصيلې سره؛ خپل مسؤليت پرځای که او د خپل مشرك قوم د لاسه يې ډيرې ستونزې او ناخوالې وګاللې، خو هيڅ کله بې صبره نسه، ترڅو چې د هغه دعوت پروني يثرب او اوسنۍ مدينې منورې ته په رسيدو

سره وغږ يده او په مدينه کې ميشتو ولسونو(اوس او خزرج) ايمان راوړ او رسول الله ﷺ ته يې يثرب ته د هجرت بلنه ورکړه، او بيا رسول الله ﷺ د خپلو مومنو يارانو او صحابوو سره مديني منورې ته پټ هجرت وکه او د مکې نه چې ډيره ور باندې ګرانه وه؛ تيښتې ته مجبور او کلک اړ سه او بيايې هلته لمړۍ اسلامي ټولنه جوړه کړه!

{د الله تعالى نه پرته د بل هيڅ چا بنده ګي روا نده}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې رسول الله ﷺ ته الله تعالى حکم کړئ دئ چې د خپل قوم کافرانو ته اعلان وکړي چې زه الله تعالى د ستاسې بتانو عبادت نه منع کړئ يم، او فرمايلي دي:

﴿ * قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَمَّا جَآءَنِيَ ٱلْبَيِّنَٰتُ مِن رَّبِّي وَأُمِرْتُ أَنْ أُسْلِمَ لِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ٦٦ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُونُواْ شُيُوخًا وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ مِن قَبْلُ وَلِتَبْلُغُوٓاْ أَجَلًا مُّسَمًّى وَلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ٦٧ هُوَ ٱلَّذِي يُحْيِۦ وَيُمِيتُ فَإِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٦٨ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ أَنَّىٰ يُصْرَفُونَ ٦٩ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِٱلْكِتَٰبِ وَبِمَآ أَرْسَلْنَا بِهِۦ رُسُلَنَا فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ٧٠ إِذِ ٱلْأَغْلَٰلُ فِيٓ أَعْنَاقِهِمْ وَٱلسَّلَٰسِلُ يُسْحَبُونَ ٧١ فِي ٱلْحَمِيمِ ثُمَّ فِي ٱلنَّارِ يُسْجَرُونَ ٧٢ ثُمَّ قِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تُشْرِكُونَ ٧٣ مِن دُونِ ٱللَّهِ قَالُواْ ضَلُّواْ عَنَّا بَل لَّمْ نَكُن نَّدْعُواْ مِن قَبْلُ شَيْـًٔا كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلْكَٰفِرِينَ ٧٤ ذَٰلِكُم بِمَا كُنتُمْ تَفْرَحُونَ فِي ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَبِمَا كُنتُمْ تَمْرَحُونَ ٧٥ ٱدْخُلُوٓاْ أَبْوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَا فَبِئْسَ مَثْوَى ٱلْمُتَكَبِّرِينَ ٧٦ ﴾

[٦٦] اى پيغمبره! ته [د خپل قوم مشرکانو ته اعلان وکړه او ورته] ووايه چې زه د هغو کسانو عبادت او بنده ګۍ نه چې تاسې يې د الله نه پرته غواړئ [يعني عبادت يې کړې] کلک منع سوئ يم، ځکه ما ته د زما

رب الله نه روښانه دليلونه [يعني د الله کتاب قرآن] آيتونه راغلل او ما ته امر وسه چې زه خپل ځان د ټولو کايناتو او مخلوقاتو رب الله ته تسليم کړم او يوازې د الله بنده کې او عبادت وکړم!

[٦٧] [هو! ای خلکو!] الله هغه څوک دئ چې د ټولو خلکو لمړئ پلار (آدم عليه السلام) يې د خاورې نه پيدا که او بيايې د هغه کهول د مېړه او ښځې د ګډې سوې نطفې نه پيدا که [يعنی کله چې د مېړه او ښځی دواړو مني سره ګډه سول] او بيا دغه مني د ښځې په رحم کې [چې هغه په نس کې ځانګړې کځوړه ده] ټينګه و ينه سوه [او بيا دغه نطفه د يوه پراو نه بل پراو ته په تيريدلو سره د ستاسې په بشري ځيره بدله سوه] نو بيا تاسې الله ماشومان د مور نس نه راباسي، او بيا د ځوانۍ هوښياری ته رسيږی او بيا زړ يږی، ترڅو چې بيا هر څوک خپل ټاکل سوي وخت او نيټې ته ورسيږي او اجل يې پوره سي او مړ سي، خو ځينې کسان د ستاسې نه ای خلکو! د زړ بوډۍ نه مخکې مړه کيږي، نو ښايي چې تاسې ښه پوه او هوښيار سی، يعنی خپل رب الله ښه سم و پيژنی، ځکه تاسې الله پيدا کړی او ښه يې و پاللی او بيا چې کله تاسې خپله برخه په دنيا کې پوره کړی د ستاسې ساه الله ا خلي او مړه کيږي، نو ای خلکو! يوازې د الله عبادت او بنده کې وکړی او د بل چا د بنده ګی نه ځانو نه وساتی!

[٦٨] او الله هغه لوی ذات دئ چې خلک راژوندي کوي او بيايې مړه کوي، او الله چې کله د څه کړو پر يکړه وکړي، نو بيا په يقين سره ورته وايي: را پيدا سه، نو بيا هغه پيدا کيږي، يعنی د الله حکم د سترګو بنو په ر پيدو سره چليږي او هيڅ څوک يې د نافذيدو مخه نيولای نسي.

[٦٩] ای پيغمبره! او آيا هغه کسان چې د الله کتاب په روښانه آيتونو کې [يعنی د الله تعالی لو يو قدرتونو په ښکاره نښو کې] جدال او بحث کړي؛ آيا ته دوی نه و يې چې څنګه اوړي را اوړي؟ يعنی د سمې لارې نه په ورکتيا کې اوړي را اوړي، لکه څوک چې د الله لو يو قدرتونو نه منکر وي!

[٧٠-٧٢] او هغو کسانو چې د زمونږ کتاب (قرآن) دروغ و باله او هم يې د زمونږ هغه پيغمبران چې دوی ته مونږ د کتابونو سره راولېږل دروغژن

و بلل [یعنی د هغوی پیغمبري یې ونه منله] نو بیا به دوی د خپل در یځ په بدو پایلو ډیر ژر هغه وخت پوه ســي چې کله درانده غږوندي د دوی په غاړو کې اچول ســوي وي او په ځنځیرونو کې تړل ســوي دوزخ ته په ســرو او بو کې راکش کیږي او بیا د دوزخ په بل ســوي اورکې ســوزل کیږي! [نعوذ بالله من هذا المصیر الاسود]

[٧٣-٧٤] نو بیا دغو دوزخیانو ته و یل کیږي چې د ستاسې هغه ناحقه نومول ســوي خدایان چې د الله ســره تاســې په خدایي کې کډول؛ اوس چیرته دي؟ نو دوزخیان په ځواب کې وایي: هغوی اوس د زمونږ نه ورک سول [یعنی مونږ ته یې هیڅ ګټه ونه رسیدله او په ډیرې پښیمانۍ سره په خپله ناپوهۍ اقرار کړي] او ووایي: بلکې مونږ پخوا د هیڅ چا عبادت او بنده کې نه کړه [یعنی، نو لکه ځنګه چې الله تعالی دغه ناحقه معبودان او خدایان د خپلو بنده ګانو نه ورک کړل] همداســې الله کافران د حق لارې نه ورکوي، یعنی په ســمه لار د تګ توفیق نه ورکوي، ځکه دوی د حق پالنې لائق نه ول، ترڅو ورسره مرسته وسي!

[٧٥] او ای کافرانو! دا هغه سزا ده چې تاسی ته په ځمکه کې د ناحقه خوښۍ له امله درکول کیږي، ځکه تاســې د دنیا ژوند په مســتۍ کې ورک وۍ، یعنی خپل مسوولیت مو په ژوند کې پر ځای نکه!

[٧٦] نو اوس د دوزخ په ورونو باندې ورننوځئ او هلته به په تل پاتې عذاب کې کړ یږۍ، او هغه د کبرجنو کافران بد استوګنځئ او مینه ده!

درندو دوســتانو! په دغو مبارکو آیتونو کې لمړئ الله تعالی ټول خلک د خپل رب الله تعالی عبادت او بنده ګۍ ته په ښه پوهاوي سره رابللي دي او د الله د خدایي لوېې نښې یې ورته په مخ کې ایښې دي، او بیایې د کافرانو سر کښې او کبر د الله کتابونو او پیغمبرانو پر وړاندې غندلي دي او دوی یې په آخرت کې د دوزخ نه په کلکې ســزا او عذاب ګواښــلي دي او د دوزخیانو بد حالت تصــو یریې ورته وړاندې کړئ دئ، ترڅو په دنیا کې د دوی پام خپلې غلطۍ او تیروتنې ته راواوړي او پر خپل کفر باندې د ټینګار او ضد کړنو نه لاس وا خلي او په اخلاص سره ایمان راوړي.

{الله پيغمبر ته د بريا او د وعدو پوره کولو زيرئ ورکړئ دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالى رسول اللهﷺ ته د مکې کافرانو د زَورونو پر وړاندې همداسې د تسليت او ډاډ ګيرنې په مقصد د صبر او زغم سپارښت کړئ دئ او د خپل نصرت او د بر يا وعدو د پوره کولو زيرئ يې ورکړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿ فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيۡنَا يُرۡجَعُونَ ٧٧ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ مِنۡهُم مَّن قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ وَمِنۡهُم مَّن لَّمۡ نَقۡصُصۡ عَلَيۡكَۗ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأۡتِيَ بِـَٔايَةٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ فَإِذَا جَآءَ أَمۡرُ ٱللَّهِ قُضِيَ بِٱلۡحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ٧٨ ٱللَّهُ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَنۡعَٰمَ لِتَرۡكَبُواْ مِنۡهَا وَمِنۡهَا تَأۡكُلُونَ ٧٩ وَلَكُمۡ فِيهَا مَنَٰفِعُ وَلِتَبۡلُغُواْ عَلَيۡهَا حَاجَةٗ فِي صُدُورِكُمۡ وَعَلَيۡهَا وَعَلَى ٱلۡفُلۡكِ تُحۡمَلُونَ ٨٠ وَيُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ فَأَيَّ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ تُنكِرُونَ ٨١ أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَانُوٓاْ أَكۡثَرَ مِنۡهُمۡ وَأَشَدَّ قُوَّةٗ وَءَاثَارٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٨٢ فَلَمَّا جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَرِحُواْ بِمَا عِندَهُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٨٣ فَلَمَّا رَأَوۡاْ بَأۡسَنَا قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَحۡدَهُۥ وَكَفَرۡنَا بِمَا كُنَّا بِهِۦ مُشۡرِكِينَ ٨٤ فَلَمۡ يَكُ يَنفَعُهُمۡ إِيمَٰنُهُمۡ لَمَّا رَأَوۡاْ بَأۡسَنَاۖ سُنَّتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي قَدۡ خَلَتۡ فِي عِبَادِهِۦۖ وَخَسِرَ هُنَالِكَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ٨٥ ﴾

[٧٧] ای پيغمبره! [د خپل رسالت او د پيغام په رسولو کې د خلکو په زَورونو باندې] صبر وکړه او ډاډه او مطمئن اوسه چې يقينا د الله وعدې حق او ر ښتيا دي، نو بيا به يا ځينې هغه ګواښونه چې مونږ کافرانو ته د کلکو سزا ورکولو په باره کې کړي دي؛ تا ته په دنيا کې دروښيو او يا به تا ای پيغمبره! د دغو سزاګانو ورکولو نه مخکې وفات کړو، او کافران د

قیامت په ورځ بیرته مونږ ته راګرځول کیږي، یعنی بیا به هلته دوی ته کلکه سزا ورکړو!

[۷۸] ای پیغمبره! او یقینا چې د ستا نه پخوا مونږ خپل پیغمبران او استازي خلکو ته راولیږل او د دوی ځینو قصې تا ته مونږ وکړې او د ځینو نورو قصې تا ته مونږ ونکړې، او هیڅ پیغمبر نسي کولای چې د الله اجازې نه پرته یو آیت او یا د الله قدرتونو یوه نښه او معجزه راوړي، نو بیا چې کله د الله حکم راسي [یعنی کافرانو ته د سزا ورکولو پر یکړه وسي] نو په حق او عدالت سره پر یکړه کیږي، او هلته ده چې د باطل پلو یان تاوان کړي او کلک ز یانمن کیږي!

[۷۹-۸۰] ای خلکو! او الله هغه څوک دئ چې څاروي یې تاسې ته پیدا کړل، ترڅو په ځینو سپاره سئ او د ځینو غوښې وخورئ، او تاسې ته په څارو یو کې ډیرې نورې ګټې هم سته او تاسې ور باندې د خپلو زړونو ګټو ته رسیږئ، او په دغو څار یو باندې خپلې کډې په وچه کې وړئ، او په سنیدونو او سمندرونو کې خپل توکي په کښتیو یا بیړیو کې باروئ او د یوځای نه یې بل ځای ته وړئ.

[۸۱] هو! ای خلکو! تاسې ته الله [د خپلو پیرز ینو او لو یو قدرتونو] نښې درښیي، نو تاسې د الله کمو لو یو نښانو نه منکر یږئ؟ یعنی هغه نه منئ او یا یې نه پیژنئ؟ یعنی دا چې ښایي د الله تعالی لو یو قدرتونو دغه ښکاره نښې ښې و پیژنئ او بیا هغه ومنئ او ایمان راوړي، او یوازې د الله تعالی عبادت او بنده ګي وکړئ او د شرك نه او د حق منکر یدلو نه په کلکه سره لاس واخلئ.

[۸۲] ای پیغمبره! نو آیا دغه کافران په ځمکه کې نه ګرځي؟ [یعنی په ځمکه کې سیلاني نګرځي؟] ترڅو وو یني چې د دوی نه مخکې تیر سوو سرکښو ولسونو کرغیړن برخلیک څنګه ؤ؟ [یعنی ښایي د دوی نه پخوا تیر سو کافرانو د بدې راتلونکې نه خبر سي چې هغه څنګه ؤ؟] او هغه پخواني سرکښ ولسونه د مکې کافرانو نه ډیر ول، او ډیرې نښې یې د خپلې ځواکمنۍ نه په ځمکه کې پرې ایښې دي، خو دغو تار یخي نښو د

دوی نه د الله سزا ونسوه سپمولای او نه یې هیڅ ګټه ورته ورسوله.

[٨٣] نو بیا چې کله دغو کافرانو ته د دوی پیغمبران د الله لو یو قدرتونو نښو او معجزو او د الله کتاب دلیلونو سره راغلل؛ نو کافران په خپل هغه علم او پوهې چې د دوی سره وه؛ ډاډه او خوښ ول [یعنی ګمان یې کا ؤ چې په خپل علم به د پیغمبرانو مقابله وکړي] خو بیا ډیر ژر د الله هغه سزا پر دوی باندې راګرده سوه چې دوی یې سپکاوئ کا ؤ او ملنډې یې ور باندې وهلې، یعنی کافران د ډیر سپکاوي نه د الله تعالی سزا ژر غوښتونکي ول، ځکه دوی د الله ګواښو نه خوسې پټکي او ننګونې بللې او د الله عذاب راتګ باندې یې باور نه درلود.

[٨٤] نو بیا چې کله دوی د زمونږ زُوروره سزا ولیدله [نو په جګ غږ یې اعلان وکه] او و یو یل: اوس مونږ په یوه خدای الله ایمان راوړ او پرهغو خدایانو چې دوی مونږ د الله سره ګډول کافران او منکر سوو!

[٨٥] خو بیا چې کله دوی د زمونږ سزا ولیدله، نور نو بیا دوی ته د دوی ایمان ګټه ونه رسوله [یعنی د دوی دا ایمان نور د مجبوریت ایمان ؤ او د مجبوریت ایمان هیڅ کله نه قبلیږي] او دا د الله تعالی سنت او قانون دئ او د الله په بنده ګانو کې تل تیر سوئ دئ، نو بیا ټول کافران ز یانمن سول او کلک تاوان یې وکه، یعنی د الله کلکه سزا ورته ورسیدله، ځکه د ضرورت تو به و یستل او ایمان راوړل؛ ګناه ګار ته ګټه نه رسوی!

ګرانو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې چې د غافر یا د مومن سورې وروستني آیتونه ول؛ یوځل بیا کافران ایمان راوړو ته راباللي دي او د هغې ورځې سختۍ نه یې کلک ګواښلي دي چې کله پر دوی باندې د الله سخت عذاب راسي، نو بیا به دوی ایمان راوړي او پښیمانه به سي، خو نور د پښیمانۍ وخت تیر سوئ دئ، او په هغه ورځ ایمان راوړل هیڅ ګټه نلري، نو یقینا چې دغه بیان ټولو ګناه ګارانو ته ډیر لوی ګواښ دئ، نو ښایي چې هر کافر او ګناه ګار بنده مخکې د فرصتونو د تیریدلو او ضائع کیدلو نه تو به و باسي او ایمان راوړي او د کفر سرکښۍ نه لاس واخلي، ترڅو د الله کړونکې عذاب او سزا نه نجات بیاموي.

قدرمنو مومنانو! نو ټول دعاء کړو چې الله ده مونږ مومنانو ته په ایمان باندې ثبات، استقامت او ټینګښت را په برخه کړی او د کفر او د فسق تور برخلیک او بدې راتلونکې نه ده الله مونږ په خپل فضل او لوی رحمت سره وساتي.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على رسوله الأمين وعلى آله، وأصحابه أجمعين، وسبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.آمين يارب العالمين.

د فصلت سورې پښتو معنی او لنډ تفسیر

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

[دا سوره د الله په نامه چې د لوی رحمت څښتن او ښه مهر بان رب دئ پیل کیږي]

{د فصلت سورې لنډه پېژندنه او لوړ مقصدونه}

قدرمنو دوستانو! د (فصلت) مبارکه سوره چې بل نوم يې (حم السجده) دئ مکي سوره ده، او لکه نوري مکي سورې د قرآن کر يم په حقانيت يې چې د الله تعالي نه په ر ښتيا سره را نازل سوئ لارښود کتاب دئ؛ ټينګار کړئ دئ، او پدې مبارکه سوره کې الله تعالى د خپل دين لوړ مقصدونه او لوى هدفونه، لکه توحيد، د ايمان ارکان او لوى بنسټونه ياد کړي او بيان کړي دي، او ور ته يې د دعوت تګ لارې لويې نښې سره د دعوت کونکي غوره صفات او کلک اړ ين خو يونه ښه روښانه بيان کړي دي، ترڅو د الله تعالى توحيد ته بلنه په ټولنه کې د خلکو هرکلي سره مخامخ سي او ولسونه په پاخه باور او اخلاص سره ايمان راوړي او په دنيا او په آخرت کې ښاد او سرلوړي سي.

درندو دوستانو! د (فصلت) سورې د را نازليدو په سبب او شأن نزول کې روايت سوئ دئ چې د قر يشو مشران يوه ورځ سره را ټول سول او عتبه بن ر بيعه يې خپل استازئ وټاکه او محمد رسول الله ﷺ ته يې ولېږه، ترڅو د پيغمبر نه وغواړي چې د خپل رسالت او پيغمبرۍ دعوت نه چې هغه يوازې د الله تعالى توحيد ته بلنه ده؛ تير سي او ورځخه لاس واخلي او په ځاى کې يې قر يشو رسول الله ﷺ ته د هرڅه ورکولو وړلاندېځ وکه، نو بيا عتبه محمدﷺ ته وو يل: که ته مال او دولت غواړې، نو مونږ به دومره دولت درته را ټول کړو، ترڅو ته د قر يشونه ډير بډا او مالدار سې، او که د ډيرو ښځو سره د واده کړو شوق لرې، نو د خپلې خوښې ښځې د قر يشو پيغلونه خوښې کړه او د لسو ميرمنو سره به درته واده وکړو او داسې نورې خبرې، نو بياچې کله عتبه خپلې خبرې او غوښتنې خلاصې کړې، نو رسول الله ﷺ د عتبه نه و پوښتل او و يو يل: د ستا خبرې خلاصې سوې؟ عتبه په ځواب کې وو يل: هوا! نو بيا رسول اللهﷺ په (بسم الله الرحمن الرحيم) سره د فصلت سوره د [حاء، ميم] نه تر(١٣) آيته پورې آيتونه ورته ولوستل او تلاوت يې کړل، او په ديارلسم آيت کې الله تعالى فرمايلي دي:"فإن أعرضوا فقل أنذرتكم صاعقة مثل

صاعقة عاد او ثمود" نو عتبه بن ربيعة د ډير هول، ډار او کلکې و يرې نه رسول اللهﷺ ته وو يل: نور بس دئ او ز ياته پې کړه چې آيا نور څه و يل درسره سته؟ رسول اللهﷺ ځواب ورکه او و يو يل: نا! نو بيا عتبه بيرته قر يشو ته ورستون سه او د قر يشو مشران پې د دې مرکې او و ينا نه خبر کړل، او دا چې عتبه د کلک تاثير لاندې راغلئ ؤ و يو يل: خو زه پې په خبرو يوازې دومره پوه سوم چې د عاد او ثمود پر قامونو را نازل سوي تندر عذاب باندې پې زه وګواښلم چې هغَه په يوه ګړزهار سره عاديان او ثموديان هلاک کړل او ټول دخاورو لاندې سول!

{قر يشو د قرآن نه چې په عربي ژبه نازل سوئ دئ مخ وا ړا ؤ}

هو؛ درندو دوستانو! د فصلت يا (حاء، ميم) السجده مباركه سوره هغې ته ورته نورو حواميمو مکي سورو غوندې په (حاء، ميم) چې د يو بل نه پر يکړل سوي عربي توري دي؛ پيل سوې ده، او پکې الله فرمايلي دي:

﴿حمٓ ۝١ تَنزِيلٌ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٢ كِتَٰبٌ فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥ قُرۡءَانًا عَرَبِيّٗا لِّقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ۝٣ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا فَأَعۡرَضَ أَكۡثَرُهُمۡ فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ۝٤ وَقَالُواْ قُلُوبُنَا فِيٓ أَكِنَّةٖ مِّمَّا تَدۡعُونَآ إِلَيۡهِ وَفِيٓ ءَاذَانِنَا وَقۡرٞ وَمِنۢ بَيۡنِنَا وَبَيۡنِكَ حِجَابٞ فَٱعۡمَلۡ إِنَّنَا عَٰمِلُونَ ۝٥﴾

[١-٣] [هو! دا کتاب (قرآن) چې په عربي ژ به لوستل کيږي] او د (حا، ميم) غوندې عربي تورونه جوړ سوئ کتاب دئ؛ د الرحمن الرحيم رب الله لخوا چې د لوی رحمت څښتن او ډير مهر بان ذات دئ؛ هغې يو قوم ته را نازل سوئ دئ چې دوی ور باندې ښه پوهيږي، او د دې کتاب آيتونه او دليلونه ښه روښانه بيان سوي دي، يعنی يو د بل نه په ډير وضاحت سره بيل بيل ياد سوي دي او معناي پې هم ښه روښانه ده.

[٤] او قرآن مومنانو ته د ثوابونو ز يرئ ورکونکئ کتاب دئ او کافران د الله سزا نه و يروي او ګواښي، نو بيا د قر يشو قوم ډيرو خلکو د قرآن منلو نه مخ واړا ؤ، نو قرآن دوی نه اوري، يعنی د قرآن تلاوت او لوستلوته غوږ نه باسي، ترڅو پکې ښه ژور فکر پکې وکړي او بيا ايمان راوړي او په

حکمونوپې عمل وکړي او هغه ځانو لپاره لاړښود وګرځوي!

[٥] [او دغو کافرانو پیغمبر ﷺ ته] وو یل: ای پیغمبره! هغه څه ته چې ته مونږ رابولي، نو زمونږ پر زړونو باندې خو داسې پوښ راخور دئ چې هغه نه ورننوځي [یعنی د ستا دعوت نه مني او نه ور باندې ایمان روړي] او د زمونږ غوږونه درانده دي څه شئ نه اوري، او د ستا او زمونږ په منځ کې داسې یوه بیلونکې پرده خوره ده چې د ستا خبرو منلو ته مونږ نه پر یږدي، نو ته ای محمده! خپل کار کړه او مونږ به خپل کار کړو، یعنی د هر چا خپل دین او خپل عمل او یو به پر بل کار نلرو!

{محمد ﷺ چې یوازې انسان ؤ د الله توحید ته یې بلنه ورکوله}

قدرمنو دوستانو! هو؛ دا ؤ د مکې ډیرو کافرانو ښه روښانه او قاطع او پر یکنده در یځ او موقف چې د رسول الله ﷺ پر وړاندې یې اعلان که، نو بیا الله تعالی رسول الله ﷺ ته لاړښودنه او سپارښت وکه چې کافرانو ته اعلان وکړي او ورته ووایي:

﴿قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ فَٱسْتَقِيمُوٓا۟ إِلَيْهِ وَٱسْتَغْفِرُوهُ ۗ وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِينَ ۝٦ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ كَٰفِرُونَ ۝٧ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ۝٨ ۞ قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْأَرْضَ فِى يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ لَهُۥٓ أَندَادًا ۚ ذَٰلِكَ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝٩ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِىَ مِن فَوْقِهَا وَبَٰرَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَآ أَقْوَٰتَهَا فِىٓ أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سَوَآءً لِّلسَّآئِلِينَ ۝١٠ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِىَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَآ أَتَيْنَا طَآئِعِينَ ۝١١ فَقَضَىٰهُنَّ سَبْعَ سَمَٰوَاتٍ فِى يَوْمَيْنِ وَأَوْحَىٰ فِى كُلِّ سَمَآءٍ أَمْرَهَا ۚ وَزَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِمَصَٰبِيحَ وَحِفْظًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ ۝١٢﴾

[٦-٧] ای پیغمبره! [کافرانو ته] ووایه چې زه د ستاسې غوندې یوازې سړئ یا انسان یم، خو ما ته وحیه کیږي [یعنی د الله تعالی لخوا ما ته پټې خبرې را لیږل کیږي] او پدې کې شک نسته چې د ستاسې معبود په حق او

ر ښځتيا سره يو خداى الله دئ، نو تاسې الله ته سم سئ او د الله نه د خپل شرك ګناه بښنه وغواړئ، ځكه مشركانو ته ډير تباه كونكئ عذاب دئ [او دا ځكه چې دوى د الله سره په بنده ګئ او عبادت كې بتان ګډوي] او مشركان هغه كسان دي چې د خپل مال زكات نه وركوي او د آخرت ورځې راتګ نه منكر دي، يعنى هغه نه مني!

[٨] او يقينا هغو كسانو چې ايمان راوړ [يعنى قرآن او پيغمبرې ومنل] او ښه يې وكړل؛ دوى ته داسې ثواب وركول كيږي چې پكې احسان بارول نسته، يعنى هغه د تل پاتې جنتونو ثواب دئ.

ګرانو عز يزانو! رسول الله ﷺ د الله تعالى په لارښودنه خپل پيغام د مكې كافرانو ته په ډير روښانه او قاطع بيان سره ورسا ؤ او دوى يې په الله باندې په توحيد سره ايمان راوړو ته راو بلل او مومنانو ته يې د لو يو ثوابونو ز يرې وركړل.

او بيا په ور پسې مباركو آيتونو كې الله تعالى د خپلو لو يو قدرتونو ډيرې نښې د رسول الله ﷺ په خوله كافرانو ته يادې كړى دي، ترڅو كافران ايمان راوړي او د شرك نه لاس واخلي، او په بيان كې فرمايلي دي:

[٩] اى پيغمبره! [او پر كافرانو غږ وكړه او ورته] ووايه: اى خلكو! آيا تاسې د هغه خداى نه منكر يږئ چې هغه ځمكه په دوه ورځو كې پيدا كړه، او الله د ټولې نړۍ او د ټولو خلكو رب او لوى ځښتن دئ، خو تاسې بتان د الله سره په خدايي كې سيالان ګرځوئ؟ يعنى نو د ستاسې دا كار د هوښيارانو كار ندئ، ځكه تاسې د الله تعالى خدايي په يوالي او توحيد سره په بنده ګئ كې نه منئ!

[١٠] او بيا الله پر ځمكه له پاسه غرونه ميخ كړل، ترڅو ځمكه پر هغو باندې كلكه سي، او د ټولو مخلوقاتو غوښتنو او اړتياوو سره برابر يې د دوى روزي په ځلورو ورځوكې پيدا كړه او بركت يې پكې واچا ؤ.

[١١] او بيا الله اسمان ته چې دود ؤ مخه كړه، نو اسمان او ځمكې دواړو ته يې حكم وكه او ور ته يې وو يل: دواړه په خوښه او يا په زور د زما فرمان وړو ته راسئ او غاړه ور ته كيږدئ، نو بيا دوى دواړو وو يل: مونږ په

خپله خوښه د ستا فرمان ته ای لو یه خدایه! فرمان ورونکي راغلو!

[١٢] نو بیا الله د او وو اسمانونو د پیدایښت پر یکړه په دوه ورځو کې وکړه او هر اسمان ته یې د هغه د چارو سمبال لارښودنه وحیه کړه، او د ځمکې اسمان مونږ په رڼا کونکو ستورو ښکلئ او ښایسته که او د شیطانانو ورتک نه هغه مونږ وساته، او دا کارونه ټول د لوی ځواکمن او ښه پوه رب اندازه کول او چلول ول، یعنی هغه ټول د الله تعالی په تقدیري پر یکړه ترسره سول.

قدرمنو دوستانو! دا دئ ځواکمن، پوه او واکمن رب الله چې اسمانونه او ځمکه او پکې ټول پرا ته مخلوقات یې د یو بل سره ښه برابر او کلک پیدا کړي دي او چارې یې په پاخه علم او لوی تدبیر او حکمت سره چلوي، نو یقینا چې یوازې الله تعالی د بنده ګی حق لرونکئ مستحق ذات او لوی خدای دئ، نو ښایي چې ټول خلک ورته تسلیم سي او ایمان راوړي.

{ څوک چې د الله حکم نه مخ اړوي د ګوابښ لاندې دئ }

او بیا په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د مکې کافران د عاد او د ثمود ولسونو غوندې په کلکه سزا باندې ګوابښلي دي، او فرمایلي دي:

﴿ فَإِنْ أَعْرَضُوا۟ فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صَٰعِقَةً مِّثْلَ صَٰعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ ﴿١٣﴾ إِذْ جَآءَتْهُمُ ٱلرُّسُلُ مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ ۖ قَالُوا۟ لَوْ شَآءَ رَبُّنَا لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةً فَإِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿١٤﴾ فَأَمَّا عَادٌ فَٱسْتَكْبَرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَقَالُوا۟ مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ۖ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِى خَلَقَهُمْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۖ وَكَانُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا يَجْحَدُونَ ﴿١٥﴾ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِىٓ أَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيقَهُمْ عَذَابَ ٱلْخِزْىِ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَعَذَابُ ٱلْءَاخِرَةِ أَخْزَىٰ ۖ وَهُمْ لَا يُنصَرُونَ ﴿١٦﴾ وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيْنَٰهُمْ فَٱسْتَحَبُّوا۟ ٱلْعَمَىٰ عَلَى ٱلْهُدَىٰ فَأَخَذَتْهُمْ صَٰعِقَةُ ٱلْعَذَابِ ٱلْهُونِ بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿١٧﴾ وَنَجَّيْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَكَانُوا۟ يَتَّقُونَ ﴿١٨﴾ ﴾

[١٣] نو که بيا دغو کافرانو [يعنی قر يشــو د الله تعالی د ټولو لو يو قدرتونو بيان ســره ســره ايمان رانوړ] او مخونه پې ورځخه واړول، نو بيا تــه ای پيغمبره! دوې تــه ووايــه: زه تاســې د عــاد او ثمود قومونو د تنــدر غوندې ســزا نه و يروم، يعنی تاسې کلک ګواښــم چې، لکه پخوا تير ســوو ســرکښــو ولســونو غوندې به د الله عذاب در باندې راکوز سي او ټول به هلاك او تباه سی!

[١٤] هو! کله چې عاد او ثمود ته د دوی پيغمبران د وړاندې او د شا نه راغلل [او ورته پې وو يل:] د الله نه پرته د بل چا عبادت او بنده ګي مکړی! نو دوی په ځواب کې وو يل: که د زمونږ رب الله غوښــتي وای، نو ملائکې بې مونږ ته پيغمبران راکوز کړي ول؟ نو مونږ ای محمده! د ســتا پيغمبری نه چې ته ور باندې را ليږل سوئ پې؛ منکر يو او هغه نه منو!

[١٥] نو بيا د عاد قوم د حق نه په وتلو ســره په ځمکه کې کبر وکه او ځانونه پې د پيغمبرانو نه غټ و بلل او و يو يل: څوک د زمونږ نه ډير ځواکمن او زَورور دي؟ خو آيا دوی ونه ليدل؛ هغه الله چې دوی پې پيدا کړل؛ هغه د دوی نه په يقين ســره لوی ځواکمن زورور ذات دئ! او د عاد قوم زمونږ د قدرتونو نښو او د کتاب آيتونو نه منکرسول او وې نه منل.

[١٦] نو بيا مونږ پر دوی باندې ډير ګړندئ بړ بښــوونکئ او ګړزوونکئ طوفاني باد يا شمال په ډيرو سړو ورځوکې را ولېږه، ترڅو دوی ته د دنيا په ژوند کې خوارونکې ســزا وروڅکو، او يقينا چې د آخرت ورځې عذاب لا ډير سپکونکئ دئ، او د عاد قوم سره هيڅ مرسته نکيږي!

[١٧-١٨] او ثموديانو ته مونږ ســمه لار وښــودله، نو بيا دوی ړوندتيا پر ســمه لار روانيدو باندې خوښــه کړه، نو بيا دوی د خپلو بدو کړنو په ګناه د تندر سپکونکي عذاب کلک راونيول، او هغو کسانو چې ايمان راوړ او متقيان ول، او ځانو نه يې د سزا نه وساتل؛ دوی ته مونږ نجات ورکه، يعنی دوی مونږ د سزا نه خلاص کړل.

ګرانو دوستانو! دا دئ د الله تعالی تل پاتې عادلانه چلند او قانون چې د بشــر يت په اوږده تار يخ کې يې تل پر خپلو مومنو بنده ګانو باندې

چلولئ دئ، نو اوس د خلکو خوښـــه چې د الله حکمونو ته غاړه ږدي او هغه مني او په دنيا او آخرت کې نيکمرغه ژوند کوي او کنه؟ يعنی دا چې سرکښي کړي او د دوزخ سره اور ته ځانو نه ورغورځوي!

{د الله پر دښمنانو باندې د دوی خپل غړي شاهدي وايي}

او په ور پسې مبارکو آيتو کې الله تعالی د قيامت په ورځ د کافرانو بد حالت انځور يا تصوير وړاندې کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَيَوْمَ يُحْشَرُ أَعْدَاءُ اللَّهِ إِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿١٩﴾ حَتَّىٰ إِذَا مَا جَاءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَارُهُمْ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٢٠﴾ وَقَالُوا لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدتُّمْ عَلَيْنَا ۖ قَالُوا أَنطَقَنَا اللَّهُ الَّذِي أَنطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢١﴾ وَمَا كُنتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَن يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَا أَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ وَلَٰكِن ظَنَنتُمْ أَنَّ اللَّهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيرًا مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢٢﴾ وَذَٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِي ظَنَنتُم بِرَبِّكُمْ أَرْدَاكُمْ فَأَصْبَحْتُم مِّنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٢٣﴾ فَإِن يَصْبِرُوا فَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۖ وَإِن يَسْتَعْتِبُوا فَمَا هُم مِّنَ الْمُعْتَبِينَ ﴿٢٤﴾ * وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَاءَ فَزَيَّنُوا لَهُم مَّا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِي أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِم مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا خَاسِرِينَ ﴿٢٥﴾ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا لِهَٰذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ ﴿٢٦﴾﴾

[١٩-٢١] [ای خلکو! او کله چې د قيامت په ورځ] د الله دښمنان (کافران) دوزخ ته راغونديږي [نو بيا د دوزخ ساتونکي او څارونکي] د دوی لمړی ډلې د وروستيو ډلو سره يوځای کوي، ترڅو دوی ټول کډ دوزخ ته ورننوځي، او په هغه ورځ د کافرانو غوږونه، سترګی او پوستکي د دوی پر بدو کړنو باندې په دنيا کې شاهدي وايي! نو بيا دوزخيان د خپلو پوستکو نه پوښتي او ورته وايي: ولی تاسې پر مونږ باندې شاهدي وو يله؟ [نو بيا يې پوستکي په ځواب کې] وايي: هغه رب الله چې هرڅه يې په خبرو را وستلي دي؛ مونږ يې هم په خبرو راوستلو، او ای خلکو! تاسې په لمړي

ځل کې الله پیدا کړی، نو بیا تاسې بیرته الله ته ورګوځول کیږی، یعنی نو بیا درځخه حساب اخستل کیږي!

[٢٢-٢٣] ای کافرانو! او تاسې د خپلو غوږونو، سترګو او د پوستکو د شاهدی نه نسوی پټیدلای او تاسې ګمان وکه چې هیڅ کله الله د ستاسې په ډیرو کړنو باندې نه پوهیږي، خو هغه د ستاسې بې ځایه بد ګماني وه چې پر خپل رب او لوی ځښتن الله باندې مو وکړه، نو بیا ځکه تاسې الله هلاك کړی، او تاسې د بایلونکو نه سوی او کلک ز یانمن سوی!

[٢٤] نو اوس که دغه کافران صبر هم وکړي او سختي وزغمي؛ د دوی ځای د دوزخ اور دئ، او که پښیمانه سي، نو پښیماني یې نه منل کیږي، یعنی که دغه دوزخیان د الله تعالی خوښی او رضا غوښتونکي سي، او د الله نه وغواړي چې دوی بیرته دنیا ته وروګرځول سي، ترڅو یوازې د الله تعالی بنده ګي وکړي، نو بیا هم دوی د الله بنده ګی لائق نه بلل کیږي، ترڅو خپل رب الله خوښ کړي او د دوزخ سزا نه خلاص سي، ځکه نور د توبې و یستلو وخت تیر سوئ دئ!

[٢٥] او دغو کافرانو ته مونږ په دنیا کې داسې ملګري او مشاور ین ور په برخه کړي ول چې دوی ته یې د دوی وړاندې او وروسته؛ ټول بد کړل ښکلي او ښایسته ښودل، نو بیا پر دوی باندې د دوی نه پخوا تیر سوو امتونو پر یانو او انسانانو غوندې؛ کلکې پر یکړي وسوي، او یقینا چې دوی ټول بایلونکي ول، یعنی خپلې ټولې ګټې یې په دنیا او آخرت کې بایلودلي او دوزخ د دوی ځای سه.

[٢٦] او کافرانو د ډیرې کینې نه یو بل ته [په سپارښت کړو سره] وو یل: دې قرآن ته چې تاسې ته لوستل کیږي غوږ مه نیسی [یعنی د تلاوت په وخت کې یې شور او زوګ پیل کړی] او چټیات ووایي، ترڅو ور باندې زورور او برلاسي سی، یعنی دا چې محمد ﷺ په تنګ کړی، ترڅو نور د قرآن لوستلو او د تلاوت نه لاس واخلي او هغه ونلولي!

{ کافرانو ته الله تعالی د کلکو سزاګانو ګواښ کړئ دئ }

عزتمنو دوستانو! نو د مکې مشرکان د الله تعالی او د هغه پیغمبر

محمد ﷺ سره خپلې دښمنۍ همداسې ضد پسې واخستل او ټینکارې په وکه، نو بیا دوی الله تعالی په کلکو سزا ورکولو ګواښلي او فرمایلی دي:

﴿ فَلَنُذِيقَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَذَابًا شَدِيدًا وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَسۡوَأَ ٱلَّذِي كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٢٧ ذَٰلِكَ جَزَآءُ أَعۡدَآءِ ٱللَّهِ ٱلنَّارُۖ لَهُمۡ فِيهَا دَارُ ٱلۡخُلۡدِۖ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ٢٨ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ رَبَّنَآ أَرِنَا ٱلَّذَيۡنِ أَضَلَّانَا مِنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ نَجۡعَلۡهُمَا تَحۡتَ أَقۡدَامِنَا لِيَكُونَا مِنَ ٱلۡأَسۡفَلِينَ ٢٩ ﴾

[۲۷-۲۸] نو بیا به کافرانو ته کلکه سزا وروښکو او د دوی د بدو کړنو نه به لا ډیر عذاب ورکړو، او هغه د الله د دښمنانو سزا ده او د دوزخ اور کافرانو ته تل پاتې اسـتوګنځۍ دئ، ځکه دوی د زمونږ کتاب آیتونو او دلیلونو نه منکر سول.

[۲۹] [او بیا چې کله د قیامت په ورځ دغه کافران په دوزخ کې ځای پر ځای سي، نو پر خپلو مشـرانو باندې د ډیرې غوصـې نه الله ته سـوال کړي] او وایي: ای د زمونږ لو یه ر به! هغو پیریانو او انسـانانو چې مونږ د حق منلو نه ورک او بې لارې کړو؛ اوس دغه ډلې مونږ ته راوښـیه، ترڅوپې د خپلو پښـو لاندې کړو او د دوی ځای د دوزخ اور ټیته ژوره سي، یعنی دا چې غواړو خپل زړونه پردوی یخ کړو او د دوزخ اور زړه ته پې وروغورځوو، خو د کافرانو دغسـې غوصـې اوس هیڅ ګټه نلري او دوی به د خپل کفر په سزا د تل پاتي اور په لمبو کې کړ یږي.

قدرمنو دوسـتانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونوکې د کافرانو بد برخلیک تصـو یر او ښـه روښـانه انځور مونږ ته وړاندې کړئ دئ، ترڅو ټول خلک ورڅخه پند وا خلي او حق منلو ته غاړه کیږدي او ایمان راوړي، او یوازې د الله عبادت وکړي او په حکمونوپې عملي کړي.

{ کلکو مومنانو ته پیغمبر د جنتونو زیرئ ورکړئ دئ }

او بیا په ور پسـې مبارکو آیتونو کې مومنانو تـه الله تعالی د هغو جنتونو ز یرئ ورکړئ دئ چې په دنیا کې پې ورسـره وعده سـوې وه، او په

بيان کې يې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ٣٠ نَحۡنُ أَوۡلِيَآؤُكُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَشۡتَهِيٓ أَنفُسُكُمۡ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ٣١ نُزُلٗا مِّنۡ غَفُورٖ رَّحِيمٖ ٣٢﴾

[٣٠] هو! يقينا هغو کسانو [چې اقرار وکه] او و يو يل چې د زمونږ پالونکئ لوی څښتن الله دئ، او بيا دوی په خپل تعهد او هوډ باندې کلک ودر يدل او ټينګ سول؛ نو پر دوی باندې د اسمان نه فرښتې (ملائکې) راکوز يږي [يعنی ز يږئ ورکوي او ورته وايي: ای مومنانو!] هيڅ کله مه غمجن کيږئ او مه و يږئ، او تاسې ته په هغه جنت کې د استوګنې ز يږئ دئ چې په دنيا کې درسره وعده کيده!

[٣١-٣٢] هو! مونږ د دنيا په ژوند کې او په آخرت کې د ستاسې ملګري يو، او تاسې ته ای مومنانو! په آخرت کې هغسې روزي او خواړه درکول کيږي چې د ستاسې زړه ورته کيږي او هرڅه ته چې د ستاسې اشتياه کيږي [يعنی هغه غواړي؛ ټول تاسې ته تيار دي] او دا ميلمستيا تاسې ته ای جنتيانو! د ستاسې لوی بښونکي او ښه مهر بان رب الله لخوا راکوزه سوې او جوړه سوې ده!

ګرانو عز يزانو! نو دعاء کړو چې الله تعالى ده مونږ ته د زمونږ په خپل ايمان او ښه عمل او د الله په اطاعت باندې د ټينګدو او استقامت توفيق راکړي او مونږ ده د دغو لو يو نعمتونو لائق وګرځوي! آمين يا رب العالمين.

{څوک چې خلک د الله عبادت ته رابولي بل هرچانه غوره دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونوکې الله تعالى خپل دين اسلام ته رابلونکي دعات ستايلي دي او بيايې دوی ته ډيرې ګټورې لارښودنې او سپارښتنې کړې دي، او فرمايلي دي:

﴿وَمَنۡ أَحۡسَنُ قَوۡلٗا مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ

ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿٣٣﴾ وَلَا تَسْتَوِي ٱلْحَسَنَةُ وَلَا ٱلسَّيِّئَةُ ۚ ٱدْفَعْ بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا ٱلَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُۥ عَدَٰوَةٌ كَأَنَّهُۥ وَلِيٌّ حَمِيمٌ ﴿٣٤﴾ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٣٥﴾ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ نَزْغٌ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٣٦﴾

[٣٣] هو! څوک د هغه چا نه ډير د ښې و ينا څښتن دئ چې دئ خلک د الله عبادت او بنده کې ته رابولي او خپله هم ښه کړي [يعنی د الله په حکمونو باندې عمل کړي او په کلک ډاډ سره] وايي: زه د مسلمانانو نه يم؟ [ځواب دا چې هيڅ څوک د هغه نه د ښې و ينا او د لوی عزت څښتن ندئ!] يعنی د الله توحيد ته رابلونکي دعات د ټولو خلکو نه ښه غوره دي.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی پدې مبارك آيت کې مونږ د الله دين ته رابللو او دعوت ته هڅولي او تشويق کړي يو او د علماوو او دعاتو لوړ مقام يې را ته بيان کړئ دئ، نو دعاء کړو چې الله تعالی مونږ ته د ايمان راوړو سره د ګټور علم حاصلولو په څنګ کې د ښه عمل او د الله دين ته د دعوت توفيق راکړي.

او بيا الله تعالی په ور پسې مبارکو آيتونو کې د دين وارثانو علماوو او دعاتو ته چې د الله دين خلکو ته رسوي او ورزده کوي يې؛ ډيرې ګټورې لارښودنې او اړ ين سپارښتونه کړي دي او په ښه طر يقه يې د بد چلند ردولو باندې کلک سپارښت کړئ دئ او د شيطان وسوسو نه يې د الله تعالی نه مرستې غوښتلو ته رابللي دي، او فرمايلي دي:

[٣٤-٣٥] هو! ښه کړل او ښه و ينا د بدو کړنو او د بدو و يناوو سره برابر ندي، نو ای پيغمبره! ته په ډيره ښه طر يقه د خپل ځان نه دفاع وکړه [يعنی دښمن ته په ښه خبره باندې ځواب ورکړه] نو بيا به ته هغه څوک چې د ستا او هغه په منځ کې دښمني وه؛ دئ به، لکه ډير ګران ملګرئ او دوست بيامومې، او دغسې ښه خوی او لوړ مقام ته پرته د هغو کسانو نه چې صبر کړي او لو يه برخه يې په دنيا او آخرت کې په نصيب سوی وي؛ بل هيڅ څوک رسيدلای نسي، يعنی دا لوړ مقام الله تعالی هغو

کسانو ته ورکوي چې دوی د الله په لار کې ستونزې ګالي او هغه زغمي او صبر کړي، ځکه دوی الله تعالی د لوی مقام او د لوړو درجو لائق ګرځولي دي او دغسې کسان د الله استازي او پیغمبران ول، او بیا د دوی په لار روان؛ هغه دعات دي چې یوازې د الله رضا لپاره خلک د الله دین ته چې پکې د دوی نیکمرغي ده رابولي، او د الله دین خلکو ته رسوي او د تبلیغ او د شرعي علومو تدر یس رسالت یې په غاړه اخستئ دئ.

او بیا الله تعالی رسول الله ﷺ باندې غږ کړئ دئ او لارښودنه یې ورته کړې ده، او فرمایلي دي:

[۳٦] ای پیغمبره! او کیدای سي چې شیطان تا ډیر کله دیکه کړي [یعنی په زړه کې ده وسوسه را وچوي] ترڅو ته د بدو خلکو سره هغسې چلند وکړې، لکه څنګه چې د دوی سره لائق وي، نو بیا ته ځان پر الله وسپاره [او د الله نه مرسته وغواړه، او ورته پناه وروړه او د دعوت په سمه لار کلک ودر یږه او ور باندې تیرئ مکړه] او یقینا چې الله ښه اور یدونکئ او ښه پوه لوی ذات دئ، یعنی تا ای پیغمبره! الله د بدو کړنو نه ساتي او دښمن به ده د ستا په مخکې په پټه غاړه درته دروي.

قدرمنو دوستانو! نو ښایي چې د الله تعالی دین ته رابلونکي دعات چې خپلو خلکو او ولسونو ته د اسلام په رڼا کې نیکمرغه ژوند غواړي؛ تل دا ارزښتناکه لارښودنې په پام کې ونیسي، ځکه هغه د قرآن کر یم په نورو ډیرو آیتونو کې هم په وار وار سره یادې سوې او بیان سوې دي، او رسول الله ﷺ په خپل ژوند کې ور باندې عمل کړئ دئ او ښه روښانه عملي لار یې په دعوت کې مونږ ته په میراث پرې ایښې ده چې عمل ور باندې اړ ین او ضروري دئ، ترڅو د الله دین خلک په خوښۍ سره ومني.

او همدارنګه دا مبارك آیتونه دعاتو ته په اسلامي ټولنو کې چې دوی ورته د ژوندانه د ټولو چارو سمبالولو سپارښت د اسلام په رڼا کې کړي؛ داسې لوی پیغام لري چې دوی ته ښایي هیڅکله د غوصه ناک در یځ نه او د بدو کړنو نه کار وانخلی، مګر دا چې پر دوی باندې تیرئ وسي او ځان ساتنې ته اړ سي، لکه څنګه چې رسول اللهﷺ د کافرانو سره جګړې ته

اړ سه، خو دا کار هم د دولت دنده ده، او اسلام ته رابلونکي دعات هیڅ کله د مسلمان دولت په شتون کې حق نلري چې د زور او د جګړې غږ پورته کړي، ځکه د دوی دنده یوازې د پورتنیو لارښودنو په رڼا کې را لنډیږي، او د هغو نه تیرئ په ټولنه کې د ګډوډۍ، بیلتونونو او د فتنو راپارولو سبب او عامل ګرځي، او یقینا چې د مومنانو په منځ کې د تفرقې او بیلتون نه الله تعالی مسلمانان په کلکه سره منعی کړي او ګواښلي دي.

{د الله تعالی نه پرته چې لوی ذات دئ بل چا ته سجده روا نده}

قدرمنو دوستانو! او په ور پسې مبارکو آیتونو کې الله تعالی د خپلو لو یو قدرتونو د ځینې نښو په یادونې سره؛ خلک خپل لوی رب الله ته سجدې کړو ته رابللي دي، او لمر او سپوږمۍ ته یې د سجدې کړو نه کلک ګواښلي دي، او فرمایلي دي:

﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِ ٱلَّيْلُ وَٱلنَّهَارُ وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ ۚ لَا تَسْجُدُوا۟ لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَٱسْجُدُوا۟ لِلَّهِ ٱلَّذِى خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿٣٧﴾ فَإِنِ ٱسْتَكْبَرُوا۟ فَٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ يُسَبِّحُونَ لَهُۥ بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْـَٔمُونَ ۩ ﴿٣٨﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنَّكَ تَرَى ٱلْأَرْضَ خَٰشِعَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِىٓ أَحْيَاهَا لَمُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰٓ ۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ ﴾

[۳۷] ای خلکو! شپه او ورځ، لمر او سپوږمۍ [چې تل په ګڼښت کې دي او ځي را ځي] د الله د قدرتونو لو یو نښانو نه یوه نښه ده [یعنی د الله تعالی په توحید او یوالي باندې د ټولو مخلوقاتو په پیدایښت کې دلالت کړي] نو که تاسې ای خلکو! د الله عبادت او بنده ګي کړئ، نو لمر او سپوږمي ته د بنده ګۍ سجده مکړئ [یعنی هغه دواړه د الله سره په خدایي کې مه ګډوئ] او یوازې الله ته د بنده ګۍ سجده وکړي، ځکه لمر او سپوږمۍ الله پیدا کړې دي، یعنی سجده د خالق حق دئ نه ده مخلوق!

درندو عز یزانو! دا مبارك آیت د سجدې آیت دئ، نو ځکه دا سوره په [حم السجده] هم نومول سوې ده او په تلاوت او په اور یدو سره یې

سجده واجب ده.

[٣٨] نو که بيا دغو مشرکانو کبر وکه [يعنی ځانو نه پې الله ته د سجدې کړو نه غټ و بلل، نو دوی ده ای پيغمبره پدی پوه سي!] چې هغه کسان(ملائکې يا فرښتې) چې دستا رب سره په اسمانو کې دي؛ هغه شپه او ورځ الله په پاکۍ سره يادوي [يعنی د الله بنده ګی، عبادت او ستاينې نه] نه ستړي کيږي او نه کبر پرې کړي، يعنی دا چې ملائکې خپل رب او لوی ځښتن الله په حق سره پيژني، نو په توحيد سره يې عبادت کړي.

[٣٩] ای پيغمبره! او د الله لو يو قدرتونو د نورو نښانو نه يوه نښه او دليل دا دئ چې ته ځمکه يقينا مړاوې [او وچه] و يني، نو بيا چې کله مونږ او به ور باندې را ؤ وروو؛ وښور يږي او بيا و پرسيږي [يعنی واښه پکې راشنه سي] نو يقينا هغه ذات چې دا مړه ځمکه راژوندی کړه؛ نو هغه لوی ذات مړي را ژوندي کوي [يعنی د خپلو ګورو نه يې د قيامت په ورځ راجګوي] نو يقينا چې الله په هرڅه قادر ذات دئ او هرڅه کړلای سي.

ګرانو عز يزانو! دا مبارك آيت د قيامت ورځې په ثبوت او د مړو په بيرته راژوندي کولو باندې کلک دليل دئ، ځکه الله تعالی چې وچه ځمکه راژوندئ کوي؛ هغه ته د مړو بيرته راژوندي کول ډير اسانه دي.

{قرآن د الله پيغام دئ او د ملحدينو سپکو طعنو نه پاک دئ}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالي ملحدين او کافران چې قرآن پسې به دوې سپکې سپورې خبرې کړې؛ کلک ګواښلي دي، او د قرآن عظمت په بيان کې يې فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا لَا يَخۡفَوۡنَ عَلَيۡنَآۗ أَفَمَن يُلۡقَىٰ فِي ٱلنَّارِ خَيۡرٌ أَم مَّن يَأۡتِيٓ ءَامِنٗا يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ ٱعۡمَلُواْ مَا شِئۡتُمۡ إِنَّهُۥ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ٤٠ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِٱلذِّكۡرِ لَمَّا جَآءَهُمۡ وَإِنَّهُۥ لَكِتَٰبٌ عَزِيزٞ ٤١ لَّا يَأۡتِيهِ ٱلۡبَٰطِلُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَلَا مِنۡ خَلۡفِهِۦۖ تَنزِيلٞ مِّنۡ حَكِيمٍ حَمِيدٖ ٤٢ مَّا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدۡ قِيلَ لِلرُّسُلِ مِن قَبۡلِكَۚ إِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغۡفِرَةٖ وَذُو عِقَابٍ أَلِيمٖ ٤٣ وَلَوۡ جَعَلۡنَٰهُ قُرۡءَانًا أَعۡجَمِيّٗا

لَّقَالُواْ لَوۡلَا فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥٓۖ ءَأَعۡجَمِيّٞ وَعَرَبِيّٞۗ قُلۡ هُوَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ هُدٗى وَشِفَآءٞۖ وَٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ فِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَقۡرٞ وَهُوَ عَلَيۡهِمۡ عَمًىۚ أُوْلَٰٓئِكَ يُنَادَوۡنَ مِن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ ٤٤

[٤٠] يقينا هغه کسان چې د زما کتاب آيتونو او دليلونو او د زما قدرتونو نښانو نه بل پلو ته او يا بلې خوا ته اوړي او د حق او ر ښتيا نه منکر يږي؛ دوی د زمونږ نه پټ ندي [يعني الله تعالى به دوی ته کلکه سزا ورکړي] نو آيا هغه څوک چې د قيامت په ورځ په اور کې وغورځول سي ښه دئ؟ او که هغه څوک چې دئ الله ته د عذاب نه ډاډمن او سلامت راسي؟ [ځواب دا چې: هو! يقينا دغه دو يم سړئ ښه او ښاد سوئ دئ، نو ای کافرانو او د الله توحيد نه منکرو کسانو!] هرڅه چې د ستاسې خوښه وي هغسي وکړی، او يقينا چې الله د ستاسې په کړنو ښه بينا او ليدونکئ دئ، يعنی د ستاسې کفر د الله نه هيڅ کله پټ ندئ، نو سزايې خاماخا درکوي!

[٤١-٤٢] او يقينا هغه کسان چې کله دوی ته قرآن راغئ او د هغه نه دوی منکر او ور باندې کافران سول او قرآن يې ونه مانه، نو دغو کسانو ته به کلکه سزا ورکړه سي، ځکه قرآن يقينا عزتمن کران کتاب دئ او هغه د ستايل سوي او لوی حکيم خدای نه رانازل سوئ دئ، يعنی الله تعالى د قرآن حافظ او ساتونکئ دئ او پر الله باندې د هيڅا زور نه رسيږي، نو د الله تعالى پيغام به خاماخا خلکو ته رسيږي!

[٤٣] ای پيغمبره! او تا ته د هغه څه نه پرته چې هغه د ستا نه مخکې پيغمبرانو ته و يل کيدل؛ بل هيڅ څه نه و يل کيږي، او يقينا چې د ستا رب ای پيغمبره! د ښنې او د دردونکي عذاب دواړو خاوندي دئ، يعنی تو به و يستونکي کسان الله ښيي او کافرانو ته دردونکې سزا ورکوي، نو ته ای پيغمبره! د خپل قوم په سپکو سپورو خبرو او په زهرجنو تبليغاتو باندې چې کله درته کوډګر او کله ليونئ وايي؛ صبر وکړه او خپل رسالت او پيغمبري په مخ يوسه او د هيڅا پروا مکړه!

هو! قدرمنو دوستانو! دا مبارك آيت رسول الله ﷺ ته او د هغه دين رابلونکو دعاتو ته د قيامت ورځې پورې د ډاډ ګيرنې او بر يا ز يرئ دئ.

[٤٤] ای پيغمبره! او که چيرې قرآن [چې هغه په عر بي ژ به رانازل سوئ دئ] مونږ په اعجمی ژ به ګرځولئ وای، نو بيا به د مکې کافرانو و يلي ول چې ولې د هغه آيتونه ښه ندي روښانه سوي او ښه ندي ښودل سوي؟ او آيا قرآن عجمي دئ؟ او که په عربي ژ به را نازل سوئ دئ؟ نو ته ای پيغمبره! کافرانو ته ووايه: دا قرآن هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړ لارښود او شفاء دئ [يعنی مومنانو ته قرآن په سمه لار لارښودنه کړي او د کړي لارې نه دوی ساتي او د زړونو ناروغی نه شفاء ورکوي] او هغه کسان چې ايمان نه راوړي؛ د هغوی غوږونه د قرآن اور يدلو نه درانده او کانړه دي او سترګې او زړونه يې د ليدلو او پوهيدلو نه ړلانده دي [نو ځکه د حق سمې لارې ته نه هدايت کيږی] او دا کافران هغو کسانو ته ورته دي چې د لرې نه ورته نارې وهل کيږي، خو دوی په خبره نه پوهيږي او نه غږ سم اوري، يعنی د مکې کافران د ډير ضد او کبر او کينې نه حق نه مني او نه قرآن ته غوږ باسي، نو دوی ړندو او کنړو ته ورته دي، نه څه اوري او نه څه په سترګو و يني او نه ور باندې پوهيږي، نو ته ای پيغمبره! د هغوی پروا مکړه او خپل دعوت ده په پوره ډاد او صبر سره پر مخ يوسه.

{په تورات کې يهودو اختلاف وکه خو الله دوی د سزا نه وساتل}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د موسی عليه السلام د پيغمبری لنډه يادونه کړي ده او په هغه کې يې رسول الله ﷺ ته ډاډ او تسليت ورکړئ دئ، ځکه کافرانو تل د پيغمبرانو سره مخالفت کړئ دئ، او فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ فَٱخۡتُلِفَ فِيهِۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۚ وَإِنَّهُمۡ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُ مُرِيبٖ ٤٥ مَّنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ أَسَآءَ فَعَلَيۡهَاۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ٤٦﴾

[٤٥-٤٦] [ای پيغمبره! لکه څنګه چې تا ته مونږ ليکلئ کتاب قرآن درکه، نو] يقينا چې موسی ته هم مونږ د ستا نه مخکې ليکلئ کتاب (تورات) ورکه، نو بيا پکې اختلاف وسه [يعنی ځينو بني اسرائيلو ايمان

راوړ او ځيني نور ورځخه منکر سول او هغه يې دروغ و باله] نو ای پيغمبره! که د ستا رب حکم کافرانو نه د عذب په زنډولو سره مخکې نه وای سوئ، نو د کافرانو او مومنانو په منځ کې به پر يکړه سوي وه [يعنی کافران به هلاک سوي ول، نو د کافرانو هلاکت د الله په پر يکړه وزنډول سه] او يقينا چې کافران په قرآن کې کلک شکمن دي [يعنی کافران د قرآن په ر ښتينوالي او حقانيت باور نلري، نو ايمان نه راوړي، خو ته ای پيغمبره! د کافرانو پروا مکړه او دوی همداسې په خپل کفر کې پر يږده] ځکه چا چې ښه وکړل، نو ګټه يې خپل ځان ته رسيږي او چا چې بد وکړل، نو سزايې پر خپله هغه باندې ده، او د ستا رب ای پيغمبره! پر خپلو بنده ګانو باندې ظلم نکړي، يعنی هر چا ته د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي.

هو! درندو دوستانو! الله تعالی پدې مبارکو آيتونو کې رسول الله ﷺ ته د موسی عليه السلام رسالت په لنډې يادونې سره؛ کلک ډاډ او تسليت ورکړئ دئ او بيايې دا لوی حقيقت بيان کړئ دئ چې د هر چا کړنو مسئوليت شخصي دئ او هر څوک خپل پيټئ پر خپله غاړه وړي او بل څوک د هغه پر ګناه نه نيول کيږي، نو کله چې اسلام ته رابلونکو دعاتو د الله تعالی حق پيغام خلکو ته په پوره اخلاص سره ورسا ؤ، نور نو د دوی نه د خلکو کفر او د ګناه پوښتنه نکيږي، ځکه الله تعالي د هرچا سره ځان ځان ته حساب کړي او د هغه لائق ثواب او سزا ورکوي، او پلار د زوی په ګناه او زوی د پلار په ګناه نه نيول کيږي.

{د قيامت نه يوازې الله خبر دئ او انسان په پيښو کې کاواکه دريځ نيسي}

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی مونږ د خپل علم نه د قيامت په باره کې او د نورو پټو پيښو نه چې يوازې الله پرې پوهيږي خبر کړي يو، او د انسان کاواکه دريځ يې د ژوند مثبتو او منفي پيښو پر وړاندې ياد کړئ او کلک يې غندلئ دئ، يعنی ښايي د حق او باطل پر وړاندې قاطع موقف او دريځ غوره سي، او فرمايلي دي:

﴿۞ إِلَيۡهِ يُرَدُّ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِۚ وَمَا تَخۡرُجُ مِن ثَمَرَٰتٖ مِّنۡ أَكۡمَامِهَا وَمَا تَحۡمِلُ مِنۡ أُنثَىٰ

وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِۦ ۚ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ أَيْنَ شُرَكَآءِى قَالُوٓا۟ ءَاذَنَّٰكَ مَا مِنَّا مِن شَهِيدٍ ﴿٤٧﴾ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَدْعُونَ مِن قَبْلُ ۖ وَظَنُّوا۟ مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٍ ﴿٤٨﴾ لَّا يَسْـَٔمُ ٱلْإِنسَٰنُ مِن دُعَآءِ ٱلْخَيْرِ وَإِن مَّسَّهُ ٱلشَّرُّ فَيَـُٔوسٌ قَنُوطٌ ﴿٤٩﴾ وَلَئِنْ أَذَقْنَٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِنۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ هَٰذَا لِى وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةً وَلَئِن رُّجِعْتُ إِلَىٰ رَبِّىٓ إِنَّ لِى عِندَهُۥ لَلْحُسْنَىٰ ۚ فَلَنُنَبِّئَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِمَا عَمِلُوا۟ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٠﴾ وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ أَعْرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ فَذُو دُعَآءٍ عَرِيضٍ ﴿٥١﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ثُمَّ كَفَرْتُم بِهِۦ مَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِى شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾

[٤٧-٤٨] هو؛ ای خلکو! د قیامت ورځې راتګ علم او پوهه یوازې د الله سره ده او همدارنګه هغه میوې چې د خپلو پوښونو نه راوځي، او هم هیڅ یوه ښځه نه بلار بیږي او نه ماشوم زیږوي، مګر دا چې الله پرې پوهیږي [ځکه د الله نه هیڅ څه شئ پټ ندي] او د قیامت په ورځ چې کله الله پر مشرکانو باندې [د ډیرې رټنې نه غږ کړي او ورڅخه پوښتي چې] د ستاسې هغه خدایان چې د زما سره مو کډ کړي ول؛ اوس چیر ته دي؟ [نو کافران په ځواب کې] وایي: ای ر به! مونږ تا ته وایو چې هیڅ څوک د زمونږ نه اوس دا شاهدي نه ورکوي [یعنی نه وایي چې ته ای ر به! شر یك او ملګرئ لري، یعنی مشرکان د خپلو ناحقه خدیانو نه براءت اعلانوي، او همدارنګه د قیامت په ورځ نور] هغه خدایان د کافرانو نه ورکیږي چې دوی یې پخوا په دنیا کې عبادت کا وه [یعنی د الله سره یې په خدایي کې ګډول] او کافران نور د قیامت په ورځ باور کړي چې د الله سزا او عذاب نه خلاصون او تیښته نسته، یعنی الله تعالی هرچا سره حساب کړي!

[٤٩] هو! انسان د دنیا یې ګټو غوښتلو نه هیڅ کله نه ستړئ کیږي، خو کله چې ورته شر او ستونزه ورسیږي، نو بیا د الله رحمت نه ډیر زر ناهیلي کیږي، یعنی په خپل رب الله باندې بد ګمانه کیږي، لکه دا چې پرته له ګناه سزا ورکول کیږي!

[۵۰] او که چېرې دې زور يدلي سړي ته د ستونزو نه وروسته بيا مونږ د خپل رحمت نه نعمتو نه ور وڅکو، نو بيا به دئ په کلکه سره وايي چې دا خو د زما حق ؤ او زه ګمان نکړم چې قيامت به ودر يږي، خو که بيا هم زه خپل رب ته وروګرځول سوم، نو يقينا چې د زما برخه به د الله سره جنت وي، نو د قيامت په ورځ به هغه کسان چې د خپلو کړنو نه منکر سول؛ مونږ به دوی خاماخا د بدو کړنو نه خبر کړو او سزا به ور وڅکو!

[۵۱] او کله چې په انسان باندې مونږ د خپلو نعمتونو پيرزو ينه وکړو، نو بيا راڅخه مخ اړوي او د حق منلو نه ځان يوې خوا ته ګوښه کوي، خو بيا چې کله ورته شر او ستونزه ورسيږي، نو بيا اوږده دعاء کړي، يعنی د ستونزو لرې کيدل د الله نه په ټينګار سره غواړي!

[۵۲] ای پيغمبره! [په دغو کافرانو باندې غږ وکړه او ورته] ووايه: ای خلکو! ګورئ که چيرې قرآن د الله نه راغلي کتاب [او پيغام] ؤ، او بيا تاسې د هغه نه منکر سوی، نو بيا را ته ووايي چې څوک به د هغه چا نه ډير د حق نه لري وي چې دئ د قرآن ر ښتينوالي نه منکر دئ؟ يعنی دا چې هيڅ څوک به د هغه نه ډير بې لارې او د حق نه ورک سوئ لرې نوي!

قدرمنو دوستانو! په دغو مبارکو آيتونو کې الله تعالی د انسان کرکجن خو يو نه او ناشکري د الله تعالی لو يو نعمتونو او خورو ورو پيرزو ينو نه مونږ ته يادې کړې او بيان کړې ده او دغسې ناشکري يې کلکه غندلې ده، نو ښايي چې مومن بنده هيڅ کله د خپل منعم رب نعمتونه او لور يې هيرې نکړي، او بيايې شکر هغسې و باسي چې ورته حکم سوئ دئ.

او په ور پسې مبارکو آيتونو کې الله تعالی د خپل عظيم کتاب قرآن په حقانيت باندې کلک ټينګار کړئ دئ، او په دغسې لارښود کتاب کې يې خپل لوی قدرتونه او معجزې په ځمکه او اسمانو او د خلکو په ځانونو او نفسونوکې يادې کړې او بيان کړې دي، او فرمايلی دي:

﴿ سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴿٥٣﴾ أَلَآ إِنَّهُمْ فِى مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآءِ رَبِّهِمْ ۗ أَلَآ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَىْءٍ مُّحِيطٌ ﴿٥٤﴾ ﴾

[٥٣] هو! دغو کافرانو ته به مونږ د خپلو قدرتونو نښې او د قرآن د حقانیت معجزې او دلیلونه د ځمکې او اسمانو په کوډ کوډ کې او د خلکو په دننه نفسونو او ځانونوکې وروښیو، ترڅو دوی ته ښکاره او ثابته سي چې قرآن حق دئ [یعنی هغه د الله نه رانازل سوي کتاب دئ] نو ای پیغمبره! آیا د ستا رب شاهدي د قرآن پر حقانیت او ر یښتینوالي باندې خلکو ته بس نده؟ [ځواب: هو! هغه ورته بس ده] ځکه یقینا چې الله په هرڅه شاهد دئ، یعنی الله تعالی چې خالق او لوی پالونکئ ذات دئ؛ د هغه شاهدي هرڅه لپاره کافي ده.

[٥٤] ای خلکو! خبر سی! چې کافران د خپل رب سره د قیامت ورځې په یوځای کیدوکې شکمن دي او هم خبر سی! چې یقینا الله پر ټولو شیانو باندې راکرد دئ، یعنی الله تعالی په هرڅه پوه او ځواکمن ذات دئ.

قدرمنو دوستانو! الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې د قرآن په حقانیت او ر یښتینوالي باندې د قرآن علمي اعجاز ته اشاره کړي ده، ځکه د هغه ثبوت دلیلونه او نښې د زمونږ په ځانونو او نفسونو کې دننه او د نړۍ په کوډ کوډ کې خورې ورې ښکاره ځلیږي او ساینس پوهانو هغه پیژندلې او په نښه کړې او کشف کړې دي، او د دغو معجزو ډیرې بیلګې او مثالونه یې په خپلو علمي ځیړنو کې ثابت کړي دي او هغه یې خلکو ته په علمي بنسټیزو بحثونو کې بیان کړي او اعلان کړي دي.

والحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات، وصلى الله وسلم على رسوله المصطفى المختار وعلى آله وأصحابه أجمعين، سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت استغفرك وأتوب إليك.